وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسير

# حسن الكلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء الخامس

پنځم جزء

د سورة يونس آية ١٠ اله تر سورة مريم آية ١٩ پورې

الناشر

جامعة عربية لإشاعة التوحيد والسنة

پنج پير - پشاور

(حقوق طبع دَ مصنّف دَ پاره محفوظ دي)

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسير

# أحسن الكلام

بلغة البشتو

لِلشَّيخ أبي زكريّا عبد السّلام الرّستمي

## الجزء الخامس

پنځم جزء

از سورة يونس آية ۱۰ تا سورة مريم آية ۱۹

الناشر:

جامعة عربية لإشاعة التّوحيد والسُّنّة

بډه بېر - پشاور

پي ډي ايف كمپوزنګ.. عابد منصور مردانوي (تحريک طالبان پاکستان حلقه مردان)

| | | |
|---|---|---|
| سورة یونس مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | ایاتها ۱۰۹ رکوعاتها ۱۱ |

خاص په نوم د الله تعالی امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۱﴾

الله تعالی ښه پوهیږی په مطلب د دے، دا آیتونه دی د داسے کتاب چه حکمتونو والا دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## سورة یونس

ربط :- ربط دا دے چه مخکښې سورتونو کښې (سورة الانفال او سورة التوبه) د مشرکانو سره د جنګ کولو اعلان وو نو په دے سورت کښې د هغوی د شرک حقیقت بیانوی چه سبب د قتال دے او جواب د سوال د هغوی دے که هغوی اُووائی چه مونږ سره په څه سبب جنګ کوئ مونږ خو الله تعالی منو په دے سورت کښې جواب ورکوی چه تاسو د الله تعالی سره شریکان جوړ کړی دی په عقیده د شفاعت قهریه شرکیه سره او دا عقیده شرک او کفر دے او دا رنګ هر کله چه په سورة التوبه کښې شرک د مشرکانو او د کتابیانو او نفاق د منافقینو ذکر کړے شو نو په دے سورت کښې هغه ټولو ته دعوت ورکول دی د توحید او د رسالت او د قرآن او ایمان بالآخرت طرف ته۔

دعوٰی د سورت :- رد د شفاعت قهریه شرکیه په ۳ او ۱۸ آیت کښې او د دغه رد په ډیرو وجوهو سره دے۔ اوّل په عقلی دلیلونو سره۔

دویمه وجه، په ذکر د ډیرو اقسامو د شرک سره۔

دریمه وجه، په نقلی دلیلونو سره،

څلورمه وجه، په ډیرو زجرونو سره۔

پنځمه وجه، قباحتونه د مشرکانو۔

شپږمه وجه، اقرار د مشرکانو په بعضے صفتونو د الله تعالی سره د دعاء د هغوی د الله تعالی ته په حالت د سختئ کښې۔

خلاصه د سورت :- په دیکښې پنځه بابونه دی اوّل باب ۱۷ آیت پورے دے په دیکښې ترغیب دے کتاب الله ته او شپږ زورنے دی او درے عقلی

اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَآ

آیا دے خلقو لره تعجب دے پدے خبره چه وحی کړیده مونږه

اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ

یو سړی ته د دوی نه چه اویره وه خلق (ته منونکی)

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ

او زیرے ورکړه ایمان والو لره چه یقیناً دوی د پاره

قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ قَالَ

مرتبه اوچته ده په نیز د رب د دوی ، وائی

الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲﴾

کافران بیشکه دے جادوگر ښکاره دے۔

دلیلونه دی او بشارت دے منونکو ته او تخویف دنیوی او اخروی دے نه منونکو ته۔

تفسیر:- سلـ:- په اول آیت کښ ترغیب دے قرآن ته ۔ اَلْحَكِيْمِ په معنیٰ د حکمتونو والا یا په معنیٰ د حاکم یا په معنیٰ د محکم دے او لفظ د حکیم اشاره ده دیته چه پدے سورت کښ عقلی دلیلونه بیانیږی او هغه حکمت دے۔

سلـ:- دا زورنه ده منکرینو د رسول ته چه هغوی د نبی نه انکار کوو پدے وجه چه دے سړے دے او بشر دے، او دا آیت دلیل دے په دے خبره باندے چه نبی علیه السلام سړے وو د جنس د بشر نه او د هغه ئے دوه کارونه ذکر کړیدی۔ یو یره ورکول او دویم زیرے ورکول۔

قَدَمَ صِدْقٍ، یو معنیٰ د دے مرتبه اوچته، دویمه معنیٰ د خالصه اجر په سبب د نیکو عملونو چه مخکښ ئے لیږلے دی او تعبیر ئے په قدم سره د دے وجے نه کړیدے چه سعی او کوششونه په قدم سره کیدلے شی۔ بیا زورنه ده پدے خبره چه دوی نبی صلی الله علیه وسلم ته ساحر وئیلو۔

اَنْذِرِ، انذار وئیلے شی اخبار ته سره د تخویف نه او بَشِّرِ، بشارت وئیلے شی اخبار سره د سرور (خوشحالئ) نه۔

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ

بیقینًا رب ستاسو الله تعالیٰ دے هغه ذات چه پیدا کړے ئې دی آسمانونه

وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ

او زمکه په اندازه د شپږو ورځو کښې بیا برابر شوید ے

عَلَى الْعَرْشِ ۖ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ ۖ مَا مِن

په عرش باندے (د خپل شان مناسب) انتظام کوی د ټولو کارونو، نشته هیڅ

شَفِيعٍ إِلَّا مِن بَعْدِ إِذْنِهِ ۚ ذَٰلِكُمُ

سفارش کوونکے مګر پس د هغه د اجازت نه، دا صفتونو والا

اللَّهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾

الله تعالیٰ رب ستاسو دے نو بندګی کوئ هغه لره، آیا نو نه قبلوئ نصیحت تاسو۔

۳:۔ دا بیان د وحی دے چه ان اوحینا کښې ذکر ده او دلیل عقلی دے په توحید باندے او په دے آیت کښې رد د شفاعت قهری دے او په هغے باندے تفریع ده په لفظ د فَاعْبُدُوهُ۔

إِنَّ رَبَّكُمُ، په دیکښې اثبات د توحید ربوبیت دے او دلته رب په معنیٰ د حاجات پوره کوونکے یا په معنیٰ د حقدار د بندګئ دے۔

اللَّهُ الَّذِي، په دیکښې مقصد ذکر د معرفت د الله تعالیٰ دے په درے صفتونو سره۔ ع۱ خالق دے۔ ع۲ د عرش دپاسه دے۔ ع۳ تدبیر کوونکے دے۔

معنیٰ د سِتَّةِ أَيَّامٍ، او اِسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ، تفسیر په سورة الاعراف کښې ذکر شوے دے۔

الْأَمْرَ، الف لام د پاره د استغراق دی یعنی ټول خیزونه او کارونه یعنی دا انتظام ئې هیڅ قطب اوغوث وغیره ته سپارلے نه دے۔

مَا مِن شَفِيعٍ، دا رد دے په عقیده د مشرکانو باندے چه هغوی وائی چه مونږ خپل معبودان خالق او مدبر نه ګڼړو سفارشیان ئې ګڼړو۔

فَاعْبُدُوهُ، په دیکښې رد دے په شرک فی العبادة باندے۔

إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا ۖ وَعْدَ اللَّهِ

خاص هغه ته گرځيدل ستاسو د ټولو دی ، وعده كړيده الله تعالی

حَقًّا ۚ إِنَّهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ

وعده حقه ، يقيناً هغه اول پيدا كوی مخلوق بيا به

يُعِيدُهُ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُوا

دوباره پيدا كوی هغه دے دپاره چه بدله وركړی هغه كسانو ته چه ايمان ئې راوړيدے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ بِالْقِسْطِ ۚ وَالَّذِينَ

او عملونه ئې كړيدی نيک په انصاف سره ، او هغه كسان

كَفَرُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ

چه كفر ئې كړيدے دوی لره څښكل دی د يشيدلو اوبو نه

وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ④

او عذاب درد ناک دے په سبب د هغې چه دوی كفر كوی .

ف ۴:. د تذكير د توحيد نه روستو په دے آيت كښې اثبات د آخرت دے په درے جملو كښې او بيا زيرے دے مؤمنانو ته او ويره اخروی ده دپاره د كافرانو او دا آيت بيان د اثنين را او د بشر دے.

لِيَجْزِيَ، لام متعلق دے د مرجعكم يا د يعيده سره او دا حكم د بعث بعد الموت دے.

بِالْقِسْطِ ، دا متعلق دے د يجزی سره او قسط صفت د الله تعالی دے يعنی جزاء د مؤمنانو په عدل سره وركوی يا قسط صفت د مؤمنانو دے يعنی توحيد او نيک اعمال د دوی سبب د جزاء دے نو با سببيه ده.

مِنْ حَمِيمٍ ، په مِنْ سره اشاره ده چه دا يو نوعه ده د مشروب او د دينه علاوه نور مشروبات هم شته دے.

بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ، دا مقابل دے د بالقسط سره په دويمه معنیٰ سره.

هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ګرځولے ئے دے نمر ډیرے رڼا والا

وَّالْقَمَرَ نُورًا وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ

او سپوږمۍ (لږے) رڼا والا او مقرر کړے ئے دی هر یو د پاره منزلونه

لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ

دے د پاره چه معلوم کړئ تاسو شمار د کلونو او حساب (د میاشتو او ورځو)

مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ج

نه دی پیدا کړی الله تعالیٰ دا څیزونه مګر د حق ښکاره کولو د پاره

يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٥﴾

تفصیلی بیانوی دلیلونه هغه قوم لره چه پوهیږی۔

ف۵ :۔ دا دویم دلیل عقلی دے د پاره د توحید. رڼا یو عرض (کیفیت) خاصه دے نو اصل د دغه کیفیت ته نور وئیلے شی او چه دا کیفیت کامل او قوی وی نو هغې ته ضیاء وئیلے شی۔

وَقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ، مراد د دینه منزلونه د نمر او د سپوږمۍ دواړو دی یا صرف منزلونه د سپوږمۍ دی۔ او دویم قول غوره دے په قرینه د سورة یٰس س۳۹ او په دغه منازلو د قمر سره ورځے او شرعی میاشتے معلومیږی او دا اته ویشت دی۔ او مراد د منزلو نو نه ځایونه د را ختلو او پریوتلو د هغې دی۔

عَدَدَ السِّنِيْنَ، یعنی وخت د شروع کیدلو او ختمیدلو د کال۔

وَالْحِسَابَ، مراد د دینه حساب د میاشتو او د ورځو دے۔

مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ، حق نه مراد ظاهرول د مسئلے د توحید او دلیل په قدرت او په علم د الله تعالیٰ دے، او دا سے تفسیر خازن کښ لیکلے دی نو دا آیت دلیل دے په دے خبره چه حدیث د لولاک، لکه چه مشهور دے په ژبو د خلقو د هغې معنیٰ هم صحیح نه ده لکه چه

إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ

يقيناً په تلو راتلو د شپې او د ورځې کښې

وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

او په هغه څیزونو کښې چه پیدا کړي دي الله تعالی په آسمانونو او په زمکه کښې

لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ ⑥ إِنَّ الَّذِيْنَ

خامخا ډیر دلیلونه دي د هغې قوم د پاره چه یریږي (د الله تعالی نه) یقیناً هغه کسان

لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ

چه نه لري عقیده د ملاقات زمونږ او رضا شوي دي په ژوند

الدُّنْيَا وَاطْمَأَنُّوْا بِهَا وَالَّذِيْنَ

دنیوي او خوشحالیږي په دې دنیا سره او هغه کسان

الفاظ ئې محدثینو رد کړيدي. الفوائد المجموعه ص۳۲۶، کشف الخفاء ص۱۶۲ دواړو د صنعاني نه نقل کړيدي چه دا حدیث موضوعي دے. هاں که دا معنیٰ اوکړے شي "چه نه وے ستا لیږل مگر د پاره د اظهار د مسئلے د توحید" نو بیا څه وجه د صحت لري په اعتبار د معنے سره لیکن دا توجیه ډیره بعید ده.

۶:- دا دریم عقلي دلیل دے. إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا خَلَقَ اللَّهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ، یو بل پسے راتلل او دا سے رنګونه د دوي بدلیدل او داسے کمیدل او زیاتیدل.

لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَّقُوْنَ، مراد د دینه توحید والا دي ځکه څوک چه شرک کوي نو هغه دلیلونه نیسي د دے مخلوقاتو نه.

هُمْ عَنْ اٰیٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝۷ اُولٰٓئِكَ

چه دوی زمونږ د آیاتونو نه بے پرواه دی - دغه کسان

مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ۝۸

ځاے د دوی اُور دے په وجه د هغه عملونو چه دوی یے کوی -

اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عمل کوی په طریقه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم

یَهْدِیْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِیْمَانِهِمْ تَجْرِیْ

او به رسوی دوی لره جنت ته رب د دوی په سبب د ایمان د دوی چه بهیږی به

مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِیْ جَنّٰتِ

لاندے د بنګلو د دوی نه ولے اوسی به په جنتونو

ف ۷:- په دے آیت کښ زورنه ده منکرینو ته او د هغوی څلور صفتونه ئے ذکر کړیدی۔

اِنَّ الَّذِیْنَ لَا یَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا، رجاء په معنیٰ د یره او په معنیٰ د امید او په معنیٰ د عقیدے سره دے، دلته آخری معنیٰ مراد ده۔

وَرَضُوْا بِالْحَیٰوةِ الدُّنْیَا، معنیٰ دا ده چه راضی شوی دی دوی په ژوند دنیوی سره په عوض د آخرت کښ نو عمل کوی د پاره د دنیا۔

وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا، اطمینان د زړه په دنیا سره نه حاصلیږی نو مراد د دینه نه خوشحالیدل او د هغے په محبت کښ پاخه کیدل دی۔

غٰفِلُوْنَ، غفلت په معنیٰ د جهل او د سادګئ سره مراد نه دے بلکه بے پرواهی او اعراض کول مراد دی۔ او ایٰت نه مراد دلیلونه د توحید یا قرآن دی۔

ف ۸:- دا یره اخروی ده د پاره د منکرینو او دا خبر د اِنَّ دے۔

النَّعِيْمِ ﴿٩﴾ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ

دَ نعمتونو کښې۔ بلنه دَ دوی به پدے جنت کښې داوی چه پاکی ده تا لره

اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ج

اے الله او پیشکشی دَ دوی به په جنت کښې سلام وی

وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

او آخری بلنه به دَ دوی داوی چه ټول صفتونه دَ خدائے توب دَ یو الله تعالیٰ دی

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٠﴾ ع وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ ع ١

چه رب دَ عالمینو دے۔ او که زر رسولے الله تعالیٰ

سو ١:۔ دا زیرے اخروی دے دَپاره دَ مؤمنانو۔
يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ، یو معنیٰ دا ده چه کوی دوی ته هدایت
په سبب دَ ایمان دَ دوی سره۔
دویمه معنیٰ دا ده چه جنت ته بوځی دوی لره رب دَ دوی
په سبب دَ ایمان دَ دوی۔
په اوله معنیٰ سره هدایت په معنیٰ دَ توفیق دَ اعمالِ صالحه دے او په
دویمه معنیٰ سره هدایت په معنیٰ دَ رسولو دے جنت ته۔
مِنْ تَحْتِهِمُ، مراد دَ دینه لاندے دَ بنګلو او محلونو دَ دوی ته۔
سنا :۔ دا هم پدغه زیری کښې داخل دے، مطلب دا دے چه کله دوی
څه شے غواړی دَ جنت دَ نعمتونو نه نو آواز به اوکړی په سُبْحٰنَكَ
اللّٰهُمَّ، سره او کله چه ختم کړی خوړل اوڅښکل نو وائی به اَلْحَمْدُ
لِلّٰهِ، یا مراد دا دے چه هر وخت کلام دَ دوی به شروع کیږی په
سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ سره او ختمیږی به په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سره۔
وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ، یو معنیٰ دا ده چه پیشکشی دَ دوی دَ الله تعالیٰ
دَ طرف نه لفظ دَ سلام به وی،
بله معنیٰ دا ده چه سلام کول دَ دوی یو بل ته یا دَ ملائکو دَ طرف
نه مبارکی به وی په سلامتیا سره دَ عذاب نه۔

لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ

خلقو ته تکلیف (په وجه دَ غوختلو دَ دوی) پشانتې دَ زر غوختلو دَ دوی خیر لره (چه هغه زر قبلوی)

لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ ۖ فَنَذَرُ

خامخا پوره شوې به وې دوی ته نیتې دَ دوی ، نو پریږدو مونږ

الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا فِي

هغه کسان چه نه لری عقیده دَ ملاقات زمونږ په

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ⑪ وَإِذَا مَسَّ

سرکشئ دَ دوی کښې ګرځي په وی - او هر کله چه اورسي

نو په اوله معنیٰ سره سلام په خپله معنیٰ مشهورې سره دے او په دویمه معنیٰ سره سلام په معنیٰ دَ مبارکئ دَ سلامتیا سره دے -

سلا :- دَ دې تعلق دَ سلا آیت سره دے یعنی کوم خلق چه تعجب کوی دَ رسالت دَ دې رسول نه او هغوی دَ ځان دَ پاره عذاب غواړی لکه په انفال ۳۲ آیت کښې دی لیکن الله تعالیٰ دَ هغوی اجابت نه کوی دا رنګ دَ دې آیت تعلق دَ لفظ دَ رب العالمین سره دے یعنی دَ ربوبیت په وجه سره الله تعالیٰ دَ دوی خیرې زر نه قبلوی او دا زور نه ده منکرینو ته مطلب یې دا دے چه دوی کله دَ ځان دَ پاره خیر غواړی او الله تعالیٰ یې ورله زر ورکوی او دا رنګې کله دوی دَ ځان دَ پاره عذاب غواړی لیکن الله تعالیٰ دا دُعا زر نه قبلوی، که الله تعالیٰ زر قبلولې نو دوی به یې تر اوسه هلاک کړی وې ، ابن قتیبه وئیلی دی چه پدې کښې دا هم داخل ده چه بعضې انسان په وخت دَ غصّه کښې ځان ته او خپل بال بچ وغیره ته خیرې کوی او مرګ او هلاکت غواړی لکه عام او قاتو کښې څرنګه چه رحمت او روزی او صحت وغیره غواړی نو الله تعالیٰ خو دَ دوی دعا ګانې دَ خیر زر قبلوی لیکن که خیرې دَ دوی الله تعالیٰ زر قبلولې نو دوی به زر هلاک شوی وو لیکن انسان له خیرې کول په ځان او په اولاد باندې په حدیث کښې منع دی هسې نه چه دا سې وخت

الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖٓ
یو انسان ته تکلیف نو بلی مونږ په ډډه خملِه

اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآئِمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا
یا په ناستے یا په ولاړے نو هر کله چه لرے کړو مونږ

عَنْهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَآ
دَ ده نه تکلیف دَ دهٔ نو روان شی (په شرک خپل) گویا چه بلنه ئی نه وه کړې زمونږ

اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ
هغه تکلیف ته چه رسیدلے وُو دهٔ ته، دغسے خائسته کړے شوے دے

لِلْمُسْرِفِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲﴾
مشرکانو ته هغه عمل چه دوی ئے کوی۔

سره برابرے اوخوری چه په هغے کښ دُعاګانے قبلیږی نو بیا به پښیمانه وی۔

فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا، خو کله چه زر ئے نه هلاکوی نو مهلت ورکوی۔

فِىْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ، دَ دینه مراد شرک اوکفر اوګناهونه دی او دَ دے تفسیر په سورةِ بقره کښ تیر شوے دے۔

۱۲:۔ تیر شوی آیت کښ طلب دَ عذاب ذکر شو نو پدے آیت کښ ثابتوی چه دوی پدے طلب کښ دروغژن دی ځکه چه په حالت دَ ضرورت کښ بیا دَ خیر دُعاګانے غواړی نو دا هم زور نه ده منکرینو ته، مطلب ئے دا دے چه بعضے انسان په حالت دَ تکلیف کښ خاص دَ الله تعالیٰ نه مدد غواړی او هر کله چه الله تعالیٰ دَ دهٔ نه مصیبت لرے کړی نو بیا په شرک باندے روان شی داسے په سورةِ روم ۳۳ او سورةِ سجده ۱۵ آیت کښ ذکر دی دغسے بعضے مؤمنان هم په حالت دَ تکلیف کښ الله تعالیٰ یادوی او توبے اوباسی او کله چه مصیبت تری نه لرے شی نو بیا په ګناهونو کښ شروع شی۔

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

او یقینًا هلاک کړیدي موږ قومونه (پیړۍ) مخکښې ستاسو نه

لَمَّا ظَلَمُوْا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

هرکله چه دوی ظلم کړیوو او راغلی وو دوی ته رسولان دَ دوی

بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا كَذٰلِكَ

په ښکاره بیانونو سره او نه وو دوی چه ایمان ئے راوړے وے دغسے

نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ

سزا ورکوؤ موږ قوم مجرمانو ته - بیا

نکته :- په دے آیت کښ ئے په لجنبه باندے شروع ځکه کړے ده چه دَ هغه مصیبت ډیروی نو دُعا ئے هم ډیره وی بیا ورپسے حال دَ ناست سړی دے بیا ورپسے حال دَ ولاړ سړی دے۔

جَنْۢبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآئِمًا ، دا متعلق دے په دعا پورے او زجاج وئیلی دی چه جائزه ده چه دا متعلق شی په الضُر پورے - او دا درے حالتونه ئے ځکه ذکر کړل چه انسان دَ دے درے وارو نه خالی نه وی۔

مَرَّ ، دا په معنیٰ دَ استمرار سره دے په شرک باندے۔

لِلْمُسْرِفِيْنَ ، مراد دَ دینه مشرکان دی خو هغوی ته مسرفان دَ دے وجے نه وائی چه هغوی برباد کړی دی نفسونه خپل په بندګۍ دَ غیر الله کښ او مالونه خپل په تحریم دَ غیر الله او نذر دَ غیر الله کښ۔

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ، دَ دینه مراد اعمال دَ مشرکانو دی۔

۱۳ :- په دے آیت کښ یره دنیوی ده دَ پاره دَ منکرینو۔

ربط :- دَ مخکښ سره ربط دا دے چه کله خو الله تعالیٰ دوی له مهلت ورکوی او دعا کانے ورله قبلوی لیکن روستو دَ مهلت نه ئے دا سے اونیسی په هلاکت او عذاب سره دَ وجے دَ شرک او انکار دَ رسولانو نه او بیا ئے هیڅ دُعا نه قبلوی۔

وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ ، دا جمله حالیه ده او دَ دینه روستو فکذبوهم

جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ فِى الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

او گرځولی مونږ تاسو اوسیږونکی په زمکه کښې روستو د مشرانو نه دے

لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤﴾ وَاِذَا تُتْلٰى

د دې پاره چه او گورو مونږه (په طریقه د امتحان) چه په کومه طریقه عمل کوئ تاسو۔ او هرکله چه بیان کړے شی

عَلَيْهِمْ اٰيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ

په دوی باندے آیتونه زمونږ صفا صفا تو وائی هغه کسان

لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا ائْتِ بِقُرْاٰنٍ

چه نه لری عقیده د ملاقات زمونږ، راوړه یو قرآن

غَيْرِ هٰذَآ اَوْ بَدِّلْهُ ۭ قُلْ مَا يَكُوْنُ

سوا (بل یو) د دینه یا بدلی اوکړه په ده کښې اُووایه ته نه دی جائز

پټ دے (یعنی دوی د رسولانو تکذیب اوکړو)۔

وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا، دا عطف دے په ظَلَمُوْا باندے یعنی دوی نه امید د ایمان نه وُو پاتے شوے۔ الْمُجْرِمِيْنَ، په دے آیت کښې ظلم او انکار د ایمان نه ذکر شو او دا جرم عظیم دے او په تیر شوی ایت کښې صرف شرک ذکر کړے کړے وُو نو هغه اسراف دے۔

۱۴: دا آیت هم ویره دنیوی کښې داخل دے۔

كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ، دا دلیل دے په دے باندے چه د الله تعالیٰ په نیز باندے په عملونو کښې کیفیات او طریقے مقصود دی چه هغه طریقه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ده او دا آیت ټول امت ته خطاب دے۔

لِنَنْظُرَ، مراد د نظر نه امتحان دے۔

كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ، یو مقصد د خلق توحید دے لکه په سورة الذاريات ۵۶ آیت کښې دی۔ او دویم مقصد طریقے د بندگئ دی په موافقت د سنت سره لکه په دے آیت کښې دی۔

لِيٓ اَنۡ اُبَدِّلَهٗ مِنۡ تِلۡقَآئِ نَفۡسِيۡ ۚ

| ما لره | چه بدلی اوکړم | په ے کښ | د طرف خپل نه |

اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوۡحٰٓى اِلَىَّ ۚ اِنِّيۡٓ

| نه کوم تابعداری زهٔ | مګر د هغې چه وحی کیږی | ماته، یقیناً | زهٔ |

اَخَافُ اِنۡ عَصَيۡتُ رَبِّيۡ عَذَابَ يَوۡمٍ

| ویریږم | که نافرمانی اوکړم د رب خپل نه رپه بدلولو د قرآن سره) د عذاب د ورځے |

عَظِيۡمٍ ﴿۱۵﴾ قُلۡ لَّوۡ شَآءَ اللّٰهُ مَا

| لوستے نه | ته اُوایه که غوښتے وے | الله تعالیٰ | نو نه په وے |

سـ۱۵ - دا آیت هم زورنه ده منکرینو د توحید نه مطلب ئے دا دے چه دوی ته هر کله آیتونه د توحید بیانیږی نو دوی وائی چه قرآن ښه د نصیحت کتاب دے لیکن هر ځائے پکښ د شرک رد دے دا ترے لرے کړه نو باقی مونږه منو -

بَیِّنٰتٍ ، چه په وضاحت سره دلالت کوی په توحید باندے -

غَیۡرِ هٰذَآ اَوۡ بَدِّلۡهُ ، د دے فرق دا دے چه غیر، دا معنیٰ ده چه د دے قرآن په ځائے بل کتاب راوړه او دے بالکل لرے کړه ، او تبدیل، دا معنیٰ ده چه پدیکښ ترمیم اوکړه یعنی مسئله د توحید ترینه لرے کړه په دے دلیل چه په دوی باندے مسئله د توحید بده لګیږی لکه په سورۃ بنی اسرائیل سـ۴۶ آیت او سورۃ ص سـ۵ او سورۃ زمر سـ۴۵ کښ دی -

قُلۡ ، دا اول جواب دے د مشرکانو د مطالبے مطلب ئے دا دے چه زهٔ ترمیم نه شم کولے نو تغیر خو په طریقه اولیٰ سره نه شم کولے ځکه چه دا دواړه کارونه سبب د لوئے عذاب دی -

اِنۡ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوۡحٰٓى اِلَىَّ ، دا دلیل دے چه د وحی نه بغیر د بل څیز تابعداری جائز نه ده -

اِنۡ عَصَيۡتُ ، مراد د عصیان نه تبدیل او تغیّر دے -

تَتْلُوْتُهٗ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ صلے

لوستلے ما قرآن په تاسو باندے او نه به خبر درکړے وے الله تعالیٰ تاسو ته پدے سره

فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ط

نو يقيناً تير كړيدے ما په تاسو كښ ډير عمر د دے نه مخكښ

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦﴾ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

آيا نو عقل نه لرئ تاسو. نو څوك لوے ظالم دے د هغه چا نه چه

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ

جوړوى په الله تعالىٰ باندے دروغ يا دروغژن ګنړى

١٦:- دا دويم جواب دے د مطالبے د مشركينو حاصل ئے دا دے چه بيا نول د دے قرآن ما د ځان نه نهٔ دى شروع كړى او د دے تعليم دركول تاسو ته په اراده د الله تعالىٰ سره دى. فَقَدْ لَبِثْتُ، د دے اول مطلب دا دے چه زما د څلويښتو كالو تر عمره پورے صداقت او امانت تاسو پيژنئ او دا هم پيژنئ چه زه امى يم ما څه لوستلے يا ليكلى نه دى نو څنګه ما دا كتاب د ځان نه جوړ كړے شو. دويم مطلب دا دے چه تاسو ته معلومه ده چه پدے څلويښت كاله كښ ما د الله تعالىٰ هيڅ نافرمانى نه ده كړے نو څلويښت كاله نه روستو بيا څنګه ګناه اوكړم او دا دليل دے د عصمت قبل النبوة. په صحيح حديث سره ثابت ده چه نبى صلى الله عليه وسلم ته د څلويښت كالو په عمر كښ وحى د نبوت شروع شوے وه بيا په مكه مكرمه كښ ئے ديارلس كاله او په مدينه طيبه كښ لس كاله تير كړل او د درے شپيته كاله په عمر كښ نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفات شو او په كومو رواياتو كښ چه شپيته كاله ذكر دى نو په هغے كښ كسر (درے) حذف كړيدے.

بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ⑰

آيا تو نه د هغه، يقيناً نشي بيج كيدلے دا سے مجرمان (د عذاب د الله تعالى نه)

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا

او بندگي كوي دا خلق سوا د الله تعالى نه د هغه چا چه نه

يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ

ضرر او نه نفع رسولے شي دوي ته او وائي دوي

هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ

چه دا كسان سفارشيان زموږ دي په دربار د الله تعالى كښ، اُوايه ته

اَتُنَبِّـُٔوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ

آيا تاسو خبر ورکوئ الله تعالى ته په هغه څيز چه نه پيژني الله تعالى

فِى السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الْاَرْضِ ؕ سُبْحٰنَهٗ

په آسمانونو كښ او نه په زمكه كښ (يعني موجود نه دے) پاك دے الله تعالى

۱۷ :- دا هم زورنه ده منكرينو ته او مشركينو ته -

اِفْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا، يو مراد د دينه مشرك دے چه شرك كوي او د هغه د جواز نسبت الله تعالى ته كوي او الله تعالى ته د ولد نسبت كوي -

دويم مراد د دينه هغه څوك دے چه د الله تعالى په كلام كښ تبديل اوكړي او د ځان نه په هغے كښ الفاظ يا معانے جوړوي - په اوله توجيه ربط دا دے چه زه ظلم كوونكے نه يم ځكه چه افتراء په الله تعالى باندے لوئے ظلم دے -

اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ، اشاره ده چه په الله تعالى باندے افتراء كوونكے او د قرآن تكذيب كوونكے دواړه يو شان دي په كفر كښ -

وَتَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ⑱ وَمَا

او لوئے دے دَ هغے نه چه دوی شریکوی دَ الله تعالی سره ـ او نه

۱۸ :- خلاصه :- دَ دے ځائے نه تر دیرشم آیت پورے دویم باب دے په دے باب کښ رد دے په عقیده دَ مشرکینو چه هغوی خپل شرکاء شُفعاء گنړی او بنځه زورنے دی او مثال دے دَ پاره دَ فنا دَ دنیا او زیرے اُخروی او یره اُخروی ده ـ

تفسیر :- په ۱۸ آیت کښ رد دے په شرک فی العبادت او په عقیده دَ مشرکانو چه هغوی خپل معبودان شُفعاء گنړی ـ

حاصل دَ دوی دَ عقیدے دا وؤ چه دوی وئیل الله تعالی یو دے لیکن مونږ چه سِوا دَ الله تعالی دَ چا بندگی کوؤ لکه (لات، منات او هبل) وغیره نو دوی زمونږ حاجتونه په الله تعالی باندے پوره کوی ـ رزق راکول، اولاد راکول، مرضونه لرے کول وغیره ـ او کومو کسانو چه په دوی کښ په آخرت باندے عقیده وه نو هغوی دا هم وئیل چه دا معبودان په ورځ دَ آخرت به مونږ لره دَ عذاب نه نجات راکوی او په الله تعالی باندے به زمونږ بخنه خامخا کوی او دے عقیدے ته وسیله شرکیه او شفاعت قهریه (بے اجازته) وئیلے کیږی ـ

امام رازی فرمائی چه دَ دے مثال زمونږ په زمانه کښ قبر پرست خلق دی چه دَ اولیاؤ دَ قبرونو ناجائز تعظیم کوی (لکه سجده لگول او طواف کول او دَ هغے په نوم نذرانه شکرانه ورکول او په هغے باندے جنډے او غلافونه اچول) په دے عقیدے سره چه کله مونږ دا تعظیمونه اوکړو نو دا اولیاء کرام زمونږ حاجتونه په الله تعالی باندے خامخا پوره کوی او په ورځ دَ قیامت به هم دوی مونږ له نجات راکوی، او دا عقیده قطعًا شرک دے ځکه چه دَ دے آیت په آخر کښ ئے یشرکون فرمائیلے دے او په دے آیت کښ دَ هغوی په عقیده باندے رد په دریو طریقو سره شوے دے ـ اول دا چه دا معبودان مالک دَ نفع او ضرر نه دی ـ دویم دا چه الله تعالی ته په خپل مخلوق کښ داسے هیڅوک نه دی معلوم چه هغه شفیع قهری وی نو آیا تاسو

# كَانَ النَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَّاحِدَةً

(وؤ خلق (دَ دینه مخکښې) مګر یوه ډله وه (په عقیده دَ توحید)

الله تعالیٰ له خبر ورکوئ۔
بِمَا لَا يَعْلَمُ، دا کنایه دَ عدم وجود نه ده ځکه چه الله تعالیٰ په هر موجود باندې عالم دے۔ دریم دا ده چه دا عقیده عین شرک دے او الله تعالیٰ دَ هر قسم شرک نه پاک دے۔
مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ، نفي دَ ضرر او نفع عمومًا ده او بعضو تخصیص کړیدے چه ضرر په وخت دَ پریخودلو دَ عبادت او نفع په وخت دَ کولو دَ عبادت کښې دی۔
سُبْحٰنَهٗ، تسبیح، راجع ده شرک فی العبادة ته۔
وَتَعَالٰى، دا راجع دے شُفعاؤ نا ته۔
فائده:- په دُنیا کښې دَ بندګانو په مینځ کښې دَ مجرم دَ بچ کولو دَ پاره یا دَ یو ضرورت پوره کولو دَ پاره درے قسمه سفارش کیدے شي۔اول قسم شفاعت بالمحبت یعني مجرم یا محتاج په سفارش کښې هغه څوک پیش کوی چه هغه دَ مشفوع الیه (چا ته چه سفارش پیش کیږی) محبوب او کامل دوست وی۔ دویم قسم شفاعت بالوجاهت دے یعني مجرم یا محتاج په سفارش کښې هغه څوک پیش کوی چه هغه دَ مشفوع الیه په نیز باندے مخاؤریز او ډیر عزتمند سړے وی، پس دے دواړو قسمو سفارشونو کښې مشفوع الیه مجبوره شی او خپله اراده پریږدی او خپل قانون باندے هم عمل پریږدی او سفارش دَ هغه محبوب یا دَ مخاوریز سړی ضرور قبلوی، دَ دے دواړو قسمونو ته په شفاعت قهریه سره تعبیر کیدے شي او مشرکان دا دواړه قسمه سفارشونه کول دَ الله تعالیٰ په دربار کښې دَ خپلو شُفعاؤ په باره کښې ګنړی لیکن دا شرک دے ځکه چه الله تعالیٰ دَ هیچا دَ محبت یا دَ مخاؤریزئ نه نهٔ مجبوره کیږی۔ دریم قسم شفاعت په اذن سره دے یعني یو تن په خپل قانون کښې دا لیکلی وی چه زهٔ خپله اراده نشم پریخودلے او نه دَ خپل قانون خلاف کولے شم مګر هله چه

فَاخْتَلَفُوْا ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ

نو اختلاف اوکړو (روستو خلقو)، او که نه وے حکم (د روستوالی د عذاب) چه مخکښ مقرر شوی دے

مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ فِيْمَا

د طرف د رب ستا نه خامخا فیصله به شوے وه په مینځ د دوی کښ په هغه څه کښ

فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَآ

چه دوی پکښ اختلاف کوی۔ او دوی وائی ولے نشی

فلانے سړے ماته سفارش اوکړی نو هغه به منم نو دا سفارش د ده د اذن د لاندے دے د ده په اختیار سره دے پس پکښ د سفارش کوؤنکی هیڅ زور په مشفوع الیه باندے نه چلیږی دا سے قسم شفاعت د الله تعالی دربار کښ په دریو طریقو سره ثابت دے. اول دا چه یو ژوندے د بل ژوندی د پاره دعا غواړی. دویم دا چه ژوندے د مړ د پاره دعا غواړی. دریم دا چه په ورځ د قیامت نیکان او بخلے شوی خلق د مؤمنانو گنهگارانو د پاره سفارش کوی، دا درے واړه په شرع کښ ثابت دی او څلورم قسم یعنی د مړی دعا، د پاره د ژوندی دا په دلیل شرعی سره نه ده ثابت بلکه دے زمانه کښ دا عقیده شرک ته رسیدلے ده۔

۱۹:- په دے آیت کښ جواب د یو سوال دے۔

سوال:- دا عقیده د شفاعت به ستاسو په دین کښ منع وی لیکن مخکنو دینونو کښ خو دا جائز ده؟

جواب:- اوشو چه د ټولو پیغمبرانو دین یو دے اختلاف پکښ خلقو جوړ کړے دے۔

أُمَّةً وَّاحِدَةً، یعنی د وخت د آدم علیه السلام نه د شرک د قوم د نوح پورے یا د هلاکت د قوم نوح نه تر عادیانو پورے۔

سوال:- هر کله چه دا عقیده د کفر او د شرک ده نو په دوی باندے عذاب ولے نه راځی؟

جواب:- په دے جملے سره جواب اوکړے شو چه لَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ

أُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ فَقُلْ

نازلیږلے په دے پیغمبر یو نخه رچه موږ غواړو) دَطرف دَرب دَده نو ته اُوایه

إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلّٰهِ فَانْتَظِرُوْا ۚ إِنِّيْ

یقینًا علم دَغیب خاص الله تعالیٰ لره دے نو انتظار کوئ یقینًا زه

ع ۲ ۱۰ ۲ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَإِذَآ

ستاسو سره دَ انتظار کوونکو نه یم - او هر کله چه

أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْ بَعْدِ

اوسکوؤ موږ خلقو ته رحمت پس رروستو)

ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ

دَتکلیف نه چه رسیدلے وی دوی ته نو دغه وخت کښې دوی لره مقابله کول وی

مِنْ رَّبِّكَ ، مراد دَ دے کلمے نه دا دے چه الله تعالیٰ فیصله کړے ده چه دا امت به عذاب سره په دنیا کښې نه هلاکوی ترقیامت پورے، یا مراد دا دے چه الله تعالیٰ فیصله کړیده چه هیڅوک نه هلاکوی څو پورے چه دوی له ئے په واسطه دَ رسول یا دَ نائب دَ رسول خبر نه وی ورکړے؟

ن۲۰:- دے آیت کښې زور نه ده په طلب دَ معجزاتو سره دَ پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه ، هغه معجزات چه دَ دوی خواهش ئے غواړی، حاصل دَجواب دا دے چه نازلیدل دَ معجزے دا غیب دے او ما سره علم دَغیب نشته نو اختیار دَ راوړلو به راسره څنګه وی.

فَانْتَظِرُوْا ، مراد دا چه دَ معجزے دَ راتللو انتظار اوکړئ یا دَعاقبت دَ انکار انتظار اوکړئ.

فِیْ اٰیٰتِنَا ؕ قُلِ اللّٰہُ اَسْرَعُ مَکْرًا ؕ

په آیتونو زمونږ کښې، ته او وایه چه الله تعالیٰ ډیر زر مقابله کوونکے دے د ربه پټ تدبیر سره

اِنَّ رُسُلَنَا یَکْتُبُوْنَ مَا تَمْکُرُوْنَ ﴿۲۱﴾

یقیناً ملائک زمونږ لیکی هغه چه تاسو څه مقابلے کوئ.

هُوَ الَّذِیْ یُسَیِّرُکُمْ فِی الْبَرِّ وَ

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ګرځوی تاسو په او وچه او

الْبَحْرِ ؕ حَتّٰۤی اِذَا کُنْتُمْ فِی الْفُلْکِ ۚ

په دریابونو کښې، تر دے پورے کوم وخت چه یئ تاسو په کشتو کښې

وَجَرَیْنَ بِهِمْ بِرِیْحٍ طَیِّبَةٍ

او روانے وی دا کشتئ په دوی په هوا نرمے سره

وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِیْحٌ

او خوشحاله شی دوی په هغے نو راشی هغے ته سیلئ

۲۱:- دے آیت کښې زورنه ده منکرینو ته.

رَحْمَةً، وسعت د رزق، صحت د بدن، باران د رحمت نور نعمتونه،
ضَرَّآءَ، او قحط او مرض وغیره دی.
مَکْرٌ، په معنیٰ د دروغژن کولو او د مقابلے کولو یعنی جګړه کولو دے،
حاصل دا دے چه بعضے انسان ته هر کله چه د سختئ نه روستو راحت
اورسی نو دے د الله تعالیٰ د توحید او د قرآن مقابله کوی - او دا آیت
دلیل دے پدے خبره چه د هر انسان سره لیکونکے ملائک مقرر دی.
اَسْرَعُ مَکْرًا، مکر په معنیٰ د پټ تدبیر د عذاب دے سرعت دا دے
چه څوک ډیر مستحق د عذاب وی نو هغوی لره مخکښې هلاک کړی
او نور وروستو هلاک کړی او عجلت صفت د الله تعالیٰ نه دے او سرعت
د هغه صفت دے لکه سریع العذاب او سریع الحساب.

عَاصِفٌ وَّجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ

تیزه او راشي دو ورته ... چپې دَ هر

مَكَانٍ وَّظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اُحِيْطَ بِهِمْ ۙ

طرف نه او گمان اوکړې چه دوی راګیر کړے شول پدے چپو سره

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ۬

نو رابلی الله تعالٰی لره خالص کوی هغه لره بلنه ،

لَئِنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ

(او وائی) که بچ کړو تا مونږ لره دَ دے مصیبت نه خامخا شو به مونږ

مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٢٢﴾ فَلَمَّآ اَنْجٰهُمْ اِذَا

دَ شکر کوونکو ستا نه ۔ نو هر کله چه بچ کړی الله تعالٰی دوی لره نو دغه وخت کښ

س ٢٢ :۔ پدے آیت کښ اول دلیل عقلی دے بیا زورنه دہ مشرکینو ته ، حاصل ئے دا دے چه کله په دوی باندے څه غټ تکلیف او مصیبت راشی نو په هغه وخت کښ صرف الله تعالٰی ته آواز کوی او دَ خپلو معبودانو نوم نه اخلی او الله تعالٰی سره وعدے کوی که دا مصیبت ئے زمونږ نه لرے کړو نو مونږ به دَ الله تعالٰی شکر ادا کوؤ په توحید منلو سره ، دا رنگ نذر او صدقه به دَ الله تعالٰی په نوم باندے کوؤ۔

فائده :۔ لیکن افسوس دے دَ دے زمانے په جاهلانو چه دَ هغوی یقین او عقیده په بزرګانو او په اولیاؤ دومره کلکه شویده چه که ډیره سختی په دوی باندے راشی نو هغه بزرګانو ته رامدد شه وائی او الله تعالٰی ئے هیر کړے وی نو دَ دوی حال دَ مخکنو مشرکانو نه بدتر دے۔

دا سے مضمون علامه آلوسی په تفسیر روح المعانی کښ لیکلے دے۔

يُسَيِّرُكُمْ ، ذا دَ اوچ او لوندے تمام دَ سورلئ خیزونو ته شامل دے که په هغه وخت کښ موجود وؤ او که نه وؤ۔

هُمْ يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ط

دوى ظلم كوى په زمكه كښ په ناحقه سره (يعنى شرك كوى)

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلٰۤى

اے خلقو يقينًا ظلم ستاسو تاوان دے په

اَنْفُسِكُمْ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ز

ځانونو ستاسو فائدے واخلئ فائدے د ژوند دنيوى

ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا

بيا موږ ته راګرځيدل ستاسو دى نو خبر به دركړو تاسو لره په هغے

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اِنَّمَا مَثَلُ

عملونو چه تاسو ئے كوى. يقينًا مثال

حَتّٰۤى اِذَا كُنْتُمْ، دا د لوندے (بحر) د سورلئ د يو حالت ذكر كوى.

فِى الْفُلْكِ، دا لويو جهازونو، وړو كشتو او لانچونو ته شامل دے.

وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيْحٍ، په دې كښ التفات (نقل) دے د خطاب نه غيبت ته په دې كښ ډيرے فائدے دى. يوه فائده دا ده چه د دوى شان او حال نورو ته ذكر كوى د پاره د عبرت اخستلو.

طَيِّبَةٍ، درميانه حاله نه ډيره تيزه او نه كمزورى.

اُحِيْطَ بِهِمْ، احاطه په معنىٰ د هلاكت سره ده او هر كله چه قريب وو هلاكت ته هلاك شوى نه دى د دے وجے نه ئے وَظَنُّوْا اُوئيل.

مُخْلِصِيْنَ، يعنى د الله تعالىٰ سره بل څوك نه شريكوى او دا اخلاص په اصل كښ علم يقينى فطرى وى اخلاص ايمانى ندے.

٢٣:- دا د مخكښ آيت سره متعلق دے.

فَلَمَّاۤ اَنْجٰىهُمْ، كښ اشاره ده چه الله تعالىٰ د مشرك دُعا هم قبلوى د هغوئ تضرع د وجے نه.

يَبْغُوْنَ فِى الْاَرْضِ، د بغى نه مراد دلته شرك دے په دليل د آيت د سورة عنكبوت ٦٥ باندے، دا رنګ په سورة الاسراء

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ

د ژوند دنیوی پشان د اوبو دے چه را اوروؤ موږ هغه

مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ

د آسمان د طرفنه نوګډ را اوخیژی په هغے سره بوټی

الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ط

د زمکے د هغے قسم نه چه خوری ئے انسانان او څاروی،

حَتّٰٓى اِذَآ اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا

تر دے پورے کله چه واخلی (راونیسی) زمکه ډول ښکلا

سے۴۷ آیت او سورة لقمان سے۳۲ آیت کښ دی۔
بِغَيْرِ الْحَقِّ، مراد د دینه الباطل دی چه شرک کول دی یعنی فساد کوی په شرک کولو سره یا مراد د دے نه دا دے چه بغی په حق سره نه کوی بلکه په ناحق سره ئے کوی بغی بالحق دا ده چه مسلمانان د کافرانو په مالونو باندے غالب شی په سبب د جهاد سره او د هغوی نه ئے په زور سره واخلی۔
مَتَاعَ، د دے فعل حذف دے تمتعوا متاعًا یا منصوب دے په حرف جر محذوف سره فی متاع الحیوة الدنیا دی۔ یعنی ستاسو بغی لږه زمانه ده زر ده چه فنا به شی۔
مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، دا جواب د یو سوال دے که څوک دا سوال اوکړی چه الله تعالیٰ ته علم وو چه دا انسانان په شرک کوی نو د ده دعائے ولے قبلوله؟
نو جواب اوشو چه دا د ژوند دنیوی فائدے دی او دا الله تعالیٰ مشرکانو ته هم ورکوی او دا آیت دلیل دے په دے خبره چه الله تعالیٰ کله کله د مشرک دُعا هم قبلوی۔

وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ

او ښائسته شي او ګمان اوکړي مالکان د هغې چه یقینًا دوی

قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىهَآ اَمْرُنَا

قادر دي په لوګولو د هغې فصل نوراشي په هغې عذاب زمونږ

لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا حَصِيْدًا

د شپې یا د ورځې نو اوګرځوو مونږ هغه داسې دلګول (صفا

كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ؕ كَذٰلِكَ

کړیشوې) ګویا کښې چه نه وُو ولاړ دغه فصل پرون ، دغسې

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾

په تفصیل سره بیانوؤ آیتونه (مثالونه) دپاره د هغه قوم چه فکر کوي۔

۲۴:۔ هرکله چه متاع د حیاة دنیویه ذکر شو نو اوس د هغې د فنا او د زوال مثال ذکر کوي دپاره د تزهید فی الدنیا.

اَلْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، د دینه مراد عمر او سامانونه د دنیا دي۔

زُخْرُفَهَا، نه مراد دا دے چه سره، سپین، زیړ رنګونه بوټي او ګلونه وغیره پیدا شي او په هغې سره زینت حاصل شي او په دے کښې تشبیه ده د ناوے سره چه په زیوراتو سره ښائسته شي نو د انسان زړه ځان ته مائله کړي۔

قٰدِرُوْنَ عَلَيْهَآ، اشاره ده چه دا فصل پوخ شي لوګولو ته نزدے وي۔

بِالْاَمْسِ، مراد تری نه تیره زمانه قریبه ده۔

حاصل دا دے لکه چه الله تعالی باران راوورَوي او په هغې سره زمکه شنه شي او ښائسته شي په قسما قسم ګلونو سره او مالک د فصل (زمیندار) یقین اوکړي چه فصل تیار شویدے لیکن ناڅاپه په هغې عذاب راشي او هغه فصل تباه شي، دغه رنګے انسان پیدے خپل ژوند باندے مغروروي او مختلف امیدونه ساتي لیکن ناڅاپه

وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ط

او الله تعالىٰ رابلى بندګان خپل كور د سلامتيا ته ،

وَيَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ

او روانه وى چالره چه اوغواړى په لاره

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٥﴾ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى

نيغه باندے ۔ دپاره د هغې كسانو چه خائسته عمل ئے كړيدے خائسته بدله ده

وَزِيَادَةٌ ط وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ

او زياتى نعمتونه دى، او نه به پټوى مخونو د دوى لره

پرے مرګ راشى نو اميدونه ئے نيمګړى پاتے شى ۔
نو مقصد دا دے چه د دے دنيا د محبت د وجے نه د الله تعالىٰ دين مه پريږدئ ۔

٢٥ :۔ د دنيا د فنا د بيان نه روستو ترغيب دے جنت ته ۔

يَدْعُوْٓا، دعوت د الله تعالىٰ په راليږلو د رسولانو او مبلغينو د حق او قائم كول د دليلونو او نازلولو د كتابونو سره دے ۔ اشاره ده چه دعوت لويه مرتبه ده دا كار د الله تعالىٰ دے او دعوت نه روستو هدايت حاصليږى د دے وجے ۔

يَهْدِىْ، ئے روستو ذكر كړو ليكن هدايت په مشيت د الله تعالىٰ سره حاصليږى ۔

دَارِ السَّلٰمِ، دا يو نوم دے د نومونو د جنت نه ځكه چه په هغې كښ سلامونه دى لكه د دے سورت ١٠ آيت كښ تيرشويدى او دا رنګ په هغې كښ سلامتيا ده د هر آفت نه يا سلام صفت د الله تعالىٰ دے يعنى هغه كور د الله تعالىٰ دے ۔

يَهْدِىْ، مراد د هدايت نه رسول دى صحيح مقصد ته او توفيق وركول دى ۔

مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ، دا دليل دے په دے خبره چه الله تعالىٰ

قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ۭ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ

تور والے او نہ ذلت (رسوائی)، دغہ کسان جنت والا دی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِيْنَ

دوی بہ پہ ھغے کښ همیشه وی۔ او هغه کسان

كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَاۗءُ سَيِّئَةٍۢ

چه کوی بد کارونه بدله د بدائی به

بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۭ مَا لَهُمْ

په شان دھغے وی او پټوی به دوی تول بدن د ذلت ، نه به وی دوی لره

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ

د عذاب د الله تعالیٰ نه څوک بچ کوؤنکے گویا کښ چه اغوستلے شوے وی

وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ۭ

مخونو د دوی ته ټکرے د تورے شپے

د مخلوق نه مستغنی دے او په خپلے ارادے سره کار کوی۔

سے ۲۶:۔ دے آیت کښ زیرے اخروی دے د پاره د موحدینو۔

وَزِيَادَةٌ ، د دے غوره تفسیر دیدار الٰهی دے په جنت کښ ځکه دا په صحیح حدیث د مسلم کښ راغلی دی۔

اَحْسَنُوا ، مراد احسان نه توحید دے په عقیده او عمل سره۔

الْحُسْنٰى ، خائسته حالت دے او هغه جنت دے۔

وَزِيَادَةٌ ، ټولو مفسرینو اهل سنت والجماعت د دے تفسیر په رؤیت د الله تعالیٰ سره نقل کړیدے او معتزله د دے معنے نه انکار کوی او صحیح حدیث رد کوی لکه صاحب کشاف چه ذکر کړے دی۔ امام رازی او خازن د هغوی د شبها تو جوابونه کړی دی هغه اوګورئ۔

أُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا
دغه کسان اور والا دی دوی به په هغې کښې
خَٰلِدُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا
همیشه وی. او په هغه ورځ چه راجمع به کړو مونږ دوی ټول
ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟
بیا به اُوایو هغه کسانو ته چه شرک ئې کړیدے
مَكَانَكُمْ أَنتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ
اودریږئ په ځائے خپل تاسو او شریکان ستاسو
فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ۖ وَقَالَ شُرَكَآؤُهُم
نو جدائی به راولو مونږ په مینځ د دوی کښې او اُوبه وائی شریکان د دوی

۲۷:- دا ویره اخروی ده د پاره د مشرکینو۔
وَالَّذِينَ، په دے کښې لام پټ دے عطف دے په للذین احسنوا باندے۔
بِمِثْلِهَا، مماثلت په ناکاروالی کښې دے لکه څنګه چه شرک او کفر پلیت عمل دے دا رنګ د دوی سزا به هم پلیت مکان او خوراک وغیره وی او دا رنګ مماثلت په عدد کښې دے په یو سیئه باندے به یوه سزا وی۔
مَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ، په دے آیت کښې اشاره ده رد د شفیع قهری ته چه دعوی د سورت ده۔
كَأَنَّمَآ أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ، مراد د دیته دا دے چه د دوی مخونه به دا سے تورشوی وی لکه چه توره شپه په څه څیز باندے اوغوړولے شی او دا په مقابله د لایرهق وجوههم قتر کښې دے۔

مَّا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲۸﴾ فَكَفٰى

نه وئ تاسو موږ لره بندګي کوونکي . نو پوره دے

بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ

الله تعالىٰ ګواه په مينځ زموږ او ستاسو کښې

ت ۲۸ :- دا آيت هم ويره اخروى ده دَ پاره دَ مشرکانو چه عقيده دَ شفاعت شرکيه لري په باره دَ معبودانو خپلو کښې . او دا جواب دَيو سوال دے .

سوال :- مخکښې آيت کښې ئے اوفرمائيل چه دَ دوى بيچ کوونکے نشته او حال دا دے چه دوى خو دَ نيکانو خلقو بندګي کړيده نو اميد دے چه هغوى به ئے بچ کړي؟

جواب :- هغه نيکان خلق دَ دوى دَ بندګئ نه په انکار اوکړي .

فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ ، يعني په جدا جدا ځايونو کښې به مو ودرولے شي دَ پاره دَ دے خبرے چه نيکان خلق په صف دَ مجرمانو کښې او نه دريږي يا مراد دا چه دَ دوى وصلتونه او تعلقات به ختم کړو .

وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ ، دا په جواب دَ قول دَ مشرکانو کښې دے چه قَالُوْا رَبَّنَا هٰؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِكَ سورة نحل ت ۸۶ کښې .

فائده :- په دے آيت کښې رد دے په هغه چا بانده چه هغوى دَ ملائکو يا دَ پيغمبرانو يا دَ اولياؤ عبادت کړے دے يا قبر پرستي ئے کړيده او دَ الله تعالىٰ سره ئے په څه صفتونو کښې شريک کړيدى پده امت کښې . بتانو مراد نه دى ځکه چه حشر او سوال وجواب کول دَ بتانو دَ شان سره مناسب نه ده .

إِن كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ لَغَٰفِلِينَ ﴿٢٩﴾

یقیناً وؤ مونږ د بندګۍ ستاسو نه خامخا ناخبره.

هُنَالِكَ تَبْلُوا۟ كُلُّ نَفْسٍ مَّآ

دغه وخت به معلوم کړي هر نفس حقیقت د هغې عمل

أَسْلَفَتْ ۚ وَرُدُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ

چه مخکښ یې لیږلے دے او واپه کړځولے شي دوی الله تعالیٰ ته چه مالک د دوی دے

۲۹:- فَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا ، دا په معنیٰ د قسم کښ دے. یعنی مشرکان به اووائي چه مونږ خو ضرور ستاسو عبادت کړیدے ستاسو قبرونو ته مو سجدے او طوافونه کړیدی او ستاسو په نوم مو نذرونه کړي دي او تاسو ته مو رامدد شه وئیلي دي نو هغوی به په قسم سره مؤکد جواب ورکړي.

او دا آیت ښکاره دلیل دے پدے خبره چه هغه پیغمبران او بزرګان چه خلقو هغوی لره عبادتونه کړي دي هغوی ته یې رامدد شه وئیلي دي یا د هغوی په نوم یې نذرونه کړي دي وغیره نور د شرک کارونه نو هغوی د دے ټولو نه ناخبره دي نه یې اوریدلے دي او نه یې لیدلي دي. او دا سے په سورة فاطر ۱۴ او سورة احقاف ۵ آیت کښ هم دي او مفسر آلوسي لیکلي دي چه د هغې حاصل دا دے چه بتان خو په هر صورت کښ ناخبروي او هر چه ملائک دي نو هغه خولرے دي ځکه چه دے مشرکانو د آسماني ملائکو عبادت کړیدے په دلیل د سورة نجم ۲۶ آیت سره او هر چه اولیاء دي نو ځوک خولري وؤ د عابدانو نه او د هغوی علم غیب نشته او ځوک چه نزدے وؤ نو هغه مره دي او مړي هیڅ خبره نه آوري لکه چه دا په تحقیق د سماع موتیٰ کښ ذکر کیږي یا دا چه د مشرکانو د شرک او د بدعاتو د آواز او کارونو نه الله تعالیٰ هغوی لره بے خبره ساتي د دے د پاره چه په حزن او غمونو کښ اخته نشي.

الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

په رشتیا او ورک به شي د دوی نه هغه چه دوی څه

يَفْتَرُوْنَ ﴿۳۰﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ

دروغ جوړول. اُو ایه څوک روزي درکوي تاسو ته

مِنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ

د آسمان او د زمکې نه او یا څوک اختیار منډ دے

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ

د غوږ او د سترګو او څوک راؤ باسي ژوندے

مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

د مړ نه او راوباسي مړ د ژوندي نه

وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ

او څوک انتظام کوي د ټولو کارونو، نو اوبه وائي دوی چه الله تعالیٰ

النصف ع۳ ۸

ښ۳۰:. دا هم متعلق دے د مخکښ آیت سره، حاصل دا دے چه کله دوی ته معلومه شوه په میدان د حشر کښ، چه دا بزرګان زمونږ د عبادت نه بے خبره وو نو دغه وخت کښ دوی ته د خپلو عملونو خطائي معلومه شوه۔

تَبْلُوْا، بلاء امتحان او معلومیدلو د حقیقت ته وئیلے شي یعني دوی ته به معلومه شي چه دا عمل د خیر وو او که د شر وو مقبول وو او که مردود وو۔

مَوْلٰهُمُ، دلته مولیٰ په معنیٰ د مالک دے او سورت محمد ۱۱ کښ په معنیٰ د مددګار دے نو تعارض نشته۔

مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ، د شرک دعوے او دلیلونه او قصے یا معبودان باطله۔

فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿۳۱﴾ فَذَٰلِكُمُ اللَّهُ

نو اوایه ته آیا نو ځان نه بچ کوئ د شرک نه - نو دغه صفتونو والا الله تعالی دی

۳۱ :- خلاصه :- د دے ځاے نه دریم باب دے تر آیت ۵۳ پورے.
په دیکښ دا سے عقلی دلیلونه پیش کوی چه مشرکان په هغې باندے
اقرار کوی او په دیکښ په اتو آیتونو کښ زورنه ده او تسلی ده پیغمبر
صلی الله علیه وسلم ته او بیره د عذاب دنیوی او اخروی ده.
تفسیر :- دا آیت ۳۱ دلیل دے په دے خبره چه مشرکانو د عرب د
الله تعالی دا صفتونه منل چې رازق دے او مالک د غوږونو او د سترګو
دے او پیدا کوونکے دے، او د ټول عالم انتظام کوونکے دے - لیکن بیا
ئې هم هغه سره شرک کوؤ په عقیده او د شفاعت قهریه - د دے
آیت د دعوے د سورت سره مناسبت دا دے چه څوک خپل معبودان
شفعاء منی نو هغوی الله تعالی او د هغه بعضے صفتونه منی.
مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، مراد د دینه باران او بوټی او فصلونه پیدا
کول دی.
السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ، مراد دا دے چه طاقت د سمع او بصر د چا په
اختیار کښ دے او دا سے په سورة الانعام ۴۶ آیت کښ دی. (الْحَيَّ) حیوان
(ژوندی) د چرګو او مرغو. بچی او فصلونه تازه، مؤمن او عالم ته شامل
دے.
الْمَيِّتِ، نطفه، هګئ، زمکه، مشرک او جاهل ته شامل دے.
وَمَن يُدَبِّرُ الْأَمْرَ، الف لام استغراقی دی یعنی د ټول عالم انتظام څوک
چلوی او دا رد دے په عقیده د متصوفو باندے چه هغوی وائی د عالم
انتظام قطب او غوثان او ابدال وغیره چلوی او په دے باره کښ هیڅ حدیث
صحیح مرفوع موقوف نشته، کوم حدیث چه ابن عساکر نقل کړے
دی هغه بے سنده دے او حدیث د ابدال منقطع او ضعیف دے، لکه
چه ابن قیم په المنار المنیف کښ لیکلی دی.

رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ

رب ستاسو دے په رشتيا. نو نشته روستو دَ پريښودلو دَ حق نه

إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ

مگر گمراهي ده نو څنګه اوړيدلے شئ تاسو دَ حق نه. دغسې

حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ فَسَقُوا

پوره شويده فيصله دَ رب ستا په هغه چا چه نافرمان دي

أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ قُلْ هَلْ

چه دوي ايمان نه راوړي. ته اوايه آيا شته دے

مِن شُرَكَائِكُم مَّن يَبْدَأُ الْخَلْقَ

دَ مددګارو ستاسو نه هغه څوک چه اول پيدائش اوکړي

۳۲:- دا نتيجه دَ مخکښ آيت ده. فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ، صرف ګرځيدلو ته وئيلے شي معنیٰ دا چه په کوم دليل سره دَ حق نه باطل ته او دَ توحيد نه شرک طرف ته اوړے اوګرځے (فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ) دا آيت دليل دے پدے خبره باندے چه په مسائلو دَ عقيده کښ يو طرف ته حق وي نو دَ هغې مقابل به خامخا ګمراهي وي دواړه طرفونه حق نشي کيدے او نه باطل. نن چه بعضے خلق دَ ايمان او دَ عقيدے مسائل فرعي ګنړي او وائي چه دا دواړه حق دي نو دا لوے جاهلان دي.

۳۳:- دَ آيت مطلب دا دے چه هر کله دا مشرکان سره دَ پوهے نه په شرک باندے کلک دي نو معلومه شوه چه دَ دوي په باره کښ دا فيصله شويده چه دوي ايمان نه راوړي.

أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ، دا تفسير دَ كَلِمَةُ دے يا مراد دَ کلمے نه وعده دَ عذاب ده او أَنَّهُمْ په تقدير دَ لام سره علت دَ حَقَّتْ دے.

ثُمَّ يُعِيدُهٗ ۗ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ

بیا دوباره پیدا ئښ اوکړی (نشته) ته اوایه چه الله تعالیٰ اول پیدا کول کوی

ثُمَّ يُعِيدُهٗ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿٣٤﴾ قُلْ

بیا به یې دوباره هم کوی نو په څه وجه اوړیدے شئ تاسو (د توحید نه). ته اُوایه

هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ

آیا شته د مدد ګارو ستاسو نه څوک چه رسول کولے شی

اِلَى الْحَقِّ ۗ قُلِ اللّٰهُ يَهْدِيْ لِلْحَقِّ ۗ

حق ته (نشته)، ته اُوایه الله تعالیٰ رسول کوی حق ته،

اَفَمَنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ اَنْ

آیا نو هغه څوک چه رسول کولے شی حق ته حقدار دے د دے چه

يُّتَّبَعَ اَمَّنْ لَّا يَهِدِّيْٓ اِلَّآ اَنْ

تابعداری اوکړے شی (د حکمتو نو د هغه) یا هغه څوک چه نشی مونده لار (مګر هغه وخت چه دے ته

يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۫ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٥﴾

خودنه اوشی نو څه دلیل دے ستاسو، څه رنګه فیصلے کوئ (بے دلیله).

۳۴ :- دا رد دے په مشرکینو چه د هغوی شرکاء هیڅ پیدا ئښ نشی کولے نو دوی ئے په څه وجه د الله تعالیٰ سره شریک کړه.
فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ، صرف په معنیٰ د اوړیدلو دے د یو حال نه بل حال ته مطلق څنګه چه مخکښ ذکر شو. او افك، په معنیٰ د اوړیدلو دے خاص د روغو طرف ته نو افك خاص دے د صرف نه.
۳۵ :- دا هم رد دے په مشرکینو چه ستاسو شرکاء حق طرف ته رسول نشی کولے حق ته صرف الله تعالیٰ رسول کوی نو هغوی مو په څه وجه الله تعالیٰ سره شریکان کړل.
مخکښ آیت کښ رد دے په مشرکین بالعباد الصالحین باندے او په

وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ إِلَّا ظَنًّا ۚ إِنَّ

او نه کوی تابعداری (په شرک کولو کښې) ډیر ډیرے خلقو نه مګر د ګمان ، یقینًا

الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا ۚ

ګمان فائده نه ورکوی د حق په باره کښې هیڅ ،

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

یقینًا الله تعالیٰ پوهیږی په هغې چه دوی څه کوی۔

شرک فی الالوهیة بیان دے او په دے آیت کښې رد دے په شرک فی الحکم باندے چه مشرکین بالاحبار والرهبان دی یعنی ستاسو شرکاء چه ګمراهان پیران او ملایان دی حق طرف ته هدایت نشی کولے بلکه هغوی په اهتداء کښې الله تعالیٰ ته محتاج دی او دلیل په دے باندے لفظ د اَنْ يُتَّبَعَ . دے ځکه چه هدایت او اتباع د بتانو د شان سره مناسب نه ده۔

اِلَی الْحَقِّ او لِلْحَقِّ ، کښې فرق دا دے چه اول نه مراد حق طرف ته لاره خودل دی او د دویم نه مراد په حقه لاره باندے روانول دی. دا سے فرق د الی او د لام په صله د هدایت کښې په تفسیر د هدایت کښې په سورة الفاتحه کښې تیر شوے دے۔ بیا اول قسم خو مخلوق کولے شی او دویم قسم مخلوق نشی کولے د دے وجه نه ئے د شرکاء سره اِلَی او الله تعالیٰ سره لام ذکر کړو۔

كَيْفَ تَحْكُمُونَ ، یعنی اتباع د دین د الله تعالیٰ پریږدئ اتباع د ګمراهانو کوئ۔

۳۶ :- مخکښې آیت کښې رد وو په صرف تقلید د ګمراهانو باندے چه دا د اهل ضلالت کار دے نو اوس رد کوی په اتباع د ظنیاتو باندے چه دا هم د ګمراهانو کار دے چه د هغوی سره دلیل صرف ظن دے یقینی دلیل ورسره نشته ، او په ګمان سره یقین نشی ثابت کیدے۔

اَكْثَرُهُمْ ، اَكْثَرُ ئے د دے وجه نه اُوئیل چه بعضے خو په هوا (خواهش) پسے روان وی او اکثر په ظن پسے روان وی یا د دے اَكْثَر نه مراد د دوی

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى

او نه دے دا قرآن چه جوړ کړے شي

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ

دَطرف دَ ما سِوا دَ الله تعالیٰ نه او لیکن (نازل کړے شویدے) دَپاره دَ تصدیق

الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ

دَ هغے کتابونو چه دَ ده نه مخکښ دی او دَپاره دَ تفصیل

الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۷﴾

دَ فرض شوؤ حکمونو نشته هیڅ شک په یکښ دَطرف دَرب العالمین نه -

مشران دی دا سے خازن ذکر کړی دی حاصل دا دے چه دا مشرکان چه خپل معبودان شفعاء ګنړی او دَ هغوی بندګی کوی نو دا ظن دے څکه چه په وحی کښ په دے باندے هیڅ دلیل نشته دلته مراد دَ ظن نه شک دے (بے دلیله خبرے) یا مراد دَ ظن نه دلیل ظنی دے اګرچه شرعی وی او دَ حق نه مراد عقیده یعنی په دلیل ظنی شرعی سره نور احکام ثابتیږی لیکن عقیده په هغے سره نه ثابتیږی او دا سے په سورة نجم (وَمَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ۲۸) کښ دی۔

فائده :- دا آیت دلیل دے په دے خبره چه دلیل ظنی په باب دَ عقائدو کښ نه کافی کیږی دا سے تفسیر قرطبی کښ لیکلی دی۔

۳۷ :- په دے آیت کښ صداقت دَ قرآن پاک دے په ذکر دَ پنځو صفاتو سره۔ اول دا چه دا افتراء نه ده، دویم دا چه تصدیق دے دَ مخکښ کتابونو، دریم دا چه تفصیل دے دَ احکام ضروریه، څلورم دا چه بیشکه دے، پنځم دا چه الله تعالیٰ دَ طرف نه دے۔ او ربط ئے دَ مخکښ آیت سره دا دے چه ظنیات پریږدئ او دلیل یقینی نه راشئ چه قرآن کریم دے۔

تَصْدِيْقَ، دَ دینه مخکښ لفظ دَ کان یا انزل پټ مراد دے۔

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا

آیا وائی دوی چه دا قرآن ئې د ځان نه جوړ کړیدے، ته اووایه نو راوړئ

بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ وَادْعُوا مَنِ اسْتَطَعْتُم

یو سورت د دهٔ پشان او راوبلئ هغه څوک چه طاقت لرئ

مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

سِوا د الله تعالیٰ نه که یئ تاسو رشتینی ـ

بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا

بلکه دوی دروغژن گڼری (قرآن) په سبب د دے چه دوی نه دے حاصل کړے

بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ ۚ

علم د دے او تراوسه نه دے راغلے دوی ته عاقبت د نه منلو د قرآن،

كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

د غسے د دروغو نسبت کوؤ هغه کسانو چه د دوی نه مخکښې وؤ د خپلو رسولانو

۳۸:- مخکښې صداق د قرآن ذکر کړو نو اوس په دے آیت کښې زور نه ده منکرینو د قرآن ته په طریقه د طلب د مقابلے د قرآن د یو سورت او دے ته تحدی وئیلے شی او په دے کښې اثبات د اعجاز د قرآن دے۔

مِثْلِهٖ، ضمیر راجع دے قرآن ته او مماثلت په فصاحت، بلاغت او خائسته ترتیب او صداق او رشتینے پیشنگوئۍ کښې دے او سورت بقره کښې من مثله ځکه ذکر دے چه هلته احتمال وؤ چه ضمیر راجع شی عبد ته یا هلته مراد د مثل نه تورات او انجیل وؤ او مراد د هغې نه مناظره کول وؤ تحدی نه وه لکه دا سې تفسیر د سورة البقرة کښې تیر شوے دی۔

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۹﴾

نو اوګوره چه څرنګ شو انجام د ظالمانو -

وَمِنْهُمْ مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمِنْهُمْ

او بعضے د دوی نه هغه څوک دی چه ایمان راوړی په قرآن او بعضے د دوی نه

ف۳۹ :- په دیکښ روستو د اثبات د اعجاز د قرآن نه زورنه ده منکرینو د قرآن ته او د هغے انکار ئے دوه وجے بیان کړیدی. یو دا چه دوی د قرآن په مقصد باندے نه دی پوهه نوځکه ئے نه منی او دا سے په سورة النمل ۸۴ او سورة احقاف ۱۱ آیت کښ دی. دویم دا چه دوی ته د انکارکولو انجام نه دے ښکاره شوے چه هغه عذاب دے ځکه دوی انکار کوی.

بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهٖ، باء په بِمَا کښ زائده ده او دا مفعول د كَذَّبُوْا دے یا باء سببیه ده او مفعول ئے پټ دے یعنی القرآن او د دے مراد دا دے چه هیڅوک د قرآن په علومو باندے احاطه نشی کولے او دوی هم نه ده کړے ځکه تکذیب کوی. دویم مراد دا دے چه قرآن کښ د جنت جهنم وغیره ذکر دے چه هغه تراوسه پورے د دوی په علم کښ نه دے راغلے. دریم مراد دا چه په قرآن کښ هغه علوم او مسائل دی چه د دوی په علم کښ تراوسه پورے نه وو راغلے او دوی نه دی اوریدلی او مثل مشهور دے چه (الناس اعداء لما جهلوا) خلق چه په کوم څیز نه پوهیږی نو دشمنی ورسره کوی.

وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيْلُهٗ ، ضمیر راجع دے قرآن ته او تاویل نه مراد تفسیر د قرآن دے یعنی دوی تدبر او سوچ په معانی د قرآن کښ نه دے کړے بلکه په تقلید د مشرانو سره ئے تکذیب کړیدے دا معنی تفسیر مدارک ذکر کړیده. دویم دا چه ضمیر تکذیب ته راجع دے او تاویل په معنی د عاقبت سره دے یعنی د عذاب د تکذیب.

مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ

هغه څوک دي چه نه لري ایمان پدے قرآن او رب ستا ښه پوهه دے

بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَاِنْ كَذَّبُوْكَ

په حال دَ فساد کوونکو۔ او که دوی تا دروغژن گڼي

فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ج

نو اوایه زما دَ پاره بدله دَ عمل زما ده (چه دعوت دَ حق دے) او تاسو لره بدله دَ عمل ستاسو ده

اَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ مِمَّآ اَعْمَلُ وَاَنَا

(چه انکار دے) تاسو خلاص یئ دَ هغې عمل نه چه زهٔ کوم او زهٔ

بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ

خلاص یم دَ هغې عملونو نه چه تاسو ئے کوئ۔ او بعضے دَ دوی نه هغه څوک دي

ننا:- دے آیت کښې زورنه ده منکرینو ته او دلیل دے پدے باندے چه څوک دَ قرآن نه انکار کوي نو هغه مفسد دے په دلیل دَ المفسدین لفظ سره۔

يُؤْمِنُ او لَا يُؤْمِنُ. دا خو یا په معنیٰ دَ مستقبل سره دے او یا په معنیٰ دَ ماضي سره دے۔

ملا:- په دے کښې تسلي ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او مطلب ئے دا دے که دوی ستا خبره نه مني نو دَ دوی نه اعلان دَ براءت اوکړه او هر کله چه په آیت کښې مقصد تخصیص دَ هر شخص په جزاء دَ خپل عمل سره دے نو دَ دے آیت دَ قتال سره هیڅ تعلق نشته نو هغه قول دَ بعضے مفسرینو صحیح نه دے چه وائي چه دا آیت منسوخ دے په آیتونو دَ قتال سره۔

يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تُسْمِعُ

چه غوږ نيسي تاته ، آيا نو ته آوروڵ کولے شے

الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴۲﴾

کنړو ته او حال دا چه دوی عقل نه لري۔

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْظُرُ اِلَيْكَ ؕ اَفَاَنْتَ

او بعضے د دوی نه هغه څوک دی چه ګوري تاته آيا نو ته

تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۴۳﴾

خودنه کولے شے ړندو ته او حال دا چه دوی نه پوهيږي۔

۴۲:۔ په دے آيت کښ هم زورنه ده منکرينو ته چه دوی قرآن ته غوږ نيسي ليکن د زړه په غوږونو ئے نه اوري۔ او په دے کښ تسلّی هم ده پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته۔

يَسْتَمِعُوْنَ، دا استماع (اوريدل) په قصد د اعراض او استهزاء کولو ده۔

الصُّمَّ، په دے کښ تشبيه د ضد يانو ده د کنړو سره لکه کنړ هم نه آوري نو فائده نشي اخستلے نو دا رنګ دوی هم داسے اوريدل نه کوی چه فائده ترے واخلي۔

وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ، د دينه مخکښ تقدير د عبارت داسے دے چه کونړ سړے چه عقل لري نو هم خبره نه آوري نو کله چه بے عقله هم وی نو هغه په څه واوري؟

۴۳:۔ په دے آيت کښ هم زورنه ده منکرينو ته چه دوی تاته په ظاهري سترګو نظر کوی ستا د ويرولو د پاره يا ستا نه د تعجب کولو د پاره، ليکن د دوی د زړه سترګے ړندے دی، او په دے کښ هم تسلی ده پيغمبر عليه السلام ته۔ په دے دواړو آيتونو کښ د کافرانو تشبيه ئے ورکړے ده د کنړو او د ړندو سره لکه چه کونړ هيڅ نه آوری او ړوند هيڅ نه ويني نو دا رنګے دا کافر د حق نه کانړه او ړانده دی۔

إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا وَّ

یقیناً الله تعالیٰ نه کوی ظلم په خلقو هیڅ ظلم او

لَٰكِنَّ النَّاسَ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿۴۴﴾

لیکن خلق په خپلو ځانونو باندے ظلم کوی.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَن لَّمْ يَلْبَثُوا

او په کومه ورځ چه راجمع به کړی دوی لره (دوی به ګمان او کړی) ګویا نه وو حصار شوی

إِلَّا سَاعَةً مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُونَ

مګر یو ساعت د ورځے نه پیژندګلی به کوی

بَيْنَهُمْ ۚ قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا

په مینځ خپل کښ، یقیناً تاوان والا دی هغه کسان دی چه دروغژن ګڼړی

بِلِقَاءِ اللَّهِ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿۴۵﴾

پیش کیدل الله تعالیٰ ته او نه دی دوی لاره موندونکی.

وَلَوْ كَانُوا لَا يُبْصِرُونَ، تقدیر د عبارت داسے دے چه ړوند سړے څه وینی نه اګرچه د زړه بصیرت ئے وی نو هر کله چه د زړه بصیرت ئے هم نه وی نو هغه به څه اووینی؟

۴۴: دا جواب د یو سوال دے۔ سوال دا وو چه د دوی نه طاقت د اوریدلو او لیدلو اخستل آیا دا ظلم نه دے؟

جواب: حاصل ئے دا دے چه دا ظلم نه دے ځکه چه الله تعالیٰ په چا هیڅ ظلم نه کوی بلکه هغه په خپل ملکیت کښ تصرف کوی چه څنګه او غواړی، او دا عدل دے۔ او دا رنګ الله تعالیٰ دے خلقو ته اسباب د فائدے اخستلو ورکړیدی چه غوږونه سترګے او عقل دے لیکن د دوی ظلم کول دا دے چه دوی د هغے نه فائدے نه اخلی۔

۴۵: په دے آیت کښ ویره اخروی ده او دا د أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ، نتیجه ده مقصد ئے دا دے چه د قیامت دومره هیبت دے چه د هغے

وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

او كه اوخايو مونږ تا ته بعضې هغه عذاب چه وعده كوؤ د دوى سره

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

يا وفات كړو تا له (مخكښې د عذاب د دوى نه) نو زما طرفته دے راګرځيدل د دوى دى

ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴿٤٦﴾

بيا الله تعالىٰ خبر دے په هغه كارونو چه دوى ئې كوى ۔

د وجې نه دا منكرين خلق د دنيا عمر او د قبر حال يو ساعت قدرے په اوګنړى ۔

يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ، مراد د دے تعارف نه هغه تعارف دے چه د هغے په وجه په يو بل ته ملامتيا او زور نه وركوى او دا تعارف په بعضې حالاتو كښې دے او بيا به دا تعارف د ډيرو هيبتونو د وجې نه منقطع شى يا مراد دا چه داسے تعارف به نه وى چه يو بل ته فائده وركوى صرف تعارف د ملامته كولو به وى ۔ پدے سره په آياتونو كښې تعارض دفع كيږى هغه آياتونه چه دلالت كوى چه په ورځ د حشر به دوى د يو بل د حال نه ناخبر وى تپوس نه به هم نشى كولے لكه پدے قول كښې فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ (سورة المؤمنون ۱۰۱) ۔

إِلَّا سَاعَةً، دا ګمان د دوى د هيبتونو د ورځ د حشر نه دے يا د دے وجې نه چه دوى خپل عمر برباد كړے وؤ او د آخرت د پاره ئې هيڅ عمل نه وؤ كړے نو د دوى عمر داسے شو لكه چه يو ساعت وى ۔ نسبت ئې نحشر ذكر دے په سورة طه ۱۰۲ كښې او نسبت د يوم بعض يوم ذكر دے په مؤمنون ۱۱۳ كښې او نسبت د عشيه او ضحاها په سورة نازعات ۴۶ كښې او نسبت د قليل ذكر دے اسراء ۵۲ او مؤمنون ۱۱۴ كښې ۔ او نسبت د ساعة په سورة روم ۵۵ او احقاف ۳۵ او پدے آيت كښې ۔

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا، دا علت د ما قبل دے يعنى سبب د دے هيبتونو تكذيب د قيامت او نيشتوالے د هدايت د توحيد دے ۔

۴۶ :- دے آيت كښې تسلى ده پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته او ويره وركول

وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ

او د هر امت دپاره رسول دے (گواهی کونکے پس وی په ورځ د قیامت) نو هر کله چه راشی

رَسُوْلُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ

رسول د دوی (دپاره د گواهی) فیصله به اوشی په مینځ د دوی کښې په انصاف سره

وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَيَقُوْلُوْنَ

او په دوی به هیڅ ظلم نشی کیدے۔ او دوی وائی

دی منکرینو ته۔ مقصد دا دے یا به مونږ په دوی باندے په دنیا کښې عذاب راولو نو ته به ئے اوینے او که په دنیا کښې عذاب رانه ولو نو قیامت کښې به خامخا په دوی باندے عذاب وی۔ نو ته د دوی د عذاب نه بے غمه اوسه۔

اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ، جزاء هم پټه ده یعنی راوبه وینې آخرت کښې)۔

فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ، دا علت د پټے جزاء دے او دا سے په سورة مؤمن ۷۷ آیت او سورة زخرف ۴۱، ۴۲ آیتونو کښې هم راغلی دی۔

ثُمَّ اللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ، په دے کښې اشاره ده دیته چه د دوی په عملونو باندے نورو گواهانو ته حاجت نشته الله تعالیٰ په خپله خبر دے۔

وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ، دپاره جزاء پټه ده یعنی رستا تسلی به اوشی)۔

فائده:- په دے آیت کښې د نرینك مقابله ده د نتوفینك سره د دیته معلومیږی چه پس د وفات نه د دنیا حالات نه لیدلے کیږی نبی صلی الله علیه وسلم ئے هم نه وینی۔

۴۷:- دا د ویرے اخروی سره تعلق ساتی د دے آیت یو تفسیر دا دے چه د هر تیر شوی امت دپاره رسول وو نو کله چه په ورځ د قیامت هغه رسول حاضر شی او شهادت ورکړی په امت باندے نو دوی له عذاب ورکیدے شی نو جاء رسولهم نه مراد په قیامت کښې حاضر کیدل دپاره د شهادت ورکولو دی۔

دویم تفسیر دا دے چه د هر امت دپاره رسول مقرر شوے وو

مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

چه کله به وي دا وعده که يئ تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ

رشتينې. اُوايه ته زۀ نه لرم اختيار دَ ځان دَپاره

ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

دَ هيڅ ضرر لرے کولو او نه دَ فائدے حاصلولو ليکن هغه چه اوغواړي الله تعالىٰ

لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ؕ اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ

(نو هغه کوي) دَ هر يو (نه منونکي) امت دَپاره يوه نيټه ده (دَعذاب) کله چه راشي دا نيټه دَ دوي

فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾

پس نه به روستو کيدے شي يو ساعت او نه به مخکښ کيدے شي.

دَ الله تعالىٰ دَ طرفنه، نو کله به چه دا رسول دوي ته راغے په دنيا کښ نو دوي به انکار اوکړو نو په دوي به عذاب راغے، بنا په دويم تفسير دے آيت کښ ويره دَعذاب دنيوي ده او فاذا جاء رسولهم نه روستو لفظ دَ کن بوا پټ دے.

۴۸: دے آيت کښ زورنه ده منکرينو ته چه هر کله مخکښ آيت کښ اشاره اوشوه عذاب ته نو دوي تپوس اوکړو په طريقه دَ انکار چه دَ دغے عذاب نيټه مونږ ته اوخايه.

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ، جمع ئے ذکر کړيده ځکه چه خطاب نبي او مؤمنانو ته دے.

۴۹: دا جواب دے دَ مخکښ قول دَ منکرينو، حاصل دَ جواب دا دے چه زۀ ځان لره اختيار دَ نفعے، ضرر نه لرم نو علم دَ تاريخ دَعذاب دَ راتلو لرے خبره ده ليکن دومره معلومه ده چه هر عذاب لره نيټه مقرر ده چه دَ هغے نه، نه روستو کيدے شي او نه مخکښ کيدے شي.

نکته:- دا سے مضمون والا آيت سورة الاعراف ۱۸۸ آيت کښ هم تير شويدے صرف فرق دا دے چه هلته ئے نفع مخکښ ذکر کړے ده او

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ بَيَاتًا

ته اوايه آيا فكر كړيدے تاسو كه راشى تاسو ته عذاب د الله تعالىٰ د شپے

أَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُونَ ﴿۵۰﴾

يا د ورځے نو څه تدبير دے چه زر يه اوكړى هغے لره مجرمان (د پاره د ځان بچ كولو)۔

دلته كښ ئے ضرر مخكښ ذكر كړيدے نو وجه دا ده چه هلته د علم د قيامت خبره وه او علم نفع ده۔ او دلته كښ د عذاب ذكر وو او عذاب ضرر دے۔ نو هر آيت كښ د هغه ځائے مناسب لفظ مخكښ راوړے شوے دے۔

فائده :- جواب د مخكښ قول د كافرانو چه متى هذا الوعد دے په سورة ملك ۲۶ آيت كښ او سورة يٰس ۴۹ آيت كښ په بله طريقه سره ذكر كړے دے او دلته بله طريقه ده وجه دا ده چه دلته مقصد د دوى اعتراض وو په رسالت د رسول باندے نو په جواب كښ شان د رسول ئے ذكر كړو او په هغه دواړو سورتونو كښ مقصد اخبار د عذاب دے نو هلته د هغے مناسب ذكر اوكړو۔

إِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ، دا سے په سورت نحل ۶۱ آيت او سورة اعراف ۳۴ آيت كښ ذكر دى هلته وجه د فرق ذكر كړے شوے ده۔

نمبر ۵۰:- پدے آيت كښ زورنه ده منكرينو ته سره د ويرے وركولو د عذاب نه او تعلق د دے د طلب د عذاب سره دے يعنى د هغے دوېم جواب دے حاصل ئے دا دے چه كله عذاب د الله تعالىٰ د شپے يا د ورځے راشى نو دا منكرين به د هغے د دفع كولو د پاره سمدستى څه تدبير اوكړى بَيَاتًا منصوب دے په ظرفيت سره او په معنىٰ د ليلًا سره دے۔

مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُونَ، د دے يوه معنىٰ دا ده چه څو مره لوے عذاب دے چه په تلوار سره طلب كوى مجرمان هغے لره د الله تعالىٰ نه۔ او پدے توجيه سره جزاء د شرط د ان محذوف دے (پښيمانه به شى په استعجال باندے) پدے معنے سره ضمير د مِنْهُ راجع دے الله تعالىٰ ته او دا اذا د استفهام د پاره د تعظيم او انكار دے۔ دويمه معنىٰ دا ده

آَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ آمَنتُم بِهِ ۚ آلْآنَ

آیا بیا کله چه راشي دا عذاب نو ایمان به راوړئ تاسو په ده باندې آیا اوس ایمان راوړئ

وَقَدْ كُنتُم بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ

او په تحقیق سره وئ تاسو چه دا مو په تلوار غوښتلو ۔ بیا به

قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ

اُوویلے شي ظالمانو ته او څکئ عذاب

الْخُلْدِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا بِمَا كُنتُمْ

دَ همیشوالي نه شي درکیدلے تاسو ته بدله مګر دَ هغه عمل په سبب چه تاسو

تَكْسِبُونَ ﴿٥٢﴾ وَيَسْتَنبِئُونَكَ أَحَقٌّ هُوَ ۖ

کولو ۔ او تپوس کوي دوی ستا نه آیا حق دے دا عذاب دَ قیامت،

چه څه تدبیر دے چه زر به ئے اوکړي مجرمان دَ پاره دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه او پرے معنے سره ضمیر دَ مِنْهُ راجع دے لفظ دَ ماذا ته ۔ او ما په معنیٰ دَ ای شيء او ذا په معنیٰ دَ الذی دے او دا جزاء دَ ان ده ۔

سلھ ،۔ دا آیت هم دَ مخکښ سره تعلق لري مطلب ئے دا دے که دوی دَ عذاب دَ دفع کولو دَ پاره دا تدبیر اوکړي چه هغه وخت به ایمان راوړي نو ملائک به دوی ته جواب اوکړي چه آیا اوس ایمان راوړئ ۔ او حال دا دے چه پرے وخت کښ ایمان نه قبلیږي ۔

آلْـٰٔنَ ، دَ دینه مخکښ عبارت پټ دے یعنی را او به وئیلے شي دوی ته) او دا سے پرے سورت ساف آیت کښ دي ۔

سلھ ،۔ دے آیت کښ ویره دَ عذاب دنیوی ده که چرے دَ عَذَابَ الْخُلْدِ، نه مراد عذاب دَ دنیا شي او دَ مخکښ آیت سره مناسبت لري او عذاب دنیوی ته خُلد هله وئیلے شي چه په هغه عذاب کښ هلاک شي، او یا ویره اخروی ده که چرے عذاب دَ خُلد نه مراد عذاب دَ آخرت شي ۔

قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ وَّمَا

ته او وايه هاؤ قسم دے په رب زما يقيناً دا خامخا حق دے او نه يئ

أَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿٥٣﴾ وَلَوْ أَنَّ

تاسو بيچ کوؤنکي ځان لره د دے عذاب ته۔ او که

لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِي الْأَرْضِ

د پاره د هر يو نفس چه ظلم ئے کړيدے هغه څه چه په زمکه کښ دي شئ

لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ

خامخا بدله به ورکوی دے په هغے سره، او پټوی به دوی پښيمانتيا

لَمَّا رَأَوُا الْعَذَابَ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ

هر کله چه اُوينی دوی عذاب لره او فيصله به او کړيشي په مينځ د دوی کښ

بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٥٤﴾ أَلَا إِنَّ

په انصاف سره او په دوی به هيڅ ظلم نشی کيدے۔ خبردار يقيناً

۵۳ :- دا زورنه ده منکرينو د عذاب او د قيامت ته کوم چه په مخکښ آيت کښ ذکر شول۔ او پدے آيت کښ قسم کړيدے الله تعالیٰ پخپل ذات باندے په باره د راتلو د قيامت کښ او دا رنګے قسم په سورة مريم ۶۸ آيت او سورة سبا ۳ آيت او سورة تغابن ۷ آيت کښ راځی۔

هُوَ ، ضمير راجع دے هغه عذاب ته چه وعده ئے کړے شويده چه عذاب الخلد دے په ورځ د قيامت۔

بِمُعْجِزِيْنَ ، لازمی دے په معنیٰ د بيچ کيدونکی د عذاب نه يا متعدی دے بيچ کوؤنکی ځان لره۔ يا عاجز کوؤنکے الله تعالیٰ لره او عاجز کيدل د يو څيز لازم دی د هغے سره فوت کيدل۔

۵۴ :- پدے آيت کښ هم ويره اخروی ده چه کله قيامت قائم شی نو مشرکان نه په فديه ورکولو خلاصيږی او نه په پښيمانه کيدلو سره۔

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

خبردار خاص الله تعالیٰ لره دے اختیار دَ هغه څیزونو چه په آسمانونو او په زمکه کښې دی

اَلَآ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ

خبردار یقیناً وعده دَ الله تعالیٰ یقیني ده او لیکن

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُوَ يُحْيٖ

اکثر دَ خلقو نه پوهیږی ۔ خاص الله تعالیٰ ژوندی کول کوی

فائده :- لفظ دَ وَاَسَرُّوا ، دَ اضدادو نه دے ، یعنی دَ دے دوه معنے دی چه دَ یو بل ضد دی ۔ یو معنیٰ دا ده چه پټه به کړی مشران دَ مشرکینو پښیمانتیا لره دَ خپلو تابعدارو نه لیکن دا هغه وخت چه لا اُور ته نه وی داخل شوی ۔

دویمه معنیٰ دا ده چه ښکاره به کړی دوی پښیمانتیا لره ځکه چه دوی عذاب وینی او هیبت به پرے راشی ۔

لَافْتَدَتْ بِهٖ ، دَ دے ته روستو ما تقبل منها رقبول به نه کړے شی) پټ دے لکه چه په سورة آلعمران ۹۱ آیت او سورة مائده ۳۶ آیت کښې دی ۔

۵۵ :- خلاصه : دَ دے ځائے نه څلورم باب دَ سورت دے تر اویا ۷۰ آیت پورے په یکښې رد دَ شرک فعلی دے ، دا رنګ رد دے په اتخاذ الولد باندے او عقلی دلیلونه دی چه کارساز او غیب دان صرف الله تعالیٰ دے ۔ او ترغیب دے قرآن کریم ته او بشارت دے ایمان والو ته ۔

تفسیر :- دا آیت دلیل عقلی دے چه واکدار دَ هر څه الله تعالیٰ دے ۔ او دَ دے په دویمه جمله کښې اثبات دَ بعث بعد الموت دے او مراد وَعْدَ اللّٰهِ ، نه هغه ده چه تیر شوے د دے آیتونو کښې ذکر شوے ده او اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، آه هم دلالت کوی په قدرت نه قبلولو باندے ۔

وَيُمِيْتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾ يٰاَيُّهَا

او مره كول كوى او خاص هغه ته به او كرځولے شئ تاسو - اے

النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ

خلقو يقينًا راغلے دے تاسو ته وعظ (نصيحت)

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ

د طرف د رب ستاسو نه او شفاء د هغه مرضونو چه په سينو كښ دى

وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ

او هدايت او رحمت دے د پاره د مؤمنانو - ته اُوايه

۵۶:- دا هم دليل عقلى دے چه اختيار منں د ژوند او د مرګ الله تعالى دے - او په آخرى جمله كښ اثبات د قيامت دے -

۵۷:- په دے آيت كښ ترغيب دے قرآن پاک ته - هر كله چه مخكښ د عذاب او د قيامت ذكر اوكړے شو نو د هغے نه د بچ كيدلو د پاره ذريعه ذكر كړله چه قرآن دے -

او د قرآن ئے څلور صفات ذكر كړى دى -

اول، مَوْعِظَةٌ، يعنى منع كوونكے د بدو اخلاقو نه - وعظ زجر دے چه ورسره تخويف وى (خازن) -

دويم، شِفَآءٌ، يعنى علاج د مرضونو د زړه شرک او نفاق او شک او بغض وغيره - او دے دواړو ته صفات تخليه وائى -

دريم، هُدًى، دے يعنى خودونكے د ښائسته عقائدو او اعمالو -

څلورم، رَحْمَةٌ، دے يعنى سبب د نرم والى د زړه دے او د نزول د رحمت الهى دے د ايمان والو د پاره - او دے دواړو ته صفات تحليه او تجليه وائى -

فائده:- هر كله چه اول ضرورى دفع د ضرر وى او هغه په موعظه او شفاء كښ دى نو هغه ئے مخكښ كړل په صفتونو د نفع وركولو باندے چه هغه هدًى او رحمة دے او دفعے د ضرر هم دوه قسمه

بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ

په فضل دَ الله تعالیٰ او په رحمت دَ هغه سره نو په دې

فَلْيَفْرَحُوْا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۵۸﴾

خوشحاله شي خلق دا غوره دے دَ هغه مال نه چه جمع کوي يې خلق۔

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ

اُوايه آيا فکر کړیدے تاسو چه څه چه پيدا کړي دي الله تعالیٰ ستاسو دَ پاره

مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا

څه رزق حلال نو جوړوئ تاسو بعضے دَ هغے نه حرام

وي يو هغه چه دَ ضرر نه منع کوي دويم هغه چه شته ضرر لرے کوي نو اول ته اشاره ده په موعظه او دويم ته اشاره ده په شفاء سره۔
۵۸:۔ دا هم ترغيب دے قرآن ته۔ فَبِذٰلِكَ، اشاره ده مجموعه فضل او رحمت ته او په دے کلام کښ اختصار دے اصل دا سے دے چه (فَبِذٰلِكَ يَفْرَحُوْا بِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا بِذٰلِكَ)۔ او تکرار دَ ډير تاکيد دَ پاره دے۔
قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ، مراد دَ فضل الله نه قرآن دے او مراد دَ رحمت نه توحيد او سنت دے چه دا دواړه سبب دَ خوشحالئ دے دَ پاره دَ ايمان والو. دَ دے وجے نه حديث کښ راغلی دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي: (هغه څوک چه هغه ته الله تعالیٰ هدايت اوکړي دَ اسلام او علم ورته ورکړي دَ قرآن بيا دے مخلوق ته شکايت کوي دَ خپلے لوږے نو الله تعالیٰ به دَ ده دَ دواړو سترګو ترمينځه فقيري اوليکي تر مرګه پورے)۔
دويم قول دا دے چه مراد دَ فضل نه قرآن دے او مراد دَ رحمت نه دا دے چه الله تعالیٰ څوک دَ دے اهل اوګرځوي، دريم قول دا دے چه فضل قرآن دے او رحمت سنت دے۔

وَحَلٰلًا ؕ قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ

او بعضے حلال اُو ایه ته آیا الله تعالیٰ اجازت کړیدے تاسو ته (دحرام حلال جوړولو)

اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَا ظَنُّ

بلکه تاسو په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړوئ. او څه گمان دے

الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

دَ هغے کسانو چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے دروغ (چه څه به اوکړے شی دَ دوی سره)

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ

په ورځ دَ قیامت کښ، یقیناً الله تعالیٰ فضل والا دے

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

په خلقو باندے لیکن ډیر خلق

لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ ع ۶ ۱۱

شکر نه کوی. او نه یے ته په څه حال کښ

سـ۵۹:۔ دے آیت کښ رد دے دَ شرک فعلی، مطلب دا دے چه هر کله دلیلونه دَ توحید هم بیان شول او قرآن پاک هم موجود دے نو دَ ځان دَ طرف نه ولے حلال او حرام جوړوئ۔
مِنْ رِّزْقٍ، فصلونه، څاروی وغیره او دا ټول په برکاتو دَ آسمان سره پیدا کیږی دَ دے وجے نه انزل ذکر شو او په دے آیت کښ سخت رد دے په هغه چا باندے چه په حلال حرام، جائز ناجائز کښ بغیر دَ دلیل نه دَ بل چا تقلید کوی او دیته شرک فی التشریع او فی الحکم او فی التحلیل والتحریم وئیلے شی۔
سـ۶۰:۔ دے آیت کښ زورنه ده شرک فعلی کوونکو ته چه دوی په الله تعالیٰ دروغ جوړوی۔
اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ، مراد دَ دینه فضل دے په دنیا کښ، نعمتونه ورکول او مهلت ورکول۔ دا رنگے فضل قرآن پاک دے چه په هغے

وَمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ

او نه لولے ته د الله تعالیٰ د طرفه څه قرآن او نه کوئ تاسو

مِنْ عَمَلٍ اِلَّا کُنَّا عَلَیْکُمْ شُهُوْدًا

څه کاروته (عملونه) مګر یو مونږ په تاسو باندے حاضر ناظر

اِذْ تُفِیْضُوْنَ فِیْهِ ط وَمَا یَعْزُبُ

کله چه شروع کوئ تاسو په هغے کښ، او نه شي پټیدے

عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِی الْاَرْضِ

د رب ستا نه په قدر د یو ذرے په زمکه کښ

وَلَا فِی السَّمَآءِ وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ

او نه په آسمان کښ او نه ورکوټے د دینه

وَلَآ اَکْبَرَ اِلَّا فِیْ کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ ﴿۶۱﴾

او نه لوے مګر په کتاب ښکاره کښ دی (علم د الله تعالیٰ)

کښ بیان د تحلیل او تحریم دے.

یَوْمَ الْقِیٰمَةِ، دا منصوب دے په ظن سره یعنی د قیامت په باره کښ د دوی څه ګمان دے یا کلام پټ دے یعنی (ماذا یفعل بهم یوم القیامة).

ملا:- دے آیت کښ دلیل عقلی دے چه عالم په هر پټ او ښکاره باندے یو الله تعالیٰ دے.

فِیْ شَاْنٍ، چه شان مصدر وی نو په معنیٰ د قصد کولو سره دے او کله اسم مصدر وی په معنیٰ د هر حال او کار چه هغه مقصد وی، په دے آیت کښ د شان نه مراد هغه حالتونه د پیغمبر دی چه د یو ځے والی سره تعلق لری.

وَمَا تَتْلُوْا مِنْهُ، مراد د دینه هغه حالت دے چه پیغمبر امت ته قرآن بیانوی، مِنْهُ، ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته او مِنْ قُرْاٰنٍ،

أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ

خبردار یقیناً دوستان دَ الله تعالیٰ نه به وی هیڅ یره

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

په دوی بانـدے اونه به دوی غمژن کیږی (په ورځ دَ قیامت).

مِنْ، بعضیه دے یا ضمیر راجع دے قرآن ته او دویم قرآن نه مراد ټکړه ده لکه آیت او سورت۔

وَلَا تَعْمَلُونَ، مراد دینه ټول اعمال دَ امت دی۔

كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ، مراد دَ دینه لوح محفوظ دے او هغه تعبیر دے دَ علم دَ الله تعالیٰ نه چه لیکلے شوے دے۔

فائده:- فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ، دا سے په سورة سباء ۳ آیت کښ دی۔

سوال:- دلته فِي الْاَرْضِ ئے مخکښ راوړیدے او سورة سبا کښ روستو دے؟

جواب:- دلته مخکښ احوال دَ زمکے والو ذکر شول دَ دے وجے نه ارض ئے مخکښ راوړه۔

وَلَا اَصْغَرَ، دا منصوب دے ځکه چه اسم دے دَ لَا، نفی الجنس دَ پاره۔

۶۲:- په دے آیت کښ زیرے دے نیکانو خلقو ته او په دے سورت کښ دَ اولیاء الله دَ ذکر کولو نکته دا معلومیږی چه مشرکینو هغوی شفعاء گنړل، او دَ هغوی بندگی ئے کوله نو الله تعالیٰ په دے آیتونو کښ دَ هغے حقیقت حال ذکر کړو۔ چه اولیاء دَ الله تعالیٰ کیدے شی لیکن شفعاء نشی کیدے او اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ۔ ولایت دَ دوی دَ طرف نه محبت کول دَ الله تعالیٰ سره په طاعت او عبادت کولو سره او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ولایت هم محبت کول او حفاظت او نصرت کول دی۔ او دویمه معنیٰ موافق ده دَ سورت بقره ۲۵۷ آیت سره۔

لَا خَوْفٌ، مراد دَ دینه دا دے چه په قبر او حشر کښ به په دوی بانـدے خوف او حزن نه وی۔

اَلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَ کَانُوۡا یَتَّقُوۡنَ ﴿۶۳﴾

دا هغه کسان دي چه ایمان ئې راوړیدلے او دوي ځان ساتي د هر ګناه نه۔

لَهُمُ الۡبُشۡرٰی فِی الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا

د دوي د پاره زیرے دے په ژوند دنیوي کښې

وَ فِی الۡاٰخِرَۃِ ؕ لَا تَبۡدِیۡلَ لِکَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ

او په آخرت کښې ، نشته بدلیدل د کلمو د الله تعالی لره (وعدے د هغه)

۶۳ :- په دے آیت کښې تعریف د اولیاء کرامو دے په دوؤ صفتونو سره۔

اول صفت د ایمان دے چه مراد د هغې نه ایمان کامل دے۔

دویم صفت د تقوٰی دے چه مراد د هغې نه د شرک او بدعت د ګناهونو نه بیچ کیدل دي۔

او خازن ذکر کړي دي چه ولي الله هغه دے چه عقیده ئې صحیح وي بناء وي په دلیل باندے او اعمال ئې صالح وي موافق د شرعے سره وي او په حدیث مرسل کښې راغلي دي چه اولیاء الله هغه دے چه د هغوي په لیدلو سره الله تعالی یادیږي۔

دا آیت دلیل دے په دے خبره چه څوک د یو حکم شرعي مخالفت کوي په شرک کولو یا بدعت کولو سره نو هغه ولي الله نه شي کیدلے۔

خطیب شربیني په تفسیر کښې د قشیري نه نقل کړے دي چه په نبي کښې عصمت شرط دے او په ولي کښې حفاظت (ځان د ګناه نه بچ کول) شرط دي نو هغه چه په هغه باندے د شرع اعتراض وي نو هغه دهوکه مار دے۔

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۴﴾ وَلَا

دا کامیابی لویه ده - او نه دې

يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ

خفه کوی تا لره وینا د دوی یقینًا عزت

لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۭ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۵﴾

په اختیار د الله تعالیٰ کښ دے ټول هغه هرڅه آوری په هرڅه پوهه دے۔

وقف لازم

اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ

خبردار یقینًا په اختیار د الله تعالیٰ کښ دی هغه څوک چه په آسمانونو کښ دی او هغه څوک

۶۴:- دے آیت کښ زیرے دے اولیاء الله ته۔ دنیا کښ د بشارت ورکولو مقصد دا دے چه په حالت د ځنکدن کښ ملائک هغه له زیرے د جنت ورکوی دا رنګ رشتینے خوبونه لیدل، او په حدیث د مسلم کښ وارد دی چه یو شخص نیک عمل کوی او نور خلق د ده تعریفونه په هغے وجے سره کوی نو دا دنیوی بشارت د مؤمن دے نو لفظ البُشریٰ عام دے که ملائیکو د طرف نه وی او که د انسانانو۔ او په آخرت کښ زیرے دا دے چه کله د قبرونو نه اوځی نو دوی له ملائک زیرے ورکوی د جنت۔

۶۵:- دا تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه تابعدارانو ته چه که مخالفین خلق ستاسو تکذیب کوی یا افتراء کوی نو هغوی ستاسو عزت نشی کمولے ځکه چه اختیار د عزت د الله تعالیٰ سره دے۔ او ربط د دے د ماقبل سره دا دے چه ولی الله هغه دے چه منکرین خلق په هغه باندے طعنونه وائی لیکن هغه د هغے پرواه نه کوی او پدے سره د هغه عزت عند الله نه کمیږی۔

فِی الْاَرْضِ وَمَا یَتَّبِعُ الَّذِیْنَ

چه په زمکه کښې دي او نه کوي تابعداري هغه کسان

یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ

چه بلي سوا د الله تعالیٰ نه شرکاؤ لره،

اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ

تابعداري نه کوي دوي مگر د گمان او نه دي دوي

اِلَّا یَخْرُصُوْنَ ﴿۶۶﴾ هُوَ الَّذِیْ

مگر په اټکل کاروونه کوي - خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

۶۶:- دے آیت کښې زورنه ده مشرکینو ته او دا دلیل عقلي دے او علت دے د اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا، د پاره، په دے آیت کښې ئې مَنْ راوړے دے چه خاص دے په عقل والو پورے ملائک انسانان جنات او په ۵۵ آیت کښې لفظ د مَا راوړے وو چه غیر عقل والو د پاره دے یا عام دے او دے آیت کښې ئې مَنْ د دے وجے نه ذکر کړو چه اولیاء الله پکښې داخل شي چه معلومه شي چه هغوي د الله تعالیٰ مملوک دي د هغه سره شریکان نشي کیدلے۔

وَمَا یَتَّبِعُ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ، د دے جملے دوه تفسیرونه دي۔

اول تفسیر دا دے چه شرکاء مفعول د یتبع دے او مراد د دینه اولیاء الله دي۔ مطلب دا دے چه دا مشرکان د دے اولیاء الله تابعداري نه کوي په باره د دین کښې او هسے ئې د الله تعالیٰ سره شریک گڼړي۔

دویم تفسیر دا دے چه شرکاء مفعول د یدعون دے او د یتبع د پاره مفعول محذوف دے۔ مطلب دا دے چه دا کوم خلق چه د الله تعالیٰ نه سوا شرکاؤ ته رامدشه وائي دوي تابع نه دي د دلیل بلکه تابعداري کوي د گمان۔ او په دے دواړو توجیهاتو سره لفظ د

جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ

چه جوړه کړے يې ده ستاسو دَپاره شپه (تياره والا) دَپاره دَ دې چې آرام او کړئ په هغې کښې

وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

او ورځ رڼا والا. يقيناً په دې کښې دليلونه دي د وحدانيت د الله تعالىٰ دي

لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ

دَپاره دَ هغه قوم چه غوږ ږدي. وائي دوی نيولے دے الله تعالىٰ

وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِيُّ ؕ لَهٗ

ناڅوی پاک دے الله تعالىٰ، هغه بے حاجته دے، خاص هغه لره دی

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

هغه څه چه په آسمانونو کښې دی او هغه څه چه په زمکه کښې دی،

مَا، نافيه دے او جائز ده چه مَا استفهاميه شي په آخرۍ توجيه باندے.

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ.

سوال:- اِنَّ او اِلَّا دَپاره دَ حصر دي او دَ يو څيز حصر خو په دوه طريقو سره صحيح نه وي؟

جواب:- اول حصر دَ دوی دَ اتباع او دليل دے او دويم حصر دَ دوی دَ اقوال شرکيو دے چه هغه ټول دروغ دی،

دويم جواب دا دے چه ظن دوه قسمه دے. اول هغه ظن چه مستند دَ هغې دليل شرعي دے او دويم هغه دے چه دليل يې نشته نو دويمه جمله کښې اشاره شوه چه دَ دوی ظن دويم قسم دے.

٦٧:- هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا، دا دليل عقلي دے دَپاره دَ توحيد او په دے آيت کښې يو يو لفظ دَ اختصار دَپاره غورځولے دے. تفصيل يې دا دے (جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ مُظْلِمًا، او دَ مُبْصِرًا نه روستو لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ) او دا رنګ په سورة قصص ٧٣ آيت کښې دی.

إِنْ عِندَكُم مِّن سُلْطَانٍ بِهَٰذَا ۚ

نشته تاسو سره هيڅ دليل پدې خبره،

أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾

آيا جوړوئ په الله تعالىٰ هغه خبرې چه نه پوهيږئ په هغې.

قُلْ إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ

ته او وايه يقيناً هغه کسان چه جوړوي په الله تعالىٰ باندې

الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ مَتَاعٌ فِي

دروغ نشي بچ کيدې (د عذاب د الله تعالىٰ نه). دوى لره څه لږ مزې دي په

الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ

دنيا کښې بيا موږ ته راګرځيدل د دوى دي بيا به

س ٦٨:- دې آيت کښې زورنه ده هغه چا ته چه الله تعالىٰ ته نسبت کوي
د ولد او په هغې رد دې په پنځو طريقو سره. او دا جواب دې
د وهم د مشرکانو چه هغوى وئيل چه دا معبودان زموږ ځکه شفعاء
دي چه دوى د الله تعالىٰ محبوب مطلق (نازولې) دي پشان د اولاد نو
د دوى شفاعت الله تعالىٰ ضرور قبلوى نو پدې عقيده باندې ئې
رد اوکړو. او لفظ د اتخذ صريح دليل دې چه دلته مراد حقيقي
ولد نه دې بلکه مراد د دينه حکمي ولد دې لکه چه د پلار اثار
او صفات په اولاد کښې وي نو مشرکان وائي چه دا سې د الله تعالىٰ
صفتونه د الوهيت هم په اولياء الله کښې شته دې. او تفصيل د
دې په سورة بقره کښې تير شوې دې.

س ٦٩، ٧٠:- دې دواړو آيتونو کښې ويره د عذاب اخروي ده هغه چا لره چه
الله تعالىٰ ته نسبت د ولد کوي.

الْكَذِبَ، مراد د دينه نسبت د ولد او د شريک دې الله تعالىٰ ته.

مَتَاعٌ، دا جواب د سوال دې.

سوال:- چه هر کله دوى فلاح والا نه دي نو دوى له په دنيا کښې سامانونه

نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ بِمَا كَانُوْا
دوی ته به وڅکوو عذاب سخت په سبب د هغې چه دوی
يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۰﴾ ع وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ع ۷ ۱۲
کفر کوی. او بیان کړه په دوی باندے خبر
نُوْحٍ م اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ
د نوح علیه السلام کله چه اُوئیل هغه قوم خپل ته اے قومه زما
اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ وَتَذْكِيْرِيْ
که ګران وی په تاسو باندے اودریدل زما او بیانول زما
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ
آیتونو د الله تعالیٰ لره نو په الله تعالیٰ باندے ځان سپارلے دے ما
فَاَجْمِعُوْٓا اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ
نو کلک کړئ تدبیر خپل او راوبلئ شریکان خپل
ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً
بیا دِ نه وی تدبیر ستاسو په تاسو باندے پټ

اوعزتونه اولوے عمرونه ولے ورکړے شوی دی؟
جواب :- چه دا د دنیا برخه دی الله تعالیٰ کافرانو له هم ورکوی او دا مهلت دے او لفظ د لهم دلته پټ مراد دے۔ او تعبیر په ذوق سره په نُذِيْقُهُمْ، کښ اشاره ده چه د دوی په ټولو اندامونو او حواسو د بدن باندے دغه عذاب احاطه کړے ده۔ او الْعَذَابَ الشَّدِيْدَ، کښ اشاره ده چه عذاب د آخرت سخت دے د عذاب د دُنیا او د قبر نه۔

# ثُمَّ اقْضُوٓا اِلَیَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۷۱﴾

بیا تکلیف راکړئ ماته مخامخ او مهلت مه راکوئ ماته۔

سلک : خلاصه :۔ دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے پنځم باب دے
پدیکښې واقعه دَ نوح علیه السلام او دَ موسیٰ علیه السلام ده نمونے دی
دَپاره دَ عذاب دنیوی په منکرینو باندے، او دَ دے دواړو واقعو تخصیص
په دوه وجوهو سره دے۔
یوه وجه دا ده چه واقعه دَ نوح علیه السلام اوله ده او واقعه دَ
اهلاک دَ فرعونیانو آخری ده نو اول او آخر ذکر شو او مینځ واقعات
پکښې اشارةً داخل شول۔
دویمه وجه دا ده چه دَ دے سورت په ۲۲ آیت کښې دَ مشرکانو حال
دَ ویرے دَ غرقیدلو ذکر شوے وُو نو اشاره شوه چه دا ټول په مشیت
او ارادے دَ الله تعالیٰ سره دی که اوغواړی نو څوک به غرق کړی
لکه قوم نوح او فرعونیان او که اوغواړی نو څوک به بچ کړی لکه
یونس علیه السلام ئے دَ غرقیدو نه بچ اوساتلو او دَ هغه قوم
ئے دَ توبے په وجے سره دَ عذاب نه بچ اوساتلو او پدے باب
کښې ذکر دَ قوم دَ یونس علیه السلام دے دَپاره دَ ترغیب توبے ته
مخکښې دَ عذاب راتلو نه او په آخر کښې بیان دَ پیغمبر صلی الله علیه
وسلم دے۔ دَپاره دَ رد دَ اقسامو دَ شرک او دَپاره دَ ترغیب
قرآن ته۔
تفسیر :۔ پدے آیت سلک کښې واقعه دَ نوح علیه السلام ده، او دا واقعه
دَپاره دَ تخویف ذکر ده او دَپاره دَ تسلیٔ هم۔ دَ دے وجے نه پدیکښې
مسئله دَ توحید ئے نده ذکر کړے۔
مَّقَامِیْ ، مقام په زور دَ میم سره او دریدلو ته وئیلے شی پدیکښې اشاره
ده چه هغه دعوت په اولاړے سره کوؤ۔
وَتَذْكِيْرِیْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ، اشاره ده چه ټولو انبیاؤ دعوت او تبلیغ
په آیاتونو دَ الله تعالیٰ سره کوؤ۔
فَعَلَى اللّٰهِ ، دَ دینه مخکښې لفظ پټ دے یعنی رفعزمتم علی قتلی

فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ
نو كه تاسو مخ واړوئ نو ما نه ده غوښتلې ستاسو نه څه
أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۖ
مزدوري، نه ده مزدوري زما مګر د الله تعالى سره ده
وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾
او حکم کړې شوې دې ما ته چه یم زهٔ د حکم منونکو نه.

وابتدائي) قصص کوئ تاسو زما د قتل او د ضرر رسولو. او دے آیت کښ د نوح علیه السلام شجاعت ذکر کړے شوے دے.

ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً، مطلب د دے دا دے چه تاسو خپل کار زما په مقابله کښ ښکاره کړئ ځکه څوک چه یو کار پټ کوی نو هغه پوره مقصد ته نشی رسیدلے.

ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ، یعنی زما په باره کښ چه څه فیصله اوکړئ نو هغه ما ته را اورسوئ یا تکلیف مراد شو.

۷۲:- په دے آیت کښ ذکر شوے دے نیشتوالے د طمع د نوح علیه السلام ځکه چه طمع دار سړے پوره حق نشی بیانولے.

فَإِن تَوَلَّيْتُمْ، د دے جزاء پټه ده یعنی زهٔ ملامت نه یم او دا روستو جمله علت د جزاء دے. او هر کله چه دعوت فرض عین دے په انبیاء علیه السلام باندے نو د هغوی د پاره په دے باندے اجرت اخستل منع دی او دا رنګ په چا باندے چه یو عمل فرض عین وی نو په هغے باندے اجرت اخستل حرام دے.

مِنَ الْمُسْلِمِينَ، تابعدار د حکم د الله تعالى په اخلاص سره او دعوت کوؤنکے بغیر د اجرت نه که خلق ئې قبلوی او که نه یا الْمُسْلِمِينَ، نه مراد جماعت د انبیاؤ دے یعنی زه په دے بیان او اجرت نه اخستلو کښ د انبیاؤ په مسلک باندے روان یم. او اشاره ده چه اسلام د ټولو انبیاؤ علیهم السلام دین دے.

فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي

نو دوی هغه ته دروغژن اُوبَلل نو بچ کړو مونږ دے او هغه څوک چه د ده ملګری وو په

الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلَائِفَ وَأَغْرَقْنَا

کشتئ کښ او اوګرځول مونږ دوی روستو اوسیدونکی په زمکه کښ او غرق کړه مونږ

الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانظُرْ

هغه کسان چه دروغژن ئے ګڼړل آیتونه زمونږه نو اوګوره

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

چه څه رنګه شو انجام د یره ورکړے شوؤ.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِن بَعْدِهِ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ

بیا اولیږل مونږ روستو د هغه نه ډیر رسولان قومونو د هغوی ته

فَجَاءُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا كَانُوا

نو راوړو هغوی دوی ته دلیلونه نو نه وو هغوی چه

لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا بِهِ مِن قَبْلُ ۚ

ایمان ئے راوړے وے په سبب د هغے چه دروغژن کړے وو حق لره مخکښ د دینه،

٧٣:- په دے آیت کښ ذکر د نجات د ملګرو د نوح دے او ذکر د عذاب د منکرینو دے.

فَكَذَّبُوهُ، دا سبب د عذاب دے.

خَلَائِفَ، یعنی د نوح علیه السلام اولاد په زمکه کښ آباد شول لکه په سورة صافات ٧٧ آیت کښ.

الَّذِينَ كَذَّبُوا، دا دلیل دے چه صرف مکذبین غرق شول نو په ټوله زمکه باندے طوفان نه دے راغلے او دا سے تفصیل په سورة اعراف او سورة هود کښ تیر شوے دے.

فَانظُرْ، کښ مراد نظر د عبرت اخستلو دے یا سوچ کولو دے.

كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿٧٤﴾

دَ دے وجے نه مُهر وهو مونږه په زړونو دَ ظالمانو (دَحد نه تيرو تونكو) باندے

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى

بيا اوليږل مونږ روستو دَ هغوى نه موسىٰ

وَهٰرُوْنَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَاۡئِهٖ

او هارون عليهما السلام فرعون ته او غټانو دَ قوم دَ هغه ته

بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا

په معجزاتو زمونږه نو لوئى اوكړه هغوى او وو دوى قوم

ربط :- په دے آيت كښ دليل نقلى اجمالى دے دَ پيغمبرانو نه او درے درجات دَ منكرينو ذكر دى - اول تكذيب ، دويم عدم ايمان ، دريم مهر په زړونو.

بِمَا كَذَّبُوْا ، په دے كښ دوه توجيه دى - اول داچه دَ ضمير دَ ليؤمنوا او كذبوا يو مرجع ده او قبل نه مراد اول حالت دے يعنى په اول حال ئے تكذيب اوكړو نو بيا دَ ايمان نه محرومه شول.

دويمه توجيه ، ليؤمنوا ضمير روستنو قومونو ته راجع دے او ضمير دَ كذبوا قوم دَ نوح عليه السلام ته راجع دے او په باء دَ كذبوا كښ دوه احتمالونه دى .

اول احتمال داچه باء سببيه ده يعنى په سبب دَ تكذيب دَ مخكنو روستنى هم (دَ هغوى دَ تقليد دَ وجے نه) دَ ايمان نه محروم شول .

دويم احتمال دا دے چه باء صله دَ ليؤمنوا ده نو معنىٰ داچه روستنو ايمان رانه وړو په هغه څيز چه مخكنو دَ هغے تكذيب كړے وو.

كَذٰلِكَ ، كاف په معنىٰ دَ لام عليه دے .

مُّجْرِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ

مجرمان ۔ نو هر کله چه راغے دوی ته حق

مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ

دَ طرف زمونږ نه اُوئیل دوی یقیناً دا خامخا جادو

مُّبِيْنٌ ﴿۷۶﴾ قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ

ښکاره دے۔ اُوئیل موسیٰ آیا وایئ تاسو

لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْ ؕ اَسِحْرٌ هٰذَا ؕ

په باره دَ حق کښې هر کله چه راغے تاسو ته، آیا جادو دے دا،

۷۵ :- دا دلیل نقلی دے دَ موسیٰ علیه السلام ته او مقصود په یکښې ویره ورکول دی منکرینو ته دَ عذاب دَ دنیا نه او بهادری دَ موسیٰ علیه السلام او دَ ملګرو دَ هغه ذکر کوی۔

بِاٰيٰتِنَا، مراد دَ دینه هغه نهه معجزات دی چه سورة اعراف کښې تیر شوی دی۔

فَاسْتَكْبَرُوْا، مراد دا دے چه دَ توحید او رسالت منلو نه انکار دَ دے وجے نه او کړو چه دوی ځان لوے ګڼړلو۔

مُّجْرِمِيْنَ، جرمونه او ګناهونه ئے ښکاره کول او وروسته دَ دے آیاتونو کښې دَ دوی استکبار او جرم ذکر کړی دے۔

۷۶ :- په دے آیت کښې بیان دَ استکبار دَ هغوی دے او دَ اَلْحَقُّ، نه مراد معجزات دَ موسیٰ علیه السلام دی۔

لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ، هر کله چه په هغه زمانه کښې دَ سحر کاروبار ډیر وُو نو دوی دَ موسیٰ علیه السلام معجزه هم په هغے باندے قیاس کړله۔

وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ﴿۷۷﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا

او نشي کامیاب کیدے جادوګر - اوئیل دوی آیا ته راغلے یې موږ ته

لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا

دے دپاره چه ته واړوے موږ لره د هغه طریقے نه چه موندلې دي موږ په هغې مشران خپل

وَتَكُوْنَ لَكُمَا الْكِبْرِيَآءُ فِى الْاَرْضِ ؕ

او شي دے تاسو دواړو لره بادشاهي په دے زمکه کښې،

وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۸﴾

او نه یو موږ تاسو لره منونکي.

۷۷ :- په دیکښې رد دے د طرف د موسیٰ علیه السلام نه په منکرینو باندے.
لَمَّا جَآءَكُمْ، د دے نه روستو هٰذَا سحر حذف دے مقوله د
تقولون ده.
اَسِحْرٌ هٰذَا، کښې همزه د استفهام انکاری او توبیخ دپاره دے
یا دا مقوله د تقولون دپاره او همزه استفهامیه په السحر کښې
زیات دے د زورنے دپاره.
وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ، دا سے په سورة طٰهٰ ۶۹ آیت کښې هم
شته.
۷۸ :- په دے آیت کښې دویم استکبار د هغوی ذکر دے او په
موسیٰ او په هارون علیهما السلام یې دوه الزامه اولګول اول دا
چه تاسو موږ د مشرانو د لارے نه اړوئ.
دویم دا چه تاسو زموږ نه بادشاهي د مصر اخلئ. په اول الزام کښې
خفګان د عوامو خلقو دے او په دویم کښې خفګان د اقتدار
والو دے. او په دیکښې اوله خبره په حقیقت کښې صحیح ده او دویمه
باطله ده.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُونِي بِكُلِّ

او اُوئیل فرعون راولئ ماته هر

سَاحِرٍ عَلِيمٍ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا جَاءَ

جادوګر ماهر (پوهه)۔ نو هر کله چه راغلل

السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُوسَىٰ أَلْقُوا

جادوګر اُوئیل دوی ته موسیٰ علیه السلام (پس دَ وینا دَ هغوی نه) اوغورځوئ

مَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّا أَلْقَوْا

هغه شے چه تاسو غورځوونکی یئ۔ نو هر کله چه دوی اوغورځول

قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ

اوئیل موسیٰ هغه شے چه راوړی دے تاسو هغه خو جادو دے۔

إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللَّهَ لَا يُصْلِحُ

یقینًا الله تعالیٰ زر دے چه ختم به کړی اثر دَ دے، یقینًا الله تعالیٰ نه کامیابوی

سـ۷۹:۔ په دے کښ بیان دریم استکبار دَ فرعون دے په مقابله کولو سره په واسطه دَ ساحرانو او په دے طریقے سره ښکاره کوی چه موسیٰ علیه السلام ساحر دے لیکن کامیابه نه شو۔

سـ۸۰:۔ دے آیت کښ تقدیر دا دے چه قَالَ لَهُمْ مُوسَىٰ بَعْدَ قَوْلِهِمْ أَلْقُوا مَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ، یعنی اول قول هغوی اوکړو موسیٰ علیه السلام ته نو موسیٰ علیه السلام دَ هغوی په جواب کښ دا اُوئیل او دا سے په سورة اعراف سـ۱۱۵ او سورة طٰهٰ سـ۶۵ کښ ذکر دی۔ دلته په واقعه کښ اختصار مقصد دے دَ دے وجے نه دَ هغوی قول ئے حذف کړے دے

عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ اللّٰهُ
عمل دَ مفسدانو - او ښكاره كوى الله تعالىٰ
الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٨٢﴾ ٨ع ١٣
حق لره په كلمو خپلو سره اگر چه بد گنړى مجرمان .
فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ
نو ايمان رانه وړلو په موسىٰ باندے مگر څو ځوانانو (اولاد) دَ
قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ
قوم دَ هغه نه سره دَ يرے دَ فرعون نه
وَمَلَاۡئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ
او دَ غټانو دَ قوم دَ هغوى نه چه واړوى به هغوى لره (دَ دين نه) او يقيناً فرعون

س٨١ :- په دے آيت كښ رد كول دَ موسىٰ عليه السلام دى په ساحرانو باندے او بيان دَ عاقبت دَ سحر دے او اشاره ده ديته چه سحر كول فساد دے۔

مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ ، دا جمله دلالت كوى په حصر قلب باندے يعنى زما معجزه سحر نه دے ستاسو دا عمل سحر دے۔

فائده :- تفسير قرطبى كښ دَ عبد الله بن عباس رضى الله عنهما نه نقل دى چه څوک دَ شيے په بستره باندے څملى او دا ولى،

مَا جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ، هغه ته به سحر څه ضرر نه وركوى. او دا رنگ دا آيت چه اوليكلے شى په بدن دَ هغه چا چه جادو پرے كړے شوے وى نو الله تعالىٰ دَ هغه سحر دفع كوى - ليكن پدے طريقے دَ ليكلو دَ پاره دليل نشته او نور نقصانات ترينه پيدا كيږى هاں لوستل دَ قرآن دَ شفاء دَ پاره ثابت دى۔

س٨٢ :- مراد بِكَلِمٰتِهٖ نه دليلونه دَ الله تعالىٰ دى يا وعدے دَ امداد

لَعَالٍ فِي الْأَرْضِ ۚ وَإِنَّهُ لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾

خامخا اوچت وُ په زمکه دَ مصر کښې او يقيناً دے خامخا وُ دَ مشرکانو نه -

وَقَالَ مُوسَىٰ يَا قَوْمِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ

او اُوئيل موسىٰ عليه السلام اے قومه زما که تاسو ايمان راوړے وى

بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ

په الله تعالىٰ نو خاص په الله تعالىٰ باندے ځان اوسپارئ که تاسو

دَ هغه دى يا مراد ترينه معجزات دى.

وَيُحِقُّ اللَّهُ، دا عطف دے په سيبطله باندے.

٨٣:- په دے آيت کښې بيان دَ شجاعت دَ ملګرو دَ موسىٰ عليه السلام دے.

إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِنْ قَوْمِهِ، لږ کسان مراد دى چه کمزورى ووکه تارينه وى او که زنانه وى که.يمى وى او که بوډاګان وى دَ لفظ دَ ذرية تحقيق په سورة آل عمران کښې تير شوے. په دے آيت کښې دوه توجيه دى.

اول توجيه دا چه مِنْ قَوْمِهِ، ضمير موسىٰ عليه السلام ته راجع دے نو مراد دَ دينه هغه بنى اسرائيل دى چه ايمان ئے راوړے وُ په موسىٰ عليه السلام باندے.

دويمه توجيه دا ده چه ضمير راجع دے فرعون ته مراد دَ دينه بعضے هغه کسان وُ دَ قوم دَ فرعون نه چه ايمان ئے راوړے وُ لکه رجل مؤمن دَ آل فرعون په سورة حم مؤمن کښې ذکر دے او ښځه دَ فرعون او ساحران. او مراد دَ آيت دا دے چه دے کسانو ايمان په اسے حالت کښې راوړے وُ چه دَ فرعون او دَ هغه دَ قوم نه دا يره وه چه دوى ته به سخت تکليفونه ورکړى ليکن دوى دَ هغے پيرواه اونکړه.

لَعَالٍ فِي الْأَرْضِ، مراد دَ دينه بادشاهى او اقتدار دَ هغه دے.

وَإِنَّهُ لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ، نه مراد شرک او کفر کول او ظلم کول دَ ده دى.

مُّسْلِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُوْا عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

حکم منونکی یئ - نو اُوئیل دوی خاص په الله تعالیٰ مونږ ځان سپارلے دے

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ

اے ربه زمونږه مونږ مه گرځوے ازمیښت (ریالاندے کړیشوے) دَ قوم

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ

ظالمانو دَپاره - او بچ کړے مونږه په وسیله دَ رحمت ستا

۸۴ :- هر کله چه هغوی ایمان راوړو نو دَ فرعونیانو دَ طرف نه په هغوی باندے ډیر ظلمونه شروع شول نو دا تسلی ورکول دَموسٰی علیه السلام دی مؤمنانو ته په وخت دَ مصیبتونو کښ او دا آیت دلیل دے پدے خبره چه کمال دَ ایمان او اسلام په سپارلو دَ کار خپل سره دے الله تعالیٰ ته - په دے آیت کښ ئے ایمان او اسلام دواړه جمع کړل نو ایمان صفت دَ زړه دے او اسلام ظاهری اعمال او تابعداری ده دَ حکمونو دَ الله تعالیٰ او دَ روستو شرط دَپاره جزاء پټه ده (فاصبروا واثبتوا) او آیت صریح دلیل دے چه توکل په الله تعالیٰ باندے مقتضی دَ ایمان او اسلام ده -

۸۵ :- رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً ، مراد دَ فتنے نه په عذاب کښ مبتلا کیدل دی په لاسونو دَ ظالمانو سره یا مراد فتنے نه مصیبتونه دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه چه هغه امتحان دے دَپاره دَ ظالمانو ځکه هر کله چه په حق پرستو مصائب ډیر راشی نو ظالمان وائی که دوی په حق باندے وے نو په دوی به دا عذابونه وے راتلل او دا امتحان دے -

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا ، اشاره ده چه دَ توکل سره دُعا هم یو ځائے کول پکار دی -

مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاَوْحَيْنَآ

دَ قوم كافرانو نه - او وحي اوكړه مونږ

اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا

موسٰى عليه السلام ته او ورور دَ هغه ته چه تيار كړئ دپاره دَ قوم ستاسو

بِمِصْرَ بُيُوْتًا وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ

په مصر كښ كورونه او جوړ كړئ په كورونو خپلو كښ

قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَبَشِّرِ

ځاے دَ مانځه او پابندي كوئ دَ مانځه او زيرے وركړه

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ

مؤمنانو ته (دَ كاميابئ) - او اُوئيل موسٰى عليه السلام اے ربه زمونږه

ف ٨٦ :- دا آيت دليل دے پدے خبره چه غوره وسيله الله تعالٰى ته په دُعا كښ رحمت دَ هغه دے - او دا نجات عام دے كه په هلاكولو دَ ظالمانو سره وي او كه په توفيق دَ هجرت سره وي دپاره دَ مؤمنانو او كه په دواړو سره وي دلته دواړه كارونه اوشول مؤمنانو ته ئے توفيق دَ هجرت وركړو او ظالمان ئے هلاك كړل -

ف ٨٧ :- په دے آيت كښ بيان دَ امور مصلحو دے په وخت دَ تكاليفو او مصيبتونو كښ مطلب ئے دا دے چه كله فرعون دوي تنګ كړل او په عبادتخانو كښ عبادت كولو ته نه پريخودل نو دوي ته اُوئيلے شول چه په كورونو كښ ځان له مساجد جوړ كړئ او په هغے كښ عبادت كوئ -

اَنْ تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا ، مراد دَ دينه دا دے چه خپلے آبادئ دَ فرعونيانو نه جدا كړئ دپاره دَ دے چه كوم وخت په هغے عذاب راځي چه تاسو ترے بچ يئ نو مراد دَ بيوت نه كورونه دَ اوسيدو دي يا مراد دَ دينه عبادت خانے دي -

قِبْلَةً ، مراد دَ قبلے نه كعبه ده ځكه چه كعبه قبله دَ ټولو انبياؤ وه

إِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً

یقیناً تا ورکړې دې فرعون ته او ډلې د هغه ته ډول (ښائست)

وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا

او مالونه په ژوند دنیوی کښې اے ربه زمونږ

لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ج رَبَّنَا اطْمِسْ

(عاقبت دا دے) چه واړوی خلق ستا د لارې نه اے ربه زمونږ بے کاره کړې

عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

مالونه د دوی او سختی راولې په زړونو د دوی

فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ

نو دوی ایمان نه راوړی تردې پورې چه اُووینی عذاب

الْاَلِيْمَ ﴿۸۸﴾ قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا

درد ناک لره ۔ او فرمائیل الله تعالیٰ یقیناً قبوله شوه دُعا ستاسو د دواړو

یعنی عبادت خانے کعبے طرف ته اوګرځوئ یا قبله چه په معنیٰ د مساجد سره دے یعنی خپلو کورونو کښں مونځونه کوئ ۔

فائده :- اول خطاب موسیٰ او هارون علیهما السلام ته دے تثنیه ده ځکه چه عبادت ګاه مقرر کول او انتظام کول د انبیاء علیهم السلام کار دے ۔ دویم او دریم خطابونه جمع ده ځکه چه عبادت کول د ټول امت فریضه ده ۔ څلورم خطاب مفرد دے صرف موسیٰ علیه السلام ته خطاب دے اشاره ده عظمت د بشارت او مبشر به ته ۔

ب۸۸ :- په دے آیت کښں دُعا د شر، یعنی خیرے کول د موسیٰ علیه السلام دی په فرعونیانو باندے او هر کله چه دعاء شر د پاره اول ذکر د جرمونو ضروری دی چه سبب دے د پاره د خیرو کولو نو ذکر ئے کړو ۔

اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً وَّاَمْوَالًا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۔ یعنی محبت

فَاسْتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ الَّذِينَ

نو کلک شئ پخپله طریقه او مه ځئ په لارے دَ هغے کسانو

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾ وَجٰوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ

چه نه پوهیږی - او پورے ویستل مونږ بنی اسرائیل (اولاد د یعقوب علیه السلام)

دَ دنیا سبب دَ جرمونو کولو دے.

لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِكَ، دا لام دَ عاقبت دے یعنی دَ دے مالداری انجام دا دے چه دوی پخپله هم گمراه شول او نور خلق هم گمراه کوی.

اَطْمِسْ عَلَىٰٓ اَمْوَالِهِمْ، مراد دا دے چه دَ دوی مالونه که روپئ او آشرفئ دی او که فصلونه وغیره دی بے کاره اوگرځوه نو هغه څیزونه تول کیږی شول.

وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ، دَ دینه مراد کلکول دَ دوی دی په کفر باندے په مهر وهلو سره دَ هغوی په زړونو.

فَلَا يُؤْمِنُوا، دا عطف دے په لِيُضِلُّوا باندے په نیز دَ عام علماء نحویانو باندے او په نیز دَ اخفش او دَ فراء دا جواب دَ امر دے چه اطمس، او اشدد دے. او دا دُعاء دَ موسیٰ علیه السلام په هغه وخت کښ وه چه ناامیده شو دَ هغوی دَ ایمان راوړلو نه په شان دَ نوح علیه السلام.

۸۹:- په دے آیت کښ قبولیت دَ دُعاء دَ موسیٰ او دَ هارون علیهم السلام دے اکثر مفسرینو لیکلی دی چه موسیٰ علیه السلام دُعا غوښتله او هارون علیه السلام په هغے آمین اُوئیل او آمین هم دُعا ده، نو ځکه په دے آیت کښ دَ دُعا نسبت ئے دواړو ته اوکړو.

او ابن کثیر وئیلی دی چه په دے سره حجت نیولے هغه چا چه امام فاتحه اولولی او مقتدی آمین اُوائی نو داسے شوه لکه چه هغه هم قراءت وئیلے وی لیکن دا موقوف روایت دے او بقاعی لیکلی دی چه هارون علیه السلام دغه وخت غائب وُو لیکن هغه هم رضا وُو په دے دُعا باندے نو هغه ته ځکه نسبت اوکړے شو.

فَاسْتَقِيمَا، مراد دا دے چه تر قبلیدلو دَ دُعا پورے په خپل دین

الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ

دَ درياب نه نو ورپسے لاړو فرعون او لښکرے دَ هغه دَ وجے

بَغْيًا وَّعَدْوًا ۭ حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَكَهُ

دَ ضد او دَ دشمنۍ نه ترهغې پورے چه کله راګير کړو ده لره

الْغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ

غرقيدلو نو اوئيل ده چه ايمان مے راوړو په دے چه نشته حقدار دَ بندګۍ

اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَاۗءِيْلَ

سوا دَ هغه ذات نه چه ايمان راوړيدے په هغه باندے بنو اسرائيلو

وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿٩٠﴾ اٰۗلْئٰنَ وَقَدْ

او زه يم دَ توحيد والو نه - راوئيلے شول ده ته) آيا اوس ايمان راوړے او حال دا چه

باندے کلک اوسئ، او دعوت جارى ساتئ او دا رنګ مراد دَ استقامت دا دے چه په قبليدلو دَ دُعا کښ تلوار مه کوئ بعضو روايا تو کښ راغلى دى چه اجابت دَ دُعا نه څلويښت کاله بعد فرعون هلاک شو۔

وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ، مراد دا دے چه دَ جاهلانو پشان تلوار او بے صبرى مه کوئ څکه تلوار کوونکى په دُعا کښ حکمت دَ مهلت ورکولو باندے نه پوهيږى۔

سنه ۹۰ :- په دے آيت کښ نجات دَ بنى اسرائيلو او غرقيدل دَ فرعونيانو ذکر شوى دى۔

بَغْيًا وَّعَدْوًا، يو فرق دا دے چه بغى په قول کښ ده او عدوًا په عمل کښ۔

دويم دا چه بغى په عقيده کښ او عدوًا په عمل کښ۔

دريم دا چه بغى په حقوق الله کښ او عدوًا په حقوق العباد کښ۔

اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ، ادراک په معنىٰ دَ احاطے دے دَ هر طرف نه ئے راګير کړو، نو معلومه شوه چه فرعون دَ غرق نه بچ شوے نه دے اګرچه ده يو مقصد په درے عبارتو نو سره وئيلے دے۔

عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۹۱﴾

نافرمانی دِ کړیده مخکښ د دینه، او وے ته دَ فساد کوؤنکو نه۔

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُوْنَ

نو نن پورته کوم بدن ستا دے دپاره چه شے ته

لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا

دَ روستو خلقو دپاره نخه دَ عبرت، او یقینًا ډیر

ع ۹ ۱۴ مِّنَ النَّاسِ عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ﴿۹۲﴾

دَ خلقو نه زمونږ دَ آیتونو نه بے پروا دی۔

اول، اٰمَنْتُ، دویم لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآءِیْلَ۔ دریم وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ، او دلته ایمان او اسلام یو څیز دے۔

سلا ۹۱:۔ دا قول دَ الله تعالیٰ دے په واسطه دَ جبرئیل یا دَ بل ملک سره لیکن په حدیث ترمذی (حدیث حسن) کښ راغلی دی چه جبرئیل فرعون ته په دغه حالت کښ دَ هغه په خوله کښ خټه اچوله نو معلومه شوه چه جبرئیل دغه کلمات وئیلی دی او په دے حدیث باندے امام رازی ډیر اوږد اعتراض کړے دے او خازن دَ هغې تفصیلی جواب ذکر کړے دے۔ او وحید الدین خان په کتاب عظمتِ قرآن کښ دَ ډیرو غیر مسلم عبارتونه دَ دے خبرے په تصدیق کښ ذکر کړی دی۔

سلا ۹۲:۔ روایاتو کښ راغلی دی چه دَ بنی اسرائیلو یقین نه کیدلو چه فرعون غرق شوے دے الله تعالیٰ دَ هغه بدن دوی ته ښکاره کړو۔ او په دیکښ دوه توجیهات ذکر کړے شوی دی دَ هغې نه یو دا چه بدن دَ فرعون بغیر دَ روح نه په غاړه دَ دریاب باندے او غورځولے شو۔ لکه چه اوس مشهوره ده چه دَ قاهرے په عجائب گهر کښ هغه بدن کیخودلے شوے دے۔ دویمه توجیه دا ده چه دَ ده بدن دَ اوبو د پاسه دوی ته ښکاره کړے شو او دَ دوی دَ زړونو نه شک اُوتلو۔

نُنَجِّیْكَ، دَ نجوه نه اخستلے شویدے او نجوه اوچت مکان ته وئیلے شی۔

وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ مُبَوَّأَ

او يقيناً ځائے ورکړے وو مونږ بني اسرائيلو ته ځائے

صِدْقٍ وَّرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ج

مزيدار او رزق ورکړے وو مونږ دوی ته د پاکو څيزونو نه

فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ط

نو اختلاف اونکړو دوی (په مسئله د توحيد کښ) تر هغې چه راغی دوی ته علم،

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ

يقيناً ستا رب به عملي فيصله اوکړی په مينځ د دوی کښ په ورځ

الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿٩٣﴾

د قيامت په هغه څيز کښ چه دوی په هغې کښ اختلاف کوی۔

بِبَدَنِكَ، مراد د بدن نه وجود (جوثه) بے وسه ده۔ اٰيَةً، عبرت د هغه چا د پاره چه د ربوبيت دعوے کوی يا تکبر کوی د حکمونو د الله تعالیٰ نه۔

عَنْ اٰيٰتِنَا، اشاره ده چه د الله تعالیٰ د عذابونو دا يوه نخه نه ده بلکه ډيرے نخے دی۔

۹۳۔ په دے آيت کښ ذکر د حال د بني اسرائيلو دے روستو د غرقيدلو د فرعون نه۔ په دوی باندے انعامات اجماليه په دے آيت کښ بيان شول يو مکان، دويم روزی د طيباتو نه او بيا د دوی ناشکری په اختلافات سره په حق کښ پس د علم نه دا هم ذکر شوه۔ لکه مخرج صدق۔ مدخل صدق۔ قدم صدق ذکر دی۔

مُبَوَّأَ صِدْقٍ، د دينه مراد زمکه د شام يا د مصر ده او د عربو عادت دے چه د يو څيز صفت او مدح کوی نو صدق ورسره لګوی که قول وی يا فعل يا مکان وغيره وی۔

حَتّٰى جَآءَهُمُ الْعِلْمُ، مراد د علم نه قرآن دے يعنی د قرآن د نزول نه روستو په دوی کښ اختلاف راغے، يا مراد د علم نه تورات دے يعنی په تورات کښ په باطل تاويلونو او تحريفونو سره اختلافات پيدا شول۔

فَإِن كُنتَ فِى شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ
نو که یې ته په شک کښې د هغه څیز نه چه را لیږلے مونږ
إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَٰبَ
تا ته نو تپوس اوکړه د هغې کسانو نه چه لوستو یې کتاب
مِن قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ ٱلْحَقُّ
ستا نه مخکښې (حق پرست علماء) یقیناً راغلے دے تا ته حق
مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿٩٤﴾
د طرف د رب ستا نه نو مه کیږه ته د شک کوونکو نه۔

۹۴:- هر کله چه مخکښې آیت کښې ذکر کړے شو اختلاف د اهل کتابو او دا اختلاف سبب وی د پاره د شک نو دے آیت کښې د شک د زائل کولو د پاره طریقه یې بیان کړه چه هغه تپوس کول دی د علماء حق نه، بیا دے آیت کښې درے توجیه دی.
اوله توجیه دا ده چه خطاب نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دے او شک په معنی مشهورے سره دے لیکن حرف د إِنْ دلالت نه کوی په وجود شی باندے او دے وجه نه د دے آیت د نزول نه روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه نه زهٔ شک کوم او نه تپوس کوم۔
دویمه توجیه دا ده چه شک په معنی د تنګوالی د زړه دے نو مطلب دا دے چه که ستا زړه تنګیږی په مخالفت د دے کسانو، نو صبر کوه او تپوس اوکړه د علماء حق نه چه خبر در کړی تا له په صبر کولو د تیر شوؤ پیغمبرانو۔ دا سے مفسر قرطبی لیکلے دی۔
دریمه توجیه دا ده چه په آیت کښې خطاب دے مشرکانو ته چه هغوی به اعتماد کوؤ په خبرو د کتابیانو، معنی دا ده چه اُو ایه اے پیغمبره مشرک ته که یې ته په شک کښې د هغې کتاب او د مسئلے د توحید نه چه بیان کړی دے مونږ تا ته نو تپوس اوکړه د نیکانو علماؤ د اهل کتابو نه۔

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الَّذِينَ كَذَّبُوا
اَو مه کیږه د هغې کسانو نه چه دروغژن گڼړی
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُونَ مِنَ الْخٰسِرِينَ ﴿۹۵﴾
ایتونه د الله تعالیٰ نو شې به ته د تاوانیانو نه۔
اِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ
یقینًا هغه کسان چه پوره شویده په هغوی باندے فیصله
رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۹۶﴾ وَلَوْ جَاءَتْهُمْ
د رب ستا ایمان نه راوړی۔ اگر که راشی دوی ته
كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿۹۷﴾
هره نخښه تر دے چه اوینی دوی عذاب دردناک۔

دا هم قرطبی لیکلے دی۔

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ، په یکښی هم خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دے او مراد ترینه امت دے او مراد د دینه شک کول دی په حق کښی۔ یا مراد د دینه امتراء (شک) کول دی په نزول د عذاب کښی په منکرینو باندے۔

۹۵:۔ دا تفریع ده په شک کولو باندے یعنی شک کول سبب د تکذیب دے او تکذیب سبب د خسران دے۔

۹۶:۔ دے آیت کښی زورنه ده منکرینو ته مراد د کلمے نه عذاب د الله تعالیٰ دے په سبب د انکار د دوی او دا کلمه په تقدیر کښی لیکلے شوے ده۔

۹۷:۔ دا د مخکښی آیت سره تعلق لری چه دوی ته هر قسم آیت راشی نو دوی ایمان نه راوړی تر هغې پورے چه عذاب وینی نو بیا به ایمان راوړی لیکن فائده به نه ورکوی۔

فائده:۔ كُلُّ اٰيَةٍ، نه مراد جمع آیات دی نو ځکه یې فعل مؤنث راوړو۔

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ

تو ولې نه وو . یو کلی والا چه ایمان ئے راوړے وے نو چه فائدہ ورکړے وے هغوی ته

اِيْمَانُهَآ اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ۗ لَمَّآ

ایمان د هغوی مګر قوم د یونس علیه السلام ، هر کله چه دوی

اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ

ایمان راوړو نو لرے کړو مونږ د دوی نه عذاب د شرمندګۍ

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ

په ژوند دنیوی کښ او مزے ورکړے مونږ دوی لره

اِلٰى حِيْنٍ ﴿۹۸﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

تر یو وخت پورے۔ او که غوښتے رب ستا

ف۹۸ :- په دے آیت کښ ذکر د توبے د قوم د یونس علیه السلام دے چه دوی په وخت باندے توبه ویستله نو د عذاب نه بچ شول مفسرینو لیکلی دی چه قوم د یونس علیه السلام په علاقه موصل، نینوا کلی کښ آباد وو او شرک به ئے کوؤ نو یونس علیه السلام دوی ته دعوت د توحید ورکړو ډیر زمانه لیکن دوی انکار کوؤ نو یونس علیه السلام ته وحی راغله چه دے قوم له خبره ورکړه چه درے ورځے پس په دوی باندے عذاب راتلونکے دے که چرے دوی ایمان رانه وړو هر کله چه دریمه ورځ نزدے شوه نو یونس علیه السلام د دوی نه سفر اوکړو نو دوی پوهه شول چه عذاب یقیناً راتلونکے دے نو دوی توبه ویستله د شرک او د کفر نه او الله تعالیٰ نه ئے دُعا او غوښتله نو عذاب د دوی نه دفع شو، صحیح قول په یکښ دا دے چه عذاب په دوی لا نه وو راغلے د عذاب نه مخکښ دوی توبه ویستلے وه ځکه چه په وخت د راتللو د عذاب کښ ایمان او توبه فائده نه ورکوی۔

فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ، دا په معنیٰ د نفی دے۔

فَنَفَعَهَآ، نافع ایمان هغه دے چه د وخت د غرغرے نه مخکښ وی۔

لَاٰمَنَ مَنْ فِى الْاَرْضِ كُلُّهُمْ

خامخا ایمان به راوړی وے هغه چاچه په زمکه کښې دوی ټولو

جَمِيْعًا ۭ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ

په جمع سره، آیا نو ته زور کولے شے په خلقو

حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ وَمَا كَانَ

دے د پاره چه دوی مؤمنان شی. او نشی کیدلے

اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ، دا استثناء منقطع ده یعنی دوی ایمان نافع راوړے وو زجاج ته نقل دے چه دوی عذاب نه وو لیدلے صرف علامات د عذاب ئے اولیدلو.

كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ، په معنیٰ د نفس لرے کولو سره دے یا استثناء متصل ده یعنی دوی عذاب اولیدلو یعنی قریب وو چه نازل شویوے لیکن په توبے سره هغه عذاب لرے کړے شو نو دا د دغه قوم خصوصیت دے ځکه چه الله تعالیٰ په خپل ارادے سره کار کوی او بل دا چه الله تعالیٰ د دوی د اخلاص د توبے نه خبر وو نو د دوی توبه ئے قبوله کړه. كَشَفْنَا، په معنیٰ د لرے کولو سره دے یعنی عذاب نزدے وو چه نازل شوے وے لیکن الله تعالیٰ د دوی نه بیرته واپوو.

۹۹:- په دے آیت کښې تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته چه ایمان د دے خلقو په مشیت د الله تعالیٰ سره دے ستا اختیار او زور پکښې نه چلیږی.

شَآءَ رَبُّكَ، یعنی ایمان د دوی په مشیت د الله تعالیٰ سره دے او مراد د مشیت د لطف او د مهربانئ دے لیکن الله تعالیٰ دا مشیت په باره د ټولو کښې نه دے کړے بلکه د چا د پاره چه ئے ایمان په تقدیر کښې لیکلے وی. نو صرف هغوی ایمان راوړی او معتزله وائی چه د دے نه مراد مشیت جبری دے یعنی جبر د الله تعالیٰ د طرفنه نشته د هر چا خپله خوښه وی او دوی تقدیر نه منی.

لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

دَ پاره دَ هيچا چه ايمان راؤړي مګر په توفيق دَ الله تعالیٰ،

وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ

او اچوي الله تعالیٰ پليتي په هغه کسانو باندې

لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي

چه عقل نه لري. اُو ايه اُوګورئ چه څنګه دَليلونه دي دَ توحيد په

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ

آسمانونو او په زمکه کښې او فائده نه ورکوي دليلونه

وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۱﴾

او يره ورکوونکي هغه قوم ته چه ايمان نه راوړي.

ف۱:- دا آيت تفصيل دَ ماقبل دے يعني دَ ټولو دَ ايمان راوړلو مشيت الله تعالیٰ نه دے کړے بلکه بعضے په اذن دَ الله تعالیٰ سره ايمان راوړي او بعضے په پليتئ دَ شرک کښې پريږدي او په دے آيت کښې هم تسلي ده پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته چه ايمان دَ خلقو په توفيق دَ الله تعالیٰ سره دے او کوم خلق چه په حق باندے نه پوهيږي نو هغوي په پليتئ دَ شرک او دَ کفر کښې غورځوي، دلته دَ اِذْنِ، نه مراد تقدير الٰهي او توفيق دے او رِجْس، نه مراد شرک يا عذاب دے.

ف۲:- په دے آيت کښې دعوت دے منکرينو ته دَ پاره دَ فکر کولو په عقلي دليلونو کښې او بيا زورنه ده په ايمان نه راوړلو دَ وجې دَ عناد نه، او په دے آيت کښې دليل دے چه انسان مجبور محض هم نه دے بلکه دے مکلف دے په نظر او فکر کولو سره دَ پاره دَ حاصلولو دَ هدايت.
قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ، مراد دَ ديته ضد او عناد کوونکي دي.

فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ

نو نه کوی انتظار دوی مگر په شان دَ واقعاتو

الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ

دَ هغه کسانو چه تیرشویدی مخکښ دَ دوی نه، ته اُوایه

فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾

نو انتظار کوئ یقیناً زهٔ ستاسو سره دَ انتظار کوونکو نه یم۔

ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بیا واوړئ بچ کړیدی مونږ رسولان خپل او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے

كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ ع ۱۰ ۱۱ ۱۵

دغسے لازم دہ په مونږ چه بچ کوو به مؤمنانو لره۔

ف ۱۰۲:۔ په دے آیت کښ ویره دَ عذاب دنیوی ده منکرینو ته۔
اَيَّامِ، نه مراد واقعات دَعذاب دی دَ مخکښ قومونو ځکه دَ ایام
اطلاق په واقعاتو دَعذاب باندے کیږی او دارنګ په انعاماتو باندے
هم اطلاق کیدیشی۔ لکه په ذکرهم بایام الله (سورة ابراهیم ف۵)۔
ف ۱۰۳:۔ په دے آیت کښ زیرے دے مؤمنانو ته په نجات سره۔
ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا، ثُمَّ په دے آیت کښ دَپاره دَ تعقیب ذکری دے او
صرف عطف دَپاره دے او معطوف علیه محذوف دے (فَنُهْلِكُ
الْمُكَذِّبِيْنَ وَنُنَجِّيْ آه) او دا فعل مضارع په معنیٰ دَ ماضی سره ده
په قرینه دَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ سره۔
حَقًّا عَلَيْنَا، مراد دَدینه حق تفضلی دے حق واجبه نه دے مراد
ځکه چه الله تعالیٰ باندے څه شئے واجب کیدے نشی۔ حق دوه قسمه
دے۔ یو حق تفضلی دے یعنی دَ وعدے په وجه سره الله تعالیٰ په ځان
باندے لازم کړے دے۔
دویم حق ایجابی استحقاقی دے دا دویم په الله تعالیٰ باندے نشته
ځکه الله تعالیٰ فعال لما یرید دے او قادر دے په هر څه باندے نو

قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ

اُوايه ته چه اے خلقو كه يئ تاسو په شك كښې

مِّنْ دِيْنِيْ فَلَاۤ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ

دَ دين زما نه نو زهٔ نه كوم بندګي دَ هغه كسانو

تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ

چه تاسو بندګئ كوئ دَ هغوی سِوا دَ الله تعالٰی نه ليكن

اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ ۖۚ وَ

زهٔ بندګي خاص كوم دَ الله تعالٰی هغه الله تعالٰی چه مرګ راولی په تاسو او

اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۴﴾

حكم شوی دے ماته چه يم زهٔ دَ مؤمنانو دَ ډلے نه۔

په هغه باندے دَ هيڅ حق واجبه نشته او دَ دے وجے نه سوال په وسيله بحق فلان منع دے كه دَ حق نه مراد دويمه معنٰی شی نو هغه خو په الله تعالٰی باندے نشته او كه اوله معنٰی شی نو دا وهم دے وهم دَ دويمه معنٰی پيدا كوی او هيڅ صحيح حديث پداسے نشته دے۔ داسے په فقه حنفی كتاب الكراهيه كښې ذكر دی۔

۱۰۴:- پدے آيت كښې حكم دے پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته دَ پاره دَ بيان تفصيلی دَ توحيد او پدے آيت كښې رد دَ شرك فی العبادات دے، حاصل دا دے چه كه خلق شك كوی په دين اسلام كښې نو دوی ته بيان اوكړه دَ اصل مسئلے چه توحيد دے ځكه چه فرق دَ دين اسلام دَ نورو دينونو نه په توحيد سره دے۔

فائده:- شك وائی برابر والی دَ دوؤ طرفونو ته نو دا لفظ ئے ځكه ذكر كړو چه فرعی عبادات او اكثر معاملات دَ مشركينو او دَ مؤمنانو يو شان وؤ نو شك راغے چه دَ دوی په مينځ كښې څه فرق دے نو پدے آيت كښې هغه فرق ئے بيان كړو په توحيد سره۔

فَلَاۤ اَعْبُدُ، نه مخكښې دَ ان جزاء پټه ده يعني فاستمحوالا زالة

وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا

(او وئيلے شويدى ما ته) چه برابر کره ځان خپل دين ته چه کلک ئے په توحيد

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا

او مه کيږه د ډلے د مشرکانو نه - او مه وايه

تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ

(امداد) شه سوا د الله تعالى نه هغه څه ته چه نه نفع رسولے شي تا ته

وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا

او نه ضرر نو که اوکړو تا دا کار نو يقيناً ته پدغه وخت کښ به ئے

مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٦﴾ وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ

د ظالمانو نه - او که اورسوى تا ته الله تعالى

الشك رغوړيدې د پاره د زائل کولو د شک)
الَّذِي يَتَوَفّٰكُمْ، په ذکر د وفات سره اشاره ده حيات سابقه او تربيت ته ترمرګه پورے چه هغه دليل دے د پاره د قدرت د الله تعالى او تخصيص د وفات ئے د دے وجے نه اوکړو چه پدے کښ خوف ډير دے۔
وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، عبادت عمل د ظاهر دے او ايمان باطنى عمل دے او اشاره ده چه عبادت سره ايمان شرط دے۔
١٠٥:- د دے آيت په ابتداء کښ لفظ د قيل مراد دے۔ وَجْهَكَ، ذکر د مخ دے او مراد ترينه ټول نفس او ټول اعمال دى نو په مخکښ آيت کښ ذکر د توحيد وو۔ او پدے آيت کښ په هغے باندے امر د استقامت او اجتناب د شرک نه ذکر کوى۔
الْمُشْرِكِينَ، يعنى د مشرکانو د جماعت سره هيڅ تعلق مه ساته۔
١٠٦:- دے آيت کښ رد د شرک فى الدعاء دے او دا يو قسم دے د شرک فى العبادت نه چه سوا د الله تعالى نه هيڅ مخلوق لائق د بللے او د حاجت غوختلو نشته ځکه چه مخلوق اختيارمند د نفع او ضرر نه دے او پدے آيت کښ ظالم وئيلے شويدے هغه چا ته چه الله تعالى نه سوا

بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ

څه تکلیف نو نشته هیڅوک لرے کوونکے دَ هغې سِوا دَ الله تعالیٰ نه

وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ

او که اراده اوکړه ستا دَ خیر نو نشته هیڅوک واپس کوونکے

لِفَضْلِهِۦ ۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ

دَ فضل دَ هغه، رسوی الله تعالیٰ دا ضرر او خیر چا ته چه اوغواړی

مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

دَ بندګانو خپلو نه او الله تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے۔

بل چا ته رامه دشه وائی۔ او خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دے او مراد تربنه عام انسانان دی۔

١٠٧:۔ دا بیشان دَ علت دے دَ مخکښ آیت دَ پاره چه لا ٿق دَ بلنے بل څوک څکه نشته چه ضرر لرے کول یا خیر ورکول صرف دَ الله تعالیٰ صفت دے او په دے آیت کښ رد دَ شرک فی التصرف دے۔ لِفَضْلِهِ، دیکښ اشاره ده دیته چه اراده دَ خیر دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دا هم فضل دے او خیر ورکول دویم فضل دے۔ يُصِيبُ بِهِ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهِ، په یکښ اشاره ده چه تقسیم دَ فضل دَ الله تعالیٰ په مشیت سره دے نو که دَ چا نه فضل بند شی نو دَ وجه دَ قدرت دَ غیر الله نه ندے بلکه په مشیت دَ الله تعالیٰ سره دے۔ بِهٖ، ضمیر صرف فضل ته راجع دے یا ضرر او فضل هر یو ته راجع دے۔

سوال:۔ دَ ضرر سره ئے مس، ذکر کړیدے او دَ خیر سره ئے اراده؟

جواب ۱:۔ دا ذکر په طریقه دَ اکتفاء سره دے یعنی دَ مَس سره اراده هم مراد ده او اراده سره مَس هم مراد دے لیکن ذکر دَ یو ئے اوکړو او بل ئے حذف کړو۔

جواب ۲:۔ انسان ته چه معمولی ضرر اورسی نو ډیر فریادونه کوی او دَ خیر اظهار هله کوی چه ډیر وی او دا سے په سورة انعام ۱۷ آیت کښ دے لیکن په دے سورت کښ دَ شک دَ لرے کولو دَ پاره تفصیل ضروری وو نو څکه دَ خیر په جانب کښ اراده او فضل ئے ذکر کړو او سورة انعام کښ دَ دلیلو نو ذکر کول مقصد وو په هغے کښ اختصار هم کافی دے۔

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ

اُوايه ته اے. خلقو يقيناً راغلے دے تاسو ته

الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَمَنِ اهْتَدٰى

حق دَ طرف دَ رب ستاسو نه نو څوک چه روان شو په حق سمے

فَاِنَّمَا يَهْتَدِىْ لِنَفْسِهٖ وَمَنْ ضَلَّ

يقيناً روان دے په حق بانديے دے دَ پاره دَ فائدے خپلے او څوک چه واوړيدۀ دَ حق نه

فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ

نو يقيناً واوړيږو تاوان پدے بانديے ، او زۀ نه يم ستاسو

بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۸﴾ وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ

ذمه وار. او تابع اوسه دَ هغه څه چه وحي كيږي تا ته

وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ وَهُوَ خَيْرُ

او صبر كوه تر هغے چه فيصله اوكړي الله تعالىٰ او هغه غوره

الْحٰكِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾ ع

دَ فيصله كوونكو نه دے.

ن۱۰۸:- پدے آيت كښ ترغيب دے قرآن پاك ته دَ پاره دَ زائل كولو دَ شك. او دَ اَلْحَقُّ، نه مراد قرآن يا تفصيل دَ توحيد دے چه بيان دَ قرآن ټول حق دے او دَ هغے په باره كښ ئے دوه دلے ذكر كړيدي. وَكِيْلٍ، بندګانو كښ هغه دے چه هغه ته حقوق سپارلے شوے وي نو هغه ذمه داروي.

ن۱۰۹:- دا تسلي او تشجيع ده پيغمبر ته په دعوت دَ توحيد او په اتباع دَ وحي سره او په صبر كولو سره په تكليفونو بانديے تر فيصلے دَ الله تعالىٰ پورے. مراد دَ فيصلے دَ الله تعالىٰ نه عذاب وركول دي منكرينو ته يا توفيق وركول دَ ايمان دي.

(تمت سورة يونس)

| | | |
|---|---|---|
| سورة هود مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اياتها ١٢٣ ركوعاتها ١٠ |

خاص په نوم دَ الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښ چه رحمٰن او رحیم دے

الٓرٰ قف كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ

الله تعالیٰ بنهٔ پوهیږی په مطلب دَ دے، دا کتاب دے چه دَ حکمتونو نه ډک شوی دی ایتونو دَه بیا واضح روښانه شوی چه تفصیل کړے

مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ﴿١﴾ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

دَ طرف دَ حکمت والا خبردار ذات نه دے. چه مهٔ کوئ بندګی دَ هیچا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سورة هـــود

ربط ۱: دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره دا دے چه سورة یونس کښ په مسئله دَ توحید باندے عقلی دلیلونه بیان شول نو په دے سورت کښ په هغے مسئلے باندے دلیلونه نقلی دَ پیغمبرانو نه بیانوی.

ربط ۲: په هغه سورت کښ تفصیل دَ مسئلے دَ توحید وؤ نو پدے سورت کښ په تبلیغ دَ هغے کښ تشجیع ذکر کوی.

دعوٰی:. دَ دے سورت درے دعوے دی.

دعوٰی ۱:- اول رد دَ شرک فی العبادات، په دویم آیت کښ، سره دَ رد دَ شرک فی العلم او فی التصرف نه، په ۶، ۵ آیتونو کښ.

دعوٰی ۲:- دویم تشجیع او ترغیب په تبلیغ دَ توحید باندے په ۱۲ آیت کښ.

دعوٰی ۳:- تسلی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په ۱۷ آیت کښ.

خلاصه:- دَ دے سورت خلاصه دا ده: چه دے سورت کښ درے بابونه دی اول باب دَ اول آیت نه تر ۲۴ آیت پورے دے پدے باب کښ ترغیب دے قرآن ته او درے دعوے دَ سورت دی او زجرونه دی انکار کوونکو ته او ویره اخروی ده منکرینو ته او زیرے دے دَ پاره دَ منونکو.

اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِیۡ لَکُمۡ مِّنۡهُ نَذِیۡرٌ

سوا د الله تعالیٰ نه، یقیناً زهٔ ستاسو دپاره د طرف د هغه نه یره ورکوونکے

وَّ بَشِیۡرٌ ۙ﴿۲﴾ وَّ اَنِ اسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّکُمۡ

او زیرے ورکوونکے یم۔ او بخنه غواړئ د رب خپل نه

ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا اِلَیۡهِ یُمَتِّعۡکُمۡ مَّتَاعًا

او توبه اوباسئ هغه ته نو دربه کړی تاسو ته مزے

حَسَنًا اِلٰۤی اَجَلٍ مُّسَمًّی وَّ یُؤۡتِ

خائسته تر نیټے مقرر پورے او وربه کړی

تفسیر: ۱ :- پدے آیت کښں روستو د ذکر د اعجاز د قرآن نه په اثر سره ترغیب دے قرآن پاک ته په بیان د دریو صفاتو سره۔

اول صفت :- اُحۡکِمَتۡ اٰیٰتُهٗ ، د دے یو معنیٰ داده چه د حکمتونو نه ډک کړے شوے دی آیتونه د دهٔ۔

دویمه معنیٰ داده چه محکم آیتونه دی نقصان او فساد پکښں نه راځی، دریمه معنیٰ داده چه دا کتاب په بل کتاب سره نه منسوخ کیږی۔

دویم صفت ثُمَّ فُصِّلَتۡ ، معنیٰ ئے داده چه بیان د توحید او د اصولی مسائلو په تفصیل سره کړے شوے دے د حکمتونو نه ډک دے ځکه چه د حَکِیۡمٍ د طرف نه دے، او تفصیل پکښں ځکه دے چه د طرف د خَبِیۡرٍ نه دے۔

۲ :- پدے آیت کښں اوله دعوای د سورت ده چه الله تعالیٰ سره بندګئ کښں شریک مه جوړوئ او ورسره صدق د رسول دے۔

اَلَّا تَعۡبُدُوۡۤا ، دا مفعول له د احکمت او فصلت دے په تقدیر د لام سره لئلا تعبدوا او دلیل دے چه اصل مقصد د قرآن رد د شرک فی العبادة دے۔

كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ ۚ وَإِنْ تَوَلَّوْا

هر غوره عمل والا ته غوره جزا ډهغه، او كه تاسو مخ واړوو

فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

نو يقيناً زهٔ يرېږم په تاسو باندې د عذاب د ورځې

كَبِيرٍ ③ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ ۖ وَهُوَ

لوې ته۔ خاص الله تعالى ته ورګرځېدل ستاسو دي او هغه

۳:- استغفار او توبه كښې فرق دا دے چه استغفار په ژبې سره دے او توبه په زړه سره ده، دويم دا چه استغفار، مطلب دا دے چه مخكښې كوم كفر او شرك مو كړيدے نو د هغې نه بخښنه او غواړئ نو توبه دا ده چه الله تعالى ته وراوګرځئ په طاعت او په توحيد سره او د دے ئې دوه فائدے ذكر كړيدى يُمَتِّعْكُم مَتَاعًا حَسَنًا، چه هغه اطمينان د ژوند دے او د هغې تفصيل په سورة نوح ۱۱، ۱۲ آيت كښې دے۔

او دويم وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ، يعنى خاوند د خائسته عمل ته زياته جزا وركول چه هغه جنت دے۔

ذِي فَضْلٍ، د اول فضل نه مراد غوره عقيده او عمل دے او دويم فضل نه مراد د هغې جزا ده يا مضاف پټ دے جزاء فضله۔

وَإِنْ تَوَلَّوْا، د ترغيب نه روستو تخويف ذكر كړي تَوَلَّوْا په اصل كښې تَتَوَلَّوْا دے يوه تا حذف شوے ده۔

يَوْمٍ كَبِيرٍ، ورځ د قيامت مراد ده يا عذاب د دُنيا مراد دے د هر عذاب ورځ لويه وى يا كبير په اصل كښې صفت د عذاب دے مجرور دے د وجې د جوار د يوم نه۔

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ④ اَلَآ اِنَّهُمْ

په هر څيز باندے قدرت والا دے۔ خبردار يقيناً دوى

يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا

رانغاړى سينے خپلے (په دُشمنئ دَ حق سره) دَدے دپاره چه ځان پټ کړى

مِنْهُ ؕ اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ۙ

دَ هغه نه، خبردار کله چه دوى ځان پټوى په جامو خپلو کښ

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ

نو پوهيږى الله تعالىٰ په هغے چه پټوى دوى او په هغے چه ښکاره کوى دوى

اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ⑤

يقيناً الله تعالىٰ پوهيږى دَ سينو په خيرو باندے۔

ف ۴:۔ پدے آيت کښ ويره اخروى ده۔ قَدِيْرٌ، اشاره ده هغه انعامات او عذابونو ته چه مخکښ آيت کښ ذکر شو سره دَ دوباره ژوند نه چه الله تعالىٰ پدے ټولو څيزونو قادر دے۔

ف ۵:۔ دا هم داخل دے په اول دعوىٰ دَ سورت کښ يعنى الله تعالىٰ په هر څه عالم دے دَ هغه نه څه پټ نشته۔ او پدے آيت کښ ذکر دے دَ دشمنئ دَ مشرکانو دَ پيغمبرانو او دَ مؤمنانو سره، معنىٰ دا ده چه دوى دَ پيغمبر او مؤمنانو سره په زړونو کښ پټه دشمنى ساتى او خيال ئے دا دے چه الله تعالىٰ دَ دينه خبر نه دے ليکن الله تعالىٰ فرمائى که دوى په ځان باندے جامے واچوى او په زړونو کښ دشمنى پټه او ساتى نو هم الله تعالىٰ په هغے خبر دے۔

لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ، ضمير دَ مِنْهُ الله تعالىٰ ته راجع دے په زعم دَ دوى سره يا رسول ته راجع دے او پدے آيت کښ منافقان او حسد کوونکى دَ حق پرستو سره هم داخل دى۔

اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ، يعنى سره دَ پټ ساتلو دَ حسد نه په خپلو سينو کښ که په جامو کښ هم ځان پټ کړى نو دَ الله تعالىٰ نه نۀ

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى

او نشته هيڅ ژوندى سر په زمكه كښ مګر په

اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا

الله تعالى باندے روزى د هغې ده او پوهيږى الله تعالى په ځائے د آرام د هغې

وَمُسْتَوْدَعَهَا ؕ كُلٌّ فِي كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٦﴾

او په ځائے د امانت د هغې، دا ټول په كتاب ښكاره كښ دى۔

پټيږى، او دا حال وو د دے مشركانو په وخت د جرګو كولو كښ په خلاف د نبى صلى الله عليه وسلم كښ او عام حالات پكښ داخل دى۔

۶:۔ په دے كښ د اولے دعوے دريم جزء دے يعنى كارساز او ذمه وار د رزق صرف الله تعالى دے۔ تفسير د مُسْتَقَرَّ او مُسْتَوْدَعُ، سورة انعام كښ تير شوے دے۔

كِتَابٍ مُّبِيْنٍ، مراد د دينه لوح محفوظ دے او هغه كتاب د تقدير هم دے دا آيت دليل دے په تقدير مطلق باندے۔

دَآبَّةٍ، په اصل لغت كښ هر هغه څيز ته وئيلے شى چه په زمكه باندے ګرځى او په عرف كښ څارپايانو ته وئيلے شى او خاصكر آس ته وئيلے شى دلته عامه معنىٰ مراد ده چه په هغې كښ انسانان داخل دى۔

عَلَى اللّٰهِ، دا وجوب تفضلى دے ايجابى نه دے يعنى الله تعالى په ځان باندے دا ذمه وارى كيخودلے ده۔

هر كله چه هر څيز ته روزى وركول موقوف دى په علم تفصيلى د هغې باندے د دے وجے نه يعلم مستقرها ومستودعها ئے ذكر كړو۔ او ليكل د هر څيز په تقدير كښ دليل دے د علم د الله تعالى په هر څيز باندے۔

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی آسمانونه

وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ

او زمکه په اندازه دَ شپږو ورځو کښ او وُو

عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ لِيَبْلُوَكُمْ

عرش دَ الله تعالیٰ په اوبو باندے دے دَپاره چه ازمیښت اوکړی ستاسو

أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ

چه کوم یو ستاسو خائسته عمل والا دے ، او که ته اُوائے

إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِن بَعْدِ الْمَوْتِ

یقیناً تاسو به پورته کیدے شئ پس دَ مرګ نه

لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا

خامخا وائی هغه کسان چه کافران دی چه نه ده دا خبره

إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا

مګر دروغ دی ښکاره ۔ او که روستو کړو مونږ

ف:۔ دَ دے آیت په اوله حصه کښ ذکر دَ تصرف او دَ خالقیت دَ الله تعالیٰ دے متعلق دے دَ مخکښ آیت سره چه خالق هم الله تعالیٰ دے لکه چه رازق دے او په دویمه حصه کښ زورنه ده په انکار دَ بعث بعد الموت باندے ، ځکه دا آیت اوله حصه په عظیم قدرت دَ الله تعالیٰ باندے دلالت کوی نو په بعث بعد الموت باندے هم قادر دے نو انکار کوونکي دَ ډیرے زورنے مستحق دی۔

وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ، حدیث دَ بخاری دلالت کوی پدے باندے چه دَ آسمانونو او زمکو نه مخکښ الله تعالیٰ عرش پیدا کړے وو او عرش دَ الله تعالیٰ په اوبو باندے وو بیا ئے روستو آسمانونه

عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَىٰ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ

| |
|---|
| دَ دوی نه عذاب (دَ دُنیا) تر یو مودے لږے پورے |

لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُ ط أَلَا يَوْمَ

| |
|---|
| خامخا دوی وائی چه څه څیز بند کړو عذاب لره، خبردار په کومه ورځ |

يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ

| |
|---|
| چه راشی دوی ته نو وا به نه اړولے شی دَ دوی نه |

او زمکه پیدا کړل - او دَ دے په ظاهر باندے ایمان لرل لازم دی تاویل دَ دے کول چه معنیٰ دا ده چه بادشاهی په ټولو موجوداتو ده او ګانَ زائد دے دا قول دَ بعضے معتزله او متصوفهٔ دے او باطل دے۔

أَحْسَنُ عَمَلًا، دَ فُضَیل بن عیاض نه نقل دے چه احسن عمل هغه دے چه په هغے کښ اخلاص وی یعنی دَ شرک او دَ ریاء نه پاک وی او هغه په طریقه دَ سنت باندے، که په دے دواړو کښ یو جز کم وی نو خائسته عمل ورته نشی ویلے کیدے - او دا رنګ په سورة کهف ۷ آیت او سورة ملک ۲ آیت کښ ذکر دی۔

لِيَبْلُوَكُمْ، مراد دَ ابتلاء نه حقیقت خودل دی یعنی دنیا کښ هر څوک ګمان کوی چه زما عمل خائسته دے لیکن الله تعالیٰ دوی ته به دَ دے حقیقت او ښائی په ورځ دَ قیامت کښ لیکن حقیقت دَ څیزونو په امتحان سره معلومیږی په نزد دَ انسانانو دَ دے وجے نه دیته ابتلاء ویلے شی او مکان دَ ابتلاء دنیا ده دَ دے وجے نه لیبلو متعلق دے په خلق پورے۔

سِحْرٌ مُّبِينٌ، دلته په معنیٰ دَ دروغ او دَ باطل دے لکه چه قاموس لیکلے دی، معنیٰ دَ جادو دلته کښ نه صحیح کیږی ځکه چه هذا اشاره ده قول دَ بعث بعد الموت ته۔

وَحَاقَ بِهِمۡ مَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ﴿۸﴾ ع
اوراګیر به کړی دوی لره هغه شے چه دوی په هغے پورے ټوقے کوی۔

وَلَئِنۡ اَذَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ مِنَّا رَحۡمَةً
او که اوڅکو مونږ یو انسان ته دَ خپل طرف نه څه نعمت

ثُمَّ نَزَعۡنٰهَا مِنۡهُ اِنَّهٗ لَيَـئُوۡسٌ كَفُوۡرٌ ﴿۹﴾
بیا یې راکاږو دَ هغه نه، نو یقیناً دے خامخا ناامیده ناشکره به وی۔

ت ۸ :- دے آیت کښ یله زورنه ده منکرینو ته او ویره ده په عذاب دنیوی سره۔

اُمَّةٍ مَّعۡدُوۡدَةٍ، اُمَّةٍ، په قرآن کښ په ډیرو معانیو سره دے لکه چه په تفسیر دَ سورة بقرة کښ ذکر دی نو دلته په معنیٰ دَ مدّت سره دے۔

مَا يَحۡبِسُهٗ، دا په طریقه دَ استهزاء سره دے۔

مَصۡرُوۡفًا، یعنی الله تعالیٰ عذاب راولی او دَ هیچا طاقت نه رسی چه هغه عذاب بل خوا واړوی۔

مَا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ، مضاف حذف دے یعنی وبال۔
او مَا كَانُوۡا، کښ مَا مصدریه دے روبال استهزائهم
یا مَا په معنیٰ دَ عذاب دے او یستهزءون په معنیٰ دَ یستعجلونك دے یعنی هغه عذاب چه دوی په تلوار سره غوختلو۔

ت ۹ :- دے آیت کښ هم زورنه ده انسان ته په کمزوروالی دَ عقیدے دَ ده په وخت دَ انتقال کښ دَ نعمت نه دَ محنت ته۔

لَيَـئُوۡسٌ كَفُوۡرٌ، اول حالت دَ باطن دے او دویم حال دَ ژبے او دَ ظاهر دے۔

وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ

او که اوڅکو موږ ده ته نعمت پس د تکلیف نه

مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ

چه رسیدلے وی ده ته خامخا وائی دے لاړل ټول تکلیفونه

عَنِّيْ ؕ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ﴿۱۰﴾

زما نه، یقینًا دے خامخا تکبر کوونکے فخر کوونکے وی.

اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ

مګر هغه کسان چه کلک ایمان والا دی او عملونه ئے کړیدی په طریقه د پیغمبر،

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾

دغه کسان دوی د پاره بخښنه ده او اجر لوے دے.

سنا:- دے آیت کښ هم زورنه ده په وخت د انتقال کښ د محنت نه نعمت ته چه انسان په حالت د نعمت کښ تکبر او لوئی کوی. نسبت د ذوق د نعمت الله تعالیٰ ته اشاره ده چه نعمت د الله تعالیٰ خالص په رحم د الله تعالیٰ سره دے او هر کله چه نعمتونه د دنیا فانی دی د دے وجه نه ئے په لفظ د ذوق سره ذکر کړے دے.

لَفَرِحٌ، مراد د دینه فرح د بد او د تکبر کولو ده.

ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ، مطلب دا دے چه تکالیف زما نه لاړل زما په تدبیرونو سره یا زما د معبودانو په زور سره.

فَخُوْرٌ، فخر دا دے چه خپل صفتونه خلقو ته ذکر کوی. او دے ته په پښتو کښ دوزے ویشتل وئیلے شی. او دا فرح او فخر منع کوی ده لره د شکر کولو نه.

سلا:- دے آیت کښ زیرے دے مونکو لره. صَبَرُوْا، نه مراد دا دے چه په حالت د نعمت کښ او په حالت د سختئ کښ ټینګ دے په ایمان باندے صبروا په مقابله د لیئوس کفور کښ او وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ، په مقابله د فرح فخور کښ دے او مَغْفِرَةٌ، متعلق دے

فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ

نو آیا ته پریخودونکے یې بعضې دَ هغې چه وحی کړے شوې ده

إِلَيۡكَ وَضَآئِقٌۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ

تاته (مسئله دَ توحید) او آیا تنګیږی پدے سره سینه ستا دَ دے وجه نه

أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ

چه دوی وائی ولے نشی نازلیدلے پدهٔ بانده

كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ

خزانه یا ولے نه ګرځی دَ دهٔ سره مَلک، یقیناً

أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ

ته یره ورکوونکے یې، او الله تعالیٰ دَ هر څیز

وَكِيلٌ ۝١٢ أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ

ذمه وار دے۔ آیا وائی دوی چه دَ ځان نه یې جوړ کړے دا قرآن

دَ صبر کولو سره په مصیبتونو بانده او وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ، په سبب دَ عمل صالح سره دے۔

۱۲:- پدے آیت کښ دویمه دعوی دَ سورت ده چه هغه تشجیع ده په بیان دَ توحید بانده یعنی که دا مشرکان په تا اعتراضونه کوی نو دَ هغې دَ وجه نه دے ستا زړه تنګ نشی او بیان دَ توحید پرے نږدې۔ فَلَعَلَّكَ، لَعَلَّ، پدے ځائے کښ دَ یارۀ دَ استفهام انکاری دے یعنی اے نبی ته پریخودونکے نه یې۔ فَا تفریع ده په مخلورو حالاتو تیر شوی بانده سحروئیل، استهزاء کول، ناشکری کول، فخر او تکبر کول دا په اکثرو اوقاتو کښ سبب ګرځی دَ یارۀ دَ مداهنت دَ مبلغ نو پدے آیت کښ دَ هغې نه منع او کړله۔ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ، مراد دَ دینه بیان کول دَ توحید دی چه مشرکانو بانده دَ توحید بیان بد لګی۔ وَضَآئِقٌ، دا عطف دَ سبب دے په مسبب بانده یعنی تنګیدل سبب وی دَ یارۀ دَ پریخودلو دَ حق۔ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌ، دا دوه قوتونو ته اشاره ده اول قوت ظاهری دویم قوت باطنی۔

قُلْ فَأْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ

ته اوايه نو راوړئ لس سورتونه پشان د ده

مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ

دځان نه جوړ کړے شوے او راوبلئ هغه چالره چه ستاسو طاقت وی

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٣﴾

سوا د الله تعالى نه كه تاسو رشتینی یئ.

فَاِلَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْا

نو كه دوى قبوله نكړى خبره ستاسو نو پوهه شئ

اَنَّمَآ اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ

چه یقینًا نازل شوے دے دا قرآن په علم د الله تعالى سره او دا ہے خبره چه نشته حقدار د بندګئ

س١٣:- دا زورنه ده منكرينو د قرآن ته او بيان د اعجاز د قرآن دے په طلب د مقابلے سره په لسو سورتونو سره، وئيلے شوى دى چه د مخالفينو په هغه وخت كښ لس لوے قبيلے وے نو د هرے قبيلے نه د يو يو سورت د راوړلو طلب كړے شوے وؤ، يا دا چه ترد ے ځائے پورے د ابتدا د قرآن نه لس سورتونه دى نو په تشبيه كښ دغه سورتونو ته اشاره ده.

سوال:- سورت يونس كښ مقابله په يو سورت سره ذكر كړے ده او په ديكښ په لسو سره او دا سورت د سورة يونس نه روستو نازل شويدے نو په څه وجه دلته ترقى د كم نه زيات ته اوشوه؟

جواب:- مبرد د دے په جواب كښ وئيلى دى چه په سورة يونس كښ مقابله په احكامو او وعد او وعيد او اخبار بالغيب الصادق سره ذكر وه او د هغے د پاره د يو سورت راوړل هم كافى دى او په دے سورت كښ مقابله په صرف فصاحت او بلاغت سره مراد ده نو د دے د پاره ډير سورتونه پكار دى چه تقابل او فرق معلوم شى.

إِلَّا هُوَ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿۱۴﴾

سوا د الله تعالی نه نو آیا تاسو منونکی د حکم یئ (یعنی او منئ)۔

مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا

هغه څوک چه غواړی (په عمل خپل سره) ژوند د دنیا

وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ

او ډول (ښائست) د هغې نو پوره به ورکړو دوی ته بدله د عملونو د دوی

فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿۱۵﴾

په دُنیا کښ او د دوی نه به په هغې کښ څه کمے نشی کیدے۔

سلا:۔ دے آیت کښ بیان د صدق د قرآن دے او بیان د هغې مسئلے دے چه قرآن د هغې مسئلے د پاره نازل شویدے چه هغه لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ، دے۔

لَكُمْ، جمع کښ اشاره ده چه مؤمنان هم په طلب د مقابله کښ د نبی صلی الله علیه وسلم سره شریک دی۔

بِعِلْمِ اللهِ، یعنی مشتمل په علمونو د الله تعالی سره او د الله تعالی د علمونو مقابله مخلوق نشی کولے۔

وَأَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ، دا عطف دے په علم الله باندے یا عطف دے په أَنَّمَا باندے او دواړو معاتو کښ دلیل دے چه موضوع او خلاصه د قرآن توحید دے۔

۱۵:۔ دے آیت کښ زورنه ده هغه چاته چه مقصد ئے دنیا گرځولے وی ځکه چه دا سبب د انکار د قرآن دے او دا آیت هغه چاته هم شامل دے چه په عمل د دین سره اجرت د دنیا طلب کوی۔

مَنْ كَانَ يُرِيدُ، په صیغه د ماضی استمراری کښ اشاره ده چه همیش کیری کوډکے په نیت باندے دے۔

الْحَيَاةَ الدُّنْيَا، یعنی نیک اعمال کوی د پاره د دے چه صحت او عافیت او ریاست ورته حاصل شی۔

أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي

دا هغه كسان دي چه نشته دوی لره په

الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا

آخرت كښ مګر اور، او برباد به شي هغه نيک عملونه چه دوی کړي وي

فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

په دنيا کښ او بې فائدې دي هغه کارونه چه دوی يې کوي.

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن

آيا نو هغه څوک چه وي په ښکاره دليل باندې د طرف د

رَّبِّهِ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ

رب خپل نه او ملګری وي د دۀ سره ګواه د طرف د هغه نه

---

وَزِيْنَتَهَا، مراد د دينه وسعت د رزق دے او ډير والے د اولاد دے لکه په سورة کهف ٤٦ کښ دی.

نُوَفِّ إِلَيْهِمْ، يعني دغه مرادونه به ورته پوره حاصل شي يعني الله تعالیٰ د دۀ محنت د دۀ د نيت موافق نه ضائع کوي.

١٦:- دا ويرۀ اخروی دۀ هغه کسانو ته چه مخکښ آيت کښ ذکر شول.

وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا، ديکښ اشاره دۀ هغې عملونو ته چه کوی يې په نيت د دُنيا سره يعني نيک اعمال.

وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ، دے کښ اشاره دۀ هغې عملونو ته چه هغه په خپله قبيح او ناکاره دی. او مفسرينو وئيلی دی چه دا آيتونو ته مشرکانو او منافقانو او رياکارانو او دنيا پرستو ته شامل دی.

وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا

او مخکښې دَ دهٔ نه کتاب دَ موسٰی دے پیشوا

وَّرَحْمَةً ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ

او رحمت دغه کسان ایمان لری پدے کتاب،

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ

او چاچه کفر اوکړو پدے کتاب دَ مختلفو ډلو نه

فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِىْ

نو اُور ځائے دَ وعدے دَ هغه دے نو مه کیږه ته په

مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۗ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ

شک کښې دَ دهٔ نه یقیناً دا حق دے دَ طرف دَ رب ستا نه

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۷﴾

لیکن ډیر خلق ایمان نه لری۔

۱۷:- پدے آیت کښې دریمه دعوٰی دَ سورت ده چه هغه تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم او تابعدارانو دَ هغه ته۔ او هرکله چه ئے مخکښې حال دَ دنیا پرستو ذکر کړو نو اوس حال دَ دینداړو ذکر کوی په طریقه دَ تقابل سره۔ حاصل ئے دا دے چه اے پیغمبره او تابعدارو دَ هغه ستاسو خبره (یعنی مسئله دَ توحید) په عقلی دلیل سره ثابته ده او قرآن هم دَ هغے په تائید کښې دے چه هغه دلیل وحی دے او کتاب دَ موسٰی هم دَ هغے په تائید کښې دے چه هغه دلیل نقلی دے نو څوک چه دَ دے مسئلے نه انکار کوی نو هغه په ضد او په عناد کښې دے او هغه دَ پاره عذاب دے، دَ هغه دَ انکار دَ وجے نه په حق کښې شک مه کوئ۔
بَيِّنَةٍ، مراد دَ دینه بیان دَ توحید دے په دلیلونو عقلیو سره۔
شَاهِدٌ، دَ دینه مراد قرآن کریم دے چه پوره ګواه دے په اثبات دَ توحید باندے ځکه چه هغه ګواه دے په مسئله دَ توحید باندے۔

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ

او څوک لوے ظالم دے د هغه چانه چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے

كَذِبًا ط اُولٰٓئِكَ يُعْرَضُوْنَ عَلٰی رَبِّهِمْ

دروغ ، دغه کسان پیش به کړے شی رب خپل ته

وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ

او اوبه وائی ګواهی ورکوونکی چه دا هغه خلق دی

كَذَبُوْا عَلٰی رَبِّهِمْ ج اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ

چه دروغ ئے وئیلی وو په رب خپل ، خبردار لعنت د الله تعالیٰ دے

عَلَی الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۸﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ

په ظالمانو خلقو باندے . دا هغه کسان دی چه منع کوی خلق

اِمَامًا ، کتاب د الله تعالیٰ ته امام پدے وجه وئیلے کیږی چه د هغه اقتداء او تابعداری کول لازم دی .

اَفَمَنْ كَانَ آه ، د دے جزاء محذوف ده كَمَنْ يُّرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا وَلَيْسَ لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ الا النار یا جزاء دا ده اَيَبْقٰی لَهٗ مَحَلُ شُبْهَةٍ وَّشَكٍّ .

اُولٰٓئِكَ ، لفظ د جمع کښ اشاره ده چه مَنْ كَانَ عَلٰی بَيِّنَةٍ نبی صلی الله علیه وسلم او ټول صحابه دی او ضمیر د بِهٖ قرآن ته راجع دے .

وَمَنْ يَّكْفُرْ ، دا په مقابله د يُؤْمِنُوْنَ کښ دے .

اَلْاَحْزَابِ ، ډلے د کافرانو چه مخالفت او عناد ئے کولو د انبیاء علیهم السلام سره .

مِنْهُ ، ضمیر راجع دے قرآن یا موعد ته .

۱۸ :- دے آیت کښ ویره د عذاب اخروی ده مشرکینو ته او متعلق دے د لَا يُؤْمِنُوْنَ سره .

اِفْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا ، په نسبت کولو د شریک او ولد الله تعالیٰ ته او په انکار د رسول او قرآن سره .

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا

د لارے د الله تعالیٰ نه او لټوی په هغے کښې کږلیچ

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ (١٩)

او دوی د آخرت نه هم انکار کوونکی دی۔

يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ، عرض خو د ټولو خلقو دے لکه سورة کهف ۴۸ آیت کښې لیکن دلته مراد عرض کښې د شرمنده کولو د پاره۔

الْاَشْهَادُ، د دغه اشهاد ذکر دی په سورة النساء ۴۱، سورة نحل ۸۹، سورة النور ۲۴، سورة یٰس ۶۵، سورة حم سجده ۲۰، سورة ق ۲۱ او سورة البقرة ۱۴۳ کښې۔ نو دا مختلف شهادات دی ځکه ئے جمع ذکر کړل۔

وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ، نو مراد د دینه ملائک او پیغمبران او موحدین د دے امت او اندامونه د بدن دی ځکه ئے جمع ذکر کړیده۔

كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ، یعنی شرک ئے کوؤ او الله تعالیٰ ته ئے نسبت کوؤ د جائز کولو د هغے۔

۱۹، دے آیت کښې درے صفات د ظالمانو ذکر دی۔ يَصُدُّوْنَ، اشاره ده چه دوی متعدی کافر دی۔

سَبِيْلِ اللّٰهِ، توحید او قرآن او سنت دے۔

وَيَبْغُوْنَهَا، ضمیر سبیل ته راجع دے ځکه چه هغه مذکر او مؤنث دواړه ذکر کیږی۔

عِوَجًا، مراد د دینه شکونه اچول دی په زړونو د خلقو کښې په باره د توحید کښې۔ او وَيَبْغُوْنَهَا، کښې اشاره ده چه سَبِيْلِ اللّٰهِ، کښې کوږوالے نشته لیکن ظالمان په ضد سره په هغے کښې کوږوالے جوړوی د دے د پاره چه نور خلق ترینه واړوی او دا سے په سورة اعراف ۴۵ او سورة آل عمران ۹۹ آیت کښې ذکر دی۔

أُولَٰئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ
دغه کسان نه دي دوي چه بچ شي دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه
فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنْ دُونِ
په ټوله زمکه کښې او نه به وي دوي لره سوا دَ
اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ۘ يُضَاعَفُ لَهُمُ
الله تعالیٰ نه څوک دوستان زیاتیږي به شي دَ دوي دَ پاره
الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ
عذاب، ځکه چه نه لرلو دوي طاقت دَ حق اوریدلو
وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُولَٰئِكَ
(یعنې بد پرې لګیدلو) او نه دوي لیدلو حق لره۔ دا
الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ
هغه کسان دي چه تاوان کښې ئې اچولي دي خپل ځانونه او ورک به شي

نمبر۲۰:- دا ویره دَ عذاب اخروی ده منکرینو ته۔
مُعْجِزِينَ، په معنیٰ لازمی سره دے یعنې بچ کیدونکي یا په معنیٰ متعدی سره دے عاجز کوونکي الله تعالیٰ لره دَ عذاب ورکولو ته۔
مِنْ أَوْلِيَاءَ، دَ دوي نه مراد معبودان دي چه دوي شفعاء ګنړل چه په سورة یونس کښې دَ هغوی ذکر تیر شوے دے۔
يُضَاعَفُ؛ مضاعفه دَ دے وجے نه وه چه ډیر قسمونه دَ کفر ئې کړي دي او شرک پکښې په ټولو اقسامو سره جمع دے یا دا چه پخپله ګمراه او دانګ ګمراه کوونکي دي.

عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿٢١﴾ لَا جَرَمَ

ددوی نه هغه چه دوی څه دروغ جوړول۔ خامخا

اَنَّهُمۡ فِي الۡاٰخِرَةِ هُمُ الۡاَخۡسَرُوۡنَ

یقینًا دوی به په آخرت کښ لوئے تاوانیان وی

اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

یقینًا هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه کوی په طریقه د پیغمبر

وَاَخۡبَتُوۡۤا اِلٰى رَبِّهِمۡ ۙ اُولٰٓـئِكَ

او عاجزی کوی رب خپل ته دغه کسان

سا۲۱، سا۲۲ :۔ دا ذکر د سبب د عذاب دے او زورنه ده منکرینو ته او په دویم آیت کښ ویره اخروی ده۔

خَسِرُوۡۤا، خسران په سبب د شرک سره دے ځکه چه شرک سره نور اعمالِ خیر برباد شول،

وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ، مراد د مفتریاتو نه معبودان باطله دی۔ او ضَلَّ، په معنیٰ د غائب والی دے یا مفتریات نه مراد قصے د شرک دی او ضَلَّ په معنیٰ د نسیان سره دے۔

لَا جَرَمَ، فراء وئیلی دی چه دا لفظ د لابد او لامحالة سره دے او په معنیٰ د حقًا سره هم استعمالیږی او زجاج وئیلی دی چه لا د نفی دګمان د خلقو دے او جرم په معنیٰ د کسب سره دے نو معنیٰ دا شوه چه داسے نه ده لکه چه دوی ګمان کوی بلکه کسب کړو د دوی عملونو خسران په آخرت کښ۔ او سیبویه وئیلی دی چه لَا د پاره د نفی د ګمان دے او جرم په معنیٰ د حق سره دے۔

خطیب شربینی وئیلی دی چه د سا۱۸ آیت نه تر دے آیت پورے د لا یؤمنون د پاره سا۱۲ حالات او صفات ذکر کړے شول۔

اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۲۳﴾

جنت والا دي دوی په په هغې کښ هميشه وی.

مَثَلُ الۡفَرِيۡقَيۡنِ كَالۡاَعۡمٰى وَالۡاَصَمِّ

مثال د دے دواړو ډلو پشان د ړوند او کوڼ دے

وَالۡبَصِيۡرِ وَالسَّمِيۡعِ‌ؕ هَلۡ يَسۡتَوِيٰنِ

او د ليدونکی او د اوریدونکی دے آیا برابر دی دا دواړه

مَثَلًا‌ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَلَقَدۡ

په مثال کښ، آیا تو نصیحت نه اخلئ تاسو. او یقینًا

اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰى قَوۡمِهٖۤ اِنِّىۡ لَـكُمۡ

لیږلے وو مونږ نوح علیه السلام قوم د هغه ته (اُو ئیل) یقینًا زه ستاسو دپاره

۲۳۔ نو پدے آیت کښ روستو د تخویف د منکرینو نه دا زیرے اخروی دے د پاره د مومنانو.

وَاَخۡبَتُوۡۤا، د دے یو معنیٰ انابت دے، دویمه معنیٰ اطاعت، دریمه معنیٰ خشوع او عاجزی، څلورمه معنیٰ اخلاص کول دی.

وَاَخۡبَتُوۡۤا، د دے په صله کښ چه الی راشی نو په معنیٰ د خشوع او عاجزی سره دے نو پدے کښ اعمال قلبیه ته اشاره ده او وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ، کښ اعمال د جوارحو ته اشاره ده.

۲۴۔ دا هم په زیری کښ داخل دے، او پدے آیت کښ اعمی او اصم مثال د مشرک دے او بصیر او سمیع مثال د موحد دے او دا رد دے په هغه چا باندے چه د کافر او مؤمن فرق نه کوی. او دے عقیدے ته پدے زمانه کښ سیکولرازم ویلے شی.

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۵﴾ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ

یرہ ورکوونکے یم ښکارہ۔ (ربیان کوم) چہ مۂ کوئ بندگی دَ هیچا سوا دَ اللہ تعالیٰ نہ،

اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْکُمْ عَذَابَ یَوْمٍ اَلِیْمٍ ﴿۲۶﴾

یقینًا زۂ یریږم پہ تاسو دَ عذاب دَ ورځې دردِ ناکې نہ۔

۲۵:۔ خلاصہ:۔ دَ دے آیت نہ دویم باب دے تر ۱۱۱ آیت پورے پہ دے کښ اول درے واقعات او لشپږمہ واقعہ تعلق لری دَ رد دَ شرک فی العبادة سرہ او څلورمہ او پنځمہ واقعہ تعلق لری دَ ردِ شرک فی العلم او فی التصرف سرہ او اومہ واقعہ دَ موسیٰ علیہ السلام تعلق لری دَ دویمے دعوے سرہ او پہ مینځ کښ ئے تخویف او بشارت ذکر دے او آیت ۱۰۹ تعلق لری دَ دریمے دعوے سرہ۔

ربط:۔ ربط دَ دے دَ مخکښ آیت سرہ دا دے چہ دَ فریقینو پہ مثال سرہ ذکر او شو نو اوس پہ قصو دَ انبیاء علیہم السلام سرہ دَ فریقینو دَ عاقبت فرق ذکر کوی۔

تفسیر:۔ دا آیت اول دلیل نقلی دے دَ نوح علیہ السلام نہ دَ پارہ دَ اثبات دَ مسئلے دَ توحید او پہ دے کښ ذکر دَ شجاعت دَ هغہ دے او ذکر دے دَ طریقے دَ دعوت او دارنګ ذکر دَ عذاب دَ قوم دَ هغہ دے دَ پارہ دَ تخویف دنیوی۔ پہ اَرْسَلْنَا کښ معنیٰ دَ قال پټہ دہ۔ او اِنِّیْ دَ هغے مقولہ دہ مُبِیْنٌ کښ اشارہ دہ چہ اللہ تعالیٰ پہ حق بیان تو لو کښ دَ بل چا لحاظ نہ کوی او هیڅ حق نہ پټوی۔

۲۶:۔ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ، دا بدل دے دَ انی نہ یا مفعول دے دَ مبین دَ پارہ او دا دعوت دَ توحید دے۔ اَلِیْمٍ، صفت دَ یَوْمٍ دے، مطلب دا دے چہ دَ عذاب ورځ دردناکہ وی کہ عذاب دنیوی مراد شی او کہ عذاب اخروی، او یا صفت دَ عذاب دے یعنی عذاب دردناک لیکن زیر پہ الیم باندے دَ وجے دَ نزدیکت دَ یوم نہ دے او دیتہ جر للجوار وائی۔

اِنِّیْٓ اَخَافُ، دا دِ خوف پہ وجہ دَ نہ منلو دَ توحید سرہ دے۔

فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ

نو اوئیل غټانو هغه کسان چه کفر ئې کړے وو د

قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا

قوم د هغه نه نهٔ وینو مونږ تا مګر بنده زمونږ پشان

وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ

او نه وینو مونږ تا چه تابعداری کوی ستا مګر هغه کسان چه هغوی

أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ وَمَا نَرَى لَكُمْ

ذلیل دی په مونږ کښ په بې فکرئ سرئ او نه وینو مونږ تاسو له

عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ ﴿٢٧﴾

په مونږ باندے هیڅ غوره والے بلکه ګمان کوو مونږ په تاسو باندے دروغژن۔

٢٧:- الْمَلَأُ، اشرافو ته وئیلے شی که شرافت دنیوی او که اخروی وی دلته شرافت دنیوی د مال او جاه مراد وو۔

سوال:- سورة اعراف ۶۰ کښ ئې الذین کفروا نه وو وئیلے؟

جواب:- اشاره ده چه په سورة اعراف کښ هغه ټول قوم کافر وو او دلته د تکبر په طریقه سره اعتراضونه دی او هغه کار د مالدارو دے ځکه ئې دلته ملاء ذکر کړل نو غټانو د قوم د نوح علیه السلام د طرف نه څلور اعتراضونه ذکر دی۔ اول دا چه ته بشر ئې زمونږ پشان او دویم ستا تابعدار ذلیل خلق دی ځکه چه هغوی فقیران وو۔ او په حدیث د هرقل کښ راغلی دی چه تابعدار د پیغمبرانو اکثر غریبان خلق وی. دریم دا چه ستاسو په مونږ څه غوره والے نشته یعنی په تاکښ صفت د پیغمبرئ نشته او څلورم دا چه ته دروغژن ئې۔ اوّل دوه اعتراضونه صرف په نوح علیه السلام باندے وو ځکه ئې مخاطب مفرد ذکر کړو او روستو دوه اعتراضونه په نوح علیه السلام سره د مؤمنانو وو نو صیغه د جمع ئې ذکر کړے ده۔

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى

اُوئیل هغه نوح اے قومه زما آیا فکر کړیں اے تاسو که یم زهٔ په

بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰنِيْ رَحْمَةً مِّنْ

ښکاره دلیل دَ طرف دَ رب خپل نه او راکړے ئے دے ما ته خاص رحمت (پیغمبری) دَ

عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ؕ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا

طرف خپل نه نو دا پټ پاتے شوے وی په تاسو بانديے، آیا په زور مناوولے شو مونږ دا په

وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَيٰقَوْمِ

او حال دا چه تاسو دهٔ لره بد ګنړئ. او اے قومه زما

لَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ

نه غواړم ستاسو نه په دے بیان کولو هیڅ مال نه دهٔ بدله زما

اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ

مګر دَ الله تعالیٰ سره ده او نه یم زهٔ شړونکے دَ هغه کسانو

بَادِيَ الرَّاْيِ، یعنی دوی په تا بانديے ایمان راوړے دے په اول نظر کښ
او سوچ او فکر ئے ندے کړے که فکر ئے کړے وے نو ستا تابعداری
به ئے نه وے کړے،
اَرَاذِلُنَا، ئے دَ وجے دَ فقیرئ نه اُوئیل دَ وجے دَ نسبت نه نه ووځکه
چه مؤمنان دَ نوح علیه السلام هغه خو دَ هغه ځامن وو او دَ هغوی
بیبیانے وے او دَ هغوی نسب اوچت وو ځکه چه الله تعالیٰ انبیاء په
لوے نسب کښ رالیږی لکه چه په حدیث دَ هرقل کښ دی.
۲۸: بَيِّنَةٍ، نه مراد ښکاره دلیلونه دَ توحید دی او رَحْمَةً، نه مراد
پیغمبری ده، مطلب دا دے چه ما سره ښکاره دلیلونه دی او نبوت دے
زهٔ دروغژن نه یم لیکن زهٔ دا په تاسو بانديے په زور نه شم مناوولی
نو دا جواب دے دَ هغوی دَ ټولو اعتراضونو. فَعُمِّيَتْ، او
اَنُلْزِمُكُمُوْهَا، ضمیرونه ئے مفرد مؤنث ذکر کړل دَ دے وجے نه چه مقصد

اٰمَنُوۡا ؕ اِنَّهُمۡ مُّلٰقُوۡا رَبِّهِمۡ وَلٰكِنِّىۡۤ

چه ایمان ئې راوړی دی، یقینًا دوی به مخامخ کیږی د رب خپل سره او لیکن زه

اَرٰىكُمۡ قَوۡمًا تَجۡهَلُوۡنَ ﴿۲۹﴾ وَيٰقَوۡمِ

وینم تاسو لره داسې قوم چه ناپوهي کوئ - او اې قومه زما

مَنۡ يَّنۡصُرُنِىۡ مِنَ اللّٰهِ اِنۡ طَرَدْتُّهُمۡ ؕ

څوک به بچ کړی ما د عذاب د الله تعالیٰ نه که زه اوشړم دوی لره ،

دَ بَيِّنَةٍ او رَحۡمَةً یو دے یا په تاویل د هر یو سره دی -

۲۹ :- په دې آیت کښ ذکر د اخلاص د نوح علیه السلام دے او په دې کښ ترغیب دے قوم ته او هر کله چه د دنیا اجرتونه اکثر مالونه وی د دے وجه نه -

مَالًا ، ئې ذکر کړو او د الله تعالیٰ بدله په ډیر قسمه ده د دے وجه نه -

اَجۡرِىَ ، سره ئې ذکر کړه ، او بیا جواب د قول د هغوی دے چه هغوی وئیل چه دا غریبان مؤمنان د خپل مجلس نه اوشړه نو مونږ به ستا تابعداری اوکړو نو جواب اوشو چه زه د دوی د شړلو حق نه لرم ځکه چه دوی الله تعالیٰ ته مخامخ کیدونکی دی نو هسې نه چه الله تعالیٰ ته زما شکایت پیش کړی -

تَجۡهَلُوۡنَ ، اشاره ده چه مؤمنان سپک ګنړل د جهل کار دے -

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿۳۰﴾ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ

آیا نو نصیحت نه اخلئ تاسو. او نه وایم زهٔ تاسو ته

عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ

چه زما سره اختیار د خزانو د الله تعالی دے او نه پوهیږم زهٔ

ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّى مَلَكٌ وَلَآ

په غیب باندے او نه وایم زهٔ چه زهٔ ملک (فرښته) یم او نه

أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِىٓ أَعْيُنُكُمْ

وایم په باره د هغے کسانو کښ چه سپک ئے ګڼړی سترګے ستاسو

لَن يُؤْتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيْرًا ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ

چه هیچرے به ورنه کړی الله تعالی دوی ته څه خیر، الله تعالی ښهٔ پوهیږی

بِمَا فِىٓ أَنفُسِهِمْ ۖ إِنِّىٓ إِذًا لَّمِنَ

په هغه څه چه په زړونو د دوی کښ دی، یقیناً زهٔ به په دغه وخت کښ خامخا

ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿۳۱﴾ قَالُوا۟ يَٰنُوحُ قَدْ جَٰدَلْتَنَا

د ظالمانو نه یم. اُوئیل دوی اے نوح جګړه اوکړه تا زمونږ سره

ف۳۰:- دا دویم جواب دے د هغوی د قول یعنی که زهٔ دوی اوشړم نو ما به د الله تعالی د عذاب نه څوک بچ کړی.
أَفَلَا تَذَكَّرُونَ، اشاره ده قدرتِ عظیمه د الله تعالی ته چه د هغے په هیڅ طریقے سره مقابله نشی کیدے.

ف۳۱:- په دے آیت کښ جوابونه دی د څلورو اعتراضونو د منکرینو چه تفصیل د هغے په سورۃ انعام ف۵۰ آیت کښ تیر شوے دے. معلومه شوه چه د ټولو نه اول رسول (نوح علیه السلام) باندے کوم اعتراضونه کړے شوی دی نو دغه په آخری رسول (محمد صلی الله علیه وسلم) باندے هم شوی دی نو دا صفات سلبیه د ټولو پیغمبرانو دی.

فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا

نو زیاته دې کړه جګړه زمونږ نو راوړه مونږ ته هغه شے چه یروے ته مونږ

اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ اِنَّمَا

په هغې که یې ته د رښتینو نه - اوئیل نوح علیه السلام یقینًا

يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَآءَ وَمَآ اَنْتُمْ

راولی به تاسو ته دا عذاب الله تعالی که چرې اوغواړی او نه یئ تاسو

بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ

بیچ کیدونکی د هغه نه - او نه درکوی فائده تاسو ته نصیحت زما

---

بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ، اشاره ده چه دوی په هغه مؤمنانو باندے د منافقت ګمان کوو لکه چه بَادِيَ الرَّاْيِ، کښ دیته اشاره ده.

خَيْرًا، مراد د دینه جنت او ثواب دے.

لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ، دا رنګ ذکر په سورة انعام ۴۷ آیت کښ تیر شویدے.

۳۲:- دا طعن دے د منکرینو د طرف نه په نوح علیه السلام باندے چه د هغه د نصیحت خبرو کولو ته دوی جګړه اوئیل یعنی ته جګړه مارئې لکه اوس چه په حق پرستو دا طعن لګولے کیږی چه دوی شریان او جګړه ماردی یا مراد د جدال نه اثبات د توحید او رسالت دے په دلیلونو سره او جوابونه د شبهاتو دی او شربینی په سراج المنیر کښ وئیلی دی چه دا طریقه د انبیاء علیهم السلام ده او تقلید او جهل کسب د کافرانو دے. او مَا تَعِدُنَا، ذکر د هغه وعدے په ۲۶ آیت کښ تیر شوے دے.

۳۳:- دا جواب د قول د هغوی دے چه مخکښ آیت کښ تیر شو.

فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا، حاصل د جواب دا دے چه عذاب راوستل په اختیار د الله تعالی کښ دی.

إِنْ أَرَدْتُّ أَنْ أَنْصَحَ لَكُمْ إِنْ كَانَ

كه زهٔ اوغواړم چه نصيحت كوم تاسو ته خو كه

اللّٰهُ يُرِيْدُ أَنْ يُّغْوِيَكُمْ ؕ هُوَ

الله تعالىٰ غواړي چه بے لارے كړي تاسو ، هغه الله تعالىٰ

رَبُّكُمْ قف وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٤﴾ أَمْ

ستاسو رب دے او خاص هغه ته به اوګرځولے شئ تاسو ۔ آيا

يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهٗ

دوی وائی چه دے ځان نه یئے جوړه کړیده دا خبره ، ته اوایه که ما د ځان نه جوړه کړیوی

فَعَلَيَّ إِجْرَامِيْ وَأَنَا بَرِيْٓءٌ

نو زما په ذمه دے جرم كول زما او زهٔ خلاص (جدا) يم

مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ﴿٣٥﴾ ع وَأُوْحِيَ إِلٰى نُوْحٍ ٣ع١١/٣

د هغے جرمونو نه چه تاسو یئے کوئ ۔ او وحی اوکړے شوه نوح ته

٣٤:- مطلب د دے آيت دا دے لکه څنګه چه عذاب د الله تعالىٰ په اختيار کښ دے نو دارنګے ګمراه کول او هدايت هم د الله تعالىٰ په اختيار کښ دے او هغه سبب د عذاب دے د آيت نه معلومه شوه چه انسان يو کار کوی ليکن نفع د هغے په اختيار د الله تعالىٰ کښ وی، دا رنګ هيڅ انسان دِ الله تعالىٰ د ارادے خلاف کار نشی کولے او جزاء د شرط محذوف ده اصل عبارت دا دے ـ إِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ أَنْ يُّغْوِيَكُمْ فَإِنْ أَرَدْتُّ أَنْ أَنْصَحَ لَكُمْ فَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْ ـ

٣٥:- دے آيت کښ دوه توجيه دی. اوّل توجيه دا ده چه دا هم مکالمه د نوح عليه السلام ده د قوم خپل سره په صيغه د غائب سره.

دويمه توجيه دا ده چه دا مکالمه زمونږ د نبی عليه السلام ده د خپل قوم سره نو دا په طريقه د جمله معترضه سره ده.

إِجْرَامِيْ ، کسب کول د ګناه بنکاره ته اجرام وئيلے شی او مضاف حذف دے

أَنَّهُ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا

چه یقیناً هیچرے ایمان نه راوړی دَ قوم ستا نه مګر

مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا

هغه څوک چه ایمان ئے راوړے دے نو مه خفه کیږه په هغه کارونو

كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَاصْنَعِ الْفُلْكَ

چه دوی ئے کوی. او جوړوه کشتئ

بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِيْ

په سترګو زمونږ او په وحی زمونږ او مه کوه سفارش ما ته

فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٣٧﴾

په باره دَ هغے کسانو کښ چه ظلم ئے کړیدے، یقیناً دوی به غرقولے شی.

یعنی اِثْمُ اِجْرَامِیْ. ګناه دَ جرم زما. او په یکښ دویم تقدیر دَ عبارت دا دے یعنی اَنْتُمْ بَرِیْئُوْنَ عَنْ اِجْرَامِیْ.

٣٦: دَ تفصیل دَ دعوت دَ نوح علیه السلام نه روستو تفصیل دَ عذاب ذکر کوی او دا آیت دلیل دے په دے خبره چه نوح علیه السلام خپل قوم ته چه خیرے کړے وے نو روستو دَ دے وحی نه ئے کړے وے چه په دے وحی سره هغه دَ ایمان دَ خپل قوم نه نا امیده شو.

لَنْ يُّؤْمِنَ، دا اخبار دَ الله تعالیٰ رشتینی دے په شان دَ سورة بقرة ٦ آیت.

٣٧: دَ دے نه مخکښ دا مراد دے چه دَ دوی مخالفت ډیر سخت شو نو نوح علیه السلام هغه دُعا اوکړه کوم چه سورة نوح کښ ذکر ده او هغه دُعا قبوله شوه نو ورته اُوئیلے شو.

وَاصْنَعِ الْفُلْكَ، په دے آیت کښ تدبیر خودل دی نوح علیه السلام ته دَ باره دَ نجات.

بِاَعْيُنِنَا، دا لفظ دَ متشابهاتو نه دے یعنی معنیٰ ئے ښکاره سترګے دی او کیفیت دَ هغے متشابه دے او تشبیه دَ مخلوق سره نشته او تاویل

وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ قف وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ

او جوړوله کشتۍ او هر کله چه ورتیریدله به په هغه باندې

مَلَأٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ط

دَ غټانو ډله دَ قوم دَ هغه نه نو ټوقې به يې کولې په هغه پورې،

قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ

نو هغه به وئيل که تاسو ټوقې کوئ په مونږ پورې نو مونږ به هم ټوقې اوکړو

مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ ط ﴿۳۸﴾ فَسَوْفَ

په تاسو پورې لکه چه تاسو په مونږ پورې ټوقې کوئ۔ نو زر ده

تَعْلَمُوْنَ لا مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ

چه پوهه به شئ تاسو چه په چا باندې به راشي عذاب چه شرمنده به يې کړي

ئې په حفاظت سره خلاف دَ مسلک دَ سلفو صالحينو نه دے.
او وَحْيِنَا، په معنیٰ دَ امر او طريقه دَ جوړولو دَ کشتۍ دے
وَلَا تُخَاطِبْنِيْ، مراد دَ دينه منع کول دی دَ سفارش نه په باره دَ
مشرکينو کښې۔
مُغْرَقُوْنَ، يعنې حکم کړے شوے دے په اغراق دَ هغوی باندے.
۳۸:۔ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ، پټ دے لفظ کښې كَانَ دَ استمرار او دَ هميشوالی
دَ معنیٰ دَ پاره پټ دے يعنی كَانَ يَصْنَعُ۔ آيت کښې اشاره ده چه
بے عقله خلق انبياء عليهم السلام او حق پرستو پورے مسخرے
کوی او دَ هغوی دَ کار په رازونو نه پوهيږی او دوی داسے مسخرے کولے
چه اوبه او درياب نشته او نوح عليه السلام کشتۍ جوړوی نو داخو
دَ ليونو کار دے. او اشاره ده چه په مشرکانو پورے په وخت دَ عذاب
او هلاکت دَ هغوی کښې مسخرے کول پکار دی۔ او دا رنګ په آخر
دَ سورة تطفيف ۳۴ کښې ذکر دے۔

وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿۳۹﴾

او راپه شي په هغه باندې عذاب همیشه.

حَتّٰىٓ إِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ

تر دې پورې چه کله راغې حکم زموږ (په عذاب سره) او را اوخوټکیدلو تنور

قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ

اُوئیل موږ سواره کړه په کشتۍ کښې د هر څیز نه جوړې (یعنی دوه څیزونه)

اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ

او کورنۍ خپله غیر د هغه چا نه چه مخکښې شوې په هغه باندې

الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ ۚ وَمَآ آمَنَ مَعَهُ

فیصله د عذاب او هغه څوک چه ایمان ئې راوړې دې، او ایمان نه وو راوړې په هغه باندې

إِلَّا قَلِيلٌ ﴿۴۰﴾ وَقَالَ ارْكَبُوا فِيهَا

مګر لږ وکسان. او فرمائیل الله تعالٰی سواره شئ په کشتۍ کښې

۳۹:- اول عذاب نه مراد دنیوی عذاب دے او دویم نه عذاب اخروی مراد دے، یا دا دواړه صفتونه د عذاب دنیوی دی.

مَن يَأْتِيهِ، او اتیان نه مراد شروع کیدل دی او د وَيَحِلُّ نه مراد پوره احاطه کول دی.

۴۰:- حَتّٰىٓ، ابتدائیه دے. التَّنُّورُ، د دے نه مراد عام تنور دے یا خاص تنور د کور د نوح علیه السلام دے یا مراد د دے نه مخ د زمکے دے یعنی چه په تنور یا په مخ د زمکه باندے اوبه را اوخټې او جوش اُوهې او بعضے علماء وائی چه دا کنایه ده غضب الٰهی نه. لیکن دا قول ضعیف دے.

إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ، دیکښې اشاره ده یو ځوے د نوح علیه السلام او ښځې د هغه ته او سبقیت نه مراد سبقیت په تقدیر کښې دے یا په ۳۷ آیت کښې دے.

بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ط

په امداد د نوم د الله تعالی روانیدل د هغې او ودریدل د هغې دي،

اِنَّ رَبِّیْ لَغَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۴۱﴾ وَهِیَ

یقینًا رب زما بخښونکے رحم کوونکے دے۔ او دا کشتۍ

تَجْرِیْ بِهِمْ فِیْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ قف

روانه وه په دوی باندے په اسے چپو کښ چه د غرونو پشان وے

وَنَادٰی نُوْحُ ٱبْنَهٗ وَكَانَ فِیْ

او آواز اوکړو نوح علیه السلام خپل ځوئ ته او هغه وؤ د کشتۍ نه په

مَعْزِلٍ یّٰبُنَیَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا

په ډډه چه اے ځویه سور شه زمونږ سره او مه

زَوْجَیْنِ، هغه دوه ځیزونه چه یو بل ته محتاج وی او جوړه وی هغوی ته زوجان وئیلے کیږی۔

اِلَّا قَلِیْلٌ، په یکښ ډیر اقوال دی ادنیٰ د هغې شپږ کسان دی بغیر د نوح علیه السلام نه درے ځامن او درے انګورانے د هغه او اعلی عدد اتیا کسان دی۔

سوال :- دا امر د الله تعالی د طرف نه نوح علیه السلام ته دے یا نوح علیه السلام د طرف نه قوم ته دے او په دے آیت کښ ذکر د سوریدلو د وخت دے او د هغې ادب شرعی ذکر کوی۔

بِسْمِ اللّٰهِ، متعلق دے په اِرْكَبُوْا پورے یا په اِسْتَعِیْنُوْا مقدر پورے یا په مَجْرٖهَا، پورے۔

تَكُن مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۲﴾ قَالَ سَاٰوِيْٓ

کيږه د کافرانو ملګرے. اُوئيل هغه پناه به اونيسم

اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ؕ قَالَ

غرته چه بچ به کړی ما لره د دے اوبو نه ، اوئيل نوح

لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا

نشته بچ کوونکے نن د عذاب د الله تعالٰى نه مګر

مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ

هغه ذات چه رحم کوی (يعنی الله تعالٰى) او راغله د دوی په مينځ کښ چپه

فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ﴿۴۳﴾ وَقِيْلَ يٰاَرْضُ

نو شو دے د غرق شوو نه. او اُوئيلے شو اے زمکے

۴۲:- وَهِيَ تَجْرِيْ مَدَيِنه کښ تقدير د عبارت دا دے چه دوی سواره شول په کشتۍ کښ په بِسْمِ اللهِ سره نو کيشتۍ روانه شوه.
وَنَادٰى نُوحُ ابْنَهٗ . په دے کښ اوله توجيه داده چه نوح عليه السلام ته د خوے په کفر باندے علم نه وو هغه ورسره منافقت کوونکه دا آواز ئے ورکړو. او فِيْ مَعْزِلٍ ، نه مراد دا دے چه د کيشتۍ نه په ډډه وو.
دويمه توجيه داده چه عالم وو د هغه په کفر باندے ليکن دعوت ئے ورکړو د بچ کيدلو د کفر نه. او اِرْكَبْ . معنیٰ داده چه ايمان راوړه نو سور شه کيشتۍ کښ لکه چه اوئيلے شی مونځ اوکړه يعنی پس د اودس کولو نه مونځ اوکړه. او معزل نه مراد دا دے چه د هغه د دين نه په ډډه وو. اوله توجيه غوره ده.
۴۳:- لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللهِ ، الاٰية ، په دے کښ درے توجيهات دی.
اوله توجيه داده چه د مَنْ رَّحِمَ ، نه مراد رحيم دے او هغه الله تعالٰى دے.

ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ

(رواپس) تیرے کړه اوبه او اے آسمانه بند ے کړه اوبه

وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَ

او کمے شوے اوبه او فیصله وکړے شوه د معاملے د دوی او

اسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ

برابر اودریدله کشتئ په جودی غر باندے او اوئیلے شو

بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَنَادٰى

تباهي ده قوم ظالمانو لره - او په عاجزئ آواز اوکړو

نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ

نوح علیه السلام خپل رب ته اُوئیل ئے اے ربه زما یقیناً ځوے زما

مِنْ اَهْلِيْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ

د کورنئ زمانه دے او یقیناً ستا وعده حقه ده

دویمه دا چه عاصم په معنیٰ د معصوم دے لکه دافق په معنیٰ د مدفوق.
دریمه توجیه دا ده چه د الا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لکن او دا قول چه سَاٰوِیْ اِلٰی جَبَلٍ، کلمه د کفر نه ده بلکه دا ذکر د سبب ظاهری دے د دے وجے نه د نوح علیه السلام د هغه په کفر باندے یقین رانغے.

سلا :- وَغِيْضَ الْمَآءُ، کمے شوے ډیرے وجے سره چه اوبه د زمکے اوچے شوے صرف د آسمان اوبه پاتے شوے هغه هم زمکے راخکلے.
الْجُوْدِيِّ، دا یو غر دے په کوهستان اراراط کښ د موصل ښار سره نیزدے او دا په ورځ د عاشوراء نجات حاصل شو.
وَقِيْلَ، دا آواز د هر طرف نه اوشو او د ملائکو د جانب نه په عموم سره اوشو ځکه قیل اُوئیلے شو د عموم د پاره.

وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ

او ته ښه فیصله کوونکے یې د ټولو فیصله کوونکو نه ـ او فرمائیل الله تعالیٰ

یٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ اِنَّهٗ

اے نوح علیه السلام یقیناً دے نه دے د کورنۍ ستا نه یقیناً د ده

عَمَلٌ غَيْرُ صٰلِحٍ فَلَا تَسْئَلْنِ

عمل (کار) نه دے نیک نو دعا مه غواړه زما د هغه باره کښ

مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ اِنِّیْۤ اَعِظُكَ

چه نشته تا لره د هغه (د ایمان) په باره کښ یقین (علم) زۀ نصیحت کوم (منع کوم) تا لره

اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٤٦﴾

چه لشے ته د ناپوهانو د ډلے نه ـ

ف٤٥ :ـ وَنَادٰى نُوْحٌ رَّبَّهٗ ، نداء، په معنیٰ د دُعا د عاجزۍ دے لکه په سورة مریم ٣ آیت کښ.

اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ ، اشاره ده چه تا ما سره وعده کړے ده د نجات د اهل په ٤٠ آیت کښ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ . اشاره ده چه په یکښ په الله تعالیٰ باندے اعتراض کول نشته صحیح دا ده چه نوح علیه السلام د ځوے په کفر باندے یقین نه لرلو گمان ئے دا وو چه دے مؤمن دے په طریقه د منافقت عملی سره او د هغه د بعضِ عملونو توجیه به ئے احسن تاویل سره کوله په خپل اجتهاد سره ځکه دا دعا ئے اوکړله.

ف٤٦ :ـ دے آیت کښ دلیل دے چه صرف نسب فائده نه ورکوی هر کله چه عقیده او عمل مخالف وی د شرعے نه.

اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ، د ابن عباس او مجاهد وغیره نه روایت دے چه هغه ځوے ئے حقیقی وو د نوح علیه السلام په دلیل د دے قول سره چه یا بنی او ان ابنی او د مجاز هیڅ وجه نشته او مراد د اَهْلِكَ ، نه هغه اهل دے چه وعده د نجات ئے شوې ده یا مراد

قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْئَلَكَ

اُوئیل دہ اے ربه زما یقیناً زۀ پناه غواړم په تا سره چه دُعا وغواړم ستا نه

مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ ۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ

د هغه څۀ په باره کښ چه نشته ما لره د هغه (په ایمان باندے هیڅ یقین، او که ونکړے ته بخنه

لِى وَتَرْحَمْنِىٓ أَكُن مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾

ما ته او رحم ونکړے په ما باندے نو زۀ به شم د تاوان کوونکو نه ـ

دا چه نسبت د ده تا ته لائق نه دے ځکه چه إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍ، او چا چه د مجاهد او حسن نه نقل کړیدی چه دے ولد الزناء وو نو پدے قول کښ د انبیاء علیهم السلام توهین دے او د دے قول صحیح سند هم نشته او پدے باندے ابن کثیر او امام رازی او سراج المنیر سخت رد کړے دے او پدے آیت کښ بیان د آدب د سوال او دعا دے د پاره د دے چه د جاهلانو د طریقے نه بچاؤ راشي.

إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍ، مضاف حذف دے یعني ذو عملٍ غیرُ صالحٍ او انه ضمیر دعا د نوح علیه السلام ته راجع کول غلط قول دے.

فَلَا تَسْـَٔلْنِ، دا آدب د دُعا دے په راتلونکی وخت کښ.

مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ، مراد دا دے چه د چا په ایمان کښ چه ستا شک وی نو د هغوی د نجات په باره کښ سوال مه کوه.

إِنِّىٓ أَعِظُكَ، دلته وعظ نه مراد بچ کول دی په راتلونکے زمانه کښ زورنه ورکول مراد نه دہ. بعضے اهل تفسیر (لکه کشاف او تفهیم القرآن) چه د دے آیت په تشریح کښ لیکلی دی چه نوح علیه السلام د جهل کار کړے وو نو دا قول د نبی بے ادبی او گستاخی ده الله تعالی دے مونږ د داسے عمل نه بچ او ساتی.

سوال :- پدے آیت کښ پدے قول کښ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِى وَتَرْحَمْنِىٓ، عبدیت او عجز د پیغمبر دے دا دلیل د هغه په گناه کولو کښ نشي کیدے او دا دعا په شان د دعا د آدم علیه السلام ده چه صرف

قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا

وُویلې شو اے نوحه کوز شه سره دَ سلامتیا نه زموږ نه او دَ برکتونو

وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اُمَمٍ

او برکتونه زمونږ دَطرفنه په تا باندې او په بعضے امتونو باندے

مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ

چه پیدا کیږی به دَ هغه چانه چه ستا سره دی، او نور ډیر امتونه به وی چه مزے دَ دنیا به [illegible]

ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۸﴾

بیا به پیوست شي په دوی پورے زمونږ دَطرفنه عذاب دردناک.

عبدیت دے په ګناه باندے دلیل نه دے او دا ے خطیب شربینی لیکلی دی۔

۴۸: پدے آیت کښ اول بشارت دے نوح علیه السلام ته په سلامتیا او برکاتو سره، سلامتیا دَ عذاب او مصیبتونو نه او برکات دنیویه نباتات او وسعت دَ رزق ته اشاره ده او برکات اخرویه نشر او اشاعت دَ دین ته اشاره ده.

دویم بشارت دا دے چه دَ هغه په اولاد کښ به هم نیکان خلق پیدا کیږی.

دریم بشارت دا دے اشاره ده چه دنیا کښ به دَ نوح علیه السلام اولاد او نسل وی۔

څلورم دلیل دے چه پیغمبر په سلامتیا او برکاتو کښ الله تعالی ته محتاج دے.

پنځم اشاره ده دوه فریقو دَ انسانانو ته، او سلام او برکات ټولو مؤمنانو ته شامل دے او متاع او عذاب ټولو کافرانو ته شامل دے.

تِلْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ

داچه (بیان شول) بعضې د خبرونو د غیب نه دي چه وحی کوؤ مونږ د هغې

اِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَ لَا

ته او نه
تا ته نه وې پوهه په هغې باندې

قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ۛ فَاصْبِرْ ۛ

نو صبر کوه
قوم ستا (مخکښې) د دې نه ،

اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٩﴾ع وَاِلٰى عَادٍ ٤ ع ٤

یقینًا ښهٔ انجام د پاره د متقیانو دې . (او لیږلې وؤ مونږ) عادیانو ته

اَخَاهُمْ هُوْدًا ۛ قَالَ يٰقَوْمِ

ورور د هغوی هود علیه السلام ، اُوئیل ده اې زما قومه

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ

بندګی کوئ خاص د الله تعالٰی نشته تاسو لره هیڅ حاجت پوره کوؤنکی

س۴۹ :- په دې آیت کښې دلیل د صدق د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دې او تسلي ده هغه ته .

تِلْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الْغَيْبِ ، هغه خبرونه چه غائب وؤ د علم د نبی صلی الله علیه وسلم او د مخاطبینو مشرکانو نه او دا روستو جمله مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ ، د دې تفسیر دې .

وَ لَا قَوْمُكَ ، کښې اشاره ده چه یهودو او نصاراٰی ته خو دا قصّه معلوم وه او هغوی پښتوله لیکن امیین عرب د دینه ناخبره وؤ .

اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ، یعنی نوح علیه السلام او د هغه مؤمنان د تقوٰی په وجې سره د عذاب نه بچ شول او کامیاب شول نو راتلونکو خلقو د پاره هم دا سې حکم دې .

غَيْرُهٗ ۗ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾

بیوا دَ هغه نه، نه یئ تاسو مګر دروغ جوړوئ.

يٰقَوْمِ لَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۗ

اے زما قومه زۀ نه غواړم ستاسو نه په دے بانده هیڅ بدله.

اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَى الَّذِیْ

نه ده بدله زما مګر په هغه ذات بانده دے ده

فَطَرَنِیْ ۗ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَيٰقَوْمِ

چه زۀ یئ پیدا کړے یم، نو دَ عقل نه ولے کار نه اخلئ. او اے زما قومه

۵۰ :- دا دویم دلیل نقلی دے په اثبات دَ توحید بانده دَ هود علیه السلام نه او ذکر دَ شجاعت دَ هغه دے په بیان دَ مسئله کښ او ذکر دَ عذاب دَ قوم دَ هغه دے دَ پاره تخویف دنیوی.

اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ، هر مشرک په الله تعالی بانده افتراء کوونکے دے او دا رنګ دَ شرک دَ اثبات دَ پاره دروغ قصے جوړوی دَ آیت ۵۰ نه په اول درے آیاتونو کښ طریقه دَ دعوت ده بیا دوه آیتونو کښ مخالفت دَ قوم دَ هغه ذکر دے بیا څلور آیتونو کښ شجاعت دَ هغه او تخویف ذکر دے او په آخری درے آیتونو کښ نجات دَ مؤمنانو او بیا ذکر دَ اسبابو دَ عذاب او په آخر کښ عذاب دنیوی او اخروی بیان شو.

۵۱ :- دا بیان دَ اخلاص دے دَ پاره دَ ترغیب ځکه چه طمع دار دَ دنیا مسئله دَ حق پوره او په اخلاص سره نشی رسولے. او فَطَرَنِیْ ، پوره دلیل دے په اخلاص کولو بانده.

اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ

توبه او باسئ هغه ته
بخښنه غواړئ د رب خپل نه بیا

يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا

پہ تاسو باندے ډیر دَضرورت برابر
رالیږی به باران

وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا

او زیاتی به کړی تاسو لره طاقت دَ طاقت ستاسو سره او

تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا يٰهُوْدُ

مخ مه ګرځوئ جرم کوونکی. اُوئیل دوی اے هود علیه السلام

مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ

تا نه دے راوړے مونږ ته څه ښکاره دلیل او نه یو مونږ

۵۲:- پہ دے آیت کښ دعوت دے توحید ته په استغفار او توبه سره او ترغیب دے په ذکر دَ دوه نعمتونو دنیویه سره فرق دَ استغفار او دَ توبے دَ دے سورت دَ آیت ۳ په تشریح کښ بیان شوے دے. او پہ دے آیت کښ دَ استغفار او توبے دوه دنیوی فائدے ذکر کړیدی او دا رنګ سورة نوح ۱۱، ۱۲ کښ هم ذکر دی.

يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا، دا خلق زمیندار وو باراونو ته ئے ضرورت ډیر وو او دا رنګ په یو قول کښ راغلی دی چه دَ دوی نه درے کاله باران بند شوے وو.

وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ، قوت دَ اولاد او دَ مال مراد دے ځکه چه یو روایت کښ راغلے دی چه درے کاله دَ دوی زنانه شنړے شوے وے.

مُجْرِمِيْنَ، یعنی زما دَ دعوت نه مخ ګرځول مستلزم دی مجرم کیدلو لره.

بِتَارِكِيٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا

پریخودونکی خپل مددګاران (معبودان) ستا د وینا د وجې نه او نه یو

نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنْ نَّقُوْلُ

مونږ ستا په خبره باور کوونکی. مونږ نه وایو

اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْٓءٍ ؕ

مګر دا خبره چه رسولے دے تا ته بعضے مددګارانو زمونږ تکلیف (مرض د ماغو)

قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا

اُوئیل ده یقینًا زهٔ ګواه کوم الله تعالٰی لره او تاسو هم ګواهان شئ

اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾

چه یقینًا زهٔ بیزاره (جدا یم) د هغه چا نه چه تاسو یې شریکوئ.

۵۳:- دے آیت کښ ذکر د عناد د هغه قوم دے په درے طریقو سره. اول دا چه سره د وجود د بَيِّنَة، نه هغوی انکار کوؤ په عناد سره ځکه چه هر نبی له الله تعالٰی بینات ورکړیدی او دویمه طریقه دا چه په شرک باندے یې اصرار کوؤ په دے قول سره وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِيٓ اٰلِهَتِنَا.

عَنْ قَوْلِكَ، کښ هم دوی اشاره کړیده چه ستا سو په وینا باندے هیڅ دلیل نشته. دریمه طریقه دا چه وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ، پدے یې نفی د ایمان په راتلونکی زمانه کښ اوکړه د پاره د ردکولو د طمع د هود علیه السلام د ایمان د دوی نه.

۵۴:- دا هم بیان د عناد او د جهل د هغوی دے او وجه ده د ایمان نه راوړلو یعنی ستا دماغ خراب شوی دی او دا د شرک کلمه ده چه نسبت د ضرر ورکولو غیر الله ته کوی دا عقیده یې لرله، او دا طریقه د جاهلانو اوس هم شته چه موحد ته وائی چه تا ته زمونږ اولیاء (معبودانو) تکره رسولے ده او ستا دماغ یې خراب کړیدی.

قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ، دا بیان د شجاعت د هود علیه السلام دے او

مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ

سوا د الله تعالیٰ نه    نو چل جوړ کړئ ماته ټول (په یو ځاے)    بیا

لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ

ماله مهلت مه راکوئ. یقیناً ما ځان سپارلے دے په الله تعالیٰ باندے

رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ؕ مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ

چه رب زما او رب ستاسو دے، نشته هیڅ ژوندے سر مګر هغه (الله تعالیٰ)

اٰخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى صِرَاطٍ

نیوونکے دے تیکلی (وربخته د تندی) د هغې لره یقیناً رب زما په    برابر

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۶﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ

لار باندے دے. نو که تاسو مخ وګرځوئ (نو په ما باندے ګناه نشته) حُکم چه رسولے دی ماتاسو ته

استقامت دے په توحید باندے.
وَاشْهَدُوْا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ ، براءت عام دے عبادت ته کول او د هغوی (معبودانو) د طرف نه د ضرر نه رسیدلو عقیده ساتل.

۵۵ :- په یکښ هم بیان د شجاعت او د استقامت د هغه دے.
مِنْ دُوْنِهٖ ، ئے جدا راوړیدے د پاره د تاکید یعنی شریکان خو الله تعالیٰ لره نشی کیدے سره د دے نه چه الله تعالیٰ ته کوز او عاجز دی نو څه رنګ به شریکان شی.
فَكِيْدُوْنِيْ ، دا پشان د قول د نوح علیه السلام دے چه په سورت یونس ۷۱ آیت کښ دے دلالت کوی په عدم خوف د هغه د غیر الله نه.

۵۶ :- دا دلیل د ماقبل دے یعنی توکل په الله تعالیٰ باندے مستلزم دے د پاره د براءت د هر شرک نه. او دویمه جمله علت دے د پاره د توکل کولو په الله تعالیٰ باندے او د دے مقصد دا دے چه هر څه د الله تعالیٰ په قبضه قدرت او تصرف کښ دی نو د الله تعالیٰ د اراده نه په غیر هغوی هیڅ ضرر نشی در رسولے.

ثُمَّ أُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَيَسْتَخْلِفُ

هغه پیغامونه چه زهٔ را لیږلے شوے یم په هغے بانده تاسو ته، او روستو به راولی

رَبِّيْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ

رب زما بل قوم ستاسو نه سِوا او ضرر نهٔ شئ ورکولے هغه ته

شَيْـًٔا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

هیڅ ، یقینًا رب زما په هر څیز بانده

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا

ساتنه کوونکے دے. او هر کله چه راغے حکم دَ عذاب زمونږ بچ کړو موږ

بِنَاصِيَتِهَا، ناصیه هغه ویښته دی چه دَ سر په مخکنئ حصّه بانده وی او دَ عرب په محاوره کښ ناصیه نیول کنایه ده قبض کولو او دَ ذلیل کولو نه. دَ دریم جملے یو مطلب دا دے چه الله تعالیٰ قائم دے په عدل او انصاف او مراد دَ صراط مستقیم نه عدل دے دَ دے وجے نه الله تعالیٰ مؤحدینو لره دَ کینونو دَ مشرکانو نه محفوظ ساتی دویم مطلب دا دے چه الله تعالیٰ هدایت کوی نیغے لارے ته (دَ توحید لار) علیٰ، په معنیٰ دَ الیٰ. دے دَ دے وجے نه هغه مؤحد لره دَ ذلت نه بچ ساتی.

۵۷: پدے آیت کښ بیان دَ دفع دَ عذر دَ قوم دے چه دا اونه وائی چه مونږ دَ حق نه خبر نه یو او دَ فَاِنْ تَوَلَّوْا، جزاء پټه ده یعنی زهٔ ملامت نه یم ځکه چه ما په تاسو بانده حجت قائم کړے دے.
فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ، علت دَ جزاء دے.
وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ، دا معطوف دے په پټ لفظ بانده یعنی فیهلککم (الله تعالیٰ به تاسو هلاک کړی) او دا تخویف دنیوی دے.
حَفِيْظٌ، یعنی ستاسو دَ هر عمل که لوے وی او که وړوکے وی حفاظت کوونکے دے په علم او قدرت خپل سره.

هُودًا وَّالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ

هود علیه السلام او هغه کسانو لره چه ایمان یې راوړے وو د هغه سره په سبب د رحمت

مِّنَّا وَنَجَّيْنَاهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿۵۸﴾

زمونږ د طرفه او بچ کړل مونږ دوی لره د عذاب سخت نه۔

وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ

او دغه عادیان وو چه انکار یې کړے وو د آیتونو د رب خپل نه

وَعَصَوْا رُسُلَهُ وَاتَّبَعُوا أَمْرَ

او نافرمانی یې کړے وه د رسولانو د هغه نه او تابعداری یې کړے وه د طریقے

كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿۵۹﴾ وَأُتْبِعُوا فِي

د هر سرکش عنادی۔ او پرله پسے اولیږلے شو یې پسې

۵۸:۔ دَ اَمْرُنَا، نه مراد عذاب دَ سختے سیلۍ دے چه په سورة حم سجده ۱۶ آیت او الحاقه ۶ آیت کښې ذکر ده۔ او نَجَّيْنَا، کښې اشاره ده چه په وخت دَ عذاب کښې اول رسول او مؤمنانو ته نجات ورکیږی روستو په مکذبینو باندے عذاب راځي او په لفظ دَ بِرَحْمَةٍ، سره اشاره ده چه سبب دَ نجات رحمة خاصه دَ الله تعالی دے۔

فائده:۔ دے آیت کښې دوه کرته نجات ذکر دے دَ اول نجات نه مراد نجات دے دَ قوم دَ مظالمو او مکرونو نه او دَ دویم نجات نه مراد نجات دَ عذاب دنیوی نه دے یا اول نجات دَ عذاب دنیوی نه او دویم نجات دَ عذاب اخروی نه دے۔

۵۹:۔ وَتِلْكَ عَادٌ، عاد په تاویل دَ قبیلے سره مؤنث دے او اشاره دَ تلک دَ دے وجے نه ده چه دا واقعه دَ اوریدونکو په ذهنونو کښې مشهوره شوې وه او په اسم اشاره سره اکثر اشاره معهود ذهنی ته کیږی او دے آیت کښې درے اسباب دَ عذاب ذکر کړے شوے دی اول انکار دَ آیاتونو دَ توحید نه، دویم مخالفت دَ رسول چه مستلزم دے مخالفت دَ ټولو رسولانو لره، دریم تابعداری او تقلید دَ جبّار، چه دَ

هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

دے دنیا کښ لعنت او په ورځ د قیامت هم،

اَلَآ اِنَّ عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا

خبر شئ یقینًا عادیانو انکار کړے وؤ د رب خپل نه، خبر شئ

بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾ ع

تباهي ده عادیانو لره چه د هود علیه السلام قوم وؤ۔

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ

(او لیږلے وؤ مونږ) ثمودیانو ته ورور د هغوی صالح علیه السلام دهٔ اُووئیل

ع ۱۱ | ۵ / المنزل الثالث ۵

هیچا قانون په ځان نه منی لکه دهری کافر عنیدٍ، دَ دلیل او دَ قانون شرعی سره عناد او ضد کوونکے لکه عنادی کافر۔

نکته :- په دے آیت کښ ترقی دَ عذاب دنیوی او اخروی ذکر شوه یعنی روستو دَ عذاب دَ سختے سیلئ نه لعنت دَ الله تعالی او دَ ملائکو او دَ مؤمنانو دَ طرف نه پیروی پسے همیشه کړے شو او دَ هغے سبب ئے ذکر کړو چه كَفَرُوْا رَبَّهُمْ۔

قَوْمِ هُوْدٍ، کښ اشاره ده چه مراد دَ عاد نه اولنی عادیان وؤ دویم عاد ارم وؤ۔ او لفظ دَ اَلَا دلالت کوی چه دَ دوی کفر ډیر لوے او ښکاره وؤ او دَ دوی عذاب هم لوے او ښکاره وؤ۔

كَفَرُوْا رَبَّهُمْ، باء، حذف ده نو معنیٰ دَ کفر معروف مراد ده یا مراد دَ دینه انکار کول دی نو باء ته ضرورت نشته۔

بُعْدًا، دَ رحمت خاصه دَ الله تعالی نه لرے والے دا تباهي ده۔

يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ

اے زما قومه بندګي کوئ خاص د الله تعالیٰ نشته تاسو لره څوک

إِلٰهٍ غَيْرُهُ ۚ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ

حاجت پوره کوونکے سوا د هغه نه، هغه پيدا کړي يئ تاسو د زمکے نه

وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ

او آباد کړي يئ تاسو په دے زمکه کښ نو. بخنه غواړئ د هغه نه

ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ

بيا توبه اوباسئ هغه ته، يقيناً رب زما نزدے دے

مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوا يٰصٰلِحُ قَدْ كُنْتَ

قبلوونکے دے.. اُوئيل دوی اے صالح عليه السلام يقيناً ته وے

س ۶۱:- دا دريم دليل نقلی دے په اثبات د توحيد باندے د صالح عليه السلام نه او جواب د قوم د هغه بيا دعوت دے په اِسْتَعْمَرَكُمْ، سره استعمار، ډير عمر ورکول يا اباد ول يا د عمری نه ماخوذ دے يعنی د عمر د پاره وربخل مراد دی او ذکر د شجاعت د صالح عليه السلام دے په بيان د مسئله د توحيد کښ او ذکر د معجزے او تکذيب د قوم او ذکر د عذاب د قوم د هغه دے د پاره د تخويف دنيوی په دے آيت کښ پس د بيان د توحيد نه دوه انعامات الهيه ذکر دی- اول نعمت د ايجاد په، اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ، سره او مراد دا دے چه د انسانانو پلار (آدم عليه السلام) د زمکے نه پيدا دے يا دا چه انسانان خوراک کوی او هغه د زمکے نه پيدا کيږی او د هغه خوراک نه نطفه جوړيږی يا مِنِیْ . په معنیٰ د فِیْ سره دے دويم نعمت د ابقاء دے په وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا، سره- بيا دوه امرونه دی استغفار او توبه او دوه صفتونه د الله تعالیٰ ذکر دی. قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ، د پاره د ترغيب مسئلے د توحيد ته-

فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ اَتَنْهٰنَآ

په مونږ کښې امید لرلې شوې (ستا نه د خیر) مخکښې د دیته آیا ته مونږ منع کوې

اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا

د دیته چه بندګي اوکړو د هغه چاچه بندګي کوله زمونږ مشرانو او یقینًا مونږ

لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ

په شک کښې یو د هغه خبرې نه چه ته بلې مونږ ېره هغې ته

مُرِيْبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ

کلک شک. اوئیل ده اے زما قومه خبر راکړئ ما ته

اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

که چرې یم زۀ په ښکاره دلیل باندې د طرف د رب خپل نه

وَاٰتٰىنِيْ مِنْهُ رَحْمَةً فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ

او راکړې وی ما ته د طرف خپل نه رحمت (نبوت) نو څوک به ما بچ کړی

مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ قف فَمَا

د الله تعالی (د عذاب) نه که چرې زۀ د هغه نافرماني اوکړم نو تاسو نه

ف ٦٢ :- مَرْجُوًّا ، غوره چه امید و نه وربورې تعلق لری دا ئې د دې وجې نه اوئیل چه د نبوت نه وړاندې په هغه کښې خائسته اخلاق وو لکه مسکینانو سره امداد کول د بیمارانو بیمارپرسی کول په یتیمانو باندې ترس کول اشاره ده چه چا د حق خبره نه وی کړی نو عام خلق ئې عزت کوی او داسې خائسته اخلاق زمونږ په نبی صلی الله علیه وسلم کښې هم د نبوت نه مخکښې موجود وو لکه چه په حدیث د بدء الوحی کښې بخاری ص۳ کښې ذکر دے.

اَتَنْهٰنَآ اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ، اشاره ده سبب د خفګان د قوم نه چه مخالفت د نبی دے د طریقې د مشرانو د دوی نه.

تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ﴿٦٣﴾ وَيٰقَوْمِ

زیاتوئ ما لره سِوا د تاوان نه - اوائے زما قومه

هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً

دا اوښه دَ الله تعالیٰ ده تاسو لره یو معجزه ده

فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْ اَرْضِ اللّٰهِ

نو پرېږدئ چه خوراک کوی په زمکه دَ الله تعالیٰ کښ

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ

او مه رسوئ دے ته هیڅ تکلیف نو اوبه نیسی تاسو لره

مُرِيْبٍ، مراد دادے چه زمونږ شک داسے دے چه په تا باندے بد گمانئ او تا سره جګړے کولو ته رسوونکی دی۔

٦٣:- په دے آیت کښ جواب دے دَ دے اَتَنْهٰنَا، ځکه چه اِنْ عَصَيْتُهٗ، نه مراد په دے آیت کښ دادے چه نهی دَ شرک نه پرېږدم نو دا عصیان دے او اِنْ كُنْتُ، اِنْ، دلته دَ شک دَپاره نه دے لیکن دَ مخاطبینو دَ مائل کولو دَپاره ئے په اِنْ سره ذکر کړو۔

بَيِّنَةٍ، نه مراد ښکاره دلیلونه عقلیه دی او رَحْمَةً، نه مراد وحی او نبوت دے۔

فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ، دا استفهام انکاری دے۔

غَيْرَ تَخْسِيْرٍ، دَ دے دوه معنے دی. اول دا چه تاسو په دے وینا خپلے سره (چه دَ شرک نه منع مکوه) زما نقصان زیاتی کوئ ځکه چه ما لره دَ حق وینا نه منع کوئ۔ دوېمه معنیٰ دا ده چه تاسو دَ مشرانو په دین سره دلیل نیسئ نو په دے سره زیاتے کوئ زما علم دے لیکن تاسو دَ اثبات دَپاره په عمل دَ اباؤ سره دلیل نیسئ نو ما ته او س ښۀ علم راغے چه تاسو په خسران کښ یئ ځکه چه دا دلیل نه دے بلکه تقلید دَ اباؤ دے۔

عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ

عذاب نژدے۔ نو دوی هغه اووژله نو اُوئیل هغه

تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ ط

دژوند مزے واخلئ په خپلو کورونو کښې درے ورځے،

ذٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا

دا وعده ده بې دروغو۔ نو هر کله

جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صٰلِحًا وَّالَّذِينَ

چه راغے حکم دَ عذاب زمونږ۔ بچ کړو مونږ صالح علیه السلام او هغه چا لره

اٰمَنُوا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْيِ

چه ایمان ئے راوړے وُو دَ هغه سره په خاص رحمت زمونږ او دَ شرمندګئ

سٓ٦٤ :۔ نَاقَةُ اللّٰهِ، کښې اضافت دَپاره دَ شرافت دے ځکه چه دَ هغې په پیدا کولو کښې ظاهری اسباب نه وُو۔

فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِيْٓ أَرْضِ اللّٰهِ، یعنی تاسو بانده دَدے دَ خوراک څه تکلیف نشته۔

فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ، په یکښې اشاره ده چه توهین دَ معجزے سبب دَ عذاب دنیوی دے۔

سٓ٦٥ :۔ فَعَقَرُوهَا، عقر اندامونو پریکولو ته وئیلے شی عقر، یو تن اوکړو لکه چه په سورة قمر سٓ٢٩ کښې دی لیکن نور کسان په هغې بانده رضا وُو ځکه ئے دَ جمع صیغه ذکر کړه۔

تَمَتَّعُوا، مفسر قرطبی وئیلی دی چه دا کنایه ده دَ حیات نه یعنی درے ورځے په ژوندی یئ ځکه چه اَلْمَيِّتُ لَا يَتَلَذَّذُ وَلَا يَتَمَتَّعُ بِشَيْءٍ، یعنی مړے (دَ دنیا) په هیڅ څیز بانده نه مزه اخستے شی او نه فائده۔

دَارِكُمْ، مراد دَ دینه دَ دوی کلے دے یا مراد تر ینه دار دَ دُنیا دے۔

يَوْمِئِذٍ ۭ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ

دَ دغه ورځې نه، يقيناً ستا رب هغه ډير طاقت والا

الْعَزِيْزُ ﴿٦٦﴾ وَاَخَذَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا

زور آور دے . او اونيولو ظالمانو لره

الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ

تيزے چغے نو شول دوی په كورونو كښ

جٰثِمِيْنَ ﴿٦٧﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۭ

پرمخے پراته مړه . (فنا شول) گويا چه دوی نه وُو اوسيدلی په هغے كښ،

اَلَآ اِنَّ ثَمُوْدَا۟ كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ۭ

خبر شئ يقيناً ثموديانو كفر كړے وُو په رب خپل باندے،

۶۶ :- بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ، سره اشاره ده چه نجات دَ صالحينو دَ الله تعالىٰ دَ رحمت دَ وجے نه دے دَ هغوی دَ عمل يا دَ زور دَ وجے نه نه دے .

وَمِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ ، يعنی هغه شرمندگی او ذلت چه لازم دے دَ عذاب سره يا دا معنیٰ چه نجات مو وركړو دَ هغه كلی نه او نجات مو وركړو دَ عذاب دَ دنيا نه (چه شرمندگی ده) .

يَوْمَئِذٍ ، كښ اشاره ده ورځ دَ قيامت ته .

۶۷ :- هر كله چه دوی په خپلو اوازونو اوچغو سره دَ صالح عليه السلام بے عزتی اوكړه چه هغه پدے سورت كښ ذكر وُو نو عذاب دَ صيحه ذكر شو چه مناسب دے دَ آوازونو سره او نور تحقيق په تفسير دَ سورة اعراف كښ تير شويدے .

جٰثِمِيْنَ ، پدیكښ درے حالاتو ته اشاره ده ، اول دَ هيبت دَ وجے پرمخے پريوتل ، دويم دَ پاخيدلو طاقت ئے نه لرل ، دريم مړه كيدل .

ع ۸ ۶
اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ ﴿۶۸﴾ وَلَقَدْ جَآءَتْ
خبر شئ هلاکت دے ثمود یانو لره۔ او یقیناً راغلی وو
رُسُلُنَآ اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی قَالُوْا
ملائک زمونږ ابراهیم علیه السلام ته په زیری سره دوی اُوئیل
سَلٰمًا ط قَالَ سَلٰمٌ فَمَا لَبِثَ
سلام دے په تا باندے، هغه اُوئیل سلام دِ دوی په تا سو باندے نو نه وو حصار شوے
اَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِیْذٍ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا رَاٰۤ
تر دے چه راوړے وړو سخی وریت کړے شوے۔ نو هر کله چه اولیدل

۶۸:۔ کَاَنْ لَّمْ یَغْنَوْا، دَ دوی دَ کلی فنا ته اشاره ده دَ دینه مخکښ لفظ فنوا یا اهلکوا پټ دے۔
کَفَرُوْا رَبَّهُمْ، دا سبب دَ عذاب دے۔ اَلَا بُعْدًا لِّثَمُوْدَ، جمله خبریه ده روستو دَ عذاب دَ هغوی نه یا جمله دعائیه ده په باره دَ قیامت کښ۔
۶۹:۔ دا ځلورمه واقعه ده تعلق لری دَ رد شرک فی العلم سره چه علم غیب خاص الله تعالیٰ لره دے ځکه چه ابراهیم علیه السلام دَ میلمنو دَ حال نه خبر نه وو۔
وَلَقَدْ جَآءَتْ، واو، دَ عطف دلالت کوی چه دَ ټولو قصو اصل مقصد یو دے چه اثبات دَ توحید دے او لقد تاکید یئے دَ دے دَ پاره ذکر کړو چه په مسئله دَ علم غیب کښ دَ منکرینو ډیر شک وو نو دَ هغوی رد پس لے واقعے سره کیږی۔ په لفظ رُسُلُنَا، سره دَ دوی دَ راتللو مقصد یئے ذکر کړو چه خاص پیغام راوړل دی او په سورت حجر ۵۱ او ذاریات ۲۴ کښ ضیف (میلمانه) ذکر کړل ځکه چه په خیال دَ ابراهیم علیه السلام کښ میلمانه وو۔
بِالْبُشْرٰی، زیرے دَ هلاکت دَ قوم لوط علیه السلام یا زیرے دَ ولد یعنی بشری یئے مقصد وو دَ هغے نه مخکښ یئے دَ سلام او دَ طعام ذکر

# أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ

لاسونه دَدوی چه نه رسیدل هغه خوراک ته نو نا اشنا ئے اوګنړل دوی لره

# وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۚ قَالُوا

او په زړه کښ ئے راغله دَ دوینه یره ، دوی اوئیل

# لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴿٧٠﴾

مه یریږه یقیناً لیږلے شوی یو مونږ قوم دَلوط علیه السلام ته ۔

اوکړو او بشری ئے لا نه دے ذکر کړے لیکن آیت کښ اشاره ده چه سلام کول طریقه دَ ملائکو او دَ ټولو انبیاؤ ده او سلام په پیښ سره دلالت کوی په دوام او همیشوالی باندے ځکه چه جمله اسمیه ده) نو دا غوره دے دَ سَلٰمًا ، نه مفعول دے چه په زور سره دے نو جواب احسن شو دَ سلام نه او سَلٰمًا ، مفعول دے دَ پټ فعل دَپاره یعنی سلمنا سلامًا یا مفعول دے دَ قالوا دَپاره ۔

أَنْ جَآءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ، أَنْ ، په معنیٰ دَ حتی دے یعنی حتی جاء یا من لفظ پټ دے ۔

نے :- لَا تَصِلُ إِلَيْهِ ، کنایه ده دَ نه خوړلو نه ۔ نَكِرَهُمْ ، ځکه چه سنت دَپاره دَ میلمه دا ده چه زر شروع به کوی په خوراک باندے او دعوت به قبلوی نو دوی دَ دے طریقے نه خلاف اوکړو ۔

خِيفَةً ، یره دَ ضرر او تکلیف رسولو ۔

قَالُوا لَا تَخَفْ ، که سوال اوکړے شی چه ملائک څنګه پوهه شول دَ ابراهیم علیه السلام دَ زړه په یریدلو دا علم غیب دے ؟

جواب :- دا دے چه سورة حجر ۵۲ آیت نه معلومه ده چه ابراهیم علیه السلام پخپله ژبه دَ دے اظهار کړے وو ۔

لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا ، یعنی مونږ ستا ضرر او نقصان له نه یو راغلی او عذاب دَ قوم لوط علیه السلام له راغلی یو ۔ أُرْسِلْنَا ، دلالت اوکړو چه دوی ملائک وو او ملائک خوراک نه کوی نو یره دَ ابراهیم علیه السلام پدے سره زائله شوه ۔

وَامۡرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنٰهَا

او ښځه دَ ده ولاړه وه نو خوشحاله شوه زېرے ورکړو مونږ هغې ته

بِاِسۡحٰقَ ۙ وَمِنۡ وَّرَآءِ اِسۡحٰقَ يَعۡقُوۡبَ ﴿۷۱﴾

په اسحاق علیه السلام او وروستو د اسحاق علیه السلام نه په یعقوب علیه السلام سره۔

اِلٰى قَوۡمِ لُوۡطٍ، دا دَ دوی دَ ارسال دویم مقصد دے۔

سوال :- دَ سورة حجر او دَ زاریات نه معلومیږی چه دَ بشارت بالولد نه او دَ ازالے دَ خوف نه وروستو ابراهیم علیه السلام دَ هغوی نه تپوس اوکړو چه ما خطبکم نو دا دَ اهلاک دَ قوم لوط خبرې ورکړو او پدے سورت کښې معلومه شوه چه لَا تَخَفۡ اِنَّاۤ اُرۡسِلۡنَاۤ اِلٰى قَوۡمِ لُوۡطٍ، یعنی دَ خوف دَ ازالے لپاره دوی دا لفظ وئیلے دے ؟

جواب :- دلته په عبارت کښې تقدیم تاخیر دے یعنی اول ئے ازاله دَ خوف په بشارت دَ ولد سره اوکړه او بیا ئے ازاله دَ خوف دَ تاکید دَ پاره روستو دَ سوال دَ ابراهیم علیه السلام نه په ما خطبکم سره خبر دَ اهلاک دَ قوم لوط ورکړو۔

ف :- وَامۡرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ، یعنی دَ پردے نه شاته ولاړه وه دَ پاره دَ خدمت دَ میلمنو په دلیل دَ دے قول فاقبلت امراته ( زاریات ۲۹ یعنی پس دَ پردے نه مخامخ راغله هر کله چه پوهه شوه چه دوی ملائک دی۔

فَضَحِكَتۡ، دینه خندا مراد نه ده ځکه دَ حیاناکے زنانه خندا کول په لوے مجلس کښې مناسب نه دی نو مراد دَ دینه خوشحالیدل دی۔

سوال :- سورة زاریات ۲۸ آیت نه معلومه ده چه زیرے دَ هلک ورکړے شو نو روستو دَ هغې نه مخامخ راغله او دَ دے ځاے نه معلومیږی چه زیرے ورته روستو میلاؤ شو؟

جواب :- دا دے چه هر کله ملائکو اول بشارت ابراهیم علیه السلام ته ورکړو لکه په سورت زاریات ۲۸ کښې دے نو ښځې ئے دَ پردے نه شاته واوریدلو نو خوشحاله شوه خوخیال ئے داوو چه دَ بلے ښځې نه به پیدائش دَ ولد کیږی نو روستو ملائکو دے ته هغه بشارت ورکړو۔

قَالَتْ يٰوَيْلَتٰىٓ ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ

اُو ئیل هغې هائے تعجب دے آیا زهٔ به بچے زیږوم او زهٔ خو بوډۍ یم

وَّهٰذَا بَعْلِىْ شَيْخًا ؕ اِنَّ هٰذَا

او دا خاوند زما دے بوډا ، یقینًا دا

لَشَىْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ

خامخا کار عجیبه دے۔ دوی اُوئیل آیا تعجب کوئ دَ

اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ

کار دَ الله تعالیٰ نه رحمت دَ الله تعالیٰ دِ دوی او برکتونه دَ هغه دِ دوی

عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ

په تاسو باندے اے کورنئ دِ دَ ابراهیم) یقینًا الله تعالیٰ ستائیلے شوے

سوال :۔ دریم دا دے نو سبب دَ ضحك څه وُو ؟

جواب ع۱ :۔ دا دے :۔ مجاهد او عکرمه وائی چه ضحك په معنیٰ دَ حاضت (حیض) دے یعنی اګرچه بوډۍ وه لیکن حیض یٔے شروع شو نو دا دلیل وُو دَ ولادت نو سبب دَ خوشحالئ ذکر کولو ته ضرورت نشته. نو زیرے دَ ولد یٔے ورکړو بیا روستو مخالځ راغله نو په تعجب کښ شوه۔

جواب ع۲ دا دے فراء وائی آیت کښ مخکښ والے روستوالے دے. یعنی اول یٔے بشارت ورکړو نو روستو هغه خوشحاله شوه۔

ف۲ :۔ يٰوَيْلَتٰىٓ ، دا کلمه په وخت دَ تعجب کښ استعمالیږی ، او دا زنانه سارا بنت هاران وه ، دَ ابراهیم علیه السلام دَ تره لور وه۔

عَجِيْبٌ ، دا عجیبه وُو په اعتبار دَ عادت سره نه په اعتبار دَ قدرت دَ الله تعالیٰ سره۔

مَّجِيْدٌ ﴿۷۳﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرٰهِيْمَ

لو بزرګ والا دے. نو هر کله چه لاړه د ابراهیم علیه السلام نه

الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا

یره او راغے هغه ته زیرے نو بحث ئے شروع کړو زمونږ سره

فِىْ قَوْمِ لُوْطٍ ﴿۷۴﴾ إِنَّ إِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ

په باره د قوم د لوط علیه السلام کښ. یقیناً ابراهیم علیه السلام خاما خا صبرناک

اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴿۷۵﴾ يٰٓإِبْرٰهِيْمُ أَعْرِضْ

درد مند کړېدونکے ووحق ته. (دوی اوئیل) اے ابراهیمه مخ واړوه

۷۳:- اَمْرِ اللّٰهِ، فیصله د الله تعالیٰ یا قدرت د الله تعالیٰ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَکٰتُهٗ، غوره دا ده چه دا جمله خبریه خبر دے، دعا نه ده۔ او دا آیت دلیل دے چه ښځه د سړی په اهل بیت کښ لوکښ اصل ده او دا رنګ سورة احزاب ۳۳ آیت کښ دی۔

حَمِيْدٌ، هغه ذات دے چه مخلوق ئے حمد ونه کړی ثوک طوعًا او ثوک کرهًا۔

مَجِيْدٌ، مجد شرافت او عظمت ته وئیلے شی۔

۷۴:- الْبُشْرٰى، زیرے د ولد او زیرے د هلاکت د قوم لوط علیه السلام، يُجَادِلُنَا، بحث کول د پاره د طلب د روستوالی د عذاب مجادله ده او هغه ذکر ده په سورة عنکبوت آیت ۳۲ کښ او مراد د هغے دادے چه لوط علیه السلام په قوم کښ وجود موجود دے او په وخت د وجود د نبی کښ په قوم باندے عذاب نه راځی نو دا عذاب روستو کړے۔

۷۵:- دا دلیل دے چه مجادله د ابراهیم علیه السلام د ملائکو سره په طور د ضد او د انکار سره نه ده بلکه د وجے د انابت الی الله نه وه۔ او ورسره حلم، او تَاَوُّه، هم وه، نو د حلم د وجے نه روستوالے د عذاب ئے غوختلو، او د تَاَوُّه د وجے نه نرمی ئے غوختله په عذاب کښ او د انابت د وجے نه ئے تابعداری د حق د قوم غوختله۔

عَنۡ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدۡ جَآءَ اَمۡرُ
د دے نه بیشکه یقینًا راغلے دے حکم
رَبِّكَ ۚ وَاِنَّهُمۡ اٰتِيۡهِمۡ عَذَابٌ
د رب ستا (په هلاکت د دوی سره) او یقینًا راتلونکے دے په دوی باندے عذاب
غَيۡرُ مَرۡدُوۡدٍ ﴿۷۶﴾ وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا
چه نه دے واپس کړے شوے. او هر کله چه راغلل ملائک زمونږ
لُوۡطًا سِيۡٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ
لوط علیه السلام ته خفه شو د هغوی په وجه او تنګ ئے شو په دوی باندے
ذَرۡعًا وَّقَالَ هٰذَا يَوۡمٌ عَصِيۡبٌ ﴿۷۷﴾
زړه او وئیل ئے دا ورځ سخته ده .

۷۶ :- دا قول د ملائکو دے ابراهیم علیه السلام ته. اَعۡرِضۡ عَنۡ هٰذَا، یعنی پدے مجادله کښ فائده نشته نو دا پریخودل پکار دی او روستو ئے دوه علتونه ذکر کړی دی.

غَيۡرُ مَرۡدُوۡدٍ، کښ اشاره ده چه د ابراهیم علیه السلام په مجادله سره نه واپس کیږی.

۷۷ :- دا پنځمه واقعه ده متعلق ده د رد د شرک فی العلم سره چه علم غیب خاص دے په الله تعالی پورے لوط علیه السلام د دے ملائکو د حال نه خبر نه وو او نه ئے پیژندل او قدرت ئے هم نه وو نو قوم ئے نه شو دفع کولے.

بِهِمۡ، ضمیر راجع دے ملائکو ته یعنی خفه شو په راتللو د ملائکو سره یا ضمیر راجع دے قوم ته یعنی خفه شو د هغوی په بد عمل سره.

وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعًا، په اصل کښ اوښ په رفتار کښ خپلے مخکنئ خپے (چه ذرع ده) اوږدے اخلی او هر کله چه په هغه باندے بار دروند شی نو قدم تنګ کړی، او ذرعًا سینے ته وئیلے شی او بِهِمۡ،

وَجَآءَهٗ قَوۡمُهٗ يُهۡرَعُوۡنَ اِلَيۡهِ ؕ

او راغی ده ته د ده قوم رازغلیدلے شو د ده طرف ته ،

وَمِنۡ قَبۡلُ كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ السَّيِّاٰتِ ؕ

او د دینه مخکښ دوی وو چه کول ئے ناکاره کارونه ،

قَالَ يٰقَوۡمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىۡ هُنَّ

ده اوئیل اے قومه زما دا (زنانه ستاسو) زما لونړه دی دوی

اَطۡهَرُ لَـكُمۡ‌ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخۡزُوۡنِ

ښه حلالے دی تاسو لره نو اویریږئ د الله تعالیٰ نه او مه شرموئ ما لره

فِىۡ ضَيۡفِىۡ ؕ اَلَيۡسَ مِنۡكُمۡ رَجُلٌ رَّشِيۡدٌ ﴿۷۸﴾

په باره د میلمنو زما کښ، آیا نشته ستاسو نه سړے هوښیار۔

ضمیر قوم ته راجع دے ملائکو ته نه دے راجع نو دا کنایه ده تنګوالی د طاقت نه۔

عَصِيۡبٌ، د عصابۃ نه ماخوذ دے، چه د درد د وجے نه په سر باندے پیچئ وتړلے شی نو اشاره ده سختوالی ته۔

سے۷۸- وَجَآءَهٗ قَوۡمُهٗ يُهۡرَعُوۡنَ اِلَيۡهِ، اهراع، مجهول د معلوم سره مستعملیږی ګویا چه دوی یو بل لره تیزی ورکوله یا شهوت دوی زغلول۔

وَمِنۡ قَبۡلُ كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ، دا سبب د اهراع دے۔ السَّيِّاٰتِ، اغلام بازی، میلمانه تنګول، په کانړو ویشتل، لارے شوکول وغیره بد کارونه ئے کول۔

قَالَ، دا د هغوی د دفع کولو د پاره ئے اوئیل۔ بَنَاتِىۡ، مراد د دینه زنانه د قوم دی چه هغه د نبی د پاره په منزله د لونړو وی دا قول د مجاهد او د سعید بن جبیر دے۔ اَطۡهَرُ، دیکښ معنیٰ د تفضیل نشته مراد ځکه چه اغلام بازئ کښ هیڅ طهارت نشته بلکه تاکید د طهارت مراد دے۔ رَشِيۡدٌ، صالح او مصلح چه منع کول کوی د بدئ نه۔

قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنٰتِكَ

دوی اُوئیل یقیناً ته ښه پوهیږې چه نشته موږ لره په لونړو ستا کښې

مِنْ حَقٍّ ۚ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾

څه حاجت او یقیناً ته پوهیږې په هغه څه چه موږ غواړو.

قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي

ده اُوئیل ارمان دے چه ما لره وے په تاسو باندې طاقت یا پناهي حاصلولے ما

إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾ قَالُوا يَا لُوطُ

قبیلے کلکے ته. دوی (ملائکو) اُوئیل اے لوط

۷۹:- حَقٍّ، په معنیٰ دَ حاجت دے یعنی شهوت او دا قول دَ دوی دَ ډیرے بے حیایئ دَ وجے نه وؤ.

مَا نُرِيدُ، یعنی طلب دَ دے میلمنو دَپاره دَ فاحشه کولو.

۸۰:- لَوْ، یا دَ تمنا دَپاره دے یا شرطیه دے جزاء یې حذف ده.

لَدَفَعْتُكُمْ، ضرور ما به دفع کړے وئ تاسو.

قُوَّةً، نه مراد قوت دَ بدن دے یا مددګار او مؤمنانو ملګرو دے. او

رُكْنٍ شَدِيدٍ، نه مراد قبیله او خاندان دے او دا خبره یې دَ دے وجے نه اوکړله چه لوط علیه السلام دَ بل ځائے نه راغلے وؤ دَ دے قوم سره یې هیڅ نسب شریک نه وؤ. او رکن شدید نه مراد الله تعالیٰ نه دے ځکه چه نبي دَ الله تعالیٰ نه غفلت نه کوی او حدیث شریف کښې دی. يَرْحَمُ اللهُ لُوطًا لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ، مقصد دَ حدیث بیان دَ کمال دَ لوط علیه السلام دے په مدافعت دَ منکر کښې، دَ دینه تنقید او عیب دَ هغه نه دے مراد.

إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ

یقینًا مونږ رالیږلی (ملائک) یو ستا د رب هرګز نشي رسیدلے دوی تا ته (په ضرر)

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ

نو بوځه کورنۍ خپله په ټکړه د شپه کښ

وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا

او شا ته دِ نه ګوري ستاسو نه هیڅوک سِوا

ٱمْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمْ ۚ

دَ ښځې ستا نه ، یقینًا دیته به رسیږي هغه عذاب چه دَ قوم ته رسیږي،

إِنَّ مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ

یقینًا نیټه دَ عذاب دَ دوی وخت دَ صبا دے، آیا نه دے صبا

بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا

نزدے . نو هر کله چه راغے عذاب زمونږ او ګرځوو مونږ

ف ۸۱: لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ ، اشاره وه چه زمونږ غم مه کوه مونږ خو ملائک یو مونږ ته هیڅ ضرر نشي راکولے لیکن تا ته هم تکلیف نشي درکولے او په دغه وخت کښ جبرائیل علیه السلام وزر دَ هغوی په سترګو باندے راخکلو نو سترګے ئې ړندے شوے لکه په سورۃ قمر ۳۷ آیت کښ دی.

وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ ، یعنی دَ مال او سامان وغیره پرواه دِ نه کوی.

إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ ، دا استثناء ده دَ اهلک نه یعنی دا مه بوځه - او پس ے ښځې باندے عذاب راتلل دَ وجې دَ شرک دَ هغې نه وؤ لکه چه په سورۃ تحریم کښ دَ دے خیانت ذکر کړے دے او مراد دَ خیانت نه شرک دے. نو معلومه شوه چه هغه قوم کښ شرک هم وؤ.

أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ، یعنی لوط علیه السلام اُوئیل غوارم چه دوی دِ زر هلاک شي نو جواب اوشو چه صبا خو نزدے دے.

عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا

بره طرف دَ کلو لاندې دَ هغې او ورا اوورولو مونږ په دوی باندې

حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ﴿٨٢﴾

کانړي دَ پخو شوؤ نه په اور کښې پرله پسې۔

مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ

نخو والا وؤ په نیز دَ رب ستا او نه ؤ هغه

مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ ﴿٨٣﴾ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ

دَ ظالمانو نه لرې۔ او لیږلے ؤ مونږ مدین ته

أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا

ورور دَ هغوی شعیب علیه السلام، اُوئیل ده اے قومه زما بندګي خاص

اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ

کړئ الله تعالیٰ لره نشته تا سو لره هیڅ حقدار دَ بندګۍ سِوا دَ هغه نه،

٨٢:- اَمْرُنَا، مراد دَ دینه وخت دَ عذاب یا نفس عذاب دے۔ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا
حِجَارَةً، واؤ ترتیب نه فائده کوی نو کیدے شی چه کانړی ورول مخکښې
وی او الټه اړول دَ کلو روستو وی یا اړول دَ کلو مخکښې وی او بیا باران
دَ کانړو وی او الله تعالیٰ قادر دے چه کانړی ئې دَ اړولو نه روستو
ورولی وی لکه چه وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ، کښې دے ته
اشاره ده۔

سِجِّيْلٍ، ختمه ده چه پخه کړے شی په اُور کښې پدیکښې اشاره وه چه په
دے عذاب کښې ماده دَ اُور وه او دا خرق عادت دے چه دَ آسمان دَ
طرف نه خو اوبه راځی نه اور نو دَ اُور راتلل ډیر نا اشنا کار دے۔

٨٣:- مُسَوَّمَةً، وئیلی شوی دی چه لیکلے شوے وؤ په هره کښې
نوم دَ کافر۔

عِنْدَ رَبِّكَ، دلیل دے پدے باندے چه دا کښې دَ جنس دَ زمکے نه نه وو.

وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّيٓ

او مه کموئ پیمانه او تله یقینًا زۀ

أَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ

وینم تاسو لره په مالدارئ کښ او یقینًا زۀ یریږم په تاسو باندے

عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿۸۴﴾ وَيٰقَوْمِ أَوْفُوا

دَ عذاب دَ ورځے راګیرووُنکی نه۔ او اے قومه زما پوره کوئ

الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا

پیمانه او تله په انصاف سره او مه کموئ

وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ بِبَعِيْدٍ، په دے جمله کښ درے توجیهات دی،
اول دا چه هِیَ، ضمیر راجع دے ګټو ته او ظَالِمِیْنَ نه مراد قوم
دَ لوط دے۔
دویم دا چه ظالمین نه مراد کفارِ مکه دی او دَ هغوی مِثل نورخلق
دَ دے امت نه څوک چه عمل کوی عمل دَ قومِ لوط۔
دریمه توجیه دا ده چه ضمیر دَ هِیَ راجع دے کلو دَ قوم دَ لوط ته
او مراد دَ ظالمین نه کفار مکه دی۔ یعنی کلی دَ قوم لوط دَ کفار
مکه ته نزدے وو دَ بحرمیت سره دَ شام په لار کښ۔
۸۴:۔ دا شپږمه واقعه ده چه دلیل نقلی دے په اوله دعوه دَ دے
سورت باندے۔ یعنی شعیب علیه السلام بیان کړے وه مسئله دَ
توحید او منع کړی یے وُ قوم لره دَ خیانت دَ مالونو نه۔
إِنِّيٓ أَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ، یعنی مالدارئ او فراخی دَ رزق۔
يَوْمٍ مُّحِيطٍ، دا محیط اصل کښ صفت دَ عذاب دے لیکن ده باندے
زیر دے دَ وجے دَ نزدیکت دَ یوم نه چه دیته جر للجوار وائی،
په دے آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه شرک کول پیمانه او
تول کښ نقصان کول دواړه سببونه دَ عذاب دی۔

النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ

د خلقو نه مالونه د هغوی او مه ګرځئ په زمکه کښې

مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ

ورانے کوونکی - طاعت د الله تعالی غوره دے تاسو لره

إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ

که تاسو خبره منونکی يئ او زۀ نه يم په تاسو باندے

بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ

نګهبان (ساتونکے) - دوی اُووئيل اے شعيبه آيا ستا دين

٨٥ :- په دے آيت کښې درے حکمونه دی.
اول امر دے په پوره کولو د پيمانه او د تول په انصاف سره او دا
حکم بالقسط د لَا تَنْقُصُوا نه روستو د دے د پاره راوړو چه انسان
مکلف نه دے په زياتی کولو سره. بله وجه د دے دا ده چه په
لَا تَنْقُصُوا کښې نهی وه د دوی د قبيح عمل نه صراحةً نو په دے
کښې امر بالمعروف دے په باره د کيل او وزن کښې.
دويم امر په دے کښې نهی د بخس نه ده او مراد د دينه هر قسم
نقصان کول دی په مالونو کښې په غلا او په غصب او په ناجائزو
حيلو سره.
دريم امر منع د فساد نه او مراد د فساد نه منع کول د خلقو دی
د تابعدارئ د شعيب عليه السلام نه او په آيت کښې اشاره ده چه
نقصان په پيمانه کښې او تول کښې فساد کول دی.
٨٦ :- بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ، مراد د دينه جائز ګټه ده په تجارت کښې
يا مراد د دينه طاعت د الله تعالی او د رسول صلی الله عليه وسلم دے
اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِينَ، د دے شرط اوله وجه دا ده چه ثواب د طاعت موقوف
دے په ايمان باندے. دويمه وجه دا ده چه د دۀ قوم دعويدار د ايمان وو.
بِحَفِيظٍ، بچ کوونکے د زوال د نعمتونو د الله تعالی ستاسو نه په سبب د ګناهونو ستاسو.

تَأْمُرُكَ أَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ

حکم کوی تا ته چه پرېږدو مونږ هغه طريقه چه بندګي کوله په هغې

اٰبَاؤُنَآ أَوْ أَنْ نَّفْعَلَ فِىٓ أَمْوَالِنَا

مشرانو زمونږ (يا پرېږدو) کار کول په خپلو مالونو کښې

مَا نَشٰٓؤُا ۭ إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيْمُ

په رضا خپلې سره، يقيناً ته (په خپل ګمان) صبر ناک

الرَّشِيْدُ ﴿۸۷﴾ قَالَ يٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ

او هوښيار يې. اُوئيل ده اے زما قومه فکر اوکړئ تاسو

إِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّىْ

که يم زهٔ په ښکاره خبره د طرفه د رب زمانه

وَرَزَقَنِىْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ

او راکړې وی ما ته د خپل طرف نه نعمت ښائسته،

سـ۸۷:ـ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ أَصَلٰوتُكَ، صَلٰوةٌ، په معنیٰ د مونځ دے ځکه چه شعيب عليه السلام ډير مونځ کتاروؤ يا په معنی د دين دے او دا وينا د دوی په طريقه د استهزاء سره ده.

أَوْ أَنْ نَّفْعَلَ، په دېکښې درے توجيه دی.

اول دا چه د دېنه مخکښې لفظ د تنها نا پيت دے.

دويم دا چه لفظ د لا، مقدر دے.

دريم دا چه دا عطف دے په مايعبد باندې د نترك د لاندې داخل دے. مراد د دوی دا وؤ چه مالونه زمونږ خپل دی زمونږ اختيار دے که هر قسم تصرف پکښې کوؤ- او دا قول د هغو سرمايه دارو وی چه د دين الهی پابندی ته منی.

إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ، دا په طريقه د استهزاء سره دے يا په دېکښې لفظ د بزعمك پټ دے.

وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ أَنْهَىٰكُمْ

او زۀ نه غواړم چه لاړ شم په خلاف ستاسو هغه کار کولو ته چه تاسو منع کوم

عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا ٱلْإِصْلَٰحَ مَا

د هغه نه، زۀ نه غواړم مګر اصلاح کول ترڅو چه

ٱسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِىٓ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ

طاقت لرم، او نه دے زما مدد مګر په الله تعالٰی دے،

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾

خاص په هغه باندے سپارلے دے ما ځان خپل او خاص هغه ته به زۀ ورګرځم۔

وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىٓ

اوائے قومه زما سبب دِ جوړ نشي تاسو لره دشمنئ زما سره

۸۸:۔ رِزْقًا حَسَنًا، مراد د دينه وحی او نبوت دے يا مراد د دينه حلال رزق دے اشاره ده چه شعيب عليه السلام هم مالدار وو او جزاء د شرط پټه ده چه نه دی جائز ما لره خيانت په وحی د الله تعالٰی کښں۔

أَنْ أُخَالِفَكُمْ، مراد د دينه سبقيت (وړاندے والے) دے۔ او د لفظ د إِلَىٰ، نه روستو لفظ د ارتکاب پټ دے۔ يا أُخَالِفَكُمْ په خپلے معنٰے سره دے چه مخالفت کول دی او د هغے نه روستو لفظ د أُمِيْلُ مقدر دے۔ او پدے آيت کښں پنځه اداب دی د پاره د دعوت کوونکی د حق۔

وَإِلَيْهِ أُنِيبُ، معنٰی دا چه په ټولو تکاليفو کښں زۀ خاص الله تعالٰی ته رجوع کوم، يا مراد دا دے چه الله تعالٰی ته رجوع ده په آخرت کښں۔ او شربينی په تفسير کښں ليکلی دی چه نبی صلی الله عليه وسلم شعيب عليه السلام ذکر کړو نو او ئيل ئے چه دے خطيب الانبياء وو ځکه چه قوم سره ئے ښائسته مراجع کړيده۔

أَنۡ يُّصِيۡبَكُمۡ مِّثۡلُ مَاۤ اَصَابَ قَوۡمَ

دَ دے خبرے چه او رسیږي به تاسو ته عذاب په شان دَ هغه چه رسیدلے دے قوم

نُوۡحٍ اَوۡ قَوۡمَ هُوۡدٍ اَوۡ قَوۡمَ صٰلِحٍ ؕ

دَ نوح علیه السلام ته یا قوم دَ هود علیه السلام یا قوم دَ صالح علیه السلام ته،

وَمَا قَوۡمُ لُوۡطٍ مِّنۡكُمۡ بِبَعِيۡدٍ ﴿۸۹﴾

او نه دے قوم دَ لوط علیه السلام ستاسو نه څه لرے۔

وَاسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوۡبُوۡۤا

او بخنه اوغواړئ دَ رب خپل نه بیا توبه اوباسئ

اِلَيۡهِ ؕ اِنَّ رَبِّىۡ رَحِيۡمٌ وَّدُوۡدٌ ﴿۹۰﴾

هغه ته، یقینًا رب زما رحم کوونکے دے مینه کوونکے دے۔

۸۹:- پدے آیت کښ تخویف دنیوی دے په ذکر دَ عذاب دَ تیر شوؤ قومونو، او په آیت کښ تقدیر دَ عبارت دے۔

لَا يَحۡمِلَنَّكُمۡ شِقَاقِيۡۤ عَلٰى تَرۡكِ الۡاِيۡمَانِ فَيُصِيۡبَكُمۡ، اِجۡرَام معنیٰ ده په جرم باندے باعث کیدل،

بِبَعِيۡدٍ، یو معنیٰ دا ده چه قوم دَ لوط علیه السلام ستاسو نه په زمانه کښ لرے نه دے۔

دویمه معنیٰ دا ده چه وطن دَ هغوی ستاسو نه لرے نه دے۔

بِبَعِيۡدٍ، دا لفظ په قوم باندے حمل کیدل صحیح دے ځکه چه دا مذکر او مؤنث دواړو دَ پاره استعمالیږي یا لفظ دَ اهلاک دَ قوم نه مخکښ مقدر دے۔

۹۰:- پدے آیت کښ ترغیب دے او آیت کښ لف نشر مرتب دے یعنی استغفار غواړئ نو الله تعالیٰ به درباندے رحم اوکړي او توبه اوباسئ نو الله تعالیٰ به درسره محبت او مینه اوکړي۔ حدیث شریف کښ راځي شعیب علیه السلام خطیب الانبیاء وُو ځکه دَ هغه په دعوت کښ دَ دعوت ټول طریقے شته۔

قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا

دوی اُوئیل اے شعیب علیه السلام نه پوهیږو موږ په ډیرو

مِّمَّا تَقُوْلُ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا

هغو خبرو چه ته یې وایې او یقینًا موږ خامخا وینو تا لره په موږ کښ

ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ

کمزورئ او که ستا خاندان نه وے نوموږ به ته سنګسار کړے وے

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿٩١﴾ قَالَ

او ته نه یې په موږ باندے عزتمند. ده اوئیل

سلو: پدے آیت کښ تکذیب دے دَ طرف دَ قوم نه په طریقه دَ توهین او دَ بے ادبئ سره. په څلورو طریقو سره یې دَ هغه توهین کړے دے.

اوله جمله هم دَ دوی په طریقه دَ سپکوالی ده ځکه چه دوی خو دَ هغه په ژبه باندے پوهیدل او بیا هم وائی. مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ.

دویمه جمله کښ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا، دَ ضعیف نه مراد دا دے چه ته یواځې یې ملګرے دے نشته یا دا چه دَ دنیا په مصلحت او سیاست نه پوهیږے نو مراد دَ ضعیف نه ضعیف العقل دے لکه چه اوس هم دنیا پرست خلق حق پرستو ته وائې چه تاسو په سیاست نه پوهیږئ.

دریمه جمله کښ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ، مراد دا ده چه ستا خپلوان زموږ په دین باندے دی ځکه په موږ باندے عزتمند دی.

څلورمه جمله کښ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ، تصریح ده چه ته موږ باندے هیڅ ګران نه یې یعنی عزتمند نه یې.

يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْۤ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

اے زما قومه آیا زما خاندان ډیر عزتمند ګڼلے شو بانده د الله تعالیٰ نه،

وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ

او ګرځولو تاسو هغه لره روستو د شان نه شا ته غورځولے شوے

اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿٩٢﴾

یقینًا رب زما په هغه کارونو چه تاسو یې کوئ راګیر ونکے دے۔

وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ

او اے قومه زما کار کوئ په خپله طریقه (او طاقت) بانده

اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ مَنْ

یقینًا زه هم کار کوونکے یم، (د دعوت) زر دے چه تاسو به پوهه شئ چه څوک دے

يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ هُوَ

چه راځی هغه ته عذاب چه رسوا به یې کړی او څوک دے چه

كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْۤا اِنِّيْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿٩٣﴾

دروغژن وی، او انتظار کوئ زه هم تاسو سره انتظار کوونکے یم۔

٩٢:۔ دا زورنه ده د طرف د شعیب علیه السلام نه د قوم په دریمه جمله بانده یعنی باطل پرست قوم د الله تعالیٰ لحاظ نه کوی بلکه د مخلوق لحاظ کوی او د الله تعالیٰ نه نه یریږی او د خلقو نه یره کوی۔
ظِهْرِيًّا، منسوب دے ظهر ته او ظاء، بانده زیر د وجے د نسبت نه دے او وَرَآءَكُمْ، په ډیر روستو والی بانده دلالت کوی۔
٩٣:۔ پس دے آیت کښ اعلان براءت دے د قوم نه او تخویف د عذاب دے په حکیمانه طریقه سره۔
مَكَانَتِكُمْ، مَكَانَة، هغه حالت ته وئیلے شی چه انسان په هغے کښ په کار کولو بانده طاقت لری۔

وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا

او هر کله چه راغے حکم دَ عذاب زمونږ. بچ کړو مونږ شعیب علیه السلام

وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ

او هغه چا لره چه ایمان ئے راوړے وو دَ هغه په ملګرتیا کښ په وجه دَ رحمت

مِّنَّا ج وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا

زمونږ او اونیوو ظالمانو لره

الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ

هیبت ناکے چغے نو شول دوی په خپلو کورونو کښ

جٰثِمِيْنَ ﴿۹۴﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ط

پرمخے پراته (مړی). (رفنا شول) لکه چه نه وو دیره په هغے (ځائے) کښ،

سَوْفَ، په دیکښ حرف دَ فاء نه دے ذکر کړے اشاره ده چه دا استیناف بیانی دے.

وَارْتَقِبُوْا، ارتقاب کښ مبالغه ده په نسبت دَ انتظار څکه چه په دے کښ معنیٰ دَ حفاظت هم مراد ده سره دَ انتظار نه.

۹۴:- په دے آیت کښ ذکر دَ نجات دَ شعیب علیه السلام او دَ مؤمنانو دے او سبب دَ هغے رحمت دَ الله تعالیٰ دے او ذکر دَ عذاب دے په منکرینو باندے.

سوال:- قصه دَ عاد او مدین کښ، وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا، په واو سره په قصه دَ ثمود او قوم لوط کښ په حرف فاء سره ولی ذکر کړی دی؟

جواب:- په قصه دَ ثمود او قوم لوط کښ ذکر دَ وعدے دَ عذاب تیر شوے دے یعنی وعد غیر مکذوب او موعد هم الصبح نو هغه په منزله دَ سبب دے نو ځکه فاء ئے ذکر کړے ده او په قصه دَ عاد او مدین کښ ذکر دَ وعدے مخکښ نشته.

أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ

خبرشئ تباهي ده مداين والو لره لكه چه تباه شول

ثَمُودُ ﴿٩٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ

ثموديان ۔ او يقينا اوليږلو مونږ موسى عليه السلام لره

بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ

په معجزاتو خپلو او په دليل ښكاره سره ۔ فرعون ته

۹۵ :۔ پدے آيت كښ تشبيه د عذاب د قوم د شعيب عليه السلام ده د عذاب د ثمود سره د وجے د مشابهت د عذاب د صيحه او رجفه نه په دواړو باندے يا د دے وجے نه چه دواړه په عرب كښ داخل وو۔

سوال :۔ په آيت ۶۷ كښ اخذ مذكر دے او پدے آيت كښ اخذت مؤنث دے ؟

جواب :۔ مذكر د دے وجے نه دے چه صيحه په تاويل د صياح سره ده ۔ د ابن عباس رضى الله عنهما روايت دے چه صيحه د ثمود د زمكے نه وه او صيحه د قوم شعيب د آسمان نه وه .

۹۶ :۔ د دينه اووم واقعه ده د موسى عليه السلام مختصر ده ځكه چه په سورة يونس كښ په تفصيل سره بيان شوه د دے تعلق د سورة د دويمے دعوے سره دے يعنى شجاعت د موسىٰ عليه السلام په مقابله د فرعون كښ ياد كړئ۔

بِآيَاتِنَا ، آيات ، معجزات د موسى عليه السلام ۔

وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ، خاص معجزه د عصاء مراد ده يا هغه رعب مراد دے چه موسى عليه السلام له وركړے شوے وو او فرعون تربنه يره كوله ۔

وَمَلَإِيْهٖ فَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ فِرْعَوْنَ

او مشرانو دَ قوم دَ هغه ته نو روان شو هغوی په طریقه دَ فرعون پسے

وَمَآ اَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيْدٍ ﴿۹۷﴾

او نه وه طریقه دَ فرعون هیڅ فائده لے والا۔

يَقْدُمُ قَوْمَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

وړاندے به ځی دَ قوم خپل ته په ورځ دَ قیامت

فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۚ وَبِئْسَ الْوِرْدُ

نو ورننه باسی دوی اور ته او ناکاره ګودر دے دغه

الْمَوْرُوْدُ ﴿۹۸﴾ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهٖ

چه کَلل ورته کیږے شي۔ او پرله پسے کیږی په دوی باندے په دے دنیا کښ

لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ بِئْسَ

لعنت او په ورځ دَ قیامت هم ناکاره دے

سے ۹۷:- په دے آیت کښ دَ هغوی لوے خباثت ذکر شوے دے چه په مخالفت دَ موسیٰ علیه السلام کښ یے دَ فرعون تابعداری کوله۔ مراد دَ اَمْرَ۔ نه طریقه او دین دے۔

وَمَآ اَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيْدٍ، دا رد دے دَ قول دَ فرعون چه سورة مؤمن سے ۲۹ آیت کښ دے یعنی دعوی دَ رُشد او دَ ارشاد یے کوله۔

سے ۹۸:- دا تخویف اخروی دے۔ يَقْدُمُ قَوْمَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ، او جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی یعنی کوم چه په دنیا کښ دَ قوم مقتدا وو نو په ورځ دَ قیامت به هم داسے وی۔

اَلْوِرْدُ، ګودر دَ اوبو ته وئیلے شی لیکن جهنم ته یے ورد تهکمًا وئیلے دے۔

الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ ﴿٩٩﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ

نعمت ور کړے شوے ۔ دا چه (ذکر شو) بعضے دَ خبرونو

الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ

دَ کلوته دي بیانوُو مونږ دا په تا باندے بعضے دَ هغے نه ولاړ (شته پخپل ځای)

وَّحَصِيْدٌ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا

او نور ذَل دول کړے شوي ۔ او ظلم نۀ دے کړے مونږ پۀ دوي باندے او لیکن ظلم کوُو دوی

اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ

په خپلو ځانونو باندے نو لرے نه کړو دَ دوی نه مدد ګارانو دَ دوی

الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ

کوم چه دوی رابلل سوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅ (مصیبت)

لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ

هر کله چه راغے عذاب دَ رب ستا ، او زیاتی نه کړو دوی لره

سو٩٩ :- دا دَ عذاب دنیوی او اخروی دواړو ذکر دے ۔ په دنیا کښ لعنت دَ طرف دَ الله تعالیٰ او دَ ملائیکو او دَ مؤمنانو دَ طرف نه دے او لعنت نه ئے رفد تهکمًا وئیلے دے ځکه چه رفد مدد ته وئیلے شی او لعنت نه په اصل کښ رفد نشی وئیلے ۔

سئ١٠٠ :- دا آیت متعلق دے دَ ټولو واقعاتو مخکنو سره ۔

قَآئِمٌ، موجود دے لکه مصر دَ فرعونیانو او آبادئ دَ ثمودیانو په غرونو دَ مدائن صالح کښ او کلی دَ عادیانو او قوم لوط فنا شویدی ۔

غَيْرَ تَتْبِيبٍ ﴿۱۰۱﴾ وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ

سِوا دَ تباهئ نه - او دغه شان نیول دَ رب ستا دی

إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ ۚ

هر کله چه نیسی کلو لره او هغوی ظلم کوونکی وی،

إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ﴿۱۰۲﴾ إِنَّ

یقیناً نیول دَ هغه درد ناک سخت دی - یقیناً

فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ

په دیکښ شته خامخا عبرت هغه چا لره چه یریږی دَ عذاب

الْآخِرَةِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ

دَ آخرت نه، دا داسے ورځ ده چه جمع به کړیشی

لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴿۱۰۳﴾

دیته ټول خلق او دا داسے ورځ ده چه ګواهی به اوکړیشی په هغے کښ.

سلنا :- دا آیت هم متعلق دے دَ مخکنو واقعاتو سره او په دیکښ ئے سبب دَ عذاب دَ هغوی ذکر کړیدے یعنی شرک او رد دے په شرک دَ تصرف بانډے یعنی دغه ټولو قومونو دَ الله تعالیٰ نه سِوا نور معبودان او واکداران نیولی وُو لیکن دَ عذاب په وخت کښ هغوی دَ دوی هیڅ امداد او نه کړو بلکه دَ هغوی دَ وجے نه تباهی ئے زیاته شوه۔

وَمَا زَادُوهُمْ، سبب دَ دے زیادت عبادت دَ دغه معبودانو وُو او معبودانو ته نسبت په زادوهم کښ نسبت مجازی دے۔ او داسے په سورة احقاف سـ۲۸ آیت کښ راځی۔

سـ۱۰۲ :- په دے آیت کښ تخویف دَ موجود و خلقو ته او سبب دَ عذاب ئے ذکر کړے دے چه هغه ظلم دے او مراد دَ هغے نه شرک او کفر دے۔

سـ۱۰۳ :- په دیکښ اشاره ده چه خوف دَ عذاب دَ آخرت سبب دَ عبرت

وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ مَّعْدُوْدٍ ﴿۱۰۴﴾

او نه روستو کوؤ دا مګر نیټې لپاره پورې.

يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ

هغه ورځ چه راشي (نیټه) خبرې به نه شي کولے هیڅ نفس مګر په حکم د الله تعالیٰ سره

فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ﴿۱۰۵﴾ فَاَمَّا

نو څوک به د دوی نه بد بخت وي او څوک به نیک بخت وي.

الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ

هغه کسان چه بد بخت وي نو دوی به په اور کښ وي دوی لره

فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ﴿۱۰۶﴾ خٰلِدِيْنَ

په په هغے کښ اسویلي او هینړار وي. همیشه به وي دوی

اخستلو دے د دنیا د عذابونو نه او په یکښ انتقال دے ذکر د تخویف اخروی ته، په دے آیت کښ د آخرت دوه نومونه ذکر کړے دی اول یوم مجموع، دویم یوم مشهود یعنی شهادتونه به په هغے کښ قائم شي نو په اصل کښ مشهود فیه دے.

۱۰۴:- اشاره ده چه د قیامت راتلل د الله تعالیٰ په اختیار کښ دي او د هغے د پاره اجل مقرر دے.

۱۰۵:- په دے آیت کښ ذکر د هیبت د قیامت دے او دا سے په سورة نباء ۳۸ کښ هم ذکر دے. او تقسیم د خلقو دے دوه قسمونو ته اول شَقِيٌّ، او دا دوه قسمه دے کافر مشرک هغه اعلیٰ شقی دے او مؤمن ګنهګار هغه ادنی شقی دے. او دویم سَعِيْدٌ، نیک بخت خلق.

۱۰۶:- فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ....، په یکښ تخویف اخروی دے یوے ډلے ته،

شَقِيٌّ، هغه دے چه نافرمانی د الله تعالیٰ او د رسول نه ئے کړے وي

فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ

په هغې کښې څو پورې چه وی آسمانونه او زمکه (د هغه وخت)

اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ

مګر هغه کسان چه اوغواړی رب ستا، يقيناً ستا رب

فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴿۱۰۷﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

کوونکے د هغه کار دے چه اوغواړی. او هغه کسان

سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

چه نیک بخت کړے شوی دی نو (داول نه) په داخلیږی په جنت کښې همیشه به وی په هغې کښې

مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا

تر څو پورې چه وی آسمانونه او زمکه (د هغه وخت) مګر

يا فاسق وی يا مشرک او کافر وی.

زَفِيْرٌ، ساه راښکلو ته وائی په وخت د غم او د افسوس کښې او شَهِيْقٌ، دغه ساه ويستلو ته وائی چه په زور سره وی. او دا دواړه آوازونه د خرو په آواز کښې ښکاره موجود وی. دا رنګ زفير آواز د مرئ دے او شهيق آواز د سينے دے او زفير سخت آواز دے او شهيق په دمه آواز دے او دا ټول دلالت کوی په ډير غم باندے.

۱۰۷:- آسمانونه او زمکه د قيامت مراد دی په دليل د آيت سورة ابراهيم ۴۸ او هغه آسمانونه او زمکه هميشه به وی.

اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ، نه مراد مؤمنان ګنهګار دی چه معاف نه شی، او جهنم ته به داخل کړی شی څه وخت د پاره او بيا به ئې راوباسی نو دا د خٰلِدِيْنَ فِيْهَا، نه استثناء ده. يا د دينه مراد نور قسمونه د عذاب د جهنم دی سِوا د اور نه لکه زمهرير او خوراک وڅښاک په جهنم کښې. نو دا د النار نه استثناء ده.

اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ، کښې اشاره ده چه په الله تعالیٰ څوک

مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿۱۰۸﴾

مګه کسان چه اوغواړی ستا رب، بخشش دے بے انتها۔

فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ

نو مه کیږه په شک کښې د وجے د هغے نه چه بندګی کوی

هٰٓؤُلَآءِ ؕ مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ

دا کسان، دوی بندګی نه کوی مګر په شان د هغے چه بندګی کوله

اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ

مشرانو د دوی د دینه مخکښې، او یقیناً مونږ به پوره ورکوؤ دوی ته

اعتراض نشی کولے او نه د هغه د ارادے نه خلاف کیدے شی۔

۱۰۸:- پدے آیت کښې بشارت دے۔ سُعِدُوْا، د مجهول په صیغه سره اشاره ده چه سعادت صرف په فضل د الله تعالیٰ سره حاصلیږی۔

اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ، د دینه مراد هغه ګنهګار مؤمنان دی چه معاف نکړے شی نو هغوی به د ابتداء نه جنت ته داخل نکړے شی څه وخت روستو به ئے داخل کړی نو دا استثناء ده د دے لفظ نه فَفِي الْجَنَّةِ، اى يَدْخُلُوْنَ فِي الْجَنَّةِ اِبْتِدَاءً اِلَّا الْمُؤْمِنِيْنَ الْعُصَاةَ۔ یعنی نیک بخت خلق به د اول سر نه جنت ته داخلیږی مګر ګنهګار مؤمنان۔

عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ، کښې اشاره ده چه د اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ دا مطلب نه دے چه جنت نه د داخلیدلو نه روستو به بیا را اوځی یعنی څوک چه یو ځل جنت ته داخل شی نو بیا به ترینه بهر نه را اوځی۔ او دا ښکاره دلیل دے چه جنت او اهل جنت باندے فنا نه راځی۔ او دا حکم د جهنم والو هم دے۔

ع ٩

نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ﴿١٠٩﴾ ع وَلَقَدْ

برخه دَ دوی چه هیڅ نیمګړې به نه وي . او یقینًا

اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ

ورکړې وو مونږ موسیٰ علیه السلام ته کتاب (تورات) نو اختلاف اوکړې شو

فِيْهِ ط وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ

په هغې کښې، او که نه وې بیتېه (دَ عذاب) چه مخکښې مقرر شوې وه دَ طرف دَ

رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ط وَاِنَّهُمْ لَفِيْ

رب ستا نه خامخا فیصله به شوې وه په مینځ دَ دوی کښې، او یقینًا دوی خامخا په

شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿١١٠﴾ وَاِنَّ كُلًّا

شک دی دَ دینه چه کلک شک دے . او یقینًا هر یو دَ دوینه

سنا ١٠٩ :- هر کله چه ویره دَ مشرکینو او بشارت دَ موحدینو ذکر شو نو دَ
هغې نتیجه دا شوه چه شرک باطل دے دَ هغې په بطلان کښې شک
مه کوئ. دَ آیت دوه مطلبه دی. یو دا چه په توحید کښې شک مه کوه
دَ وجې دَ عبادت دَ مشرکینو غیر الله لره ځکه چه دَ دوی دا عبادت دَ
دوی دَ مشرانو په شان بې دلیله دے صرف دَ تقلید په طور سره
دے نو عبارت دا سې دے (فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ فِي التَّوْحِيْدِ مِنْ اَجْلِ
مَا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ).
دویم دا چه شک مه کوه په بطلان دَ عبادت کولو دَ غیر الله کښې
نو مِمَّا په معنیٰ فِيْمَا سره دے او مَا مصدریه دے.
وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ، دا جواب دَ سوال دے هر کله چه دا شرک
باطل او بې دلیله کار دے نو دے مشرکانو ته به روزي او مالونه
وغیره نه ملاویږي لې؟
جواب :- په دنیا کښې دَ دوی حصّه ده په طریقه دَ ابتلاء به دوی
ته ورکیږي شي یا دَ نصیب نه مراد حِصّه دَ دوی ده دَ عذاب نه.
سنا ١١١ :- دا جواب دَ بل سوال دے چه دا شرک باطل او بې دلیله دے

لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ

هر کله (چه پوره ته یه کړیشي په ورځ دَ قیامت) نو پوره به ورکړي دوی ته رب ستا (ربِ له)

أَعْمَالَهُمْ ۚ إِنَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ

دَ عملونو دَ دوی، یقینًا الله تعالیٰ دَ دوی په عملونو

خَبِيرٌ ﴿١١١﴾ فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ

خبردار دے. ټینګ اوسه (په دین) لکه څنګه چه حکم شوی دے تا ته

وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا ۚ

او هغه څوک (هم) چه ګرځیدلی دی (الله تعالیٰ ته) ستا په تابعداری کښې او دَ حد نه مه تیریږئ

نو دوی ته عذاب ولے نه راځی ؟

دَ جواب حاصل دا دے چه دا سے بنی اسرائیلو په کتاب دَ الله کښې اختلاف کړے وو څوک مشرک شول او څوک موحد لیکن عذاب تر بنه روستو شوے وو دَ وجے دَ حکمت الٰهیه نه۔

وَإِنَّهُمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ . یو معنیٰ دا ده چه دغه بنی اسرائیل دَ وجے دَ اختلاف نه په خپل کتاب کښې ډیر شکیان شول۔

دویمه معنیٰ دا ده چه دغه بنی اسرائیل دَ دے اختلاف دَ وجے نه په قرآن کښې شک کوونکی شول ، یعنی اختلاف سبب دَ شک دے۔

سلا :۔ دا جواب دَ بل سوال دے هر کله چه دوی له عذاب په دنیا کښې ورنکړے شو نو آیا دوی به معاف وی ؟

جواب :۔ په ورځ دَ آخرت به هر یو له پوره عذاب او جزاء ورکیږي۔

(ترکیب) كُلًّا ، اسم دے دَ إِنَّ دَ پاره او لَمَّا شرطیه دے شرط ئے پټ دے یعنی يُبْعَثُنَّ او لَيُوَفِّيَنَّهُمْ ئے جزاء ده شرط سره دَ جزاء نه خبر دے دَ ان دَ پاره ، او په بل قراءت کښې لَمًّا په تنوین سره دے په معنیٰ دَ جميعًا نو تاکید دے دَ كُلًّا او ليوفينهم خبر دے دَ إِنَّ دَ پاره۔

إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿۱۱۲﴾

یقینًا الله تعالی په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ لیدونکے دے.

وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا

او مه کږیږئ هغه کسانو ته چه ظلم ئے کړیدے

فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن

نو او به رسیږی تاسو ته اور او نه به وی تاسو لره سوا

۱۱۲:- خلاصه: دَ دے آیت نه تر آخره دَ سورت پورے دریم باب دے
خلاصه ئے دا ده چه په دے کښ تشجیع او تسلی ده رسول صلی الله
علیه وسلم او دعوت کوونکو ته په پنځو امورو سره درے اوامر
او دوه نواهی، بیا سبب دَ عذاب بیان کړے شو. بیا حکم دَ
عذاب دَ روستو کیدلو بیان شو بیا زجر او تخویف دے، بیا
فائدے دَ قصو دَ انبیاؤ بیان شوے ده بیا براءت او آخرئے آیت
خلاصه دَ سورت ده.

تفسیر:- په دے آیت کښ اول امر دَ استقامت دے نبی صلی الله علیه
وسلم ته او بیا امت ته او بیا نهی ده دَ طغیان نه ځکه چه طغیان منافی
دَ استقامت دے. او استقامت دَ الله تعالی په ټولو حکمونو باندے
پوره عمل کول دی په داسے طریقه چه دَ هغے نه یو خوا بل خوا نه
اوړی،

كَمَا أُمِرْتَ، کښ دا فائده ده چه استقامت دَ الله تعالی دَ امر په
مطابق پکار دے دَ پاره دَ دے چه په شرک او بدعت او ناروا کارونو
پوخ او دریدل دَ دینه بهر شی هغه استقامت شرعیه نه دے هغے
ته ضد او تعصب ویلے شی. او استقامت شرعی ډیر ګران کار دے
دَ دے وجے نه دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه رسول
الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه (شیبتنی سورة هود
واخواتها) زهٔ سورة هود او دَ دے پشان سورتونو بوډا کړم.
فائده:- هر کله چه صحابه او نور امتیان په استقامت کښ نبی ته

دُوۡنِ اللّٰهِ مِنۡ اَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنۡصَرُوۡنَ ﴿١١٣﴾

دَ الله تعالیٰ نه هیڅوک. بیا کوم نکی دوستان بیا به مدد نشی کیدے تاسو سره.

وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا

او پابندی کوه دَ مونځونو په دواړه طرفونو دَ ورځې کښې او په اولنی ساعتونو

مِّنَ الَّيۡلِ ؕ اِنَّ الۡحَسَنٰتِ يُذۡهِبۡنَ

دَ شپه کښې، یقیناً ښه عملونه بوځی

السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكۡرٰى لِلذّٰكِرِيۡنَ ﴿١١٤﴾

بدو کره، دا نصیحت دے دَ پاره دَ نصیحت قبلوونکو.

نشی رسیدلے دَ دے وجے نه هغه ئے په طریقه دَ عطف سره ذکر کړل او طغیان نه مراد دَ حد شرعی نه تجاوز کول دی او هغه په شرک او په بدعت او ظلم سره کیږی نو دَ هغے نه ئے منع اوکړه.

۱۱۳:- پدے آیت کښې په استقامت باندے دَ باقی پاتے کیدلو دَ پاره منع اوکړه دَ میلان کولو نه ظالمانو ته او دا دریم ادب دَ داعی دے او دَ دینه مراد دا دے چه مشرکانو مبتدعینو او دهریانو او دنیا پرستو اشرارو سره شرکت په مجلسونو کښې او مخالطت او دوستانه مه کوئ دا سبب دَ عذاب الٰهی دے.

وَلَا تَرۡكَنُوۡۤا اِلَى الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا، رکون، نه مراد دا دے چه ظالمانو طرف ته داسے مائیل شی چه دَ هغوی دَ ګناه اثر په تاکښې ښکاره شی او دَ هغوی دَ ګناه تائید اوکړے شی ځکه چه رکون دلالت کوی په تقویت باندے.

۱۱۴:- پدے آیت کښې امر دَ مونځونو کولو دے په پنځه اوقاتو کښې او دَ هغے دوه فائدے ئے بیان کړیدی او دا څلورم ادب دے.

طَرَفَيِ النَّهَارِ، طرفین، دَ ورځے نه مراد صبا او مازیګر دے او ماسپخین پکښې هم داخل دے ځکه چه طرف دلته نصف ته وئیلے کیدے شی. او زُلَفًا، کښې ماښام او ماسخوتن داخل دی.

وَاصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ
او صبر کوه نو یقیناً الله تعالیٰ نه بربادوی ثواب
الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ
دَ خائسته عمل کوؤنکو۔ نو ولې نه وو دَ هغه پیړو نه
مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُوا بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ
چه ستاسو نه مخکښ وې بوهې والا خلق چه منع ئې کوله
عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا
دَ گناهونو نه په زمکه کښ مګر لږ کسان

زلف نزدیکت ته وائی یعنی هغه حصّې دَ شپې چه ورځ ته نزدې وی اول دا چه نمر پټ شی هغه ماښام دے دویم دا چه شفق پټ شی دا ماسخوتن دے۔

إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ، په دیکښ اوله فائده ذکر کوی هغه دا چه مونځونه په خائسته طریقه کولو سره ګناهونه معاف کوی او دَ ګناهونو نه بچ کول کوی او دَ بدو صفتونو او نومونو نه ساتنه کوی۔

ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ، دا دویمه فائده ده چه مونځ کوئ دا ذکر دے او دَ نصیحت دَ پاره مجموعه ده او دَ یادداشت دَ الله تعالیٰ دَ پاره ذریعه ده او ذَٰلِكَ، ما قبل ته په تاویل دَ مذکور سره راجع دے۔

۱۱۵:۔ په دے آیت کښ پنځم ادب ذکر دے او هر کله چه دا ټول صفتونه په انسان کښ جمع شی نو هغه ته محسن وائی۔ دَ دے وجه نه په المحسنین سره ئې ختم کړو۔

مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ وَاتَّبَعَ

دَ هغه کسانو نه چه بچ کړل مونږ هغوی دَ دوینه ، او او لګیدل

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا

هغه کسان چه ظلم ئې کړے وو (په مینه) دَ هغه مال کښ چه مست کړے شوی وو

فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ وَمَا كَانَ

په هغے کښ او دوی وو جرمونه کوونکی ۔ او نه دے

رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ

ستا رب چه هلاک کړی کلو والا په وجه دَ ظلم دَ هغوی

وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَلَوْ شَآءَ

او حال دا چه اوسیدونکی دَ هغے اصلاح کوونکی وی ۔ او که غوښتلے

۱۱۶ :۔ هر کله چه تیر شوے آیاتونو کښ دَ دعوت کوونکی ذمه واری ئې ذکر کړه نو په دے آیت کښ دَ دعوت دَ پریخودلو ناکاره نتیجه ذکر کوی چه سبب دَ عذاب دے یعنی په تیر شوے قومونو عذابونه دَ دے وجے نه راغلل چه دَ هغوی هوښیارو خلقو نهی عن المنکر نه کوله او کومو بزرو کسانو چه کوله هغه الله تعالی دَ دوی نه بهر ویستل دَ عذاب نه وهلی دے ۔

اُولُوْا بَقِيَّةٍ ، په معنی دَ خیر او فضل (علم) او اصحاب الرای دے ۔

وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ، دا دویم سبب دَ عذاب دے ۔

اُتْرِفُوْا ، اتراف ، په مال ارئ کښ دَ حد نه ور تیریدلو ته وئیلے شی مراد تری نه دُنیا پرستی او تکبر کول دی او هغه سبب دے دَ پاره دَ جرمونو ۔

۱۱۷ :۔ په دے آیت کښ ئې دَ دعوت کولو فائده ذکر کړه ځکه چه مصلحین نه مراد دعوت دَ حق کوونکی دی یعنی عادت الهیه جاری دے چه څو پورے په یو کلی کښ دعوت کوونکی موجود وی نو هغه کلی له دَ هغوی دَ شرک وغیره په وجه بانده عذاب نه ورکوی دا سے په سورة انعام ۱۳۱ کښ هم تیر شوی دی ۔

رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً

ستا رب خامخا گرځولے به ټے وے خلقو لره یوه دِله

وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِلَّا مَنْ

او همیشه به دوی اختلاف کوونکی وی۔ مګر هغه څوک

رَّحِمَ رَبُّكَ ۭ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ۭ

چه ستا رب په هغوی رحم اوکړی، او د دے د پاره ئے دوی پیدا کړی دی،

وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ

او پوره شویده فیصله د رب ستا خامخا به ډک کړم

جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾

جهنم لره د پیریانو نه او انسانانو نه په یو ځائے۔

---

نو د وَاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ، نه مراد بعضِ اهل دی یعنی دعوت کوونکی د حق او بعضو مفسرینو لیکلی دی چه مراد د اهل نه کافران دی او مراد مصلحون نه اصلاح کول د معاملاتو دی یعنی دا چه صرف په شرک باندے عذاب استیصالی نه ورکوی تر د ے پورے چه هغوی ظلمونه شروع کړی۔

۱۱۸:- په دے آیت کښ اشاره ده دے ته چه د مصلحینو کار د الله تعالٰی د مشیت نه بغیر فائده نشی ورکولے هر کله چه الله تعالٰی اراده نده کړے چه ټول خلق به په یو دین جمع شی د دے وجے نه خلق په مختلفو دینونو او ډلو کښ تقسیم شوی دی او مراد د دے اختلاف نه اختلاف د باطل پرستو دے په کوږنئ کښ چه هره ډله په باطله باندے وی۔

۱۱۹:- د دینه مراد مؤمنان مؤحدین دی چه په دوی کښ اختلاف د عقیدے او اصولی اختلاف نشته او فرعی اختلاف په حقیقت کښ اختلاف نه دے بلکه وسعت او فراخی ده۔

اِلَّا مَنْ رَّحِمَ رَبُّكَ، مراد د رحمت نه توفیق د هدایت او د

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ الرُّسُلِ

او هر یو لره بیانوؤ مونږ په تا باندے دَ خبرونو دَ رسولانو نه

مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ

هغه چه کلکوؤ په هغې سره زړه ستا او راغلی دے تا ته

فِي هَٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ

په دے قصو کښ حق بیان او نصیحت او یاداشت

لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَقُلْ لِّلَّذِينَ

دَ پاره دَ مؤمنانو. او اووایه هغه کسانو ته

حق دے.

وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ، اشاره ده اختلاف او رحمت دواړو ته یعنی څوک ئے دَ اختلاف دَ پاره او څوک ئے دَ رحمت دَ پاره پیدا کړی دی او په دیکښ اشاره ده تقدیر ته.

لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ. یعنی بغیر دَ جن او انس نه پکښ بل څه نه اچوی.

لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ. دا تفسیر دَ کلمة دے او دا دلیل دے چه دَ جهنم او دَ جنت دَ پاره دَ انسانانو او دَ جناتو تقدیر دَ وړاندے نه شوے دے او په دیکښ ډیر احادیث صحیح راغلی دی.

او مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ، نه مراد هغه مختلفین دی چه په حق کښ اختلاف کړے دے او هر یو په باطل دین باندے دے.

١٢٠:- هرکله چه مخکښ آیت کښ اختلاف او بیا تخویف بیان شو نو په دے آیت کښ دفع دَ عذر دَ خلقو کوی په رالیږلو دَ رسولانو سره او په دے آیت کښ ئے دَ قِصّو دَ رسولانو څلور فائدے بیان کړی دی.

مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ، اول تثبیت دَ زړه په ذکر دَ مصائبو دَ انبیاؤ سره.

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ اعۡمَلُوۡا عَلٰى مَكَانَتِكُمۡ ط

چه ایمان نه لري عمل کوئ تاسو په خپله طریقه باندے،

اِنَّا عٰمِلُوۡنَ ﴿۱۲۱﴾ وَانۡتَظِرُوۡا ۚ اِنَّا

یقینًا مونږ هم عمل کوؤ په خپلے طریقے سره. او انتظار کوئ مونږ

مُنۡتَظِرُوۡنَ ﴿۱۲۲﴾ وَلِلّٰهِ غَيۡبُ السَّمٰوٰتِ

هم انتظار کوؤنکی یو. او خاص الله تعالی لره دے (علم او اختیار) د پټو څیزونو د آسمانونو

وَالۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ يُرۡجَعُ الۡاَمۡرُ

او د زمکے او خاص هغه ته گرځولے به شی کارونه

كُلُّهٗ فَاعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِ ط

ټول نو بندگی کوه خاص د الله تعالی او ځان اوسپاره په هغه باندے،

دویم. وَجَآءَكَ فِيۡ هٰذِهِ الۡحَقُّ، یعنی توحید او صحیح عقیدے او اعمال.
دریم وَمَوۡعِظَةٌ، یعنی تخویف او زجر د منهیاتو نه.
څلورم ذِكۡرٰى، یعنی آداب او طریقے د دعوت کولو او نور نصیحتونه اخستل
او هر کله چه پدے سورت کښ دا قصے تیرے شوے دے نو ځکه ئے دلته
د هغے فائدے ذکر کړے.

۱۲۱، ۱۲۲. روستو د تفصیلی بیان نه او د فائدو د قصو نه اعلان د
براءت دے.
مَكَانَتِكُمۡ. طریقے ته وائی یا تمکن او طاقت ته وئیلے شی.
وَانۡتَظِرُوۡا. مراد د دینه انتظار د عاقبت د هر عمل دے.

ع ۱۰

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

او نه دے ستا رب غافل دَ هغه عملونو نه چه تاسو يئے کوئ۔

س ۱۲۳۔ په دے آيت کښ اعاده دَ مقاصدو دَ دے سورت ده په اولو دواړو جملو کښ رد دَ شرک فی العلم او شرک فی التصرف دے په دريمه جمله کښ رد دَ شرک فی العبادت دے په څلورمه جمله کښ تشجيع ده او په پنځمه جمله کښ تسلی ده۔

(تمت سورة هود)

| سورة یوسف مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتها ۱۱۱ رکوعاتها ۱۲ |
|---|---|---|

خاص په نوم دَ الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښ چه رحمٰن او رحیم دے

# الٓرٰ قف تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ

الله تعالیٰ دَ دے په مراد ښه پوهیږی، دا آیتونه دَ دا سے کتاب دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سورة یوسف

ربط ۱:- ربط دَ سورة یوسف دَ سورة هود سره دا دے چه په سورة هود کښ ذکر دَ مصیبتونو دَ پردو خلقو دَ طرف نه په دعوت کوونکی دَ توحید باندے وو- او په دے سورت کښ ذکر دَ مصیبتونو دے دَ ورونړو دَ طرف نه په داعی دَ توحید باندے۔

ربط ۲:- دا سورت تفصیل او تفسیر دے دَ آخری آیت دَ سورة هود په ذکر دَ حالاتو دَ یعقوب علیه السلام او یوسف علیه السلام او ورونړه دَ هغه۔

دعوای دَ سورت:- دَ دے سورت درے دعوے دی- اوله دعوی دا چه ثابتول دَ توحید دی په پنځو طریقو سره۔

اوله طریقه:- رد دَ شرک په علم کښ، یعنی چه یعقوب علیه السلام عالم نه وو دَ ځامنو په مکرونو او نه په حال دَ یوسف علیه السلام په کوهی کښ، او نه په جیل کښ، او نه په حال دَ عزت او اقتدار کښ دَ ۸ آیت نه تر ۱۱ پورے- او په ۱۵ آیت او ۸۷ آیت کښ۔

دویمه طریقه:- دَ رد دَ شرک دی په تصرف کښ چه یعقوب علیه السلام هیڅ ضرر نه شو دفع کولے نه دَ یوسف علیه السلام نه او نه دَ نورو ځامنو نه ۱۸، ۲۱، ۳۹، ۴۰، ۶۷، ۱۰۱۔

دریمه طریقه رد دَ شرک دے په بندګۍ کښ ۴۰ آیت۔

څلورمه طریقه رد دے په ټولو اقسامو دَ شرک باندے ۱۰۶، ۱۰۸۔

الْمُبِيْنِ ① إِنَّآ أَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا

چه صفا صفا بیان کوی۔ یقیناً مونږ نازل کړی دے دا کتاب په واضحه ژبه

لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ② نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ

د پاره د دے چه تاسو پوهه شئ۔ مونږ بیانوو په تا باندے

پنځمه طریقه ذکر د پنځلس اسماء حسنیٰ د الله تعالیٰ دے۔

دویمه دعویٰ:۔ رېښتونوالے د رسول ثابتول دی په دوو طریقو سره۔

اوله طریقه، په ذکر د وحی سره دے نبی علیه السلام ته ۳ آیت کښ۔

دویمه طریقه دا چه نبی علیه السلام حاضر ناظر نه وو ۱۰۲ آیت کښ۔

دریمه دعویٰ:۔ تسلی ورکول دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په بیان د صبر د یعقوب علیه السلام او د یوسف علیه السلام په تفصیل د دے واقعے سره او په آیت ۱۱۰ کښ هم۔

خلاصه د سورت:۔ تمهید تر اووم آیت (۷) پورے دے اول رېښتونوالے د قرآن د پاره د ترغیب ۱، ۲ کښ۔ دویم ذکر د صدق د رسول ۳ کښ۔ او دریم ذکر د سبب د واقعے د یوسف علیه السلام دے چه هغه خوب لیدل د هغه دی او د پلار د طرف نه د هغے ادب او د هغے نتیجے ذکر کول دی په ۴، ۵ او ۶ کښ۔

تفسیر:۔ ۱:۔ په دے آیت کښ بیان د صدق د کتاب الله دے۔ او مراد په الْمُبِيْنِ، سره دا دے چه پخپله هم واضح دے او وضاحت کوونکے دے د حق او د باطل، او تِلْكَ، کښ اشاره ده دے سورت ته۔

۲:۔ په دے آیت کښ هم ذکر د صدق د قرآن دے په دریو طریقو سره. اول دا چه الله تعالیٰ نازل کړے دے أَنْزَلْنٰهُ، دویم دا چه جمع کړے شوے دے قُرْءٰنًا، ځکه چه قرآن مجموع ته وائی او دا رنګ لوستلو د پاره دے او دریم دا چه واضح بیان والا دے عَرَبِيًّا، ځکه چه عربی په اصل کښ واضح ته وائی او په دے

أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ

ډیر ښائسته بیان په دے وجه چه موږ وحی شروع کړیده تا ته

هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۖ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ

دَ دے قرآن . اګر چه ته وے دَ دے دَ راتلو نه مخکښ

لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝۳ إِذْ قَالَ يُوسُفُ

دَ بے خبرو نه . هر کله چه اُوئیل یوسف علیه السلام

آیت کښ ذکر دَ فائدے دَ انزال دَ قرآن دے په لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ، سره، مراد دَ دے دا دے چه ځان پوهه کړئ په حقانیت دَ قرآن او په معنیٰ دَ ده او په حکمتونو دَ ده.

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا، دا دلیل دے په دے خبره باندے چه په قرآن کښ عجمی الفاظ نشته ځکه که عجمی پکښ وے نو معلومه به شی چه الله تعالیٰ په دغه ځائے کښ دَ عربی لفظ نه عاجز وو او دَ عجز نه خو الله تعالیٰ پاک دے او کوم چه دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه قسطاس، سجل وغیره الفاظ عجمی دی دَ هغے مقصد دا دے چه دا الفاظ دَ عربو نه عجمو زده کړل او بیا عربو نه استعمالول او په عجمو کښ مشهور شول.

۳:. په دے آیت کښ بیان دَ صدق دَ رسول دے او دیته احسن القصص په دے وجه وائی چه په دے قصه کښ حکمتونه او احکام او مسائل بے شماره دی. او دَ بعضے تفصیل دا دے. دَ عقیدے مسائل پکښ دا دی. ع۱ انبیاء علیهم السلام غیب دان نه دی. ع۲ دوی دَ خپل اولاد نه او دَ بل چا نه هم هیڅ تکلیف نشی دفع کولے. ع۳ دَ الله تعالیٰ دَ قضا او دَ قدرت خوک مقابله نشی کولے. ع۴ دَ عام مشرکینو تردید په رد دَ شرک فی العبادت ع۵ شرک فی الاسماء والصفات، ع۶ شرک فی التصرف. ع۷ شرک فی الربوبیت سره، ع۸ او اختلاط دَ شرک ایمان برباد وی. دَ عمل صالح مسائل پکښ دا دی: ع۹ صبر کول. ع۱۰ دَ الله تعالیٰ

# لِاَبِیۡهِ یٰۤاَبَتِ اِنِّیۡ رَاَیۡتُ اَحَدَ عَشَرَ

خپل پلار ته اے پلاره یقیناً ما اولیدل رپه خوب کښں) یوٌلس

نه مدد غوختل، ع۱۱ په معصیت باندے مصیبت غوره کول ع۱۲ دَ معصیت نه په الله تعالیٰ سره پناه غوختل۔ ع۱۳ دَ معصیت نه تیخته کول۔ ع۱۴ دَ خپل ځان نه بد نامه دفع کول ع۱۵ دَ الله تعالیٰ په خودلے شوے تدبیرونو عمل کول ع۱۶ دَ صالح اولاد سره محبت کول او دَ هغه حتی الوسع حفاظت کول۔

ناکاره اعمال او دَ هغے ناکاره نتیجے پکښں دا ذکر دی ع۱۷ حسد کول او عاقبت ئے ناکامی، ع۱۸ دَ پلار سره کیں او مکر کول، ع۱۹ پلار ته دروغ بهانے کول۔ ع۲۰ دَ ورور سره کیں کول ع۲۱ ورور ته تکلیف ورکول او په هغه باندے ظلم کول ع۲۲ دَ بچو مکرونه کول دَ ناربنو سره ع۲۳ او په کورنئ کښں یو بل باندے طعنونه وئیل ع۲۴ دَ پردی سره عشق کول ع۲۵ او دَ هغه نه دَ بد کارئ طلب او کوشش کول، ع۲۶ په دروغه باندے ژړا کول ع۲۷ دَ چا دَ دهوکه کولو دَ پاره حیلے جوړول ع۲۸ آزاد خلق خرڅول۔

نیک اخلاق پکښں دا دی:۔ ع۲۹ دَ مولی سره ښه اخلاق چلول او دَ هغه احسانات منل، ع۳۰ دَ هغه په کور کښں دَ خیانت کولو نه ځان بچ کول، ع۳۱ عفت کول، ع۳۲ دَ جیل دَ ملګرو سره احسانونه کول ع۳۳ هغوی ته دَ حق دعوت ورکول ع۳۴ خطائی کوونکو ته معافی کول ع۳۵ په تقسیم کښں دَ خیانت نه ځان بچ کول ع۳۶ دَ غیر مجرم دَ سزا نه ځان ساتل ع۳۷ مجرم مخالف نه ملامته کول ع۳۸ دَ هغه دَ پاره استغفار غوختل۔

مختلف احوال او اقسام دَ اشیاؤ:۔ ع۳۹ خوبونه لیدل او دَ هغے اقسام ع۴۰ دَ کیں ورو اقسام ع۴۱ دَ محبت کولو اقسام۔ ع۴۲ دَ ژړا کولو اقسام ع۴۳ دَ نفس اقسام ع۴۴ دَ عقل والو اقسام، بشر، ملک شیطانان ع۴۵ دَ آبادو اقسام مصر، بدو، غیابت الجب ع۴۶ دَ قیمتونو اقسام ثمن، بضاعه، دراهم۔ ع۴۷ دَ لوښو اقسام سقایه،

كَوْكَبًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ

ستوري او نمر او سپوږمۍ اوم لیدل

لِي سٰجِدِيْنَ ④ قَالَ يٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ

دوی ما ته خکته کیږ ونکي وو - اوئیل هغه اے بچیه مه بیانوه

صواع، وعاء، کیل. ع۴۸ دَ رنړا والا اشیاؤ اقسام، شمس، قمر کواکب.

دَ عدد بعضِ اقسام: ع۴۹ سبع، احد عشر ع۵۰ دَ حیواناتو اقسام ذئب، بقر، طیر، بعیر ع۵۱ دَ خوراک څښاک دَ څیزونو اقسام. خبز، خمر، ستبلات. ع۵۲ دَ قافلو انتظام، سیاره، وارد. ع۵۳:- دَ اوقاتو ذکر غد، عشاء.

دَ سیاست او دَ تاریخ ذکر:- ع۵۴ ملک. ع۵۵ عزیز ع۵۶ وزیر خزائن ع۵۷ طریقه دَ تقسیم دَ راشن. ع۵۸ دَ خپلوانو سره احسان کول ع۵۹ سبب دَ انتقال دَ بنی اسرائیلو دَ شام نه مصر ته.

دَ دینه علاوه نور هم ډیر حکمتونه او فائدے چه په تدبر سره معلومیږي. او دَ الله تعالی دَ حکمتونو انتها نشي کیدے.

لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ، دا دلیل دے چه علم دَ نبی صلی الله علیه وسلم په ذریعه دَ قرآن او دَ وحی سره دے بله ذریعه نه وه.

۳:- په دے آیت کښ ذکر دَ خوب لیدلو دَ یوسف علیه السلام دے چه هغه سبب دَ روستو واقعے اوګرځیدو. لفظ دَ رَأَيْتُ، دوه کرته استعمال دے. اول متعلق دے دَ ذات دَ ستورو سره او دویم متعلق دے دَ هغوی دَ حال سره.

أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا، په یوولس ستورو کښ اشاره ده ورونړو دَ یوسف علیه السلام ته ځکه چه ستوري کښ رنړا کمه وی نو دا رنګے په دوی کښ پس دَ توبے ویستلو نه لږ نور دَ هدایت راغلے وو.

او په وَالشَّمْسَ کښ اشاره ده پلار ته، لکه څنګه چه رنړا دَ

رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ

داخوب دِ ورونړو ته نو څه چل به جوړ کړي ستا دَ ضرر دَپاره

كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطَٰنَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ

چل ، یقیناً شیطان دَ انسان دَپاره دشمن

مُّبِينٌ ﴿٥﴾ وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ

ښکاره دے ۔ او دغسې به غوره کوی تا لره ستا رب

شمس کامله وی نو دغه رنګ نور دَ نبوت کامل دے۔
او په وَالْقَمَرَ ، کښې اشاره ده موز دَ یوسف علیه السلام ته لکه څنګه چه رنړا دَ سپوږمۍ درمیانه وی نو دغه رنګ نور دَ ولایت دَ مور دَ یوسف علیه السلام درمیانه وُو ، او بعضو علماؤ برعکس وئیلی دی ځکه چه شمس مؤنث دے او قمر مذکر دے لیکن دلته اعتبار په باره دَ رنړا کښې دے نه په اعتبار دَ الفاظو سره نو اول قول غوره دے۔
ف :- په دے آیت کښې ادب خودل دی یوسف علیه السلام ته په باره دَ خوب دَ هغه کښې چه دا خوب پټ اوساته۔ او په دے کښې اشاره ده دے ته چه یعقوب علیه السلام په تعبیر دَ دے خوب باندے پوهه شوے وُو او په دے آیت کښې ډیرے فائدے دی۔
فائده ۱ :- بعضے خوبونه پټ ساتل پکار دی۔
فائده ۲ :- په هر مسلمان باندے لازم دی چه خپل مسلمان ورور له تنبیه ورکړی دَپاره دَ ځان بچ کولو دَ ضرر نه۔
فائده ۳ :- هر کله چه دَ یو انسان نه ویره کیدے شی په باره دَ یو ضرر کښې نو دَ هغے ذکر کول بل چاته جائز دی او دا غیبت نه دے۔ ځکه چه په دے کښې مقصود بالذات توهین دَ هغه سړی نه دے بلکه تنبیه نورو ته مقصد دے۔
فائده ۴ :- ورونړه دَ یوسف علیه السلام انبیاء نه وُو ځکه چه حسد کول او مکرونه کول کبیره ګناهونه دی۔ او انبیاء علیهم السلام

وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ

او ښائي به تاته د حقيقت د خبرونه (د مخکنو انبياؤ او د وحي نه)

وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ

او پوره به کړي خپل احسان په تا باندے او په اولاد

يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ

د يعقوب عليه السلام باندے لکه چه پوره کړے ئے احسان ستا په نيکونو

مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ط

د دينه مخکښ چه ابراهيم او اسحاق عليهم السلام وو،

اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٦﴾ ع لَقَدْ كَانَ ع ١١

يقيناً ستا رب په هر څه پوهه او حکم والا دے. په تحقيق سره شته

د ګناهونو نه پاک وي او په دے باندے تفسير ابن کثير او تفسير قرطبي تصريح کړے ده.

ﻫﮯ:- په دے آيت کښ تسلي ورکول دي د يعقوب عليه السلام يوسف عليه السلام ته په درے څيزونو سره.

اول څيز:- اجتباء او مراد په اجتباء سره غوره کول د يوتن دي د پاره د لويو کارونو چه هغه دعوت د توحيد دے او صبر دے په تکاليفو.

دويم څيز:- تعليم دے د تاويل الاحاديث. په تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ، کښ دوه تفسيره دي اول دا چه مراد د دينه تعبير د خوبونو دے په ذريعه د وحي سره او دا معجزات دي، دويم دا چه مراد د دينه دليلونه د توحيد او واقعات د امتونو مخکنو دي.

دريم څيز:- اتمام د نعمت دے او مراد د دينه وحي او نبوت دے او مراد په آل يعقوب سره بني اسرائيل دي ځکه چه په هغوي کښ ډير پيغمبران راليږلي شوي دي.

# فِیْ یُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰیٰتٌ لِّلسَّآئِلِیْنَ ﴿۷﴾

په قصّه د یوسف او د ورونړو د هغه کښ عبرتونه د تپوس کوونکو د پاره.

وَکَذٰلِکَ ، د پاره د تشبیه ده مشبه به دغه خوب دے چه بیان شو یا کاف په معنیٰ د لام تعلیلیه سره دے.

اٰبَوَیْکَ ، دا دلیل دے چه د اب په نیکونو باندے اطلاق کیږی یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام.

ف:۔ په دے آیت کښ اشاره ده هغه فائدو ته چه موجود دی په واقعه د یوسف علیه السلام کښ.

په اٰیٰتٌ لِّلسَّآئِلِیْنَ ، کښ دوه تفسیره دی اول تفسیر دا دے چه مراد د سائلین نه د مکے مشرکان دی ځکه چه هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس کړے وُو په خود ته د یهودیانو سره چه د بنی اسرائیلو اصلی وطن شام وُو نو د موسیٰ علیه السلام په وخت کښ په مصر کښ څنګه اوسیدل.

نو حاصل د جواب دا دے څنګه چه ورونړو د یوسف علیه السلام د حسد د وجے نه یوسف علیه السلام لره د مک نه او ویستو او په کوهی کښ درے ورځے پاتے شو او بیا بادشاهئ ته اورسیدو او بیا ورونړو ترے معافی اوغوښته او هغه او فرمائیل چه لَا تَثْرِیْبَ عَلَیْکُمُ الْیَوْمَ ، او دوی د هغه تابع شو. نو دا رنګے به مکے والا دا نبی د کلی نه اوباسی او په غار کښ به درے شپے کوی او بیا به دا نبی غالب کیږی او دوی به ترینه معافی غواړی. او هغه به جواب کوی چه لا تثریب علیکم الیوم او دوی به د هغه تابع شی او هم دغسے په فتح مکه کښ اوشول.

دویم تفسیر دا دے چه مراد د سائلین نه هغه خلق دی چه تحقیق کوی په واقعه د یوسف علیه السلام کښ او د هغے نه عبرتونه او حکمتونه او ډیرے مسئلے را اوباسی.

إِذْ قَالُوا لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ

هر کله چه دوی اُوئیل خامخا یوسف او د هغه ورور (بنیامین) زیات خوښ دے

إِلَىٰ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ط

زمونږ پلار ته زمونږ نه او مونږه پوره ډله یو،

إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨﴾

یقینًا زمونږ پلار خامخا په ساده ګئ ښکاره کښ دے۔

ت:۔ د دے آیت نه قصه د یوسف علیه السلام تفصیلاً شروع کیږی او هغه په دولس مقاماتو تقسیم ده اول مقام تر آیت ۱۸ پورے دے۔

خلاصه :۔ پدے مقام کښ ذکر کیږی مکرونه کول د ځامنو د پلار سره په باره د یوسف علیه السلام کښ په پنځو طریقو سره۔ اول غائبانه مشوره کول، دویم د پلار مخامخ د مکر خبرے کول، دریم په کوهی کښ ورغورځول، څلورم په دروغه ژړا کول، او پنځم په قمیص په دروغه وینه لګول، او پدے ټولو کښ ابتلاء ده په یعقوب علیه السلام او په یوسف علیه السلام باندے۔

تفسیر :۔ پدے آیت کښ طعن کول د ځامنو دی په یعقوب علیه السلام باندے په زیات محبت کولو د یوسف او د هغه د ورور سره۔ او حکم کول دی په پلار باندے د یقینی غلطئ۔ او دا دواړه ګناهونه کبیره دی۔ زیات محبت د یعقوب علیه السلام د یوسف علیه السلام سره د وجے د هغه خوب نه وو چه هغے دلالت کوؤ د یوسف علیه السلام په کمال باندے۔ او مراد د ضلال نه ضلال د دین نه دے ځکه چه نبی ته د دینی ګمراهئ نسبت کول کفر وی لکه قرطبی او مدارک لیکلی دی بلکه مراد د دینه غلطی د تدبیر او ساده ګئ ده او دا تفسیر قرطبی ذکر کړیدے پدے آیت کښ دلیل دے چه حسد انسان لره د پلار په بے عزتئ کولو اماده کوی۔

اقْتُلُوا يُوسُفَ اَوِاطْرَحُوهُ اَرْضًا

او وژنئ یوسف علیه السلام لره یا یې اوغورځوئ یو ملک ته

يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ اَبِيْكُمْ وَتَكُوْنُوا

نو خالي به شي تاسو ته مخه د پلار ستاسو او شئ به تاسو

مِنْ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۝٩

د دینه روستو قوم (خلق) نیکان (توبه به اوکړئ) -

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا

اووئیل یو ویونکي د دوی نه مه وژنئ

يُوسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ

یوسف لره او واچوئ هغه لره په ده د کوهي کښې

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ اِنْ كُنْتُمْ

او به موندې هغه لره بعضې قافلې والا که تاسو

س :- په دې آیت کښې ذکر د مشورې د وروڼو د یوسف علیه السلام دے د پاره د ورکولو د یوسف علیه السلام د پاره د دې چه حاصل کړي دوی مینه او توجه د پلار خپل، په دې آیت کښې دلیل دے په دې خبره چه په باطلې طریقې سره جائز څیز حاصلول غلط کار دے دویم دلیل دے په دې خبره چه ګناه کول په دې اراده سره چه وروستو به توبه اوباسم جائز نه دي۔

وَجْهُ، په معنیٰ د توجه دے یا په معنیٰ د ذات دے۔

مِنْ بَعْدِهٖ، ضمیر قتل او طرح (غورځول) ته راجع دے او دا دلیل دے چه حسد انسان لره په قتل د بل انسان بلکه د ورور او د هغه په ورکولو باندې اماده کوي۔

قَالَ قَآئِلٌ مِّنۡهُمۡ ... فٰعِلِيۡنَ ⑩ قَالُوۡا يٰۤاَبَانَا مَا لَكَ

داسے کوونکی یئ (نو اوکړئ)۔ دوی اوئیل اے پلاره زمونږ څه وجه ده چه ته

لَا تَاۡمَنَّا عَلٰى يُوۡسُفَ وَاِنَّا لَهٗ

په مونږ باندے اعتبار نه کوے په باره د یوسف کښ او یقینًا مونږ د ده

لَنٰصِحُوۡنَ ⑪ اَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدًا

خامخا خیر خواه یو۔ دے اولیږه زمونږ سره صبا

سـ١٠ :- په دے آیت کښ یئے ذکر کړے ده رائے د مشر ورور د یوسف علیه السلام چه قتل کول ډیر ظلم دے او بل ملک ته بوتلل ګران کار دے نو فیصله یئے اوکړه په دریمه خبره چه د لارے په غاړه په یو کوهی کښ یئے داسے اوغورځوئ چه مړ نه شی او واپس هم نه شی راوتلے او یو قافلے والا به یئے ځان سره بوځی۔

فِیْ غَیٰبَتِ الْجُبِّ ، جُب ، کوهی ته وائی ، غَیٰبَتِ ، ډډ کمر ته وائی، غیابه هر پټ ځائے ته هم وئیلے شی مراد د دینه دا دے چه په اوبو سره د کوهی په بیخ کښ کمر او خوړلے شی او ډډ جوړ شی چه د نظر نه پټ وی او د اوبو نه بره وی۔

او یَلْتَقِطْهُ ، دلالت کوی په مسائلو د لقیط او لقطه باندے چه د هغے تفصیل په کتابونو د حدیث او فقهے کښ موجود دے۔ او دا دلیل دے چه حسد انسان لره په تکلیف ورکولو خپل ورور ته اماده کوی۔

سـ١١ :- په دے آیت کښ بیان د مکر د دوی دے د پلار مخامخ۔ او وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ، دلالت کوی په دے خبره چه دوی یقینًا دروغژن وو۔ د دے وجے نه یئے زیات تاکید ونه کول دا دلیل دے چه حسد انسان لره په دروغو وئیلو اماده کوی۔ ابن اسحاق وئیلی دی چه د دوی دا کار په ډیرو ګناهونو باندے مشتمل وو صله رحمی قطع کول، نافرمانی د مور او پلار، په وړوکی شفقت

يَّرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحٰفِظُوْنَ ﴿١٢﴾
چه خوراک اوکړي او لوبې اوکړي او يقيناً مونږ د ده خائخوئي کوونکي يو.

قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِيْٓ أَنْ تَذْهَبُوْا
اوئيل پلار يقيناً خفه کوي ما لره تاسو چه بوځئ زمانه

بِهٖ وَأَخَافُ أَنْ يَّأْكُلَهُ الذِّئْبُ
دے او يريږم چه او به خوري ده لره شرمخ

وَأَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ﴿١٣﴾ قَالُوْا
او تاسو به د ده نه ناخبره يئ. اوئيل دوي

نه کول، په امانت کښې غدر کول، د عهد نه خلاف کول دروغ وئيل دا ټول د حسد نتيجه وه.

سلا:- په دے آيت کښې طلب کول د دوي دي يوسف عليه السلام لره د پلار نه د پاره د دے چه صحرا ته ئے بوځي.

يَرْتَعْ، رتع په اصل کښې څريدلو ته وئيلے شي يعني د صحرا ميوے کرکنړے، ممانړے وغيره خوړل مراد دي.

وَيَلْعَبْ، کښې اشاره ده چه مباح لوبے کول په شرع کښې جائز دي. او په دے کښې د دوي حيله ذکر ده چه په هغے سره خپل مقصد حاصل کړي.

وَإِنَّا لَهُ لَحٰفِظُوْنَ، دا هم دروغ وائي او وعده کوي په نيت د غدار سره.

سلا:- په دے آيت کښې ذکر د حزن د يعقوب عليه السلام دے په جدائي د يوسف عليه السلام او ذکر د خوف د هغه دے په هلاکت د يوسف عليه السلام په دے احتمال سره چه شرمخ به ئے اوخوري ځکه چه صحرا کښې شرمخان ډير وي، دا دليل دے چه انبياء عليهم السلام بانده هم حزن او خوف د دنيا راځي او دا د اسبابو د لاندے وي.

لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ
که چرے اوخوړو دے شبرمخ او حال دا چه مونږ
عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ (١٤) فَلَمَّا
پوره ډله یو نو یقینًا مونږ به دغه وخت تاوانیان یو۔ نو هرکله چه
ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ
دوی هغه لره بوتلو او ټینګه اراده ئې اوکړه چه واچوی هغه لره
فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ
په ډډ دَ کچه کوهی کښې او وحی اوکړه مونږ هغه ته
لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ
خامخا خبر به ورکړے دوی ته (یو ورځ) دَ دوی دَ دے کار او دوی

١٤ :- په دے آیت کښې تاکید کول دی دَ ورونړو دَ یوسف علیه السلام په باره دَ حفاظت دَ هغه کښې او دا جواب دے دَ دویم قول دَ یعقوب علیه السلام او دَ اول قول جواب ئې ځکه اونکړو چه بوتلل دَ هغه خو خامخا دَ دوی عزم او اراده وه هغه خو دوی ضرور کولو۔

وَنَحْنُ عُصْبَةٌ، عصبه، کلک جماعت ته وئیلے شی چه کم از کم لس کسان وی۔ او دوی هم سِوا دَ بن یامین نه لس وو۔

لَخٰسِرُوْنَ، کښې اشاره ده چه مونږ کهے بیزے په صحرا کښې خوروی او شرمخان نشو دفع کولے نو بیا خو به ډیر تاوان والا شو خو داسے نه ده نو دَ ورور نه خامخا ضرر دفع کولے شو۔

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ

نه پوهیدل - او راغلل دوی پلار ته

عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ﴿۱۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ

د ماښام په تیاره کښې ژړا یې کوله- دوی اوئیل اے پلاره زمونږه

۱۵:- په دے آیت کښې ذکر دے د اتفاق کولو د ورونړو د یوسف علیه السلام په غورځولو د هغه په کوهي کښې ، نو دا دلیل دے په دے خبره چه اتفاق د ډیرو کسانو سره ګناه کول نه جائز کیږي.
فَلَمَّا ذَهَبُوْا بِهٖ ، د شرط جزاء محذوف ده یعنی فَعَلُوْا بِهٖ مَا فَعَلُوْا (او کړه دوی هغه سره هغه څه چه او کړل یې) او مفسرینو ذکر کړي دي چه په غار د کوهي کښې درے ورځے وو.
وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ ، مراد د وحي نه وحي ده د نبوت نه مخکښې او دیته ارهاص وائي یا دا وحي حقیقتًا وه او دا غوره قول دے.
وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ، په دیکښې دوه توجیه دي- اوله توجیه دا ده چه دا ورونړه نه پوهیدل په وحي د یوسف علیه السلام او په لوړے والي د مرتبے د هغه.
دویمه توجیه دا ده چه دوي به نه پیژني یوسف علیه السلام لره کله چه هغه دوي له خبر ورکوي په مکرونو د دوي په راتلونکے زمانه کښې.
۱۶:- په دے آیت کښې بیان د بل مکر د دوي دے د پلار خپل سره په دوؤ طریقو باندے اول په تاوخته راتللو د دوي په نسبت د نورو ورځو د دے د پاره چه په تیاره کښې د دروغو د ژړا پته اونه لږي او چه پلار ته معلومه شي چه دوي د دے واقعے د وجے نه بے وخته کړیدے او دویم په دروغ سره ژړا کول، او علماؤ وئیلي دي دا دلیل دے په دے خبره چه ژړا د یو کس دلیل نه وي د هغه په صدق باندے، کیدے شي چه دا ژړا د مکر وي ځکه چه ژړا لس قسمه ده. او ابن قیم په زاد المعاد ص۱۸۴ کښې ذکر کړیدي اول قسم ژړا د رحمت او د نرمۍ د زړه- دویم قسم ژړا د

إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ
یقیناً مونږ تلی وو منډې مو وهلې او پرېښودلے وو مونږ یوسف لره

عِنْدَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ج
دَخپل سامان سره نو اوخوړو هغه لره شرمخ

وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا
او نه یې ته باور کوونکے زمونږ په خبره اګرچه مونږ

صٰدِقِينَ ⑰ وَجَاءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهٖ
رشتیا وایو۔ او (راوړلې) راوړه دوی دَهغه په قمیص باندې

ویرې او دَخشیت دَ وجې نه۔ دریم قسم ژړا دَ محبت او شوق دَ وجې نه۔ څلورم ژړا دَ خوشحالۍ دَ وجې نه۔ پنځم قسم ژړا دَ فریاد دَ وجې دَ درد او مرض نه۔ شپږم قسم ژړا دَ حزن او غم دَ وجې نه۔ اووم قسم ژړا دَ بزدلۍ او کمزوروالی دَ زړه نه۔ اتم قسم ژړا دَ منافقت او ریاء چه سترګو کښې اوښکې راځي او زړه یې سخت وي او خلقو ته دَ ځان خشوع ښکاره کوي۔ نهم قسم دَ اجرت او دَ مزدورۍ ژړا لکه دَ ویرګرو ښځو۔ اولسم قسم ژړا دَ موافقت دَ وجې نه چه څوک اُویني چه هغه ژاړي نو دے هم ورسره اوژاړي او سبب ورته نه وي معلوم۔

۱۷:۔ په دے آیت کښې تسلي ورکول دَ دوی دي پلار خپل ته په دروغو بهانو سره۔

نَسْتَبِقُ، دلالت کوي په جواز دَ استباق په شرع کښې چه هغه دَ اسونو وي یا دَ اوښانو یا په خپلو خپو باندې وي او په غشو ویشتلو کښې هم استباق په حدیث کښې وارد دے۔ په هغه شرطونو سره چه په حدیث کښې ذکر دي او مراد دَ استباق نه په دے ځائے کښې مقابله کول دي په تیزه منډه وهلو کښې۔

مَتَاعِنَا، یعني په وخت دَ لوبو کولو او استباق کولو کښې زیاتي جامې

بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ

وینه د دروغو ، پلار اُوئیل بلکه جوړه کړیده

لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ

تاسو ته ستاسو نفسونو خه خبره ، نو صبر خائسته (ښه دے) مالره

وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾

او خاص د الله تعالیٰ نه مدد غوختلے شي په مقابله د دغه خبرو چه تاسو وایئ۔

اُوستلے شي او یو ځائے کښې ایخودلے شي نو دغه متاع مراد دے۔

وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ ، دا تاکید هم دلالت کوي د دوي په دروغو باندے ځکه پلار ئے تر دغه وخت پورے دوي له جواب ورکړے نه وو او دوي د ځان نه اُوئیل چه ته زمونږ خبره نه منے۔

سلا:۔ پدے آیت کښې ذکر د مکر د دوي دے په پلے طریقے سره چه دوي یو ښاروے ذبح کړو او د هغه وینه ئے په قمیص د یوسف علیه السلام اولګوله لیکن قمیص ئے شلولے نه وو نو پدے وجه یعقوب علیه السلام په خپل فراست سره پوهه شو چه که یوسف علیه السلام شبرمخ خوړلے وے نو قمیص به ئے وړله شلولے وے نو ځکه ئے اوفرمائیل بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا۔

فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ، صبر جمیل دے ته وائي چه په وخت د مصیبت کښې مخلوق ته شکایت نه کوي اګرچه الله تعالیٰ ته تضرع او عاجزي کوي او دا دلیل دے پدے خبره چه صبر کول په مصیبتونو باندے سنت دے د ټولو انبیاؤ علیهم السلام۔

وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ ، دا رد دے په شرک في الاستعانت باندے یعني د الله تعالیٰ نه سوا د بل چانه مدد غوختل، د پاره د مصیبت لرے کولو یا حاجت پوره کولو شرک دے۔ او دا رنګ په سورة انبیاء سلا۱۱۲ آیت کښې ذکر دي او مبتداء او خبر دواړه معرفے دي دلالت کوي په حصر باندے۔

وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ
او راغله يوه قافله نو دوى اوليږلو مشكى خپل

فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ۖ قَالَ يَٰبُشْرَىٰ هَٰذَا
نو زوړند ه كړه هغه ځپله بوقه، نو ويے وئيل (اے ملګرو) تاسو يا نه زيرے دے دا

غُلَٰمٌ ۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةً ۚ وَٱللَّهُ
خوږ بو غلام دے، او پټ ئے اوساتلو هغه د تجارت په خيال، او الله تعالىٰ

عَلِيمٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَرَوْهُ
ښه پوهه دے په هغه چه دوى ئے كول - او خرڅ كړو دوى هغه

سوال:- د دے آيت نه دويم مقام دے تر ١٢ آيت پورے.
خلاصه:- په دے آيت كښ ذكر د نورو مكرونو او ظلمونو د هغوى دے د يوسف عليه السلام سره په غلام جوړولو او خرڅولو د هغه سره ليكن د دے ابتلاء سره ذكر د احسان د الله تعالىٰ دے په عزت وركولو سره يوسف ته په كور د عزيز مصر كښ او په تمكين سره په زمكه كښ.
تفسير:- په دے آيت كښ ذكر د سبب د راوتلو دے د يوسف عليه السلام د كوهى نه او ابتلاء ده په يوسف عليه السلام په غلام كرځولو سره.
سَيَّارَةٌ، قافله چه د مدين نه مصر طرف ته روانه وه.
فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ، وارد يو تن وؤ يا په معنىٰ د جنس دے وارد هغه شخص وى چه ملګرو د پاره اوبه راوړى.
قَالَ، د دينه مخكښ لفظ پټ دے. فَتَشَبَّثَ بِهِ يُوسُفُ راونختلو په هغه رسئ پورے يوسف)
يَٰبُشْرَىٰ، اصل معنىٰ دا ده چه اے خوشحالئ راشه دا د وخت دے.
بل قول دا دے چه بشرىٰ د هغه د ملګرى نوم وؤ.
هَٰذَا غُلَٰمٌ، دا قول په عادت د تاجرانو سره دے چه هغوى

بِثَمَنٍۭ بَخۡسٍ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٍ ج

په قیمت بې کاره (حرامې) روپۍ لږې د شمار

وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴿٢٠﴾ ع ۲ ۱۲

او دوی وو په هغه کښې د بې رغبتو نه۔

کوم خیز او موقی نو د تجارت د پاره یې استعمالوی۔

وَأَسَرُّوهُ، په دې کښې دوه تفسیره دی اول دا ده پټ او ساتلو وروڼو د یوسف علیه السلام حال د یوسف علیه السلام لره او وې ګرځوو هغه لره مال د تجارت۔ دویم دا چه پټ کړو یوسف علیه السلام لره مشکی او ملګرو د هغه د نورو کسانو نه د پاره د ګټې کولو۔

نمبر۱۔ په وَشَرَوۡهُ بِثَمَنٍۭ، کښې درې معنې دی۔ اوله معنیٰ دا ده چه خرڅ کړو وروڼو د یوسف علیه السلام هغه لره او وو دوی په دغې پیسو کښې بې رغبته ځکه چه حرامې یې ګڼړلې۔ دویمه معنیٰ دا ده چه خرڅ کړو مشکی او ملګرو د هغه یوسف علیه السلام لره په مصر کښې او وو دوی په یوسف علیه السلام کښې بې رغبته ځکه چه ګمان کوو دوی چه دا نافرمان مریئې دے۔ دریمه معنیٰ دا ده چه واخستو یوسف علیه السلام لره مشکی او ملګرو د هغه په آخری معنیٰ سره شراء په معنیٰ د اشتراء ده۔

د بَخۡسٍ، دوه معنې دی۔ ع۱ ناقص۔ ع۲ حرام دلته دویمه معنیٰ غوره ده ځکه چه خرڅول د حر (آزاد) حرام دی۔

مَعۡدُودَةٍ، هغې ته وئیلې شی چه شمار یې آسان وی او دا کنایه ده د لږ نه۔

وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ، د زهد په صله کښې فِی راځی په معنیٰ د عدم رغبت دے او فِيهِ ضمیر راجع دے یوسف علیه السلام ته کله چه ضمیر وارد او د هغه ملګرو ته راجع شی، په دې آیت کښې دلیل دے په دے مسئله باندے چه غټ قیمت والا خیز په لږو پیسو اخستل جائز دی په شرط د رضا د طرفینو او په شرط د دهوکې نه کولو۔ یا ضمیر د فِيهِ راجع دے پیسو ته

وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ

او اوئيل هغه سړي چه واخستلو ئې دے د مصر والو نه

لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ أَن

ښځې خپلې ته چه ګرځوه د دې اوسیدو ځای په عزت سره خیال ساته کیدے شي چه

يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ

مونږ له نفع راکړي یا ئې د ځوي په ځای اونیسو او دغسې

مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ

ځای ورکړو مونږ یوسف له په زمکه (د مصر) کښې او چه اوښایو ده ته

مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ

د حقیقت د خبرو نه ، او الله تعالی زورآور دے

عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

په خپل کارونو باندے او لیکن ډیر خلق

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ

نه پوهیږي . او هر کله چه دے اورسیدلو ځوانئ خپلې ته

کله چه ضمیر د فاعل ورونړو د یوسف ته راجع شي . یا ضمیر وارد او نورو خلقو ته راجع دے او وجه د زهد دا ده چه الله تعالی د دغه خلقو په زړونو کښې د یوسف سره محبت او عشق نه پیدا کولو د دے د پاره چه د دغه خلقو د بد عملونو نه محفوظ شي .

٢١ ـ پدے آیت کښې ذکر د احسان د الله تعالی دے په یوسف علیه السلام باندے په عزت ورکولو سره . او نوم د اخستونکي قطفیر وو . او مشهور وو په عزیز مصر سره او دے وزیر خزانه او مشر وزیر د مصر وو . او نوم د ښځې د ده راعیل وو او مشهوره په زلیخا سره وه .

# اٰتَیْنٰهُ حُکْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَکَذٰلِكَ

نوور کړو موږ دهٔ ته د فیصلو (قوت) او پوهه د دین، او د غسې

مَثْوٰهُ، منزل ته وئیلے شي او مراد خوراک څښاک او ځائے د دیره کیدلو دے۔

عَسٰی اَنْ یَّنْفَعَنَا، چه څرګ ئے کړو نو ډیره ګټه به او شي یا دا چه بنه خدمتونه به کوي ځکه چه د خائست د صورت نه دلیل نیولے کیږي په حسن اخلاق باندے۔

اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا، دا بناء دے په عادت د خلقو چه پردے ځوے د خپل ځوي په ځائے او نیسي د وجے د مینے نه او ده ته متبنیٰ وائي۔ په دے کښں اشاره ده چه د عزیز مصر اولاد د دے نیځے نه نه وو۔

وَکَذٰلِكَ مَکَّنَّا، کَذٰلِكَ، لکه چه بچ کړو الله تعالیٰ ده لره د قتل او کوهي نه نو دارنګ د دے مراد دا دے چه عزیز مصر په ده باندے مهربان شو نو د هغه د مهربانۍ په وجه سره په مصر کښں د یوسف علیه السلام عزت پیدا شو۔ او په کور د عزیز مصر کښں په عزت او خوشحالۍ سره اوسیدلو۔

وَلِنُعَلِّمَهٗ، دا معطوف دے په پټ لفظ باندے یعنی (لِنُکْرِمَهٗ وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِیْلِ الْاَحَادِیْثِ) د دے دوه معنے په تفسیر د ۶ کښں تیر شوي دے۔

وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓی اَمْرِهٖ، په دے کښں رد دے د شرک فی التصرف امره ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته او مراد ترینه ټول کارونه دي چه الله تعالیٰ ئے اراده او کړي نو څوک ئے نشي منع کولے یا ضمیر راجع دے یوسف علیه السلام ته او مراد ترینه تمکین د یوسف علیه السلام دے اګرچه ورونړو ذلیل کوو لیکن الله تعالیٰ ورله عزت ورکړو۔

وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ، دا دلیل دے په دے خبره چه الله تعالیٰ نه سوا هیڅوک په غیب باندے نه پو هیږي

# نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۲۲﴾ وَرَاوَدَتۡهُ الَّتِىۡ

بدله ورکوؤ مونږ خاشته عمل کوؤنکو ته.- او دهوکه کولوده لره هغه ښځې

او دا په تفسیر قرطبی کښ ذکر دے۔

سـ۲۲ :- دَ دے آیت نه دریم مقام دے تر آیت سـ۲۹ پورے.

خلاصه :- په دیکښ ذکر دَ بلے ابتلاء دَ یوسف علیه السلام دے.
په سبب دَ ښځے دَ عزیز مصر سره۔ دَ هغے طلب کول او دروازے بندول او یوسف علیه السلام ته دعوت دَ فحاشئ ورکول او کلکه اراده کول او په هغه پسے منډه وهل دَ هغه قمیص شلول او په هغه باندے تهمت لګول۔

بیا ذکر دَ احسان دَ الله تعالی دے په یوسف علیه السلام باندے دَ هغه په پاکئ امنئ ښکاره کولو سره په فیصله کولو دَ یو شاهد سره.

تفسیر :- پدے آیت کښ ذکر دَ احسانانو دَ الله تعالی دے په یوسف علیه السلام باندے په نبوت ورکولو سره او په علم ورکولو دَ دین سره۔

اَشُدَّهٗ ، بلوغ ته وئیلے شی او بعضو وئیلی دی چه دَ اتلس کالو نه تر دیرش پورے اشد وی او اشد ئے جمع ځکه ذکر کړے ده چه په ځوانئ کښ ټول قوتونه مضبوط شی۔

اٰتَيۡنٰهُ حُكۡمًا وَّعِلۡمًا ، مراد دَ حکم نه نبوت دے چه په سبب دَ هغے سره فیصلے کوی یا مراد پدے سره صرف قوت دَ فهم دے دَ فیصلو کولو.- او عِلۡمًا ، بناء په اول باندے تاکید دے او بناء په دویم باندے تعمیم بعد التخصیص دے۔

وَكَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ، هرکله چه مراد دَ حُكۡمًا نه نبوت وی نو اعتراض واردیږی چه حاصل معنیٰ دَ دے جملے دا شوه چه نبوت دَ احسان په جزا کښ ملاویږی او حال دا دے چه دَ اهل سنت والجماعت په نیز باندے نبوت کسبی څیز نه دے یعنی دَ یو کسب او محنت په ذریعه سره نه حاصلیږی.- نو جواب دا دے چه نَجۡزِى ، په معنیٰ دَ بدله

هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ

چه د هغې په کور کښې وؤ د ده د نفس په باره کښې او بند کړے

الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ قَالَ

ټولې دروازے او اُوئیل ئے دلته راشه تاته وایم، هغه اوئیل

مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ رَبِّيْٓ اَحْسَنَ

پناه غواړم په الله تعالیٰ سره یقیناً هغه زما پالنه کوی خائسته کړیدے

مَثْوَایَ ؕ اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾

ځائے د اوسیدلو زما، یقیناً نشی بچ کیدے ظالمان ۔

ورکولو سره نه دے بلکه په معنیٰ د کفایت سره دے ځکه چه لسان العرب لیکلی دی چه جزی په معنیٰ د کفیٰ سره راځی نو معنیٰ دا شوه (نو د هغے مونږ پوره نعمت ورکوؤ انبیاء علیهم السلام ته) او انبیاء د نبوت نه مخکښې محسنین دی، او که چرے مراد د حکماً نه پوهه د دین او د فیصلو وی نو د اشد نه مراد منتها او ځوانی ده یعنی چه ځوانئ کښې ئے احسان سره د عمل نه کړے وی نو په هغے سره حکم او علم ملاویږی۔

٢٣:۔ په دے آیت کښې ذکر د ابتلاء دے د یوسف علیه السلام په سبب د ښځې په دریو طریقو سره۔

اوله طریقه: وَرَاوَدَتْهُ، مراوده کول، مراد د مراودے نه په ټګئ او چالاکئ سره ځان ته مائله کول دی۔ بعضے مفسرینو وئیلی دی چه هغې ښځې د ده د ویختو صفت اوکړو نو هغه جواب ورکړو چه په مرګ سره دا د انسان نه اول دوه پریږی بیا هغې د سترګو صفت اوکړو نو هغه اُوئیل چه په قبر کښې دا اول په مخ باندے رابهیږی بیا هغې اُوئیل چه ستا دا مخ ډیر خائسته دے نو هغه اوئیل چه دا هم د خاورو د پاره دے دا ټولے حیلے کول د بیته مراوده وئیلے شی۔

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا ۚ

او یقیناً هغې پوره اراده وکړه په یوسف علیه السلام او اراده به کړې وه هغه د دې

لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ

که نه وې لیدلې (یوسف علیه السلام) دلیل د رب د طرف نه،

كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ

د غسې (او ساتلې مونږ دے) د دے د پاره چه وا ړوو د ده نه بد کار

وَالْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا

او بے حیائي ، یقیناً دے د بندګانو زمونږ نه

دویمه طریقه :- وَغَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ، دروازے بندول، او دروازے ئے جمع ځکه ذکر کړیدی چه د هغه مکان ډیرے دروازے وے، او راګیرول د یوتن هله کیدے شي چه ټولے دروازے بندے کړے شي۔

دریمه طریقه : وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ، دعوت ورکول وُ یوسف علیه السلام له ځان طرف ته۔

هَيْتَ لَكَ، دا اسم دے په معنیٰ د تعال او اقبل سره او مجاهد وئیلي دي چه دا عربي کلمه ده استعمالیږي د پاره د تیزئ ورکولو په څه کار باندے۔

قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ، دا دلیل دے پدے خبره چه پیغمبران د ګناه او د مصیبت نه په بچ کیدو کښ الله تعالیٰ ته محتاج وي۔

اِنَّهٗ رَبِّيْٓ، مراد د دینه الله تعالیٰ دے۔ یا مراد د دے نه عزیز مصر دے او معلومه شوه چه د رب اطلاق په غیرالله باندے جائز دے پدے شرط چه مطلق نه وي او اضافت عامه نه وي لکه رب العالمين او رب الناس ځکه دا خاص دي په الله تعالیٰ پورے۔ الظّٰلِمُوْنَ، پدیکښ اشاره ده چه خیانت کول په کور د مولی کښ او بدکاری کول ظلم دے۔

الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَاسْتَبَقَا الْبَابَ

چه بچ ساتلے شوے دی۔ او دواړو منډه کړه دروازے ته

س۲۴:- پدے آیت کښ اول ذکر دے دَ کلکے ارادے دَ زلیخا په باره دَ یوسف علیه السلام کښ او بیا ئے ذکر کړیں دے سبب دَ پاکدامنئ دَ یوسف علیه السلام او عصمت دَ هغه۔

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ، تحقیق والا وئیلے دی چه هَمّ دوه قسمه دے اول هَمّ ثابت چه هغه په معنیٰ دَ عزم سره دے او په هغے کښ قصد او اختیار دے او دا هَمّ دَ زلیخا وو په دلیل دَ هغه چه په مخکښ آیت کښ ذکر شول (مراوده او دروازے بندول او آواز ورکول) او په دلیل دَ لام او قد سره۔ او دویم هَمّ عارض دے په زړه کښ بے اختیاره تیریدل او هغه گناه نه دے یو قول دَ مفسرینو دا دے چه هَمّ دَ یوسف علیه السلام پدے معنیٰ سره دے او دویم قول دا دے چه هَمّ دَ یوسف علیه السلام په معنیٰ دَ عزم سره دے لیکن معلق دے په لَوْلَا أَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ، پورے یعنی دَ وجے دَ لیدلو دَ برهان دَ رب نه هَمّ ئے نه دے کړے پدے کښ غوره قول دا دے چه یوسف علیه السلام دَ وجے دَ لیدلو دَ برهان نه هَمّ ئے نه دے کړے۔ او دلیل پدے باندے روستونئ جمله ده۔ نو دا لفظ چه لَوْلَا أَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ، دے په معنیٰ کښ وړاندے دے په هَمَّ بِهَا باندے۔ او مراد دَ برهان نه علم او شریعت دے چه ذکر شوے دے په س۲۲ کښ او کوم تفسیرونو کښ چه دَ هَمّ په باره کښ لیکلی دی چه ازار بند ئے پرانستلو او تزدے شو۔ او دَ برهان په باره کښ وئیلی دی چه دَ اصورت دَ یعقوب علیه السلام وو۔ یا آواز ورته اوشو نو دا ټول اسرائیلیات دی او دَ دے آیت دَ راتلونکو جملو او دَ هِیَ رَاوَدَتْنِیْ او دَ شهادت دَ شاهد نه مخالف دی محققینو مفسرینو پدے باندے رد کړیں دے۔

السُّوْٓءَ، مراد دینه هَمّ او گناه صغیره دے۔

وَقَدَّتْ قَمِيصَهُ مِنْ دُبُرٍ وَّاَلْفَيَا

او اوشلوؤ (دے ښځې) قميص دَده دَشا دَ طرف نه او اوموندلو

سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ۭ قَالَتْ مَا

دواړو خاوند دَ ښځې دَ دروازے سره ، دے اوویل نشته

جَزَاۗءُ مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْۗءًا

سزا دَ هغه چاچه غواړی ستا دَ کور والا سره بد کاری

اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٥﴾

سِوا دَ دینه چه جیل ته کړیشی یا دردناک عذاب -

الْمُخْلَصِيْنَ ، په دے کښ اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام په عصمت کښ الله تعالى ته محتاج دی۔

٢٥ :- په دے آیت کښ دَ زلیخا دَ طرف نه درے مکرونه ذکر دی. اول متبره وهل په یوسف علیه السلام پسے تر دروازے پورے او دَ یوسف علیه السلام دَ دینه تیښته کول دَ پاره دَ بیج کیدلو. او دویم مکر قمیص شلول دَ دنے دَ شا دَ طرف نه ، دا دلیل دے چه یوسف مخکښ زور کولو دَ بیج کیدلو دَ پاره او ښځې وروسته راخکلو ځکه قمیص اوشلیدلو۔ او دریم مکر بدنامی لګول دی په هغه باندے چه ده اراده کړیده دَ بدئ او بیا هغے تجویز پیش کولو په باره دَ سزا دَ هغه کښ دَ پاره دَ دے چه په هغه باندے جرم ښکاره شي۔

وَاَلْفَيَا سَيِّدَهَا ، مراد دَ سید نه خاوند دے او دا دلیل دے چه دَ سید اطلاق دَ الله تعالى نه سِوا په بندګانو هم کیدیشی.

لَدَا الْبَابِ ، الباب ئے مفرد ذکر کړے دے ځکه چه وتل دَ یوے دروازے نه کیدیشی - الابواب ئے جمع ذکر کړے وو ځکه چه دَ راګیرولو دَ پاره ټولے دروازے بندول پکار وی -

قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَّفْسِي

هغه اوئیل دے ښځے دهوکه کولم زۀ زما دَ نفس په باره کښ

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا إِنْ

او فیصله اوکړه یو فیصله کوونکي دَ ټبر دَ ښځے نه که چرے

كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ

قمیص دَ ده شلیدلے وی دَ مخے دَ طرف نه

فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٦﴾

نو دا ښځه رښتیا وائی او دے دَ دروغژنو نه دے۔

س ٢٦:۔ په دے آیت کښ بیان دَ صفائی دَ یوسف علیه السلام دے چه پیش کړے ئے وه دَ پاره دَ ځان خپل او دَ طعن دفع کولو دَ پاره صفائی پیش کول واجب وی۔ بیا په دے آیت کښ ذکر کړے شو بدله فیصله دَ حاکم۔

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَا، شَاهِدٌ، صحیح قول دا دے چه دا یو عاقل بالغ او هوښیار سړے وو او فیصله ئے په انصاف سره کړے وه او مراد دَ شهادت نه فیصله کول دی نه چه ګواهي کول دی۔ او هغه روایت چه ذکر کړے دے مفسرینو په باره دَ شاهد کښ چه دا یو وړوکے بچے وو او ګویا شو نو هغه روایت صحیح نه دے ځکه چه کوم روایت امام بخاری راوړیدلے په باره دَ ګویا کیدلو دَ وړو بچو کښ نو په هغے کښ دَ دے شاهد تذکره نشته بلکه هغه درے دی عیسی علیه السلام او جریج او څوړے دَ یوے ښځے په بنی اسرائیلو کښ۔

وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ

او كه قميص دَ ده شليدلے وى دَ شا دَ طرف نه

فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۷﴾

نو دا ښځه دروغ وائى او دے دَ رشتينو نه دے۔

فَلَمَّا رَاٰ قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ

نو هر كله چه اوليدو ده قميص دَ هغه شليدلے وو دَ شا دَ طرف نه

قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ ط إِنَّ

اُوئيل يقينًا دا ستا مكر دے، يقينًا

كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿۲۸﴾ يُوسُفُ أَعْرِضْ

مكر ستاسو لوے وى۔ اے يوسف مخ واړوه

۲۷:۔ دا هم جزء دے دَ فيصلے دَ حاكم نه او دا فيصله په اعتبار دَ اماراتو سره ده چه زمونږ شريعت كښ هم دَ هغے مثالونه شته دے۔

۲۸:۔ په دے كښ دليل دے په عصمت دَ يوسف عليه السلام په صحيح علامت ښكاره كيدلو سره او په دے آيت كښ تصريح ده په مكرونو كولو دَ زليخا باندے۔

فائده:۔ په دے آيت كښ ذكر شول چه مكر دَ زنانو لوے دے او په سورة النساء ۷۶ كښ دى چه مكر دَ شيطان كمزورے دے نو دَ دينه سوال پيدا كيږى چه آيا دَ زنانو مكر دَ شيطان دَ مكر اوچل نه لوے دے؟

جواب:۔ مكر دَ شيطان په مقابله دَ تدبير دَ الله تعالى كښ كمزورے دے۔ او مكر دَ زنانو لوے دے په مقابله دَ مكر دَ نارينوو كښ۔

عَنۡ هٰذَا ۜ سکتہ وَاسۡتَغۡفِرِیۡ لِذَنۡۢبِكِ ۚۖ

دَ دے خبرے نه (دَ خورولو) اواے ښځے ته. بخنه اوغواره دَ گناه خپلے نه

ع ۳ ۹ ۱۳ إِنَّكِ كُنۡتِ مِنَ الۡخٰطِـِٕيۡنَ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ

یقینًا ته دَ خطاکارو نه یئے - او اُوئیل

نِسۡوَةٌ فِی الۡمَدِيۡنَةِ امۡرَاَتُ

زنانو (ښځو) په ښار کښې چه ښځه

الۡعَزِيۡزِ تُرَاوِدُ فَتٰهَا عَنۡ نَّفۡسِهٖ ۚ

دَ عزیز غولوی خپل مریے لره په باره دَ نفس دَ هغه کښې

قَدۡ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰهَا

یقینًا مینه دَ هغه چاپیره شوے ده دَ زړه دَ دننه، یقینًا وینو مونږ دے لره

فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴿۳۰﴾ فَلَمَّا سَمِعَتۡ

په خطایئ ښکاره کښې. نو هر کله چه واوریدو دے ښځے

ف ۲۹ :- په دے آیت کښې حکم دے یوسف علیه السلام ته دَ پټ ساتلو دَ دے واقعے او حکم دے زلیخا ته په معافی غوختلو دَ یوسف علیه السلام نه یا دَ خاوند خپل نه یا دَ الله تعالیٰ نه ځکه چه دوی منونکی وو دَ الله تعالیٰ سره دَ شرک نه، او غصّه نه کول دَ عزیز مصر زلیخا ته دَ وجے دَ کموالی دَ غیرت نه وو - او دا سے مدارک کښې لیکلی دی ځکه چه لازم په اعتبار دَ فیصلے سره دا وه چه هغه ښځے ته سزا ورکړے وے.

ف ۳۰ :- دَ دے آیت نه څلورم مقام دے تر ۳۵ پورے -

خلاصه :- په دے مقام کښې ذکر دَ څلورو مکرونو دے. اول مکر دَ عامو ښځو دے دَ زلیخا سره په طعن وئیلو سره په هغے باندے. دویم مکر دَ زلیخا دے دَ ښځو سره. دریم مکر دَ ټولو ښځو دے دَ یوسف علیه السلام سره.

بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ

طعن دَ هغوی نو جواب ئې اوکیږلو په هغوی پسې

وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً وَّآتَتْ

او تیار ئې کړو هغوی لره ځاے دَ تکیا لګانو او ورکړے کره

كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا

هرے یوے ته دَ هغوی نه چاړه

وَّقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ج فَلَمَّا

او اُوئیل ئې (یوسف) ته را اوځه دوی ته نو هرکله چه دوی

رَأَيْنَهُ أَكْبَرْنَهُ وَقَطَّعْنَ

هغه اولیدلو نو ډیر لوے ئې اوګڼړلو (په خائست کښې) او زخمي کړل دوی

څلورم مکر دَ دوی دے په مجبوره کولو دَ یوسف علیه السلام په جیل سره۔

تفسیر:- پدے آیت کښې طعن دَ زنانو دے په زلیخا باندے په لسو طریقو سره۔

اول داچه دَ دے خاوند شته۔ دویم داچه خاوند ئې عزیزمصر دے۔ دریم داچه دے ښځے طلب کړیدے۔ څلورم داچه په طلب کښې ئې مبالغه او کوشش کړیدے۔ پنځم داچه طلب ئې دَ غلام نه کړیدے۔ شپږم داچه تصریح ئې کړیده په وخت دَ طلب کښې دَ نفس دَ هغه۔ اووم محبت کول دَ هغه سره۔ اتم دَ محبت داخلیدل دَ زړه پردے ته چه هغې ته شغف وائي۔ نهم داچه په غلطۍ کښې ده۔ او لسم داچه غلطي ئې واضحه ده۔

قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ، شغف، په اصل کښې پردے دَ زړه ته وئیلے شی یعنی محبت دَ یوسف علیه السلام دَ دے ښځے دَ زړه په پرده کښې داخل شویدے او دننه زړه ته رسیدلے دے۔ دا دَ عشق اوچته مرتبه ده دا لسے مراتب دَ محبت ابن قیم په الجواب الکافی کښې لیکلي دي۔

أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا

لاسونه خپل او دوی اُوئیل پاکی ده الله تعالی لره

هَٰذَا بَشَرًا ۖ إِنْ هَٰذَا إِلَّا مَلَكٌ

داخو بشر نه دے، نه دے دا مګر ملک (فرښته)

كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ الَّذِي

غرتمنن دے۔ اُوئیل دے بس نو دا هغه کس دے چه تاسو

۳۱: پدے آیت کښ ذکر دے د دفع کولو د زلیخا، طعن د زنانولره د خپل ځان نه۔ او ښکاره کول د خپل عذر دی په محبت د هغه کښ۔

فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ، مکریې د دے وجے نه اوئیل چه دوی دا خبرے ذریعه ګرځوله د پاره د بدنامۍ د یوسف علیه السلام یا د زلیخا یا د دے وجے نه چه دا غیبت وو او غیبت هم پټ وی پشان د مکر کولو۔

وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً، مراد د دینه تکیاګانے او بالختونه دی یا مراد ترینه خوراک دے چه په حالت د تکیه کښ خوری او د دینه په حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښ ضمنًا منع راغلے ده یعنی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زهٔ په تکیه لګولو سره خوراک نه کوم۔ بل قول دا دے چه متکاء هر هغه خوراک ته وئیلے شی چه په چاړه باندے پریکولے کیږی۔

سِكِّينًا، په چړو باندے خوراک کول د هغے زمانے تهذیب ګڼړلے کیدلو۔

أَكْبَرْنَهُ، یعنی هیبت زده شوے د هغه د ظاهری حسن او جمال نه سره د حسن د نبوت او خائسته اخلاقو نه او حدیث صحیح کښ راغلی دی چه یوسف علیه السلام لره شطر (نیم) حسن ورکړے شوے وو۔

وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ، مراد د قطع نه زخمی کول دی په وجه د حیرانید لو د دوی حسن د یوسف علیه السلام ته، یا معنیٰ حقیقی مراد ده۔

لُمْتُنَّنِیْ فِیْهِ ؕ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ

زهٔ ملامته کولم دَ ده په باره کښې، او یقیناً ما دَ ده غلول کول

عَنْ نَّفْسِهٖ فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ لَّمْ

په باره دَ نفس دَ ده کښې نو ده ځان ساتلے دے (زما نه)، او که او نه کړو

یَفْعَلْ مَاۤ اٰمُرُهٗ لَیُسْجَنَنَّ وَلَیَكُوْنًا

ده هغه کار چه زهٔ ورته حکم کوم نو خامخا جیل ته به دننه کړے شي او شي به دے

مِّنَ الصّٰغِرِیْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ

دَ بے عزتو نه۔ اوئیل یوسف اے ربه جیل

وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ، دا کلمه عادتاً استعمالیږی، په وخت دَ تعجب کښې په معنیٰ دَ سبحان الله او معاذ الله سره دا دلیل دے چه دوی دَ الله تعالیٰ پاکوالے منلو او حاش دلته مصدر دے په معنیٰ دَ لرے والی او مراد ترینه پاکوالے دے۔

اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا مَلَكٌ كَرِیْمٌ، دا تشبیه ورکول په پاکدامنئ کښې دی یعنی چه دَ ملائکو ښان پاک دے۔ یا دا تشبیه په حسن کښې ده اګرچه ملائک دوی نه دی لیدلی لیکن مشهور دی ملائک په حسن کښې لکه چه شیطان مشهور دے په بد شکلئ کښې۔

۳۲:- پدے آیت کښې اول ملامت کول دَ زلیخا دی زنانو لره په بدل دَ هغوی دَ لعن کښې او بیا تصریح دَ زلیخا په عصمت دَ یوسف علیه السلام باندے او بیا دباؤ کول دی په هغه باندے په قید کولو او ذلیل کولو سره دَ پاره دَ خپل مقصد حاصلولو۔

فَاسْتَعْصَمَ، س او تا دَ ډیرے مبالغے دی په عصمت کښې۔

مِنَ الصّٰغِرِیْنَ، اشاره ده چه جیل کښې به دَ ده هیڅ لحاظ نشی کیدلے دَ وجے دَ دینه چه زما غلام دے بلکه ذلیل به کړے شی۔

أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ ۚ

زیات خوښ دے ما ته د هغه کار نه چه دا بلنه ما بلی هغې ته

وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ

او که تا زما نه وانهړول د دوی مکرونه

أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ ﴿۳۳﴾

کوږ به شم دوی ته او شم به د ناپوهه خلقو نه۔

فَاسْتَجَابَ لَهُ رَبُّهُ فَصَرَفَ عَنْهُ

نو قبوله کړه د ده دعا رب د ده نو او ګرځوئي د ده نه

۳۳:۔ په دے آیت کښ ذکر د غوره کولو دے د یوسف علیه السلام قید لره د پاره د بچ کیدلو د دے زنانو نه او احتیاج پیش کول دی الله تعالیٰ ته د ګناه نه په بچ کیدلو کښ۔

او کَیْدَهُنَّ، کښ اشاره ده چه دغه ټولو زنانو د یوسف علیه السلام نه مطالبه کړے وه د ځان د پاره یا سفارش ئے کړے وو د زلیخا د پاره۔ جیل ئے د دے وجے نه خوښ کړلو چه معلومه شوه چه د دے ګناه نه د بچ کیدلو بله لار نشته بغیر د جیل نه او دا عادت د صالحینو دے چه مصیبت غوره کوی په مقابله د معصیت کښ، بیا هر کله چه جیل هم کافی نه دے د بچ کیدلو د پاره بغیر د مدد د الله تعالیٰ نه د دے وجے نه ئے اُوئیل وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ الْجَاهِلِينَ۔

فائده:۔ د دے آیت نه معلومه شوه چه کله یو انسان مبتلیٰ شی په مصیبت او په معصیت سره نو لازم ده چه مصیبت غوره کړی په مقابله د معصیت کښ۔

كَيْدَهُنَّ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۴﴾

مکر دَ هغوی، یقینًا الله تعالیٰ هرڅه آوری او په هرڅه پوهه دے.

ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا رَاَوُا

بیا هغوی ته (دا مصلحت) ښکاره شو روستو دَ لیدلو

الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۳۵﴾ ع ۱۴

دَ دلیلونو دَ پاکدامنئ دَ هغه نه چه دے جیل ته واچوی ترڅه وخت پورے

۳۴:- په دے آیت کښ ذکر دَ قبولیت دَ دعا دَ یوسف علیه السلام دے په بچ کولو سره دَ مکر دَ زنانو نه.
فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ، دَ دینه معلومه شوه چه مقصد دَ هغه دَ جیل نه دَ گناه نه بچ کیدل وو.
۳۵:- ثُمَّ بَدَا لَهُمْ، دَ دے فاعل پټ دے یعنی الرای.
لَيَسْجُنُنَّهٗ، دَ هغے تفسیر دے.
الْاٰيٰتِ، نه مراد دلیلونه او علامات دَ عصمت دَ یوسف علیه السلام دی چه هغه مخکښ بیان شول. اوّل معاذ الله وئیل، دویم تیختہ کول دروازے ته، دریم قمیص شلیدل دَ شا دَ طرف نه، څلورم فیصله کول دَ شاهد، پنځم اقرار دَ عزیز مصر، شپږم اقرار دَ زلیخا دَ ټولو زنانو په مخ کښ، اووم دُعاء دَ یوسف علیه السلام.
په دے مِّنْ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ، کښ اشاره ده جیل ته لیږل دَ یوسف علیه السلام دَ پاره دَ ټولو دَ دے واقعے وو. نه دَ وجے دَ دے نه چه هغه څه جرم صادر شوے وو. او نه متهم وو په جرم سره.

وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ؕ قَالَ
او ورننوتل د ده په وخت کښې جیل ته دوه زلمی (خدمتګاران)، او وئیل
اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ
یو د هغوی نه یقیناً ما ځان لیدلو خوب کښې چه د انګورو نه شراب نچوړوم
وَقَالَ الْاٰخَرُ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ
او اوئیل بل تن یقیناً ما ځان لیدلو خوب کښې چه اوچتوم
فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ الطَّيْرُ
په سر باندے ډوډئ خوری مارغان
مِنْهُ ؕ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ
د هغے نه، خبر راکړه مونږ ته په تعبیر د دے خوب یقیناً مونږ وینو تا لره
مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۶﴾ قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا
د ښه کارکوونکو نه۔ او وئیل یوسف علیه السلام نه به راځی تاسو ته

س۳۶:۔ د دے آیت نه د یوسف علیه السلام د واقعے پنځم مقام دے تر ۴۲ پورے۔
خلاصه :۔ په دے کښې ذکر دے د حال د یوسف علیه السلام په جیل کښې او دعوت د هغه رسالت ته په معجزه ښکاره کولو سره او دعوت توحید ته په رد د شرک سره تفصیلاً بیا بیان د تعبیر د خوب د ملګرو دے۔
تفسیر :۔ په دے آیت کښې ذکر د دوه خادمانو د بادشاه دے چه جیل ته داخل شویوه او د دے نه دا هم معلومه شوه چه جیل والا درے قسمه دی. اول قسم هغه چه جرم ئے کړے وی. دویم قسم هغه چه په هغه باندے تهمت د جرم وی. دریم قسم هغه چه نه پرے تهمت وی او نه جرم وی صرف ظلماً قید کړے شوے وی. د اول مثال نانبائی د بادشاه وه او مثال د دویم قسم ساقی د بادشاه وه

طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖۤ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا

خوراک چه د رکیدېشي دَخوراک دَپاره مګر زهٔ به تاسو

بِتَاْوِیْلِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّاْتِیَكُمَا ؕ

دَهغې دَحقیقت نه خبرکړم مخکښې دَراتللو دَ هغې نه تاسو ته ،

ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ ؕ اِنِّیْ

دا تاسو ته چه وایم دَهغې وجې نه دی چه رب زما ماته خودلے دی، یقیناً زهٔ

تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا یُؤْمِنُوْنَ

جدا یم دَ هغه قوم نه چه ایمان نه لری

بِاللّٰهِ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾

په الله تعالیٰ او دوی دَ آخرت نه منکر دی -

او مثال دَدریم قسم یوسف علیه السلام وؤ۔

فَتَیٰنِ ، دا دواړه پړے بن نام شوی وؤ چه دوی دَ بادشاه دَ قتل دَپاره په خوراک یا څښاک کښې بادشاه ته زهر اچولے دی نو دواړه ئے حوالات کښې واچول او دَدوی مقدمه شروع وه چه معلومه شی چه کوم یو مجرم دے۔

قَالَ اَحَدُهُمَاۤ اِنِّیْۤ اَرٰىنِیْۤ ، ظاهره دا ده چه دوی دا خوبونه په حقیقت کښې لیدلے وؤ۔

اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِیْنَ ، دا صفت دَ هغه په ۲۲ کښې تیر شوے دے او دا دلیل پړے خبره چه یوسف علیه السلام مشهور وؤ په جیل کښې په ښو اخلاقو سره او په یکښې اشاره ده چه تعبیر دَخوب دَ هغه چانه طلب کول پکار دی چه صالح او هوښیار وی۔

۳۷ :- پړے آیت کښې بیان دَ معجزے دَیوسف علیه السلام دے چه هغه خبر ورکول دی دَ بعضے مغیباتو نه په سبب دَتعلیم دَالله تعالیٰ سره په دلیل دَدے قول سره مِمَّا عَلَّمَنِیْ رَبِّیْ ، او دا تعلیم وحی ده بیا په آیت کښې اظهار دَعقیدے دَیوسف علیه السلام

وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَآءِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ
او زه تابع يم دَ دين دَ مشرانو خپلو چه ابراهيم

وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَآ
او اسحاق او يعقوب عليهم السلام دى، جائز نه دى مونږ لره

اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ
چه شريک کړو دَ الله تعالىٰ سره څه شے، دا (توحيد)

مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ
فضل دَ الله تعالىٰ دے په مونږ باندے او په خلقو باندے

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۸﴾
ليکن ډير خلق احسان دَ الله تعالىٰ نه منى۔

دے په براءت دَ هغه سره دَ مشرکانو نه، چه هغه مصر والا وُو په هغه وخت کښ۔

اِنِّيْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ، دَ ترک نه مراد عراض او براءت کول دى داسے نه چه مخکښ دے په هغه دين کښ وُو او بيا ئے پريخودلو ځکه چه انبياء عليهم السلام هر وخت معصوم وى۔

۳۸:- او په دے آيت کښ اظهار دَ يوسف عليه السلام دے ملت خپل لره اجمالًا په دے لفظ سره چه مِلَّةَ آبَآءِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ، او دا درے واړه انبياء په هغه وخت کښ شام، فلسطين، مصر، عرب کښ مشهور وُو په دين دَ حنيفيت سره او دا دليل دے چه اتباع دَ اباؤ (چه انبياء دى) په دليل کښ پيش کول پکار دى او تفصيلًا په دے لفظ سره مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ، او دا دليل دے په دے خبره چه توحيد، دين دَ ټولو انبياؤ عليهم السلام دے۔

مِنْ شَيْءٍ، په دے لفظ کښ ډير تعميم دے ځکه چه لفظ شَيْءٍ

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ

اے ملګرو په جیل کښې آیا د بندګئ حقدارانِ چه جدا جدا وي

خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۳۹﴾

ښه دي (د پاره د بندګئ) او که الله تعالیٰ چه یو دے او زور آور دے۔

عام دے او په سیاق د نفی کښې دے نو رحموم غواړي او حرف د من هم د تاکید د عموم د پاره دے نو دا شامل دے بتانو، اونو، ګټو، دربارونو، اولیاؤ، پیرانو، قبرونو، ملائکو او پیریانو ټولو ته۔

وَعَلَى النَّاسِ، یعنی تعلیم د توحید د الله تعالیٰ ټولو انسانانو ته کړے دے په فطرت پیدا کولو سره یا په دعوت د انبیاؤ علیهم السلام سره۔

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ، لویه ناشکري شرک کول دي۔

۳۹:۔ روستو د تمهید نه دعوت ورکوي جیل والو ته۔

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ، په دے لفظ کښې شفقت او نرمي ده یعنی زهٔ ستاسو د ملګرتیا حق ادا کوم۔ په لفظ د سجن کښې اشاره ده چه صرف د جیل ملګري يئ وړ د دین ملګري نه وړ او ابوبکر رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم سره په دین کښې ملګرے وړ د دے وجے نه ئے په سورة توبه ښکے آیت کښې وئیلي دي لِصَاحِبِهٖ او فِي الْغَارِ ئے مخکښې ذکر کړے دے نو قول د شیعه ګانو باطل دے چه هغوی لصاحبه قیاس کوي په یصاحبی السجن باندے او وائي چه په دیکښې هیڅ غوره والے د ابوبکر رضی الله عنه نشته (رخذلهم الله تعالیٰ) یصاحبی السجن صاحبین تثنیه ده تو یوه "یاء" د (متکلم) د ثقل د وجے نه حذف ده۔ په دے آیت کښې رد دے په شرک د ربوبیت باندے په طریقه د الزام د حجت۔

مُّتَفَرِّقُوْنَ، یو معنیٰ دا ده چه د جدا جدا حاجتونو د پاره مقرر کړے شوي دي۔

مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهٖٓ اِلَّآ اَسْمَآءً

تاسو بندګي نه کوئ　سوا د الله تعالیٰ نه　مګر د داسې نومونو

سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

چه ایښې دي هغه　تاسو　او　مشرانو ستاسو

مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ

نه دے رالیږلے الله تعالیٰ په دے باندے　هیڅ　دلیل ،

اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا

نه دے واک اختیار مګر صرف د الله تعالیٰ دے، حکم ئے کړیدے چه بندګي به نه کوئ

اِلَّآ اِيَّاهُ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ

بغیر د هغه نه د بل چا دا　دین پوخ دے　ریښتیا دلیلونو سره ،

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۰﴾

لیکن　ډیر　خلق　نه　پوهیږي ۔

دویمه معنیٰ دا ده چه د دوی په مرتبو کښې فرق دے په تیز د مشرکانو۔

خَیْرٌ، نه مراد دا دے چه د استحقاق د عبادت او ربوبیت د پاره لائق دے۔

اَلْوَاحِدُ، یوه معنیٰ دا ده چه په ذات او صفاتو کښې یو دے مثال او شبیه نظیر یې نشته. دویمه معنیٰ دا ده چه یو ائے حقدار د بندګۍ دے۔

اَلْقَهَّارُ، په هر چا او په هر کار باندے زورآور دے او نور معبودان ټول عاجز دي۔

مسئله:- هر کله چه توحید د ربوبیت مستلزم دے توحید د الوهیت لره نو په دے آیت کښې تفصیلاً رد دے په شرک فی العبادة او په شرک فی الحکم باندے او مراد د اسماؤ نه هغه اسماء ئې

يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا

اے ملگرو د جیل هر چه ستاسو دا یو تن دے (یعنی بچه ساقی)

فَيَسْقِي رَبَّهُ خَمْرًا ۚ وَأَمَّا الْآخَرُ

نو څښکوی به په مولا خپل بادار لره شراب او هر چه دا بل دے

فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِن رَّأْسِهِ ۚ

نو دے به پهانسی کړیشی نو خوری به مارغان د ده د کپری نه،

قُضِيَ الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ

فیصله کړے شویده (د مخکښ نه) د دغه کار چه تاسو د هغے په باره کښ

صفتی دی چه مشرکانو مشهور کړی دی خپل معبودان په هغه سره لکه مشکل کشا او غوث اعظم او د بادو ذمه وار وغیره او داسے په سورة اعراف ۷۱ کښ ذکر کړی دی او په هغے کښ لفظ د نزل دے

مَآ أَنزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِن سُلْطٰنٍ، نو په لفظ د ما انزل او د ما نزل کښ اشاره ده چه کومه وحی الله تعالیٰ په یو ځل رالیږلے ده او یا ئے لږه لږه رالیږلے ده، نو په هغے دواړو کښ دلیل نشته مشرکانو لره او داسے په سورة نجم ۲۳ کښ هم شته۔

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ، حکم دوه قسمه دے.حکم تکوینی یعنی نظام د عالم چلول او تصرف کول۔

دویم حکم تشریعی حکمونه د عبادتو او امر و نهی او حلال او حرام جوړول نو د دے دواړو قسمونو اختیار صرف د الله تعالیٰ سره دے امر په معنیٰ د حکم کولو دے یا مراد امر بالتوحید او حاصل د توحید الا تعبدوا ..... آه دے۔

تَسْتَفْتِيٰنِ ﴿۴۱﴾ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ

تپوسونه کول - او اُوئیل یوسف هغه یو تن ته چه پوهه وُه

اَنَّهٗ نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِي عِنْدَ

یوسف چه دے به بچ کیږی دَ دے دواړو نه یاد کړه زما دا حالات په وړاندے

رَبِّكَ ز فَاَنْسٰهُ الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ

دَ مولی خپل ، نو هیر کړه دَ هغه نه شیطان یاداشت ورکول مولی خپل ته

فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ﴿۴۲﴾ ع

نو حصار شو یوسف په جیل کښ خو کاله -

۵ ع ۱۷ ۵

۴۱:- په دے قصه کښ احسن طریقه دَ دعوت ذکر شویده چه هر کله دغه کسانو دَ خپل مقصد دَ پاره یوسف علیه السلام ته رجوع اوکړه او حاجت مند شول نو یوسف علیه السلام ورته اول دَ توحید او رسالت دعوت ورکړو او پس دَ بیان دَ توحید او دَ رسالت نه بیان دَ تعبیر دَ خوب دَ ملګرو دَ یوسف علیه السلام دے چه په هغے کښ دَ یو نجات ذکر دے ، او دَبل سزا ، او په لفظ دَ قُضِيَ الْاَمْرُ ، کښ اشاره ده چه دا تعبیر دَ طرف دَ الله تعالی نه یقینی دے نو په خوب کښ لیدل دَ سر دپاسه مارغان دوډئ خوری دَ دے تعبیر دا شو چه دَ هغه دَ سر مازغه خوری او خوب اکثر دَ تمثیلا تو نه وی -

۴۲:- په دے آیت کښ بیان دَ دے خبرے دے چه یوسف علیه السلام یوه ذمه واری او سپارله هغه کس ته چه نجات موندونکے وُو هغه ذمه واری دا وه چه زما دا دین او زما حال ته چه دَ هغے ته خبر شوے پادشاه ته اور سوه -
او مقصد په یکښ تبلیغ دَ دین توحید وُو پادشاه ته ، لیکن شیطان دَ هغے ملګری نه تبلیغ دَ مسئلے او بیان دَ حال دَ یوسف علیه السلام هیر کړو - او دا سبب شو دَ دے چه

وَقَالَ الْمَلِكُ إِنِّيٓ أَرٰى سَبْعَ

او اُوئیل بادشاه یقیناً ما لیدلے (په خوب کښې) اووه

بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ

غواګانے څربے چه خوری هغے لره اووه

عِجَافٌ وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ

نرۍ او اووه وږی شنه

وَّأُخَرَ يٰبِسٰتٍ ط يٰٓأَيُّهَا الْمَلَأُ

او نور (اووه) اوچ شوی ، اے دربار والو

أَفْتُونِي فِي رُءْيَايَ إِنْ كُنْتُمْ

تعبیر راکړئ ما ته زما د دے خوب که یئ تاسو

یوسف علیه السلام په جیل کښې ډیره موده تیره کړه ، او په هغه موده کښې اختلاف دے د مفسرینو چه اووه کاله یا دولس کاله او یا څوارلس کاله وو۔

لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُ نَاجٍ مِّنْهُمَا ، ضمیر د ظن راجع دے ساقی ته یا راجع دے یوسف علیه السلام ته او ظن په معنیٰ د یقین دے ځکه چه تعبیر د نبی په وحی سره وی۔

اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ ، مراد د دینه د جیل ټول حالت دے چه په هغه کښې معجزه او توحید ټول داخل دی۔

فَأَنْسٰهُ الشَّيْطٰنُ ذِكْرَ رَبِّهٖ ، صحیح دا ده چه ضمیر راجع دے ساقی ته په قرینه د وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ ۴۵ کښې۔

لِلرُّءْيَا تَعْبُرُوْنَ ﴿٤٣﴾ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ

دَ خوب تعبیر وینستو نکی ۔ هغوی اُوئیل دا گډ وډ

اَحْلَامٍ ۚ وَمَا نَحْنُ بِتَاْوِیْلِ الْاَحْلَامِ

خوبونه دی او مونږ نه یو په تعبیر دَ داسے خوبونو

بِعٰلِمِیْنَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ الَّذِیْ نَجَا

پوهیدونکی ۔ او اُوئیل هغه تن چه جیل نه وتلے وؤ

۴۳ :- دَ دے آیت نه شپږم مقام دے تر آیت ۵۷ پورے ۔

خلاصه :- پدے مقام کښ بیان دَ خوب دَ بادشاه دے ۔ بیا عجز دَ نورو خلقو دے دَ هغے دَ تعبیر نه ، او تعبیر دَ یوسف علیه السلام دے دَ هغے خوب سره دَ تدبیر بیانولو نه ۔ بیا اظهار دَ پاکدامنئ دَ یوسف علیه السلام دے په اقرار دَ ټولو زنانوؤ او په اقرار دَ زلیخا دَ بادشاه په وړاندے بیا وتل دَ هغه دی دَ جیل نه او مقرر کول دی دَ بادشاه هغه لره په انتظام دَ خزانو دَ مصر، سره دَ عزت نه ۔

تفسیر :- پدے آیت کښ تفصیل دَ خوب دَ بادشاه دے او تعبیر طلب کول دی دَ خپل مشورے والو نه ۔ او هر کله چه تعلق دَ قحط دَ غلو او خمارو سره وی دَ دے وجے نه په دے خوب کښ بادشاه دا دواړه څیزونه اولیدل ۔

تَعْبُرُوْنَ ، تعبیر تفسیر دَ خوب ته وئیلے شی گویا چه دَ ظاهر نه باطن ته عبور کیږی او تاویل عام دے ۔

۴۴ :- پدے آیت کښ بیان دَ عجز دَ اهل شورٰی دے دَ تعبیر دَ خوب نه او تسلی ورکول دی بادشاه ته چه ستا خوب تعبیر ته محتاج نه دے ، ځکه چه گډ وډ خوب دے ۔

اَضْغَاثُ ، جمع دَ ضغث ده هغه پنډ دَ خشاک ته وئیلے شی چه گډ وډ لرگی راوچ او شنه) پکښ موجود وی نو گډ وډ خوب ته هم وئیلے شی ۔

مِنْهُمَا وَادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا

دَ هغه دوؤ نه او یاد ئې کړه روستو دَ نخه مودے نه زه به

أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾

تاسو خبر کړم په تعبیر دَ دے خوب سره نو ما اولیږئ.

يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ أَفْتِنَا

اے یوسف اے ډیر رشتینیه تعبیر را کړه مونږ ته

فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ

په باره دَ اوؤ غواګانو څربو کښ چه خوری هغې لره

سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ

اووه ډنګرے او اووه اوږی شنه

وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ

او نور اوچ دَ پاره دَ دے چه واپس لاړ شم خلقو ته

الْأَحْلَامِ، باطل خوبونه یا عام خوبونه مراد دی۔ الله تعالى دغه خلق عاجز کړل دَ تعبیر دَ خوب دَ بادشاه نه دَ پاره دَ دے چه دوی رجوع اوکړی یوسف علیه السلام ته۔

٤٥ :- په دے آیت کښ ذکر دَ هغه ساقی دے چه پیغام دَ یوسف علیه السلام ئې هیر کړے وؤ او اوس ورته وریاد شو نو اراده ئې اوکړه چه دَ هغه ملاقات پخپله اوکړی او تعبیر تری طلب کړی دَ دے وجے نه فَأَرْسِلُونِ، سره ئې ځانے او طرف دَ یوسف علیه السّلام ذکر نه کړو دَ پاره دَ دے چه بل څوک او نه لیږی۔

لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ تَزْرَعُوْنَ

د دې د پاره چه هغوی پوهه شي. او وئیل یوسف کرونده به کوئ

سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ

اووه کاله پرله پسې نو هغه چه تو کړئ تاسو

فَذَرُوْهُ فِيْ سُنْۢبُلِهٖۤ اِلَّا قَلِيْلًا

نو پرېږدئ هغه په وږو خپلو کښ مګر لږ

مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ﴿۴۷﴾ ثُمَّ يَاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِ

د هغې نه چه خورئ تاسو. بیا به راشي روستو

ذٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ

د دېنه اووه کالونه سخت او به خورئ هغه (غله) چه تاسو مخکښ جمع کړې وي

۴۶:- په دې آیت کښې پیش کول د ساقي دي خوب د بادشاه یوسف علیه السلام ته د پاره د تعبیر- او لفظ د الصِّدِّيْقُ، دلیل دې په دې بانديې چه دې ساقي یوسف علیه السلام صادق مونلې وؤ-

يَعْلَمُوْنَ، چه پوهه شي په تعبیر د خوب یا پوهه شي په مرتبه د یوسف علیه السلام باندې-

۴۷:- په دې آیت کښ ذکر د تعبیر د سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ او وَسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ، دې سره د تعلیم د تدبیر نه او دا نبوی تعبیر دې او حسن خلق د یوسف علیه السلام دا دې چه دغه سړي ته ئې هیڅ ملامتیا ورنکړله-

تَزْرَعُوْنَ، دا خبر په معنیٰ د امر دې-

دَاَبًا، داب عادت ته وئیلې شي یعني نور کله چه څه رنګه کرونده کوئ پرله پسې تو اووه کاله نور د هم دا سې او کړې- او په وږو کښ پرېښودل د پاره د دې چه چینجو او مرغو وغیره نه بچ پاتې شي-

لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ ﴿۴۸﴾

هغې لره مګر لږ د هغې نه چه تاسو تخم د پاره ساتئ.

ثُمَّ يَأْتِي مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ

بیا به راشي روستو د دینه داسې کال چه په هغې کښ به

يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿۴۹﴾ ع ۶/۱۴

بارانونه اوشي په خلقو باندې او په هغې کښ به میوې نچوړ وئ.

۴۸:- په دې کښ بیان د تعبیر د سَبْعٌ عِجَافٌ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ دے.
يَأْكُلْنَ، فنا کول مراد دی او نسبت د اکل کلونو ته په طریقه د توسیع د کلام دے او دیته مجاز هم وئیلې کیږی.
فائده:- دا واقعه دلالت کوی په دې خبره چه خوب لیدل د کافر هم ریختنے کیدې شي او د دې خوب په صداقت کښ معجزه د یوسف علیه السلام ده.
تُحْصِنُونَ، احصان بیج ساتلو ته وئیلې شي یعنی د آینده کال د تخم کرلو د پاره بیج اوساتئ.
۴۹:- په دې آیت کښ خبر ورکول دی د هغه څیز چه نه وؤ په خوب د بادشاه کښ او په دې کښ دلیل دے په فضیلت او په نبوت د یوسف علیه السلام.
وَفِيهِ يَعْصِرُونَ، عصیرونه رجوس ویستل د انګورو وغیره نه او د زیتون نه او کونزلو او شرشم نه تیل ویستل.
يُغَاثُ، مراد د دې هغه بارانونه دی چه په هغې سره قحط ختمیږی داسې باران ته غیث وئیلې شي.

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهٖ ۚ فَلَمَّا

او وئیل بادشاه راولئ ماته دغه سړے نو هر کله چه

جَآءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى رَبِّكَ

راغے استازے اوئیل هغهٔ (یوسف علیه السلام) واپس شه مولی خپل ته

فَسْئَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ

نو تپوس اوکړه د هغه نه څه حال دے د هغه زنانو

قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِكَيْدِهِنَّ

چه زخمی کړی ووُ هغوی لاسونه خپل، یقینًا زمارب د هغوی په مکر باندے

عَلِيْمٌ ﴿۵۰﴾ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ اِذْ رَاوَدْتُّنَّ

پوهه دے. اوئیل بادشاه (زنانوته) دا څه واقعه ده ستاسو چه غولولو تاسو

يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ قُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ

یوسف لره د هغه د نفس په باره کښ، دوی اوئیل پاکی ده الله تعالی لره

ن۵ :- په دے آیت کښ طلب کول د بادشاه دی یوسف علیه السلام لره د پاره د ملاقات او د پاره د راویستلو د جیل نه لیکن یوسف علیه السلام شرط اولګوؤ په بادشاه باندے د تحقیق کولو د تیرے شوے واقعے، د پاره د دے چه د بد نامئ نه پاک شي مخکښ د شروع کولو د دعوت نه خلقوته ۔ او دا اجتهاد وؤ د یوسف علیه السلام ۔ او زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم اجتهاد دا وؤ چه تلوار او کړیشي په دعوت د توحید کښ. نو د دے وج نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وؤ لَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ مَا لَبِثَ يُوْسُفُ لَاَجَبْتُ الدَّاعِيَ رکه زهٔ ایسار وے په جیل کښ څومره موده چه ایسار وؤ یوسف علیه السلام نو ما به د داعی خبره قبوله کړے وے)۔

مَا بَالُ النِّسْوَةِ الّٰتِيْ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ ، یعنی په څه وجه سره دوی خپل لاسونه زخمی کړے وؤ د دا سے ښځو ذکر ئے ځکه اوکړو چه دوی

مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوٓءٍ ؕ قَالَتِ
نه يو خبر شوي موږ په هغه باندے د هيڅ نقصان، او وئيل
امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ الْـٰٔنَ حَصْحَصَ
ښځے د عزيز اوس په ډاګه شو
الْحَقُّ ز اَنَا رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ
حق ما ده غلول کول په باره د نفس د ده کښ
وَاِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٥١﴾ ذٰلِكَ
او يقيناً دے د رشتينو نه دے. (دا ئے ځکه اقرار اوکړو)
لِيَعْلَمَ اَنِّيْ لَمْ اَخُنْهُ بِالْغَيْبِ
چه پوهه شي دے چه يقيناً ما هيڅ نقصان د ده پټي شا نه دے کړے
وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ ﴿٥٢﴾
او يقيناً الله تعالىٰ نه کامیابوی مکر د خيانت ګرو.

په اصل کښ ګواهانے دی په عصمت د يوسف عليه السلام په قول د زليخا باندے چه فاستعصم ﴿٣٢﴾ آيت دے او د ګواه نه تپوس کول ضروري دی.

﴿٥١﴾:- په دے آيت کښ شهادت د زنانوؤ دے سره د زليخا نه په پاکلمنۍ د يوسف عليه السلام د بادشاه په مخکښ.

قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ، خطب، غټے واقعے ته وئيلے شي يعني په تاسو باندے څه باعث او سبب وو چه تاسو د يوسف عليه السلام نه مطالبه کوله.

﴿٥٢﴾:- دا هم داخل دے په قول د زليخا کښ او مراد ئے دا دے چه په وخت د غائب والی د يوسف عليه السلام کښ ما د هغه په باره کښ هيڅ خيانت نه دے کړے په بهتان وئيلو سره او نه په دروغه سره په هغه باندے.

وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَآئِنِيْنَ، دليل دے په دے خبره چه زليخا اقرار کوؤنکے وه په الله تعالىٰ ليکن شرک ئے کوؤ.

وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي ۚ إِنَّ النَّفْسَ

او زه د خپل ځان پاکي نه وايم یقیناً نفس

لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلَّا مَا رَحِمَ

ډیر خودونکے د بدائ دے مګر هغه څوک چه رحم اوکړی

رَبِّي ۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٥٣﴾

رب زما په هغه باندے، یقیناً رب زما بخښنه کوونکے رحم کوونکے دے۔

وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ

او اوئیل بادشاه راولئ ماته دے چه خاص ئے کړم دپاره د کار

لِنَفْسِي ۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ

ځان نو هر کله چه خبرے اوکړے د هغه سره اوئیل بادشاه یقیناً ته

۵۳:۔ دا هم داخل دے په قول د زلیخا کښ۔

فائده ۱:۔ بعضو مفسرینو دا دواړه آیتونه قول د یوسف علیه السلام ګرځولے دی۔ لیکن دا صحیح نه ده ځکه چه یوسف علیه السلام تردغه وخته پورے د جیل نه راوتلے نه وُو۔ او هم دا رنګ ذکر کړیدی ابن کثیر او قرطبی او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمهم الله وغیره۔

فائده ۲:۔ په دے آیت کښ اشاره ده چه نفس درے قسمه دے په اعتبار د صفاتو سره یعنی یو نفس دے او په درے صفتونو سره تقسیم دے۔

اول قسم، اماره بالسوء دے او دا صراحتًا ذکر دے۔ او دویم قسم، نفس لوامه دے هغے ته اشاره ده په لفظ د غفور سره۔ او دریم قسم، نفس مطمئنه دے هغے ته اشاره ده په لفظ د رحیم سره۔

اِلَّا مَا، په معنیٰ د مَن سره دے۔

رَحِمَ، مراد د رحمت نه عصمت دے۔

الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ۝٥٤

دَ نن نه زمونږ په نیز لوړے مرتبے والا امانتدار ئے.

قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ

اوئیل هغه مقرر کړه ما په خزانو

الْأَرْضِ ۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ۝٥٥

دَ زمکے (دَ مصر) یقیناً زه ساتونکے او پوهه یم (په تدبیر باندے)

٥٤ :- پدے آیت کښ طلب کول دَ بادشاه دی یوسف علیه السلام لره په دویم ځل۔ لیکن هر کله چه معلومه شوه بادشاه ته پاکدامنی دَ یوسف علیه السلام او علم او صبر دَ هغه نو زیات ئے کړو دا لفظ چه أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي، دَ پاره دَ عزت او اکرام دَ هغه۔ او هر کله چه هغه راغے او ورسره خبرے او شوے نو دَ هغه دَ خبرو تاثیر اوشو په بادشاه باندے نو هغه ئے دَ ځان سره په اقتدار او مکانت کښ شریک کړو۔

٥٥ :- پدے آیت کښ یوسف علیه السلام تعین کړے دے دَ منصب مناسب پس دَ هغے نه چه بادشاه ده ته عام مکانت اوسپارلو او یوسف علیه السلام دَ ځان دَ پاره دَ اول نه طلب دَ مرتبے نه دے کړے نو پدے آیت سره دلیل نیول دَ هغه چا دَ پاره صحیح نه دی چه دَ ځان دَ پاره اقتدار طلب کوی ځکه چه په صحیح حدیث سره ثابت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ طلب دَ امارت نه منع فرمائیلے ده۔

إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ، دا ذکر دَ علت دے دَ پاره دَ تخصیص دَ منصب دا تزکیه دَ نفس نه ده ځکه چه الله تعالیٰ دَ تزکیے دَ نفس نه منع فرمائیلے ده او که تزکیه شی نو هم انبیاء علیهم السلام دَ پاره جائز ده په قرینه دَ دے قول دَ الله تعالیٰ "هو اعلم بمن اتقیٰ" روستو دَ دینه چه فلا تزکوا انفسکم او دا په سورة نجم ٣٢ کښ راځی او بله وجه دا ده چه په هر نبی باندے اصلاح او خیرخواهی دَ خپل قوم واجب ده. نو هغه وَ دے وجے نه کار دَ خزانو دَ ملک خوښه کړو.

وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ ج

او دغسې ورکړې وو مونږ. یوسف (علیه السلام) ته په زمکه کښې ځاے

يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ ۚ نُصِيبُ

دیره یې نیوله د هغې نه چه کوم ځاے به یې خوښه وه، رسوو مونږ

بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَّشَاءُ وَلَا نُضِيعُ

خپل رحمت هغه چاته چه اوغواړو او نه برباد وو مونږ

أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ

بدله د ښائسته عمل کوونکو. او خامخا بدله د آخرت

خَيْرٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا

غوره ده هغه چالره چه ایمان یې راوړے وی او

۵٦:- پدې آیت کښې ذکر د انعام د تمکین دے په یوسف علیه السلام باندے پس د صبر کولو د هغه نه په مصیبتونو باندے.
وَكَذٰلِكَ، کښې تیر شوے نعمتونو ته اشاره ده د کوهی او د جیل نه راویستل او د بادشاه په زړه کښې د هغه عزت اچول.
مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ، په آیت ۲۱ کښې د دے تمکین د پاره یو ذریعه ذکر کړے وه یعنې په کور د عزیز مصر کښې ځائے ورکول او پدے آیت کښې په زمکه د مصر کښې تمکین مراد دے د دے وجې نه ورپسے یې اوفرمائیل. يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ، پدیکښې عام بشارت دے هغه چاته چه صبر اوکړی په مصیبتونو او ځان بچ کړی د ناروا کارونو نه.

يَتَّقُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَجَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ
تقوٰی لری. او راغلل وروڼره د یوسف علیه السلام

فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ
نو داخل شول هغه ته نو هغه او پیژندل او دوی

لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٨﴾ وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ
هغه لره نااشنا گنړونکی وو. او هر کله چه تیار کړو هغه دوی لره

بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّكُمْ
سامان د سفر د دوی اوئیل هغه راولئ ما ته ورور ستاسو

مِّنْ اَبِيْكُمْ ۚ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّيْٓ اُوْفِي
چه ستاسو د پلار نه دے آیا تاسو نه گورئ چه زهٔ پوره ورکوم

۵۷:- هر کله چه ذکر شو، انعام دنیوی په تیر شوی آیت کښ تو ذکریئے کړو په دے آیت کښ اجر د آخرت د پاره د تزهید في الدنيا.

خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، په یکښ اشاره ده چه خیر د آخرت صرف په ایمان او تقوٰی سره حاصلیږی او خیر د دنیا عام دے مومن او غیر مؤمن دواړو د پاره دے.

فائده:- محققینو مفسرینو لیکلی دی چه عزیز مصر مړ شو او یا د خپل منصب نه معزول کړے شو او د هغه په ځائے یوسف علیه السلام مقرر کړیشو او بادشاه د مصر ایمان راوړو. او د زلیخا سره نکاح د یوسف علیه السلام او د هغے دوباره ځوانیدل ثابت نه دی په صحیح روایت سره.

۵۸:- د دے آیت نه اووم مقام دے تر آیت ۶۸ پورے.

خلاصه:- په یکښ ذکر د راتللو د وروڼړو د یوسف علیه السلام دے په اول ځل او سبب جوړول د یوسف علیه السلام دی دویم ځل راتللو ته په طلب کولو د ورور خپل چه نوم د

الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ ﴿۵۹﴾ فَإِنْ

راشن او زهٔ ښهٔ میلمستیا ورکوونکے یم۔ نو که

لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ

تاسو را نهٔ وستو هغه لره نو نشته ستاسو راشن

هغه بنیامین وؤ۔ او په واپس کولو دَ قیمت دَ هغوی ته۔ او
بیا تعلیم دَ پلار دے ځامنو ته دَ طریقے دَ دویم ځل دَ تللو دَ پاره دَ
دفع دَ ضرر۔
هر کله چه زمانه دَ قحط شروع شوه او اثر دَ قحط کنعان ته اورسیدلو
او یوسف علیه السلام دَ غلے لوے ستهاک (ذخیره) جمع کړے وؤ
او په مصر کښ یوسف علیه السلام په ښه تدبیر سره تقسیم دَ غلے
شروع کړے وؤ او دَ یو شخص دَ پاره چه حاضر به وؤ یو کیل
غله په مناسب قیمت مقرر وه نو دا خبر یعقوب علیه السلام ته
اورسیدو نو هغه لس ځامن را اولیږل۔
تفسیر:- په دے آیت کښ دَ هغوی راتلل ذکر دی او هر کله چه
په یوسف علیه السلام کښ فراست دَ نبوت موجود وؤ نو دوی
ئے او پیژندل۔ او دَ ورونړو دَ یوسف فراست کم وؤ او دا ئے
په خیال کښ نه راتلل چه یوسف علیه السلام به دے مقام ته
رسیدلے وی نو دوی هغه او نه پیژندلو اګر چه هغه سره مخاطب
شوی وؤ۔
۵۹:- هر کله چه دوی دَ یوسف علیه السلام نه دَ غائب ورور
دَ پاره چه هغه بنیامین وؤ حصّه طلب کړه نو هغه ورته اُو ئیل
چه چونکه غائب ته حصه نه ملاویږی نو هغه ورور ستاسو
حاضر کړئ او دَ هغه دَ حاضرولو ترغیب ئے ورکړو په دے جملے
سره أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ ۔
مِنْ أَبِيكُمْ ، یعنی دوی ورته وئیلی وؤ چه هغه زمونږ علاتی
ورور دے مور ئے زمونږ نه جدا ده۔
وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ ، تجهیز ، په اصل کښ دَ مسافر

عِنۡدِیۡ وَلَا تَقۡرَبُوۡنِ ﴿۶۰﴾ قَالُوۡا

زما سره او مه نژدې کېږئ زما وطن ته. او وئیل دوی

سَنُرَاوِدُ عَنۡهُ اَبَاهُ وَاِنَّا لَفٰعِلُوۡنَ ﴿۶۱﴾

په غولولو سره به یې طلب کوو د پلار نه او یقیناً مونږ به دا کار کوو.

د پاره سامان تیارول دي د دې وجې نه د مړي تیاری کولو ته تجهیز تکفین وئیلے شي او ناوې چه د پلار د کوره رخصتیګي هغې ته سامان ورکولو ته هم جهیز وئیلے شي.

س۶۰ :- په دے آیت کښې هم ترغیب ورکول دي د هغه په حاضرولو د ورور سره په ډیر تاکید او تخویف سره. او هغه دا دے چه که تاسو دے حاضر نه کړو نو تاسو به دروغژن او دهوکه مار ثابت شئ نو دوباره به تاسو ته هم غله ملاؤ نه شي. او نه به دے ملک د مصر ته راځئ.

فائده :- طلب کول د یوسف علیه السلام خپل ورور بنیامین لره او د هغه د حاضرولو او بیا د ځان سره د ایسارولو طریقے جوړول، دا ټول په حکم د الله تعالیٰ سره وو اګرچه یعقوب علیه السلام ته په دے بانډے تکلیف رسیدلو.

س۶۱ :- په دے آیت کښې وعده د هغه ورونړو ذکر ده. په باره د حاضرولو د بنیامین کښې د وجې د مجبورئ نه ځکه چه دوباره راشن نه میلاویږی.

سَنُرَاوِدُ، مراوده وئیلے شي طلب کول په تدبیر او حیلے سره ځکه چه بغیر د تدبیر نه پلار ئې دوی ته نه حواله کوی.

وَقَالَ لِفِتْيٰنِهِ اجْعَلُوْا بِضَاعَتَهُمْ
او وئیل یوسف خپلو متکارانو ته واچوئ د دوی قیمت (ادا کړے شوے)
فِيْ رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَهَا
په سامان د دوی کښې د دے دپاره چه دوی ئے او پیژنی
إِذَا انْقَلَبُوْا إِلٰى أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ
کله چه دوی واپس لاړ شی کورنئ خپلو ته شاید چه دوی
يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۲﴾ فَلَمَّا رَجَعُوْا إِلٰى
واپس راشی۔ نو هر کله چه واپس اورسیدل دوی

س۶۲:۔ په دے آیت کښې ذکر دے د هغه طریقے چه یوسف علیه السلام جوړه کړه د پاره د حاضرولو د ورور خپل او هغه طریقه داوه چه حکم ئے اوکړو خادمانو ته چه د دوی قیمت د دوی په سامان کښې واپس کیږدئ۔
لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُوْنَ، د دے یو توجیه دا ده چه چونکه کورنئ د یعقوب علیه السلام طعام بے پیسو نه اخلی نو هر کله چه دا پیسے واپس کړے شوے او وینی نو پلار به دا محاسن دوباره مصر ته رالیږی د قیمت د واپس کولو د پاره نو ضرور به ځان سره بنیامین راولی۔
دویمه توجیه دا ده چه یوسف علیه السلام ته په څه ذریعه معلومه شوے وه چه په کور د یعقوب علیه السلام کښې نور مال نشته نو په دوباره راتللو قدرت نه لری۔ نو یوسف علیه السلام دا قیمت د احسان د وجے نه واپس کړو او دا قسم احسان حاکمانو لره د خپلو محتاجانو سره جائز دے او امام بخاری د دے جواز د پاره باب ذکر کړیدے چه متولی او منتظم د اوقافو د خپلو او دوستانو سره د وقف نه امداد کولے شی دا جائز دے۔ او د دے قیمت په پټه واپس کولو کښې حکمت دا وُ چه

أَبِيهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مُنِعَ مِنَّا

پلار خپل ته اُوئیل دوی اے زمونږ پلاره منع کړے شو بیا لے زمونږ نه

الْكَيْلُ فَأَرْسِلْ مَعَنَا أَخَانَا

راشن نو اولیږه زمونږ سره زمونږ ورور

نَكْتَلْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٦٣﴾

چه راشن راوړو او یقیناً مونږ به دَده حفاظت کوؤ.

قَالَ هَلْ آمَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَا

اُوئیل ده آیا اعتبار اوکړم په تاسو باندے دَدهٔ په باره کښې مګر لکه چه ما

أَمِنتُكُمْ عَلَىٰ أَخِيهِ مِن قَبْلُ ط

اعتبار کړے وؤ په تاسو دَده دَ ورور په باره کښې دَ دینه مخکښې،

یوسف علیه السلام ته معلومه وه چه کورنۍ دَ یعقوب علیه السلام دَ ډیر شرافت دَ وجے نه داسے عطیے نه قبلوی.

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ، غایه ده دَ یعرفونها دَ پاره.

٦٣:- هر کله چه دوباره غله راوړل ضروری وؤ او دَ بنیامین بوتلل دَ هغے دَ پاره شرط وؤ، نو دَ سامان پرانستلو نه وړاندے ئے دَ ورور مطالبه دَ پلار نه اوکړه او دَ هغے وجه ئے ذکر کړله چه "منع منا الکیل" او منع مشروطه وه په ورور نه راوستلو پورے.

نَكْتَلْ، دا ئے دَ دے وجے نه اُوئیل چه کیل دَ ټولو ئے مشروط کړے وؤ په ورور حاضرولو پورے.

وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ، په دے کښې ئے دَ پلار سره وعده اوکړه دَ حفاظت دَ ده.

فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّهُوَ اَرْحَمُ

نو الله تعالیٰ بنهٔ حفاظت کوونکے دے او هغه زیات مهربان دے

الرّٰحِمِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَمَّا فَتَحُوْا مَتَاعَهُمْ

دَ نورو مهربانئ کوونکو نه. او هر کله چه دوی پرانستل ساما نونه خپل

وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَيْهِمْ

او موندلو یے قیمت خپل چه واپس کړے شوے وُو دوی ته

قَالُوْا يٰۤاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا

او وئیل دوی اے پلاره مونږ نور څه اوغواړو (یعنی نه غواړو) دا زمونږ قیمت دے

رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا وَ

واپس کړے شوے دے مونږ ته او غله به راوړو خپله کورنئ دپاره او

نَحْفَظُ اَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ؕ

حفاظت به کوو دَ ورور خپل او زیات به راوړو بار دَ اوښ،

س۶۴:- مراد دَ دے آیت دا دے چه یعقوب علیه السلام دَ هغوی مطالبه مجبورًا اومنله دَ وجے دَ ضرورت دَ غلے نه یا دَ دے وجے نه چه دغه ورونړو دَ یوسف علیه السلام په شان حسن دَ دے ورور سره نه کوو. او قیاس ئے اوکړو په تیره شوے واقعه باندے چه په باره دَ یوسف علیه السلام کښ ما اعتماد کړیوو په تاسو باندے نو اوس هم هغسے اعتماد په تاسو کوم لیکن مخکښ مے باور کړے وُو په حفاظت ستاسو او اوس په حفاظت دَ الله تعالیٰ اعتماد او باور کوم۔

فَاللّٰهُ خَيْرٌ حٰفِظًا ، دا په مقابله دَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ، کښ ئے اُوئیل۔ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ، دا علت دے دَ خیر دَپاره۔

ذٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيْرٌ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنْ

دا راشن (پیمانه) لږ دے۔ اُوئیل یعقوب علیه السلام هیچرې

أُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى تُؤْتُوْنِ

نه لیږم دے تاسو سره تر دے چه راکړئ ماته

مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَأْتُنَّنِيْ بِهٖۤ

پوخ لوظ د الله تعالیٰ په نوم چه خامخا به راولئ دے ماته

اِلَّاۤ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ فَلَمَّاۤ اٰتَوْهُ

مګر که راګیر کړے شوئ تاسو (ټول) نو هر کله چه دوی ورکړو هغه

مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ

لوظ پوخ اُوئیل هغه الله تعالیٰ زمونږ په وینا

ف ۶۵:۔ هر کله چه دوی ته تسلی حاصله شوه د پلار د طرف ته نو سامان ئے پرانستو او قیمت ئے بیا موندلو خوشحالی ئے ښکاره کړه۔ او وے وئیل چه مَا نَبْغِیْ، د دے یوه توجیه داده چه مونږ د دینه زیات احسان نه غواړو ځکه چه مونږ له ئے غله پوره راکړیده او قیمت ئے هم واپس کړیدے په دے توجیه سره "ما" د استفهام د تعجب دے۔

دویمه توجیه داده چه اے پلاره مونږ ستا نه نور قیمت نه غواړو دا واپس کړے شوے قیمت مونږ لره کافی دے په دے توجیه سره "ما" د پاره د نفی دے۔

ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ، ذٰلِكَ اشاره ده کیل د ورور ته چه دا په بادشاه باندے آسان کار دے یا اشاره ده ټول راشن ته چه دوی راوړے دے او یسیر په معنیٰ د لږ سره دے۔

وَكِيْلٌ ﴿۶۶﴾ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا

ذمه وار دے۔ او اوئیل (یعقوب) اے بچو زما مه ور ننوځئ

مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ وَّادْخُلُوْا مِنْ

د دروازے یوے نه او ور ننوځئ د

اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَمَآ اُغْنِيْ

دروازو مختلفو نه ، او زۀ نشم اوړلے

عَنْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ

ستاسو نه د الله تعالیٰ رد (مصیبت نه) هیڅ شے ، نه دے

الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۚ

واک (اختیار) مگر صرف د الله تعالیٰ لره دے ما په هغه باندے ځان سپارلے دے

۶۶:۔ مراد د دے آیت دا دے چه یعقوب علیه السلام د ځامنو نه منع نه ده کړے بلکه مضبوطه وعده ئے طلب کړه او هغوی ورسره هم وعده اوکړه او د پاره د تاکید یعقوب علیه السلام دا کلمه اُوئیله چه قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ۔

او اِلَّآ اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ ، کښ مطلب دا دے چه که تاسو ټول راګیر کړے شوئ په یو حادثه کښ نو پرواه نشته که بنیامین ستاسو سره ګیر شی او چه تاسو روغ او سالم یئ او صرف بنیامین راګیر کړے شی نو دا زۀ نه شم منلے۔

وَكِيْلٌ ، په صفت د الله تعالیٰ کښ معنیٰ دا ده چه هغه باندے توکل کیدے شی یا په معنیٰ د حافظ سره دے۔

مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ ، یعنی په عهد کښ چه قسم په نوم د الله تعالیٰ ذکر شی نو عهد پوخ شی دائے زیات تاکید د پاره اُوئیل۔

وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾

او په هغه باندې دِ خاص ځان اوسپاري ځان سپارونکي.

ت٦٧:- هر کله چه هغوی قصد اوکړو دَ سفر کولو مصر ته نو یعقوب علیه السلام هغوی ته ادب او طریقه اوخودله چه دَ یوې دروازې نه مه داخلیږئ او دروازې نه مراد دَ ښار دروازې دي یا مراد تریته لارې دي. دَ دې یو وجه داوه چه په دوی باندې بد نظر اونه لږي ځکه چه دوی لوې جماعت وو. او ښائسته هیئت او شکل ئې لرلو. او صحیح احادیث دلالت کوی په دې چه نظر لګیدل حق دي او په احادیثو کښې دَ نظر بد دَ دفع کولو لپاره رُقیات او دمونه او مختلف شرعی طریقې هم ذکر دي. لیکن دَ دفع دَ نظر دَ پاره غیر شرعی طریقې او تهوتکې کول منع دي. لکه وشم (خال لګول) او ابن قتیبه او خازن ذکر کړیدی چه په وخت دَ نظر کښې دَ سترګو دَ نظر نه څه زهریلی جراثیم (راوځي په معیون (نظر کړې شوی) باندې اولګی او دا ټول په قدرت دَ الله تعالی سره وی.

او دویمه وجه دَ دې تدبیر داده چه دوی لوې جماعت دَ په دویم کرت مصر ته راځي هسې نه چه مصر والا حسد اوکړی چه دا دې خلقو زمونږ غله خلاصه کړه نو دفعې دَ حسد دَ پاره دا تدبیر ئې اوخودلو.

وَمَا أُغْنِي عَنكُم مِّنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ، دا ښکاره دلیل دې په دې خبره چه انبیاء علیهم السلام دَ هیڅ چا نه ضرر او مصیبت نه شی دفع کولې اګرچه ژوندې وی نو نور اولیاء او بزرګان په پس دَ مرګ نه څه رنګ دَ چا امداد اوکړیشی.

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ، حکم دوه قسمه دې یو حکم تکوینی یعنی تصرفات او اختیارات او دویم حکم تشریعی یعنی تحلیل او تحریم کول او شرع جوړول. دا دواړه په الله تعالی پورې خاص دي په دې کښې دَ الله تعالی سره هیڅوک شریک نشی جوړیدې.

وَلَمَّا دَخَلُوْا مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ

او هر کله چه دوی ورننوتل په هغې طریقې چه امر کړیوو دوی ته

اَبُوْهُمْ ط مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ

پلار خپل ، نه وو هغه چه اړولے وے د دوی نه

مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً

د الله تعالٰی (د مصیبت نه) څه څیز لیکن یو ارمان وو

فِیْ نَفْسِ یَعْقُوْبَ قَضٰهَا ط وَاِنَّهٗ

په زړه د یعقوب کښ چه پوره ئے کړو ، او یقینًا هغه

لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ

د علم خاوند وو د دے وجے نه چه علم ورکړیوو مونږ هغه ته او لیکن

ع ٨ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿٦٨﴾ وَلَمَّا

ډیر خلق نه پوهیږی - او هر کله چه دوی

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ، په دے آیت کښ د تدبیر نه وروسته امر د توکل کړیدے اشاره ده چه توکل سره د استعمال د اسبابو دے او د توکل د اسبابو سره هیڅ منافات نشته.

٦٨ :- په دے آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه تدبیر د انسان د تقدیر مقابله نشی کولے.

مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ، دا تصدیق دے د طرف د الله تعالٰی نه د کلام د یعقوب علیه السلام چه وما اغنی عنکم دے چه معلومه شی چه د هغه قول صرف تواضعًا نه وو بلکه حقیقت وو.

وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ ، دلته مراد د علم نه دا دے چه په تدبیر سره تقدیر نه دفع کیږی اگر چه تدبیر شرعی کول لازم دی.

دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰۤى اِلَيْهِ
ورننوتل یوسف ته جدا ئې کړو ځان سره

اَخَاهُ قَالَ اِنِّىْۤ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَئِسْ
ورور خپل او ئې ووئیل ورته یوسف یقیناً زه ستا ورور یم نو مه خفه کیږه

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾ فَلَمَّا
په هغه کارونو چه دوی به ئې کوی۔ نو هر کله

جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ
چه تیار ئې کړو دوی له سامان د دوی نو کیښود ئې جام (لوښی)

اِلَّا حَاجَةً، د دینه مخکښ فعل پټ دے اَظْهَرَ حَاجَةً او روستو قضاها د هغې تفسیر دے۔

لَا يَعْلَمُوْنَ، په دیکښ هغه خلق مراد دی چه اسباب او تدابیر خپل مؤثر حقیقی گنړی۔

۶۹:۔ د دے ځائے نه اتم مقام دے تر ۷۹ آیت پورے۔

خلاصه:۔ په دے مقام کښ حاضرول د یوسف دی ورور خپل له ځان سره او بیا تدبیر کول دی په کیښودلو د سقایه (لوښی) سره په سامان د هغه کښ او تهمت لگول په هغه باندے په غلا سره، او حکم کول د هغه په غلام کولو تر یو کال پورے. او ویزاره کیدل د ورونړو د هغه نه او تهمت لگول د دے ورونړو په یوسف علیه السلام د غلا کولو او طلب د دوی د نجات د ورور د یوسف علیه السلام نه او جواب د یوسف علیه السلام دوی ته ذکر شوید ی۔

فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ، په دیکښ اشاره ده چه دے ورونړو پس د جدائئ د یوسف علیه السلام نه بنیامین ته تکلیفونه رسول۔

فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ

په سامان دَ ورور خپل كښې بيا اوچت آواز اوكړو آواز كوؤنكى

اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿٧٠﴾

اے قافلے والو يقيناً تاسو غلا كړے ده۔

قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿٧١﴾

دوى اوويل او مخامخ شول هغوى ته چه څه ورك كړى دى تاسو۔

ف: اَلسِّقَايَةَ، او صُوَاعَ، دَ يو لوښى دوه نومونه وو څكه چه په دے لوښى سره شراب هم څښلے كيدل او په دے سره پيمانه دَ طعام هم كيدے شوه۔

اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ، په دے كښې يوه توجيه دا ده چه اعلان كوؤنكى دا آواز دَ خپل ځان نه كړے وو او په هغوى باندے ئے تهمت دَ غلا په خپل غالب ګمان سره لګولے وو۔

دويمه توجيه دا ده چه دا آواز ئے دَ يوسف عليه السلام په حكم سره كړے وو۔

او اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ، په طريقه دَ تورئے سره دے يعنى همزه (ء) دَ استفهام پكښې محذوف دے يا دا چه تاسو يوسف عليه السلام پټ كړے دے دَ پلار نه خو پديكښې غوره اوله توجيه ده۔

ف: هر كله چه دوى دَ خپلے پوهے مطابق غلا نه وه كړے نو ځكه هغوى ته مخامخ شول او تپوس ئے اوكړو۔

تَفْقِدُوْنَ، دَ فقدان نه دے په معنى دَ وركولو او دَ موندلو دواړو ده۔

قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ

دوی اوئیل ورکه کړې ده مونږ پیمانه دَ بادشاه

وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ بَعِيرٍ

او هغه چا چه راوړه هغه نو هغه لره بار دَ اوښ دے (په انعام کښ)

وَّاَنَا بِهٖ زَعِيمٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوا تَاللّٰهِ

او زهٔ دَ دے ذمه وار یم. دوی اوئیل قسم په الله تعالیٰ

لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَّا جِئْنَا لِنُفْسِدَ

تاسو ښهٔ پوهه یئ مونږ دے له نه یو راغلی چه وران ئے اوکړو

فِي الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِينَ ﴿۷۳﴾

په دے ملک کښ او نه مونږ غلا کر یو.

۷۲ :- په دے آیت کښ دلیل دے په جواز دَ انعام مقررولو په یو جائز کار باندے او دلیل دے په جواز دَ کفالت باندے.
سوال :- دَ غلا کوونکی دَ پاره کفالت او انعام ورکول خو جائز نه دی ؟
جواب ۱ :- دا قول دَ هغوی په امر دَ یوسف علیه السلام سره وو او هغه ته معلومه وه چه دوی غلا نه وه کړے دَ دے وجے نه جَآءَ بِهٖ، ئے وئیلے دے سرق ئے نه دے وئیلے.
جواب ۲ :- وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ، نه مراد هغه څوک دے چه خبر راوړی چه صواع دَ فلانی سره ده.
۷۳ :- په دے آیت کښ جواب دَ هغوی دے په براءت دَ خپل ځان سره دَ غلا او فساد نه. تَاللّٰهِ تا په قسم کښ په اسم الله پورے خاص ده او تعجب یا مبالغے په ځائے استعمالیږی. لَقَدْ عَلِمْتُمْ کښ اشاره ده چه مخکښ دَ دینه دوی په مصر کښ هیڅ خیانت او ظلم نه وو کړے دَ خپلو اوښانو خولے ئے تړلے وے دَ پاره دَ دے چه دَ چا فصل او نه خوری.

قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ

دوی اوئیل نو څه سزا ده (دَ غل) که تاسو

كٰذِبِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ مَنْ

دروغ وایئ۔ دوی اُوئیل سزا دَ غل هغه کس دے

وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ

چه او موندلے شي په سامان دَ هغه کښ نو هغه یې سزا ده،

كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَبَدَاَ

دغه شان سزا ورکوؤ مونږ ظالمانو ته (غلا کروته)۔ نو شروع یې اوکړه

۷۴:۔ یعني هغوی ورته اوئیل چه که ستاسو دروغ ثابت شي نو دَ غل سزا به څه وی۔ دا تپوس په تعلیم دَ یوسف علیه السلام سره وؤ دَ خپل ورور دَ ایسارولو دَ پاره ځکه دَ مجرم نه دَ سزا تپوس نشي کیدے۔ او دا رنګ دَ هغوی وهم دفع کوی چه هغوی وهم او نکړی چه تاسو مونږ قصدًا غلا کر تا بتوئ دَ پاره دَ دے مونږ له په خپل قانون سزا را کړئ۔

۷۵:۔ یعني په دین دَ یعقوب علیه السلام کښ دَ غل سزا دا وه چه هغه به تر یو کال پورے مریئ ګرځولے کیدو دَ پاره دَ مالک دَ مال۔ او قانون دَ مصر دا وؤ چه دَ غل نه به دوچند تاوان اخستلے کیدو۔

الظّٰلِمِيْنَ، ظلم نه مراد غلا ده سزا یې په شریعت دَ یعقوب علیه السلام سره غوره کړه په وحی دَ الله تعالیٰ سره نو دا ناسخ شوه دَ پاره دَ سزا ورکولو په قانون دَ مصر کښ یا دا چه اولاد دَ یعقوب علیه السلام مکلف وؤ په شریعت دَ یعقوب علیه السلام او مکلف نه وؤ په قانون دَ مصر سره ځکه یې هغوی له دَ هغوی دَ شریعت مطابق سزا ورکړله۔

بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ

په سامانونو د هغوی وپلټنه د سامان د ورور د ده

ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ط

بیا یې را او ویستلو هغه لوښی د سامان د ورور خپل د ده

كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ط مَا كَانَ

دغه شان طریقه خودلې ده مونږ یوسف ته، نه وو دې

لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ

چه را ټینګ کړي به ورور خپل په قانون د بادشاه کښې

اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ط نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ

مګر کیږي هغه چه الله تعالیٰ اوغواړي، پورته کوؤ مونږ درجې

مَّنْ نَّشَآءُ ط وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ

د هغه چا چه اوغواړو مونږ، او پورته د هر خاوند د علم نه

عَلِيْمٌ ﴿۷۶﴾ قَالُوْۤا اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ

لوې عالم شته دے. اُوئیل دوی که ده غلا کړې وی (نو عجیبه نه ده) ځکه چه

س ۷۶:- د نورو ورونړو په سامان لټولو یې اول شروع ځکه اوکړه چه دوی چرته شکیان نه شی چه ګنی دا لوښی دوی پخپله ایښے دے.

كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ، دا جواب د هغې شبهې دے چه یوسف علیه السلام په دے طریقے سره پلار ته تکلیف ورکړو او ورور یې هم بدنام کړو. او دا خو شرعًا جائز نه دی؟

د جواب حاصل دا دے چه دا تدبیر الله تعالیٰ یوسف علیه السلام ته خودلے وو یوسف علیه السلام د ځان نه نهٔ وو کړے.

او بل دلیل د دے اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ، دے چه دا کار په

سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ فَاَسَرَّهَا

غلا کړیوه ورور دَ دهٔ پخوا دَ دینه نو پټ اوساتلو

يُوْسُفُ فِيْ نَفْسِهٖ وَلَمْ يُبْدِهَا

یوسف علیه السلام دَ دے جواب په خپل زړه کښ او ښکاره ئې نکړو

لَهُمْ ۚ قَالَ اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ

دوئ ته، هغه اُوئیل تاسو زیات بدتر حال والا یئ

مشیت شرعی دَ الله تعالیٰ سره وؤ۔ بیا که څوک شبهه اوکړی چه مونږ له هم داسے حیلے جائز دی نو جواب اوشو په دے لفظ سره چه لِيُوْسُفَ، او لام دلته دَپاره دَ تخصیص دے یعنی دا تدبیر خاص وؤ په یوسف علیه السلام پورے او په دے باندے قیاس کول دَپارهِ دَ جواز دَ خیلو منع دے او حیله اسقاط مروجه دَپارهِ خو هیڅ دلیل شرعی نشته۔

وَفَوْقَ كُلِّ ذِىْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ، که څوک شبهه اوکړی چه الله تعالیٰ هم علم والا دے نو آیا دَ هغه دَپاسه هم علیم کیدیشی؟

جواب:۔ ذی علم الله تعالیٰ ته شامل نه دے ځکه چه دَ علم حمل په الله تعالیٰ باندے په واسطه دَ ذوسره نقل شوے ثابت نه دے دا آیت دلیل دے چه په علم کښ ډیر تفاوت دے هیڅ عالم له دا جائز نه دی چه په خپل علم باندے فخر او لوئ اوکړی او آخری مرجع دَ علم الله تعالیٰ دے۔ یا مراد دَ علیم نه الله تعالیٰ دے یعنی دَ ټولو اهل علم دپاسه الله تعالیٰ دے دَ هغه علم دَ ټولو نه زیات او اوچت دے۔

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يَصِفُوْنَ ﴿٧٧﴾ قَالُوْا

او الله تعالیٰ ښه پوهه دے په هغه باندے چه تاسو ئے بیانوئ. دوی اُوئیل

يٰۤاَيُّهَا الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗۤ اَبًا شَيْخًا

اے عزیز یقینًا دَ دهٔ پلار دے مشر

كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا مَكَانَهٗ ۚ

ډیر بوډا نو اونیسه بل تن زمونږ دَ ده په ځائے

اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٧٨﴾ قَالَ

یقینًا مونږ تا وینو دَ خائسته کار کوؤنکو نه. دهٔ اُوئیل

ف ٧٧ :- هر کله چه په دوی باندے غلا ثابته شوه نو دوی خپل ځان دَ هغې نه بری کوؤ نو وے وئیل چه دا بنیامین زمونږ خپل ورور نه دے دَ ده خپل ورور بل وؤ. او هغه هم غلا کړے وه نو ده هم غلا وکړه. یوسف علیه السلام په دے وخت کښ دوی ته جواب ورنکړو او اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا، ئے پټ اوئیل، او وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ، ئے ښکاره اُوئیل.

فَاَسَرَّهَا، ضمیر راجع دے ما بعد (انتم شر مکانا) ته یا جواب دَ کلمے دَ هغوی دے یا راجع دے حجت ته.

فائده :- په نسبت دَ غلا کښ یوسف علیه السلام ته، غوره قول دا دے چه ده دَ خپل نیکه (دَ مور دَ پلار) نه وړوکوالی کښ بُت پټ کړے وؤ او مات کړے ئے وؤ دَ پاره دَ دے چه هغه شرک پریږدی نو دوی ئے نام کړو په غلا سره.

ف ٧٨ :- چونکه دوی دَ پلار سره وعده کړے وه چه بنیامین به واپس راولو دَ دے وجے نه ئے عزیز مصر (یوسف علیه السلام) ته درخواست پیش کړو چه په هغې کښ دړے خبرے وے. اول عذر پیش کول چه پلار دَ ده بوډا دے. دویم بدل

مَعَاذَ اللّٰهِ اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ

پناهی غواړم په الله تعالیٰ سره د دینه چه او نیسو سوا د هغه چا نه

وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗۤ اِنَّاۤ

چه موندلے مونږ سامان خپل د هغه سره یقیناً (مونږ به)

اِذًا لَّظٰلِمُوْنَ ﴿۷۹﴾ فَلَمَّا اسْتَیْئَسُوْا

دغه وخت خامخا د ظالمانو نه یو. نو هر کله چه دوی بند نا امیده شو

ع ۹

مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِیًّا ؕ قَالَ كَبِیْرُهُمْ

د هغه نه جدا شول جرګه کوونکی، اُوئیل مشر د دوی

اَلَمْ تَعْلَمُوْۤا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ

آیا تاسو خبر نه یئ چه ستاسو پلار

اَخَذَ عَلَیْكُمْ مَّوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ

اخستلے وو ستاسو نه لوظ یوخ په نوم د الله تعالیٰ

پیش کول چه زمونږ نه یو تن د دهٔ په ځائے واخله.

درئیم، تعریف کول د عزیز مصر (یوسف علیه السلام) چه ستا صفات د محسنینو دی او مخکښ د هم زمونږ سره احسان کړے دے.

۷۹:- دا دلیل دے په دے خبره چه د مجرم په ځائے غیر مجرم نیول بدکار دے چه د هغے نه پناهی غوښتل پکار دی او دا رنګے دا ظلم دے.

مَعَاذَ اللّٰهِ، مصدر دے او د دینه مخکښ اعوذ فعل پټ دے او وَجَدْنَا، لفظ ئے ځکه استعمال کړے دے چه تصریح د هغه په غلا اونکړے شی ځکه چه هغه خو غلا نه وه کړے.

وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُمْ فِيْ

او مخکښ د دينه هم قصور کړيدے تاسو په

يُوْسُفَ ج فَلَنْ اَبْرَحَ الْاَرْضَ

باره د يوسف کښ نو چرے نه پريږدم دا ملک

حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ

ترهغې چه اجازت را اوليږی ما ته پلار زما يا فيصله اوکړی الله تعالیٰ

لِيْ ج وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨٠﴾

ما لره، او هغه ډير ښه فيصله کوونکے دے.

ن۸۰ :- د دے آيت نه نهم مقام دے تر آيت ن۸۷ پورے.

خلاصه :- په دے مقام کښ ذکر شوے ده مشوره د دوی په کورنئ کښ، او پاتے کيدل د مشر ورور د دوی نه په مصر کښ او ليږل د نورو ورنړو پلار ته د تفصيل د حال او زياتيدل د غم د پلار او يادول د يوسف عليه السلام لره او منع کول د دوی پلار لره د يادولو د يوسف عليه السلام نه او جواب د پلار د دوی ته او حکم کول د پلار دوی ته په دريم ځل د تلو مصر ته د پاره د طعام او د پاره د طلب د يوسف عليه السلام او د ورور د هغه.

تفسير :- په دے آيت کښ ذکر شوے دے عزم د مشر ورور د دوی نه په پاتے کيدلو باندے په مصر کښ او د هغے دوه اسباب دی يو لوظ کول د پلار سره بل د يوسف عليه السلام په باره کښ د کوتاهئ کولو تدارک کول.

مِنْهُ، ضمير راجع دے يوسف عليه السلام ته يا راجع دے ورور (بنيامين) ته.

نَجِيًّا، مفرد دے په معنیٰ د مناجی په تقدير د فوجا نجيًّا (نو په معنیٰ د جمع سره دے) يا مصدر دے په معنیٰ د ذوی نجوی-

ارْجِعُوٓا اِلٰٓی اَبِیْکُمْ فَقُوْلُوْا یٰٓاَبَانَآ

واپس لاړ شئ پلار خپل ته نو اووائی اے زمونږ پلاره

اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ج وَمَا شَهِدْنَآ

یقیناً ځوئے ستا غلا کړیده او مونږ ګواهي نه ده کړے

اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَیْبِ

مګر په هغه څه چه مونږ پرے خبر یو او نه یو مونږ د غیبو

حٰفِظِیْنَ ﴿٨١﴾ وَسْئَلِ الْقَرْیَةَ الَّتِیْ

خبر لرونکی. او تپوس اوکړه د هغه کلی نه

مَا فَرَّطْتُمْ، مَا موصوله دے یا مصدریه دے. یَأْذَنَ لِیْ، مراد د اذن نه رابلل دی خپل وطن ته او اَوْ یَحْكُمَ اللهُ لِیْ، یعنی ورور به ما ته واپس کړی یا به ما باندے مرګ راشی یا به ورور باندے راشی نو مراد د حکم نه حکم تقدیری دے بعضو د دینه حکم د قتال اخستلے دے لیکن هغه قول ضعیف دے.

سلا :- اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ، دا په اعتبار د ظاهر او غالب ګمان سره دے، او حکم دے په اعتبار د علاماتو سره چه هغه د سامان د ورور نه صواع راویستل وؤ.

وَمَا كُنَّا لِلْغَیْبِ حٰفِظِیْنَ، مراد د غیب نه حقیقت د حال د غلا کولو دے او مراد د دینه حال د ورور دے چه دے به غلا کوی او یا به راګیریږی په مرئی والی کښ او پدے آیت کښ اشاره ده چه ظن غالب ته هم په شرع کښ علم ویلے کیږی او د ارنګ ګواهي کول په ظن غالب سره جائز دی پدے شرط چه علامات او قرائن موجود وی.

كُنَّا فِيهَا وَالْعِيرَ الَّتِيٓ أَقْبَلْنَا

چه موږ په هغې کښې وو او د هغه قافلې نه چه موږ راغلی یو

فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾ قَالَ

په هغې کښې، او یقیناً موږ خامخا رشتیا وایو - اُوئیل (پلار)

بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ

بلکه خائسته کړې ده تاسو ته نفسونو ستاسو څه خبره،

فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِى

نو صبر خائسته (ښه کار) دے، امید دے چه الله تعالیٰ به راولی ما ته

بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ

دا ټول په یو ځاے یقیناً هغه په هرڅه پوهه دے

ٱلْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ

او حکمتونو والا دے۔ او مخ ئې واړوو د هغوی نه او اُوئیل ئې

ف ٨٢:- په دے آیت کښې د اثبات د صدق د پاره دوه قسمه شهادت پیش کوی۔ یو مصر والو نه تپوس کول او بل د قافلې والو نه۔

الْقَرْيَةَ، په یکښې مضاف محذوف دے یعنی اهل قریة او مراد ترینه مصر دے۔

ف ٨٣:- دلته هم یعقوب علیه السلام قیاس اوکړو په اول ځل لیکن دا قیاس د واقعے سره موافق نه وو، یا بل په معنیٰ د هل استفهامی سره دے او دا دلیل دے په دے باندے چه انبیاء علیهم السلام په غیب نه پوهیږی۔

أَمْرًا، مراد ترینه د بنیامین بوتلل او په تهمت د غلا کښې حصارول دی یا شهادت د غلا کولو په هغه باندے په خیال د نفسونو ستاسو کښې دے حقیقت کښې هغه غلا نه وه کړې

يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبۡيَضَّتۡ

هائے افسوس دے په یوسف پسے او سپینے شویوے

عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ فَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٨٤﴾

سترگے د هغه د غم د وجے نه او دے د خفگان نه ډک وو۔

قَالُواْ تَٱللَّهِ تَفۡتَؤُاْ تَذۡكُرُ يُوسُفَ

دوی اُوئیل قسم په الله تعالیٰ همیشه ته یادوے یوسف

عَسَى اللهُ، دا امید د یعقوب علیه السلام د وجے د خوب د یوسف علیه السلام نه وو نو دا خبره یقیني وه لیکن کله د یقین نه تعبیر کیدے شي په لفظ د عسی سره۔

۸۴:۔ په دے آیت کښ اظهار د غم د یعقوب علیه السلام دے په یوسف علیه السلام باندے او حال دا دے چه دے وخت کښ غم د جدایئ د بنیامین راغلے وو۔ نو وجه د دے دا ده چه په وروکی غم سره عادتاً لوے غم تازه کیږی۔ او سپین والے د سترگو د وجے د ډیر والی د اوښکو نه وو د دینه دا نه لازمیږی چه هغه ړوند شوے وو۔

يَٰٓأَسَفَىٰ، دا شکوه ده الله تعالیٰ ته مخلوق ته نه ده په قرینه د تولی عنهم او په قرینه د ۸۶ آیت سره او دا په معنیٰ د یا الله ارحم علی نفسی دے (یا الله رحم اوکړے په غم زما باندے)

فائده :۔ ډیر والے د حزن په انبیاء علیهم السلام او اوښکے توئیدل د سترگو نه، جائز دی، ځکه چه شرعاً منع نه دے او زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم هم په ابراهیم (نجی) پسے ژړلی وو او د سترگو نه ئے اوښکے بهیدلے وے۔

او كَظِيمٞ، د زړه غم ته اشاره ده او منع په شرع کښ په وخت د غم کښ چغے او ساندے وهل دی، او جامے شلول دی او ناجائز کلمات وئیل دی او دا د مبتدعینو عادات دی۔

حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ
تر دے چه ته شے رنځور یا ته شے
الْهٰلِكِيْنَ ﴿۸۵﴾ قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ
مړو نه۔ اُوئیل پلار یقینًا زه خو بنکاره کوم خپل درد
وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ
او غم الله تعالیٰ ته او پوهه یم د الله تعالیٰ د طرفه
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا
په هغه څه چه تاسو پرے نه پوهیږئ۔ اے زما ځامنو لاړ شئ

ف ۸۵ :- دا د ځامنو شفقت دے په پلار باندے چه د غم د وجه نه مریض نه شی یا مړ نه شی۔ دا حسن نه دے د یوسف علیه السلام په ذکر باندے۔ ځکه چه دوی تو به ویستلے وه۔
تفتؤ، کښں لا محذوف دے او په معنیٰ د اثبات سره دے همیش والی ته وئیلے شی۔
حَرَضًا، هغه څوک چه د غم یا د مرض د وجے نه جسم ئے ویلے شی او مرګ ته نزدے شی۔
ف ۸۶ :- دا دلیل دے په دے خبره چه د غم شکایت کول الله تعالیٰ ته سنت د پیغمبرانو دے۔
بَثِّيْ، بث ډیر غم ته وئیلے شی چه بے اختیاره خور او مشهور شی او په دیکښں غم د یوسف ته اشاره ده او په حُزْنِيْ، کښں د بنیامین جدائی ته اشاره ده۔
وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ، مراد د دینه تعبیر د خوب د یوسف علیه السلام دے چه دلیل دے په یو ځاے کیدلو د هغوی د پلار سره یا مراد د ما لا تعلمون نه اجابت د دُعاء د عاجزئ کوونکی دے الله تعالیٰ ته۔

فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَاَخِيْهِ

نو ډیر تلاش اوکړئ د یوسف او د ورور د هغه

وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهٗ

او مه نا امیده کیږئ د رحمت د الله تعالیٰ نه، یقینًا

لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ

نه نا امیده کیږی د رحمت د الله تعالیٰ نه مګر قوم

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۷﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ

کافر نو هر کله چه دوی ورداخل شو هغه ته

قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَاَهْلَنَا

او ئیل دوی اے عزیزه رسیدلے ده مونږ ته او کورنئ زمونږ ته

الضُّرُّ وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ

سختی (لوږه) او راوړیدلے مونږ قیمت لږ

فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا

نو پوره راکړه مونږ ته راشن او لحاظ اوکړه مونږ سره (په نرخ کښ)

۸۷:۔ فَتَحَسَّسُوْا، تحسس طلب دِ شی دے په حواسو سره او اکثر مستعملیږی په شر کښ، او دا آیت دلیل دے پدے خبره چه نا امیدی د رحمت د الله تعالیٰ نه کفر دے ځکه چه نا امیدی کوونکے د رحمت د الله تعالیٰ په منکر وی (د قدرت د هغه نه) او انکار کول د قدرت د الله تعالیٰ نه کفر دے او نور تحقیق د دے آیت په سورة حجر ۵۶ کښ راتلونکے دے۔

## إِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾

یقیناً الله تعالیٰ بدله ورکوي لحاظ کوونکو لره.

سـ ٨٨ :- دَ دے ځاے نه لسم مقام دے تر ٩٣ آیت پورے.
خلاصه :- په دے مقام کښ ذکر دی راتلل دَ ورونړو دَ یوسف علیه السلام مصر ته په دریم ځل، او تصدق طلب کول دَ عزیز مصر (یوسف علیه السلام) نه، او پیژندګلو دَ هغوی دَ یوسف علیه السلام سره او بیا اقرار دَ دوی په فضیلت دَ یوسف علیه السلام او په جرم خپل او په معافي کولو دَ هغه دوی ته او بیا قمیص لیږل پلار ته دَ پاره دَ تسلئ.
تفسیر :- پدے آیت کښ دلیل دے پدے خبره چه شکوه مخلوق ته جائز ده په وخت دَ سخت ضرورت کښ لیکن صبر کول بهتر دی.

مُزْجَاةٍ، دفع کړے شوی ته وئیلے شی مراد تری نه لږ دے چه په مقابله دَ مبیعه کښ (چه ډیر قیمت والا وی) دفع کولے شی. دا مراد نه دے چه کوټه دی ځکه چه کوټه روپئ په سودا اخستلو کښ نشی پیش کیدے.

فَأَوْفِ، مراد دا دے چه مخکښ تا موږ له څومره غله راکړے ده هغه مقدار موږ له راکړه په لږو پیسو او دا تصدق دے چه موږ تا نه غواړو او مراد دَ تصدق نه رعایت کول دی په قیمت کښ او هر کله دوی دَ عزیز مصر اعمال دَ مؤمنانو پشان اولیدل نو دَ دے وجې نه اُووئیل إِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ.

فائده :- طلب دَ تصدق دَ هغه چا نه کیدے شی چه محتاج وی ثواب ته دَ دے وجې نه دعا غوختل دَ الله تعالیٰ نه مکروه دی پدے الفاظو سره چه (اللهم تصدق علی) دا دَ حسن او مجاهد نه روایت دے، ابن کثیر او ابن جریر ذکر کړے دے اګر چه په دے باندے اعتراض دے چه په صحیح حدیث کښ وارد دی (صدقة تصدق الله بها علیکم)

قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا فَعَلْتُمْ

هغه اوویل آیا تاسو ته یاد دی هغه چه تاسو کړے وُو

بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنْتُمْ

دَ یوسف سره او دَ ورور دَ هغه سره کوم وخت چه تاسو

جَاهِلُونَ ﴿٨٩﴾ قَالُوٓا أَءِنَّكَ لَأَنْتَ

ناپوهه وئ. دوی اُوویل آیا ته رښتیا ته خو

يُوسُفُ ۖ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَٰذَآ

یوسف یئے، هغه اُوویل زهٔ یوسف یم او دا

أَخِي ۖ قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا ۖ إِنَّهُ

زما ورور دے یقینًا احسان کړے دے الله تعالیٰ په موږ باندے، یقینًا

مَنْ يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ

چا چه تقوٰی اوکړه او صبر ئے اوکړو نو یقینًا الله تعالیٰ

---

س٨٩ :- هَلْ عَلِمْتُمْ ، تپوس کول مراد نه دی بلکه مقصد عظمت او تقبیح دَ دغه عمل ده چه دوی دَ یوسف او ورور سره کړے وُو په دے آیت کښ تعارف دَ یوسف علیه السلام دے دَ ورونړو سره او نسبت دَ جهل دے هغوی ته په سبب دَ حسد او دَ ظلم کولو دَ دوی دَ یوسف علیه السلام او دَ ورور دَ هغه سره. او دا دلیل دے په دے خبره چه ورونړه دَ یوسف علیه السلام پیغمبران نه وُو ځکه نبی دَ نبوت نه مخکښ هم دَ جهل نه معصوم وی.

لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٩٠﴾ قَالُوا

نه بربادوی بدله د دغه خاشسته عمل کوؤنکو۔ دوی اوئیل

تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ اللَّهُ عَلَيْنَا

قسم دے په الله تعالی یقینًا غوره کړے یې ته الله تعالی په مونږ باندے

وَإِنْ كُنَّا لَخَاطِئِينَ ﴿٩١﴾ قَالَ

او یقینًا مونږ خطا کار یو۔ ده اوئیل

ن۹:۔ په دے آیت کښې اشاره ده: دے خبرے ته چه تقوی او صبر سبب د نجات او د رفع د درجاتو دے او دا دواړه اسباب د احسان دی ء اِنَّكَ لَاَنْتَ يُوْسُفُ ،

سوال:۔ استفهام کښې خو تاکید او یقین نه جمع کیږی دلته همزه استفهامی او ان او لام د پاره د تاکید دی؟

جواب:۔ دا جمع کیدل د دوه حالتونو وی یعنی اول کښې دوی په شک کښې وو نو زړونو یقین پیدا شو۔

قَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا ، مراد د دینه توفیق د صبر دے په مصیبتونو کښې بیا جمع کول د دواړو وروڼړو دی او دا رنګ بیج ساتل د دے دواړو د حسن د هغه کارونو نه چه نورو وروڼړو یې کول۔ او دا آیت دلیل دے چه تقوای او صبر مجموعه ته احسان وئیلے شی۔

ن۹۱:۔ اقرار د دوی په غوره والی د یوسف علیه السلام باندے دلیل دے د عدم نبوت د دوی۔

وَإِنْ كُنَّا لَخَاطِئِينَ ، دا دلالت کوی په دے خبره چه د خطاء اطلاق کله کله په ګناه کبیره هم کیږی۔ او د دے اقرار په ضمن کښې طلب د معافئ موجود دے او خازن فرق ذکر کړیدے په مینځ د خاطی او مخطی کښې چه خاطی په ګناه عمدًا کښې استعمالیږی او مخطی په خطاء کښې مستعملیږی۔

لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ط يَغْفِرُ اللّٰهُ

هيڅ ملامتيا نشته په تاسو باندے نن ، بخنه به اوکړي الله تعالیٰ

لَكُمْ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٩٢﴾

تاسو ته او هغه زيات رحم کوونکے دے دَ رحم کوونکو نه .

اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِيْ هٰذَا فَاَلْقُوْهُ

يوسئ دا زما قميص پس واچوئ دا (قميص)

عَلٰى وَجْهِ اَبِيْ يَاْتِ بَصِيْرًا ج وَاْتُوْنِيْ

په مخ دَ پلار زما شي به روغو سترګو والا او راولئ ما ته

بِاَهْلِكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٩٣﴾ ع وَلَمَّا فَصَلَتِ

خاندان ستاسو ټول . او هر کله چه جدا شوه

۹۲:- دا خائسته خوئ دَ نبوت دے چه ظلم کوونکو ته معافی کوي ، او دغه رنګ رسول الله صلی الله عليه وسلم په ورځ دَ فتح دَ مکه کښ وئيلي وو هر کله چه مشرکين مکه ايمان راوړلو او دَ نبي صلی الله عليه وسلم نه ئې معافی طلب کړه چه زهٔ هغه خبره کوم تاسو ته کومه چه يوسف عليه السلام خپلو ورونړو ته وئيلے وه .

لَا تَثْرِيْبَ ، ملامتيا او زورنه ورکول په ذکر دَ ګناهونو کړے شوو سره .

اَلْيَوْمَ ، يعنی نن ورځ دَ ملامتيا ده ليکن چه نن ملامتيا نه ورکوم نو بيا خو بالکل ملامتيا نشته .

يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ ، جمله دعائيه ده يا جمله خبريه ده او وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ، علت دے .

۹۳:- او قميص ليږل په سبب دَ وحي سره وو ځکه هغه سبب اوګرځيدلو په شفاء دَ سترګو دَ يعقوب عليه السلام کښ او دا

الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ

قافله رد آبادئ د مصرنه) اوئیل پلار د دوی یقینا زه خامخا مومم

رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَنْ تُفَنِّدُونِ ﴿۹۴﴾

بوئ د یوسف لره که تاسو ما بے عقله نه گنړئ۔

قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ

اُوئیل دوی قسم په الله تعالیٰ یقینا ته خامخا په مینه

الْقَدِيمِ ﴿۹۵﴾ فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ

زړه کښ یئ۔ نو هر کله چه راغئ زیرے ورکوونکے

چه مشهوره ده چه دا قمیص په میراث د ابراهیم علیه السلام کښ ده ته رارسیدلے وو نو د دے خبرے دلیل نشته۔

۹۴ :۔ د دے آیت نه یو ولسم مقام دے تر ۹۸ آیت پورے۔

خلاصه :۔ په دے مقام کښ ذکر شوے دی موندل د یعقوب علیه السلام بوئ د قمیص د یوسف علیه السلام لره، او بیا بشارت راتلل، او بیا استغفار غوختل د ځامنو د پلار نه او وعده کول د پلار د هغوی سره۔ (یعنی د استغفار غوختلو)۔

تفسیر :۔ موندل د یعقوب علیه السلام بوئ د یوسف علیه السلام لره په طریقه د خرق عادت او د معجزے سره وو نه په طریقه د علم غیب سره ځکه چه کنعان ته نزدے په کوهی کښ چه یوسف علیه السلام پروت وو نو پلار ته ئے علم نه وو۔

تُفَنِّدُونِ ، فند د بوډا والی د وجے نه کم عقل شی او غلطے خبرے کوی۔

۹۵ :۔ قَالُوا ، کښ هغه کسان مراد دی چه د یعقوب علیه السلام رشته داران او نوسی وو ځکه چه ځامن ئے غائب وو۔ او إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ ، ضلال ، په دے آیت کښ په

اَلۡقُوۡهُ عَلٰى وَجۡهِهٖ فَارۡتَدَّ بَصِيۡرًا ۚ

واچوئ يې قميص په مخ دَ هغه باندے نو سترگې يې روخانه شوے،

قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّـكُمۡ ۚ اِنِّىۡۤ اَعۡلَمُ

اُوئيل پلار آيا نه وو وئيلى ما تاسو ته چه يقيناً زهٔ پوهه يم

مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۶﴾

دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه په هغه څه چه تاسو پرے نه پوهيږئ۔

قَالُوۡا يٰۤاَبَانَا اسۡتَغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَاۤ

دوی اُوئيل اے پلاره زمونږ بخنه اوغواړه مونږ لره دَ گناهونو زمونږ

اِنَّا كُنَّا خٰطِـئِيۡنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوۡفَ

يقيناً مونږ خطا كار وُو۔ اُوئيل هغه زر دے

اَسۡتَغۡفِرُ لَـكُمۡ رَبِّىۡ ؕ اِنَّهٗ هُوَ

بخنه به اوغواړم تاسو لره دَ رب خپل نه، يقيناً هغه

معنىٰ دَ استغراق دَ محبت دے او نه دے په معنىٰ دَ گمراهئ سره ځکه چه نسبت دَ گمراهئ كول پيغمبر ته كفر دے۔

۹۶:- مراد دَ اَلۡبَشِيۡرُ، نه هغه كس دے چه مخكښ يې قميص دَ يوسف عليه السلام كگرم دَ وينو راوړے وُو نو هغه اوس دَ هغے بدله كښ بشارت راوړلو۔

فَارۡتَدَّ بَصِيۡرًا، معنىٰ دا ده چه دَ سترگو نه يې هغه بيمارى لرے شوه او نظر يې په ځائے شو۔

قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّـكُمۡ، كښ اشاره ده هغه جملے ته چه په آيت ۸۶ كښ تيره شوې ده۔

۹۷:- په دے آيت كښ دليل دے چه وسيله نيول په دُعا دَ ژوندى حاضر سره جائز ده۔ اِنَّا كُنَّا خٰطِـئِيۡنَ، خاطئين دَ خطيئة نه اخستلے شوے دے په معنىٰ دَ قصدًا گناه كولو سره۔

الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿٩٨﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا

بخښنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ نو هر کله چه دوی داخل شو

عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰى اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ

یوسف (علیه السلام) ته نو ځائے ورکړو هغه ځان سره مور او پلار

وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ

او ووئیل ئے تاسو ټولو ته ورننوځئ مصر ته انشاء الله

اٰمِنِيْنَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ

په امن سره به یئ۔ او پورته ئے کړل مور او پلار خپل په تخت باندے

ف۹۸ :۔ غوره قول په دیکښ دا دے او امام شعبی نه نقل دے چه یعقوب علیه السلام دعا د دے د پاره وروستو کړه چه د یوسف علیه السلام نه پکښ مشوره واخلئ ځکه چه دوی په هغه باندے ظلم کړے وو نو د هغه خوښه ده چه معافی کوی او که نه کوی ځکه چه یعقوب علیه السلام د هغه (یوسف علیه السلام) د معافئ کولو نه خبر نه وو۔

ف۹۹ :۔ د دے آیت نه دولسم مقام دے تر ۱۰۱ آیت پورے۔

خلاصه :۔ په دے مقام کښ ذکر کیږی ملاقات د یعقوب علیه السلام او د ټول اهل د یوسف علیه السلام سره۔ او ذکر کیږی بشارت ورکول دوی ټولو ته په امن سره۔ او صدق د خوب په سجده کولو د دوی یوسف علیه السلام ته، بیا اختتام د دے واقعے په دعا د یوسف علیه السلام سره۔

تفسیر :۔ په دے آیت کښ د اَبَوَيْهِ، نه مراد د ده مور او پلار دی او هیڅ صحیح دلیل نشته په هغه قول د بعض مفسرینو کښ چه مور د ده وفات شوے وه او دا ئے خاله وه۔ هر کله چه یعقوب علیه السلام سره د اهل وعیال نه مصر ته راروان شو نو یوسف علیه السلام د هغوی د استقبال

وَخَرُّوْا لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ يٰٓاَبَتِ

او ټول هغه ته ټیټ شول په اکرام سره او او ئیل هغه اے پلاره

هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ مِنْ قَبْلُ ز

دا تعبیر دَ خوب زما دے مخکښ دَ دینه

قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ۖ وَقَدْ

یقینًا او ګرځوؤ (خوب زما) زما رب رښتیا ، او یقینًا

اَحْسَنَ بِيْٓ اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ

احسان ئے کړیدے زما سره کله چه زه ئے راوېستلے یم دَ

السِّجْنِ وَجَآءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ

جیل نه او تاسو ئے راوېستلئ دَ بانډو نه

مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ

روستو دَ دینه چه فساد اچولے وؤ شیطان

بَيْنِيْ وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ۖ اِنَّ رَبِّيْ

په مینځ زما او وروڼړو زما کښ ، یقینًا رب زما

دَ پاره دَ مصر دَ آبادئ نه بهر لاړو او هلته ئے دَ هغوی دَ آرام دَ پاره یو مجلس جوړ کړو. هر کله چه را او رسیدل نو مور او پلار ئے دَ ځان سره په خاص مجلس کښ کینول او پس دَ دینه ئے هغوی ته او ئیل چه ادْخُلُوا مِصْرَ ،

او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ ، متعلق دے دَ لفظ دَ اٰمِنِيْنَ ، سره یا دا چه لفظ دَ ادْخُلُوْا نه مراد دخول دَ مصر دے یعني په مصر کښ دَ یوسف علیه السلام محل ته داخل شول او ادْخُلُوا په معنی دَ اسکنوا دے۔

لَطِيۡفٌ لِّمَا يَشَآءُ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الۡعَلِيۡمُ

مزیدار تد بیر جوړوي دَ هغه کار چه اوغواړي، یقینًا هغه په هر څه پوهه

الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۰۰﴾ رَبِّ قَدۡ اٰتَيۡتَنِىۡ مِنَ

او حکمتونو والا دے. اے ربه یقینًا تا راکړیده ماته بعضے

الۡمُلۡكِ وَعَلَّمۡتَنِىۡ مِنۡ تَاۡوِيۡلِ

بادشاهي او خودلے تا ماته دَ حقیقت

ف ۱: دَ عرش نه مراد تخت دَ بادشاه دے چه هغه یوسف علیه السلام ته ورکړے وو.

وَخَرُّوۡا لَهٗ سُجَّدًا، په دیکښې غوره قول دا دے چه دا سجده دَ پاره دَ سلام وه او په طریقه دَ سرخکته کولو او لاس جوړ ئے کولو سره. او دا په مخکنو امتونو کښې په طریقه دَ اکرام په وخت دَ سلام کښې جائز وه. او زمونږ په امت کښې منسوخ شویده لکه ابن کثیر قرطبي او خازن لیکلي دي په دلیل دَ حدیث صحیح سره چه نقل دے دَ انس رضی الله عنه نه چه زمونږ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چه آیا مونږ په وخت دَ ملاقات کښې یو بل ته سرخکته کولے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل (لا) دا حدیث په مشکوٰة المصابیح کښې په ص ۲ باندے موجود دے.

وَخَرُّوۡا، په دے آیت کښې په معنیٰ دَ صارو دے معنیٰ دا ده چه شول دوی هغه ته سرخکته کوونکي،

دویم قول دا دے چه سجده ئے الله تعالیٰ ته اوکړله دَ وجے دَ یوسف علیه السلام نه او دا سجده دَ شکر ده نو یوسف علیه السلام په منزله دَ قبلے شو. او سجده کول دَ مور او پلار هم په امر دَ الله تعالیٰ سره وو نو اعتراض نشته. بیا یوسف علیه السلام دَ تکبر او دَ تهمت دَ دفع کولو دَ پاره اوفرمائیل (هٰذَا تَاۡوِيۡلُ رُءۡيَاىَ مِنۡ قَبۡلُ قَدۡ جَعَلَهَا رَبِّىۡ حَقًّا)، او تفصیل

الْأَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ

دَ خبرو نه اے نا اشنا پیدا کونکیه دَ آسمانونو

وَالْأَرْضِ قف أَنْتَ وَلِيّٖ فِي الدُّنْيَا

او دَ زمکے ته مددګار زما ئے په دنیا کښ

وَالْآخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا

او په آخرت کښ واخلے ما لره دَ اسلام په حالت کښ

وَّأَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿١٠١﴾ ذٰلِكَ

او یو ځائے کړے ما (پس دَ مرګ نه) دَ نیکانو سره ۔ دا چه ذکر شو

ئے اوکړو دَ احسانا نو دَ الله تعالیٰ دَپاره دَ اظهار دَ عجز خپل۔
لطیفه ، درے معنے لری یوه دا چه احسان کوونکے دے دَ بندګانو سره په داسے طریقه چه بندګان دَ هغے ګمان هم نه کوی۔
دویمه معنیٰ عالم دے په باریکو څیزونو باندے۔
دریمه معنیٰ باریک تدبیر کوونکے دے۔ او یوسف علیه السلام پدے احسانا نو کښ دَ کوهی نه دَ راوتلو ذکر نه دے کړے دَ پاره دَ دے چه ورونړه دَ هغه شرمنده نشی روستو دَ معافئ کولو نه۔
ﷺ :۔ په اختتام دَ واقعه کښ ذکر دَ دعا اشاره ده چه یوسف علیه السلام سره دَ بادشاهئ نه هم الله تعالیٰ ته عاجزی کوونکے محتاج وو۔ نو دَ الله تعالیٰ سره شریک نشی جوړیدلے۔ په دے دُعاء کښ توسل دے په انعام ظاهری دَ الله تعالیٰ سره چه بادشاهی ده او په انعام باطنی چه علم دے۔ او بیا توسل دے په اسماؤ دَ الله تعالیٰ چه فاطر او ولی دے۔
تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا ، مقصود پدیکښ دُعاء دَ مرګ نه ده ځکه چه حدیث صحیح کښ دَ هغے نه منع راغلے ده بلکه مقصود طلب دَ بقاء ده په اسلام باندے تر مرګه پورے۔

مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ

بعضے دَ خبرونو دَ غیب نه دی وحی کوؤ مونږ تا ته

وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ اَجْمَعُوْٓا

او نه وے ته دَ دوی سره (حاضر) کله چه هغوی یخوئے

اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

تدبیر خپل او دوی مکرونه کول۔

وَاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ، مقصد په دیکښ یو ځائے کول دَ روح دَ ده دی پس دَ مرګ نه دَ صالحینو سره په رفیق اعلیٰ کښ لکه څه رنګ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت دَ ځنکدن کښ دا دعا غوښتلے وه چه (اللهم الرفیق الاعلیٰ)۔

۱۰۲:۔ دَ دے ځائے نه تر آخر دَ سورت پورے تتمه ده چه مشتمله ده په شپږو امورو باندے۔

خلاصه:۔ اوّل صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او تسلی ده هغه ته۔ دویم زجر ورکول مشرکانو ته په اعراض کولو دَ دلیلونو دَ توحید نه او په ګډولو دَ شرک دَ ایمان سره۔ او دریم تیزی ورکول په دعوت باندے دَ پاره دَ دفع دَ عذاب۔ او څلورم جواب دَ سوال دَ منکرینو دے۔ او پینځم تسلی ورکول پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په نصرت دَ الله تعالیٰ باندے۔ او شپږم بیان دَ صداقت دَ قرآن دے۔

تفسیر:۔ په دے آیت کښ اثبات دَ صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دے په دلیل دَ عدم حضور دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ورونړو دَ یوسف علیه السلام سره او سره دَ دینه چه خبر دَ هغوی بیان کړیدے پوره پوره په رښتیا سره، او دا رنګ په سورة آل عمران ۴۴ کښ او سورة القصص ۴۴، ۴۵، ۴۶ کښ هم دی۔

وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ

او نه دي زیات خلق اګرچه حرص کوې

بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَمَا تَسْئَلُهُمْ عَلَيْهِ ع ۱۱ ۵

ایمان راؤړونکي ۔ او نه غواړې ته د دوی نه پدې باندې

مِنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ

څه عوض ، نه دے دا مګر نصیحت دے

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ

ټولو خلقو لره ۔ او ډیر دلیلونه د توحید د الله تعالی دي

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ

په آسمانونو او زمکه کښې چه ورتیریږي دوی هر وخت

عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

په هغې باندې او بیا هم د هغې نه مخ ګرځوي ۔

سـ۱۰۳، سـ۱۰۴ :۔ پدے دوؤ آیتونو کښې تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او مقصد دا دے چه سره د صداقت ستا چه ستا د طرف نه حرص هم دے په هدایت د دے مشرکانو او اجرت نه اخستل دي او پوره وعظ پیش کول دي بیا هم د دوی ایمان نه راوړل په وجه د عناد د دوی دي ۔

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ، یعنی که بالفرض اجرت په دے اخستلے کیدلے نو ټول عالم ته دا ذکر نه ورسیږي نو دا جمله وروستو علت دے د پاره د مخکنۍ جملے ۔

سـ۱۰۵ :۔ په دے آیت کښې زجر دے مشرکینو ته په اعراض کولو د دوی د دلیلونو د توحید نه چه په آسمانونو او زمکه کښې بے شماره دي لکه چه اعراض کوي د وحی نه ۔ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا ، مراد د دینه بیا بیا تیرول د نظر دي پداغه څیزونو باندے ۔

وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُمْ بِاللَّهِ إِلَّا
او ایمان نه لري زیات خلق په الله تعالی باندے مګر

وَهُمْ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾ أَفَأَمِنُوا
حال دا چه شرک هم کوي - آیا په امن کیدیشي دوي د دینه

أَنْ تَأْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِنْ عَذَابِ
چه راشي په دوي باندے یو راګیروونکے د عذاب

اللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً
د الله تعالی نه یا به راشي دوي ته قیامت ناڅاپه نه

سـ ١٠٦:- په دے آیت کښ زجر دے په ګډولو د شرک د ایمان سره او دا تفسیر د اعراض دے - او مطلب د آیت دا دے چه ډیر خلق داسے شته دے چه اقرار کوي چه الله تعالی خالق مالک دے او کله ترینه په مصیبتونو کښ مدد هم غواړي او دُعاګانے غواړي او کله نور عبادتونه هم کوي لیکن سره د هغے د شرک عقیده لري - او د شرک کارونه کوي یعني د الله تعالی نه سِوا نور هم کارساز او مددګار ګنړي او عالم الغیب ګنړي او د هغوی نه غائبانه مدد غواړي او د هغوی په نوم باندے نذرونه او منختے کوي نو دا خلق یقیناً مشرکان دي او دغه ایمان د دوي په وجه د شرک د دوي برباد دے او دا آیت صریح دے چه هر کله د ایمان سره د شرک عقیده ګډه شي نو هغه ایمان برباد شي د دے وجے نه پس دغه اقرار سره فقط ده ته مؤمن نشي ویلے کیدے بلکه مشرک به وي او ابن کثیر لیکلي دي چه پدے عمل کښ ریاء او خپلو مثو ته مزي تړل او قسم په غیر الله باندے هم داخل دي دا رنګ آلوسي په روح المعاني کښ تفصیلي رد کړیدے په مشرکانو د د زمانے باندے او ویلي دي چه دوي اګرچه د جیجو نه ډیر دي لیکن ډیر والي ته اعتبار نشته

وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ هٰذِهٖ

او دوی به نه پوهیږی - ته اوایه دا

سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ عَلٰى بَصِيْرَةٍ

زما لار ده چه بلنه کوم توحید د الله تعالی ته په دلیل سره

اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ

زهٔ او څوک چه زما تابعدار دی، او پاکی ده الله تعالی لره

وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَمَآ

او زهٔ نه یم د مشرکانو د ډلے نه - او نه دی

۱۰۷:- هر کله چه مخکښ دوؤ آیتونو کښ اعراض او شرک ذکر شو نو دا اسباب د عذاب دی۔ نو پدے آیت کښ تخویف په عذاب سره ذکر کوی نو داسے شوه چه مخکښ آیتونو کښ سبب ذکر شو او پدے آیت کښ مسبب ذکر کوی غَاشِيَةٌ، داسے عذاب دے چه پټ کړی او راګیر کړی دوی لره۔

۱۰۸:- پدے آیت کښ تیزی ورکول دی په دعوت باندے او دا علاج دے د پاره د دفع کولو د عذاب چه ذکر شو په تیر شوی آیت کښ۔

اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ، تفسیر دے د هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ، او په وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ، کښ اشاره ده چه تابعدار، د نبی هغه څوک دے چه دعوت ورکوی توحید طرف ته۔

عَلٰى بَصِيْرَةٍ، اشاره ده علم د دلیلونو ته یعنی دعوت په علم سره ضروری دے۔

وَسُبْحَانَ اللّٰهِ، پدیکښ ذکر د عقیدے د دعوت کوؤنکی دے او ابن کثیر وئیلی دی چه د سُبْحٰنَ اللّٰهِ معنٰی دا ده چه شریک او نِدّ او ولد او والد او صاحب او وزیر او

أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا
لیږلي مونږ ستا نه مخکښ مګر نارینه
نُّوحِىٓ إِلَيْهِم مِّنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ ۗ
چه وحي کوله مونږ هغوی ته د لویو کلو والو نه.
أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِى الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا
آیا دوی نه ګرځي په زمکه کښ چه اوګوري
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن
چه څه رنګه وو آخري انجام د هغه خلقو چه د
قَبْلِهِمْ ۗ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ
دوی نه مخکښ وو، او خامخا کور د روستنی غوره دے
لِّلَّذِينَ اتَّقَوْا ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠٩﴾
هغه چالره چه تقوای لري، آیا نو دوی د عقل نه کار نه اخلي.

مشيرېئ نښته.

وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، دا کلمه د براءت ده د ټولو مشرکانو نه اشاره ده چه دعوت کوونکے د توحید به د هر قسم شرک او د مشرکانو د تعلق نه ځان ساتي.

١٠٩ :- په دے آیت کښ جواب د شبهے د مشرکینو دے چه هغوی وئیل چه ته رجل یې نو رسول الله نشے کیدے؟

حاصل د جواب دا دے چه مخکښ رسولان ټول نارینه وو نه زنانه وے او نه پیریان وو او نه ملائیک.

نو دا آیت دلیل دے چه زنانه نبیه نشی کیدے او کومو نصوصو کښ چه ذکر د مریم او آسیه او ساره راغلے دے چه هغوی سره ملائیکو خبرے کړیدی چه په نیز د اهل سنت والجماعت زنانه نبیه نشی کیدے بلکه صدیقه کیدے

حَتّٰىٓ اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ

(ترڅو) چې ناامیده شو رسولان (د ایمان راوړلو د خوانو منکرینو له مهلت ورکړے شوے نو)

وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا

(د قوم نه) او گمان یې او کړو چه یقینًا دوی ته غلطي شوے ده

جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ فَنُجِّيَ مَنْ نَّشَآءُ ۭ

نو راپه مخے دوی ته مدد زمونږ نو بچ به کړے شو هغه څوک چه مونږ خوښ تاوي

وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ

او نشي واپس کیدلے عذاب زمونږ د قوم

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿١١٠﴾ لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ

مجرمانو نه . یقینًا شته په دے بیان حال د دوی کښ

شي . او دا رنګ په دے آیت کښ تسلي ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم او تابعدارو د هغه ته په صدق د رسول او په هلاکو لو د منکرینو سره .

مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى ، مراد د دینه لوے آبادئ والا دي ځکه چه په دوی کښ عقل او حلم ډیروي په نسبت د بانډے والو .

وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ ، دا معطوف دے په پټ عبارت باندے یعني "وانجینا اهل الایمان فی الدنیا" بچ کړل مونږ مؤمنانو لره په دُنیا کښ .

مناسبت :- په دے آیت کښ تسلي ده رسولانو ته په نصرت د الله تعالی روستو د ذکر د دعوت د دوی او د صدق د دوی نه ، په دے آیت کښ ډیر احتمالات دي .

احتمالات په حَتّٰى کښ دا دي :

ع ١ :- چه حتی متعلق دے په ما ارسلنا پورے .

ع ٢ :- دویم دا چه متعلق دے په مقدر پورے یعني تر اخي نصرهم حتی .

# عِبۡرَةٌ لِّاُولِی الۡاَلۡبَابِ ؕ مَا کَانَ

لوئے عبرت ۔۔ پوره ۔ عقل والو لره، او نه دے دا قرآن

ع۳:۔ دریم دا چه حتّی ابتدائیه دے۔
احتمالات په اِسۡتَیۡاَسَ کښ دا دی:
ع۱، نا امیدی ته نزدے شول۔ ع۲، نا امیده شول د ایمان راوړلو د قوم نه۔ ع۳، او الزام المخاطب بما لا یلتزم په طور د محبت سره۔
احتمالات په معنیٰ دَظنوا کښ دا دی:
ع۱، په معنیٰ دَ یقین سره۔ ع۲، په معنیٰ دَ غالب گمان سره۔ ع۳، په معنیٰ دَ خطرات قلبیه یعنی زړه کښ بے اختیاره تیریدل۔
احتمالات په ضمیر دَظنوا کښ:
ع۱، مکذبینو ته راجع دے۔ ع۲، تابعدارو ته راجع دے۔ ع۳، دواړو ته په یوځائے راجع دے۔ ع۴، رسولانو ته راجع دے۔
او په نسبت دَ دے کښ رسولانو ته احتمالات:
ع۱، ظن بے اختیاره راتلل۔ ع۲، الزام المخاطب بما لا یلتزم په طریقه دَ محبت سره۔ ع۳، نزدے شوچه گمان ئے کړے وے۔
احتمالات په کذبوا کښ:
ع۱، صیغه دَ مجهول مجرد۔ ع۲ صیغه معلوم مجرد۔ ع۳، مجهول مزید مشدد۔ ع۴، معلوم مزید مشدد۔ زمونږ په قراءت کښ مجهول مخفف دے۔
احتمالات په ضمیر دَ کذبوا مخفف کښ:
ع۱، مکذبین۔ ع۲، تابعداران۔ ع۳، دواړه ډلے۔ ع۴، رسولان۔
احتمالات په نسبت دَ کذبوا مخفف کښ رسولانو ته:

حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ

خبره دَ ځان نه جوړه کړے شوے لیکن (نازل کړے شوے ده) دَ پاره دَ تصدیق

الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ

دَ هغه کتابونو چه مخکښ دَ دینه وُو او دَ پاره دَ وضاحت

كُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً

دَ هر ضروری خبرے او دَ پاره دَ هدایت او دَ رحمت

١٢ ع ٧ ٢ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿١١١﴾ ع

هغه قوم لره چه ایمان راوړی۔

ع١ په معنیٰ دَ غلطئ او سهوه کیدل په طریقه تبلیغ کښ۔ ع٢ مخفف په معنیٰ دَ مشدد دے۔ ع٣ کذب دَ جانب دَ الله تعالیٰ نه په احتمالونو تیرو شوؤ سره۔ نو دا ټول اوویشت احتمالات شول خازن وئیلی دی چه ظن په معنیٰ دَ اختیاری ګمان کولو دے او نسبت دے انبیاء علیهم السلام ته او معنیٰ دَ کُذِبُوا، چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه کذب وئیلے شوے دے او خلاف دَ وعدے کړے شوے دے۔ دا غلطه توجیه ده۔ دا سے یو عام شخص مسلمان نشی کولے نو شان دَ انبیاء علیهم السلام خو ډیر اوچت دے او دا توجیهات چه تیر شول اکثر دَ هغے نه خازن په خپل تفسیر کښ راجمع کړیدی۔

سلا:۔ په دے آیت کښ اثبات دَ صدق دَ قرآن دے په پنځو وجوهاتو سره۔

اوله وجه:۔ دا رښتینې واقعه دَ یوسف او دَ ورونړو دَ هغه، دلیل دے په صداقت دَ قرآن۔

دویمه وجه:۔ دے تصدیق دے دَ کتابونو مخکنو ځکه چه په هغے کښ هم دا قصّه په دے طریقے سره ذکر ده۔

دریمه وجه:۔ په دے کښ بیان دَ ټولو ضروری عقیدو او احکامو دے۔

شلورمه وجه :- دیکښ هدایت دے یعنی بیان دے په دلیلونو سره.
پنځمه وجه :- دا چه رحمت دے مؤمنانو لره یعنی په سبب
د ایمان سره په دے کتاب رحمتونه د الله تعالی نازلیږی یا
مراد د رحمت نه تثبت او ټلکوالے دے لکه سورة آل عمران
په ۱۵۹ کښ چه ذکر دے یا مراد د دینه نرم والے د زړه دے.
عِبۡرَةٌ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ ، بعض د عبرتونو نه دا دی چه نتیجه
د صبر په مصائبو کښ سلامتیا او کرامتونه دی او نتیجه د
مکرونو او حسد پښیمانی رسوائی او ذلت دے. دا رنګ هغه ذات
چه قادر وو په راویستلو د یوسف علیه السلام د کوهی نه او بیا
د جیل نه او بادشاهی ئے ورله ورکړه او وروڼړه او پلار ئے
ورسره یو ځائے کړه نو قادر دے چه محمد صلی الله علیه وسلم
له به هم کامیابی او نصرت ورکوی.

تمت تفسیر سورة یوسف

سورة الرعد مکیة | بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | اٰیاتھا ۴۳ رکوعاتھا ۶

خاص په نوم د الله امداد غواړم په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

الٓمّٓرٰ قف تِلۡکَ اٰیٰتُ الۡکِتٰبِ

الله تعالیٰ د دے په مراد ښه پوهیږی، دا آیاتونه د لوے کتاب دی،

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## سورة الرعد

په دیکښې اختلاف دے چه دا سورت مکی دے یا مدنی صحیح قول دا دے چه دا سورت مکی دے۔

ربط :- د دے سورت ربط د سورت یوسف سره دا دے چه سورة یوسف کښې مسئله د توحید په دلیل نقلی سره ثابته کړے شوه۔ نو په دے سورت کښې عقلی دلیلونه او مثالونه ذکر کوی۔ دا رنګ په هغه سورت کښې اثبات د صداقت رسول وو نو په دے سورت کښې د شبهاتو جوابونه ذکر کوی۔

دعوای د سورت :- د دے سورت دوه دعوے دی۔

اوله دعوای :- اثبات د توحید دے په پینځو طریقو سره۔

اوله طریقه :- رد دے په څلورو اقسامو د شرک باندے چه شرک په علم کښې دے او په تصرف کښې دے او په عبادت کښې دے او په دُعاء کښې دے او دا په دیارلس آیتونو کښې دے۔

دویمه طریقه :- دلیلونه عقلی تفصیلی دی او هغه هم دیارلس دی په حذف د تکرار سره۔

څلورمه طریقه :- پینځه مثالونه دی۔

پینځمه طریقه :- مقابله ده په مینځ د صفاتو د موحد او مشرک کښې چه لس صفات د موحد او درے صفات د مشرک ئے ذکر کړیدی نو دا هم دیارلس دی۔

دویمه دعوای :- اثبات د رسالت د رسول الله صلی الله علیه وسلم

وَالَّذِيٓ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ

او هغه چه نازل كړے شوے دے تاته د طرف د رب ستا نه

الْحَقُّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

حق دے خو ليكن زيات خلق

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ رَفَعَ

ايمان نه لري. الله تعالىٰ هغه ذات دے چه اوچت كړي دي

السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

آسمانونه بے د ستنو نه چه تاسو يے وينئ

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ

بيا برابر شوے دے د عرش د پاسه او تابع كړے دي د حكم خپل

دے په جواب كولو سره د شپږو شبهاتو او په شهادت د الله تعالىٰ او د اهل كتابو سره.

خلاصه د سورت :- دا سورت تقسيم دے شپږو بابونو كښ. اول باب تر اوم آيت پورے دے پدے باب كښ ترغيب دے كتاب الله ته په آيت ۱ كښ بيا درے عقلي دليلونه دي په ۲، ۳، ۴ كښ بيا درے زجرونه دي. اول زجر په انكار د بعث سره دے په آيت ۵ كښ. دويم زجر په طلب كولو د عذاب په تلوارے سره دے. او دريم زجر په شبهه كولو سره په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندے. په طلب كولو د معجزے سره د هغه نه.

تفسير :- ۱ :- پدے آيت كښ ترغيب دے قرآن ته په درے طريقو سره. اول اعجاز د قرآن په ذكر د مقطعاتو سره. دويم. تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ، او الكتاب نه مراد كامل او عظيم الشان كتاب دے. او دريم حكم په حقانيت د دے او په روستو جمله كښ زجر دے په ايمان نه راوړلو سره.

الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ

نمر او سپوږمۍ ، هر یو چلیږي (ځي) په وخت

مُّسَمًّى ؕ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ

مقرر باندې ، انتظام کوي د ټولو کارونو ته جدا جدا بیانوي الله

الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ

دلیلونه د دې د پاره چه په ملاقات د رب ستاسو

تُوْقِنُوْنَ ۝٢ وَهُوَ الَّذِيْ مَدَّ

یقین اوکړئ تاسو. او الله تعالیٰ هغه ذات دې چه راښکلې ده

۲ :- هر کله چه ایمان نه راوړل په قرآن باندې په سبب د شرک سره دي نو د شرک د رد د پاره عقلي دلیلونه ذکر کوي. په دې آیت کښ اول دلیل عقلي دې او د قدرت د الله تعالیٰ ته پنځه امور ذکر کړې شوي دي او دا ټول د نظام علوي سره تعلق لري.

بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ، د دې دوه معنې دي. اوله معنیٰ دا ده چه آسمان یې اوچت کړیدې بغیر د ستنو نه ، وینئ تاسو دا آسمانونه چه ستنې ورته نشته. او دوېمه معنیٰ دا ده اوچت کړې یې دي آسمانونه بغیر د داسې ستنو نه چه تاسو یې وینئ یعنې ستنې شته خو تاسو یې نه وینئ. لیکن اول قول صحیح دې.

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ، استوی او عرش په معنیٰ حقیقي سره دي بغیر د تشبیه او تمثیل نه او کیفیت یې معلوم نه دې او تاویل یې حرام دې.

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ، مراد د دینه فنا د دُنیا ده.

يُدَبِّرُ الْاَمْرَ ، یعنې روستو د رفع او استوی او تسخیر نه تدبیر د دې یې بل چا ته سپارلې نه دې پخپله نظام چلوي.

يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ ، هغه دلیلونه مراد دي چه دلالت کوي په

الْاَرْضَ وَجَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْهٰرًا

زمکه او پیدا کړیدی په هغې کښې پاخه غرونه او سیندونه

وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ فِيْهَا

او د هر قسم میوو نه پیدا کړی دی په هغې کښې

زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي الَّيْلَ

جوړې دوه اغوندوی شپه

النَّهَارَ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

ورځ نه، یقیناً په دیکښې ډیر دلیلونه د توحید دی

لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ③ وَفِي الْاَرْضِ

هغه قوم لره چه فکر کوی۔ او په زمکه کښې

توحید او پوره قدرت د الله تعالیٰ باندے۔

لعلکم، یعنی سره د توحید نه دا دلیلونه د بعث بعد الموت هم دی۔

۳:۔ دا آیت دویم دلیل عقلی سفلی دے۔ او قدرت د الله تعالیٰ نه ئے پنځه امور ذکر کړیدی۔ زَوْجَيْنِ، مراد دا دے چه په ټولو بوټو کښې جوړے یعنی مذکر او مؤنث شته۔ او دویم قول دا دے چه مراد د زَوْجَيْنِ، نه دوه قسمه دی لکه خوږے او تروے او وړے او دانے او غټے دانے او کوندے او اوچے او تورے او سپینے شنے او سرے وغیره۔

لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ، په مخکښې آیت کښې صرف محسوسات ذکر کړی وُو او پدے آیت کښې د محسوساتو سره معقولات هم ذکر دی۔

زوجیت د ثمراتو او انقلابات د شپے او ورځو او دا فکر ته محتاج دی نو د دے آیت په آخر کښې ئے یتفکرون ذکر کړو۔ ځکه چه فکر وئیلے شی راویستل د معقولاتو د محسوساتو نه۔

قِطَعٌ مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ

ټکړے دی ډیو بل ګاونډی کښې او باغونه دی دَ انګورو نه

وَّزَرْعٌ وَّنَخِيْلٌ صِنْوَانٌ وَّغَيْرُ

او فصلونه او کجورے کوټے (ډیرو ښاخونو والا) او رنګ رنګ

صِنْوَانٍ يُّسْقٰى بِمَآءٍ وَّاحِدٍ وَنُفَضِّلُ

(بغیر دَ ښاخونو نه) اوبه کیږی په یو قسم اوبو سره او غوره والے ورکوو

بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِى الْاُكُلِ اِنَّ

بعضو لره په بعضو باندے په خوند کښې ، یقیناً

فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ④

په دیکښې دی دلیلونه هغه قوم لره چه عقل لری۔

ف:۔ دا دریم دلیل عقلی دے او په دیکښې هم دَ قدرت دَ الله تعالی نه پنځه امور ذکر دی۔

مُّتَجٰوِرٰتٌ ، یعنی مختلفے ټکړے دَ زمکے چه دَ یو بل سره نزدے دی آبادے زمکے او خوره دارے زمکے او مختلف رنګونو والا۔

صِنْوَانٌ ، جمع ده ، دَ صِنْوٌ هغه کجوره چه دَ یو ویخ نه یے ډیرے ښاخے راوتلے وی او غیر صنوان هغه دی چه دَ ویخ نه یوه تنه بے ښاخو وی۔

وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلٰى بَعْضٍ فِى الْاُكُلِ ، یعنی زمکه یوه ده او اوبه هم یو قسم دی او حال دا دے چه میوے مختلفے دی۔

او دا صریح رد دے په هغه خلقو چه طبیعت او ماده پرست دی چه که چرے پیدا کیدل دَ اشیاؤ په طبیعت او ماده سره وے نو نه به وو اختلاف په میوو کښې۔ نو معلومه دَ دینه دا شوه چه پیدا کوونکے الله تعالی دے۔

لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ، هر کله چه مجاورت دَ ټکړو دَ زمکے او اختلاف دَ

وَإِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَإِذَا

او كه ته حيرانيږې (د دوى د انكار نه د توحيد نه) نو د حيرانتيا خبره ده د دوى دا وينا (كله چې)

كُنَّا تُرَابًا ءَإِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۵ط

مونږ خاورې شو آيا مونږ به شو په پيدائښت نوى كښ.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ ج

دا هغه خلق دى چه كفر ئې كړې دې په رب خپل باندې

وَأُولَٰئِكَ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ ج

او دغه خلق طوقونه به واچولې شي د دوى په سټو نو كښ

وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ج هُمْ فِيهَا

او دغه كسان اور والا دي دوى به په هغې كښ

خَالِدُونَ ۞ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالسَّيِّئَةِ

هميشه وى. او په تا دئ سره غواړى سزا نه عذاب

باغونو او فصلونو او د ځانګو او خوندونو سره د يو والى دا وبو او زمكې نه صرف معقولى امور دى. د دې وجې نه ئې يعقلون ذكر كړو.

ف ۵ :- په دې آيت كښ زجر دې منكرينو ر د بعث بعد الموت) ته سره د تخويف اخروى نه او معنىٰ د آيت دا ده چه كه ته تعجب كوې په انكار د دوى د توحيد نه نو تعجب اوكړه د بلې خبرې د دوى نه هم چه هغه انكار ر د بعث بعد الموت) دې.

فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ، عبارت داسې دې فن وعجب رتعجب والا دې او وجه د عجبيت دا ده چه دا قول د دوى ښكاره انكار دې د قدرت د الله تعالى نه.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ، دا دليل دې چه انكار د بعث نه يقينًا كفر دې.

قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ

وړاندې دَ ایمان راوړلو نه او حال دا چه تیر شوی دي دَ

قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ

دوی نه مخکښې عذابونه شرموونکی، او یقینًا رب ستا

مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ

بخښه کوونکې دے خلقو ته سره دَ ظلم دَ هغوی نه او یقینًا

رَبَّكَ لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ۞ وَيَقُوْلُ ⑥

رب ستا خامخا سخت عذاب ورکوونکې دے. او وائی

وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ، دا په دنیا کښې په طریقه دَ مثال سره ده یعنی دَ دوی غاړې نه پیتې دَ تقلید دَ گمراهو پرتې دی دلیل ورسره نښتے دے یا په قیامت کښې حقیقتًا دا سې حالت کښې به وی. اَغْلَالُ، جمع دَ غل ده پیتې دَ څرمنې چه په هغې باندې ویخته وی او په هغې کښې سپرې شوې وی.

سے :- پدې کښې زجر دے په تلوار سره طلب کولو دَ عذاب لره مخکښې دَ ایمان راوړلو ته لکه سورة الانفال سے ۳۲ کښې.

قَبْلَ الْحَسَنَةِ، مراد دَ دینه ایمان راوړل دی او توبه کول دی دَ شرک نه.

الْمَثُلٰتُ، جمع دَ مُثلة ده هغه عذابونو ته وائی چه شرمول کوی دَ دې وجې نه دَ مقتول نه غوږونه یا پوزه وغیره پریکولو ته مُثله ویلې شی.

وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ، دَ ظلم نه مراد کفر او شرک دے او مغفرت په معنیٰ دَ روستو کولو دَ عذاب دے یعنی الله تعالی روستو کوی عذاب لره دَ خلقو نه سره دَ شرک دَ هغوی نه. یا مغفرت پخپله معنیٰ دے لیکن شرط دَ ایمان ورسره مراد دے. معنیٰ دا ده چه الله بخښی خلق روستو دَ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ

هغه کسان چه کافران دی ولې نه شي نازلیدلے په ده باندے

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ

معجزه د رب د طرف نه ، یقینًا ته یره ورکوونکے یې

وَّلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿۷﴾ اَللّٰهُ يَعْلَمُ ع ۱

او د هر قوم د پاره دعوت ورکوونکے یې - الله تعالیٰ علم لري

شرک کولو نه خو پس لے شرط چه ایمان راوړي یا د ظلم نه مراد سوا د کفر او شرک نه نور گناهونه دی او د الناس نه مراد مؤمنان دی معنیٰ دا ده چه یقینًا الله تعالیٰ بخښنه کوي مؤمنانو ته سره د گناهونو د هغوی نه کله چه او غواړي او که او غواړي نو عذاب به څه وخت پورے ورکوي.

ک :- دا زجر دے منکرینو ته په طلب کولو د دوی معجزات د نبی صلی الله علیه وسلم نه او دلته مراد د آیت نه نا اشنا عذابونه راو ستل دی د آسمان یا د زمکے نه په قرینه د يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ ، سره لکه چه په سورة بنی اسرائیل ۹۲ کښ ذکر دی. او مطلب دا دے چه معجزات دوی د نبی صلی الله علیه وسلم په اختیار کښ گنړي نو ځکه یې د هغه نه طلب کوي لیکن د هغه کار خو صرف انذار دے.

وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ، دا مستقله جمله ده خبر مقدم او مبتداء مؤخر ده. معنیٰ دا ده چه "د هر یو قوم د پاره مستقل هدایت کوونکی وی" که نبی وی او که غیر نبی او یا دا جمله عطف ده په منذر باندے نو معنیٰ دا شوه چه بیشکه ته ویره ورکوونکے او هدایت کوونکے یې ټولو قومونو ته. نو دلیل شو په عموم د بعثت د نبی صلی الله علیه وسلم باندے. یا مبتداء محذوف ده یعنی والله لکل قوم هاد.

مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَىٰ وَمَا تَغِيضُ

دَهغې چه په ګېډه پورته کوي هره زنانه او هغه چه کموي

الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَيْءٍ

بچه دانئ او هغه چه زیاتوي ، او هر څه

عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ ﴿٨﴾ عَالِمُ الْغَيْبِ

دَالله تعالی سره په خاص انداز سره دي۔ عالم دے په پټ

وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِ ﴿٩﴾ سَوَاءٌ

او ښکاره باندے ډیر لوے دے او پورته دے. برابر دي

مِنْكُمْ مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ

ستاسو نه (په علم دَ الله تعالی کښ) هغه څوک چه پټه کوي وینا او هغه چه ښکاره

بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ بِاللَّيْلِ

وینا کوي او هغه څوک چه پټیږي ونکے. وي دَ شپے

وَسَارِبٌ بِالنَّهَارِ ﴿١٠﴾ لَهُ مُعَقِّبَاتٌ

او ګرځي دَ ورځے . دَ الله تعالی په اختیار کښ دي وار په وار

۸:. خلاصه : دَ دے آیت نه دویم باب دے تر ۱۴ پورے پدے باب کښ پنځه عقلی دلیلونه دي په رد دَ شرک فی العلم دَ آیت ۸ نه تر ۱۲ پورے ۔ بیا حال دَ ملائکو ذکر کوي په طریقه دَ دلیل نقلی باندے سره دَ تخویف نه په ۱۳ کښ ۔ بیا رد دے دَ شرک فی الدعاء په مثال سره په آیت ۱۴ کښ ۔

تفسیر: په دے دریو آیتونو ۸، ۹، ۱۰ کښ اثبات دَ علم غیب دے الله تعالی لره روستو دَ ذکر کولو دَ دلیلونو دَ قدرت دَ الله تعالی نه ۔

وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ، مراد دَ دے دا دے چه کله

مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهٖ
راتلونکي ملائک وړاندے او روستو دَ انسان نه
يَحۡفَظُوۡنَهٗ مِنۡ اَمۡرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
چه حفاظت کوي دَ هغه په سبب دَ حکم دَ الله تعالیٰ، یقیناً الله تعالیٰ
لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوۡا مَا
نه بدلوي هغه حال چه په يو قوم باندے وي تر هغے پورے چه بدل کړي دوي هغه حالت
بِاَنۡفُسِهِمۡ ؕ وَاِذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوۡمٍ
چه دَ دوي نفسونه پرے مشغول دي، او کله چه او غواړي الله تعالیٰ په يو قوم باندے

ولد مخکښ دَ مودے نه پېښېدل شي چه هغه نهه مياشتے دي عادتاً او کله موده زياته شي په رحم کښ او په هغے کښ اختلاف دے دَ اهل علمو دَ امام ابوحنيفهؒ په نيز دوه کلونه دي او دَ امام شافعيؒ په نيز څلور او دَ امام مالکؒ په نيز پنځه کلونه او کمه موده شپږ مياشتے ده او دا رنګ کله دَ ولد اندامونه ناقص وي او کله زياتوي دارنګ کله کله يو ولد ناقص الخلقت وي۔

وَمَا تَزۡدَادُ، يعنې دَ يو نه زيات اولاد۔

وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ، دَ دے يوه معنیٰ دَ ګرځيدونکے او دويمه معنیٰ ئے دا ده ښکاره کيدونکے او دريمه معنیٰ ده پټيدونکے ليکن روميے دوه معنے غوره دي۔

اَلۡکَبِيۡرُ، لوئي دَ ذات او دَ صفاتو دواړو ته شامل دے۔

اَلۡمُتَعَالِ، دَ علو نه ماخوذ دے يعنې پورته او اوچت دے ځکه چه دَ عرش دَ پاسه دے دَ هغه نه بل څيز پورته نشته دے۔

سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ

خه تکلیف نو نشته واپس کوونکے دَ هغې او نشته دوی لره

مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ⑪ هُوَ الَّذِیْ

سِوا دَ الله تعالیٰ نه څوک ساتونکے۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے

یُرِیْکُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا

چه ښائی تاسو ته بریښنا دَ ویرے او دَ طمع دَپاره

سلا:- دا هم دلیل عقلی دے په تصرف او په علم دَ الله تعالیٰ باندے.
مُعَقِّبٰتٌ، مراد دَ دینه هغه ملائک دی چه دَ شپے او دَ ورځے نمبر په نمبر راځی دَ انسانانو دَ حفاظت دَپاره او دا غیر دی دَ کراماً کاتبین نه او دَ لفظ دَ لَهٗ معنیٰ دا ده چه خاص دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی۔
یَحْفَظُوْنَهٗ، دَ شر دَ جناتو او نورو حشراتو نه حفاظت کوی۔ او مِنْ بَیْنِ یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ، متعلق دے په یحفظونه پورے یا متعلق دے په معقبٰت پورے۔
مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ، مِنْ اجلیه دے یا په معنیٰ دَ باء سره دے۔
اِنَّ اللّٰهَ لَا یُغَیِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰی یُغَیِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ، دا رنگ سورة الانفال ۵۳ کښ هم تیر شوی دی او دا جمله جواب دَ سوال ده چه هر کله ملائک حفاظت کوی دَ انسان نو بیا په ده باندے عذاب او مصیبت ولے نازلیږی؟
جواب:- الله تعالیٰ دا حفاظت دَ انسان نه نه بدلوی تر هغې پورے چه دا انسان خپل حال بدل کړی یعنی ایمان او توحید او سنت پریږدی او په کفر او شرک او بدعت کښ اخته شی نو الله تعالیٰ تری نه حفاظت لرے کړی۔
یُغَیِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ، دا مراد نه دے چه انسان دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه احوال بدلولے شی بلکه دا نسبت سببی دے یعنی په سبب دَ ګناهونو سره دغه حالت دَ خیر بدل شی۔

وَيُنْشِئُ السَّحَابَ الثِّقَالَ ﴿۱۲﴾ وَيُسَبِّحُ

او پیدا کوی وریځې درنې ۔ او تسبیح وائی

الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ مِنْ

رعد سره دَ ستاینې دَ الله تعالیٰ نه او نور ملائک دَ وجې دَ

خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ

ویرې دَ الله تعالیٰ نه او رالیږی تندرونه نو رسوی هغه

بِهَا مَنْ يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ

هغه چاته چه اوغواړی او دوی جګړه کوی

فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ﴿۱۳﴾

په توحید دَ الله تعالیٰ کښ او هغه سخت نیوونکے دے ۔

وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ، دا هم جواب دَ سوال دے ۔ سوال دا دے چه کله یو انسان یو عمل نه وی کړے او حال دا چه په هغه باندې مصائب راځی نو ملائک څه رنګه حفاظت کوی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هر مصیبت په اراده دَ الله تعالیٰ سره راځی نو اراده دَ الله تعالیٰ ملائک نشی واپس کولے او نور مخلوق هم مدد نشی کولے ۔

۱۲ :- په دے آیت کښ هم دلیل عقلی دے په تصرفاتو دَ الله تعالیٰ سره. خَوْفًا وَّطَمَعًا ، یعنی دَ برق نه ویره دَ تندر وی او طمع دَ باران هم. دَ باران نه ویره دَ بعضو خلقو چه چاته پکښ نقصان وی او دَ بعضو دَ پاره طمع دَ فائدو ۔

الثِّقَالَ ، هغه وریځې چه په باران سره درنې وی ۔

۱۳ :- په دے آیت کښ دلیل نقلی دے دَ ملائکو نه په توحید دَ الله تعالیٰ ځکه چه تسبیح او حمد کلمات دَ توحید دی او ورسره تخویف دنیوی هم دے ۔

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

خاص دَ الله تعالىٰ بلنه حق بلنه ده ، او هغه کسان چه دوی تر ینه مدد غواړي

مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ لَهُمْ

سوا دَ الله تعالىٰ نه نشي قبولولے دوی لره

بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ

هیڅ حاجت (نه دے دَ دوی مثال) مگر پشان دَ هغه چا چه اوګده کړي ورغوي او بو ته

لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا

دَ دے دَ پاره چه اورسي دَ ده خولے ته او نه دی هغه رسیدونکي ده ته، او نه ده

دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿١٤﴾

دعا دَ کافرانو مگر په گمراهئ کښ ده .

الرَّعْدُ ، دا ملک دے چه مقرر دے په وریځو او حمد لولي هر وخت کښ او خاص په وخت دَ باران وریدلو کښ - او بل قول دا دے چه رعد آواز دَ وریځو ته وائي (یعني گړهیدل) او نسبت دَ تسبیح هغے ته په طریقه دَ حال سره ده - نه چه په طریقه دَ قال سره -

وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ، واو حالیه دے یعني صاعقه په دوی باندے راځي په وخت دَ جدال کولو کښ یا واو استینافیه دے دَ پاره دَ زجر دَ مشرکینو -

مسئله :- دا آیت نتیجه ده دَ تیرو شوو دلیلونو پسے قول کښ چه لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ دے، دوه توجیه دی -

اوله توجیه معنیٰ دا ده چه لَهٗ خبر مقدم دے دَ پاره دَ تخصیص او اضافت دَ دعوت اضافت دَ موصوف دے صفت ته یعني حقه بلنه خاص الله تعالىٰ لره ده او دَ غیر الله بلنه باطله ده -

دوېمه توجیه: معنیٰ دا ده چه دعوة الحق دَ توحید دے معنیٰ

## وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

اوخاص الله تعالیٰ لره سجده کوی هغه څوک چه دی په آسمانونو او زمکه کښ

دا ده چه دعوت دَ توحید خاص دَ الله تعالیٰ دعوت دے او دَ مشرکانو دعوت باطل دے لیکن اوله توجیه دَ روستو جملے سره پوره مناسبه ده۔

او په دے آیت کښ رد دَ شرک فی الدعاء دے په طریقه دَ مثال سره حاصل دَ مثال دا دے چه یو کس وی او لاسونه یئے اوګنډه کړی وی او بوته په دے مقصد چه هغه اوبه دَ ده خولے ته را اورسی او آواز کوی او بوته لیکن هغه اوبه ده ته نشی رسیدے۔ نو دا رنګ هغه مشرکین چه رامدد شه وائی هغه چاته چه دے یئے حاجت پوره کوونکے ګنړی سوا دَ الله تعالیٰ نه او هغه لرے وی دَ ده نه او یا مړی وی نو هغه دَ ده آواز نشی آوریدے او نه دَ ده حاجت پوره کولے شی نو دَ معبودانو باطلو تشبیه یئے ورکړیده دَ اوبو سره چه نه وینی او نه آوری او نه چا ته پخپله رسیدلے شی۔

بله طریقه دَ دے تمثیل دا ده چه یو تږے سړے وی او سراب اُوینی او خیال اوکړی چه دا اوبه دی او لاس اوګډوی هغے ته چه هغه دَ ده خولے ته را اورسی او حال دا دے چه هغه ده ته نشی رارسیدے ځکه چه دَ ده ګمان غلط دے۔ نو دا رنګے هغه مشرک دے چه په معبود باطل باندے عقیده لری چه دا الٰه دے او دے دَ هغه نه حاجتونه هم غواړی او هغه دَ ده حاجت نشی پوره کولے دَ دے وجے نه چه دَ ده عقیده باطله ده ځکه چه غیر الله یئے الٰه ګنړلے دے۔

وَ مَا دُعَاءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ، دَ دے معنیٰ دا ده هغه کافران چه دَ الله تعالیٰ نه سِوا دَ بل چانه حاجتونه غواړی نو دا دعا نه ده مګر شرک او ګمراهی ده۔ او بله معنیٰ دا ده چه کافران دَ الله تعالیٰ نه دُعا غواړی نو هغه بربادوی یعنی په هغے اجر و ثواب نه حاصلیږی اګرچه دنیا کښ کله کله قبلیږی۔

طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ

څوک په رضا او څوک په زور او سورې د دوی صبائی

وَالْاٰصَالِ ۱۵ السجدة ۱۱ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ

او بیګائی - ته اوایه څوک دے رب د آسمانونو

سجدة

۱۵:- خلاصه: د دے آیت نه دریم باب دے تر ۲۵ پورے په دیکښ نهم دلیل عقلی دے بیا لسم دلیل عقلی په ۱۶ کښ دے سره د زجر نه په شرک فی التصرف سره، او دوه مثالونه دی او بیا یوولسم دلیل عقلی دے سره د دوه مثالونو نه په ۱۷ آیت کښ بیا تقابل په مینځ د موحدینو او مشرکینو کښ دے په تخویف او بشارت سره او په ذکر د لس صفاتو د موحدینو سره د بشارت نه د ۱۸ آیت نه تر ۲۴ پورے او ذکر د دریو صفاتو د مشرکینو او تخویف ۲۵ آیت کښ -

تفسیر:- په دے آیت کښ نهم دلیل عقلی دے په ذکر د سجود د تمام عالم سره او مراد د سجود نه انقیاد دے امر تشریعی او تکوینی ته مؤمنان دواړه قسمه انقیاد طوعًا کوی او مشرکان انقیاد تکوینی کوی کرهًا، یا مراد د سجود نه سجده حقیقیه ده او مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ، ملائک دی او مراد د وَالْاَرْضِ، نه مؤمنان دی او په کَرْهًا، سره مراد دے بعض د استدلال نه یعنی په دلیل سره مجبوره شوی دی، نو سجده الله تعالیٰ لره خاص کوی یا مراد د طَوْعًا، او وَّکَرْهًا، نه حالت د خوشحالئ او حالت د خفګان دے یعنی دوی په دواړو حالاتو کښ الله تعالیٰ ته سجده کوی -

بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ، په بعضو ملکونو کښ د زوال په وخت کښ سورے نه وی ځکه د هغے ذکر او نه شو یا غدو مخکښ د زوال نه او اصال روستو د زوال نه وی -

وَالْاَرْضِ ط قُلِ اللّٰهُ ط قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ
او دَ زمکے ، اووایه الله تعالیٰ دے، اووایه آیا نیولے دی تاسو
مِّنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ
سِوا دَ الله تعالیٰ نه . مددګاران چه واک نه لري
لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط قُلْ
ځان دَ پاره دَ هیڅ فائدے او نه دَ هیڅ نقصان اووایه
هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ لا
آیا برابر دے ړوند او لیدونکے
اَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ لا
او آیا برابر دي تیارے او رڼا
اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوْا
آیا مقرر کړي دي دوی الله تعالیٰ لره برخے والا (په بندګئ کښں) پیدائش کړیدے
كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ط
هغوی په شان دَ پیدائش دَ الله تعالیٰ نو ګډوډ شو پرے پیدائش په دوی باندے
قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ
اووایه ته الله تعالیٰ پیدا کوونکے دَ هر څه دے او هغه
الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿۱۶﴾ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ
یو دے زورور دے . راورولے دی دَ بره طرف نه

ف ۱۶ :- په یکښں لسم دلیل عقل دے او بیا زجر دے مشرکینو ته
او رد دے په شرک فی التصرف باندے بیا دوه مثالونه دی. اول
مثال دَ موحد او دَ مشرک دے په الاعمی والبصیر سره او دویم
مثال دَ شرک او دَ توحید دے په الظلمت والنور سره بیا زجر

مَآءً فَسَالَتۡ اَوۡدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحۡتَمَلَ

اوبه نو او بهيږي کنده ې دَ خپل انداز برابر نو را اوخيژوي

السَّيۡلُ زَبَدًا رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا

سيلاب زګونه اوچت ، او دَ هغې نه چه

يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي النَّارِ ابۡتِغَآءَ

ګرموي دوي هغې لره په اور کښې دَ پاره دَ طلب

حِلۡيَةٍ اَوۡ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثۡلُهٗ ؕ

دَ ګالو يا دَ سامان زګونه دي پشان دَ دې ،

كَذٰلِكَ يَضۡرِبُ اللّٰهُ الۡحَقَّ وَالۡبَاطِلَ ۬ؕ

دغسې بيانوي مثال الله تعالى دَ حق او دَ باطل ،

فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءً ۚ

نو هرچه زګ دے نو لاړ شي بے کاره

دے مشرکينو ته چه خالق دَ هر څيز يو الله تعالى دے او په خلق کښې دَ هغه سره څوک شريک نشته نو ولے دَ هغه سره په بندګئ کښې څوک شريک جوړوئ۔

قُلِ اللّٰهُ ، هر کله چه مشرکان چپ شول څکه چه هغوى دَ الله تعالى نه سِوا بل رب نه ګڼړلو نو نبى صلى الله عليه وسلم ته امر اوشو چه ته په خپله جواب ذکر کړه۔

اَفَاتَّخَذۡتُمۡ ، دَ شرک دَ ربوبيت دَ ترديد نه روستو رد دے په شرک فى التصرف باندے او داسے په سورةِ فرقان ۳؁ کښې دى اَمۡ جَعَلُوۡا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ، دا زجر دے په شرک فى الالوهيت باندے په دليل دَ نفى دَ خالقيت دَ غير الله سره او مدخول دَ امر خلقوا دے او استفهام انکارى دے۔

وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ
او هرچه هغه شئ دے چه نفع ورکوی خلقو ته نو باقی پاتے شی
فِی الْاَرْضِ ؕ کَذٰلِكَ یَضْرِبُ اللّٰهُ
په زمکه کښ ، دغه شان بیانوی الله تعالیٰ
الْاَمْثَالَ ؕ ⑰ لِلَّذِیْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ
مثالونه ۔ هغه چا لره چه خبره ئے اومنله د رب خپل

ﮐﮯ ۱۷ :- په دے آیت کښ یو لسم دلیل عقلی دے او لا بیا ذکر د دوو مثالونو دے په باره د مقابلے د حق او د باطل کښ ، تفصیل د اول مثال دا دے چه باران اووریږی نو په کندو کښ سیلا بونه راشی په مقدار د هرے یوے کندے او ورسره د سیلاب دپاسه اوچت ځګونه وی بیا څه موده وروسته ځګ اوچ شی او وصفا اوبه د خلقو د فائدے د پاره پاتے شی نو دا رنګ بعضے خلق علم د توحید او د سنت حاصل کړی او هریو د خپل محنت مطابق عالم شی بیا دوی پشان د سیلاب د دعوت د پاره مختلف اطرافو کښ خواره شی نو د دوی په مقابله کښ باطل پرست خلق را اوچت شی او شبهات کوی په حق باندے او په اول وخت کښ هغوی غالب وی بیا څه وخت وروسته دغه باطل پرست مغلوب او بے کاره شی او حق دین په دنیا کښ پاتے شی او خلق د هغے نه فائدے اخلی. او تفصیل د دویم مثال دا دے چه زرګران سره زر او سپین زر تانبه قلعی وغیره په اور سره ویلی کړی نو د بعضو نه کالی جوړ کړی د صرف زینت د پاره او د بعضو نه نور سامان جوړ کړی چه د هغے نه څه فائده اخستے کیږی لیکن د دغے اوبو ویلی کړے شوو د پاسه هم ځګ راشی بیا څه وخت پس دا ځګ بے کاره شی او سوچه زر پاتے شی چه د هغے نه کالی د زینت د پاره او سامان جوړوی لکه لوښی او خلق تر ینه فائدے اخلی نو دا رنګ هغه علماء دی چه د قرآن او د سنت علم ئے د خپل

الْحُسْنٰى ؕ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا

خائسته حال دے، او هغه څوک چه خبره نه مني

لَهٗ لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ

دَ رب خپل که چرے شي دَ دوی دَ پاره هغه څه چه په زمکه کښې دي

جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لَافْتَدَوْا

ټول او دومره قدر ورسره شي خامخا په جرمانه کښې به ورکوي

بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ

هغے لره، دغه کسان دوی لره بد حساب دے

ركوع ۲ النصف ۸

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۸﴾ ع

او ځائے دَ ورتللو دَ دوی جهنم دے، او ناکاره ځائے دے تیار کړے شوے.

استعداد مطابق حاصل کړیدے او بیا په نشر واشاعت دَ دے علم کښې په درس وتدریس سره محنت کوی او غلط مسائل دَ شرک او دَ بدعاتو دَ حق نه جدا کوی او په دے ذریعه نورا هل علم پیدا کوی چه هغه دوه قسمه دی اول هغه دَ کار او دَ فائدے خلق وی چه نورو ته فائدے ورکړی دویم داسے خلق چه پخپله دَ علم نه ځان دَ پاره فائده اخلی. لیکن دَ دوی په مخالفت کښې باطل پرست ملیان وی بیا څه وخت پس هغه باطل پرست کمزوری شی او حق پرستو خلقو ته فائدے رسی.

فائده :- هر کله چه دعوت په دوه طریقو سره دے یو دعوت په سفر کولو سره او ګرځیدلو سره او دویم په طریقه دَ درس او تدریس سره، نو دَ دے وجے نه دوه مثالونه ئے ذکر کړیدی خو دَ دواړو مبداء دَ قرآن وحدیث لوستل او ایزده کول دی ځکه چه بغیر دَ علم دَ وحی نه دعوت نشی کیدلے.

۱۸:- پدے آیت کښې ذکر دَ فریقین دے چه بیدا کیږی په دعوت

أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ

آیا نو څوک چه یقین لري چه هغه څه چه نازل کړي شوي دي تا ته

مِن رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰ

د رب د طرف نه حق دے پشان د هغه چا دے چه ړوند وي (د حقانیت د)

إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ ⑲

یقینًا نصیحت قبلوي صفا عقل والا۔

الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ

دا هغه کسان دي چه پوره کوي لوظ د الله تعالی له

وَلَا يَنقُضُونَ الْمِيثَاقَ ⑳ وَالَّذِينَ

او نه ماتوي دوي پوخ لوظ۔ او دا هغه کسان دي

سره چه اهل حق او اهل باطل دے په طریقه د مقابلے سره اهل حق د پاره بشارت دے او د اهل باطل د پاره تخویف اخروي دے۔

سُوْءُ الْحِسَابِ، دا دے چه مناقشه اوکړے شي او د هرے ذرے ذرے تپوس اوشي او هیڅ جرم ورته نه معاف کوي۔

نمبر ۱۹:- په دے آیت کښ هم مقابله د فریقینو ذکر ده یو فریق هغه دے چه د قرآن او د توحید په حقانیت باندے علم او یقین لري او دوي په استجابوا کښ داخل دي. او دویم فریق هغه دے چه د توحید او د قرآن نه جاهل دي او هغه ته اعمی ویلی دي او هغه لم یستجیبوا والا دي او په دے آیت کښ د اهل حق د لسو صفاتو نه اول صفت ذکر شوے دے چه هغه اولوا الباب دے۔

نمبر ۲۰:- په دے آیت کښ د اهل حق دوه صفات ذکر شوي دي او یُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ، د عهد نه توحید د الله تعالی او ټول اوامر او نواهي مراد دي او دا عهد په عقلي او نقلي دلیلونو سره مضبوط کړے شوے دے نو ځکه ورته الْمِیْثَاقَ، وائي نو عهد

يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ
چه پیوست کوی هغه چه الله تعالیٰ حکم کړیدے دَ هغې په پیوست ساتلو
وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْٓءَ
او ویریږي د رب خپل نه او ویریږي د بد
الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ
حساب نه - او دا هغه کسان دي چه صبر ئے کړیدے دَ پاره دَ طلب
وَجْهِ رَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ
د مخ دَ رب خپل او پابندي کړیده په مونځونو باندے
وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا
او خرچ ئے کړیدے دَ هغے نه چه ورکړي دي مونږ دوی ته پټ
وَّعَلَانِيَةً وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ
او ښکاره او دفع کوی په ښه کار سره

او میثاق یو څیز دے نو یو صفت ثبوتی دے او بل صفت سلبی دے یا عهد الله نه مراد عهود الٰهیه دی او المیثاق نه مراد عهود دَ بندګانو دی۔

۲۱: په دے کښ دَ اهل حق دریے صفات ذکر شوی دی دَ دے اول صفت تشریح په تفسیر دَ سورة بقره کښ تیره شوے ده فرق دَ خشیت او دَ خوف دا دے چه خشیت مستعملیږی اکثر په مقام دَ تعظیم کښ سره دَ علم نه په حال دَ مخشی عنه او خوف عام دے که تعظیم ورسره وی او که نه. دَ دے وجے نه کله خوف دَ الله تعالیٰ نه وی او ایمان نه وی لکه خوف دَ ابلیس په غزوه دَ بدر کښ او دارنګ خوف کله دَ غیر الله نه هم وی په طبعی طور سره او خشیت خاص دے په الله تعالیٰ پورے۔

السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾
بدئ لره دغه كسان دوى لره ښه انجام دكور روستني دے
جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا وَمَنْ
چه جنتونه د هميشوالى دى داخليږى په هغے كښے او هغه څوك
صَلَحَ مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ
چه د دوى ملګرتيا ئے كړيوى د دوى د پلارانو او ښځو نه
وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ
او د اولاد نه او ملائك به داخليږى

٢٢ـ دے آيت كښں د اهل حق څلور صفات ئے ذكر كړى دى۔
صَبَرُوْا، صبر درے قسمه دے په مصيبتونو او مرضونو باندے او صبر په طاعاتو كولو او صبر د حرامو او ګناهونو نه۔
ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ، پدے سره خارج دے هغه صبر چه د دے د پاره وى چه خلق ورته صابر اُوائى يا د دے د پاره چه خلق ورباندے عيب اونه وائى يا د دے د پاره چه دشمنان په ده باندے خوشحاله نشى دا هم صبر دے ليكن ثواب په هغے باندے نه حاصليږى۔
وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ، د دے يو معنىٰ دا ده چه دفع كوى په بيان د توحيد او د سنت سره شرك او بدعت لره۔
دويمه معنىٰ دا ده چه دفع كوى دوى په صبر او په ښه اخلاقو سره بد اخلاقى د جاهلانو۔
دريمه معنىٰ دا ده چه دفع كوى په توبه كولو سره ګناهونو لره۔

عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلٰمٌ
دوی ته د هرے دروازے نه ـ (وائی به) سلام
عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ
دوی په تاسو باندے په سبب د صبر کولو ستاسو نو ښه
عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ
انجام د کور د آخرت دے ـ او هغه کسان چه ماتوی
عَهْدَ اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَيَقْطَعُوْنَ
لوظ د الله تعالیٰ روستو د پوخوالی د هغے نه او پریکوی
مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ
هغه شے چه حکم کړیدے الله تعالیٰ د هغے د پیوست ساتلو او ورانے کوی
فِى الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ
په ملک کښ دغه خلق دوی لره لعنت دے

۲۳، ۲۴ :۔ په دے آیتونو کښ بشارت دے دغه صفاتو والو لره۔
وَمَنْ صَلَحَ ، مراد د دینه موافقت او ملګرتیا کول دی د دے کسانو د دعوت کوونکی سره په توحید او سنت کښ لیکن په عمل او په محنت کښ د هغه نه کم دی۔
بِمَا صَبَرْتُمْ ، صفت د صبر شامل دے تیر شوؤ ټولو صفاتو ته د دے وجے نه اکتفی ئے اوکړه په ذکر د دے۔
وَمَنْ صَلَحَ ، په دے کښ اشاره ده چه صرف نسب او زوجیت فائده نه ورکوی ترڅو پورے چه صلاحیت نه وی او د صلاحیت نه مراد صرف موافقت دے په عقیده کښ او حق پرستئ کښ او برابری په ټولو اعمالو کښ مراد نه ده۔

وَلَهُمْ سُوْءُ الدَّارِ ﴿۲۵﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ

او دوی لره ناکاره کور دے . الله تعالی فراخه کوی

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ

روزی د چاچه او غواړی او تنګوی ،

وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ

او خوشحالی کوی دوی په ژوند دنیوی باندے ، او نه دے ژوند

الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ﴿۲۶﴾ ۳ ع ۸ ۵

دنیوی د آخرت په مقابله کښ مګر معمولی مزه ده .

۲۵ :- په دے آیت کښ ذکر د دریو قباحتونو د منکرینو دے په مقابله د تیر شوؤ صفاتو کښ او د دوی دپاره تخویف اخروی هم دے او داسے په سورة بقره ۲۷ کښ تیر شوی دی .

اللَّعْنَةُ ، په مقابل د جنت او د سلام کښ دے .

سُوْءُ الدَّارِ ، دا په مقابله د عقبی الدار کښ دے .

۲۶ :- خلاصه : د دے آیت نه څلورم باب دے ۳۲ آیت پورے، په یکښ دولسم دلیل عقلی دے سره د زجر نه په ۲۶ آیت کښ، بیا زجر دے منکرینو د رسول ته په ۲۷ آیت کښ ، بشارت دے په ۲۸ ، ۲۹ آیتونو کښ ، اثبات د رسالت دے سره د توحید نه په ۳۰ آیت کښ بیا تسلی ده رسول ته په ۳۲ آیت کښ .

تفسیر :- په دے آیت کښ دولسم دلیل عقلی دے او بیا زجر دے په محبت د دُنیا سره چه هغه سبب د تیر شوؤ قباحتونو دے او په دے آیت کښ اشاره جواب د سوال ته ده هغه دا چه د دے منکرینو فراخی د رزق او مالداری دلالت کوی چه په دوی باندے خو لعنت نشته ؟

حاصل د جواب دا دے چه فراخئ د رزق ته اعتبار نشته ، وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ، دے ته فرح البطر ( تکبر ) وئیلے شی .

وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا

او وائی کافران ولے نه

أُنزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ قُلْ

نازلیږی په دہ باندے معجزہ د رب د طرف نه ، اُوایه ته

إِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي

یقیناً الله تعالیٰ بے لارے کوی هغه چا لره چه اوغواړی او په سمه لار روانوی

إِلَيْهِ مَنْ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ الَّذِينَ

خپل طرف ته هغه څوک چه هغه ته ورګرځی . دا هغه کسان دی

آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ

چه ایمان ئے راوړے دے او تسلی اخلی زړونه د هغوی په ذکر

اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ

د الله تعالیٰ سره ، خبر شئ صرف په ذکر د الله تعالیٰ تسلی اخلی

دا حرام دے .

الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ، په دے کښ تزهید فی الدنیا دے .

۲۷ :۔ په دے آیت کښ زجر دے په طلب د معجزے سره د رسول نه او جواب د هغے دے او دا عطف دے په فرحوا باندے اشاره ده چه دا قول د دوی په تکبر باندے بنا دے حاصل د جواب دا دے چه اضلال او هدایت په اختیار د الله تعالیٰ کښ دی نو معجزات هم د هغه په اختیار کښ دی .

مَنْ اَنَابَ ، د انابت معنیٰ دا ده چه حق کوم طرفته وی نو بنده په زړه سره هغے طرفته ګرځی بغیر د ضد او عناد نه او په دے آیت کښ د آیَةٌ نه مراد هغه معجزه ده چه د فراخئ د رزق سره تعلق لری لکه په سورة بنی اسرائیل ۹۱ ، ۹۳ کښ دی .

الْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

زړونه. هغه خلق چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه کوی

الصَّالِحَاتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴿٢٩﴾

دَ نبی په تابعدارئ خوشحالی ده هغوی لره او ښائسته انجام دَ دے.

س ۲۸: په دے آیت کښ بشارت دے او اطمینان بذکر الله نه مراد یقین کول دی په خبره کله چه قرآن او سنت په دلیل کښ ذکر شی. دویمه معنیٰ دا ده چه په توحید دَ الله تعالیٰ سره او په قرآن لوستلو سره دَ زړه سکون حاصلیږی.

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ، هر کله چه په مخکښ جمله کښ تخصیص نه وو نو دا جمله ئې دَ تخصیص پیدا کولو دَ پاره ذکر کړه او دَ دے وجے نه بذکر الله مقدم کړو حاصل دَ آیت دا دے چه اطمینان خاص دے په مؤمنانو پورے او خاص دے په ذکر دَ الله تعالیٰ پورے او مراد دَ دینه قرآن او سنت دے او دا رنګ ذکر قلبی او لسانی دا ټول دی نو په دے کښ داخل ده دا خبره چه قسم اوشی په الله تعالیٰ باندے نو دَ مؤمن زړه ورباندے تسلی اوکړی دا رنګ په دلیل کښ چه قرآن او حدیث ذکر شی نو یقین پیدا شی.

س ۲۹: په دے آیت کښ بشارت دے.

طُوبَىٰ، په معنیٰ دَ حالت طیبه سره دے نو شامل دے جنت ته او ونو دَ جنت ته. او ټولو نعمتونو دَ جنت ته.

كَذٰلِكَ أَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ

دغه شان لیږلے یې مونږ ته په داسے امت کښې یقیناً چه تیر شوی دي

مِنْ قَبْلِهَآ أُمَمٌ لِّتَتْلُوَا۟ عَلَيْهِمُ

مخکښې د دغه نه امتونه د پاره د دے چه بیان کړے په دوی باندے

الَّذِيْٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ

هغه کتاب چه وحی کړے ده مونږ تا ته او دوی انکار کوی

بِالرَّحْمٰنِ ط قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ إِلٰهَ

د رحمٰن د بندګۍ نه ، او وایه هغه رب زما دے نشته حقدار د بندګۍ

إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ

سوا د هغه نه خاص په هغه باندے توکل کړے دے ما او خاص هغه ته

مَتَابِ ﴿۳۰﴾ وَلَوْ أَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ

ورګرځیدل دي۔ او که چرے وے قرآن چه بوتللے شوے

ف ۳۰ :- په دے آیت کښې اثبات د رسالت د رسول دے سره د حکمت د ارسال نه او ذکر د دعوے د توحید دے چه هغه خلاصه د وحی ده او دبته دلیل وحی هم وائی۔

وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ، مراد د دینه انکار دے د توحید د الله تعالیٰ نه په رحمانیت کښې یعنی رحمان صفت د الله تعالیٰ مني لیکن تخصیص یې په هغه پورے نه مني د دے وجے نه دوی به مسیلمة الکذاب ته رحمان الیمامه وئیلو۔ یا مراد د یکفرون نه شرک دے۔

قُلْ هُوَ رَبِّيْ ، دا بیان دے د الذی اوحینا یعنی خلاصه د وحی توحید د ربوبیت او د الوهیت دے او دا څلور جملے د توحید دی۔

فائده :- كَمَآ أَرْسَلْنٰكَ ، دلته مشبه ذکر نه ده نو معلومه شوه چه کاف په معنیٰ د لام اجلیه دے یعنی هر کله چه ذریعه د

بِهِ الْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْأَرْضُ

په هغه سره غرونه یا قطعه (پرې) کیږي په هغه باندې زمکه

أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ الْأَمْرُ

یا خبرې کیږي شوي په سبب د هغې د مړو سره، بلکه خاص الله تعالیٰ لره

جَمِيعًا ۗ أَفَلَمْ يَيْأَسِ الَّذِينَ

ټول اختیار دې، آیا نو نه پوهیږي ایمان

آمَنُوا أَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَهَدَى

والا چه که چرې غوښتلې الله تعالیٰ خامخا په هدایت به ئې روان کړي وو

النَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ

ټول خلق، او همیشه وي کافران

كَفَرُوا تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا قَارِعَةٌ

خلق چه وررسي دوي ته په وجه د هغه کارونو چه دوي کوي آفت

أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ

یا به راشي (آفت) نزدې د دوي ملک ته

حَتَّىٰ يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ

تر هغه پورې چه راشي وعده د الله تعالیٰ، یقیناً الله تعالیٰ

اطمینان د زړونو د پاره ذکر الله (وحی) ده نو مونږ ته د وحی بیانولو د پاره رالیږلې.

قَدْ خَلَتْ، دلالت کوي چه دا امت اخر الامم دې لکه چه نبي د دوي هم خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم دې.

لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ

خلاف نه کوی د وعدے خپلے نه . او یقینًا توقے کړے شوے دی

بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ

په ډیرو رسولانو پورے ستانه مخکښ نو مهلت م ورکړو

ع ۵ ۱۰

ف۱- په دے آیت کښ جواب دے د مطالبے د دوی آیا تو نو لره یعنی دوی مطالبه کوله چه دا قرآن به حق وی په هغه وخت کښ چه د دے په وجه د مکے غرونه لرے کړی یا زمکه سورۍ کړی او چینے ترے راوباسی یا مړی راژوندی کړی چه هغوی مونږ سره خبرے اوکړی ، حاصل د جواب دا دے که دا کارونه اوکړے شي نو هم دوی ایمان نه راوړی.

وَلَوْ اَنَّ قُرْاٰنًا ، مراد د دینه لوستلے شوے کتاب دے په طریقه د عموم سره او جزا د لو حذف ده هغه دا ده لکان هذا القرآن نو معنیٰ دا شوه که په یو لوستلے شوی کتاب سره دا کارونه کیدے شوے نو خامخا هغه کتاب به دا قرآن وے لیکن دا کارونه په کتاب سره نه کیږی بلکه د الله تعالیٰ په اختیار کښ دی.

او دویمه معنیٰ دا ده چه قرانًا نه مراد دا قرآن دے یعنی نکره معنیٰ د معرفے ده او جزاء حذف ده چه لما امنوا دے نو معنیٰ دا شوه که پدے قرآن سره دا کارونه اوکړے شی بیا هم دا خلق ایمان نه راوړی ځکه چه اختیار د ایمان د دوی د الله تعالیٰ سره دے.

اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ ، خازن وئیلی دی چه مراد دا دے چه زمکه او چولے شی او نهرونه او چینے ترینه راووځی لکه په سورة بنی اسرائیل ف۹ کښ دی. او بعضو مفسرینو وئیلی دی چه په سیرت به الجبال کښ معجزے د داؤد علیه السلام ته اشاره ده او په قطعت به الارض کښ مسافت قطع کول په لږ وخت کښ پشان د تخت د سلیمان علیه السلام ته اشاره ده.

لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ قف

كافرانو لره | بيا ما اونيول دوى لره

او كلم به الموتى كښ معجزے دَ عيسىٰ عليه السلام ته اشاره ده.
اَفَلَمْ يَيْاَسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا، دا جواب دَ سوال دَ مؤمنانو دے يعنى مؤمنان غواړى چه دا معجزات دے نبى صلى الله عليه وسلم ته ورکړے شى نو ټول خلق به مؤمنان شى نو جواب اوکړے شو چه آيا دا مؤمنان دومره هم نه پوهيږى چه هدايت خو په مشيت دَ الله تعالىٰ سره دے.
اَفَلَمْ يَاْيْئَسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، ليث او ابو عبيد او قطرب وئيلى دى چه دا په معنىٰ دَ علم سره دے او کسائى دَ دينه انکار کړے دے او وئيلى دى چه دا په معنىٰ دَ نا اميدئ سره دے يعنى آيا نه دى نا اميده شوى مؤمنان دَ ايمان دَ کافرانو نه وَيَعْلَمُوْا عِلْمًا يَقِيْنًا اَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ آه دا جمله پټه ده ليکن دَ کسائى نه مونډل دَ دے معنىٰ دليل دَ عدم وجود نه دے.
وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ، په دے کښ تسلى ده مؤمنانو ته او تخويف دَ عذاب دے کافرانو ته.
اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا مِّنْ دَارِهِمْ، دا صيغه دَ مؤنث ده او ضمير راجع دے قارعه ته نو معنىٰ دا شوه چه قارعه که په دوى باندے راته شى نو نازل به شى نزدے دَ دوى ملک ته. پس په دے کښ اشاره ده چه عذاب دَ دنيا کله په منکر قوم باندے راځى او کله دَ دوى نزدے په نورو مستحقينو دا عذاب نازل شى دَ پاره دَ عبرت دَ دوى او دويمه معنىٰ دا ده چه تحل صيغه دَ مخاطب ده خطاب دے نبى صلى الله عليه وسلم ته معنىٰ دا ده چه نازل به شى په طريقه دَ غلبے دَ دوى ملک ته نزدے لکه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ مکے سره نزدے په نورو کلو باندے غلبه حاصل کړه.
حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ، مراد دَ دينه فتح دَ مکے ده يا ورځ دَ قيامت ده.

فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ﴿٣٢﴾ أَفَمَنْ هُوَ

نو څه رنګ وو عذاب زما دوی لره ۔ آیا نو هغه ذات

قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ۚ

چه تدبیر کوی د هر نفس سره د عملونو د هغه نه

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ قُلْ سَمُّوْهُمْ ؕ

او مقرر کړی دی دوی الله تعالیٰ لره برخے والا ، اُووایه د دوی کمال اوښایئ ،

اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا لَا يَعْلَمُ

آیا خبر ورکوئ تاسو الله تعالیٰ لره د هغه څه (په شرکت د هغه) چه نه ئے پیژنی

فِی الْاَرْضِ اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ؕ

په زمکه کښ یا په سرسری وینا سره ،

بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مَكْرُهُمْ

بلکه ښائسته کړے شوی دی کافرانو لره بد عملونه د هغوی

وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَنْ

او بند کړے شوی دی د سمے لارے نه ، او هغه څوک

٣٢:۔ په یکښ اشاره ده چه طلب د معجزاتو د دے منکرینو په حقیقت کښ استهزا ده او په یکښ تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته لکه چه ځنګه مخکنو قومونو ته ئے مهلت ورکړے وو او بیا ئے په عذاب سره اونیول نو داسے به ستا قوم سره هم اوکړی۔

يُضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾

چه الله تعالىٰ يې بې لارې كړي نو نشته هغه لره په لار روانوونكې هيڅوک.

۳۳ :- خلاصه :- دَ دې آيت نه پنځم باب دې تر ۳۷ پورې په دې باب كښې دیارلسم دليل عقلي دې ، او زجر دې مشركينو ته په ۳۳ كښې بيا تخويف دې په ۳۴ كښې ، بيا بشارت دې په ۳۵ كښې بيا دليل نقلي دې دَ اهل كتابو نه سره دَ دليل وحي نه په ۳۶ كښې، بيا ترغيب دې قرآن ته په ۳۷ كښې.

تفسير :- په دې آيت كښې دليل عقلي دې اولاً بيا زجر دې مشركانو ته . قَآئِمٌ ، مراد دَ دينه تدبير كوونكي دَ كارونو دَ خلقو يا په معنیٰ دَ عالم دې او جواب دَ دې حذف دې يعنې كمن هو ليس كذالك

سَمُّوهُمْ ، مراد دَ دينه بيانول دَ داسې صفاتو او كمالاتو دي چه په هغې سره حقدار دَ الوهيت كرځي.

بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي الْاَرْضِ ، معنیٰ دا ده چه الله تعالىٰ ته خپل شريك په دې زمكه كښې ندې معلوم او تاسو ورله خبر وركوئ چه فلانكې ستا شريك دې او عدم علم دَ الله تعالىٰ كنايه ده دَ عدم وجود نه.

فِي الْاَرْضِ ، تخصيص يې ځكه اوكړو چه دلته رد دې په هغه چا چه الله تعالىٰ لره په زمكه كښې شريك جوړوي او سورة يونس ۱۸ كښې دَ عامو مشركانو رد دې نو ځكه هلته دَ آسمانونو او زمكو دواړو ذكر يې كړيدې.

اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ، بظاهر په معنیٰ دَ سرسري دې يعنې چه په حقيقت باندې بنا نه وي او دليل يې هم نه وي او هغه باطل وي.

مَكْرُهُمْ ، مراد دَ دينه اعمال مشركانه دي.

وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِيْلِ ، دا عطف دَ مسبب دې په سبب باندې.

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دوی لره عذاب دے په ژوند دنیوی کښ

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ

او خامخا عذاب دَ آخرت ډیر سخت دے او نشته دوی لره

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۳۴﴾ مَثَلُ الْجَنَّةِ

دَ الله تعالیٰ نه هیڅوک بچ کوونکے ۔ حال دَ هغه جنت

الَّتِیْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ۚ تَجْرِیْ

چه وعده یې کړے شویده دَ متقیانو سره چه بهیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ اُكُلُهَا دَآئِمٌ

لاندے دَ هغې نه ولے ، میوے دَ هغې همیشه دی

وَّظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِیْنَ اتَّقَوْا ۖ

او سوری ئې هم همیشه دی دا انجام دَ متقیانو دے

وَّعُقْبَى الْكٰفِرِیْنَ النَّارُ ﴿۳۵﴾ وَالَّذِیْنَ

او انجام دَ کافرانو اور دے ۔ او هغه کسان

۳۴ :- په دے کښ تخویف دنیوی او اخروی دواړه دی، تخویف دنیوی په قحطونو طوفانونو وغیره سره دے۔

اَشَقُّ، دا لفظ دَ اکبر او اغلظ نه په معنیٰ کښ زیات دے یعنی سره دَ لوے والی او غټ والی ئې سختی هم ډیره ده۔

وَاقٍ، صرف بچ کوونکے دے که ولایت ورسره وی او که نه وی او وال هغه دے چه سره دَ ولایت نه حفاظت هم کوی۔

۳۵ :- په دے آیت کښ بشارت دے مؤمنانو ته او تقابل دے دَ کافرانو سره په عاقبت کښ۔

اُكُلُهَا دَآئِمٌ، دا دلیل دے چه جنت باندے فنا نه راځی۔

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ
چه ورکړي دي موږ هغوی ته کتاب خوشحاليږي په هغه څه
اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمِنَ الْاَحْزَابِ
چه نازل کړے شوے دے تا ته او د ډلو نه
مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ؕ قُلْ اِنَّمَآ
داسے خلق دي چه انکار کوي د بعضے حصے د قرآن نه، او وايه ته يقيناً ما ته
اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ
امر کړے شوے دے دا چه بندګي خاص کړم د الله تعالیٰ او شرک ورسره
بِهٖ ؕ اِلَيْهِ اَدْعُوْا وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ﴿٣٦﴾
نه کوم، د هغه توحيد ته خلق رابلم او خاص هغه ته ورګرځيدل زما دي.

ف٣٦ :- په دے آيت کښ دليل نقلي دے د مؤمنانو اهل کتابونه او لا ځکه چه اٰتَيْنٰهُمُ، په نيکانو کتابيانو کښ استعماليږي.
يَفْرَحُوْنَ، او مراد د فرح نه تسلي د زړه ده او اشاره ده چه فرح د نيکانو علماؤ په کتاب الله باندے پکار ده لکه چه سورت يونس ف٥٨ آيت کښ ده- او د دے اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ، مصداق صحابه کرام او دا امت دے يا مخکښي کتابيان مؤمنان مراد دي داسے خازن ذکر کړيدي هر کله چه په دے آيت کښ تقابل د مؤمن او منکر مقصد دے او د تقابل د پاره عقيده د توحيد سره د دعوت نه او عقيده د قيامت پکار ده نو دلته ئے هغه ذکر کړو چه اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ، او په ف٣٠ آيت کښ صرف اظهار د عقيدے په باره د رحمٰن کښ مراد وو نو هلته دعوت نه دے ذکر کړے او رحمانيت سره توبه هم مناسب وه نو هلته متاب ذکر دے او دلته دعوت ذکر دے او د دعوت سره مآب يعنی رجوع الله ته مناسب ده- بيا زجر دے منکرينو ته او بيا دليل

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ط

او دغسې نازل کړی دے مونږ دا قرآن فیصله په واضحه ژبې سره،

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ

او که تا تابعداری او کړه د خوهشانو د دوی روستو

مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ لا مَا لَكَ

د هغې نه چه راغلے دے تا ته قرآن نو نشته تا لره

مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾ ع

ع ٥ د الله تعالیٰ نه څوک ساتونکے او څوک بچ کوونکے۔

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ

او یقینًا لیږلی دی مونږ ډیر رسولان پخوا (مخکښې) ستا نه

وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ط

او پیدا کړی وو مونږ هغوی لره بیبیانے او اولاد،

وحی دے۔

مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ، بعضه نه مراد مسئله د توحید ده ځکه چه دوی قرآن منی لیکن توحید پکښې نه منی لکه سورة اسراء ٤٦ کښې چه ذکر دی۔

٣٧:۔ په دے آیت کښې بل ترغیب دے قرآن ته چه دا قرآن د حکم د پاره نازل شوے دے او هغه حکم تیر شوی آیت کښې ذکر شو بیا زجر دے په تابعداریٔ د بے دلیله خبرو (چه هغې ته اهواء ویلے شی) پس د راتلو د قرآن نه او مراد د علم نه قرآن دے،

وَكَذٰلِكَ، عطف دے په معنیٰ د ماقبل باندے یعنی لکه ځنګه چه مونږ امر کړے دے په توحید سره نو داسے نازل کړے دے مونږ دا قرآن د پاره د واضحو فیصلو۔

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ
او نشته طاقت دَ رسول چه راوړی معجزه
اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ (٣٨)
مګر په اذن دَ الله تعالی سره، هرے نیټے لره لیکل شته دے.
يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۖۚ
ورانوی الله تعالی څه چه اوغواړی او باقی پریږدی څه چه اوغواړی

ف٣٨ :- دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے شپږم باب دے پدے باب کښ جوابونه دی دَ هغه شبهاتو چه وارد یږی په رسالت باندے په ف٣٨ ، ف٣٩ آیتونو کښ بیا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ف٤٠ آیت کښ بیا تخویف دنیوی دے په ف٤١ ، ف٤٢ کښ بیا زجر دے په انکار دَ رسالت سره او اثبات دَ هغے دے په شهادت سره په ف٤٣ آیت کښ.

تفسیر :- پدے آیت کښ جوابونه دَ درے شبهاتو دَ منکرینو چه تابعداری کوی دَ خواهشاتو.

اوله شبه دا ده چه دا رسول مونږ نه منو ځکه چه دے بشر دے او دَ ده ښځے او اولاد شته. نو جواب اوشو چه دا سے مخکښ رسولان هم وو. او پدے کښ ضمناً رد دے چه تاسو وایئ چه مونږ دَ ابراهیم علیه السلام اولاد یو نو هغه خو هم رسول وو او هم ئے ښځه او اولاد وو که هغه بشر نه وے نو تاسو تربنه څنګه پیدا شوئ.

دویمه شبه دا ده چه دا رسول که رشتینے وی نو مونږ له دے معجزات راوړی جواب اوشو چه وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ، معلومه شوه چه په معجزاتو کښ دَ پیغمبرانو هیڅ اختیار نه وی او دا رنګ په سورة ابراهیم ف١١ او سورة انعام ف١٠٩ او سورة عنکبوت ف٥٠ کښ ذکر شوے دی.

دریمه شبه هر کله چه دا رسول حق دے او مونږ انکار کوو

وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾ وَاِنْ مَّا نُرِيَنَّكَ

او د هغه سره اصلي كتاب دے. او كه او وخايو تا ته

بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ

بعضے هغه عذاب چه د دوى سره وعده كوؤ يا وفات كړو تا

فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿۴۰﴾

نو يقيناً په تا باندے رسول دى او په مونږ باندے حساب كول دى.

---

نو په مونږ باندے عذاب ولے نه راځى جواب دا دے لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ.

۳۹:- دا د څلورم شبهے جواب دے شبه دا ده چه هر كله زمونږ د پاره عذاب ليكلے شوے وى نو بيا ايمان راوړلو كښ څه فائده ده حاصل د جواب دا دے چه الله تعالىٰ بعضے اشياء محو كوى كه تاسو ايمان راوړئ نو الله تعالىٰ به ستاسو عذاب محو كړى.

يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ. يو معنىٰ دا ده چه د الله تعالىٰ سره يو كتاب المحو والاثبات شته دے او دغه كتاب د ملائكو سره دے د هغوى د علم په نسبت پكښ محو او اثبات كيږى او هغه د ام الكتاب لوح محفوظ نه سوا دے. او د اول ته تقدير معلق هم وائى او دويم ته تقدير مبرم وائى. دويمه معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ د احكامو منزلو نه بعضے احكام منسوخ كړى او بعضے په ځائے باندے ثابت پريږدى. دريمه معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ بعضے ګناهونه معاف كوى په توبے سره او ثابت كړى د هغے په بدل كښ حسنات لره. او څلورمه معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ بعضے ګناهونه معاف كوى بغير د توبے نه او بعضے ثابت پريږدى يعنى بغير د توبے نه نه معاف كوى.

۴۰:- په دې كښ روستو د دفع كولو د شبهاتو نه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تسلى ده حاصل دا چه په دے منكرينو باندے به

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ
آیا دوی فکر نه کوی چه راځو مونږ د دوی ملک ته
نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَاللَّهُ يَحْكُمُ
او نیمګړے کوو د غاړو د هغے نه، او الله تعالیٰ فیصله کوی
لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ
نشته روستو کوونکے د فیصلے د هغه، او هغه زر
الْحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ
حساب کوونکے دے۔ او یقیناً مکرونه کړی وو هغه کسانو

عذاب راځی ستا په ژوند کښ نو ته به ئې اووینے یا روستو د وفات ستا نه نو ته ئې نشے لیدلے۔ لیکن ستا په ذمه بلاغ دے عذاب به په خپل وخت راځی ته د هغے پروا مه کوه او دا سے په سورة یونس ۴۶ کښ او سورة زخرف ۴۱، ۴۲ کښ هم ذکر شوی دی۔ او د إنْ، جزاء په اصل کښ پټه ده یعنی د دوی د عذاب فکر مه کوه او په دے آیت کښ وفات ئې د نُرِيَنَّكَ، سره مقابله کښ ذکر کړے دے اشاره ده چه روستو د وفات نه نبی صلی الله علیه وسلّم د دنیا حالات لیدلے نشی۔

ف ۴۱:- په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے چه تیر شوی آیت کښ د هغے ذکر اوشو او مراد د نقصان الاطراف نه غالب کول د مؤمنانو دی په بعضے علاقو باندے او داخلیدل د بعضے خلقو دی په ایمان کښ یا مراد دا دے چه د زمکے نه برکات او میوے وغیره کموؤ او عذابونه سیلابونه طوفانونه راولو په سبب د شرک او د ګناهونو د خلقو سره۔ او د آیت په عموم کښ داخل دی چه علماء او صالحین خلق وفات کوؤ۔ په اوله توجیه باندے اعتراض دے چه دا سورت مکیه دے او غلبه د اسلام خو په مدینه کښ وه؟

مِن قَبۡلِهِمۡ فَلِلّٰهِ الۡمَكۡرُ جَمِيۡعًا ؕ

چه د دوی نه مخکښ وو نو د الله تعالی اختیار کښ دی د دوی مکرونه ټول،

يَعۡلَمُ مَا تَكۡسِبُ كُلُّ نَفۡسٍ

پوهه دے په هغه کارونو چه کوی یې هر یو نفس

وَسَيَعۡلَمُ الۡكُفّٰرُ لِمَنۡ عُقۡبَى

او زر به پوهه شی کافران چه چا لره بنه انجام

الدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُوۡلُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

د آخرت دے. او وائی هغه کسان چه کافران دی

لَسۡتَ مُرۡسَلًا ؕ قُلۡ كَفٰى بِاللّٰهِ

چه ته رسول نه یې، اُووایه ته کافی دے الله تعالی

شَهِيۡدًا ۢ بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ ۙ وَمَنۡ

فیصله کوونکے په مینځ زما او ستاسو کښ او هغه څوک

جواب اگرچه مکیه دے لیکن دا آیت پکښ مدنیه دے. یا په طریقه د پیشنګویئ سره بشارت دے.

۴۲:- وَقَدۡ مَكَرَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ، یعنی مخکنو قومونو د عذاب الهی نه د بچ کیدلو د پاره او د انبیاؤ په مخالفت کښ مختلف تدبیرونه جوړ کړی وو لیکن په هغے سره دوی مقصد حاصل نه کړو نو اشاره ده چه عذاب د الله تعالی د چا په مکرونو او تدبیرونو سره نشی دفع کیدے.

فَلِلّٰهِ الۡمَكۡرُ، یعنی مکر که د خیر وی یا د شر وی نو په هغے کښ تاثیرا چول د الله تعالی اختیار دے.

ع ۶ ۱۲

# عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ﴿۴۳﴾

چه دَ هغه سره پوهه دَ كتاب ده۔

۴۳ :- په دے آيت كښ زجر دے په انكار دَ رسالت سره او اثبات دَ رسالت دَ رسول دے په شهادت دَ الله تعالىٰ سره او دا رنگ په سورة عنكبوت ۵۲ كښ او سورة احقاف ۸ كښ هم دى. وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ، مراد دَ دينه شهادت دَ كتابيانو مؤمنانو دے لكه پس ے سورت ۲۶ كښ ذكر شول۔ يا مراد دَ دينه جبرائيل عليه السلام دے۔ يا مراد دَ دينه ټول مؤمنان دى او مراد دَ كتاب نه قرآن دے او بل توجيه دا ده چه وَمَنْ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ په طريقه دَ قسم سره دے يعنى قسم دے په هغه ذات باندے چه هغه سره علم دَ ټولو كتابونو دے چه الله تعالىٰ دے۔

(تمت الرعد)

| | | |
|---|---|---|
| سورة ابراهیم مکیة | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○ | ایاتها ۵۲ رکوعاتها ۷ |

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړم په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

الٓرٰ قف کِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ اِلَیۡکَ لِتُخۡرِجَ

الله تعالیٰ ذات دے په مراد ښه پوهه دے، دا کتاب دے چه نازل کړے مونږ تا ته د پاره د دے چه اوباسے

النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ۵ لا

خلقو لره د تیارو نه رڼا ته

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## سورة ابراهیم

ربط :- د سورة ابراهیم د سورة رعد سره دا دے. چه سورة رعد کښې دلیلونه عقلی وو په طریقه د تنبیه په مسئله د توحید باندے نو په دے سورت کښې تذکیر ورکول دی په دنیوی او اخروی واقعاتو سره دا رنګ په هغه سورت کښې صداقت د قرآن او رسول ذکر شو او په دے سورت کښې مقصد د دواړو ذکر کوی.

دعوٰی د سورت :- ویستل د خلقو دی د ظلماتو نه نور ته په کتاب الله سره او په تذکیر د ایام الله سره چه هغے ته واقعات دنیویه او اخرویه وائی او د ظلماتو نه مراد څلور اقسام د شرک دی شرک په علم کښې او شرک په تصرف کښې او شرک په عبادت کښې او شرک په دعا کښې او په دے سورت کښې رد دے په دغه اقسامو. د شرک باندے په عقلی او نقلی دلیلونو سره او په مثالونو سره - او د نور نه مراد معرفت د الله تعالیٰ دے په توحید سره په طریقه د ابراهیم علیه السلام او په څوارلس اسماءِ حسنیٰ سره -

خلاصه د سورت :- دا سورت تقسیم دے پنځه بابونو ته اول باب تر ۸ آیت پورے دے په دیکښې اول تشجیع ده په تبلیغ باندے او هغه ویستل د خلقو دی د ظلماتو نه رڼا ته - بیا

بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ
په حکم د رب د دوی لارے د هغه ذات ته چه زور آور دے
الْحَمِيدِ ﴿۱﴾ اللَّهِ الَّذِي لَهُ
ستائیلے شوے دے ۔ الله تعالیٰ هغه ذات دے چه د هغه اختیار کښ دی

دلیل عقلی دے مختصر سره د تخویف نه په ۲ آیت کښ بیا زجر دے په صفاتو قبیحو سره په ۳ آیت کښ بیا تاکید د دعوے د سورت چه رسولان لیږلی شوی دی په دے مقصد سره په ۴ آیت کښ بیا دلیل نقلی دے د موسیٰ علیه السلام نه د پاره د تاکید د دعوے د سورت ۵ نه تر ۸ پورے۔

تفسیر :- پدے آیت کښ دعوی د سورت ده چه هغه تشجیع ده په تبلیغ باندے او په دے کښ ذکر دے د حکمت د انزال د قرآن او مراد د ظلمات نه کفر او شرک او بدعت جهل او شک دے او مراد د نور نه ایمان او توحید او سنت او علم او یقین دے۔

فائده :- لفظ د ظلمات جمع ده او لفظ نور مفرد دے په دے کښ اشاره ده چه لارے د شرک او بدعت ډیرے دی او لار د خیر یوه ده۔

بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ، اشاره ده چه نبی صلی الله علیه وسلم هم په اخراج من الظلمات کښ حکم د الله تعالیٰ او د هغه توفیق ته محتاج دے۔

إِلَىٰ صِرَاطِ ، دا بدل دے د الی النور نه اشاره ده چه په هغے باندے په تللو سره نور حاصلیږی۔

او لفظ د اَلْعَزِیْزِ ، اَلْحَمِیْدِ ، کښ اشاره ده چه دا صراط سبب د عزت او حمد دے د الله تعالیٰ د طرف نه۔

مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ط

هغه څه چه په آسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی،

وَوَیْلٌ لِّلْکٰفِرِیْنَ مِنْ عَذَابٍ

او تباهی ده کافرانو لره د وجې د عذاب

شَدِیْدِ ﴿۲﴾ الَّذِیْنَ یَسْتَحِبُّوْنَ

سخت نه۔ دا هغه خلق دی چه خوخوی

الْحَیٰوةَ الدُّنْیَا عَلَی الْاٰخِرَةِ

ژوند دنیوی لره په آخرت باندے

وَیَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَیَبْغُوْنَهَا

او منع کوی (خلقو لره) د الله تعالٰی د لارے نه او لټوی په هغے کښ

عِوَجًا ط اُولٰٓئِکَ فِیْ ضَلٰلٍ ۢ بَعِیْدٍ ﴿۳﴾

کږلیچ، دغه خلق په ګمراهئ لرے کښ دی۔

۲:۔ په دے آیت کښ مختصر دلیل عقلی دے او تخویف دے۔
لِلْکٰفِرِیْنَ، کښ اشاره ده اصحاب الظلمات ته۔
لهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ، یعنی ملکیت او بادشاهی ټوله د الله تعالٰی ده او دا متعلق دے باذن ربهم سره یعنی د هغه اذن نه ځکه ضرورت دے چه هر څه اختیار د هغه دے۔
۳:۔ په دے آیت کښ ذکر د صفتونو قبیحوو د منکرینو دے د پاره د زجر او دا صفتونه اسباب د ظلماتو دی۔
یَسْتَحِبُّوْنَ، کښ مبالغه ده په نسبت د یحبون یعنی دا لفظ دلالت کوی په ښکاره کولو د محبت او دلالت کوی په ترجیح ورکولو دنیا ته په آخرت باندے او دا معنیٰ په یحبون کښ لازم نه وی۔
عِوَجًا، مراد د دینه شبهات او شکونه دی او تابع کول د دین دی د خپل غرض او خواهش سره۔ ضَلٰلٍۢ بَعِیْدٍ، اشاره ده ظلماتو ته۔

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا بِلِسَانِ

او نه دے لیږلے مونږ هیڅ رسول مګر په ژبه

قَوۡمِهٖ لِیُبَیِّنَ لَهُمۡ فَیُضِلُّ اللّٰهُ

دَ قوم دَ هغه دَ پاره دَ دے چه بیان کړی دوی ته (احکام دَ الله تعالی) نو بے لارے کوی الله تعالی

مَنۡ یَّشَآءُ وَیَهۡدِیۡ مَنۡ یَّشَآءُ ؕ

هغه څوک چه اوغواړی او په سمه لار بوځی هغه څوک چه اوغواړی،

وَهُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۴﴾ وَلَقَدۡ

او هغه الله تعالی زورآور او حکمتونو والا دے. او یقینًا

اَرۡسَلۡنَا مُوۡسٰی بِاٰیٰتِنَاۤ اَنۡ اَخۡرِجۡ

مونږ لیږلے وۀ موسیٰ علیه السلام په آیتونو خپلو سره چه اوباسه

قَوۡمَکَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوۡرِ ۙ

قوم خپل دَ تیارو نه رڼا ته

سه :- په دے آیت کښں تاکید دَ دعوے دَ سورت دے یعنی لیږل دَ رسولانو په ژبه دَ خپل قوم دَ پاره دَ تبلیغ دَ دے دَ پاره چه خلق دَ ظلماتو نه رڼا کښں داخل شی.

فائده :- په دے آیت کښں دَ قوم ذکر دے دَ امت نه دے او زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم هم را لیږلے شوے وۀ په لغت دَ خپل قوم سره او قوم دَ هغه عرب وۀ اګرچه امت ئے ټوله دنیا ده انس او جن.

فَیُضِلُّ اللّٰهُ مَنۡ یَّشَآءُ وَیَهۡدِیۡ مَنۡ یَّشَآءُ ، په دیکښں اشاره ده چه دَ انبیاء علیهم السلام کار دعوت کول دی او اضلال او هدایت دَ الله تعالی په اختیار کښں دے.

اَلۡعَزِیۡزُ ، دَ یهدی سره او اَلۡحَکِیۡمُ ، دَ یضل سره ښکاره تعلق لری.

وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ

او وریاد کړه دوی ته عبرتناک واقعات دَ الله تعالیٰ، یقیناً په دیکښ

لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۵﴾

دلیلونه دی هر ډیر صبرناک او ډیر شکر کندار لره۔

۵:۔ دا دلیل نقلی دے دَ موسیٰ علیه السلام نه دَ پاره دَ تاکید دَ دعوے دَ سورت او دَ اخراج دوه طریقے ذکر کړیدی یو آیت الٰهیه (تورات) او دویم تذکیر بایام الله۔

وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ، ایام الله نه مراد واقعات دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په امتونو تیر شوی کښ او داخل دے په دیکښ ذکر دَ نعمتونو او عذابونو دَ الله تعالیٰ او دا آیت دلیل دے په دے خبره چه وعظ کول جائز دی په داسے طریقے سره چه زړونه نرموی او یقین پیدا کوی او خالی وی دَ هر بدعت نه او پاک وی دَ گمراهئ او دَ شکونو پیدا کولو نه داسے په تفسیر قرطبی کښ هم ذکر دی۔

فائده ا:۔ میلاد النبی کوونکے او عرس کوونکے وَذَكِّرْهُمْ بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ په دلیل کښ پیش کوی؟

جواب دا دے چه دا دلیل باطل دے ځکه چه پیغمبر او صحابو او سلف صالحینو دَ دے آیت نه په دغه بدعاتو بانديے دلیل نه دے پیش کړے او نه ئے دغه بدعات کړی دی او قاعده دَ تفسیر دا ده چه کوم تفسیر دَ نبی او دَ صحابوُ او دَ سلفو نه نقل نه وی نو هغه تحریف وی۔ او بله خبره دا ده چه صرف دَ ولادت یا دَ وفات ورځ مناؤل هیڅ فائده نه لری بلکه دَ هغه هدایت او سیرت یادول هر وخت او په هغے باندے عمل کول سبب دَ نجات دے۔

صَبَّارٍ شَكُوْرٍ، صیغے دَ مبالغے دَ دے دَ پاره دی چه مراد دَ دینه مؤمن دے ځکه چه کله کله صبر او شکر خو کافران هم کوی۔

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا

او کله چه اُوئیل موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته یاد کړئ

نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَاكُم مِّنْ

احسان دَ الله تعالیٰ په تاسو باندے کله چه بچ ئے کړی تاسو دَ

آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ

فرعونیانو نه رسول ئے تاسو ته ناکاره

الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ

عذابونه او حلالول ئے ځامن ستاسو

وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُم

او بے شرمه کولے ئے ساتلے زنانه ستاسو، او په دے کښ

بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ (۶)

امتحان وو ستاسو دَ رب دَ طرف نه لوے ۔

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ

او کله چه عام خبردار کړو رب ستاسو که تاسو شکر اوکړو

لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ

نو زیات به درکړم تاسو ته او که تاسو ناشکری اوکړه یقیناً

ف۶ :- په دے آیت کښ تذکیر دَ عذابونو او دَ نعمت دَ نجات دے بنی اسرائیلو باندے په دے سورت کښ تفصیل دَ حادثاتو او دَ نعمتونو مقصود دے دَ دے وجه نه وَيُذَبِّحُونَ ، ئے عطف کړو په يَسُومُونَكُمْ ، باندے چه په کثرت باندے دلالت اوکړی ۔

عَذَابِىْ لَشَدِيْدٌ ﴿٧﴾ وَقَالَ مُوسٰٓى

عذاب زما ډیر سخت دے۔ او اُوئیل موسیٰ علیه السلام

اِنْ تَكْفُرُوْٓا اَنْتُمْ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ

که ناشکری اوکړه تاسو او هغه چا چه په زمکه کښ دی

جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِىٌّ حَمِيْدٌ ﴿٨﴾

ټولو یقینًا الله تعالیٰ خامخا بے حاجته دے ستائیلے شویدے۔

اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

آیا نه دے راغلے تاسو ته خبر د هغه کسانو چه پخوا وو ستاسو نه

قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۛ

قوم د نوح علیه السلام او عادیان او ثمودیان

وَالَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۛ لَا يَعْلَمُهُمْ

او هغه خلق چه روستو وو د دوی نه، نه دی خبر په هغوی

ف ۷:۔ شکر کول شامل دے توحید ته او اطاعت د رسول ته او تبلیغ د دین ته او معنیٰ د شکر تفسیر قرطبی ذکر کړیده چه هغه اقرار د نعمت دے د پاره د منعم او خرچ کول د نعمت دے صرف په طاعت د الله تعالیٰ کښ او زیادت نه مراد زیاتول د نعمتونو او د ثوابونو دی او دنیوی اخروی ترقئ ورکول دی۔

فائده :۔ غوره قول دا دے چه دا آیت هم داخل دے په تبلیغ د موسیٰ علیه السلام کښ او دا عطف دے په نعمت د الله تعالیٰ باندے په آیت مخکښ کښ۔

ف ۸:۔ په دے آیت کښ تخویف ورکول دی او تاکید دے د تیر شوی آیت۔

اِنْ تَكْفُرُوْا، د دے اصل جزا پټه ده یعنی الله تعالیٰ ته ستاسو ناشکری هیڅ نقصان نشی ورکولے۔

إِلَّا اللَّهُ ۚ جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ

سوا د الله تعالیٰ نه، هیڅوک نه پوهیږي، راوړي وو هغوی ته رسولانو د هغوی ښکاره دلیلونه

فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ

نو واوړول دوی لاسونه خپل په خولو د هغوی کښ

وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم

او دوی اُوئیل یقینًا مونږ انکار کوو د هغې نه چه تاسو رالیږلے شوي یئ

بِهِ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا

په هغې سره او یقینًا مونږ په شک کښ یو د هغې (مسئلو) نه چه تاسو بلئ مونږ

إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٩﴾ قَالَتْ رُسُلُهُمْ

هغې ته پوخ شک۔ اُوئیل رسولانو د دوی

فَإِنَّ اللّٰهَ، علت دے د دغه پټې جزاء د پاره او دا سے په سورت زمر ۲ آیت کښ هم دی۔

۹۔ خلاصه :- د دے آیت نه دویم باب شروع کیږی تر آیت ۱۸ پورے د دے په اول کښ لفظ د أَلَمْ دے د پاره د تذکیر او په دیکښ واقعات د انبیاؤ مخکنو دی د خپلو قومونو سره په طریقه د مقابلے د نور او د ظلماتو والو یعنی رسولانو په تبلیغ سره ویستل قوم لره د ظلماتو نه نور ته او قوم د هغوی تکذیب او مخالفت کوؤ او رسولان ئې او بښکل د خپلو کلونه او ذکر کړیږے بیان د رسولانو او توکل د هغوی او صبر د هغوی بیا هلاکت د منکرینو دا مضمون دے د آیت ۹ نه تر ۱۴ پورے بیا تخویف اخروی دے په درے آیاتونو کښ او بیا مثال ذکر کوی د پاره د بربادئ د عمل د مشرک په آیت ۱۸ کښ۔

تفسیر :- دے آیت کښ ذکر دے د تیر شوؤ قومونو چه هغوی مقابله کړے وه د رسولانو سره په درے طریقو سره۔

اول فَرَدُّوا أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ، په دیکښ درے تفسیره دی۔

أَفِي اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ

آیا د الله تعالیٰ په توحید کښې شک دے چه اول پیدا کوونکے د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۭ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ

او د زمکے دے، بلی تاسو (دا سے مسئلے ته) چه او به بخی تاسو ته

مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى

(په سبب د هغې) گناهونو ستاسو او روستو به اوړسوی تاسو (په مزو سره)

اَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ

نیټې مقرر ے ته، دوی اُوئیل نه یئ تاسو

اول دا چه کیخودل منکرینو لاسونه خپل په خپلو خلو باندے د پاره د دے چه چک اولگوی په هغې باندے د وجے د غصے نه. او دویم کیخودل دوی لاسونه خپل د پیغمبرانو په خلو باندے د پاره د دے چه هغوی چپ شی. امام بخاری وائی دا په طریقه د تمثیل دے، مثل کفوا عما امر به او گرځول دوی لاسونه د هغوی په خلو کښې. او دریم دا چه کنایه ده د منع کولو د پیغمبرانو د دعوت کولو نه. دویمه طریقه د مقابلے دا ده وَقَالُوْٓا اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ، او دریمه طریقه دا ده چه وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ، مراد دا دے چه موږ گمان کوو چه تاسو بادشاهی او دنیا غواړئ په دے دعوت سره.

لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ، دا ښکاره دلیل دے په نفی د علم غیب او علم کلی د رسولانو نه او د ټولو بندګانو نه او ابن کثیر نقل کړیدی چه دے آیت نه معلومه شوه چه د نبی صلی الله علیه وسلم نسب نامه تر آدم پورے ذکر کول دروغ دی د هغه نسب تر معد بن عدنان پورے په صحیح دلیل سره ثابت دے او د دینه بره ثبوت نشته.

إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۖ تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا

مګر بشر یئ زمونږ پشان ، غواړئ تاسو چه واړوئ مونږه

عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتُونَا

د هغه طریقې نه چه بندګي پرې کوله مشرانو زمونږ نو راوړئ مونږ ته

بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ⑩ قَالَتْ لَهُمْ

معجزه ښکاره . اوئیل دوی ته

ف۱ :- په دیکښ اول جواب ورکول دی د رسولانو قومونو ته.

أَفِي اللَّهِ شَكٌّ ، مراد د دینه شک کول په توحید کښ دی ځکه چه د وجود د الله تعالیٰ نه دوی انکار نه دے کړے او دا استفهام په طریقه د انکار او د تعجب سره دے او بیا په یدعوکم لیغفر ۲ ذکر کولو کښ دوه فائدې د دعوت د توحید ته اشاره ده یو مغفرت او دویم مهلت او بیا ذکر د مخالفت د قومونو دے د رسولانو نه په دریے طریقو سره.

اوله طریقه دا ده چه تاسو زمونږ په شان بشر یئ او بشر نبي نشي کیدے. او دویمه طریقه دا ده چه تاسو مونږ لره د مشرانو د لارے نه منع کوئ چه هغه شرکی تقلید دے او دریمه طریقه دا ده چه دوی معجزے طلب کولے د انبیاؤ نه او ګمان به ئے کوؤ چه معجزے د انبیاؤ په اختیار کښ دی.

قَالُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ، دا دلیل دے چه هره زمانه کښ د منکرینو دا عقیده وه چه د بشریت او د رسالت په مینځ کښ منافات دے یعنی بشر رسول نشي کیدے نو رسول بشر نشي کیدے.

تُرِيدُونَ الخ ، نو دوی اوئیل چه مونږ خو تاسو سره بشریت کښ ګډاره کوؤ لیکن تاسو مونږ د زوړ مسلک نه اړوئ. نو په فاتونا الخ سره ئے طلب د معجزے اوکړو.

رُسُلُهُمْ إِنْ نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ
رسولانو دَ دوی موږ نه یو مگر بشر یو

مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ
ستاسو پشان لیکن الله تعالیٰ احسان کوي په

مَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ وَمَا كَانَ
هغه چاچه اوغواړي دَ بندگانو خپلو نه او نشته

لَنَا أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ
وس موږ لره چه راوړو تاسو ته معجزه سِوا دَ اذن

اللَّهِ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ
دَ الله تعالیٰ نه ، او خاص په الله تعالیٰ دِ توکل کوي

الْمُؤْمِنُونَ ⑪ وَمَا لَنَا أَلَّا
مؤمنان - او څه عذر به وي زموږ چه

۱۱: په دیکښ ذکر کړے دی جوابونه دَ انبیاؤ خپلو قومونو ته دا دهغوی دَ اول او دَ دریم اعتراض جواب دے دَ اول جواب خلاصه داده چه دَ بشریت او دَ رسالت (چه احسان دَ الله تعالیٰ دے) منافات نشته او دَ دریم جواب مقصد دادے چه په معجزاتو کښ دَ پیغمبرانو اختیار او قدرت نه وی. او دویم اعتراض دَ جواب حاجت نه لری ځکه چه انبیاؤ په حقیقت کښ دَ گمراهانو مشرانو دَ لارے نه منع کوله وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ . او په آخرے جمله کښ تعلیم دے مؤمنانو ته دَ توکل کولو په وخت دَ مقابلے دشمنانو کښ او داسے په سورت آلعمران ۱۶۰ آیت کښ هم دی۔

نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰنَا

توکل نه کوؤ په الله تعالیٰ باندے او حال دا چه خود لے ښئ دی مونږ ته

سُبُلَنَا ؕ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ

لارے زمونږه او خامخا صبر به کوو مونږ په هغه تکلیفونو چه مونږ ته ئے رسوئ

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿١٢﴾ ع

او خاص په الله تعالیٰ دِ توکل کوی توکل کوونکی.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ

او اُوئیل کافرانو خپلو رسولانو ته

لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ

خامخا اُوبه باسو تاسو لره دَ خپل ملک نه ۔ یا به را اوګرځئ

ع ٢

سا١٢ :۔ پدے آیت کښں ذکر دَ توکل او دَ صبر دَ انبیاؤ دے او ذریعه دَ نجات او دَ کامیابئ ده او دا جواب دَ سوال دَ مشرکانو دے چه هغوی اُوئیل چه زمونږ په معبودانو باندے ولے توکل نه کوئ نو دَ هغوی جواب ئے اوکړو او دا رنګ پدے جمله کښں علت دے دَ مخکنئ جملے چه وعلی الله فلیتوکل المؤمنون۔

وَقَدْ هَدٰنَا ، مراد دا دے چه لارے دَ کامیابئ دنیوی او اخروی الله تعالیٰ مونږ ته خودلے دی نو توکل هم په هغه پورے خاص دے ځکه چه توکل کښں معنیٰ دَ یقین ده او په هدایت سره یقین حاصلیږی۔

وَلَنَصْبِرَنَّ عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ، دا خطاب دے مشرکانو ته اشاره ده چه مشرکانو همیشه مؤحدینو ته اذی ورکوله۔

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ، مؤمن چه هر کله په الله تعالیٰ باندے خاص توکل اوکړی نو دَ هغه صفت متوکل جوړ شی دَ دے وجے نه ئے اول آیت کښں مؤمنون او په دویم کښں متوکلون ذکر کړو۔

فِي مِلَّتِنَا ۗ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ

زمونږ دين ته ، نو وحي اوکړه دوی ته رب د دوی

لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ

خامخا هلاک به کړو مونږ ظالمانو لره ۔ او خامخا به اوسوو تاسو لره

الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ

په زمکه کښې روستو د هغوی نه ، دا وعده ده

لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

هغه چا سره چه یریږي د پیشئ زمانه او یریږي د عذاب زما نه ۔

سـ١٣ :- پدے آیت کښې ذکر د دباؤ کولو د کافرانو دے په رسولانو باندے چه زمونږ دین ته به واپس کیږئ یا به زمونږ د ملک نه اوځئ لکه چه سورت اعراف سـ٨٨ آیت کښې دی او معنیٰ د عود په تفسیر د سورة اعراف کښې ذکر شوې ده ۔ او بیا تسلي ورکول دی د الله تعالی د طرف نه پیغمبرانو ته په هلاکولو د ظالمانو سره ۔

سـ١٤ :- پدے یکښې دویمه تسلي ده انبیاؤ ته خصوصًا او نورو حق پرستو ته عمومًا او د دے مثال په سورت بني اسرائیل سـ١٠٣ سـ١٠٤ کښې راځي ۔

ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ، پدے یکښې د دے وعدے د عموم ذکر دے د هر موحد سره ۔ مَقَامِي ، په معنیٰ د مصدر دے دا اضافت دے فاعل ته نو مراد ترینه قیام د الله تعالی په طریقه د علم او قدرت سره دے لکه په سورة رعد سـ٣٣ کښې دی نو د خاف نه مراد یقین او علم دے ۔ یا دا اضافت دے مفعول ته قیام د بنده د الله تعالی په مخکښې په ورځ د قیامت لکه په سورة مطففین سـ٦ آیت کښې دی او خوف پخپله معنیٰ دے ۔

وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ

او هغوی فیصله او غوختله او نا امیده شو هر سرکش

عَنِيْدٍ ﴿١٥﴾ مِّنْ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى

ضدای. چه د هغه مخې ته دوزخ دے او څکولے کیږی به او به د

مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ﴿١٦﴾ يَّتَجَرَّعُهٗ

د او بو نه چه وینے زوے دی. چه ګوټ ګوټ به یې څکی

وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ

او نه به یې شي په آسانه تیرولے او راځی به په ده باندے اسباب د مرګ

مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ط

د هرے غاړے نه خو نه به مر کیږی،

وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿١٧﴾

او د ده مخې ته عذاب دے سخت.

١٥:- په دیکښ تخویف دے منکرینو ته. وَاسْتَفْتَحُوْا، یعنی انبیاؤ مدد طلب کړو د الله تعالیٰ نه یا دا چه فیصله طلب کړه کافرانو د الله تعالیٰ نه لکه په سورۃ الانفال ١٩ کښ دی.

جَبَّارٍ، هغه چاته وائی چه په ځان باندے د هیچا حق نه منی. او عَنِيْدٍ، هغه چاته وائی چه ډیره کوی د حق نه د ضد د وجے سره. وَخَابَ، دا اشاره ده د نتیجے د وَاسْتَفْتَحُوْا ته.

١٦، ١٧:- په دے دواړو آیتونو کښ تفصیلی تخویف اخروی دے منکرینو ته په شپږ طریقو سره.

مِّنْ وَّرَآئِهٖ، دا لفظ د اضدادو نه دے یعنی روستو او مخې دواړو ته وئیلے شي دلته مخه مراد ده یعنی په عذاب د دنیا او قبر پسے عذاب د آخرت دے.

يَتَجَرَّعُهٗ، دا د وجے د ډیر ګرم والی او د ډیرے بد بوئی د

مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ

مثال د هغه کسانو چه کفر ئے کړے دے په رب خپل باندے

اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ ِۨ اشْتَدَّتْ بِهِ

د دوی عملونه پشان د ایرے دی چه سخته اوچلیږی په هغے باندے

الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ

سیلئ په اسے ورځ کښ چه تیزے سیلئ والا دی، هیڅ وس نه رسی

مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

د کړے عملونو نه په هیڅ ثواب باندے، دا خو

الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ⑱ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ

ګمراهی ډیره لرے ده (د حد نه). آیا نه ګورئ چه یقینًا الله تعالی

وجے نه. وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ، مراد د دینه اسباب د مرګ دی چه هغه مختلف عذابونه دی د هر طرف نه اویا مراد د موت نه غم او حزن دے. دا رنګ په سورة فاطر ۳۶ کښ هم دی.

فائده:- پدے آیت کښ دلیل دے پدے خبره چه جهنم والا به نه فنا کیږی.

وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ، یعنی دا د څښکلو عذاب دے او د دینه علاوه د طعام، ضریع، غسلین، زقوم او اور عذابونه دی.

۱۸:- هر کله چه تیر شوی آیت کښ ذکر شو عذاب د کافرانو نو اعتراض اوکړے شو چه د هغوی نیک اعمال شته دے نو دے آیت کښ اشاره ده جواب ته په مثال ذکر کولو سره د پاره د بربادئ د هغه عملونو. حاصل د مثال دا دے لکه څنګه چه ډیری د ایرے باندے تیزه سیلئ راشی او ټوله ورځ دا سیلئ او چلیږی نو دا ایره والوځی او هیڅ پاتے نشی نو دا رنګ اعمال د مشرکانو چه په هغے سخت حساب اوکړے شی په ورځ د حساب کښ نو هغه عملونه به بیکاره معلوم شی د وجے د کفر او د

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ط

پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه د پاره د حق (ښکاره کولو)۔

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ

که اوغواړی نو فنا به کړی تاسو او رابه ولی خلق (مخلوق)

جَدِيْدٍ ﴿١٩﴾ وَّمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

نوے۔ او نه دے دا کار په الله تعالیٰ باندے

شرک کولو نه او مثال ئے د رماد سره په دے وجه ذکر کړو چه د رماد نه هیڅ فائده نه اخستلے کیږی نو دا رنګ عملونه د مشرک بے فائدے دی۔ او دا رنګ رماد پیدا کیږی د سوزیدلو د لرګو نه نو دا رنګ عملونه د دوی به وروستو اوسوزیږی نو مراد د اَعْمَالُهُمْ نه هغه عملونه دی چه په ظاهر کښ نیک وی۔ وَلَا يَقْدِرُوْنَ مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَیْءٍ، ضمیر راجع دے کافرانو ته یا راجع دے اصحاب الرماد ته لیکن اول قول غوره دے۔

۱۹۔ خلاصه :۔ د دے آیت نه دریم باب دے تر ۲۳ آیت پورے او دا هم شروع دے په لفظ د الم سره په دے باب کښ عقلی دلیلونه دی مختصر په ۱۹، ۲۰ کښ بیا تذکیر دے په واقعاتو اخروی سره چه هغه براءت د معبودان باطله او د شیطان دے د خپل عبادت کوونکو نه په ۲۱، ۲۲ کښ او بشارت دے په ۲۳ آیت کښ۔

ربط :۔ ربط د دے آیت د مخکښ سره دا دے لکه چه په مثال سره معلومه شوه چه اعمال د شرک برباد دی نو دا رنګ په عقلی دلیل سره هم د دے بربادی معلومه ده۔ دا رنګ لکه چه هغه د مشرکانو د عملونو په بربادولو باندے قادر دے دا رنګ د دے په هلاکولو باندے (اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ) باندے هم قادر دے۔

تفسیر :۔ په آیت ۱۹، ۲۰ کښ بیان دے د خالقیت د الله تعالیٰ

بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾ وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا

خه گران - او ميدان ته به شي الله تعالى ته ټول

فَقَالَ الضُّعَفَٰٓؤُا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا

نو وائي به كمزوري كسان هغه چاته چه لوئي يې كوله

إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم

يقيناً موږ ستاسو تابع وو نو آيا تاسو

مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ

لرې كوونكي شئ زموږ نه د عذاب د الله تعالى نه

مِن شَيْءٍ ۚ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ

څه شي ، دوى به اووائي كه چرې هدايت كړې وې موږ ته الله تعالى

لَهَدَيْنَاكُمْ ۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا

نو هدايت به موږ تاسو ته كړې وې برابر دې حال زموږ كه فرياد وونه كوو

ع ٣ ٩ ١٥ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾

او كه صبر كوو نشته موږ لره ځائے د تختيدو.

او د قدرتِ كامله د هغه. او بالحق، نه مراد ښكاره كول د توحيد د الله تعالى دي نو معلومه شوه چه حكمت د خلق د الله تعالى ذات د نبي نه دے لكه څنګه چه نقل شويدے په حديث د لولاك كښ ځكه چه دغه حديث د محدثينو په نيز موضوع دے او د دے آيت نه هم خلاف دے او په آخر د آيت كښ ذكر د قدرت د الله تعالى دے او تخويف هم دے.

٢١: دا د مخكښ په مضمون باندے عطف دے يعني واستفتحوا فاهلكوا وبعثوا للحساب او ښكاره به شي او ماضي په معنیٰ د مستقبل ده. په دے آيت كښ تخويف اخروي دے په ذكر

وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا قُضِيَ الْاَمْرُ
او وائي به شيطان هر كله چه فيصله اوشي د ټولے خبرے
اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ
يقيناً الله تعالىٰ تاسو سره وعده كړيوه د وعده حقه
وَوَعَدْتُّكُمْ فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ
او ما دروغ وئيلي وُو تاسو ته (خلاف مے اوكړو) ، او نه ووُ
لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّاۤ اَنْ
ما لره په تاسو باندے هيڅ زور (دليل) سوا د دينه چه
دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ
ما تاسو ته بلنه اوكړه نو تاسو قبوله كړه (بے دليله) زما خبره، نو ما لره مه ملامته كوئ
وَلُوْمُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ مَاۤ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ
او ملامته كوئ ځانونه خپل زهٔ ستاسو هيڅ فرياد رسي نه شم كولے

د براءت ، د مشرانو باطل پرستو د خپلو تابعدارو نه او بيان د عجز د هغوي دے د دفع كولو د عذاب نه.
الضُّعَفٰٓؤُا ، نه مراد هغه جاهلان دي چه په عقل او په علم كښ كمزوري وو او هغوي تقليد د مشرانو ئے كولو.
لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا ، د دينه مراد هغه علماء او پيران او اقتدار والا دي چه د حق دين سره ئے ضد او عناد كوو، او كفر او شرك او بدعات ئے خپل دين جوړ كړے وُو. اسْتَكْبَرُوْا ، يعني لويي ئے كړے وه د توحيد د الله تعالىٰ او د اتباع د رسول نه.
مُّغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ، يعني تاسو به مونږ سره دعوے د جنت كولے او س خو صرف مونږ د عذاب نه بچ كړئ او داسے په سورة مؤمن ۴۷ ، ۴۸ كښ هم دي او په دے سورت كښ دا مكالمه د ميدان حشر ده د دے وجے نه د دوي جواب

وَمَآ أَنتُم بِمُصْرِخِيَّ ۖ إِنِّي كَفَرْتُ

او نه تاسو زما فریاد رسی کولے شئ ، یقیناً ما انکار اوکړو

بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ

د هغې نه چه تاسو ما لره د الله تعالیٰ سره شریک کړیوو پخوا (رمخکښ)،

إِنَّ الظَّٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾

یقیناً ظالمانو لره عذاب دردناک دے.

وَأُدْخِلَ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا

او داخل به کړے شی هغه خلق چه ایمان ئے راوړیے او عملونه ئے کړیدی

الصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

په طریقه د نبی جنتونو ته چه بهیږی لاندے د هغې نه

الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۚ

ولے همیشه به وی په هغې کښې په حکم د رب خپل،

---

لَوْ هَدَىٰنَا اللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْ ، سره دے او د سورت مؤمن ۴۸ مکالمه
په اور د جهنم کښې ده نوهلته جواب په انا کل فیها سره دے.
۲۲: هرکله چه تیرشوی آیت کښې حال د انسی شیطانانو ذکرشونو
په دے آیت کښې حال د جنی شیطان ذکر کوی چه ابلیس دے په پنځو
طریقو سره.

اوله طریقه ، إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ... الخ ، مراد دا دے چه الله تعالیٰ تاسو
ته حق دین رالیږلے وؤ په دلیلونو سره او ما تاسو ته دروغ وئیلی
وؤ.

دویمه طریقه وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَٰنٍ .... ، مراد سلطان نه
دلیل دے یعنی تاسو زما خبره بے دلیله منلی وه یا مراد د سلطان
نه زور دے یعنی ما په تاسو د څه زور نه وؤ کړے.
دریمه طریقه دا ده چه فَلَا تَلُومُونِي ... الخ ، ځکه چه تاسو د دلیلونو

تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ﴿٢٣﴾ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ

(پیشکوښ) هرکلے دَ دوی به په هغے کښں سلام وی۔ آیا نه ګورې
چه

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً

ښکاره بیان کړے دے الله تعالیٰ مثال دَ کلمے
پاکے

كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ

پشان دَ ونے فائده منے (پاکے) چه جرړے دَ هغے
ټینګے دي

وَّفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِيْ

او څانګے یې په اوچت طرف کښں دی۔
ورکوي

تابعداری پریخودلے وه نو پیړیکښں په ما باندے ملامتیا نشته دے او څلورمه طریقه مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ۔
او پنځمه طریقه اِنِّيْ كَفَرْتُ ...الخ، او دَ دے مطلب دا دے چه زهٔ انکارکوم دَ هغے نه چه تاسو زهٔ دَ الله تعالیٰ سره په طاعت کښں شریک کړے ووم یا دا مطلب دے چه زما دَ کفر سبب دا دے چه تاسو زهٔ دَ الله تعالیٰ سره شریک کړے یم۔

٢٣ :- پدے آیت کښں بشارت دے مؤمنانو ته او بِاِذْنِ رَبِّهِمْ، کښں اشاره ده چه جنت حاصلول په مشیت دَ الله تعالیٰ سره دی نه په عمل سره۔
تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ، کلمه دَ پیشکشئ سلام دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ او دَ ملائکو نه۔

٢٤ :- خلاصه :- دَ دے ځائے نه څلورم باب دے تر آیت ٢٧ پورے دا هم شروع دے په لفظ دَ الم سره۔ پدے باب کښں تذکیر دے په دوو مثالونو سره اول دَ پاره دَ توحید په ٢٤، ٢٥ کښں او دویم مثال دَ پاره دَ شرک په آیت ٢٦ کښں بیا بشارت دے په مضبوطوالی دَ ایمان والو او تخویف دے په محروم کولو دَ باطل پرستو سره په آیت ٢٧ کښں۔

أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ

میوے خپلے هر وخت په حکم د رب خپل سره،

وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ

او بیانوی الله تعالیٰ مثالونه خلقو لره

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ

د دے د پاره چه نصیحت ترینه اخلی۔ او مثال د خبرے

۲۴۔۲۵:۔ په یکښ مثال د کلمے د توحید دے چه په زړه د مؤحد کښ ده حاصل د مثال دا دے لکه چه اونه د کجورے ډیرو فائدو والا ده او وېخ د هغے ډیر مضبوط دے او څانګے د هغے د زمکے نه اوچتے دی او میوے د هغے هر وخت کښ موجود وی په مختلفو قسمونو سره نو دغسے عقیده د مؤحد ده، وېخ د هغه د عقیدے کلک دے په شکونو او شبهو سره نه زائل کیږی او دا عقیده په زړه کښ ده او هغه عملونه چه د دے عقیدے نه پیدا کیږی پورته خیژی آسمان ته د پاره د قبولیت او فائدے او برکات د دے عقیدے په هر وخت کښ ملاویږی هم په دنیا کښ هم په قبر کښ او هم په آخرت کښ

کَشَجَرَةٍ، په حدیث د امام بخاری سره ثابت ده چه دا اونه د کجورے ده۔

طَيِّبَةٍ، صورت ئے مزیدار دے فائدے پکښ ډیرے دی پانړے لرګی ټولو کښ فائدے شته او د شجرے مثال کښ اشاره ده چه د هغے ترقی او تازګی په اوبو د باران سره وی دارنګ ایمان د مؤمن په قرآن سره تازه وی او زیاتیږی دارنګ د شجرے د قیام د پاره درے څیزونه دی جړے، تنه او څانګے نو د ایمان د پاره درے ارکان دی عقیده د قلب، اقرار د ژبے او عمل په اندامونو سره۔

خَبِيْثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةِ ﹻاجْتُثَّتْ
پليتې پشان دَ بوټي تريخ دے چه سرسري او په آسانه راويستلے کيدے شي
مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ (۲۶)
مخ دَ زمکې نه نشته دَ هغې مضبوطوالے.

تُؤْتِيْ اُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ بِاِذْنِ رَبِّهَا، ثمره يې نده وئيلې ځکه چه اکل لفظ عام دے هغه قسم خوراکونو ته چه دَ کجورو نه جوړيږي او هغه هر وخت موجود وي.

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ، دلته مشبه به او وجه شبه محسوس دي چه دَ هغې تذکر آسان دے ځکه يې يتذکرون راوړو او په سورت حشر ۲۱ کښ دَ غرونو خشوع او تضرع معقولي څيز دے نو هلته يې يتفکرون ذکر کړيدے.

۲۶ :- پدے آيت کښ مثال دَ مشرک دے چه دَ هغه په زړه او په ژبه باندے دَ شرک کلمه ده.

كَشَجَرَةٍ، ديته دَ مخکښ دَ مشاکلت په وجه سره شجره (راونه) وئيلې ده او مراد دَ هغې بوټې دَ حنظله (ترخه هندوانه) ده.

خَبِيْثَةٍ، په خوند کښ ترخه او په بوئ کښ بدبويه ده او بے فائدے ده.

اجْتُثَّتْ، اجتثاث راويستلو ته وئيلې شي. مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ، دَ مخ دَ زمکې نه يعنې دَ هغې څانګې او پاڼړے په مخ دَ زمکې باندے پرتې وي او چتې ختلې نشي.

مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ، يعنې جرړے او زيلئ يې نشته، نو دا رنګ مشرک پليت او نجس دے خبرې يې هم پليته او ګنده ده نور عملونه ورله هم ګنده کوي او ترخه وي، او خوراکونه دَ مشرک ګنده او پليت دي په جهنم کښ او په دنيا کښ هم حرام خوراکونه کوي دده عملونه بيره طرف ته دَ قبوليت دَ پاره نه ورخيژي او دَ توحيد په مقابله کښ دَ دے هيڅ قرار نشته. او دليل او حجت يې نشته توحيد والو دَ هغې مقابله کول او دَ جرړے نه ويستل آسان کار دے.

يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ
کلکوی الله تعالیٰ مؤمنانو لره په وینا
الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي
کلکه په ژوند دنیوی کښ او په
الْاٰخِرَةِ ۚ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ۙ
آخرت کښ او خطا کوی به الله تعالیٰ (په جواب کولو کښ) ظالمانو لره
وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾ اَلَمْ تَرَ
او کوی الله تعالیٰ څه چه غواړی۔ آیا نه گورے ته
اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ
هغه کسانو ته چه بدل کړیدے نعمت د الله تعالیٰ

۲۷: په دے آیت کښ تفریع ده په ما قبل دواړو مثالونو باندے په طریقه د لف نشر مرتب سره نو اول بشارت دے ایمان والو ته چه الله تعالیٰ مظبوطوی دوی لره په سبب د توحید په دنیا کښ په مقابله د دشمنانو او د مصیبتونو کښ او په قبر کښ په وخت د سوال او جواب کښ ځکه چه مراد د الْاٰخِرَةِ ، نه په دے آیت کښ قبر دے لکه چه په حدیث د براء بن عازب رض کښ دی چه ذکر کړے دے امام بخاری رحمه الله ویضل الله الظالمین او بیا په دے جملے سره تخویف دے ظالمانو ته چه الله تعالیٰ به خطا کوی مشرکانو لره د دلیل نه په دنیا کښ او د جواب نه په قبر کښ یعنی په جواب کښ به وائی لا ادری (زه نه پوهیږم)۔

كُفْرًا وَّأَحَلُّوا قَوْمَهُمْ دَارَ

په کفر سره او ورکوز یې کړو قوم خپل لره په کور

الْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ ج يَصْلَوْنَهَا ط

د هلاکت کښ. چه جهنم دے ورننوځي به په هغے کښ

وَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٢٩﴾ وَجَعَلُوا لِلَّهِ

او ناکاره دے ځائے د اوسیدلو. او جوړ کړیدي دوی الله تعالیٰ لره

س ٢٨ :- خلاصه :- د دے ځائے نه پنځم باب دے د سورت تر آخره پورے او دا هم شروع دے په الم سره پدے باب کښ اول زجر دے مشرکانو ته سره د تخویف نه په آیت س ٢٨ ، س ٢٩ ، س ٣٠ کښ بیا ذکر دے د دریو امورو د پاره د دفع د عذاب په آیت س ٣١ کښ بیا درے عقلی دلیلونه دی په آیت س ٣٢ ، س ٣٣ ، س ٣٤ کښ بیا نقلی دلیل دے د ابراهیم علیه السلام نه د آیت س ٣٥ نه تر س ٤١ پورے بیا تخویف اخروی دے په س ٤٢ ، س ٤٣ کښ او تخویف دنیوی دے په س ٤٤ ، س ٤٥ کښ بیا تخویف اخروی دے د س ٤٧ نه تر س ٥١ پورے او اختتام د سورت دے په ترغیب ورکولو سره قرآن او توحید ته په آیت س ٥٢ کښ.

تفسیر س ٢٨ ، س ٢٩ :- پدیکښ زجر دے مشرکانو ته او تخویف دے دا علت دے د مخکښ د پاره چه وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ، او د هغوی دوه صفتونه ذکر شویدی اول دا چه دوی د الله تعالیٰ د نعمتونو ناشکری کړیده په کفر او شرک سره او دویم دا چه دوی دعوت ورکړیدے خپل قوم ته د شرک او دا دواړه سبب د عذاب ابدی دی یعنی ضالین او مضلین دواړه دی.

اَلْبَوَارِ، په معنیٰ د هلاکت دے او کور د هلاکت جهنم دے چه هغه ځائے د تباهۍ دے او ورپسے س ٢٩ آیت کښ د هغے بیان دے.

أَنْدَادًا لِّيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِهِ ۗ قُلْ

شریکان د دے دپاره چه تور خلق هم واړوی د الله تعالیٰ د لارے نه، او وایه

تَمَتَّعُوا فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى النَّارِ (٣٠)

مزے اوکړئ بیا یقیناً ستاسو ورتلل اور ته دی۔

قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا

او وایه ته بندګانو زما ته هغه چه ایمان والا دی چه پابندی دِ کوی

الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

د مونځونو او خرچ دِ کوی د هغه څیز چه مونږ دوی ته ورکړیدی

سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ أَنْ

پټ او ښکاره مخکښ د دینه چه

يَّأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلٰلٌ (٣١)

رابه شی ورځ چه نه به وی خرڅول په هغے کښ او نه به وی دوستانه۔

ف ٣٠: په دے آیت کښ تفسیر دے د تیرشوی آیت په ترتیب سره یعنی بدلوا تفسیر ئے کړیدے په دے قول سره وَجَعَلُوا لِلّٰهِ أَنْدَادًا، او داحلوا تفسیر ئے کړیدے په دے قول سره لِيُضِلُّوا عَنْ سَبِيلِهِ، او تائید د دے آیت په سورة زمر ٨ کښ دے۔ قُلْ تَمَتَّعُوا، مدارک نقل کړیدی چه تمتع دیته وئیلے شی چه انسان خپل ټول شهوات د خپل وس مطابق پوره کړی او مراد دا دے چه د دوی دپاره صرف د دنیا مزے دی۔

ف ٣١: په دے آیت کښ ذکر دے د هغے اعمالو چه دفع کوی عذاب لره په مقابله د هغه صفاتو د مشرکانو کښ چه مخکښ آیتونو کښ ذکر شول او هغه سبب د عذاب وو۔ يُقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ، اقامت د مونځ او انفاق د مال مقابل دے د تمتعوا سره۔ په یکښ لام

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

الله تعالی هغه ذات دے چه پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه

وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ

او راورولے ئے دی دَ بره طرف نه اوبه راویستلی دی

بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ

په هغے سره ډیرے میوے دَپاره دَ فائدے ستاسو

وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي

او تابع کړیده یخپل حکم سره ستاسو دَپاره کشتئ چه چلیږی په

الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ﴿٣٢﴾

دریاب کښ په حکم دَ هغه سره او تابع کړیدی دَ حکم خپل تاسو لره سیندونه.

مقدر دے او دا مقوله ده دَپاره دَ قل سِرًّا وَّعَلَانِيَةً، کله پټ او کله ښکاره دَ حال مناسب دواړه جائز دی لا بیع فیه و لا خلال دا سے په سورة بقره ۲۵۴ کښ ذکر دی او مراد دا دے چه نور خیزونه په هغه ورځ فائده نه ورکوی ماسوا دَ دغه عملونو نه او هغے ته تقوی وئیلے شی نو دوستانه دَ وجے دَ تقوی نه فائده ورکوی په دلیل دَ سورة زخرف ۶۷ سره.

۳۲:- په یکښ دلیل عقلی دے دَپاره دَ تذکیر دَ توحید په پنځه صفاتو فعلیو دَ الله تعالی سره وسخر لکم الانهار هر کله چه په اوبو دَ بحر سره دَ فصل او به کول یا یخپله دَ څښلو فائده نشته نو دَ هغے په باره کښ تسخیر دَ فلک ئے ذکر کړو او په نورو سیندونو او خوړونو کښ دَ اوبو ډیرے فائدے دی نو دَ هغے په باره کښ تسخیر انهار ئے ذکر کړو.

او بِأَمْرِهِ، کښ اشاره ده چه فائدے اخستل دَ کشتو او نهرونو نه موقوف دی په امر دَ الله تعالی باندے.

وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

او تابع کړی ئې دی حکم خپل تاسو لره نمر او سپوږمۍ چه

دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ

همیشه روان دی او تابع کړېدی د حکم خپل ستاسو د پاره شپه

وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ وَاٰتٰكُمْ مِّنْ كُلِّ

او ورځ . او ورکړی دی تاسو ته د هر

مَا سَاَلْتُمُوْهُ ۭ وَاِنْ تَعُدُّوْا

هغه څیز نه چه تاسو ورته حاجت لرئ ، او که تاسو شماره شروع کړئ

نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۭ اِنَّ الْاِنْسَانَ

د نعمتونو د الله تعالی نو سر ته ئې نشئ رسولے ، یقیناً انسان

ع ۵ ۱۷ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ

خامخا ډیر ظلم کوونکے ډیر ناشکره دے . او کله چه اُوئیل ابراهیم علیه السلام

۳۳ :- دا هم دلیل عقلی دے د پاره د تذکیر د توحید په ذکر د تسخیر د څلورو څیزونو سره او په تیر شوی آیت کښ اصول د نعمتونو ذکر کړیدی او مکانیات ئې ذکر کړیدی او په دے آیت کښ زمانیات ذکر کوی.

دَآئِبَيْنِ ، په دیکښ معنٰی ده د همیشوالی سره د دے چه حال او عادات نه بدلوی.

۳۴ :- په دیکښ هم دلیل عقلی دے د پاره د تذکیر او په آخر کښ زجر دے هغه انسان ته چه بدلوی نعمتونه د الله تعالی په کفر یعنی اَلْاِنْسَانَ ، کښ الف لام عهدی دی هر انسان مراد نه دے ناشکره انسان مراد دے.

مَا سَاَلْتُمُوْهُ ، مراد د سوال نه په دے ځائے کښ احتیاج دے که سوال په ژبه وی او که نه وی او دا سے په سورة رحمٰن ۲۹ س

رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا
اے ربه اوګرځوه دا ښار امن والا
وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ اَنْ نَّعْبُدَ
او په ډېره ساتې ما او ځامن زما د بندګۍ
الْاَصْنَامَ ﴿۳۵﴾ رَبِّ اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ
د غیر الله نه. اے ربه یقیناً دوی (بتانو) د دوی بے لارې کړي

آیت کښې ذکر دی.

۳۵:- دا دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه چه امام د نور والو دے د پاره د تذکیر حاصل دا دے چه ابراهیم علیه السلام د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر کړے وو په طریقه د اجتناب د هر قسم شرک نه او په طریقه د اوسولو د بعضے اهل په مرکز د توحید کښې د پاره د نشر د توحید او دا د دعوے د سورت سره هم متعلق دے یعنی ابراهیم علیه السلام د ظلمانو نه د ویستلو د پاره امن د ښار او د شرک نه بچ کیدل او په مکه کښې اهل اوسول او د بچو د پاره دُعا غوختل دا ټول کارونه کړے وو.

اٰمِنًا، د امن معنیٰ دا ده چه څوک به ئے ننوځي نشی ترنزدے د قیامت پورے او په قریب د قیامت کښې به ورانیږي یا مراد دا دے چه اهل د دے به په امن کښې وي.

وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ، مراد په بنی سره صلبی اولاد دی او کوم چه په وخت د دے دُعا کښې موجود وو ټول اولاد تر قیامته مراد نه دے ځکه چه وروسته د دهٔ په اولاد کښې ډیر مشرکان پیدا شویدی. په دے آیت کښې ذکر د دُعا د ابراهیم علیه السلام دے په باره د امن مکی کښې دا سے په سورة بقره ۱۲۶ کښې تیر شویدی او په باره د بچ کیدلو کښې د شرک نه.

الْاَصْنَامَ، جمع د صنم ده او د صنم درے معنے دی.

كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَن تَبِعَنِي

ډيرو خلقو لره نو چاچه تابعداري اوکړه زما

فَإِنَّهُ مِنِّي ۖ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ

نو يقيناً هغه زما د ډلے نه دے او چاچه نافرماني اوکړه زما نو يقيناً ته

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ

بخښونکے رحم کوونکے يې ـ اے ربه زمونږ يقيناً ما آباد کړي دي

مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ

بعض د اولاد خپل نه په کنډه بے فصله (رشاړه) کښې

اوله معنیٰ هغه جوسه چه جوړه کړے شي د لرګي يا کڼي وغيره نه او عبادت يې کيدېشي.

دويمه معنیٰ دا ده هر هغه شے چه بندګي کيږے شي سوا د الله تعالیٰ نه ټولو معبودانو باطلو ته شامل دے که ژوندي وي او که مړه وي او دريمه معنیٰ چه مشغوله کوي انسان لره د الله تعالیٰ نه او دا معنیٰ ذکر شويده په مفردات د امام راغب کښې ص۵۰۲ ـ او په دے آيت کښې مراد آخري معنیٰ ده چه مناسب ده د شان د ابراهيم عليه السلام سره يا دا معنیٰ ده چه بچ اوساتي مونږ لره هميشه د بندګۍ د غير الله نه او مقصود په دے سره طلب د استقامت دے په توحيد باندے ـ

۳۶ :ـ په دے آيت کښې نسبت د ګمراه کولو اصنامو ته په طريقه د سببيت سره دے يعني بندګي د اصنامو سبب د ګمراهۍ د خلقو وي ـ

وَمَنْ عَصَانِي ، مراد د دينه عصيان دے بغير د شرک نه ځکه چه مشرک ته بخلے کيږي ـ يا مراد دا دے چه من عصاني رنو ته هغه له توفيق د توبے ورکړے) نو عصيان کښې شرک او کفر داخل دے ـ

عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيْمُوا

په خوا (نیزدې) ستا د کور عزتمند کښې اے ربه زمونږه د دې د پاره چه پابندی

الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ

اوکړی (جاری کړی) د مونځ نو اوګرځوه زړونه د بعضے خلقو

تَهْوِيْٓ اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ

چه مائل شی د دوی طرف ته او روزی ورکړے دوی لره د

الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ﴿۳۷﴾

قسما قسم غلونه د دے د پاره چه ستا شکر اوکړی۔

۳۷ :۔ په دے آیت کښې ذکر د ابتلاء د ابراهیم علیه السلام دے په او سولو د اسماعیل علیه السلام او د مور د هغه په شاړ ځائے کښې د پاره د اقامت د صلوٰة او مراد د دینه اقامت د دین توحید دے۔

مِنَ النَّاسِ ، مِنَ ، بعضیه دے د دے وجه نه بعضے خلق د کعبے سره محبت لری۔

لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ، مراد د دینه شکر کول دی په توحید منلو سره او په دعوت کولو سره توحید ته. او دا دعاګانے د ابراهیم علیه السلام قبولے شوی دی۔

فائده ۱ :۔ دا کار د ابراهیم علیه السلام په امر د الله تعالیٰ سره وو لکه چه ذکر دی په صحیح حدیث کښې نو دا اعتراض نشی کیدے چه دا ئے د ساره رضی الله عنها د خوشحالولو د پاره اوکړو لکه چه یهودیان وائی او دا رنګ بل چالره نه دی جائز چه اهل عیال سره د غسے کار اوکړی په اقتداء د ابراهیم علیه السلام سره لکه چه اوس خلق دا سے کار کوی۔ بعضے متصوفه وائی چه دا توکل دے ذکر شوے دے دا تفصیل په تفسیر قرطبی کښې۔

فائده ۲ :۔ لِيُقِيْمُوْا ، کښې اشاره ده چه دا ځائے مرکز د توحید

رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِيْ

اے ربه زمونږ یقینًا ته پوهیږے په هغه څیزچه مونږ پټوؤ

وَمَا نُعْلِنُ ط وَمَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ

او په هغه څیزچه ښکاره کوؤ، او نه پټیږی په الله تعالی

مِنْ شَيْءٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ﴿۳۸﴾

هیڅ څیز (شے) په زمکه کښ او نه په آسمان کښ۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ وَهَبَ لِيْ

ټول صفتونه د الوهیت خاص الله تعالی لره دی هغه ذات چه را اوبخوئے ما ته

عَلَى الْكِبَرِ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ ط

سره د زوړوالی نه (په بوډاوالی کښ) اسماعیل علیه السلام او اسحاق علیه السلام

اِنَّ رَبِّيْ لَسَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿۳۹﴾

یقینًا رب زما خامخا قبلوونکے د دعا دے۔

جوړشی او مرکز جوړیدل په دوه څیزونو باندے موقوف وی یو
د خلقو میلان او بل د هغوی د پاره خوراک د دے وجے نه دا
دواړه دعا ګانے ئے او غوختلے۔
۳۸، ۳۹ :- په دے دواړو آیتونو کښ ذکر دے د توسل د ابراهیم
علیه السلام په صفاتو د الله تعالی سره او دا شرعی وسیله ده۔
مَا نُخْفِيْ وَمَا نُعْلِنُ، عام دے ټولو اقوالو او افعالو د انسانانو ته۔
وَمَا يَخْفٰى . په یکښ د ماقبل نه زیات عموم دے سوا د انسانانو
نه نورو څیزونو ته هم شامل دے۔ او دا قول هم د ابراهیم علیه
السلام دے او بعضو وئیلے دی چه دا قول د الله تعالی د طرف نه
دے د پاره د تتمه د قول د ابراهیم علیه السلام۔
اِسْمٰعِيْلَ، د ده د پاره ئے خو دُعا غوختلے ده لکه چه په سورة
صافات ۱۰۰ کښ دی او وَاِسْحٰقَ، د ده په باره کښ بشارت

رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ

اے ربه اوګرځوے ما پابندی کوونکے دَ مانځه او دَ

ذُرِّيَّتِيْ ۖ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا

اولاد زما نه هم اے ربه زمونږ او قبوله کړے دُعا زما - اے ربه زمونږ

اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ

او بخنه ما او مور او پلار زما او ټول مؤمنان

يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿٤١﴾ ع وَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ ع ٦/٧ ١٨

په کومه ورځ چه شروع کیږی حساب - او ګمان مه کوه په الله تعالیٰ باندے

غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ ۬

دَ غافل دَ هغه کارونو نه چه کوی ئے ظالمان ،

اِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ

یقینًا مهلت ورکوی دوی ته هغه ورځ ته چه کړوغے به راوځی

بغیر دَ دعا نه ورکړے شوے ووُ صافات سـ١١٢ -

لَسَمِيْعُ الدُّعَآءِ ، مراد دَ سمیع نه قبلونکے دے او دا هم وسیله دہ په نوم دَ الله تعالیٰ سره -

سـ٤٠ ، سـ٤١ :- دَ اقامت صلوٰة نه مراد اقامت دَ ټول دین دے او په دے دواړو آیتونو کښ دعا دَ ابراهیم علیه السلام ده دَ پاره دَ خپل ځان او دَ پاره دَ اولاد او دَ پاره دَ مور او پلار او دَ ټولو مؤمنانو - او دعا دَ ابراهیم علیه السلام په مغفرت سره دَ پاره دَ پلار خپل په هغه وخت وه چه ده ته لا نه وه معلومه شوے چه دے دښمن دَ الله تعالیٰ دے او دا ذکر شوے دے په سورة التوبه سـ١١٤ کښ - او په دے آیت کښ ورځ دَ حساب ئے په دے وجه خاص کړے ده چه دَ مغفرت فائده ښکاره کیږی په ورځ دَ حساب -

فِيْهِ الْاَبْصَارُ ﴿۴۲﴾ لا مُهْطِعِيْنَ مُقْنِعِیْ

په هغې کښې سترګې - منډې به وهي او چت کړې به ئې وي

رُءُوْسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ج

سرونه خپل نه به راګرځي دوی ته سترګې د دوی

وَاَفْئِدَتُهُمْ هَوَآءٌ ﴿۴۳﴾ ط وَاَنْذِرِ

او زړونه د دوی به خالي وي (د پوهې نه) - او ویره ورکړه

النَّاسَ يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ الْعَذَابُ

خلقو ته د داسې ورځ نه چه رابه شي په دوی عذاب

فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رَبَّنَآ

نو وائي به هغه کسان چه ظالمان دي اے ربه زمونږ

اَخِّرْنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ لا نُّجِبْ

مهلت راکړې مونږ له تر نیټې نزدې پورې قبول به کړو مونږ

۴۲، ۴۳:- په دې آیت کښې تسلی ده رسول ته په مخالفت کولو د ظالمانو د دین د ابراهیم علیه السلام نه او په دې دواړو آیتونو کښې تخویف اخروی هم دے په ذکر د هیبت د قیامت سره او وئیلی دی میمون بن مهران چه دا آیت وعید دے د پاره د ظالم او تعزیه ده د پاره د مظلوم۔

تَشْخَصُ، شخوص دے ته وئیلې شي چه د هیبت د وجے نه سترګې وازې وي او نه رپیږي۔

مُقْنِعِیْ، د اضداد و نه دے پورته کوونکی او خکته کوونکی دواړو ته وئیلې شي دلته په قرینه د لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ، سره اوله معنیٰ مراد ده۔

هَوَآءٌ، په معنیٰ د خالي د هوش او علم و فکر نه۔ مطلب د آیت دا دے چه د هیبت اثر به د دوی په سترګو او سرونو او

دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ؕ أَوَلَمْ

دعوت دَ (توحید) ستا او تابعداري به اوکړو دَ رسولانو، آیا نه

تَكُونُوٓا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا

وو کړي تاسو قسمونه دَ دینه مخکښ چه نشته

لَكُم مِّن زَوَالٍ ﴿۴۴﴾ وَسَكَنتُمْ فِي

تاسو لره هیڅ فنا۔ او اوسیدلي یئ تاسو په

مَسَٰكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ

ځایونو دَ اوسیدلو دَ هغه کسانو کښ چه ظلم ئې کړیوو په ځانونو خپلو

وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ

او ښکاره شوې ده تاسو ته چه څه رنګ کار کړے دے مونږ دَ دوي سره

زړونو باندے وي۔

۴۴ :- دا عطف دے په وَلَا تَحْسَبَنَّ باندے یعني په وخت دَ مهلت دَ دوی کښ انذار اوکړه۔ په دے آیت کښ تخویف دنیاوي دے ځکه چه مراد دَ عذاب نه دَ دنیا دے په دلیل دَ دے لفظ سره چه رَبَّنَا أَخِّرْنَا، او دَ بعضے مفسرینو په نیز دَ يَوْمَ او الْعَذَابُ نه مراد ورځ دَ عذاب دَ قیامت ده او أَخِّرْنَا، په معنیٰ دَ ارجعنا (واپس کړے مونږ دنیا ته) دے او په دے آیت کښ اشاره ده چه مخالفت کول دَ ظالمانو په دوؤ طریقو سره وي یو انکار دَ دعوت دَ توحید نه او دویم انکار دَ تابعدارئ دَ رسول نه۔

مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ، مراد دَ زوال نه عذاب دے یا مراد دَ زوال نه فنا ده نو حاصل دا معنے دا دے چه نشته تاسو لره فنا په اجتماعي طور سره یعني دَ دنیا دَ فنا نه تاسو انکار کوو لکه اوس هم دا عقیده ده دَ ملحدینو اګرچه دَ افرادو دَ مرګ نه انکار نشي کولے لیکن دنیا قدیم ګنړي او دَ قیامت نه انکار کوي۔

وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدْ

او بیان کړي دي موږ تاسو ته مثالونه ۔ او یقیناً

مَكَرُوْا مَكْرَهُمْ وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ ط

مکرونه کړي وو دوی مکرونه خپل او په نیز د الله تعالیٰ مکر د دوی دے ،

وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُوْلَ مِنْهُ

او نه دے مکر د دوی چه لرے شي د وجے د هغے نه

الْجِبَالُ ﴿٤٦﴾ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ

غرونه ۔ نو گمان مه کوه په الله تعالیٰ باندے

۴۵ :۔ په دے آیت کښې زجر دے منکرینو ته چه ستاسو د انکار د پاره هیڅ وجه نه وه روستو د دے درے حالتونو نه ۔
اول دا چه د تیر شوو ظالمانو کورونه تاسو لیدلي وو او د هغوی د عذابونو نخے تاسو ته ښکاره شوے وے او تاسو ته واقعات د عذاب هم بیان شوي وو نو تاسو عبرت ولے نه اخستو او د دے حالاتو خلاصه دا ده چه په مشاهدے سره تاسو ته علم حاصل شوے دے او دا رنگ د مخکنو په تاریخي واقعاتو آورېدلو سره او دا رنگ د وحي په ذریعه سره ۔

۴۶ :۔ مراد د مکر د دوی نه شرک کول او انکار د رسولانو نه دے یا مراد د دینه مقابله کول دي د انبیاؤ او د موحدینو سره په مختلفو تدبیرونو سره ۔

وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُوْلَ مِنْهُ الْجِبَالُ ۔ په دیکښې یو توجیه دا ده چه د دوی مکرونه کمزوري دي په هغے د الله تعالیٰ غرونه نشي بے ځایه کولے په دیکښې جبال په خپله معنیٰ سره مراد دے ۔ او سپکوالے د مکرونو مراد دے ۔ په دے توجیه سره ان نافیه دے او لام په لتزول کښې په معنیٰ د حتی سره دے ۔
دویمه توجیه دا ده چه مراد د جبال نه توحید او دین د

مُخۡلِفَ وَعۡدِهٖ رُسُلَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

خلاف کوونکے دَ وعدے خپلے دَ رسولانو خپلو سره، یقیناً الله تعالیٰ

عَزِیۡزٌ ذُو انۡتِقَامٍ ﴿۴۷﴾ یَوۡمَ تُبَدَّلُ

زور آور دے بدله اخستونکے دے. په هغه ورځ چه بدله به کړے شی

الۡاَرۡضُ غَیۡرَ الۡاَرۡضِ وَالسَّمٰوٰتُ

دا زمکه دَ دینه په بله سره او هم آسمانونه

انبیاؤ دے په طریقه دَ مثال سره نو جبال په معنیٰ مثالی سره دے. دریمه توجیه دا ده چه شرک دَ دوی سبب دَ زوال دَ غرونو او دَ دنیا دے لکه سورة مریم آیت ۹۰ کښ چه ذکر دی پدے توجیه سره ان محفف دے دَ مثقل نه یعنی وانهٗ یعنی شرک سبب دَ زوال دَ دنیا دے لیکن استغفار دَ ملائکو مانع دے دَ هغے نه لکه په سورة شوریٰ ۵ کښ دی.

څلورمه توجیه دا ده چه مراد دَ دینه ختم والے دَ مکر دے رلکه چه مکرًا کبارًا راغلے دے) او اِن وصلیه دے یا مخفف عن المثقل دے او لام مفتوح دے او په قراءت دَ عبدالله بن مسعود کښ داسے ثابت دی.

۴۷ :- په دے کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په بلے طریقے سره او مراد دَ وعدے نه وعده دَ نصرت ده په دنیا او آخرت کښ او هر کله چه مخکښ دَ اقوام مکذب عذابونه ذکر کړے شو نو په هغے باندے په فاء سره تفریع اوکړه دَ پاره دَ تسلئ ورکولو نبی صلی الله علیه وسلم ته.

وَبَرَزُوا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾

او پیش به شي الله تعالیٰ ته چه یو دے زورآور دے.

وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ

او ته به اُوینے مجرمان . په ا غه ورځ یو ځائے تړلے شوی

فِي الْاَصْفَادِ ﴿۴۹﴾ سَرَابِيْلُهُمْ مِّنْ قَطِرَانٍ

په زنځیرونو کښں . قمیصونه د دوی به د راترو نه وی

وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ﴿۵۰﴾ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ

او پټوی به مخونو د دوی لره اُور . د دے دپاره چه بدله به ورکړی الله تعالیٰ

۴۸ :- دا تخویف اخروی دے او ذکر د هغے ورځے دے چه په هغے کښں وعده پوره کیږی او په باره د تبدیل کښں دوه قوله دی. یو قول دا دے چه دا تبدیل ذاتی دے یعنی دا آسمانونه او زمکه به فنا شی او هر کله چه ذات او صفت دواړه بدلیږی نو لفظ د تبدیل او غیرئے دواړه ذکر کړیدی او حدیث د مسلم کښں راغلی دی چه عائشه رضی الله عنها تپوس اوکړو چه په وخت د تبدیل د زمکے کښں انسانان به کوم ځائے وی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو چه په جسر (پیل) باندے به وی نو هر کله چه دا آسمانونه او زمکه به فنا کړے شی نو د دوی په بدل کښں به نور پیدا کړے شی او دویم قول دا دے چه دا تبدیل وصفی دے یعنی د آسمانونو او د زمکے دا موجوده کیفیت به بدل کړے شی، لکه چه د جهنم والو څخه پس د سوزیدلو نه بدلولے شی.

۴۹ :- مُقَرَّنِيْنَ، کښں اشاره ده چه د یو قسم مجرمان به یو ځائے تړلے کیږی یا دا چه لاسونه او خپے به ئے یو ځائے تړلے شی.

۵۰ :- په دے آیت کښں اشاره ده چه عذاب د جهنم به احاطه کړے وی په دوی باندے د هر طرف نه لکه قمیص چه په ټول بدن

كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ اللَّهَ

هر نفس لره جزا د عمل د هغه یقیناً الله تعالیٰ

سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٥١﴾ هَٰذَا بَلَاغٌ

زر حساب کوونکے دے۔ دا (قرآن) دپاره د رسولو دے

لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا

خلقو ته او د دے دپاره چه اویرولے شی پدے سره (خلقو لره) او د دے دپاره چه

أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ

چه یقیناً الله تعالیٰ حقدار د بندګئ دے یو دے او د دے دپاره چه نصیحت واخلی

أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٥٢﴾

صاف عقل والا۔

بانـدے احاطه کړے وی لیکن سرابیل نه مراد معنیٰ حقیقی ده۔ او
قطران رانـزړوته وائی چه په هغے سره اوښان غوړول کیږی په وخت
د مرض د خارښ کښ نو پدیکښ اشاره ده چه په جهنمیانو بانـدے
عذاب د خارښ به وی او دا رنګ رانزړه چه دی نو سبب د تیزیدلو
د اُور دے او بدبوئیه هم وی۔ (اعاذنا الله منها)

۵۱:۔ سَرِيعُ الْحِسَابِ، کښ دوه معنے دی یوه دا چه ورځ
د حساب زر راتلونکے ده او دویم دا چه حساب کول شروع کړی نو
زر به ئے ختموی۔

۵۲:۔ دا د ابتداء د سورت سره تعلق لری پدیکښ ترغیب دے
قرآن ته چه هغه سبب د بچ کیدلو دے د عذاب نه او په دے
کښ د قرآن کریم څلور فائدے ذکر کړے شوی دی۔
اوّل دا چه قرآن تبلیغ د پاره د عامو خلقو دے۔
دویم دا چه دا انذار دے د عذاب نه۔
دریم دا چه دا د تعلیم د توحید دپاره دے۔
او څلورم دا چه دا تذکیر د خالص عقل والو دپاره دے او په

دے آیت کښ تصریح ده چه موضوع دَ قرآن توحید دے.
وَلِیَذَّکَّرَ، اشاره ده چه دَ توحید نه علاوه نور احکام هم اولوالالباب خلق راویستلے شی په طریقه دَ تدبر او تفکر سره.

ختم شو تفسیر دَ سورة ابراهیم په فضل دَ غفور رحیم.

| سورۃ الحجر مکیۃ | بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | ایاتها ۹۹ رکوعاتها ۶ |
| --- | --- | --- |

خاص په نوم د الله تعالی امداد غوارو په شروع کولو کښ چه رحمٰن او رحیم دے.

الٓرٰ تِلۡکَ اٰیٰتُ الۡکِتٰبِ وَ قُرۡاٰنٍ مُّبِیۡنٍ ①

الله تعالی د دے په مراد نه پوهه دے، دا آیتونه دی د کتاب او قرآن واضح بیان کوونکی.

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## سورۃ الحجر

ربط :- د دے سورت ربط د تیر شوی سورت سره دا دے چه سورۃ ابراهیم کښ تذکیر وؤ په ایام الله سره نو پدے سورت کښ د هغے پنځه نمونے پیش کوی. دویم دا چه په هغه سورت کښ د اخراج عن الظلمات د پاره د قرآن ذکر وؤ نو پدے سورت کښ د هغے د پاره عقلی دلیلونه ذکر کوی.

دعوٰی :- د دے سورت تخویف دے په عذاب سره منکرینو د توحید ته په ذکر د هلاک شوو قومونو اجمالاً په آیت ۴ ۵ کښ او تفصیلاً په ذکر د عذاب سره په دریو قومونو تیر شوؤ باندے او د دوؤ دلو د مکے والو نه. او سبب د دوی د عذاب انکار دے د توحید نه نو اثبات د توحید ئے کړیدے پدے سورت کښ په دریو طریقو سره اوله طریقه لس عقلی دلیلونه او دویمه طریقه رد کول په درے اقسامو د شرک باندے چه هغه شرک فی التصرف او شرک فی العبادۃ دے او شرک فی العلم دے -او دریمه طریقه ذکر کول د اوؤ اسماء حسنٰی د الله تعالی دی او دعوٰی د توحید په آخر د سورت کښ ذکر کړے شویده په آیت ۹۸، ۹۹ کښ.

خلاصه د سورت :- دا سورت تقسیم دے دریو بابونو ته.
اول باب تر ۱۵ آیت پورے دے پدیکښ اول ترغیب دے قرآن ته په آیت ۱ کښ بیا تخویف دے په ذکر د تمنا کولو

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ

ډیر کرته ارمانونه به کوي کافران چه کاش

كَانُوا مُسْلِمِينَ ۞ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا

دوي توحید قبول کړے وے۔ پرېږده دوي چه خوراک کوي

دَ ایمان په آیت سـ۲ کښ بیا زجر په دریم آیت کښ بیا تخویف دنیوی په سـ۴، سـ۵ کښ او دا دعوی دَ سورت ده بیا زجر دے په انکار دَ رسول په آیت سـ۶، سـ۷، سـ۸ کښ بیا ترغیب دے قرآن ته په سـ۹ آیت کښ بیا زجر دے په استهزاء کولو په رسولانو پورے دَ آیت سـ۱۰ نه تر سـ۱۳ پورے بیا زجر دے په انکار دَ معجزاتو سره عنادًا په سـ۱۴، سـ۱۵ آیت کښ۔

تفسیر: سـ۱:- پدیکښ ترغیب دے دے قرآن ته۔ الٓرٰ، بحث دَ مقطعاتو مخکښ تیر شوېدے او دا دلیل دے په اعجاز دَ قرآن کریم باندے او دَ الْكِتَابِ، نه مراد مخکښ کتابونه دی او پدیکښ اشاره ده چه پدے سورت کښ ذکر کیږی واقعات دَ مخکنو قومونو۔ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ، کښ اشاره ده روستنو قومونو ته یعنی دَ مکے والا دوو ډلو ته چه مقتسمین او مستهزئین دی یا عطف دَ قرآن مبین په الکتاب باندے عطف دَ صفت دے په صفت باندے او مصداق ئے یو دے۔

سـ۲:- په دے آیت کښ ذکر دَ تخویف دے چه مشرکان به په وخت دَ عذاب کښ دَ توحید دَ منلو ارمان کوی۔

رُبَمَا، دَ تقلیل او تکثیر دواړو دَ پاره راځی دلته تکثیر مراد دے او بعضو وئیلی دی چه تقلیل مراد دے ځکه چه په عذابونو کښ به مشغول وی نو دَ تمنیٰ دَ پاره به وخت لږ ملاویږی۔

وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ

او مزے د دنیا اخلی او غافل کړی دی دوی لره امیدونو

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿۳﴾ وَمَا أَهْلَكْنَا

نو زر دہ چہ دوی بہ پوھہ شی۔ او نہ دے هلاک کړے مونږ

مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ

یو کلی مگر د ھغے د پارہ لیکل دی

مَّعْلُومٌ ﴿۴﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ

مقرر. نہ شی وړاندے کیدے یو امت

أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴿۵﴾ وَقَالُوا

د خپلے نیټے نہ او نہ شی روستو کیدے۔ او دوی وائی

۳:۔ پہ دیکښں زجر دے پہ محبت د دنیا چہ ھغہ خوراک او نورے مزے د دنیا دی او زجر دے پہ غفلت سرہ د توحید نہ پہ سبب د امیدونو او د اسباب د انکار دی او حدیث مرفوع کښں نقل دی چہ څلور څیزونہ سبب د بد بختئ دی اول د سترګو اوچوالے دویم د زړہ سختوالے او دریم اوږدوالے د امیدونو او څلورم حرص د دنیا دا رنګ یَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا، اشارہ دہ حرص د دنیا تہ او وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ، کښں امیدونہ ذکر دی او پہ حدیث کښں ذکر دی چہ انسان بوډا کیږی او دوہ خصلتونہ پکښں ځوانیږی حرص او امیدونہ.

۴، ۵:۔ پہ دے آیتونو کښں تخویف دنیوی دے چہ عذاب بہ راځی پہ نیټہ مقرر یعنی اګر چہ دوی لہ مهلت ورکړے شوے دے د پارہ د خوراک او د مزو لیکن زر دہ چہ پہ دوی بہ عذاب راځی لیکن د ھغے د پارہ اجل مقرر شتہ دے۔ او دا دعوٰی د سورت دہ.

يَاَيُّهَا الَّذِىْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

اے داسے سړیه چه نازل کړے شوې دہ په هغه باندے وحی رپخیل

اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ﴿٦﴾ لَوْ مَا تَاْتِيْنَا

گمان کښې) یقینًا ته خامخا لیونے یې . ولے نه راوړے مونږ ته

بِالْمَلٰٓئِكَةِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٧﴾

ملائک که ته یې د رشتینو له .

مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا

مونږ نه نازلوو ملائک مګر په عذاب سره او نشی ورکیدلے

كَانُوْٓا اِذًا مُّنْظَرِيْنَ ﴿٨﴾ اِنَّا نَحْنُ

دوی ته دغه وخت کښې مهلت . یقینًا مونږ

نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿٩﴾

نازل کړیدہ وحی او یقینًا مونږ د هغې حفاظت کوو .

ت ۶:- په دې کښې زجر دے په استهزاء کولو سره په رسول پورے.
نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ، یعنی ستا په دعوے او گمان سره او دا معطوف
دے په ت ۳ آیت باندے او د منکرینو صفات قبیحه ذکر کوی.
ت ۷:- په دے آیت کښې طلب کول دی د رسول نه د ملائکو راوستلو
د پاره د شهادت ورکولو په صداقت د نبی صلی الله علیه وسلم یا د پاره
د امداد کولو لکه چه فرعون موسیٰ علیه السلام نه هم دا مطالبه کړے
وه سورت زخرف ت ۵۳.
ت ۸:- په دې کښې جواب دے د تیر شوی دریم سوال د هغوی او
مراد د اَلْحَقِّ، نه عذاب یا وحی ده.
ت ۹:- په دے آیت کښې جواب د اول اعتراض دے، اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ، او
صداقت د قرآن دے او تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته
په حفاظت د قرآن کریم په مقابله د اعتراضونو د عنادیانو کښې.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ فِىْ

او یقیناً لیږلی دي موږ ستا نه مخکښې (رسولان) په

شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ⑩ وَمَا يَاْتِيْهِمْ

ډلو د مخکنو کښې. او نه به راتلو هغوی ته

مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑪

رسول مګر دوی به په هغه پورې ټوقې کولې.

او صدق د قرآن دلیل دے چه نبی مجنون نه دے ځکه چه د مجنون شخص په ذریعه د هیڅ څیز حفاظت نشي کیدلے. او حفاظت د الفاظو او د معنے د تغیر تبدیل او تحریف نه په دے آیت کښې واضح دے. او دا بداهةً معلومه ده چه په سوونو کلونه تیر شول او دشمنان د قرآن هم بے شماره دی او تحریفونه هم لفظاً او معناً کړیدی لیکن هغه تحریفونه چلیدلی نه دی او الله تعالی دا سے بندګان هره زمانه کښې پیدا کړیدی چه د تحریفونو ازاله کوی او د دے یو شاهد هغه قصه ده چه قرطبی په تفسیر د دے آیت کښې ذکر کړیده بلکه الله تعالی د احادیثو د نبی صلی الله علیه وسلم حفاظت هم کړیدے ځکه چه هغه هم ذکر منزل دے د هغے صحیح ضعیف او موضوعی علماء حق په تفصیل سره ښکاره کړیدی او دا آیت صریح رد دے په شیعه ګانو باندے چه هغوی دا قرآن محرف ګنړی د کتابو نه پدے باندے ګواه دی.

۱۰، ۱۱ :- پدے دواړو آیتونو کښې هم تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په صبر کولو سره په استهزاء د عنادیانو چه په تیر شوی انبیاؤ پورے استهزاء ګانے کړے شوے دی.

اَرْسَلْنَا ، مفعول حذف دے یعنی رسلاً.

شِيَعِ ، جمع د شعیة ده هغه ډله چه د چا تابعداری کوی که ښه وی او که بد وی.

كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۲﴾

دغسې ورننه باسو مونږ (دا استهزاء) په زړونو دَ مجرمانو كښ.

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ

ايمان نه راوړي پس دے (قرآن باندے) او يقيناً تيره شوې ده طريقه

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ

دَ مخكنو خلقو. او كه پرانځو مونږ په دوى باندے

بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ يَعْرُجُوْنَ ﴿۱۴﴾

دروازه دَ آسمان نه نو په رنړا ورځ به په هغے كښ اوخيژي.

لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا

خامخا او به وائي يقيناً بند كړے شوې دي نظرونه زمونږ

س ۱۲ ، س ۱۳ :- په دے كښ زجر دے منكرينو ته چه دَ دوى عادت په شانتے دَ مخكنو دے په استهزاء او په تكذيب كښ او دَ دے وجه ئے ذكر كړيده په نَسْلُكُهٗ ، سره ۀ ضمير راجع دے استهزاء او تكذيب ته او ابن كثير شرك ته راجع كړيدے مقصد يو دے او دا سے ذكر دے په سورة شعراء س ۲۰۰ ، س ۲۰۱ كښ . هر كله چه په دے آيت كښ مراد دَ راتلونكي زمانے مجرمان دي نو فعل مضارع ئے نسلكه ذكر كړه او په سورة شعراء كښ دَ تيرے شوے زمانے دَ مكذبينو ذكر وو نو هلته ئے فعل ماضي ذكر كړيده . او دَ دے مراد هم هغه دے چه په ختم الله او طبع الله كښ دے او ۀ ضمير قرآن ته راجع كول ضعيف قول دے.

س ۱۴ ، س ۱۵ :- په دے آيتونو كښ زجر دے په انكار دَ معجزاتو سره عناداً او بعضے دَ معجزاتو نه آسمان ته پورته كول دي.

فَظَلُّوْا ، كښ اشاره ده چه دا پورته كول بالكل ښكاره او حقيقت دے ځكه چه ظلوا دلالت كوى په عمل دَ ورځے باندے.

اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا ، مراد دا دے چه دوى به وائي چه مونږ

ع ۱

بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ

بلکه موږ داسې قوم يو چه جادو راباندې شوى دې. او يقيناً

جَعَلْنَا فِى السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّ زَيَّنّٰهَا

پيدا کړى دى موږ په آسمان کښې غټ ستورى او ښائسته کړى دى موږ

لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۱۶﴾ وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ

دپاره د نظر کوونکو. او ساتنه کړې ده موږ د دې (آسمان) د هر

آسمان ته نه يو راخيژولى شوى ليکن زموږ نظر بند کړې شوې دې بيا به او وائي چه هاں آسمان ته راخيژولې شو خو موږه په جادو سره راخيژولى شوى يو.

ربط ۱۶: د دې آيت نه دويم باب دې تر ۲۰ آيت پورې په دې باب کښې لس عقلى دليلونه دى د ۱۶ نه تر ۲۰ پورې او پدې دليلو کښې اتلس صفتونه د قدرت او د علم د الله تعالىٰ ذکر کړې شوى دى، بيا ذکر د واقعې د سجود د آدم عليه السلام دې، متعلق د دعوې د سورت سره چه هغه تخويف دې منکرينو ته بيا ذکر د تخويف اخروى دې په آيت ۴۳، ۴۴ کښې او بيا بشارت اخروى دې د ۴۵ نه ۵۰ پورې.

تفسير:- هر کله چه ذکر کړې شو انکار د منکرينو د توحيد او س ذکر کوى دليلونه د توحيد دپاره د رد په هغوى باندې. او مراد د بُرُوْجًا، نه غټ ستورى دى په دليل د دې قول سره چه وَزَيَّنّٰهَا ځکه چه زينت په ستورو سره دې لکه سورة صافات ۶ او سورة تبارك ۵ کښې چه ذکر دى يا مراد د بروج نه هغه منزلونه دى د نمر او سپوږمۍ وغيره چه دوى وخت په وخت په هغې کښې ښکاره کيږى، ځکه چه برج په اصل کښې ښکاره کيدلو ته وئيلې شى او پدې آيت کښې دوه صفتونه د قدرت د الله تعالىٰ ذکر کړې شوى دى.

شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿۱۷﴾ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ

شیطان رټلي شوي نه. مګر هغه شیطان چه غوږ

السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸﴾

سارنه اوکړي نو روانه شي په هغه پسې شغله ښکاره.

وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا

او زمکه خوره کړې ده مونږ او اچولي دي مونږ په دې کښې

رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ

پاخه غرونه او زرغون کړې دي مونږ په دې کښې هر

شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿۱۹﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ

څیز وزني (په اندازه). او پیدا کړې دي مونږ تاسو لره

س۱۷ :- په دې آیت کښې دریم صفت دَ قدرت ذکر دې چه هغه حفاظت دې په ستورو سره لکه په سورة ملک س۵ او سورة صافات س۷ کښې.

س۱۸ :- په دې آیت کښې طریقه دَ حفاظت ذکر ده چه هغه ویشتل دَ شیطانانو دي لکه سورة جن س۸، س۹ کښې او سورة صافات س۸ س۹، س۱۰ کښې چه ذکر دي.

س۱۹ :- په دې آیت کښې درې صفات دَ قدرت ذکر دي او مَدَدْنٰهَا، مد دَ زمکې قرآن کښې درې کرته ذکر دې سورت رعد س۱۳ او سورة قٓ س۷ او دا سورت او په لفظ دَ دحو سره ذکر دې په سورة نازعات س۳۰ کښې او په لفظ دَ فرش سره ذکر دې په سورةِ الذاریات س۴۸ کښې او سورة بقره آیت س۲۲ کښې او مراد دَ دې هولو نه جوړول دَ زمکې دي په داسې طریقې سره چه انسانان دَ هغې نه فائده اخستلې شي او کوم چه ذکر دَ مد دَ زمکې دې په علاماتو دَ قیامت کښې لکه سورة انشقاق په آیت س۳ کښې نو مراد دَ هغې دا دې چه دَ زمکې

فِيهَا مَعَايِشَ وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ
په دې کښې اسباب د ژوند تیرولو او دا سې مخلوق چه تاسو هغوی له
بِرٰزِقِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا
روزي نه شئ ورکولے۔ او نشته هیڅ شے مگر
عِنْدَنَا خَزَآئِنُهٗ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا
زمونږ سره د هغې خزانې دي او نه راکوزوو (هغه شے) مگر
بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ
په اندازه مقرر سره۔ او لیږلې دي مونږ هواګانې

نه به غروته او ډیرئ او کنډے لړے کړے شي او یو میدان به شي۔

مَوْزُوْنٍ، مراد د دینه هغه څیزونه دي چه تللے کیدے شي په وزن سره لکه سره زر او سپین زر او تانبه وغیره شوه یا مراد د موزون نه هغه شے دے چه مناسب وی د حکم د الله تعالی سره۔

ت۲۰:- په دے آیت کښ دوه صفتونه د قدرت ذکر دی۔ مَعَايِشَ، د دینه مراد اسباب د ژوند تیرولو دی۔

وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ، د دینه مراد څاروی او وحوش او طیور او اولاد او خدمتګاران دی چه قائلے ستاسو دی او روزی ورله الله تعالی ورکوی۔

ت۲۱:- په دے آیت کښ دوه صفتونه د قدرت ذکر دی او په دے آیت کښ دلیل دے چه خزانے د رزق وغیره الله تعالی د خپل حکمت مناسب تقسیموی او په هغه باندے څه اعتراض نشي کیدے۔

فائده:- دا آیت دلیل دے په دے خبره چه څوک عقیده لري چه اختیار د خزانو د الله تعالی نبي یا ولي له ورکړے شویدے نو هغه مشرک دے لکه چه جاهلان دا تا ګنج بخش په لاهور

لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ

پورته کوونکي د وريځو نو را اُورو مونږ د آسمان د طرف نه

مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ

اوبه پس څکوو تاسو ته هغه او نه یئ تاسو هغې لره

بِخٰزِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ

جمع کوونکي۔ او يقيناً مونږ ژوندۍ کوو

وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَلَقَدْ

او مړه کوو او مونږ يو باقي پاتے کيدونکي۔ او يقيناً

عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ

پيژنو مونږه مخکني ستاسو نه او يقيناً

کښې د علي هجويري په صفت کښې وائي۔

۲۲ تا ۲۳۔ په دے آيتونو کښې درے صفات د قدرت ذکر دي او په آخر کښې عجز د مخلوق ذکر کړے دے په دے لفظ سره وَمَآ اَنْتُمْ لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ۔

لَوَاقِحَ، په معنیٰ د حوامل دے يعني حوالګانے پورته کوی وريځے او اوبه اوخاورے دوړے وغيره او دا رنګ په اونو کښې پانړے ميوے پيدا کوی۔ په دے آيت کښې درے صفات د قدرت ذکر دي،

وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ، مراد د وارث نه آخري مالک دے او دا سے په سورة آل عمران ۱۸۰ او سورة مريم ۴۰، ۸۰ کښې ذکر دي۔

عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِيْنَ ۝۲۴ وَاِنَّ رَبَّكَ

پیژنو مونږ روستني خلق ۔ او یقینًا ستا رب

هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ۝۲۵ ع

هغه به جمع کړي دوی لره، یقینًا هغه حکمتونو والا دے پوهه دے په هر څیز

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ

او یقینًا پیدا کړیدی مونږ انسان د ټنګار کوونکي

مِنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ۝۲۶ وَالْجَاۗنَّ

د خټې زړے شوے نه۔ او پلار د پیریانو

۲۴ :۔ په دے آیت کښ صفت د علم د الله تعالی ذکر دے په طریقه د احاطے سره۔ او مستقدمین او مستاخرین عام او شامل الفاظ دی د دے لاندے داخل دی هغه خلق چه مخکښ تیر شوی دی، او هغه چه روستو دی یعني پیدا شوی نه دی، او دا رنګ هغه څوک چه مړه دی او هغه څوک چه اوس ژوندی دی، او دا رنګ مخکني امتونه او دا امت، او دا رنګ هغه څوک چه وړاندے دی، په خیر او طاعت کښ او هغه څوک چه وروسته پاتے دی په ګناه او په شر کښ، او دا رنګ مخکني صفونه د جهاد او وروستني صفونه د جهاد، او دا رنګ مخکني صفونه د مانځه او روستني صفونه د مانځه، او دا رنګ هغه څوک چه شهید شویدی په جهاد کښ او هغه څوک چه نه دی شهید شوی، او دا رنګ تیر شوے مخلوق او روستنے مخلوق، نو معلومه شوه چه د الله تعالی د علم نه هیڅ څیز بهر نه دے۔

۲۵ :۔ په دے آیت کښ یو صفت د قدرت ذکر دے او دوه اسماء حسنی ذکر دی۔

۲۶ :۔ دا هم عقلی دلیل دے په مخکښ باندے عطف دے او پدے آیت کښ هم یو صفت د قدرت دے چه هغه پیدا

خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾

پیدا کړے وو مونږ مخکښ (دَ آدم علیه السلام نه) دَ اُور نه چه ګرم باد والا دے۔

وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ

او کله چه اُوئیل ستا رب ملائیکو ته یقیناً زهٔ

خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ

پیدا کوونکے یم یو بشر لره دَ ټنګار کوونکے دَ

کول دَ آدم علیه السلام دی۔

صَلْصَالٍ، او چه خټه چه کله وی دَ شګو سره او ټنګار کوی خو په اُور سره نه وی پخه شوے او چه په اور پخه کړے شی نو هغے ته فخار وائی۔

او حَمَاٍ، هغه خټه ده چه ډیر وخت لونده پریخودے شی نو خمبیره شی او رنګ ئے بدل شی تور والی طرفته۔

مَّسْنُوْنٍ، هغه ده چه ډیر کلونه ورباندے تیر شی نو زړه شی۔

فائده:۔ ترتیب دَ پیدائش دَ آدم علیه السلام دا دے چه اول خاوره وه (تراب) بیا لونده کړے شوه نو خټه شوه (طین) څه وخت پریخودے شوه نو سلیخناکه (لازب) بیا څه وخت پریخودے شوه نو خمبیره شوه او رنګ ئے بدل شو نو (حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ)، شوه بیا بنهٔ او چه شوه چه ټنګار ئے کوو نو (صَلْصَالٍ) شو او آواز ئے مشابه وو دَ ټکری سره نو (کالفخار) شو۔

۲۷:۔ په یکښ هم یو صفت دَ قدرت ذکر دے چه هغه پیدائش دَ جان دے دَ هغه اُور نه چه هغے سره تیزه ګرمه سیلئ وه او لوګے ور سره نه وو۔

او وَالْجَآنَّ، کښ دوه قوله دی یو دا دے چه جان دَ جناتو پلار دے او مخکښ وو دَ ابلیس نه او ابلیس خو پلار دَ شیطانانو دے، دویم قول دا دے چه جان او ابلیس یو دے، اول قول غوره دے۔

حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿۲۸﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ

خټې زړې شوې نه ۔ نو هر کله چه برابر ئې کړم

وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا

او پو کړم په هغه کښې د روح خپل نه نو پریوځئ

السَّمُوْمِ، هغه هوا چه ګرمه وی او ورننوځی په مساماتو د بدن کښې۔

فائده :- هغه حدیث چه امام مسلم راوړے دے او دلالت کوی چه د آسمانونو او د زمکے په پیدائش پسے متصل آدم علیه السلام پیدا شوے دے هغه په ظاهره کښې د دے آیت نه خلاف دے د دے وجے نه محدثینو هغه رد کړے دے، او ابن کثیر په خپل تفسیر کښې دا تفصیل راوړے دے۔

۲۸ :- د دے آیت نه تر ۴۲ پورے واقعه د سجود د آدم علیه السلام ده او دا دریم کرت دے د دے واقعے د ذکر کولو په قرآن کریم کښې او لوے مقصد د دینه په دے سورت کښې تخویف دے منکرینو ته لکه چه ابلیس انکار کړے وُ د حکم د الله تعالیٰ نه د وجے د استکبار نه نو هغه له عذاب ورکړے شو په رجم سره او په لعنت سره تر ورځ د جزا پورے۔ نو دارنګ چه څوک انکار کوی د توحید د الله تعالیٰ نه په ضد وعناد او تکبر سره نو د هغه عاقبت هم عذاب دے او دا آیت صریح دلیل دے چه آدم علیه السلام بشر وُ نو اولاد د هغه هم بشر دے که انبیاء وی او که اولیاء وی او که عام انسانان وی۔

لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ

هغه ته سجده کوؤنکي . نو سجده اوکړه ملائکو

كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰٓى

ټولو په جمع سره . مګر ابليس ، انکار اوکړو

اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿٣١﴾ قَالَ

د دینه چه شي دے د سجده کوؤنکو سره . الله تعالیٰ اوفرمائیل

ف ٢٩ :- مِنْ رُّوْحِيْ ، روح نه مراد هغه شے دے چه په هغې سره په بدن کښ ژوند پیدا کیږي .او هغه مخلوق دے خو الله تعالیٰ ته ئې اضافت شوے دے د پاره د شرافت .

سٰجِدِيْنَ ، قرطبي وئيلی دی مراد د دینه سجده د سلام او د اکرام ده نه د عبادت .

ف ٣٠ ، ٣١ :- تفصیل د سجدے او د استثناء د ابلیس مخکښ سورة بقره او سورة اعراف کښ تیر شوے دے .

فائده :- سوال :- د سورة بقره د ترتیب نه معلومیږي چه امر د سجدے ملائکو ته پس د پیدائش د آدم علیه السلام او د استخلاف د هغه نه وو او د دے سورت د آیتونو نه معلومیږي چه حکم د سجدے ملائکو ته د آدم علیه السلام نه مخکښ وو دا په ظاهر کښ تعارض دے نو غوره جواب د دے دا دے چه د پیدائش د آدم علیه السلام نه مخکښ امر تعلیقاً کړے شوے وو او هر کله چه پیدا شو او خلیفه شو نو ملائکو ته امر د سجدے تنجیزاً اوکړے شو ؟

نو حاصل د جواب دا دے چه په دے سورت کښ د آیت ف ٢٩، ٣٠ په مینځ کښ کلام محذوف دے او هغه دا دے چه آدم علیه السلام پیدا کړے شو او خلیفه اوګرځوے شو او تعلیم د اسماؤ ورته اوکړے شو نو امر اوکړے شو ملائکو ته چه اسجدوا لآدم .

يَـٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ
اے ابلیسه څه عذر دے سنا چه نشوے دَ
ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ
سجده کوونکو سره. اُوئیل هغه زه نه یم چه سجده اوکړم
لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَـٰلٍ مِّنۡ حَمَإٍ
بشر ته چه تا جوړ کړے دے دَ ټنګار کوونکے دَ خټې
مَّسۡنُونٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا
زړے شوے نه. اوفرمائیل الله تعالیٰ نو اووځه دَ دے ځائے نه
فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيۡكَ
نو یقینًا ته رټلے شوے یئے. او یقینًا په تا باندے

۳۲ :- په دے آیت کښې اشاره ده چه ابلیس یوه ګناه دا کړے وه چه امر دَ الله تعالیٰ یئے او نه منلو هغه په لفظ ابیٰ سره ذکر شو او دویمه ګناه دا وه چه دَ جماعت دَ ملائکو نه یئے مخالفت اوکړو. مَا لَكَ ، څه عذر او دلیل دے سنا چه دَ ساجدینو ملائکو سره شریک نه شوے.

۳۳ :- په دے کښې صریح انکار ذکر کوی او دا جواب دَ ده په طریقه دَ حسد او دَ تکبر سره وو.

۳۴ ، ۳۵ :- دے آیتونو کښې عذاب دَ ابلیس ذکر دے. اول راویستل دَ هغه دَ جنت نه دَ جماعت دَ ملائکو او آسمانونو نه او دویم رجم دَ هغه چه مراد دَ هغے نه رټل او شړل دی دَ دربار دَ الله تعالیٰ نه یا دا چه ویشتلے کیږی به په شغلو دَ اُور سره ، او هم اولاد دَ ده. او دریم عذاب دَ لعنت دے تر ورځ دَ جزاء پورے او په ورځ دَ جزاء کښې بیا عذاب ابدی دے او دا رنګ ذکر دے په سورۃ صٓ ۷۷ او ۷۸ کښې.

لِلَّعۡنَةَ اِلٰى يَوۡمِ الدِّيۡنِ ﴿۳۵﴾ قَالَ

لعنت دے تر ورځ دَ جزاء پورے۔ اُوئیل هغه

رَبِّ فَاَنۡظِرۡنِىۡۤ اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ ﴿۳۶﴾

اے ربه نو مهلت راکړه ماله دَ ورځ دوباره پورته کیدو پورے۔

قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الۡمُنۡظَرِيۡنَ ﴿۳۷﴾

اوفرمائیل الله تعالیٰ نو بیقینًا ته دَ مهلت ورکړے شوؤ نه یې۔

اِلٰى يَوۡمِ الۡوَقۡتِ الۡمَعۡلُوۡمِ ﴿۳۸﴾

تر وخت مقرر پورے۔

قَالَ رَبِّ بِمَاۤ اَغۡوَيۡتَنِىۡ لَاُزَيِّنَنَّ

اُوئیل هغه اے ربه په دے وجه چه تا زه بے لارے کړم خامخا خائست به ښکاره کوؤم

لَهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ وَلَاُغۡوِيَنَّهُمۡ

دوی ته دَ دنیا په څیزونو کښ او ګمراه کوؤم به دوی

۳۶:۔ دا هم زیات جرم دَده دے چه توبه یې او نه کړه بلکه مهلت یې اوغوختلو دَپاره دَګمراه کولو دَ خلقو اِلٰى يَوۡمِ يُبۡعَثُوۡنَ، اراده دَ ابلیس دا وه چه په دے مهلت سره دَ مرګ نه بچ شم ځکه چه په ورځ دَ بعث او دَهغے نه روسته مرګ نشته۔

۳۷:۔ اَلۡمُنۡظَرِيۡنَ، هغه خلق دی چه ژوندی به وی دَاولے شپیلۍ په وخت کښ او بیا به فنا شی۔ نو معلومه شوه چه ابلیس به هم په دغه وخت فنا کیږی۔

۳۸:۔ دَ دینه ورځ دَ فنا کیدلو دَ ټولو خلقو مراد ده، نو اشاره شوه دیته چه ابلیس به هم هغه وخت کښ مرکیږی هغه وخت ته یې اَلۡمَعۡلُوۡمِ، ځکه اُوئیل چه دَ هغے حالات او صفات په قرآن او په حدیث کښ بیان شوی دی دا مراد

لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۳۹﴾

دوی ته د دنیا په څیزونو کښې او گمراه کوم به دوی ټولو لره.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿۴۰﴾

سِوا د بندګانو ستا د دوی نه چه بچ ساتلي شوې دي.

قَالَ هَٰذَا صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿۴۱﴾

او فرمائيل الله تعالى دا لاره ده په ما پاندې نيغه.

نه دے چه د هغې تاريخ مخلوق ته معلوم دے ځکه چه علم د هغې خاص دے په الله تعالى پورې.

۳۹ :- بِمَا أَغْوَيْتَنِي، باء، سببيه ده او مراد د اغواء نه گمراه كول دي يا حكم كول دي هغه ته په وتلو سره د جنت او آسمانونو نه فِي الْأَرْضِ، مراد د زمکې نه دنيا او د دنيا مالونه وغيره دي. مراد د تزيين في الارض نه مشغوله كول دي په محبت د دنيا سره په طريقه د وسوسو اچولو او مراد د اغواء د انسانانو نه خائسته كول د گناهونو او ترغيب وركول گناهونو ته دي په طريقه د وسوسې سره.

۴۰ :- په دے كښې اشاره ده چه نيكان بندګان د ابليس نه په بچ كيدلو كښې الله تعالى ته محتاج دي ځكه چه مخلصين ئې په صيغه د مفعول سره ذكر كړي دي.

فائده :- دا آيت دليل دے په عصمت د انبياؤ عليهم السلام د ټولو گناهونو نه ځكه كه انبياء عليهم السلام معصوم نه شي نو هغه نور خلق چه د دے آيت مصداق وي هغوى به غوره شي د انبياؤ نه او دا د اصولو د شرعې نه خلاف ده.

۴۱ :- په دے آيت كښې بو توجيه دا ده چه هٰذَا، اشاره ده عبديت د الله تعالى ته چه په لفظ د عِبَادَكَ، كښې ذكر شو، نو معنىٰ دا ده چه دا بندګي كول د الله تعالى نيغه لار ده چه زما په ذمه بيانول د هغې دي نو عَلَيَّ، سره تقدير د عبارت دے يعنى عَلَيَّ بَيَانُهُ وَهِدَايَتُهُ. او دويمه توجيه دا ده چه دا بندګي

إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ

یقینا بندګان زما نشته تا لره په دوی باندے

سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ (۴۲)

وس دګمراه کولو سوا د هغه چا نه چه تابعداری کوی ستا د سرکشانو نه.

د الله تعالیٰ نیغه لار ده زما طرف ته بنا په دے سره علی په معنیٰ د الی سره دے. او دریمه توجیه دا ده چه هذا کښې اشارة مضمون د آیت روستنی ته ده او په مخصلین کښې هغوی ته اشاره شوے ده. یعنی دغه فیصله ده مضبوطه زما په نیز باندے یعنی مُسْتَقِيمٌ، نه مراد عدل دے او علی په معنیٰ د واجب علی دے.

سـ۴۲ :- په وروسته توجیه سره د هٰذَا صِرَاطٌ، تمهید دے او په مخکنو توجیها تو سره دا علت دے د سـ۴۰ لپاره که څوک شبهه اوکړی چه په سورت ابراهیم آیت سـ۲۲ کښې معلومه شویده چه د شیطان په خپلو تابعدارو باندے هیڅ سلطان نشته او دا رنګ سورة سبا سـ۲۱ کښې اودے آیت نه معلومیږی چه د ده پخپلو تابعدارو باندے سلطان شته دے دا په ظاهر کښې تعارض دے، نو جواب دا دے چه دلته سلطان نه مراد اغواء او ګمراه کول دی په داسے طریقے چه توبه او نه باسی او دا سلطان د شیطان د پاره خاص دے د هغه په تابعدارو پورے. لکه چه په سورة النحل آیت سـ۱۰۰ کښې. او سورة ابراهیم کښې د سلطان نه مراد دلیل یا زور دے او دا استثناء منقطع ده الْغَاوِينَ، کښې اشارة ده غوایت د حکم د الله تعالیٰ نه سبب دے د پاره د تسلط د شیطان په هغوی باندے.

حجر ۱۵

وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿۴۳﴾

او یقیناً جهنم ځای مقرر شوی دے دوی ټولو لره۔

لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ ۖ لِكُلِّ بَابٍ

د هغې اووه دروازې دي، د هرې دروازې د پاره

مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿۴۴﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ ع ۳

د دوی نه برخه مقرر شوې ده۔ یقیناً متقیان خلق به

فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿۴۵﴾ ادْخُلُوهَا

په باغونو او چینو کښې وي۔ رو ویلے کیږي به ورننوځئ دیته

بِسَلَامٍ آمِنِينَ ﴿۴۶﴾ وَنَزَعْنَا مَا

په سلامتیا سره بے غمه به وي۔ او اوباسو به هغه چه د دوی

۴۳، ۴۴:۔ په دے آیتونو کښې تخویف اخروی دے تابعدارو د ابلیس ته۔

فائده:۔ هر کله چه د تابعدارو د ابلیس لوے ډلے اووه دي. ۱ عام ګنهګار د دے امت۔ ۲ نصارٰی ۳ یهود. ۴ صابئون ۵ مجوس ۶ مشرکان غیر کتابی ۷ او منافقین نو د دے د پاره یې ذکر کړه اووه ابواب د جهنم چه هغه دا دي۔ ۱ جهنم ۲ لظی ۳ حطمه ۴ سعیر ۵ سقر ۶ حجیم ۷ او هاویه۔

قرآن کریم کښې چه کوم سورت او آیت کښې د دیته یو طبقه ذکر شوې ده نو ور سره د هغې مناسب اهلِ معصیت هم ذکر دي هغوی ته مقسوم ویلے کیږي۔

۴۵ نه تر ۴۸:۔ په دے آیتونو کښې بشارت دے هغه چا ته چه ځان یې بچ کړے دے د تابعدارئ د ابلیس نه او په دے بشارت کښې لس امور ذکر دي۔

بِسَلَامٍ، سلامونه به وي د طرف د الله تعالى او ملائکو نه

فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ اِخْوَانًا
په سینو کښې څه خفګان وي رونړه به وي

عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۴۷﴾ لَا يَمَسُّهُمْ
[آرام به کوي] په تختونو باندې یو بل ته به مخامخ وي. نه به رسي دوې ته

فِيْهَا نَصَبٌ وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ ﴿۴۸﴾
په هغې کښې ستړې کیدل او نه به دوی د هغې نه ویستلې کیږي.

نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ
خبر کړه بندګان زما چه یقیناً زه .بخښنه کوونکے

الرَّحِيْمُ ﴿۴۹﴾ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ
رحم کوونکے یم. او یقیناً عذاب زما هغه

الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ ﴿۵۰﴾ وَنَبِّئْهُمْ
عذاب دردناک دے. او خبر کړه دوی

په دوی باندې په وخت د داخلیدلو کښې جنت ته اٰمِنِيْنَ، ټول عمر به په امن وي د هرې ویرې او ویستلو د جنت نه او د ختمیدلو د لذتونو نه او د فنا او مرګ نه.

غِلٍّ، د دېنه مراد هغه خفګان دے بے اختیاره چه پیدا کیږي په زړونو د انسانانو کښې د وجې د تفاوت د مرتبو نه.

نَصَبٌ، ستړے کیدل د وجې د محنت او مشقت نه که د عبادت د وجې نه وي یا د غیر عبادت د وجې نه وي.

۴۹، ۵۰: هر کله چه مخکښې تخویف او بشارت تیر شو نو په دے دوؤ آیتونو کښې تتمه د هغې ده په طریقه د لف نشر غیر مرتب سره او په دیکښې تنبیه ده چه ایمان به په مینځ د رجاء او د خوف کښې وي یعنی په اول آیت کښې رجاء

وقف لازم

عَنْ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۵۱﴾ اِذْ دَخَلُوْا

د میلمنو د ابراهیم علیه السلام نه - کله چه داخل شول

عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا قَالَ اِنَّا

هغه ته نو دوی اوئیل سلام دِ وی ، اُوئیل هغه ، یقینًا

مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا لَا تَوْجَلْ

موږ ستاسو نه یریدونکی یو - دوی اُوئیل مه ویریږه

ده او په دویم آیت کښ خوف دے -

۵۱ :- خلاصه :- د دے آیت نه تر آخر د سورت پورے دریم باب دے په دیکښ اول قصّه د میلمنو د ابراهیم علیه السلام ده چه تمهید دے د پاره د واقعے د لوط علیه السلام ، بیا ذکر دے د نزول د عذاب الٰهی په دریو قومونو تیر شوؤ باندے ، چه قوم د لوط علیه السلام او قوم د صالح علیه السلام او قوم د شعیب علیه وؤ - او دا درے ئے ځکه خاص کړه چه قوم د لوط علیه السلام او د شعیب علیه السلام د حجاز په لار کښ واقع وؤ او قوم د صالح علیه السلام هم دوی ته نزدے وؤ او بیا ذکر کړیدے عذاب د مقتسمینو په ۹۰ آیت کښ - او عذاب د مستهزئینو په ۹۵ کښ - او بیا ذکر کړے ده تسلّی د نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او تشجیع په تبلیغ باندے په بیان د لس ادابو سره - او اختتام د سورت په دعوت د توحید سره دے -

تفسیر :- د دے آیت ۵۱ نه تر آیت شپیته پورے واقعه د میلمنو د ابراهیم علیه السلام ده د دے ربط د ما قبل سره دا دے چه په واقعه د ابراهیم علیه السلام او راتلونکو قصّو کښ بشارت دے مؤمنانو ته د اهلاک د مجرمانو او تخویف دے مجرمانو ته نو اول د ۴۹ سره او دویم د ۵۰ سره متعلق شول ، او د دے قصّے په تقدیم کښ یو حکمت دا دے چه دغه میلمانه ملائک بیا راغلی وؤ د قوم د لوط علیه السلام

إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿٥٢﴾ قَالَ

یقیناً تاله زیرے درکوؤ په هلک پوهه سره. اُوئیل هغه

اَبَشَّرْتُمُوْنِیْ عَلٰۤی اَنْ مَّسَّنِیَ الْکِبَرُ

آیا زیرے راکوئ ماته سره ددے چه رسیدلے دے ماته بوډاوالے

ډ هلاکت دپاره او دویم حکمت دا دے چه په اهلاک ډ قوم لوط علیه السلام سره ابراهیم علیه السلام ته څه خفګان رسیدلو نو ډ هغے ډ زائل کولو لپاره ملائک اول هغه له راغلل او بشارت ئے ورکړو او په دے آیت کښ ډ ضیف (میلمنو) اطلاق په ملائکو باندے ډ دے وجے نه شوے دے چه ابراهیم علیه السلام په هغوی باندے ډ میلمنو ګمان کړے وو.

۵۲:- په دے آیت کښ اختصار کړے شوے دے ځکه چه جواب ډ سلام دلته نه دے ذکر کړے. هاں ذکر کړے شوے دے په سورة هود ۶۹ کښ او سورة ذاریات آیت ۲۵ کښ. دا رنګ په دے کښ نه دی ذکر کړی ډ ابراهیم علیه السلام پیش کول ډ طعام لره او ډ هغوی نه خوړل چه هغه سبب ډ خوف وو او هغه په سورة هود او سورة الذاریات کښ دی او په دے آیت کښ دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام په غیب باندے نه پوهیږی ځکه چه مقصد په دے کښ بشارت دے او هغه ئے ذکر کړے دے.

۵۳:- په دے آیت کښ ډ بِغُلٰمٍ، نه مراد اسحاق علیه السلام دے او عَلِیْمٍ، نه مراد خاوند ډ نبوت دے.

فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ﴿۵۴﴾ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ

نو په څه څیز ماله زیری راکوئ تاسو۔ دوی اُوئیل زیری درکړو مونږ تاله

بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿۵۵﴾

په یقینی څیز نو مه کیږه ته د ناامیدئ کوؤنکو نه۔

قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ

اُوئیل ده او ناامیدی نه کوی د رحمت

رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴿۵۶﴾ قَالَ

د رب نه مگر گمراهان۔ اُوئیل ده

ف ۵۴ :۔ دا تعجب دَ ابراهیم علیه السّلام په اعتبار د عام عادت سره دے نه دَ انکار دَ قدرت دَ الله تعالیٰ نه۔
فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ، په دےکښ استفهام حقیقی دے یعنی بشارت په څه طریقه دے یعنی بوډا والے به زائل کیږی او که په دے حال به وی۔

ف ۵۵ :۔ دَ حق نه مراد یقینی شے دے چه په هغے کښ څه شک نه وی او چونکه تعجب کول سبب دَ ناامیدئ دے ظاهرًا دَ دے وجے نه ملائکو اُوئیل فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ۔

ف ۵۶ :۔ یعنی تعجب دَ ابراهیم علیه السلام دَ وجے دَ ناامیدئ نه نه دے بلکه دَ وجے دَ ظاهری اسبابو نه دے او ناامیدی دَ الله تعالیٰ دَ رحمت نه په دے وجه گمراهی ده ځکه چه ناامیدی کوؤنکی دَ رحمت دَ الله تعالیٰ نه جاهل وی۔ او دَ قدرت دَ الله تعالیٰ نه منکر وی او دا رنګ ذکر دی په سورة یوسف آیت ۸۷ کښ۔

فائده ۱ :۔ سورة یوسف کښ یے دَ ایاس سره کفر ذکر کړیدے او په دے سورت کښ دَ قنوط سره ضلال ذکر کړے دے دَ دے حکمت دا دے چه ایاس دَ زړه ناامیدئ

فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۷﴾

نو کوم لوے کار دے ستاسو اے رالیږلے شوؤ (ملائکو).

قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ

اُوئیل دوی یقینًا مونږ رالیږلے شوی یو قوم

مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ اِنَّا

مجرم ته - سوا د کورنۍ د لوط علیه السلام نه ، یقینًا

لَمُنَجُّوْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ

بچ کوؤ دوی ټولو لره - مګر ښځه د ده

ته وائی او کفر هم فعل د زړه دے - او قنوط هغه ناامیدئ ته وائی چه د هغې اثر خفګان په مخ باندے ښکاریږی او ضلال هم په ظاهری ګمراهئ کښ استعمالیږی نو په الفاظو کښ د یو بل سره پوره مناسبت دے -

۵۷ :- هر کله چه ملائکو ابراهیم علیه السلام ته بشارت ورکړو په ولد سره نو حقیقت دا دے چه د دے بشارت د پاره یو ملک هم کافی وؤ لیکن چونکه ډیر ملائیک چه راغلی دی نو معلومیږی چه د دوی په ذمه غټ کار شته دے نو ابراهیم علیه السلام ځکه دا تپوس اوکړو ځکه چه خطب په غټه حادثه کښ استعمالیږی -

۵۸ ، ۵۹ ، ۶۰ :- پدے آیتونو کښ د ملائکو دوه مقصدونه ذکر کړے شویدی اول اهلاک د مجرمانو چه هغه صیحه او کانړی رالیږل دی او کلی د قوم لوط علیه السلام پورته کول او اولټه راغورځول ، دا ټول په ذریعه د دے ملائکو کړ بشوی وؤ - دویم مقصد د دوی بچ کول دی د لوط علیه السلام او د کورنئ د هغه بغیر د ښځے د هغه نه -

فائده :- ۱ :- که مشرکان دا شبه اوکړی چه ملائک نجات

قَدَّرْنَآ ۙ اِنَّهَا لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ۝۶۰ ع

مقرر کړي دي موږ چه يقيناً دا به د پاتې خلقو نه وي په عذاب کښې.

فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ۨالْمُرْسَلُوْنَ ۝۶۱

نو هر کله چه راغلل کورنۍ د لوط ته رالیږلې شوي.

قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ۝۶۲

اُوئیل دهٔ (لوط علیه السلام) يقيناً تاسو قوم يئ نا اشنا.

ورکولے شی د عذاب او د مصيبت نه تو انبياء او اولياء به هم ورکولے شی. جواب دا دے چه اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ، د اِنَّآ اَرْسِلْنَا، د لاندے داخل دے مطلب دا دے چه موږ قاصدان يو او دا پيغام د الله تعالیٰ دے چه اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ، ځکه رسول خپل کلام نشی ذکر کولے بلکه د مرسل پيغام به ذکر کوی او دليل پدے باندے لفظ د قدرنا دے ځکه چه تقدير د ملائکو په اختيار کښ نه دے.

نحوی فائده ع۲ :- پدے کلام کښ دوه استثناء دی. نو دويمه استثناء د اولے استثناء نه استثناء ده يعنی قوم مجرمان به هلاکيږی مگر آل لوط به بچ وی او آل لوط به ټول بچ کيږی مگر ښځه به ئے نه بچ کيږی لکه دا قول د يو تن " لَهٗ عَلَيَّ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ اِلَّا اَرْبَعَةٌ اِلَّا دِرْهَمًا " د فلانکی په ما باندے لس روپئ دی مگر څلور او په څلورو کښ يو کمه ده يعنی درے روپئ د لسو نه کمے دی نو دا استثناء من المستثنیٰ ده دا دوه استثنا ګانے د يو مستثنیٰ منه نه دی ځکه چه هغه جائز نه ده په عربيت کښ.

س۶۱، س۶۲، س۶۳، س۶۴ :- دا دليل دے چه لوط علیه السلام هم په غيب باندے علم نه لرلو.

بِمَا كَانُوْا فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ، د دينه مراد عذاب دے چه دوی د هغے په نزول کښ په ځان باندے شک کوؤ يا مراد د دينه مسئله د توحيد ده چه دوی په هغے کښ شک کوؤ او کلام کښ تقدير دے معنیٰ دا ده چه عقاب ما كانوا يمترون.

قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا

دوی اُوئیل بلکه راوړے دے موږ تاته هغه شے

فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ

چه دوی پکښ شک کوؤ۔ او راوړے دے موږ تاته یقینی خبر دَ

وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ

عذاب او یقینًا موږ رشتیا وایو۔ نو بوځه کورنۍ خپله

بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ

په یو ټکړه دَ شپے کښ او روستو ځه په دوی پسے

وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ

او نه دے ګوری شا ته ستاسو نه هیڅوک او دَرومۍ (لاړشئ) هغه ځائے ته

تُؤْمَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَقَضَيْنَا اِلَيْهِ ذٰلِكَ الْاَمْرَ

چه تاسو ته حکم کیں یشی۔ او فیصله اولیږله موږ دۀ ته دَ دے خبرے

او وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ، دَ الحق نه مراد رشتینی خبر دے یا عذاب مراد دے۔

وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ، دَ ډیر تاکید دَپاره دے۔

۶۵:۔ په دے کښ دَ نجات دَپاره خلور اصول ذکر شوی دی۔
۱ دَ شپے تلل ۲ دَ امیر او مشر دَ ټولو ملګرو نه روستو تلل. چه
دَ هغوی دَ حال نه خبر وی او چه څوک پاتے نشی۔ ۳ او دَ شا ته
کتلو نه منع کول ځکه چه په روستو کتلو سره مقصد ته په رسیدلو
کښ سستی پیدا کیږی۔ ۴ او هغه ځائے ته هجرت کول چه الله تعالی
دَ کوم ځائے امر کړے وی، او هغه زمکه دَ شام وه۔

أَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿۶۶﴾

چه جرړې د دې کسانو به پرې کړی شي په وخت د صبا کښې.

وَجَآءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿۶۷﴾

او راغلل د کلي والا خوشحالیدل.

قَالَ إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿۶۸﴾

اُوئیل لوط علیه السلام یقینًا دا میلمانه زما دي نو ما شرمنده کوئ مالره.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿۶۹﴾ قَالُوٓا

او ویره کوئ د الله تعالیٰ نه او ما مه رسوا کوئ. اُوئیل دوی

۶۶ :- په دَابِرَ، کښې اشاره ده چه عذاب به په دوی باندې احاطه کوي هیڅوک د هغې نه بچ کیدې نشي. او داسې ذکر په سورة انعام ۴۵ کښې د عامو قومونو په باره کښې ذکر شوې دې.

۶۷ :- په دې سورت کښې په دې قصّه کښې د ترتیب لحاظ نه دې کړې شوې ځکه چه د دې قوم راتلل په میلمنو پسې اول وُو او بیا د لوط علیه السلام د طرف نه د هغوی دفعه کول وو پس د هغې نه د ملائکو لوط علیه السلام ته خبر ورکول وُو او داسې ترتیب په سورة هود او سورة شعراء کښې ذکر دې تو د دې یوه وجه دا ده چه په دې واقعه کښې اول مقصد بشارت دې مؤمنانو ته نو هغه یې اول ذکر کړو او بیا دویم تخویف دې نو هغه یې روستو ذکر کړې دې. دویمه لفظي وجه ده هغه دا چه وَجَآءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ، حال دی د بصریانو په نیز په قد (پټ) سره او د کوفیانو په نیز بغیر د قد نه هم صحیح دې او واو هم په ترتیب باندې دلالت نه کوي نو معنیٰ دا ده چه حال دا دې چه راغلي وُو ښاروالا په دې میلمنو پسې په ناکاره اراده سره هرکله چه هغه میلمانه لوط علیه السلام ته راغلل.

۶۸، ۶۹ :- فَلَا تَفْضَحُونِ، فضیحت معنیٰ دا ده چه د میمنو په مخکښې مالره مه شرمنده کوئ ځکه چه د میلمنو بې عزتي د کوربه شرمول وي.

أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ

آیا ته نه یې منع کړے مونږ د تعلق ساتلو د خلقو نه ۔ وئیل هغه

هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿٧١﴾

دا زمونږ (ستاسو) زما لونړه دي که تاسو څه حاجت پوره کول غواړئ ۔

لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ

قسم دے ستا په ژوند یقیناً دوی په خپله نشه کښې دي

يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٢﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ

پریشانه ۔ پس اونیولو دوی لره بو هیبتناک آواز

وَلَا تُخْزُوْنِ، او خزی معنیٰ دا ده چه ما لره مه ذلیل کوئ ځکه د بو مشر خبره نه منل دا د هغه تذلیل او سپکول دي۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ، کښې مراد د الله تعالیٰ او د رسول خبره منل دي۔

ف: دا د هغه قوم ډیره بے انتها بے حیائی وه او مطلب یې دا دے چه مونږ ته د خلقو د میلمستیا نه منع کړے یئ یعنی دوی په هغه پابندی لګولے وه چه هیڅ میلمه به د ځان سره نه ساتی ۔ یا دا چه د خلقو په باره کښې د سفارش کولو نه مونږ ته منع کړے یئ ۔

ف: د دے تشریح په سورة هود کښې تیره شویده چه مراد د بنات نه زنانه د قوم دي چه پښان د لونړو د لوط علیه السلام دي ۔

ف: غوره قول په یکښې دا دے چه دا خطاب لوط علیه السلام ته دے او سلسله د کلام به نه منقطع کیږی یعنی د دومره نصیحت باوجود په دوی باندے ځکه اثر نه کیدلو چه دوی په خپله نشه او جهل کښې ړانده او نسکور دي ۔

لَعَمْرُكَ. لام د قسم د پاره دے او عَمر او عُمر بو شے دے لیکن د قسم په وخت کښې عین په زور سره استعمالیږی دا قسم د الله تعالیٰ دے او الله تعالیٰ لره جائز دي او اختیار دے چه په هر څیز باندے قسم کوی او قسم د الله تعالیٰ د پاره د تاکید او شهادت دے لکه په ابتداء

مُشْرِقِيْنَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا

په وخت د نمر خاته کښې. نو اوګرځولو موږ بره طرف د دغه کلو

سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً

لاندې طرف ته او راؤورول موږ په دوی باندې کا ڼړي

د تفسیر د سورة یٰسٓ کښې ذکر شوی دی. لیکن موږ مکلف یو په حکم د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم باندې او د رسول صلی الله علیه وسلّم صحیح حدیث دے چه څوک غیر د الله تعالیٰ نه په بل څه باندې قسم اوکړو نو یقیناً شرک ئې اوکړو. نو موږ د دے حکم نه خلاف نه شو کولے. د دے وجې نه د امام مالک رحمه الله نه قرطبي نقل کړې دی چه داسې مواضعو کښې لفظ د خالق مقدر مراد دے. او ابراهیم نخعي نه نقل دی چه داسې قسم کول بندګانو باندې منع دے او امام مالک نه نقل دی چه داسې قسمونه کمزوري خلق او زنانه کوی نارینه ئې نه کوی او د الله تعالیٰ په قول باندې قیاس نشي کیدلے.

فائده :- قسم د الله تعالیٰ په یو څیز باندې د تاکید او د شهادت په طور سره وی. داسې نه ده چه الله تعالیٰ د هغه څیز نه ویره کوی یا ترینه امید ساتي. الله تعالیٰ د دینه پاک دے دلته مراد دا دے چه اے نبي ستا دا ژوند د تکالیفو په دے قوم کښې ګواه دے چه دا قوم جاهلان او ړانده دی. او قسم د انسانانو په څه څیز باندے د دے وجې نه وی چه د هغه څیز نه ویره کوی یا ترینه امید د نفع ساتي او دا عقیده ساتل په الله تعالیٰ پورې خاص دی د دے وجې نه چه انسان د الله تعالیٰ نه سوا په بل څه باندې قسم اوکړي نو شرک اوکړي.

سَكْرَتِهِمْ، نه مراد ګمراهي د دوی ده.

يَعْمَهُوْنَ، غفلت دے د مقصد د ژوند نه او سرګرداني، پریشاني ده.

۷۳، ۷۴ :- په دے آیتونو کښې ذکر دے عذابونه په هغه قوم باندے

مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿۷۴﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

دَ پخو کانړو نه . یقیناً په دے واقعه کښې ډیر عبرتونه دی

لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ﴿۷۵﴾ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ

فکر کوونکو لره . او یقیناً دا کلی پراته دی په نېغه

مُّقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

لار باندے . یقیناً په دیکښې لوئے دلیل دے

ذکر کړے شوی دی۔

سوال :- په سورة هود کښې ذکر دی چه وخت دَ عذاب دَ دوی وخت دَ صبا دے ؟

جواب :- ابتداء دَ عذاب په وخت دَ صبا کښې ده او په وخت دَ نمر ختلو کښې دَ دوی معامله ختمه کړے شوه .

وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ ، واو دَ ترتیب دَ پاره نه دے نو باران دَ کانړو مخکښې وؤ او کلی الټه کول روستو وؤ او دا هم دَ قدرت دَ الله تعالٰی نه لرے نه ده چه الټه کړے شوؤ کلو دَ پاسه ئے دَ کانړو باران کړے وی او داسے په سورة هود کښې تیر شوی دی۔

۷۵:- لِلْمُتَوَسِّمِيْنَ ، هغه خلق وی چه ځیر ته نظر کوی په علامتونو سره او په هغے کښې فکر کوی ، چونکه په هغه علاقه کښې روستو دَ عذاب نه نشانات وؤ نو ځکه ئے متوسمین ذکر کړو او په فکر کولو سره عبرتونه ډیر حاصلیږی ځکه آیت ئے جمع ذکر کړو۔

۷۶:- لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ، نه هغه لار مراد ده چه دَ حجاز نه دَ بحر میت په لار شام (سوریا) ته رسیږی او دَ دے ذکر په سورة صافات ۱۳۶ کښې دے او ظاهر دا ده چه دا لار دَ غښتے (چه امام مبین) لارے نه جدا شوے ده دَ دے وجے نه دائے جدا ذکر کړه او بیائے دواړه په امام مبین کښې ذکر کړل۔

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۷﴾ وَإِنْ كَانَ أَصْحٰبُ

دپاره د ایمان والو. او یقیناً بنڼ

الْاَيْكَةِ لَظٰلِمِيْنَ ﴿۷۸﴾ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ

(جنګلي) والا وو د ظالمانو نه. نو بدله واخسته مونږ د دوی نه

وَإِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۹﴾ وَلَقَدْ

او یقیناً دا دواړه کلي په مشهوره لار باندې دي. او یقیناً

ع ۵

۷۷:- د مؤمنانو دپاره یو آیت هم کافي وی ځکه یې مفرد ذکرکړو مراد د آیت نه دلیل دے په نجات ورکولو مؤمنانو ته د عذاب نه.

۷۸:- دا دویمه نمونه د عذاب ده او دا قوم د شعیب علیه السلام وو او ایکه ګڼړو او ډیرو ونو ته وائي یعني بنڼ والا- غوره قول دا دے چه روستو د هلاکت د اهل مدین نه شعیب علیه السلام ایکه ته اولیږلے شو او په دوی باندے عذاب د یوم الظله راغلے دے چه په سورة شعراء کښ ذکر دے. او شعیب علیه السلام د دے قوم د جنس نه نهٔ وو بلکه د مدین والا د قوم نه وو د دے وجے نه د مدین سره لفظ د اخوهم ذکرکړے شوے دے او ایکه سره اخوهم نه دے ذکر کړے شوے لکه سورة شعراء ۱۸۶ نه تر ۱۸۹ پورے.

لَظٰلِمِيْنَ، د هغوی ظلمونه په سورة اعراف او هود او شعراء کښ ذکرکړی دی.

وَإِنْ كَانَ، إِنْ مخفف دے د مثقل نه په اصل کښ وَإِنَّهٗ دے.

۷۹:- وَإِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ، امام، نه مراد هغه لار ده چه ډیر خلق په هغے باندے تلل کوی یعني لویه لار. کلي د قوم لوط علیه السلام او د قوم شعیب علیه السلام د مکے والو په لویه لاره کښ واقع وو کله چه دوی به شام ته سفر کولو نو هغه به یې لیدل.

كَذَّبَ أَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۸۰﴾

دروغژن کړے وو حجر والو پیغمبرانو لره.

وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۸۱﴾

او ورکړے وو مونږ دوی ته معجزات نو وو دوی د هغے نه مخ ګرځوونکی.

وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا

او وو دوی چه کنستل به یې د غرونو نه کورونه

اٰمِنِيْنَ ﴿۸۲﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ﴿۸۳﴾

او بے غمه به اوسیدل. نو اونیول دوی لره چیغے په وخت د صبا کښے.

ف۸۰:- دا دریمه نمونه د عذاب ذکر کوی د قوم صالح علیه السّلام او اوس د هغوی مقام په مدائن صالح سره مشهور دے د مدینے او د تبوک په مینځ کښے واقع دے. حجر په ډیر معانو کښے استعمالیږی دلته مراد هغے نه مرکزی ښار د ثمودیانو دے.

وَلَقَدْ كَذَّبَ، په دے لفظ کښے سبب د عذاب ذکر دے.

الْمُرْسَلِيْنَ، تکذیب د یو رسول پشان د تکذیب د ټولو رسولانو دے.

ف۸۱:- اٰيٰتِنَا، آیات یې جمع راوړیدی ځکه چه په ناقه (اوښه) د صالح علیه السلام کښے ډیر آیات وو لکه د کټ نه راوتل، زر بچے پیدا کیدل، ډیرے اوبه څکل، ډیر پئ ورکول او غټ والے د بدن د هغے. یا دا چه سوا د اوښے نه نورے معجزے ورکړے شوے وے اګرچه مونږ ته نه دی بیان کړے شوے.

ف۸۲:- په یکښے د دوی دنیا پرستئ ته اشاره ده. اٰمِنِيْنَ، کښے اشاره ده چه د الله تعالیٰ د عذاب نه هیڅ یره په دوی کښے نه وه.

ف۸۳:- د صبا په وخت کښے مجرمان خلق غافل وی نو دغه وخت کښے ناګهانه عذاب راځی.

فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٤﴾

نو وانه روړ د دوی نه عذاب هغه عملونو چه دوی کول.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ

او نه دی پیدا کړی مونږ آسمانونه او زمکه

وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ

او د دے په مینځ کښ چه څه دی مګر حق بشکاره کولو دپاره، او یقینًا قیامت

لَأٓتِيَةٞۖ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ ﴿٨٥﴾

خامخا راتلونکے دے نو مخ اوګرځوه په ښه طریقه مخ ګرځول.

ف ۸۴:- مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ، نه مراد د هغوی پاخه مکانونه او قلعه ګانے دی یا اعمال شرکیه د هغوی عبادات او نذرونه د غیر الله وغیره او تکذیب د رسول او قتل د اوښے وغیره او دا رنګ په سورة هود ف ۱۰۱ او سورة احقاف ف ۲۶، ف ۲۸ کښ هم دی۔

ف ۸۵:- دا علت دے دپاره د عذاب د تیرو شوو قومونو یعنی الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه د عدل دپاره پیدا کړے دی او د عدل تقاضا دا ده چه مجرمانو او مشرکانو ته عذاب ورکړیشی او حق په معنیٰ د عدل سره دے او دا عذاب صرف په دنیا کښ نه دے بلکه په قیامت کښ هم دے ځکه ورپسے ئے اوفرمائیل وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَأٓتِيَةٞ، یا مراد د حق نه توحید دے یعنی دا موجودات ټول په توحید باندے دلیل دے نو ولے دا خلق انکار کوی۔

بیا د دے آیت نه لس آداب مبلغ دپاره بیانیږی، او دا تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته او ذکر د اول ادب دے۔ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ، صفح جمیل دیته وائی چه مخ اوګرځولے شی او براءت اوکړے شی خاص د الله تعالیٰ دپاره بغیر د دنیا د مقصدونو نه او دا سے په سورة مزمل آیت ف ۱۰ کښ هم دی او مراد د دینه دا دے چه معافی اوکړه د دوی نه په خپلو حقوقو کښ نو دا منسوخ نه دے او

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۶﴾

یقینا ستا رب هغه پیدا کوونکے دے پوهه دے په هر څه باندے.

وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ

او یقینا درکړی دی موږ تا ته اووه آیاتونه چه بیا بیا لوستلے کیږی

وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴿۸۷﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ

او قرآن لوے شان والا۔ اومه اوږدوه سترګے خپلے

مراد دَ دینه دا دے چه دَ مشرکینو نه براءت اوکړه او دا هر وخت فرض دی، دَ نسخ احتمال نه لري۔

۸۶:۔ دا دلیل دے دَ تیرے شوے جملے دَ پاره. وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ، ځکه چه خالقیت دَ الله تعالٰی هر څیز لره سره دَ علم نه په هر څیز باندے ښکاره دلیل دے چه الله تعالٰی دوباره ژوندی کول کولے شی۔

۸۷:۔ دا علت دے دَ فاصفح دَ پاره او دا رنګ دَ روستو (لاتمدن) دَ پاره. یعنی دَ قرآن والو دَ پاره لازم ده چه دَ مشرکینو هیڅ پرواه اونه ساتی۔

سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ، په یکښ غوره قول دا دے چه مراد دَ دینه سورة فاتحه ده ځکه دا په حدیث صحیح او مرفوع دَ بخاری دَ ابوسعید بن المعلی کښ راغلی دی. او مثانی ورته ځکه وائی چه سورة فاتحه په هر رکعت کښ دَ ټولو مونځونو نه بیا بیا لوستل کیږی. یا دا چه دَ دے مضمون په قرآن کښ مکرر شوی دے.

وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ، دَ دینه هم مراد سورة فاتحه ده او دا هم په صحیح حدیث کښ راغلی دی ځکه چه دا سورت مشتمل دے په ټولو مضامینو دَ قرآن پاک باندے۔

إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ
طرف دَ هغه مالونو ته چه مونږ ورے مزے ورکړیدی مختلفو قسمونو کافرانو ته دَ دوئیه
وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَٱخْفِضْ
او مه خفه کیږه په دوی باندے او ښکته کړه
جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ إِنِّىٓ
وزر خپل مؤمنانو ته - او اووایه بقیناً زهٔ
أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ أَنزَلْنَا
زهٔ ویره درکوونکے ښکاره یم - لکه څنګه چه مونږه عذاب نازل کړو

س۸۸ :- په دے آیت کښ ذکر دَ دریو ادابو دے دَ پاره دَ مبلغ اول دا چه دَ دنیا سامانونو ته او دنیا پرستو خلقو ته مه پسخیږه.
لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ ، نظر اوږدول کنایه ده دَ نظر دَ حرص او دَ پسخیدلو نه.
أَزْوَٰجًا ، هغه مالدارو خلقو ته وئیل کیږی چه دَ یو بل سره مشابه وی په مالدارئ کښ او دا رنګ په سورة طٰهٰ س۱۳۱ آیت کښ دی. او بل ادب (لَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ، دا دے که چرے دا مشرکان دنیا پرست ایمان نه راوړی نو په دوی باندے مه خفه کیږه او مراد دَ دینه داسے حزن او خفګان دے چه مشغوله کوی انسان لره دَ دعوت او دَ تبلیغ نه. او بل ادب دا دے (وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ) چه دَ ایمان والو سره نرمی او شفقت کوه او ځان ته ئے رانزدے کوه لکه څنګه چه مرغئ وزرے او غوړوی او خپل بچی دَ وزرو لاندے پټ کړی او داسے په سورة شعراء س۲۱۵ آیت کښ هم دی.
س۸۹ :- په دے آیت کښ ذکر دَ بل ادب دے. ٱلْمُبِينُ ، یعنی په انذار کولو کښ هیڅ تلبیس او حق پټول او دَ چا رعایت کول نشته

عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ﴿۹۰﴾ الَّذِيْنَ جَعَلُوا

په تقسیم کوونکو باندے۔ هغه کسان چه کړی دی ټوټے ټوټے

الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ ﴿۹۱﴾ فَوَرَبِّكَ

قرآن لره بوټی بوټی۔ نو قسم دے په رب ستا

لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۲﴾ عَمَّا كَانُوْا

خامخا به تپوس اوکړو د دے ټولو نه۔ د هغه عملونو

سنو :- په دے آیت کښ د تخویف دنیوی یو مثال دے چه په مکے والو کښ واقع وو۔ او معنیٰ د آیت دا ده چه ډیره درکوم د عذاب نه چه په شانته د هغے عذاب به وی چه نازل کړے وو مونږ په مقتسمین باندے۔
په یکښ غوره قول دا دے چه دا شپاړس کسان وو او ولید بن مغیره مقرر کړی وو په وخت د موسم د حج کښ او تقسیم کړے وے دوی لارے د مکے او خلق ئے منع کول د رسول الله نه نو الله تعالیٰ په دوی عذاب را اولیږو۔ او مقتسمین ورته ځکه وائی چه دوی تقسیم کړے وے لارے د مکے یا دا چه دوی قسمونه کړی وو په مقابله کولو د نبی صلی الله علیه وسلم کښ۔
سا۹۱ :- ټوټو کړے کول د قرآن دا دی چه ایمان لری په هغے باندے چه کوم د دوی د تقاضا موافق وی او انکار کوی د باقی نه یا د ټوټو کړے کولو دا مطلب دا دے چه دوی مختلف فتوے کولے په باره د قرآن کښ کله به ئے اوئیل چه دا دروغ دی او کله به ئے وئیل چه دا سحر دے او کله به ئے اوئیل چه دا شعر دے او کله به ئے وئیل چه دا کهانت دے۔
سا۹۲، سا۹۳ :- په یکښ صحیح قول دا دے چه تپوس کول په ورځ د قیامت عام دے د امتونو نه او د انبیاؤ او د اقوالو او اعمالو ټولو په باره کښ به پوختنه، تپوس وی په دلیل د سورة اعراف سا۶ آیت باندے۔
فائده عا :- که اعتراض اوکړے شی چه سورة قصص آیت سا۷۸

يَعۡمَلُوۡنَ ﴿٩٣﴾ فَاصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ

چه دوی کول - نو صفا صفا بیان کړه هغه چه تا ته حکم کړے شوے دے

او سورة الرحمٰن آیت ۳۹ کښ عدم دَ سوال ذکر شوے دے نو دا تعارض دے ظاهرًا؟

جواب :- په څلورو طریقو سره دے۔

اَوّله طریقه دا ده چه یو نفس عمل کول او نه کول دی او دویم باعث دَ عمل کولو او طریقه دَ عمل کولو ده نو دَ اول تپوس نشی کیږے او دَ دویم تپوس به کیږیشی په لحاظ او کیفیت سره۔

دویمه طریقه دا ده چه تپوس په دوه قسمه دے. یو دَ پاره دَ خبر حاصلولو او دویم دَ پاره دَ زورنے ورکولو نو دَ اول قسم تپوس نشی کیږے او دَ دویم قسم به کیږیشی.

دریمه طریقه دا ده چه په قیامت کښ مختلف ځایونه دی نو په بعضو ځایونو کښ تپوس کیږیشی او په بعضو ځایونو کښ نشی کیږے او دا جوابونه خازن ذکر کړیدی -

څلورمه طریقه دا ده چه په سورة القصص او سورة الرحمٰن کښ مراد دا دے چه په باره دَ ګناه دَ یوتن کښ دَ بل کس نه تپوس نشی کیږے او په دے سورت کښ مقصد دا دے چه دَ هر چا نه دَ خپل عمل تپوس کیږیشی -

فائده ۲ :- تپوس کول عام دی دَ حساب کولو نه ځکه چه حساب دَ بعضے کسانو سره نه کیږی بے حسابه به جنت ته داخلیږی او تپوس دَ هر چا نه کیږے شی -

فائده ۳ :- دلته ئے یعملون ذکر کړیدے دیکښ اشاره ده دے خبرے ته چه صرف قول نه اعتبار نشته بلکه اعتبار عمل کولو ته دے اګرچه دَ قول په باره کښ به هم سوال کیږیشی.

وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۴﴾ اِنَّا

او مخ اوګرځوه د مشرکانو نه ـ یقیناً

كَفَيْنٰكَ الْمُسْتَهْزِءِيْنَ ﴿۹۵﴾ الَّذِيْنَ

کافي یو مونږ تا لره په مقابله د ټوقو کوونکو کښې ـ هغه کسان

يَجْعَلُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ ۚ

چه جوړوي د الله تعالیٰ سره بل مددګار

فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَلَقَدْ نَعْلَمُ

نو زر ده چه دوی به پوهه شي ـ او یقیناً پوهیږو مونږ

۹۴:- په دې کښې دوه آداب ذکر دي د اول (قاصدع) یو مطلب دا دے چه ښه ښکاره کړه هغه مسئلے چه امر شوی دے تا ته د تبلیغ د هغې او دویمه معنیٰ دا ده چه اوچوه زړونه د مشرکانو په بیان د مسئلے توحید او دریمه معنیٰ دا ده چه ټس ټس کړه دله د مشرکانو په بیان د توحید سره ـ او د دویم ادب (واعرض عن المشرکین) مقصد دا دے چه د مشرکانو د ټوقو او مسخرو او د هغوی د مقابلے کولو څه پرواه مه لره ـ

۹۵:- په دے آیت کښې تسلي ده نبي صلی الله علیه وسلم ته او د تخویف دنیوی بله نمونه ده یعنی اَلْمُسْتَهْزِءِيْنَ ، پنځه کسان وو د سردارانو د مکے والو نه او دوی هلاک کړے شو په ورځ د بدر یا هلاک کړے شوی دی جدا جدا لکه چه خازن د هغې تفصیل ذکر کړے دے ـ

۹۶:- دا اشاره وه سبب د استهزاء ته یعنی دوی شرک کوؤ په الوهیت کښې نو په دے وجه ئې استهزاء کوله په نبي صلی الله علیه وسلم پورے ـ

أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾

يقيناً ته چه ؛ تنګيږی سينه ستا په هغه خبرو چه دوی وائی.

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ

نو تسبيح وايه سره دَ ستائينې دَ رب ستا نه او هميشه يه

مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَاعْبُدْ

دَ سجده کوونکو نه. او بندګی کوه

۹۷: په دے آيت کښ تسلّی ده نبی صلی الله عليه وسلم ته او تنګوالے دَ زړه طبعًا او بے اختيارہ دے.

۹۸، ۹۹: په دے آيتونو کښ بيان دَ علاج دے په وخت دَ تنګوالی دَ زړه کښ او په دے کښ بيان دَ دريو آدابو دے او دا رنګ دا دعوه دَ توحيد ده په اختتام دَ سورت کښ.

اَلْيَقِيْنُ، مراد دَ دينه مرګ دے لکه سورة مدثر آيت ۴۷ کښ او دا رنګ په حديث دَ عثمان بن مظعون رضی الله عنه کښ چه ذکر دی (فقد جاءه اليقين) او دا امام بخاری رحمه الله راوړيدے او مرګ ته يقين ځکه وئيلے کيږی چه راتلل دَ مرګ په هر نفس باندے اتفاقی مسئله ده.

فائده :- ملحدينو متصوفو دَ يقين نه معرفت دَ الله تعالی اراده کړے دے نو په دے آيت سره ئے دليل نيولے دے چه هر کله يو انسان په عبادت کولو سره معرفت ته اورسيږی نو دَ هغه نه تکليف شرعی ساقط شی، او عبادت کول ورته معاف شی او دَ هغه ګناه ته ګناه نه وئيل کيږی، ليکن دا کفر او ضلال او جهل دے په يو څو وجوهو سره.

اوله وجه:- انبياء عليهم السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم ښه معرفت والا وُو او حال دا دے چه هغوی عبادات ترمرګه پورے نه دی پريخودی.

دويمه وجه:- دَ يقين نه وړاندے مرتبه دَ شک وی او په حال

رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ﴿٩٩﴾ ع

دَ رب خپل تر دے پورے چه راشي په تا باندے مرګ ۔

دَشک کښ هيڅ عبادت کول جائز نه وي ځکه چه بناء دَ عباداتو په نيت باندے ده او نيت او شک يو بل سره منافي دي۔

دريمه وجه :- په دليل دَ قرآن او حديث صحيح او دَ اقوالو دَ سلفو سره ثابته ده چه مراد دَ يقين نه په دے آيت کښ مرګ دے او هغه تفسير چه دَ حديث او دَ اقوالو دَ سلفو نه مخالف وي نو هغه تحريف وي او تحريف په قرآن کښ کفر دے ۔ ابن کثير او آلوسي په دوی باندے دَ دے آيت په تفسير کښ پوره رد کړيدے ۔

ختم شو تفسير دَ سورة حجر

| سورة النحل مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰياتها ۱۲۸ رکوعاتها ۱۶ |
|---|---|---|

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښ چه رحمٰن او رحیم دے

اَتٰۤى اَمْرُ اللّٰهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ؕ

را اورسیدو حکم د الله تعالیٰ نو تلوار ورباندے مهٔ کوئ ،

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سورة النحل

ربط :۔ ربط د دے سورت د سورة حجر سره دا دے چه په هغه سورت کښ تخویف وؤ منکرینو د توحید ته نو په دے سورت کښ رد دے په عذر باطل د مشرکانو او دا رنګ په هغه سورت کښ تخویف وؤ په عذاب سره نو په دے سورت کښ د هغه عذاب سبب ذکر کوی۔

دعوٰی :۔ دعوٰی د دے سورت رد دے په استدلال د مشرکینو د پاره د جواز د شرک په مشیت د الله تعالیٰ سره چه ذکر شوے دے په آیت ۳۵ کښ او رد دے په هغے باندے په لسو طریقو سره۔

اوله طریقه :۔ شپږ ویشت ۲۶ عقلی دلیلونه چه تقسیمیږی څلور قسمونو ته ، اول قسم دیارلس ۱۳ عقلی دلیلونه چه په هغے کښ پیدائش د لوے لوے څیزونو ذکر دے ۔ دویم قسم درے عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ ذکر شوے دے انقیاد د ټولو مخلوقاتو الله تعالیٰ ته ۔ دریم قسم شپږ عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ ذکر شوے دے پیدائش د منافع د څیزونو ۔ او څلورم قسم عقلی دلیلونه څلور دی چه په هغے کښ تذکیر د لویو نعمتونو دے ۔

دویمه طریقه :۔ رد دے د شرک په ټولو اقسامو یعنی شرک فی العلم شرک فی التصرف او شرک فی الدعاء او شرک فی العبادة او شرک فی تحلیل او تحریم کښ ۔

دریمه طریقه :۔ رد دے په شرک باندے په دلیل نقلی اجمالی سره د ټولو انبیاؤ نه په آیت ۳۶ کښ او د ابراهیم علیه السلام نه په آیت

# سُبۡحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ①

پاک دے الله تعالیٰ او اوچت دے د هغې نه چه دوی ورسره شریک جوړوی

سا ۱۲۰ کښې۔
څلورمه طریقه :- رد دے په مشرکینو په ذکر د دریو مثالونو سره۔
پنځمه طریقه :- ذکر د نزول د عذاب دے په مشرکینو باندې په
آیت سا ۱۱۲ کښې۔
شپږمه طریقه :- ترغیب دے پوره کولو د عهد د الله تعالیٰ ته چه
هغه توحید دے او ویره ورکول دی د نقض عهد نه۔
اوومه طریقه :- رد د شرک دے په دلیل وحی سره په آیت سا ۵۱
کښې۔
اتمه طریقه :- ذکر د دعوې د توحید دے په مختلفو تعبیراتو سره۔
نهمه طریقه :- ذکر د یولس اسماء حسنیٰ دے چه خاص دی په الله
تعالیٰ پورې۔
لسمه طریقه :- انکار د شرکاؤ د دوی دے د شرک د دوی نه په
ورځ د قیامت په آیت سا ۸۶ کښې۔
خلاصه :- د دے سورت خلاصه دا ده چه دا سورت تقسیم دے
اووه بابونو ته۔ اول باب تر سا ۳۴ آیت پورې دے په دے باب
کښې اول دعوې د توحید ده بیا دیارلس عقلي دلیلونه دي چه په
هغې کښې ذکر شوې دے پیدائش د دیرش غټو غټو څیزونو د
آیت سا ۳ نه تر شپاړسم سا ۱۶ پورې۔ بیا رد دے په شرک فی التصرف
او فی العلم او فی الدعاء باندې سره د دعوې د توحید نه تفریعًا
د سا ۱۷ نه تر سا ۲۲ پورې، بیا زجر دے په انکار د قرآن سره په سا ۲۴
آیت کښې۔ او تخویف اخروی دے په سا ۲۵ کښې، او دا رنګ په سا ۲۷
سا ۲۸، سا ۲۹ کښې۔ او تخویف دنیوی دے په سا ۲۶ کښې، او دا رنګ په
سا ۳۳، سا ۳۴ کښې او بشارت دے په سا ۳۰، سا ۳۱، سا ۳۲ کښې۔
تفسیر: سا ۱ :- د اَمۡرُ اللّٰهِ، نه مراد عذاب د دنیا دے په سبب
د شرک سره یا قیامت دے، یا مراد د دینه مسئله د توحید د
الله تعالیٰ ده چه په روستو جمله کښې ذکر ده یا مراد د دینه قرآن

يُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ بِالرُّوْحِ مِنْ اَمْرِهٖ

نازلوی الله تعالیٰ ملائک په روح سره د وجې د حکم خپل نه

عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ

په هغه چا بانده چه اوغواړی د بندګانو خپلو نه چه

اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا

ویره ورکړی په بیان د دے خبرے چه نیشته حقدار د بندګئ سوا زما نه

فَاتَّقُوْنِ ﴿۲﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

نو زما نه ویریږئ . پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه

دے او بناء په آخری دوه تفسیرونو بانده معنیٰ د فَلَا تَسْتَعْجِلُوْهُ ، داده چه جلدی مه کوئ په انکار د دے مسئلے او د قرآن کښ . بلکه فکر اوکړئ په مضامینو د دے سورت کښ بناء په اوله توجیه بانده ده .

سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ، ذکر د توحید دے د پاره د امن د عذاب د الله تعالیٰ نه .

۲ :- دا دلیل وحی دے . بِالرُّوْحِ ، د روح نه مراد وحی ده او بیان د مسئلے د توحید دے ، په دیکښ اشاره ده چه مسئله د توحید د الله تعالیٰ د طرف نه په واسطه د ملائیکو رالیږلے شوے ده او د دے تبلیغ فرض کړے شوے دے په هغه دلیلونو سره او په هغه طریقه سره چه په دے سورت کښ الله تعالیٰ ذکر کړیده .

اَنْ اَنْذِرُوْٓا ، بدل اشتمال دے د الروح نه او اَنَّهٗ ، (دویم) تفسیر د انذار دے .

بِالْحَقِّ ۭ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ③

دپاره دحق ښکاره کولو، اوچت دے دَ هغې نه چه دوی ورله شریک جوړ وی۔

خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا

پیدا کړیدے انسان لره دَ نطفې نه نو دغه

هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ④ وَالْاَنْعَامَ

کس مقابله کوونکے ښکاره دے۔ او څاروی

خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ

پیدا کړیدی الله تعالی ستاسو دپاره په هغو کښې سامان دے دَ ګرمیدو

وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ⑤ وَلَكُمْ فِيْهَا

او فائدے دی او دَ هغې نه تاسو خورئ۔ او تاسو لره په هغې کښې

۳ :- دا دلیل اول دے۔ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ، دَ الحق نه مراد اظهار دَ توحید دے یا مراد دَ دینه حکمت دے۔ تَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ، په اول آیت کښې دَ عذاب ذکر ووُچه په یو وجے سره نقصان دے او په دویمے وجے سره اظهار دَ قدرت دَ الله تعالی دے نو سبحانه ئې په مناسبت دَ اول او تعالی ئې په مناسبت دَ دویم سره ذکر کړو او په دے کښې صرف صفت دَ خلق دَ دنیا ذکر کړے دے چه دلالت کوی په علو دَ الله تعالی باندے۔

۴ :- دا دویم دلیل دے سره دَ زجر نه او هم دا رنګ ذکر شوے دے په سورة یٰسٓ ۷۷ کښې۔ لیکن هلته خصوصیت په باره دَ انکار دَ قیامت کښې دے او دلته خصوصیت په انکار دَ توحید سره دے۔

۵ :- هر کله چه ذکر شو پیدائش دَ مکان او دَ مکین، نو اوس ذکر کوی پیدائش دَ هغې څیزونو چه انسان هغې ته په ژوند تیرولو کښې محتاج دے او دا دریم عقلی دلیل دے۔

جَمَالٌ حِيْنَ تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ

خائست دے کوم وخت چه واپس راولئ او کله چه صبا وخت یے

تَسْرَحُوْنَ ﴿٦﴾ وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ

صحرا ته بوځئ۔ او پورته کوی بوجونه ستاسو

اِلٰى بَلَدٍ لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا

داسے ښارونو ته چه نه یئ تاسو رسیدونکی هغے ته مگر

بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ۭ اِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوْفٌ

په تکلیف د نفسونو سره، یقینًا ستاسو رب ډیر شفقت کوونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٧﴾ وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ

رحم کوونکے دے۔ او (پیدا کړیدی) اسونه او خچرے او خره

دِفْءٌ، نه مراد هغه څیزونه دی چه د هغے په اغوستلو سره گرمائش حاصلیږی او سړزی (ریخنی) پرے دفع کیږی چه هغه جوړیږی د وړئ او د پشم او د ویختو نه۔ او منافع کښ اشاره ده د پیوُ او غوښو او بچو وغیره ته۔

۶:۔ دا څلورم عقلی دلیل دے او مراد د دے دا دے چه تاسو کله څاروی صحرا ته بوځئ او کله یے واپس راولئ نو خائسته ښکاری او هر کله چه واپس راوستل کیږی نو ماړه شوی په خوراک او ښکاک نو خائست پکښ ډیروی نو د دے وجے نه تُرِيْحُوْنَ، یے مخکښ ذکر کړے دے۔

۷:۔ دا پنځم عقلی دلیل دے او په دے آیت کښ ذکر د بارونو اوړلو دے په څاروؤ باندے د پاره د دفع د مشقت د انسان نه نو د دے وجے نه د آیت اختتام یے اوکړو په لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ، سره۔ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ، یعنی په غیر د بار اوړلو نه هم تاسو پیاده هغه ملک ته نشے رسیدلے مگر په ډیر تکلیف او مشقت سره۔

لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً ؕ وَيَخْلُقُ مَا لَا

دَ پاره دَدې چه په هغې باندې سورلی اوکړئ او دَپاره دَ ښکلا، او پیدا کوي هغه څه چه تاسو

تَعْلَمُوْنَ ﴿۸﴾ وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ

پېژنئ۔ او دَ الله تعالیٰ په ذمه باندې (بیان کول) دَ سمې لارې دی

وَمِنْهَا جَآئِرٌ ؕ وَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ

او بعضې لارې کږې دي، او که الله تعالیٰ غوښتلې خامخا هدایت به یې تاسو

ع اَجْمَعِيْنَ ﴿۹﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

ټولو ته کړې وې۔ خاص الله تعالیٰ دا سې ذات دې چه رالېږلی

ف ۸:۔ دا شپږم دلیل دې او په یکښې دریې اقسام دَ حیواناتو او دوه فائدې لوې ذکر شوې دي یو سورلی کول او دویم زینت کول، دا دلیل دې په دې باندې چه زینت جوړول دَ دنیا په څیزونو سره دَ حدود شرعیو دَ لاندې جائز دې نو په دې کښې خوراک نه دې ذکر کړې ځکه چه دَ خر او خچر خوړل بالاتفاق حرام دي۔ او هرچه آسونه دي نو دَ وجې دَ اختلاف دَ احادیثو نه دَ هغې په باره کښې دَ اهل علمو اختلاف دې او راجح دا ده چه حلال دي۔
وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ، کښې اشاره ده هغه حشراتو او ژندو سرو ته چه په اوچه او دریابونو کښې دي او ټول مخلوق هغې لره نه پېژنی نو په یکښې دلیل دې په نفي دَ علم کلي سره دَ تمام مخلوق نه۔
لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً، هر کله چه رکوب کله کله وي او زینت همیشه وي دَ دې وجې نه اول یې په صیغه دَ فعل سره او دویم یې مصدر ذکر کړو۔
ف ۹:۔ په دې آیت کښې تنبیه ده په فائده دَ دلیلونو باندې چه هغه بیانول دَ حق لارې دي خو بیا هم اشاره ده چه هدایت په مشیت دَ الله تعالیٰ سره دې نه په دلیلونو کښې فقط۔
وَمِنْهَا جَآئِرٌ، دَ دې یو معنیٰ دا ده چه بعضې لارې کږې دي دَ

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ

دَ بره طرف نه اوبه تاسو له دَ هغې څښل دي

وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ⑩

او دَ هغې نه پيدا كيږي ونې چه په هغې كښې تاسو سروئ (څاروؤ لره).

يُنْۢبِتُ لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ

راټوكوي تاسو لره په هغې سره فصل او خونان

وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ وَمِنْ كُلِّ

او كجورې او انګور او دَ هر قسم

الثَّمَرٰتِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ

ميوؤ نه ، يقيناً په دې كښې دليل دَ توحيد دے هغه قوم لره

يَّتَفَكَّرُوْنَ ⑪ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ

چه فكر كوي. او تابع كړيدي (په حكم خپل) تاسو لره شپه

حق دين نه په معنىٰ دَ بعض دے او جائر صفت دے دَ طريق پټ دَ پاره او دويمه معنىٰ داده چه بعضے خلق كاږه روان دي دَ لارے دَ حق نه. نو مبتداء پټه ده دَ قوم جائر منها.

نمبر ۱ :- دا اووم دليل دے او دے آيت كښې اشاره ده چه دَ باران اوبه دَ څښكلو دَ پاره اكثر استعماليږي لكه سورة فرقان آيت ۴۸، ۴۹ او بعضے خلق اوبه دَ زمكے (ماء البحر) پس دَ صفا كولو نه استعمالوي.

نمبر ۲ :- دا اتم دليل دے په دې كښې څلور اقسام دَ نباتاتو تفصيلاً ذكر دي او نور اجمالاً ، زرع كښې غذاء ده او په زيتون كښې تيل دي او په نخيل كښې تفكهه او غذاء دواړه دي او په اعناب كښې علاج او تفكهه ده او په ټولو كښې بے شماره منافع دي نو دَ دے وجے نه دَ دے دَ پاره ئے تفكر كول ضروري كړي دي.

لَاٰيَةً ، مفرد په معنىٰ دَ جمع سره يعني ډير آيات دي او هر كله چه

وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمُ

او ورځ او نمر او سپوږمۍ، او ستوري

مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمْرِهٖ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

تابع کړے شویدي د حکم د هغه، یقیناً په دے کښ

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿١٢﴾ وَمَا

دلیلونه دي هغه قوم لره چه د عقل نه کار اخلي۔ (او پیدا کړیدي) هغه شے چه

ذَرَاَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُخْتَلِفًا

خواره کړیدي په زمکه کښ مختلف دي

اَلْوَانُهٗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ

رنګونه د هغے، یقیناً په دیکښ شته دلیل هغه قوم لره

فائدے د دے یو قسم ته راجع دی یعنی اکل او شرب نو مفرد ئے ذکر کړو۔

سخر:۔ دا نهم دلیل دے او معنیٰ د تسخیر دا ده چه الله تعالیٰ دا څیزونه د خپل امر تابع کړیدي د انسان د فائدو د پاره او تسخیر د ستورو ئے جدا ذکر کړو ځکه چه د دے په فائدو عام خلق نه پوهیږي۔

لَاٰيٰتٍ، هر کله چه فائدے د دے جدا جدا اقسام دی د دے وجه نه جمع ئے ذکر کړله او فائدے د دے په عقل سره معلومیږي فکر (چه عمیق عقل چلول دی) ته حاجت نه لري د دے وجه نه یعقلون ئے ذکر کړو۔

يَذَّكَّرُونَ ⑬ وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ
چه نصيحت قبلوي . او الله تعالیٰ دا هغه ذات دے چه تابع کړې يې

الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا
دریاب (د حکم خپل) د دے د پاره چه خورئ د هغې نه غوښه تازه

وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا
او را اوباسئ د هغې نه کالی چه اغوندئ هغه

وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ
او وینې ته کشتئ او به شلوونکې په هغې کښ

وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ
او د پاره د دے چه طلب کړے فضل د هغه او د دے د پاره

تَشْكُرُونَ ⑭ وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ
چه شکر اوکړئ . او اچولې دی په زمکه کښ

۱۳ :- دا لسم دلیل دے او دا عطف دے په اللیل باندے تیر شوی آیت کښ او تفصیل د دے آیت په سورۃ فاطر آیت ۲۷ ، ۲۸ کښ دے هر کله چه اختلاف د رنګونو امر واحد دے د دے وج نه لَاٰيَةً ، ئے مفرد ذکر کړو .

۱۴ :- دا یوولسم دلیل دے هر کله چه مخکښ آیتونو کښ د اوچې منافع ئے ذکر کړل نو پدے آیت کښ منافع د بحر ذکر کوی او هغه ئے پنځه ذکر کړی دی او تسخیر د بحر دا دے چه الله تعالیٰ انسان له قدرت ورکړے دے چه څوک په بحر کښ لامبو وهی او څوک پکښ په کشتو کښ ګرځی او فائدے تری اخلی ، مراد د حِلْيَةً ، نه لولو او مرجان دی لکه سورۃ رحمن آیت ۲۲ کښ چه ذکر دی دا رنګ په دریاب کښ کنجکے صدفونه وغیره شته چه د هغې نه امیلونه جوړیږی .

رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهٰرًا

(او ئې کېښودل) پاخه غرونه دَ پاره دَ دې چه او نه خوزېږي ګړوړه په تاسو باندې او سيندونه

وَّسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵﴾

او لارې دَ دې دَ پاره چه تاسو هدايت او مومئ.

وَعَلٰمٰتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۶﴾

(او پيدا کړې دي) نخښې او په ستوري سره دوی لار مومي.

أَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ۚ

آيا نو هغه څوک چه پيدائش کوي پشان دَ هغه کس دې چه نشي پيدائش کولې،

سـ۱۵:- دا دولسم دليل دې أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ، مراد دَ دينه دادې چه دا زمکه ګړه وړه او نه خوزيږي ځکه چه بيا دَ هغې دَ پاسه ژوند نه تيريږي ځکه چه ميد په لغت دَ عربو کښ ګړه وړه حرکت ته وائي په دې کښ لفظ مخافةً په نيز دَ بصريانو او لفظ دَ لئلا په نيز دَ کوفيانو پټ مراد دې.

او لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ، دَ سُبُل سره تعلق لري يا دَ درې واړو سره متعلق دې ځکه چه دَ غرونو او نهرونو په سبب هم ملکونه معلوميږي او دا سې ذکر په سورة انبياء سـ۳۱ آيت کښ هم شته.

سـ۱۶:- په دې کښ ديارلسم دليل دې مراد دَ علامات نه هغه نخښې دي چه په لارو کښ موجود وي او دَ هغې په سبب مقصد ته رسيدل کيږي يا مراد دَ علامات نه غرونه دي يعني غرونه ئې دَ مختلفو ملکونو دَ پاره نخښې ګرځولي دي، او دَ نجم نه مراد ستورې دَ جدي او فرقدين دې او په هغه سره قطب معلوميږي او بيا دَ هغې په سبب سره قبله معلوميږي.

أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تَعُدُّوا

آیا نو نصیحت نه اخلئ تاسو. او که شمار شروع کړئ تاسو

نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ اللَّهَ

دَ نعمتونو دَ الله تعالی نو نشئ راګیرولې په شمار کښ، یقیناً الله تعالی

لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٨﴾ وَاللَّهُ يَعْلَمُ

بخښنه کوونکې رحم کوونکې دے. او الله تعالی پیژنی

مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿١٩﴾

هغه څه چه پټوئ تاسو او هغه څه چه ښکاره کوئ.

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ

او هغه کسان چه دوی ترینه حاجتونه غواړی دَ الله تعالی نه سوا

۱۷:- دا تفریع ده په تیر شوی دلیلونو باندے او زجر دے مشرکینو ته چه دوی خالق دَ مخلوق پشان په بندګئ کښ ګرځولے دے.

۱۸:- په دیکښ تنبیه ده پدے خبره چه نعمتونه صرف دغه نه دی چه کوم تیر شول بلکه بے شماره دی نو دیکښ هم اشاره ده دلیل دَ توحید ته او هر کله چه نعمتونه بے شماره دی نو انسان دَ ټولو شکر نشی پوره کولے نو وے فرمائیل چه إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ.

۱۹:- په دیکښ رد دَ شرک فی العلم دے او اشاره ده دیته که شکر دَ نعمتونو یا ناشکری څوک پټه کوی یا ښکاره نو الله تعالی په هغے عالم دے.

لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿٢٠﴾

نشي پيدا كولے هيڅ شے او دوی پيدا كړے شويدی۔

اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ

دا مړه دی نه دی ژوندی (په دنياوی ژوند سره) او دوی نه پوهيږی

ع ٢ ١٢ ٨ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰـهُكُمْ اِلٰـهٌ

چه كله به دوباره ژوندی كيږی۔ حقدار د بندګئ ستاسو الله

ن٢٠:۔ په دے كښ رد دے په شرك فی الدعاء باندے سره د
رد شرك فی التصرف نه۔

ن٢١:۔ په دیكښ هم رد د شرك فی التصرف او فی العلم دے یعنی
معبودان د دے مشركانو د الله تعالیٰ نه سوا مړه دی او مړے
علم او تصرف نه لری نو ولے دوی د هغوی نه مدد غواړی۔
فائده:۔ دا آیت خاص په بتانو پورے نه دے ځكه چه الفاظ د
دے آیت عام دی بلكه دا شپږ صفتونه (چه ع١ خلق نشی كولے
ع٢ مخلوق دی۔ ع٣ مړه دی۔ ع٤ ژوند تری نه زائل شویدے۔
ع٥ شعور نه لری۔ ع٦ بعث بعد الموت ئے شته) نو دا صفات
حقیقتًا د پاره ذوی العقول دی او بتانو ته مجازًا شاملیږی نو
هر كله چه حقیقت موجود وی نو مجاز معنیٰ ته هیڅ حاجت نشته
او د دے وجے نه تفسیر روح المعانی كښ ذكر كړی دی چه دا
آیت شامل دے ملائكو او انبیاؤ او اولیاؤ ته بیا كه څوك
اعتراض اوكړی چه ملائكو او عیسیٰ علیه السلام چه مشركان
هغوی لره عبادت كوی هغوی خو مړه نه دی۔ نو اول جواب دا
دے چه اموات معنی دا ده چه مرګ پرے راتلے شی او د غیر
احیاء معنیٰ دا ده چه همیشه به ژوندی وی نو كه فی الحال
وی او كه مړه نه وی دواړو ته شامل شو۔ دویم جواب دا دے
چه دا آیت خاص دے په هغه معبودانو پورے چه هغوی مړه
شوی دی او پس د مرګ نه مشركان د هغوی بندګی كوی او

وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

يو دے نو هغه کسان چه نه لري ايمان

بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ

په آخرت باندے زړونه دَ دوی بدګڼړي توحيد لره او دوی

مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا جَرَمَ اَنَّ اللّٰهَ

لويئ کوونکي دي. خامخا الله تعالیٰ

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ؕ

عالم دے په هغه څه چه دوی پټوي او هغه چه دوی ښکاره کوي.

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ وَاِذَا

يقينًا الله تعالیٰ نه خوښوي لويئ کوونکي. او کوم وخت

حاجتونه ترينه غواړي لکه قبر پرست خلق شو نو معنیٰ دا شوه چه ستاسو معبودان اے قبر پرستو مړه دي او دَ غَيْرُ اَحْيَاءٍ معنیٰ دا ده چه دنياوی ژوند ورله نشته او هرچه برزخي ژوند دے نو ثابت دے په نورو دليلونو سره دا رنګ اخروي ژوند په يقيني دليلونو سره ثابت دے نو په غير دَ احياء کښ نفي دَ دنيوي ژوند ده. دَ دينه استدلال کيدے شي چه اولياء شهداء وغيره چه مړه شوي دي نو دَ هغوی دَ پاره حيات دنيويه نشته بلکه حيات برزخيه دے.

۲۲:- په دے آيت کښ تفريع دَ دعوے دَ توحيد ده په مخکښ دليلونو باندے او بيا زجر دے منکرينو ته او انکار دَ زړه صفت دے او استکبار په قول او عمل سره ښکاره کيږي.

۲۳:- په دے آيت کښ زجر دے په استکبار دَ توحيد نه. مَا يُسِرُّوْنَ، اشاره ده انکار دَ زړونو ته. وَمَا يُعْلِنُوْنَ، اشاره ده

وَ اِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ مَّاذَآ اَنۡزَلَ رَبُّكُمۡ ۙ

او کله چه ووئیلے شی دوی ته چه څه نازل کړی دی رب ستاسو

قَالُوۡۤا اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۲۴﴾ لِيَحۡمِلُوۡۤا

دوی وائی دروغ قیصې دَ زړو خلقو۔ دَ دے دَ پاره چه پورته کوی به دوی

اَوۡزَارَهُمۡ كَامِلَةً يَّوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ۙ

پیټی خپل پوره دَ قیامت په ورځ

وَمِنۡ اَوۡزَارِ الَّذِيۡنَ يُضِلُّوۡنَهُمۡ

او دَ پیټو دَ هغه چا نه چه بے لارے کوی دوی هغوی لره

استکبار ظاهری ته او فرق په مینځ دَ تکبر او استکبار کښ دا دے چه تکبر کله مستعملیږی په کبریا دَ حق کښ چه هغه له حق دَ لویئ وی او په دے معنیٰ متکبر دَ الله تعالیٰ په اسماء حسنیٰ کښ دے او کله مستعملیږی په لویئ کولو کښ بغیر دَ حق نه او هر چه استکبار دے نو همیشه مستعملیږی په ناحق لویئ کولو کښ نو دَ دے صفت په کولو کښ ډیر قباحت دے په نسبت دَ متکبر سره۔

۲۴: په دے آیت کښ زجر دے په انکار دَ قرآن سره چه بیانوونکے دَ توحید دے مطلب دا دے چه کله مشرکانو ته اُوئیلے شی چه په دے قرآن کښ واقعات او دلیلونه دَ توحید شته نو دَ دے ضرور منل پکار دی نو دوی وائی چه دا هسے دروغ قصّے دَ مخکنو خلقو دی۔ دا دَ الله تعالیٰ کتاب نه دے لکه چه نن زمانه کښ باطل پرستو ته اُوئیل شی قرآن کریم کښ رد دَ هر قسم شرک دے نو دوی جواب کوی چه دا آیتونه دَ مخکنو په باره کښ دی زمونږ دَ پاره نه دی۔

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾ ع ۳ ۵

بغیر دَ دلیل نه ، خبر شئ بد دے هغه چه دوی ئے پورته کوی۔

قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ

یقیناً مکرونه کړی دی مخکنو خلقو ( دَ حق په مقابله کښې )

فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ

نو راغے الله تعالیٰ بنیادونو دَ دوی ته دَ ویخونو نه

فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ

نو راپریوتلو په دوی باندے چتونه دَ پاسه دَ دوی نه

وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

او راغے دوی ته عذاب دَ داسے ځائے نه

لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

چه دوی نه پوهیدل۔ بیا دَ قیامت په ورځ

۲۵ :- په دے آیت کښې تخویف دے۔ حاصل ئے دا دے چه هر کله دوی دَ قرآن تکذیب اوکړو نو دَ دوی تابعدارو هم دَ دوی تقلید اوکړو او ګمراه شول نو دوی هم ګمراه دی او هم ګمراه کوونکی دی ځکه په دوی باندے په ورځ دَ قیامت کښې دوه پیټی دَ ګناهونو به وی لکه په سورة عنکبوت ۱۳ کښې چه ذکر دی۔

ګاملة ، دا دَ دے وجے نه ذکر کړو چه دَ کافرانو هیڅ ګناه نه معاف کیږی نو چه څومره ګناهونه ئے کړی دی هغه ټول به دَ دوی په شا باندے باروی۔

۲۶ :- په دے آیت کښې تخویف دنیوی دے په مثال دَ سابقینو سره او دا آیت یا خو په ظاهر باندے حمل دے او په باره دَ نمرود او دَ قوم دَ هغه یا ثمودیان او قوم لوط

يُخۡزِيۡهِمۡ وَيَقُوۡلُ اَيۡنَ شُرَكَآءِيَ

رسوا به کړی دوی لره الله تعالیٰ او او به وائی کوم ځائے دی شریکان زما

الَّذِيۡنَ كُنۡتُمۡ تُشَآقُّوۡنَ فِيۡهِمۡ ؕ

هغه چه تاسو به چودئ د دوی په باره کښ

قَالَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ اِنَّ الۡخِزۡيَ

او به وائی هغه کسان چه علم ورکړے شوے دے یقیناً رسوائی

الۡيَوۡمَ وَالسُّوۡٓءَ عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲۷﴾

نن او بدی ټوله په کافرانو باندے ده۔

کښ دے یا دا آیت عام دے او په طریقه د تاویل او د تمثیل سره دے لکه چه چا آبادی جوړه کړی وی او بیخ ئے مضبوط وی لیکن ناګاه دا چت په دوی باندے راپریوځی او بنیا دونه ئے وران شی، نو دا رنګ مشرکانو کافرانو د حق په مقابله کښ مضبوط تدبیرونه جوړ کړی وو د دے د پاره چه حق لره ختم کړی لیکن الله تعالیٰ د دوی تدبیرونه برباد کړل او دوی ئے هلاک کړل۔

۲۷:- په دے آیت کښ تخویف اخروی دے۔ او د دوی د شرمنده کولو د پاره به په ورځ د قیامت کښ د دوی نه به تپوس کیږے شی چه څه شول ستاسو هغه معبودان چه تاسو به د هغوی د پاره جګړے کولے د مؤحدینو سره اوس هغوی خپل مدد د پاره راوبلئ نو دوی به چپ شی او مؤحدین به د دوی په دے شرمندګئ او په عذاب باندے خوشحالی اوکړی تُشَآقُّوۡنَ، شاقه نه مراد جګړے کول دی د مؤحدینو سره په باره د معبودانِ باطله کښ۔

فائده: سوال:- سورة انعام ۲۲ کښ او دا رنګ سورة حٰمٓ سجده ۴۷ او سورة حٰمٓ مؤمن ۷۳ کښ ذکر شوی دی

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ

هغه کسان دي چه ساه اخلي د دوی نه ملائک په داسے حال کښې چه ظلم به کوی

اَنْفُسِهِمْ ۪ فَاَلْقَوُا السَّلَمَ

په ځان خپل باندے (په شرک کولو سره) نو مخکښې به کړی دوی دروغ خبرے

مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ بَلٰٓى

چه مونږ خو نه ده کړے هیڅ قسم بدی ، ولے نه

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾

یقیناً الله تعالیٰ بوهه دے په هغه کارونو چه دوی یې کوی -

چه دوی به انکار اوکړی او په دے سورت کښې معلومیږی چه دوی به چپ وی نو دا په ظاهر کښې تعارض دے ؟

جواب :- چه قیامت کښې مختلف اوقات دی بعضے وخت به دوی چپ وی او بعضے وخت کښې به انکار کوی او بعضے وخت کښې اقرار هم کوی -

اُوْتُوا الْعِلْمَ ، مراد د دے نه موحدین دی ځکه علم په اصل کښې توحید دے -

اَلْخِزْيَ ، شرمندګی په ښکاره کیدلو د نقصانانو د دوی -

اَلسُّوْٓءَ ، عذابونه مراد دی -

۲۸ :- په دے آیت کښې ذکر شوید ے وخت د ځنکدن د مشرکانو چه په هغه وخت کښې به الله تعالیٰ ته منقاد شی او د شرک کولو نه به انکار اوکړی لیکن په داسے وخت کښې توبه نه قبلیږی لکه سورة مؤمن ۸۵ کښې چه ذکر دی -

فَاَلْقَوُا السَّلَمَ ، په جواب د هغه قول کښې چه این شرکائی لکه په سورة انعام ۳۲ او سورة مؤمن ۷۴ کښې دی -

مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ، مراد د دینه انکار د شرک نه دے

فَادْخُلُوٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

نو ورننوځئ دروازو د جهنم ته همیشه به یئ

فِيْهَا ؕ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۲۹﴾

په هغې کښې، نو ناکاره ځائے دے د لوئې کوونکو۔

وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ

او چه اُوئیلے شي هغه چا ته چه ځان یئے د شرک نه ساتلے دے څه شے

اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوْا خَيْرًا ؕ

نازل کړے دے رب ستاسو او به وائي (چه نازل کړے یے) خیر لره،

لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ

هغه چا لره چه توحید یئے منلے دے هغوی له به دے

یا مراد دا دے چه دا شرک کول بد عمل نه دے دا خو د بزرګانو احترام دے لکه چه اوس مشرکان وائي۔ یعنی دوی شرک ته بد عمل نه وائي۔

س۲۹:۔ په دے آیت کښې تخویف اخروی دے یعنی آخرت کښې به دوی ته اُوئیلے شي چه جهنم ته داخل شئ یا به داسے وئیلے کیږي په وخت د مرګ کښې او ارواح د دوی به جهنم ته داخل کړي نو دا دلیل شو په عذاب قبر باندے۔ او ابن کثیر وئیلے دي چه دا منکرین به د وخت د مرګ نه په ارواحو سره جهنم ته داخل شي او اجسامو د دوی ته به سختي رسیږي په قبرونو کښې او په ورځ د قیامت به ارواح په جسمونو کښې داخل کړے شي او جهنم کښې به د همیشوالي د پاره داخل کړے شي۔

الدُّنيا حسنة ط ولدار الآخرة
دنیا کښې ښه ژوند دے ، او کور د روستنئ

خيرٌ ط ولنعم دار المتقين ﴿۳۰﴾
ډیر غوره دے ، او ښهٔ دے کور د متقیانو .

جنّٰت عدنٍ يدخلونها تجري
چه هغه جنتونه د همیشوالی دی داخلیږی به هغے ته بهیږی به

ف۳۰ :- په دے آیت کښې ذکر شوے دے قول د مؤحدینو په بارهٔ د قرآن کښې چه دا د خیر او د فائدو کتاب دے او دا په مقابله د قول د مشرکانو کښې دے چه مخکښې تیر شو . بیا په دے آیت کښې بشارت دنیوی او اخروی دے .
احسنوا ، او احسان نه مراد عقیده د توحید ده او هغے عقیدے ته دعوت کول دی . او د حسنة ، نه په دنیا کښې نصرت او فتح مراد ده .
فائده ع۱ :- مخکښې آیت کښې اساطیر الاولین ، په رفع سره ذکر کړے دے او په دے آیت کښې خیرا ، په نصب سره ذکر کړے دے وجه د فرق دا ده چه مشرکانو ایمان نه لرو په نزول د قرآن نو د هغوی د قول مطلب دا وُ چه دا محمد صلی الله علیه وسلم چه څه وائی نو دا اساطیر دی نازل کړے شوے نه دی او مؤمنانو ایمان لرلو په نزول باندے نو د هغوی د کلام تقدیر دا دے چه انزل خیرا .
فائده ع۲ :- تیر شوی آیت کښې مثوی ذکر وُ او په دے آیت کښې دار ذکر شوے دے وجه د فرق دا ده چه مثواه هغه مقام ته وائی چه بغیر د رضا او د اختیار نه حاصل شی او هغه جهنم دے او دار هغه مقام ته وائی چه په رضا او په اختیار سره حاصلیږی او هغه جنت دے .

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ لَهُمْ فِيهَا

لاندے دَ هغے نه ولے دَ دوی دَ پاره په هغے کښ

مَا يَشَآءُوْنَ ؕ كَذٰلِكَ يَجْزِي اللّٰهُ

هغه څه دی چه غواړی دوی ، دغه شان بدله ورکوی الله تعالیٰ

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۱﴾ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ

متقیانو لره - دا هغه کسان دی چه ساه اخلی دَ دوی نه

الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ سَلٰمٌ

ملائک داسے حال کښ چه پاک وی دَ شرک نه وائی به ملائک سلامونه دی

عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا

په تاسو باندے ورننوځئ جنت ته په سبب

كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۲﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ

دَ عملونو ستاسو - انتظار نه کوی دوی

۳۱ :- په دے آیت کښ تفصیلی بشارت دے په پنځو حالاتو سره په ۳۰ کښ دَ اتقوا نه موحدین مراد دی او په دے کښ دَ متقین نه مراد موحدین کاملین (یعنی چه دَ نورو ګناهونو نه ځان ساتی) مراد دی -

۳۲ :- په دے آیت کښ ذکر دَ حال دَ ځنکدن دَ موحدینو دے په مقابل دَ ظالمانو کښ او ادْخُلُوا الْجَنَّةَ ، خطاب دے ارواحو ته په وخت دَ ځنکدن کښ یا به خطاب وی مؤمنانو ته په ورځ دَ قیامت کښ -

سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ، مراد دَ دینه بشارت دے په سلامتیا سره دَ هر مصیبت نه -

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ، مراد دَ عمل نه توحید او ایمان دے چه سبب دَ دخولِ جنت دے او رحم دَ الله تعالیٰ سبب دے

إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ

مګر دا دے چه راشي دوی ته ملائک (د مرګ) یا چه راشي

أَمۡرُ رَبِّكَ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ

حکم د رب ستا ، دغه شان کار کړے وو هغه چا چه

مِن قَبۡلِهِمۡ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ

د دوی نه مخکښې وو ، او ظلم نه دے کړے الله تعالیٰ

وَلَـٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿٣٣﴾

په دوی باندے لیکن دوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کولے۔

فَأَصَابَهُمۡ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُواْ وَحَاقَ

نو اورسیدلے دوی ته ناکاره سزاګانے د عملونو د دوی او راګیر کړیدی

د پاره د ایمان او توحید حاصلولو۔

۳۳ :- په دے آیت کښې تخویف دنیوی دے منکرینو ته او مراد د آیت دا دے چه دوی ایمان نه راوړی په شان د متقیانو بلکه کله چه ملائک راشي د پاره د قبض د ارواحو د دوی یا بل عذاب راشي د الله تعالیٰ د طرف نه نو دوی به هغه وخت ایمان راوړی لیکن هغه ایمان قبول نه دے نو دا ایمان نه راوړل دوی تر دغه وخته پورے د دینه ټے تعبیر او کړو په انتظار سره تشبیهًا ورنه دوی خو انتظار نه دے کړے۔ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ ، اشاره ده سبب د عذاب د دوی ته چه د دوی عقیده او عملونه د ظلم دی۔

بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۴﴾ ع

دوی لره هغه عذاب چه دوی ورپورې توقی کولې.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ

او وائی هغه کسان چه شرک ئې کړیدے که غوښتلے

اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ

الله تعالیٰ بندګی به نه وے کړې مونږ د الله تعالیٰ نه سِوا د

شَیْءٍ نَّحْنُ وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا

هیڅ څیز مونږه او نه مشرانو زمونږ او نه به حرام کړی وو مونږ

مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَیْءٍ ؕ كَذٰلِكَ

سِوا (د اذن) د الله تعالیٰ نه څه څیز، دغه شان

فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ

کار کړے وو هغه کسانو چه دوی نه مخکښې وو نو نشته

عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۳۵﴾

په رسولانو باندے مګر رسول دی صفا (رسَکاره).

۳۴:- په دے کښې ذکر د عذاب دے د پاره د تخویف او دا رنګ په سورة زمر ۳۵ کښې دی.

سَيِّئَاتُ، نه مراد ناکاره سزاګانے دی چه هغه ډیر قسمه دی نو ځکه ئې جمع ذکر کړه.

مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ، هغه عذاب چه دوی ورپورے استهزاء کوله یا مَا مصدریه دے او عقاب لفظ پټ دے سزا د استهزاء د دوی.

۳۵:- خلاصه:- د دے آیت نه دویم باب دے تر ۴۷ پورے. په دیکښې اول ذکر کړے دے دلیل د مشرکانو او په هغے

## وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ

او يقينًا ليږلے دے مونږ په هر امت کښ

بانـدے زجر دے او دا دعوىٰ دَ سورت ده بيا دليل نقلي اجمالي دَ ټولو انبياؤُ نه ئے ذکر کړے دے دَپاره دَ جواب دَ دليل دَ مشرکانو په آيت ۳۶ کښ بيا تسلي ده په ۳۷ کښ، بيا زجر دے په انکار دَ بعث او اثبات دَ بعث بعد الموت دے په ۳۸، ۳۹، ۴۰ کښ. بيا ترغيب دے هجرت ته دَپاره دَ بچ کيدلو دَ ظلم دَ ظالمانو نه په آيت ۴۱، ۴۲ کښ. بيا اثبات دَرسالت دے سره دَ جواب دَ سوال دَ منکرينو نه په آيت ۴۳، ۴۴ کښ. بيا تخويف دنيوي دے په آيت ۴۵، ۴۶، ۴۷ کښ.

تفسير:- په دے آيت کښ ذکر دے استدلال دَ مشرکانو دَپاره دَ جواز دَ شرک په مشيت دَ الله تعالىٰ سره او دا مشيت کونيه دے چه تقدير دے او دا قول دَ دوی بنا وُو په دے چه دوی هم مشيت کونيه دَ الله تعالىٰ منلو يا دا قول دَ دوی الزام دے په مؤمنانو باندے چه اے مؤمنانو تاسو وايئ چه تقدير حق دے نو زمونږ شرک هم په تقدير الٰهي کښ مقرر دے نو مونږ په دیکښ ګنهګار نه يو. او هر کله چه په دوی کښ دوه قسمه شرک وُو يو شرک په عبادت کښ او بل شرک په تحريم او تحليل کښ نو په دے آيت کښ ئے دواړه ذکر کړه او هر کله چه دا دليل په حقيقت کښ تکذيب او استهزاء وه نو ځکه ئے دَ هغے تعبير کړے دے په سورة انعام کښ په (کذب) سره او په دے سورت کښ په فعل سره تعبير دے ځکه دلته مقصد دَ دوی استدلال دے ليکن دلته هم دَ فعل نه مراد استهزاء او تکذيب دے نو حاصل دا دے چه مشيت دوه قسمه دے يو مشيت کونيه او بل مشيت شرعيه. او افعال، اوصاف دَ بندګانو هم دوه قسمه دی يو کونيه چه په هغے کښ دَ انسان هيڅ اختيار نشته لکه پيدائش

رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا

رسول (پیدا کے خبره) چه بندگی خاص کړئ د الله تعالیٰ او ځان اوساتئ

الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ هَدَى اللّٰهُ

د (بندگئ) د غیر الله نه ، نو بعضې د دوی هغه څوک دی چه الله تعالیٰ ورته هدایت

وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلٰلَةُ ؕ

کړیدے او بعضې هغه دي چه ثابته شوې ده په هغه باندے گمراهي ،

فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ

نو اوګرځئ په زمکه کښ نو اوګورئ (د عبرت په نظر) چه څنګه شو

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۳۶﴾ اِنْ تَحْرِصْ

انجام د تکذیب کوونکو ۔ که ته حرص کوے

د انسان تور ، سپین ، دنگ ، لنډ وغیره نو په دیکښ د هغه انسان په مشیت کونیه د الله تعالیٰ (چه تقدیر دے) استدلال کولے شی او دویم قسم افعال شرعیه دی چه په هغے سره دے مکلف دے او انسان له په هغے کښ مشیت او اختیار مِنْ وجه شته لکه په سورة کهف کښ فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ، نو په دے کښ انسان په مشیت کونیه سره استدلال نشی کولے مگر هغه وخت چه څه عمل تری نه صادر شی د مخالفت په شکل کښ او بیا په توبه سره معاف شی نو که څوک پده باندے بیا اعتراض اوکری او دے حواله ورکوی په تقدیر او مشیت کونیه باندے نو دا جائز دی لکه احتجاج د آدم علیه السلام په مقابله د موسیٰ علیه السلام کښ د دے قبیلې دے۔

۳۶ :- پدے آیت کښ دلیل نقلی اجمالی دے د ټولو انبیاؤ نه په اثبات د توحید او د رد د شرک په اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ ، کښ توحید دے او وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ، کښ رد د شرک دے

عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِىْ

په هدایت دَ هغوی بانددے نو یقینًا الله تعالیٰ هدایت نه کوی

مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۷﴾

هغه چاته چه بے لارے کړی او نشته دوی لره هیڅ څوک مددګاران۔

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ

او قسمونه کړیدی دوی په الله تعالیٰ باندے پاخه قسمونه

لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ ؕ بَلٰى

چه ژوندی به نه کړی الله تعالیٰ هغه څوک چه مړه شویدی ، ولے نه

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ

داوعده ده په الله تعالیٰ باندے یقینی لیکن زیات

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ لِيُبَيِّنَ

خلق نه پوهیږی (او دا دے دَ پاره ژوندی کوی) چه بیان کړی .

او په یکښ جواب دے دَ تیر شوی استدلال دَ مشرکانو حاصل دَ جواب دا دے که الله تعالیٰ رضا وی سنا سو په شرک باندے نو انبیاء به ئے نه رالیږل په مخالفت دَ شرک کښ یعنی مشیت شرعیه جدا دے دَ مشیت کونیه نه او مشرکینو ته به ئے عذاب نه ورکوؤ۔

۳۷ :- په دے آیت کښ تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته چه هدایت دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دے ستا په ذمه صرف تبلیغ دے یعنی دَ مخکنو رسولانو په وخت کښ هدایت او ضلال په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ وؤ نو اوس هم دے۔

۳۸ :- په دے آیت کښ زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت روستو دَ رد شرک دَ دوی نه نو دا اشاره ده چه شرک او انکار دَ بعث نه دَ اصولو دَ کفر نه دی او وَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ، کښ دلیل دے چه مشرکانو به کله کله قسم کوؤ په الله تعالیٰ سره۔

لَهُمُ الَّذِیۡ یَخۡتَلِفُوۡنَ فِیۡهِ وَ لِیَعۡلَمَ

دوی ته هغه خبرے چه دوی اختلاف کوی په هغے کښں او چه پوهه شی

الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡۤا اَنَّهُمۡ کَانُوۡا کٰذِبِیۡنَ ﴿۳۹﴾

کافران خلق چه دوی به دروغ وئیل.

اِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَیۡءٍ اِذَاۤ اَرَدۡنٰهُ

یقیناً وینا زموږ د یو څیز په باره کښں کله چه موږ او غواړو هغه داده

اَنۡ نَّقُوۡلَ لَهٗ کُنۡ فَیَکُوۡنُ ﴿۴۰﴾ ع ۵ ۱۱

چه اووایو هغه ته اوشه نو هغه اوشی.

جَهۡدَ اَیۡمَانِهِمۡ، په دیکښں اشاره ده چه مشرکانو به په الله تعالیٰ باندے قسم کول مضبوط قسم ګڼړلو او تعجب دے د نن زمانے په جاهلانو چه قسم کول په اولیاؤ باندے مضبوط قسم ګڼړی او په الله تعالیٰ باندے قسم کولو باندے هیڅ پرواه نه کوی.

۳۹ :- دا آیت متعلق دے په کلام مقدر پورے په تیر شوی آیت کښں تقدیر ئے داسے دے بلی لیبعثنهم لیبین او په دے آیت کښں ئے د بعث دوه فائدے ذکر کړی دی اوله فائده بیان د امورو اختلافیه په طریقه د فیصلے کولو سره او هغه د دے سورت په ۹۲ کښں ذکر کیږی او تعبیر د فیصلے په سورة بقره ۱۱۳ او سورة النساء ۱۴۱ او نورو آیاتونو کښں ذکر دے.او دویمه فائده یقین کول د کافرانو دی په کذب خپل باندے په هغه اقوالو کښں چه په دے سورت کښں ذکر شول ۲۴، ۳۵، ۲۷ کښں او نور اقوال هم د دے کافرانو.

۴۰ :- په دے آیت کښں اثبات د بعث دے په بیان د قدرت تکوینی د الله تعالیٰ سره او دا رنګ سورة یٰس ۸۲ کښں ذکر دے او دلته ئے قول سره تعبیر اوکړو په مقابله د اقوالو (کاذبه) د کافرانو کښں.

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِي اللّٰهِ مِنْ

او هغه کسان چه هجرت ئې کړیدے د الله تعالىٰ د پاره روستو

بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ

د دینه چه په دوی باندے ظلم کړیشو یدے خامخا ځائے به ورکوؤ دوی ته

فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ

په دنیا کښ ښائسته ، او خامخا ثواب د آخرت

اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾

خو ډیر لوے دے که چرے دوی پوهیدلے.

الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿۴۲﴾

دوی هغه دی چه صبر ئې کړیدے او په خپل رب باندے توکل کوی.

ف۴۱ :- په دے آیت کښ ترغیب دے هجرت ته او بشارت مهاجرینو ته روستو د ذکر د ظلم د ظالمانو نه یعنی د ظالمانو د ظلمونو نه د بچ کیدلو د پاره چه څوک هجرت کوی. او دا د دے ربط دے د ماقبل سره او مراد د حَسَنَةً نه رزق حلال او نیک ذکر دے په روستو خلقو کښ او نصرت د الله تعالیٰ دے.

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ، په دیکښ تعریض دے په هجرت نه کوؤنکو باندے.

ف۴۲ :- په دے آیت کښ دوه عملونه ذکر دی صبر او توکل چه دا لازم دی د هجرت سره د صبر نه مراد صبر کول د موحد دی په اذیتونو د مشرکانو باندے او دوی روستو د اذیتونو نه په سبب د توکل سره هجرت کوی.

فائده :- په دے آیتونو کښ اشاره ده هجرت د حبش ته چه بعضے صحابه کرامو رضی الله عنهم د مکے نه اول هجرت کړے وو ملک د حبش ته نو په حبشو کښ د بادشاه (اصحمه) ملګرتیا ورته ملاؤ شوه

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا

او نه دي لیږلي مونږ ستا نه پخوا (مخکښې) مګر نارینه

نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ

چه وحی کوله مونږ هغوی ته نو تپوس اوکړئ د علم والو نه

اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۳﴾ بِالْبَيِّنٰتِ

که تاسو نه پوهیږئ. (لیږلے وو مونږ) په ښکاره دلیلونو (عقائدو)

او د هغې نه روستو په مدینه کښې او بیا روستو په نورو ملکونو باندے غلبه حاصله شوه۔

۴۳:۔ دے آیت کښې اثبات د صداقت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او رد دے په دریمه عقیده د کافرانو چه انکار د رسالت دے او جواب د شبهے د منکرینو د رسالت دے چه منکرینو شبهه کوله چه رسول د الله بشر نشي کیدے نو دے آیت کښې ئے جواب اوکړو او اَهْلَ الذِّكْرِ، نه مراد علماء د وحی الٰهی دی چه هغوی عقیده لری په هغې باندے او عمل پرے کوی نو د دے وجے نه اهل العلم ئے نه دی وئیلی بلکه اهل الذکر ئے وئیلی دی او تفسیر قرطبی کښې د دے آیت په تفسیر کښې لیکلی دی چه ټول انبیاء بشر دی او دا سے ذکر دے په سورۃ انبیاء آیت ۷ کښې هم۔

فائده :۔ په دے آیت کښې دلیل دے په دے خبره چه په وخت د نیشتوالی د علم کښې د اهل علم نه تپوس کول فرض دی ځکه چه په کوم شي عمل فرض دے نو د هغې علم هم فرض دے لیکن د دے آیت نه استدلال کول په اثبات د تقلید جامد او تقلید شخصی صحیح او جائز نه دے په څو وجوهو سره۔

اوله وجه :۔ د الذکر نه مراد وحی ده یعني د هغه چا نه تپوس کوئ چه په جواب کښې دلیل د وحی ذکر کوی (قرآن او سنت) او د دلیل تابعداري نه تقلید نشي وئیلے کیدے۔

وَالزُّبُرِ ۗ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الذِّكْرَ

او د نصیحت په خبرو، او نازل کړیدے مونږ تا ته دا قرآن د ددی دپاره

لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ

چه وضاحت او کړے خلقو ته د هغه حکمونو چه نازل کړیشویدی دوی ته

وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٤٤﴾ اَفَاَمِنَ

او د پاره د دے چه دوی فکر او کړی۔ آیا نو په امن دی

دویمه وجه:۔ د عدم علم دوه درجے دی اول عدم علم د حکم دویم عدم علم د دلیل د دواړو تپوس ته کول لازم دی نو چه دلیل ورته معلوم شی نو دا خو تقلید نه دے۔

دریمه وجه:۔ الله تعالیٰ اهل الذکر عام ذکر کړیدی او مقلد حنفی خود شافعی عالم نه تپوس نه کوی بلکه مونځ کول هم ورپسے جائز نه گنړی۔

څلورمه وجه:۔ علی طریق التنزل دا چه صحیح ده پدے آیت کښ اثبات د تقلید دے دپاره د اُمی لیکن هر کله چه روستو وخت کښ دغه شخص امی ته چه صحیح حدیث د مخکښ قول نه خلاف معلوم شی نو دے به دغه قول پریږدی او په حدیث به عمل کوی او دا سے شامی د علامه بیری نه نقل کړی دی په جلد ۱ ص۴۶ کښ نو معلومه شوه چه مخکښ تقلید د دے شخص تقلید مباح وو او که سره د علم د مخالفت د صحیح حدیث نه اول قول (مذهب خپل) نه پریږدی نو دا تقلید مذموم او حرام دے۔

۴۴:۔ دا آیت هم متعلق دے په مخکښ آیت پورے او تشجیع ده رسول ته په تبلیغ د قرآن وروسته د اثبات د صداقت د هغه ته۔

بِالْبَيِّنٰتِ، متعلق دے په ارسلنا هم مقدر پورے او یا متعلق دے په لا تعلمون پورے او په دے آیت کښ یو ذمه واری

الَّذِيْنَ مَكَرُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّخْسِفَ

هغه خلق چه مکرونه جوړوی د ناکاره کارونو دپاره چه خکته به بوځی

اللّٰهُ بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ

الله تعالیٰ دوی په زمکه کښې یا به راشی دوی ته

الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۴۵﴾

عذاب د داسې ځائې نه چه دوی به نه پوهیږی.

د نبی صلی الله علیه وسلم ذکر شو بیا چه هغه تشریح کول د قرآن دی. او دویمه ذمه واری په امت کښې د اهل فکر اجتهاد والا ذکر کړے شوے ده.

په لِتُبَيِّنَ، کښې دلیل دے په دے خبره چه سنت د نبی شرح او تفسیر د قرآن دے او نبی صلی الله علیه وسلم د دے د پاره رالیږلے شوے دے او په دے کښې صریح رد دے په منکرینو د حدیث باندے.

فائده:- په دے آیت کښې اشاره ده دلیلونو د شرعے ته اول دلیل قرآن دے چه په لفظ د الذِّكْرَ، کښې مراد دے او دویم دلیل سنت د نبی صلی الله علیه وسلم دے چه په لِتُبَيِّنَ، کښې هغې ته اشاره ده او دریم دلیل اجتهاد د مجتهدینو دے که په اتفاق سره وی نو هغې ته اجماع وائی او که قول د بعضو وی نو هغې ته قیاس د مجتهد وائی. لیکن اجماع دلیل او حجت مثبته دے پدے شرط چه سند د هغې د قرآن او سنت نه موجود وی او د نص صریح نه مخالف نه وی او قیاس خو حجت د اثبات دپاره نه دے بلکه صرف ښکاره کوونکے دے نو په حقیقت کښې حجت شرعیه نه دے.

۴۵، ۴۶، ۴۷ :- هر کله چه تیر شوی آیتونو کښې د مشرکانو مخالفتونه او شبهے په رسول او په قرآن او په توحید باندے او په قیامت باندے ذکر شول نو اوس د هغوی دپاره تخویف

أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُمْ

یا به اونیسي دوی لره په وخت دَ سفر کولو نو دوی نشي

بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ

عاجز کولے الله تعالیٰ لره۔ یا به اونیسي دوی لره په

تَخَوُّفٍ ۖ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ

حالت دَ ویرولو (سمولو)، نو یقینًا ستاسو رب ډیر شفقت کوونکے

رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا

رحم کوونکے دے۔ آیا دوی نه ګوري هغه څیزونه چه

خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ يَتَفَيَّؤُا

پیدا کړیدي الله تعالیٰ دَ هریو څیز نه ګرځي

دنبوي په دے آیتونو کښ ذکر کوي۔ مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ، نه مراد دغه مخالفتونه او شبهات دي په اسلام باندے کوم چه مخکښ تیر شول۔
او تَقَلُّبِهِمْ، نه مراد سفرونه کول دَ پاره دَ دنیا دي او دَ داسے سفر پریشانی ضروروي دَ دے وجے نه په صیغه دَ تفعل سره ذکر کړه چه دلالت کوي په تکلف او مشقت باندے او دا وصف دَ کافرانو دے لکه په سورة العمران ۱۹۶ کښ دي۔ یا په بسترو باندے اوړیدل راوړیدل مراد دي۔
تَخَوُّفٍ، نه مراد نقصان دَ مالونو او دَ فصلونو او ښاروو دے یا ترے مراد عذاب دَ تادئ دے یا ویره دَ دُشمن ده۔

ظِلٰلُهٗ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ

سوری دَ هغې دَ ښي طرف نه او کیڼ (ګس) طرفونو نه

سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَهُمْ دٰخِرُوْنَ ﴿۴۸﴾

سجده کوونکي الله تعالیٰ ته او دوی عاجز وی۔

وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

او خاص الله تعالیٰ لره سجده کوی هغه څه چه په آسمانونو کښ دی او هغه څه چه

فِي الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ

په زمکه کښ دی هر قسم جاندار او ملائک

۴۸ :- خلاصه :- دَ دے ځائے نه دریم باب دے تر آیت ۶۴ پورے په دے باب کښ درے عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ انقیاد دَ عالم دَ پاره دَ الله تعالیٰ ذکر دے آیت ۴۸، ۵۲، ۵۳ کښ او دلیل وحی دے په ۵۱ کښ بیا زجر دے په شرک سره په ۵۴، ۵۵ کښ بیا زجر دے په نذر دَ غیر الله سره په ۵۶ کښ بیا زجر دے په شرک بالملائکه سره دَ ۵۷ نه تر ۶۰ پورے۔ بیا تخویف دنیوی دے په ۶۱ کښ بیا زجر یا لشرک دے په ۶۲ کښ۔ بیا زجر او تخویف دے په اتباع شیطان سره ۶۳ کښ بیا ترغیب دے قرآن ته په ۶۴ کښ۔

تفسیر :- په دے آیت کښ سجده دَ سورو ذکر کړے شوے ده او مراد دَ سجدے دَ سورو نه کرځیدل دَ سورو او کمیدل او زیاتیدل دَ سورو په حکم دَ الله تعالیٰ سره دی په دے آیت یَمِيْنِ ئے مفرد ویلے دے او شَمَآئِلِ ئے جمع ویلے دی ځکه چه شروع کیدل دَ سوری دَ یمین نه دی په یو حال کښ بیا شمال طرف ته ګرځی لږ لږ په مختلفو حالاتو کښ دویمه نکته هم دا ده چه په عرب کښ هر کله مخ کړی مشرق طرف ته نو یمین طرف ته لږ وطنونه دی او شمال طرف ته ډیر ملکونه دی. (والله اعلم)۔

وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ يَخَافُوْنَ

او دوی نه کوی لوئی (د حکم د الله تعالیٰ نه) - یریږی دوی

رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُوْنَ

د رب خپل نه چه اوچت دے د دوی نه او کوی دوی

مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ السجدة ۳ وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْا

هغه چه دوی ته یې حکم کیدیشی - او فرمائیلے دی الله تعالیٰ مه جوړوئ حقدار

السجدة ۳ ع ۱۲ ۱۰ ۲

مِنْ شَیْءٍ، نه مراد اجسام دی چه د هغې د پاره سوری وی او دا رنګ په سورة رعد ۱۵ کښې هم ذکر دی۔

۴۹:- دا آیت هم د مخکنی د لاندے داخل دے یعنی په دیکښی تعمیم دے روستو د تخصیص نه۔

مِنْ دَآبَّةٍ، ظاهر دا ده چه دا شامل دے اصل د آسمانونو او زمکو دواړو ته په دلیل د سورة شوریٰ ۲۹ سره او وَالْمَلٰٓئِكَةُ تخصیص بعد التعمیم دے د پاره د رد د مشرکین بالملائکة بانډے او د آبَّةٍ په معنیٰ د ساه والا ده نو ملائکه ته هم ویلے شی او دویمه توجیه دا ده چه په آیت کښی لف نشر غیر مرتب دے یعنی من دابة بیان د ما فی الارض دے او والملائکه بیان د ما فی السموات دے۔

وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ، دا دلیل دے چه ابلیس د ملائکو نه وو ځکه چه هغه استکبار کړے وو۔

۵۰:- په دے آیت کښی سره د مخکښ آیت نه د ملائکو درے صفات ذکر دی اول عجز د هغوی دویم خوف د هغوی دریم انقیاد د امر د الله تعالیٰ۔

يَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ، فوق په صفت د الله تعالیٰ کښی دے په اعتبار د معنیٰ سره محکم دے او په اعتبار د کیفیت سره متشابه دے تاویل کول په غلبه سره او دا رنګ تشبیه او تمثیل د دے د صفت د مخلوق سره دواړه غلط دی۔

إِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ ۚ إِنَّمَا هُوَ إِلٰهٌ

دَ بندګئ دوه يقيناً هغه حقدار دَ بندګئ

وَّاحِدٌ ۚ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُ

يو دے ، نو خاص ما نه يره کوئ ۔ او خاص دَ هغه په اختيار کښې دي

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَهُ

هغه څيزونه چه په آسمانونو او زمکه کښې دي او خاص الله تعالىٰ لره

الدِّينُ وَاصِبًا ۚ أَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

تابعداري لازم ده ، آيا نو سوا دَ الله تعالىٰ نه يريږئ تاسو ۔

۵۱ :۔ په دے آيت کښې دليل وحی دے دَ پاره دَ رد دَ شرک او معطوف دے په معنیٰ دَ ماقبل باندے په طريقه دَ دليل سره يعنی الله تعالىٰ فرمائيلی دی چه سجده زما نه سوا بل چا ته مه کوئ ځکه سجده حق دَ اله دے او الله تعالىٰ فرمائيلی دی چه دويم اله نشته ۔ او هر کله چه مشرکان اکثر اوقاتو کښې دَ ويرے په وخت کښې خپلو الهوؤ (معبودانو) ته سجدے کوی دَ دے وجے نه او فرمائيل فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ، او اثنين ئے دَ تاکيد دَ پاره دَ دے وجے نه ذکر کړو چه نفی دَ تعدد مراد ده نفی دَ اصلی الوهيت نه ده مراد ځکه چه يو اله خو ضرور شته دے ۔

۵۲ :۔ دا دليل عقلی دے او لام په لَهُ کښې دَ پاره دَ اختيار او دَ پاره دَ انقياد دے ۔

الدِّينُ ۔ په معنیٰ دَ عبادت دے يعنی متصرف خاص الله تعالىٰ دے نو معبود هم خاص هغه دے ۔

وَاصِبًا ، لازم او هميشه او خالص ته وئيلے شی ۔

تَتَّقُونَ ، تقویٰ په اصل کښې توحيد دَ عبادت ته وئيلے شی نو دلته ئے دَ الدين (چه په معنیٰ دَ عبادت دے) دَ مناسبت دَ وجے نه تقویٰ ذکر کړے ده ۔

وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ثُمَّ اِذَا

او هغه چه په تاسو باندے څه نعمت دے نو الله تعالیٰ د طرف نه دے بیا هم چه کله

مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ﴿٥٣﴾

او رسیږی تاسو ته مصیبت نو هغه ته خاص فریاد کوئ تاسو .

ثُمَّ اِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ اِذَا فَرِيْقٌ

بیا چه کله لرے کړی مصیبت ستاسو نه یوه ډله

مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ﴿٥٤﴾ لِيَكْفُرُوْا

ستاسو نه د خپل رب سره شریکان جوړوی. (عاقبت دا شي) چه ناشکري اوکړي دي

بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۫ فَسَوْفَ

د هغه نعمت چه موږ دوی ته ورکړی دے ، نو مزے واخلئ نو زر دے

۵۳ :- په دے کښ هم دلیل عقلی دے ما موصوله دے او مِنْ د پاره د استغراق دے نو هر نعمت ظاهری او باطنی او بدنی او مالی ، صحت ، عافیت ، مالداریٔ وغیره ته شامل دے.

فَاِلَيْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ، یعنی عقیده د مشرک هم په وخت د تکلیف کښ دا ده چه مصیبتونه لرے کوونکے د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک نشته - جوار ، آواز د سخئ یا آواز د کُتری (د سپی بچی) دے په وخت د سختیٔ کښ مراد ترینه چغے وهل په ډیر عاجزیٔ سره دی .

۵۴ ، ۵۵ :- دا آیتونه هم په زجر کښ داخل دی حاصل دا دے چه په وخت د تکلیف کښ الله تعالیٰ ته عاجزی کوی او هر کله چه الله تعالیٰ د دوی عاجزی قبوله کړی او تکلیف ترینه لرے کړی نو دوی شرک کوی یعنی بیا نسبت د لرے کولو د تکلیف د الله تعالیٰ نه سوا بل چا ته کوی .

فَتَمَتَّعُوْا ، کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ د دے مشرکانو دُعاء د دے

تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۵۵﴾ وَيَجۡعَلُوۡنَ لِمَا لَا يَعۡلَمُوۡنَ

چه پوهه به شئ تاسو۔ او مقرروي دوی هغه چالره چه هغوی پوهه نه لري

نَصِيۡبًا مِّمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ ؕ تَاللّٰهِ

برخه د هغه مال نه چه مونږ دوی لره ورکړیدی، قسم دے په الله تعالیٰ

لَتُسۡـَٔـلُنَّ عَمَّا كُنۡتُمۡ تَفۡتَرُوۡنَ ﴿۵۶﴾

خامخا پوښتنه به اوکړیشي ستاسو نه د هغه څه چه دروغ جوړوئ تاسو۔

وَيَجۡعَلُوۡنَ لِلّٰهِ الۡبَنٰتِ سُبۡحٰنَهٗ

او مقرر کوي دوی الله تعالیٰ لره لونړه پاک دے الله تعالیٰ

وجه نه قبلوی چه دا دنیا متاع ده او متاع کافرانو ته هم ملاویږی دارنګ په سورة روم آیت ۳۳ او ۳۴ کښې هم دی۔

۵۶:- په دے آیت کښې زجر دے په نذر کولو دپاره د غیر الله، او دا عطف دے په یشرکون باندے او د هغے تفسیر دے او دا رنګ په سورة انعام آیت ۱۳۶ کښې هم دی۔

کُنۡتُمۡ تَفۡتَرُوۡنَ، د دینه مراد قصے مشرکانه او مسائل شرکیه دی:-

لَا يَعۡلَمُوۡنَ، ضمیر راجع دے مَا ته چه هغه په معنیٰ د معبودانو دے یعنی معبودان هیڅ علم د دوی د نذرونو نه لري۔ یا ضمیر راجع دے عابدانو ته یعنی دوی د معبودانو د حال نه خبر نه لري چه هغوی خو عاجز دی او څه نه اوري او نه وینی۔

مِمَّا رَزَقۡنٰهُمۡ، مراد د دینه د خوراک او څښاک څیزونه او څاروی او غلے کپړے وغیره د غیر الله په نوم باندے نذر کول دی۔

وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَإِذَا بُشِّرَ

او وی دے دوی لرہ هغه څه چه دوی غواړی ۔ او کله چه زیرے ورکړے شی

أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ

یو تن د دوی ته په لور سره شی مخ د هغه

مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۵۸﴾ يَتَوَارٰى

تور او هغه د غم نه ډک وی ۔ ځان پټوی

مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ

د قوم نه د وجے د ناکاره زیری نه چه ده ته ورکړے

بِهٖ ؕ اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ اَمْ

په شویدے ۔ (سوچ کوی) چه آیا اوساتی هغه (لور) په ذلت سره او که

يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ؕ اَلَا سَآءَ

ژوندے ئے اومنډی په خاورو کښ ، خبر شئ ناکاره ده

۵۷ :- دا هم په ما قبل باندے عطف دے او بل قسم شرک باندے رد کوی نو په دے آیت کښ زجر دے په مشرکین بالملائکه باندے چه هغوی ملائک بنات د الله تعالیٰ ګنړی او دا په مشرکین عرب کښ بعضے قبیلے وے او هم دا رنګ ذکر دی په سورة صٰفٰت ۱۴۹ کښ او سورة زخرف ۱۶ کښ او سورة طور ۳۹ کښ۔

۵۸ :- په دیکښ رد دے په رسم د جاهلیت چه هغوی به د لور او خور په پیدا کیدو بد ګنړل ۔

او كَظِيْمٌ ، هغه غمژن ته وائی چه د غم د وجے نه خبرے نشی کولے۔

بُشِّرَ ، بشارت اول خبر د خوشحالئ ته وئیلے شی او دلته په معنیٰ د صرف اول خبر سره دے ځکه دوی په دے خبر باندے خوشحالی نه کوله ۔

مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٥٩﴾ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
هغه فیصله چه دوی یې کوی. هغه چالره چه ایمان نه لری

بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۚ وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ
په آخرت باندے ناکاره حال دے ، او الله تعالیٰ لره خاص دے صفت

الْاَعْلٰى ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٦٠﴾ ع ۷ ۱۳
اوچت ، او هغه زورآور او حکمتونو والا دے.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ
او که نیولے الله تعالیٰ خلقو لره

بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ
په سبب د ظلم د هغوی نه به وے پریخو دلے پسے زمکه باندے هیڅ زنده سړ

وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ
لیکن روستو کوی الله تعالیٰ دوی لره تر نیټے مقرر پورے ،

۵۹ :- په دے آیت کښ طریقه د جاهلیت ذکر ده چه کله به خبر شول په پیدا ئش د لور باندے نو پټیدل به د وجے د شرم نه او فکر به یے کوؤ چه آیا او ساتی یې سره د ذلت نه او که ژوندئ یې دفن کړی.
اَیُمْسِکُهٗ ، د دے نه مخکښ تقدیر دے په عبارت کښ یعنی یتفکر او ه ضمیر د مذکر یے حرف د ما بُشِّرَ نه راجع کړیدی.
عَلٰی هُوْنٍ ، معنیٰ دا چه لور په ذلت سره ساتی نا ریه. یعنی په هغے باندے غوره کوی زنانه له میراث نه ورکوی.
۶۰ :- په دے آیت کښ زجر دے مشرکین بالملائکه ته. مَثَلُ السَّوْءِ ، ناکاره صفت او حال چه مراد د هغے نه جهل او کفر وغیره دے او الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ، مراد تری نه اوچت صفات دی که صفات ثبوتی وی لکه خالق او رازق ، عالم او قادر یا صفات سلبیه وی چه شریک یے نشته ولد یې نشته مثل یې نشته.

مُّسَمًّى فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا

مقرر بوی نو کله چه راشي نیټه دَ دوی نه به

يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

روستو کیدے شي یو ساعت او نه به مخکښې کیدے شي۔

وَيَجْعَلُونَ لِلّٰهِ مَا يَكْرَهُونَ

مقرر کوي دوی الله تعالیٰ لره هغه څه چه دوی (ځان له) بد ګنړي

۶۱:- په دے آیت کښې تخویف دنیوي دے او جواب دَ سوال دے هر کله چه ظلمونه دَ مشرکانو ذکر شول نو سوال اوشو چه په دوی باندے عذابونه ولے نه راځي دَ دے ظلمونو په سبب سره نو په دے آیت کښې دَ هغے جواب دے۔ او مطلب دَ آیت دا دے که الله تعالیٰ مخلوقات نیولے په ګناهونو دَ ګناهګارو سره او معافي او تاخیرئے نه کولے نو بارانونه او بوټي به ئے بند کړے وے نو ژوندے سر به مړه وے او دا رنګ په سورة فاطر ۴۵ کښې ذکر دي۔

فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ، دا سے په سورة اعراف ۳۴ او سورة یونس ۴۹ کښې تیر شوي دي۔

فائده :- هر کله چه په سورة اعراف او په دے سورت کښې فاء په اذا باندے داخله کړه نو په جزاء باندے فا داخله نکړه دَ پاره دَ دے چه کلام کښې فصاحت کم نشي او سورة یونس کښې اوله فا نشته نو فا، ئے په جزاء باندے داخله کړله بیا هر کله چه په سورة یونس کښې صریح سوال دَ عذاب ذکر وُو نو په جواب کښې فا ذکر نه کړه او په دے سورت کښې او سورة اعراف کښې سوال مذکور نه دے دَ دے وجے فا ذکر شوېده.

والله اعلم بحکمه۔

وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ لَهُمُ

او وائي ژبې دَ دوی دروغ چه یقینًا شته دوی لره

الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ

خوشحالي ، خامخا شته دوی لره صرف اور

وَاَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ ﴿٦٢﴾ تَاللّٰهِ لَقَدْ

او دوی به ورته مخکښ او غورځولے شي۔ قسم په الله تعالیٰ یقینًا

اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ

لیږلے دي مونږ ډیرو امتونو ته ستا نه مخکښ (رسولان)

فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ

نو خائسته کړو هغوی ته شیطان (ناکاره) عملونه دَ هغوی

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ

نو هغه دَ دوی ملګرے دے نن ورځ او دوی لره

٦٢:۔ په دے کښ زجر دے په شرک باندے سره دَ دروغ دعوٰی کولو نه چه دوی لره الْحُسْنٰى، ده یعني په دنیا کښ خوشحالئ او په آخرت کښ ثواب او جنت دے۔
مَا يَكْرَهُوْنَ ، نه مراد لونړه دي او شریک دي او دا دواړه عام خلق بد ګڼړي۔
مُفْرَطُوْنَ ، دَ فرط نه ماخوذ دے یعني مخکښ به لیږلے کیږي لکه چه نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي (انا فرطکم علی الحوض۔ واجعله لنا فرطا) یا په جلتئ به حئ اور ته یا هیر به کړے شي دا ټولے معانے جائز دي۔

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ وَمَآ اَنْزَلْنَا

عذاب دردناک دے۔ او نه دے نازل کړے مونږ

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ

په تا باندے کتاب (قرآن) مګر د پاره د دے چه تشریح او کړے ته

لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ

دوی ته د هغه خبرو چه دوی اختلاف کړیدے په هغے کښ

وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۶۴﴾

او هدایت او رحمت دے د پاره د هغه قوم چه ایمان لری۔

س۶۳:۔ په دے آیت کښ تسلی ده رسول ته سره د زجر او تخویف نه منکرینو ته او سبب د ګمراهئ ذکر کړیدے یعنی دوی چه وائی چه زمونږ حسنٰی ده سره د شرک نه نو ورته شیطان ښائسته کړیده چه شرک او بدعات خو ښه کارونه دی او ثواب دے۔

او د فَزَيَّنَ، نسبت شیطان ته په اعتبار د وسوسو د هغه دے۔

فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ، د دے یو توجیه دا ده چه ضمیر د هُم، امم ته راجع دے او الیوم نه مراد ژوند د دنیا دے یا ورځ د قیامت ده۔

دویمه توجیه دا ده چه هُمْ ضمیر موجوده مشرکانو ته راجع دے یعنی دا شیطان لکه چه دوست وؤ د مخکنو خلقو نو نن زمانه کښ د موجوده مشرکانو هم دوست دے۔

س۶۴:۔ هر کله چه تسلی رسول ته ذکر شوه مخکښ آیت کښ نو په دے آیت کښ تشجیع ده رسول الله ته په تبلیغ د قرآن سره۔

الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ، نه مراد مسئله د توحید او د بعث بعد الموت وغیره ده۔ او دا آیت دلیل دے چه په قرآن کښ اختلافی مسئلے فیصله کیږی هر کله چه تشریح د اصولو د ایمان

وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً
او الله تعالیٰ راورولے دی د بره طرف نه اوبه

فَاَحْیَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ
نو تازه کړیده په هغے سره زمکه روستو د اوچوالی د هغے نه،

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لِّقَوْمٍ
یقیناً په دے کښ لوے دلیل دے هغه قوم لره

ع ۸ یَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَاِنَّ لَكُمْ فِی الْاَنْعَامِ
چه آوری۔ او یقیناً تاسو لره په څارویو کښ

خاص ده په قرآن پورے نو دلته ئے ما او الا سره د پاره د حصر ذکر کړو او په ۶۴ کښ د عامو احکامو شرح مراد وه چه هغه د تشریح د سنت نه روستو فکر کولو ته هم محتاج دی نو هلته ئے حصر نه دے ذکر کړے او تفکر ئے هم نه دے ذکر کړے۔

۶۵ :- خلاصه :- د دے آیت نه څلورم باب دے تر ۸۳ پورے په دے باب کښ شپږ عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ پیدائش د منافعو د اشیاؤ ذکر دے یعنی خوراک او څښاک او بیبیانے او اولاد په ۶۵ کښ او به د باران او بوټی ذکر شوی دی او آیت ۶۶ کښ پئ ذکر شوی دی او آیت ۶۷ کښ کبین ذکر شوے دے او آیت ۷۰ کښ خلق د نفوس ذکر شوے دے او آیت ۷۲ کښ خلق د بیبیانو او اولاد ذکر شوی دے بیا بیان د مثال دے د پاره د رد د شرک په ۷۱ کښ، بیا زجر دے په شرک فی العبادة په آیت ۷۳ کښ، بیا منع د امثالو شرکیو نه په ۷۴ کښ، بیا دوه مثالونه دی د رد د شرک د پاره ۷۵، ۷۶ کښ، بیا تخویف اخروی دے په ۷۷ کښ۔

تفسیر :- په دے آیت کښ۔ یَسْمَعُوْنَ، ذکر کړے دے، په دے کښ اشاره ده چه په دے مقام کښ لیدل ضروری نه دی

لَعِبۡرَةً ؕ نُسۡقِيۡكُمۡ مِّمَّا فِيۡ بُطُوۡنِهٖ

عبرت دے ، څکوؤ مونږ تاسو ته د هغې نه چه د دوی په خیټو کښ دی

مِنۡ بَيۡنِ فَرۡثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا

د مینځ د غوشانو او د وینے نه پئ

خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيۡنَ ﴿۶۶﴾

صفا آسان تیریدونکی د پاره د څکوؤنکو ۔

اوریدل هم کافی کیږی یعنی باران وریدل او بوټی او فصلونه توکیدل په هر ځائے کښ نه وی خوچه صرف واوری نو داکافی ده ۔

س ۶۶ :- دا دلیل عقلی دے په ذکر د نعمت د پیؤ سره او د بَيۡنِ فَرۡثٍ وَّدَمٍ ، مطلب دا دے چه گیاه وغیره د خوراک نه بعضے حصه لړی ته لاړه شی او فرث (غوشیان) ترینه جوړ شی او بعضے حصه وینه جوړه شی او د وینے ته پئ جوړیږی ۔ او دویم مطلب دا دے چه خوراک کله لړی ته اورسیږی نو پوخ ئې کړی نو لاندے فرث مینځ کښ پئ او د پاسه وینه شی او د کبد په ذریعه وینه په رگونو کښ لاړه شی او پئ غولانځے ته ۔ لاړ شی او فرث په لړی کښ پاتے شی ۔

فائده :- پدے آیت کښ بُطُوۡنِهٖ ، ضمیر مذکر راوړے دے او په سورة مؤمنون س ۲۱ کښ ضمیر مؤنث راوړے دے نو دلته کښ په تاویل د کل واحد سره دے او په سورة مؤمنون کښ په اعتبار د ظاهری جمع سره دے بیا د دے فرق کولو یو حکمت دا معلومیږی چه په دے سورت کښ صرف یو فائده د څاروی ئې ذکر کړیده او په سورة مؤمنون کښ نورے فائدے هم ذکر کړی دی نو دلته د فائدے د یووالی د وجے نه اکتفاء اوشوه په ضمیر مفرد باندے او په سورة مؤمنون کښ د کثرت د فائدو د وجے لحاظ د جمع اوکړیشو ۔

وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ
او د میوؤ د کجورو او انګورو نه
تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّرِزْقًا
جوړوئ تاسو د هغې نه سرکه او خوراک
حَسَنًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً
خائسته ، یقینًا په دے کښ شته لوے دلیل
لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَاَوْحٰى رَبُّكَ
هغه قوم لره چه د عقل نه کار اخلي ۔ او په زړه کښ واچوله رب ستا
اِلَى النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِيْ مِنَ الْجِبَالِ
تورلے مچۍ ته چه جوړوه ته د غرونو نه

۶۷:۔ په دے کښ دلیل عقلي دے او مراد د سَكَرًا ، نه مسکر شراب دی لیکن د دے آیت د نزول په وخت کښ خمر نه وو حرام کړے شوے یا دا ده چه مراد د سکر نه عصیر دے او سکر ئے ورته په دے وجه وئیلی دی چه دا عصیر څه وخت پورے باقي پاتے شي نو کله تر ینه مسکر جوړ شي یا مراد د سکر نه سرکه ده ۔

وَرِزْقًا حَسَنًا ، د رزق حسن نه مراد ټول د خوراک خښکاک څیزونه دی چه جوړیږی د دے دواړو نه ، او نشه پکښ نه وی او دا آیت په اوله معنیٰ د سکر سره دلیل دے چه خمر په انګورو پورے خاص نه دی بلکه د کجورو نه هم جوړیږی بلکه د نورو څیزونو نه هم جوړیږی راور بشے، جوار وغیره) لیکن د دے دوو ذکر ئے د دے وجے نه اوکړو چه په عربو کښ دا ډیر وو او هر کله چه د دے څیزونو په جوړولو کښ عقل ته ضرورت دے او دا رنګ د سکر وغیره تعلق

بُيُوۡتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا

کورونه او دَ ونو نه او دَ هغې نه

يَعۡرِشُوۡنَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِيۡ مِنۡ كُلِّ

چه داخلق يې آبادوي. بيا خوره نه دَ هر قسم

الثَّمَرٰتِ فَاسۡلُكِيۡ سُبُلَ رَبِّكِ

ميوؤ نه تو روانه شه په لارو دَ رب ستا

ذُلُلًا ۚ يَخۡرُجُ مِنۡۢ بُطُوۡنِهَا

چه آسانې دي تاته، راوځي دَ خيټو دَ هغوي نه

شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ

دَ څښکلو څيز چه مختلف دي رنګونه دَ هغې په هغې کښې

شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِيۡ ذٰلِكَ

علاج دے خلقو لره، او يقينًا په دے کښې

هم دَ عقل سره دے دَ دے وجه نه يَعۡقِلُوۡنَ، يې په آخر کښې ذکر کړے دے۔

۶۸، ۶۹ :- دا هم دليل عقلي دے په بيان دَ نعمت دَ کبين سره او په اول آيت کښې ذکر دے دَ مکان جوړولو دَ نحل دَ غرونو او دَ ونو نه او هغه غير مملوک وي او دَ آبادو دَ خلقو نه او هغه مملوک وي او په دويم آيت کښې دَ جوړيدلو دَ عسل او راوتلو دَ عسل ذکر کړے دے۔ او لفظ دَ بطونها ظاهرًا دلالت کوي چه دا لاندے طرف نه راوځي ليکن صحيح دا ده چه دَ هغې دَ راوتلو طرف معلوم نه دے۔

فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ، شفاء نکره ده په مقام دَ اثبات کښې ده نو عموم نه فائده کوي نو معلومه شوه چه پس يکښې علاج دے دَ بعضې مرضونو ليکن بعضې سلفو صالحينو دَ حسن نيت په وجه

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَاللّٰهُ

لوی دلیل دے هغه قوم لره چه فکر کوی ۔ او الله تعالی

خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ وَمِنْكُمْ

پیدا کړی یئ تاسو بیا به مړه کوی تاسو او بعضے ستاسو نه

مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَىْ

داسے دی چه اوړسولے شی ناکاره عمر ته (عاقبت داشی) چه

لَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا ؕ

نه پوهیږی روستو د پوهے نه په هیڅ څیز باندے ،

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿۷۰﴾ ع وَاللّٰهُ ع ۵ ۵ ۹

یقینًا الله تعالی پوهه دے قدرت والا دے او الله تعالی

په عموم باندے حمل کړے دے او دا آیت دلیل دے په دے خبره چه علاج کول د مرضونو د پاره جائز دی او د توکل نه خلاف نه دی۔

وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ ، دلته د ایحا نه مراد د مچئ په فطرت کښ دا علم پیدا کول دے۔

ذُلُلًا ، په دے کښ اشاره ده چه مچئ ته واپس خپل ځائے ته رسیدل آسان وی لار ترینه نه ورکیږی۔

شَرَابٌ ، په دیکښ اشاره ده چه عسل په طریقه د مشروب سره استعمالول ډیر فائده مند دی۔

يَتَفَكَّرُوْنَ ، په دیکښ اشاره ده چه د نحل د کبین نه فائدے اخستل او د هغے نه مختلف نسخے او دوائانے جوړول د فکر والو کار دے۔

نکته :- په دیکښ هم دلیل عقلی دے ۔ اَرْذَلِ الْعُمُرِ ، د دینه مراد داسے حال دے چه د انسان قوتونه ناقص شی او عقل

فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ

غوره والے در کړے بعضے ستاسو نه په بعضو باندے

فِى الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا

په خوراک کښې، نو نه دي هغه کسان چه غوره کړے شوي دي په مال ورکولو سره

بِرَآدِّيْ رِزْقِهِمْ عَلٰى مَا مَلَكَتْ

ورکوونکي د مال خپل نه مريان

اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ۭ

او وينځو خپلو ته نو هغوي د دوي سره برابر شي په اختيار

اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿٧١﴾ وَاللّٰهُ

کښې، آيا نو د نعمت د الله تعالٰى نه دوي انکار کوي۔ او الله تعالٰى

ئے بے کاره شي او علم او پوهه ترينه زائله شي او ديته هرم هم وائي او حديث صحيح کښې راغلي دي چه اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَرَمِ اَوْ اُرَدُّ اِلٰى اَرْذَلِ الْعُمُرِ، او بعضو مفسرينو وئيلي دي چه دا حال په مؤمن باندے نه راځي په دليل د سورة التين ۵، ۶ او دا رنګ د سورة حج په ۵ کښې هم دي۔

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ، په دے کښې اشاره ده چه د الله تعالٰى په علم کښې هيڅ نقصان نه راځي۔

قَدِيْرٌ، کښې اشاره ده چه خلق او وفات او بوډا کول دليلونه د قدرت د الله تعالٰى دي۔

۷۱ :- هرکله چه مخکښې آيات تو نو کښې د رزق څيزونه ذکر کړل نو اوس د رزق تفاوت ذکر کوي نو د دے آيت په اوله جمله کښې تصريح ده په دے خبره چه نظام د الله تعالٰى په طريقه د تفاوت سره دے چه څوک ئے غني جوړ کړے دے او څوک ئے فقير او څوک ئے آزاد او څوک مريئے او دا رنګ په سورة

جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا

پیدا کړیدي تاسو لره ستاسو د جنس نه جوړې (بیبیانې)

وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم

او پیدا کړیدي تاسو لره ستاسو د بیبیانو نه

بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ

ځامن او نوسي او خوراک یې درکړے دے ښه د

الطَّيِّبَاتِ ۚ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ

پاک څیزونو نه، آیا نو په باطل (معبودانو) باندے د دوی ایمان لري

وَبِنِعْمَتِ اللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ ﴿۷۲﴾

او د نعمت د الله تعالی نه انکار کوي.

انعام س۱۶۵ او سورة زخرف س۳۲ کښې دي او بیا په دے آیت کښې مثال دے د رد د شرک د پاره چه هغې ته شرک عطائي وائي د وجې د تفاوت د رزق نه او دا رنګ ذکر دے په سورة روم س۲۸ کښې. حاصل د مثال دا دے چه هیچرے یو مالک په تاسو کښې خپل مملوک لره دومره مال نه دے ورکړے چه د ځان سره یې په اختیار کښې برابر کړے وي نو څه رنګ وائي مشرکان چه الله تعالی بعضے بندګانو لره (چه هغه د الله تعالی مملوک دي ملائک او انبیاء او اولیاء دي) دومره اختیار ورکړے دے چه د ځان سره یې په تصرف کښې برابر کړے وي او هغوی هم د خلقو حاجت روائي او مشکل کشائي کوي د الله تعالی په شان او دا د الله تعالی د نعمتونو نه انکار دے او په دے مثال کښې اشاره ده رد د شرک عطائي ته.

س۷۲: په دے کښې هم دلیل عقلي دے په بیان د نعمت د ازواجو او اولاد سره.

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا

او بندګي کوي دوي سِوا دَ الله تعالیٰ نه دهغه چا چه

لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ

نشي ورکولے دوي ته روزي دَ آسمانونو نه

وَالْاَرْضِ شَيْئًا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۷۳﴾

او دَ زمکے نه هيڅ قسم او نه يئے وس رسي۔

مِنْ اَنْفُسِكُمْ، معنیٰ دا ده چه ستاسو دَ جنس نه او په دیکښ اشاره ده دے خبرے ته چه نکاح دَ انسان دَ پیریانو سره نشي کیدے ځکه چه دَ جنس مخالفت دے هاں په دیکښ یو قول دَ جواز شته دے۔

وَحَفَدَةً، مراد دَ دینه نوسی او خدمتګاران دی ځکه چه حفد په اصل کښ خدمت ته وئیلے کیږي او په لفظ دَ لَكُمْ کښ اشاره ده دینه چه اولاد به په نسب کښ دَ پلار تابع وي۔

اَفَبِالْبَاطِلِ، مراد دَ دینه معبودان باطله دی چه مشرکان په هغوی باندے عقیده لري چه بخښ او ځامن او مالونه مونږ له زمونږ معبودانو راکړي دی او الله تعالیٰ ته نسبت نه کوي۔

۷۳:۔ پدے آیت کښ زجر دے په شرک في العبادت او په شرک في التصرف باندے او دا تفسیر دے دَ تیر شوي آیت چه اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ، یعنی په باطل باندے دَ یقین کولو نخښه دا ده چه دَ هغوی بندګي کوي، طوافونه، نذرونه دَ قبرونو کول او نور افعال شرکیه۔

لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، یعنی باران ورول او دَ زمکے نه بوټي او فصلونه راویستل دَ ځان دَ پاره اختیار نه لري۔

وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ، دَ بل چا دَ پاره هم وس نه لري یا دا چه اوس هم اختیار نه لري او آئینده دَ پاره هم امید نشته۔

فَلَا تَضْرِبُوا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ

نو مه بیانوئ الله تعالیٰ لره مثالونه ،

اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۴﴾

یقیناً الله تعالیٰ پوهه لری او تاسو پوهه نه لری.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا

بیان کړی دے الله تعالیٰ مثال بنده مریی

۷۴ :- په دے آیت کښ رد دے په هغه ټولو مشرکانو او کافرانو چه تشبیه د الله تعالیٰ ورکوی د مخلوق سره مثلاً وائی چه مخلوق ته بغیر د وسیلے نه رسیدل نشی کیدے او د مخلوق د پاره سفارش کوونکے پکار دے چه هغه مخوریز یا دوست وی د پاره د مشفوع الیه ، نو دا رنګ الله تعالیٰ ته بغیر د وسیلے نه رسیدل نشی کیدے او نیکان بندګان شفیع قهری ګڼړی، او دا رنګ په دے آیت کښ رد دے په مجسموؤ او مشبهو باندے چه د الله تعالیٰ د صفتونو تشبیه ورکوی د مخلوق سره او هغه له جسم ثابتوی او دا رنګ په سورة شوریٰ ۱۱ او سورة اخلاص ۴ کښ دی.

اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ، دا علت د ما قبل دے یعنی د الله تعالیٰ قیاس په مخلوق باندے نشی کیدے مخلوق په هر څه نه پوهیږی. (د محتاج په حاجت او حالت باندے علم نلری) د دے وجے نه هغه وسیلے ته محتاج دے او الله تعالیٰ په هر څه باندے علم لری، دا رنګ الله تعالیٰ په خپل شان او صفتونو باندے عالم دے که د ځان د پاره مثال ذکر کوی نو صحیح دے لیکن مخلوق خو د الله تعالیٰ په شان او په صفاتو باندے پوره علم نه لری نو هغه مثال د الله تعالیٰ نشی پیش کولے.

لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّمَنْ رَّزَقْنٰهُ

وس نه لري په هیڅ څیز باندے او هغه څوک چه رزق ورکړے مونږ

مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ

د خپل طرف نه رزق ښائسته نو هغه خرچ کوي

مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ۭ هَلْ يَسْتَوٗنَ ۭ

د هغے نه پټ او ښکاره، آیا دوي برابر کیدیشي،

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

ټول صفتونه د الوهیت د یو الله تعالیٰ دي بلکه زیات خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا

پوهه نه لري۔ او بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال

۷۵ :۔ په دے آیت کښ مثال دے د پاره د رد په هغه چاچه الله تعالیٰ د مخلوق سره برابروي او اشاره ده دینه چه تاسو الله تعالیٰ لره د خپل ځان نه مثالونه مه پیش کوئ بلکه د الله تعالیٰ مثال بیانولو ته غوږ کیږدئ حاصل د دے مثال دادے لکه چه یو مریئے وي چه په هیڅ څیز باندے وس نه لري قدرت او تصرف ئے نشته بغیر د اجازت د مولیٰ خپل نه او بل شخص آزاد وي چه هغه ته حلال او فراخ مال ورکړے شوے وي او هغه د هغے نه په خپل اختیار سره خرچ کوي نو دا دواړه برابر نه دي په هیڅ اعتبار سره یعني مالک او مملوک او مریئے او مولیٰ برابر نه دي نو څه رنګ مشرکان برابر ګنړي الله تعالیٰ لره (هغه الله چه مالک او متصرف دے) د هغه چا سره چه مملوک د الله دے او اختیار مستقل ورسره نشته که ملائک دي او که انسانان دي او که پیریان دي۔

مَمْلُوْكًا، دا ئے د دے وجے نه ذکر کړو چه عبد خو په اصل

رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ اَبْكَمُ لَا

دَ دوو سړو يو دَ هغوی نه چاړا دے

يَقْدِرُ عَلٰى شَىْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ

وس نه لري په هيڅ څيز باندے او هغه بوج وی

عَلٰى مَوْلٰىهُ لا اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ

په مالک خپل باندے کوم خوا ته چه توجه ورکوی

لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ هَلْ يَسْتَوِىْ هُوَ لا

نو نشي راوړے هيڅ خير، آيا برابر دے هغه

وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ لا وَهُوَ

او هغه څوک چه حکم کوی په انصاف سره او هغه وی

۱۲ ع ۱۰ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۷۶﴾ ع وَلِلّٰهِ

په لار نيغه باندے۔ او خاص الله تعالیٰ لره

كَلٌّ هر بنده ته وئيلے شي که آزاد وی او که مريئے وی۔

هَلْ يَسْتَوٗن، هر کله چه په دے صفت سره مريان او مولاګان ډير دی نو جمع يې ذکر کړله۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، دا تفريع ده په وضاحت دَ دے مثال باندے او اشاره ده چه ټول صفتونه دَ الوهيت دَ يو الله تعالیٰ دَ پاره دی نو دَ هغه سره هيڅ مخلوق شريک او مشابه نشي کيدے۔

۷۶ :- دا بل مثال دے دَ پاره دَ رد په مشرکينو، تفصيل دَ دے مثال دا دے لکه څنګه چه يو تن چاړا وی او خبرے نشي کولے په هيڅ څيز باندے يې وس نه رسيږي يعنی لاس خپے يې کار نه کوی او دے بوج وی په خپل مالک باندے او مالک ده لره يو خوا بل خوا نقل کوی) او دا رنګ دَ ده سنبالول دَ مولی په ذمه باندے وی او هر څه چه دَ هغه نه طلب کوی نو ښه خير او فائده نشي ورکولے څکه

غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

(علم) دَ پټو څيزونو دَ آسمانونو او دَ زمکې دے

وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ اِلَّا كَلَمْحِ

او نه ده معامله دَ قيامت دَ راتلو مگر پشان دَ رپ

الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

دَ سترگے ده بلکه دَ دې نه هم ډيره نيزدے، يقيناً الله تعالیٰ

چه نه پوهيږی او نه آوری۔ او بل کس هغه دے چه امر او حکم کوی او په عدل او انصاف قدرت لری او په لار باندے تلے شی داسے لار چه دے مقصد ته رسوی او تميز کولے شی۔ دَ نيغے لارے او دَ کږے لارے، نو دا دواړه هيڅکله برابر نشی کيدے نو دا مثال دے دَ معبودِ باطل او معبودِ حق يعنی معبودِ باطل چه بُت دے يا خاوند دَ قبر دے هغه هم خبرے نشی کولے او لاس او خپے ئے کار نه شی کولے او په تغسيل او تکفين او نقل کولو کښ ژوندو ته محتاج دے او که څه حاجت ترينه طلب کولے شی نو هغه پوره کولے نشی ځکه چه نه آوری او نه پوهيږی۔ او معبودِ حق چه الله تعالیٰ دے امر کوونکے دے په انصاف او قادر دے په هر څه او پوره نظام چلوونکے دَ ټول عالم دے۔ فرق دَ اول مثال او دَ دويم دا دے چه اول په اعتبار دَ نفی دَ تصرف سره دے فقط او دويم په اعتبار دَ نفی دَ کلام او دَ علم او دَ سمع دے سره دَ نفی دَ قدرت نه۔

فائده:- هر کله چه فرق دَ دويم قسم دَ جانبينو په باره کښ ډير واضح دے دَ دے وجے نه هَلْ يَسْتَوٗنَ ئے په مينځ کښ ذکر کړو او په اول قسم کښ فرق لږ دے نو هلته ئے هَلْ يَسْتَوٗنَ په آخر کښ ذکر کړے دے۔

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۷۷﴾ وَاللّٰهُ

په هر څیز باندے قدرت لری۔ او الله تعالیٰ

اَخْرَجَكُمْ مِّنْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

را ویستلی یئ تاسو د خیټو د میندو ستاسو نه

لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْئًا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ

چه نه پوهیدلئ په هیڅ څیز او پیدا کړیدی تاسو لره

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْئِدَةَ ۙ

غوږونه او سترګے او زړونه

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَلَمْ يَرَوْا

د دے د پاره چه تاسو شکر اوکړئ۔ آیا دوی نه ګوری

۷۷:۔ په دے آیت کښ تتمه ده د مخکښ مثال او رد دے په شرک فی العلم او شرک فی التصرف باندے او مراد د ساعت نه هغه وخت دے چه په هغے کښ ټول خلق به فنا کیږی په شپیلئ وهلو سره یا دا رنګ دوباره ژوندی کیدل په یوځل سره په دویمه شپیلئ سره نو د هغه وخت مثال ئے ورکړیدے د رپ د سترګو سره یعنی چه دغه وخت به دومره لږ وی لکه رپ د سترګے۔

اَوْ هُوَ اَقْرَبُ، هر کله چه رپ د سترګے جزء دے د زمانے او زمانی دے نو ترقی ئے اوکړه په مثال کښ چه هغه وخت انی دے زمانی نه دے) او لمح البصر خو زمانی ده او دا سے په سورة قمر ۵۰ کښ شته دے۔

۷۸:۔ خلاصه :۔ د دے آیت نه پنځم باب دے تر ۸۳ پورے په دیکښ څلور عقلی دلیلونه دی ۷۸، ۷۹، ۸۰ او ۸۱ کښ او په دیکښ تذکیر د نعمتونو دے چه هغه بدنی قوتونه

اِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ

مارغانو ته چه تابع کړے شوي دي په فضا

السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ؕ

دَ آسمان کښ ، نه دي ټينګ کړي دوي سوا دَ الله تعالىٰ نه،

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾

هيڅا يقينًا په دېکښ ډېر دليلونه دي هغه قوم لره چه ايمان لري.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ

او الله تعالىٰ پيدا کړيدي تاسو لره دَ کورونو ستاسو نه

سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ

ځائے دَ آرام او پيدا کړيدي تاسو لره دَ څرمنو

دي او مارغان دي او کورونه او خيمے دي او سوري او غارونه دي او قميصونه او زغرے دي او بيا تسلي ده ۸۲ کښ او زجر دے په ۸۳ کښ.

تفسير :- په دے آيت کښ دليل عقلي دے په ذکر دَ انعام دَ پيدائش دَ انسان او ذکر دَ دريو قوتونو انسان لره او هغه دريواړه اسباب دَ علم او دَ شکر دي.

وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ، دا ئے جدا ذکر کړو اګرچه دَ پيدائش سره دا قوتونه موجود وي ليکن دَ پيدائش نه روستو په يکښ ترقي پيدا کيږي تر بلوغ او بيا دَ څلويښت کالو پورے.

۷۹ :- دا هم دليل عقلي دے په ذکر دَ نعمت دَ مارغانو سره او حفاظت دَ هغوي او دا رنګ په سورة ملك ۱۹ کښ ذکر دي.

جَوِّ ، په اصل کښ جوف ته وئيلے شي مراد دَ دينه فضاء ده په مينځ دَ آسمان او دَ زمکه کښ.

الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ

دَ څاروو نه کوټې　چه سپک موئ تاسو هغې لره　په ورځ

ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ ۙ وَمِنْ

دَ سفر ستاسو　او په ورځ　دیره کیدو ستاسو،　او

أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا

دَ وړي دَ هغې نه (دَ ګډو نه) او دَ پشم دَ هغې نه (دَ اوښانو نه) او دَ ویښتو دَ هغې نه

أَثَاثًا وَّمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٨٠﴾ وَاللَّهُ

(دَ بزو نه) سامان دَ کور او دَ فائدې څیزونه تر یو وخت پورې. او الله تعالیٰ

جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلَالًا

جوړ کړیدی تاسو لره　دَ هغې نه　چه پیدا کړیدی　سورې

وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا

او جوړ کړیدی تاسو لره　دَ　غرونو نه　غارونه (پټیدو ځایونه)

ف ۸۰:- دا هم دلیل عقلی دے په تذکیر دَ نعمتونو دَ کوټو او دَ خیمو او وړئ او پشم او دَ هغې نه جامې او نور سامانونه جوړول.

مِنۢ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا ، کښې اشاره ده ښارونو او کلو ته. مِنۢ بُيُوتِكُمْ ، لفظ دَ مِنْ کښې اشاره ده چه دَ کوټې په بعض حصه کښې اوسیدل کیدے شی.

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا ، کښې اشاره ده بانډو او صحراونو ته.

تَسْتَخِفُّونَهَا ، یعنی کله چه سفر کوئ چه دا خیمې منتقل کول در ته آسان وی او کله چه اقامت کوئ نو خیمې اودرول در ته آسان وی.

أَثَاثًا ، هغه سامان چه په کور کښې استعمالیږی او لباس پکښې

وَّجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ
او پیدا کړي دي تاسو لره قمیصونه چه ساتي تاسو لره
الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَأْسَكُمْ ؕ
د ګرمۍ نه او قمیصونه چه ساتي تاسو په وخت د جنګ کښې،
كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ
د غسې پوره کوي الله تعالیٰ نعمت خپل په تاسو بانډې د
لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ﴿٨١﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا
دې د پاره چه د الله تعالیٰ حکمونه او منئ. نو که دوی مخ اوګرځوؤ

هم داخل دے.

وَمَتَاعًا، د دے ویختو وغیره نه رسئ جوړول او تارونه جوړول او د هغې نه نورے فائدے اخستل.

سا۸۱ :- دا دلیل عقلی دے او په دیکښې ذکر د نعمتونو د سورو او د غارونو او قمیصونو او زغرو دے.

مِمَّا خَلَقَ، مراد د دے نه اونے دیوالونه وغیره دی.

تَقِيْكُمُ الْحَرَّ، ګرمی ئے ذکر کړے ده او یخنی ئے نه ده ذکر کړے ځکه چه هغه وخت کښې مخاطب خلق مکے والا وؤ او په هغوی یخنی نه وه.

تَقِيْكُمْ بَأْسَكُمْ، دا دلیل دے په دے بانډے چه انسان د پاره استعمال د داسے اسبابو چه د مرګ نه بچ شی او نور حفاظتی سامان ساتل جائز دی.

نِعْمَتَهٗ، مراد د دینه جنس نعمت دے او اتمام غیر دے د اختتام نه.

لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ، اسلام پوره انقیاد دے ظاهری او باطنی یعنی په منعم علیه عقلاً او نقلاً لازم دی چه د منعِمْ انقیاد اوکړی.

فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۸۲﴾

نو یقیناً ستا په ذمه بانډے رسول دی صفا۔

يَعْرِفُوْنَ نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا

پیژنی دوی نعمت دَ الله تعالیٰ بیا دَ هغے نه انکار کوی

وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۳﴾ ع وَيَوْمَ

او زیات دَ دوی نه کفر کوی۔ او په کومه ورځ

ع ۱۱ / ۱۷

نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا

چه راپورته به کړو دَ هر امت نه بیان کوونکے

ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

بیا به اجازت نشی ورکیدے کافرانو ته ( دَ عذر کولو )

۸۲:۔ په دے آیت کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته او فَاِنْ تَوَلَّوْا، دَ دے جزاء په اصل کښ مقدر ده حاصل ئے دا دے که دوی مخ اړوی نو دوی له به عذاب ورکړے شی په تا بانډے څه وبال نشته ما سِوا دَ تبلیغ نه۔

۸۳:۔ په دے آیت کښ زجر دے، مطلب دَ دے آیت دا دے چه اقرار کوی چه دا نعمتونه دَ الله تعالیٰ دی خو بیا انکار کوی او نسبت کوی شفاعت دَ الهو خپلو ته۔ دویمه معنیٰ دا ده چه اقرار دَ نعمتونو کوی په خپلو خلو سره او انکار ئے کوی په عملونو سره۔ دریمه معنیٰ دا ده چه پیژنی په زړونو سره او انکار کوی په ژبو خپلو۔

وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ، اَكْثَرُهُمْ، ئے ځکه اوئیل چه دَ بعضے کسانو عملی انکار کفر ته رسیدونکے نه وی۔

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿۸۴﴾ وَإِذَا رَأَ
او نه به د دوی توبه قبلیدے شی ۔ او کوم وخت چه اووینی

الَّذِينَ ظَلَمُوا الْعَذَابَ فَلَا
ظالمان خلق عذاب لره نو نه به شی

يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿۸۵﴾
سپکیدے د دوی نه او نه به دوی له مهلت ورکیدے شی

۸۴ :- خلاصه :- د دے ځائے نه شپږم باب دے تر ۱۱۳ آیت پورے په دیکښ اول تخویف اخروی دے د ۸۴ نه تر ۸۹ پورے بیا ترغیب دے قرآن ته د پاره د دفع د عذاب په ۸۹ کښ بیا خلاصه د مضامینو د قرآن ده په ۹۰ کښ بیا ترغیب دے په وفا د لوظ سره په ۹۱ کښ بیا منع ده د نقضِ عهد نه په مختلف تعبیرونو سره په ۹۱، ۹۲، ۹۴، ۹۵، ۹۶ آیتونو کښ، او تخویف دے په ۹۳ کښ او بشارت دے په ۹۷ کښ۔ بیا ترغیب دے قرآن سره د ادب نه په ۹۸، ۹۹، ۱۰۰ آیتونو کښ او زجر دے په انکار د نسخ سره په ۱۰۱، ۱۰۲ آیتونو کښ او زجر دے په نسبت کولو د قرآن سره تعلیم د بشر نه آیت ۱۰۳ کښ۔ بیا تخویف دے په ۱۰۴ کښ او زجر دے په ۱۰۵ کښ۔ بیا تخویف دے په بے لوظئ سره چه هغے ته ارتداد وائی د ۱۰۶ نه تر ۱۰۹ پورے۔ بیا بشارت دے په هجرت سره ۱۱۰ کښ۔ تخویف اخروی دے ۱۱۱ کښ بیا تخویف دنیوی دے په طریقه د تمثیل سره په ۱۱۲، ۱۱۳ کښ۔

تفسیر :- په دے آیت کښ تخویف اخروی دے لَا يُؤْذَنُ، یعنی د عذر کولو اذن به نه وی لکه په سورة مرسلت ۳۶ کښ دی۔ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ، دا لفظ یا د عتبا نه دے او عتبا وټیلے کیږی رجوع کول او توبه کول یا د عتاب نه دے په دیکښ معنی د زائل کولو د عتاب ده یعنی رضا کول نو معنیٰ دا شوه چه د دوی نه طلب د توبے نشی کیدے یا دا چه د دوی نه طلب د رضا کولو د الله تعالیٰ نشی کیدے۔

۸۵ :- په دے آیت کښ هم تخویف اخروی دے او جزاء د پاره

وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا

او کوم وخت چه اووینی مشرکان خلق

شُرَكَاءَهُمْ قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ

خپلو معبودانو (باطلو) لره او به وائی اے ربه زمونږ دا هغه

شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا نَدْعُو

زمونږ معبودان دی کوم چه مونږ ترینه مدد غوختلو

مِن دُونِكَ ۚ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ

سِوا ستا نه ، نو هغوی به اوغورځوی دوی ته

الْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلْقَوْا

جواب چه یقینًا تاسو دروغژن یئ . او پیش به کړی دوی

إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ ۖ وَضَلَّ

الله تعالیٰ ته په دغه ورځ دَ روغے خبرے او ورک به شی

دَ إِذَا محذوف ده او تقدیر ئے دا دے فَيُعَنَّبُوْنَ .

۸۶ :- په دے کښں هم تخویف اخروی دے په براءت دَ الهو باطلوٗ سره دَ عابدینو نه خو مراد دَ دے نذنیکان بندګان دی .

إِنَّكُمْ لَكَاذِبُوْنَ ، یعنی مونږ تاسو نه امر دَ خپلے بندګئ ندے کړے دا دلیل دے په دے خبره چه دغه معبودان دَ خپلو عابدانو دَ حال نه خبر نه دی لکه سورة یونس ۲۸ ، ۲۹ . او سورة احقاف ۵ ، ۶ کښں چه ذکر دی .

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۸۷﴾

دَ دوی نه هغه چه دوی خه دروغ جوړول

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ

هغه کسان چه کفر ئې کړیدے او منع کوی خلق دَ

سَبِيْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا

لارے دَ الله تعالیٰ نه زیاتی کوؤ به دوی له عذاب

فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴿۸۸﴾

نور دَ پاسه دَ عذاب دَ دوی نه پړے وجه چه دوی فساد کوی۔

---

۸۷ :- په دے آیت کښ هم تخویف دے او دَ وَضَلَّ عَنْهُمْ، معنیٰ دا ده چه هیر به شی دَ دوی نه هغه باطل دلیلونه چه دوی دَ ځان نه جوړول او دویمه معنیٰ دا ده چه غائب به شی دَ دوی نه هغه معبودان چه دوی ورته په دروغه معبودان وئیل، دریمه معنیٰ دا ده چه زائل به شی دَ دوی نه دَ دروغو امیدونه چه دا الهه به زمونږ سفارش کوی۔

۸۸ :- په تیر شوؤ آیتونو کښ ذکر دَ معبودینو صالحینو وؤ چه دَ الله تعالیٰ سره شریک کړے شوی وؤ او تخویف وؤ عامو مشرکانو ته، او په دے آیت کښ تخویف دے هغه گمراهانو ته چه نور خلق ئې گمراه کړی وؤ۔

يُفْسِدُوْنَ ، افساد نه مراد نورو خلقو ته دَ گمراهۍ دعوت ورکول دی۔

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا

او په کومه ورځ چه راپورته به کړو په هر امت کښې ګواهي کوونکے

عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ

په دوی باندے د جنس د دوی نه او را به ولو تا لره

شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ۚ وَنَزَّلْنَا

ګواهي کوونکے په دے (موجوده) خلقو باندے، او نازل کړے دے مونږ

عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ

په تا باندے دا کتاب تشریح کوونکے دے د هرے

شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ

ضروری خبرے او هدایت دے او رحمت دے او زیرے دے

ع ۱۲ ۱۸ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ

د پاره د مسلمانانو ۔ یقیناً الله تعالیٰ حکم کوی

س۸۹:۔ د دے آیت په اوله حصّه کښې تخویف اخروی دے په ذکر د شهادت د انبیاؤ او د علماؤ حق پرستو په امتونو باندے او دا شهادت د دعوت او د تبلیغ به وی او دا سے په سورة نساء س۴۱ کښې دی او په س۸۴ کښې د شهید نه مراد صرف اعضاء دی یا صرف انبیاء دی نو هلته ذکر د خاص دے او په دے آیت کښې ذکر د عام دے. د دے آیت په دویمه حصّه کښې ترغیب دے قرآن ته په ذکر د ځلورو صفاتو د پاره د بچ کیدلو د عذاب د قیامت نه او دا رنګ په دے جمله کښې اشاره ده چه دعوت کوونکو ته الله تعالیٰ علم د قرآن ورکړے دے نو د هغے په باره کښې به د دوی نه تپوس کیږی.

تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ، په دے کښې مراد هر هغه څیزونه دی چه د دین په باره کښې هغے ته حاجت وی یا مراد کل شیء نه په دے

بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ
په انصاف سره او په احسان سره او حقونه ورکول

ذِي الْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ
خپلوانو ته او منع کوي د بې حیایئ نه

وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ
او د بدو کارونو نه او د ظلم کولو ته وعظ درکوي تاسو ته دې دپاره چه تاسو

تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ
نصیحت قبول کړئ. او پوره کوئ لوظ د الله تعالیٰ

سورت کښ ذکر د اصولو د نعمتونو دے.
وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ، معنیٰ دا ده چه په قرآن سره زیرے ته د مسلمانانو خوشحالیږی. او مسلمین، هغه دی چه سره د ایمان نه اعمال ظاهریه شرعیه باندے پابندی کوی او عمل په قرآن باندے ښکاره کوی.
ف:- پدے آیت کښ خلاصه د کُلِّ شَيْءٍ، ذکر ده چه مخکښ آیت کښ ذکر شو او د دے آیت په باره کښ عثمان بن مظعون رضی الله عنه فرمائیلی دی چه اول خو ما ایمان صرف د حیا د وجے نه راوړے وو او کله چه دا آیت نازل شو او زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وم نو ایمان کلک شو زما په زړه کښ مینه او محبت لے زیات شو د محمد صلی الله علیه وسلم سره. او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائیلی دی چه دا آیت په قرآن کښ ښه جمع کوونکے د خیر دے او د شر دے او د دے وجے نه عمر بن عبد العزیز امر کړیوو خطیبانو ته چه دا آیت په خطبو کښ اولولئ او ابن کثیر د اکثم بن صیفی او د هغه د قوم د ایمان راوړلو دپاره هم دا آیت سبب ذکر کړے دے. تشریح د دے آیت دا ده چه احکام شرعیه دوه قسمه دی ماموُرات رچه په هغے سره امر او حکم کړے

**إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ**

کله چه تاسو لوظ کړے وي او مه ماتوئ قسمونه

**بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ**

روستو د پوخوالی د هغے نه او یقیناً گرځولے تاسو الله تعالی لره

شوے وی) او منهیات (چه د هغے نه منع کړے شوے وی) بیا
مامورات دوه قسمه دی حقوق د الله تعالی او حقوق د بندګانو
و منهیات هم دغه دوه قسمونه دی، بیا حقوق د الله تعالی
په دوه قسمه دی یو عقائد او عبادات او دویم د هغے اوقات
و مقدار او کیفیات (طریقے) نو الْعَدْلِ، کښ حق د الله تعالی
اول قسم دے یعنی عقائد او عبادات یعنی توحید او ټول اعمال
د توحید عدل دے افراط او تفریط پکښ نشته. او په الْإِحْسَانِ،
کښ حق د الله تعالی دویم قسم دے یعنی طریقے او مقادیر
و اوقات او هغے ته سنت هم وئیلے کیږی او هغے ته خائسته طریقے
وئیلے شی. او حق د بندګانو په وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ، کښ ذکر دے
یعنی قربت والا (که نسبی وی او که سببی وی) یعنی عامو مؤمنانو
ته د هغوی حقوق ادا کول، دینی او دنیوی حقوق دواړه. او منهیات
هم دوه قسمه دی حقوق الله او حقوق العباد، او حقوق الله
کښ بیا دوه قسمه دی یو هغه چه د هغے قباحت په عقل او شرعے
دواړو سره معلوم وی لفظ الْفَحْشَاءِ، سره هغه مراد دے
په هغے کښ ټول اقسام د کفر او د شرک داخل دی او دروغ
غلا کول او زنا کول پکښ هم داخل دی. دویم هغه چه د
هغے قباحت صرف په شرعے سره معلومیږی لکه بدعات د
عقائدو او د اعمالو او په لفظ د الْمُنكَرِ، کښ هغے ته اشاره ده.
و حقوق العباد کښ ظلم کول په بندګانو باندے لوے ګناه ده
هغے ته اشاره ده په لفظ د الْبَغْيِ، سره نو معلومه شوه چه
په دے آیت کښ ټول دین اسلام داخل دے. يَعِظُكُمْ، معلومه
شوه چه په وعظ کولو کښ ذکر د ماموراتو او منهیاتو داخل دے.

عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

په ځان باندې ذمه وار، يقينًا الله تعالىٰ عالم دے

مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا

په هغه څه باندې چه کوئ تاسو. او مه کيږئ

س ٩١ :- هر کله چه تير شوی آيت کښې عهد دَ الله تعالىٰ ذکر کړے شو نو په دے آيت کښې ترغيب دے په وفا دَ عهد سره او منع کول دی دَ نقض عهد نه.

وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ، کښې اشاره ده چه دَ قسم کولو او دَ عهد کولو په وخت کښې دَ الله تعالىٰ نوم ذکر کولے شي.

وَاَوْفُوْا ، قرطبي وئيلی دی چه دا معطوف دے په معنی دَ ماقبل باندې يعنی الله تعالىٰ تاسو ته اوامر او نواهي رالیږلی دی او امر ئے کړے دے په ايفاء دَ عهدونو باندې.

بِعَهْدِ اللّٰهِ ، دا لفظ عام دے هر هغه عهد ته چه دَ الله تعالىٰ او رسول الله صلی الله عليه وسلم سره تړلے شوے دے (چه هغه په قرآن او حديث کښې دی) يا په مينځ دَ بندګانو کښې عهود او عقود وی دے ټولو ته شامل دے ليکن اول دَ عهدونو نه مراد قرآن حديث باندې عمل کول او په توحيد او سنت باندې وفا کول دی دَ دے وجې نه دلته ئے عَهْدُ اللّٰهِ وئيلے دے او په عهد کښې لفظ دَ اشهد وی او هغه په معنی دَ يمين (قسم) کښې دے دَ دے وجې نه اَلْاَيْمَانَ ، ئے او وئيلو او هر کله چه هر دعويدار دَ ايمان دَ الله تعالىٰ ذمه داري په وخت دَ عهد کښې ذکر کوی دَ دے وجې نه جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ، ئے او فرمائيل.

كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ

ښځې دَ هغه زنانه چه سپړ دلے ئې سپنږسئ خپله روستو

قُوَّةٍ أَنْكَاثًا ط تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ

دَ مضبوطوالی نه ټکړے ټکړے ، ګرځوئ تاسو قسمونه خپل

دَخَلًا بَيْنَكُمْ أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ

بے کاره په کورنئ خپله کښې دَ دلے وجے نه چه شته یوه ډله

هِيَ أَرْبَى مِنْ أُمَّةٍ ط إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ

ډیرو فائدو والا دَ بلے ډلے نه یقیناً ازمیښت کوی

اللهُ بِهِ ط وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ

الله تعالی په تاسو باندے پدے سره ، او خامخا بیان به کړی تاسو ته په ورځ

الْقِيٰمَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿۹۲﴾

دَ قیامت هغه شے چه تاسو په هغې کښې اختلاف کوئ ۔

ربط :- پدے آیت کښې منع ده دَ عهد ماتولو نه په طریقه دَ مثال سره ئې ذکر کړے دے او دا عطف دے په ولا تنقضوا الایمان باندے ۔ دَ مثال حاصل دا دے چه یو زنانه وی او جولا ګیری (کړې) کوونکے وی او لیونئ هم وی څکه چه اودلے شوے تارونه دوباره سپړی او ټکړے کوی نو عهد ماتوونکے دَ هغے ښځان دے ۔ نو معلومه شوه چه دَ الله تعالی عهد ماتوونکی دَ داسے زنانه ښځان بے عقله او بے شعوره دی او ځان ته نقصان رسوونکی دی ۔

تَتَّخِذُونَ ، پدیکښې همزه دَ استفهام دَ پاره دَ زجر پټ دے ۔

دَخَلًا بَيْنَكُمْ ، په معنیٰ دَ دهوکے سره دے یعنی سبب الدخل ، یا دَخَلًا په معنیٰ دَ فاسد (بیکاره) دے ۔ او سبب دَ نقض عهد بے ذکر کړے دے په أَنْ تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَى مِنْ أُمَّةٍ ،

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً

او که خوښتلے الله تعالیٰ خامخا کړځولے به یې وی تاسو یوه ډله

وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ يُّضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ

لیکن بې لارے کوی چاله چه او غواړی،

وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلَتُسْئَلُنَّ

او په لارے روانوی چاله چه او غواړی، خامخا تاسو نه به تپوس کیږی شی

عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا

د هغه عملونو نه چه تاسو یې کوئ۔ او مه ګرځوئ

سره یعنی مشرکان او کافران او بدعتیان تو ته نظر اوکړی نو هغوی ورته مالدار ښکاره شی د هغوی امدنی ډیره او وینی نو د دنیا د حرص د وجه نه عهد د توحید او طریقه د سنت پریږدی۔

اَنْ تَكُوْنَ، د دینه مخکښ لام پټ دے یعنی لان۔

اِنَّمَا يَبْلُوْكُمُ اللّٰهُ بِهٖ، پدے جملے سره جواب ورکوی چه الله تعالیٰ مشرکانو او بے دینو خلقو ته مالداری او آمدنی ډیره ورکوی ځکه چه په دے سره د مؤمنانو ابتلاء او امتحان کوی۔

تَخْتَلِفُوْنَ، اشاره ده چه نقضِ عهد سبب دے د پاره د اختلاف۔

س ۹۳:۔ هر کله چه تیر شوی آیت کښ اختلاف ذکر کړے شو چه هغه د نقضِ عهد په وجه سره پیدا کیږی نو پدے آیت کښ ذکر کوی چه دا اختلاف هم د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے دا رد دے په فرقه قدریه او معتزله باندے یعنی اضلال او هدایت پدے معنیٰ دے چه څوک د عهد نه واوړی او څوک په عهد باندے کلک پاتے شی دواړه په اختیار د الله تعالیٰ کښ دی۔

أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ

قسمونه خپل بې کاره په کوونې خپلو کښې نو او به خوئیږي

قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا

خپې ستاسو روستو د کلکوالی د هغې نه او او به څکئ

السُّوءَ بِمَا صَدَدْتُمْ عَنْ سَبِيلِ

عذاب په وجه د دې چه منع کوئ خلق د لارې

اللَّهِ ۚ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٩٤﴾

الله تعالی نه او ستاسو دپاره عذاب لوی دې۔

وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ اللَّهِ ثَمَنًا

او مه اخلئ په بدل د لوظ د الله تعالی کښې دنیا

قَلِيلًا ۚ إِنَّمَا عِنْدَ اللَّهِ هُوَ

لږه، یقینا هغه څه چه د الله تعالی سره دي هغه

---

وَلَتُسْأَلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ، کښې اشاره ده چه انسان مجبور محض نه دې نو دا رد دې په فرقه جبریه باندې۔

مسئله: په دې آیت کښې منع ده د قسم او د عهد ماتولو نه هغه چالره چه مقتدا وي لکه عالم، پیر امام وغیره نو تکرار نشته، او د تخصیص وجه دا ده چه د ده په عهد ماتولو سره د ده د تابعدارو خپې هم د حق دین نه اوخوئیږي نو هم ضال وي او هم مضل شي۔

فَتَزِلَّ قَدَمٌ، نه مراد قدمونه د تقلید کوونکو دي یا قدمونه د هغه مقتداء مراد دي او اوله معنی غوره ده په قرینه د بِمَا صَدَدْتُمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ سره۔

خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۵﴾

غوره دی تاسو لره که تاسو پوهیږئ۔

مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ

هغه څه چه تاسو سره دی فنا به شی او هغه څه چه د الله تعالیٰ سره دی

بَاقٍ ۗ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا

باقی دی، او خامخا بدله به ورکوم هغه کسانو ته چه صبر ئے کړیدے

اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾

ثوابونه د هغوی په عوض د هغه ښه کارونو چه دوی کول۔

ف ۹۵:۔ په دے آیت کښ هم منع کول دی د نقضِ عهد نه د دنیا د مال او جاه په حرص سره یعنی چه حق دین د توحید او سنت د دنیا د مال او اقتدار د وجے نه مه پریږدئ۔ او دیته اشتراء هم وائی او تفصیل د دے اشتراء په سورة بقره ف ۴۱ کښ ذکر شوے دے۔

ثَمَنًا قَلِيْلًا، ټول متاع د دنیا ته وئیلے شی لکه په سورة توبه ف ۳۸ کښ او سورة نساء ف ۷۷ کښ دی۔

اِنَّمَا عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ، دا ترغیب دے جنت او آخرت ته.

ف ۹۶:۔ په دیکښ علت دے د ماقبل (خیر) د پاره او په دے کښ تزهید فی الدنیا دے یعنی د الله تعالیٰ په عهد او په دین باندے مضبوط کیدو سره چه کوم اجر او ثواب د الله تعالیٰ د طرف نه ملاویږی هغه نه ختمیږی او د دے دنیا مال او اقتدار فنا کیږی. او په عهد باندے مضبوطوالی ته په دے آیت کښ صبر وئیلے شویدی. لفظ اَحْسَنِ، ئے د دے وجے نه ذکر کړے دے چه حسن مباح ته وئیلے کیږی او په مباح عمل کولو سره اجر نه ملاویږی او احسن کښ سنت او واجب او فرض داخل دی۔ یا د احسن اضافت مَا يَعْمَلُوْنَ، ته اضافت بیانیه دے۔

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ

چا چه عمل کړے دے برابر دَ سنت سره که نارینه وی

أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ

او که زنانه او حال دا چه مؤمن وی نو خامخا ژوند به ورکوو مونږ ده ته

حَيَٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ

ژوند دَ مزے ، او خامخا بدله ورکوو دوی ته

أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

دَ ثوابونو دَ دوی په عوض دَ ښه کارونو چه دوی کول۔

فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ

نو هر کله چه غواړے ته چه لولے قرآن نو (اول) پناه غواړه په الله تعالیٰ سره

ت ۹۷ :- په دے آیت کښ بشارت دے هغه چاته چه په عهد باندے وفا کوی - او هغے ته ئے په ایمان او عمل صالح سره تعبیر کړے دے -

حَيَٰوةً طَيِّبَةً ، غوره قول دا دے چه په دے سره هغه ټول نعمتونه مراد دی چه په هغے سره خوشحالی په دنیا او آخرت کښ حاصلیږی او په دے کښ داخل دے حلال رزق او قناعت او توفیق دَ طاعاتو په دنیا کښ -

او دویم قول دا دے چه مراد دَ دینه جنت دے ځکه بغیر دَ جنت نه ژوند نه خائسته کیږی -

أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ، تیر شوی آیت کښ جزاء دنیوی مراد ده او دلته جزاء اخرویه مراد ده -

مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ﴿۹۸﴾ اِنَّهٗ
دَ شیطان رټلی شوی نه
لَيۡسَ لَهٗ سُلۡطٰنٌ عَلَى الَّذِيۡنَ
یقیناً نشته دہ لرہ وس دَ گمراہ کولو پہ هغه چاچه
اٰمَنُوۡا وَعَلٰى رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُوۡنَ ﴿۹۹﴾
ایمان یٔ راوړے دے او په خپل رب باندے توکل کوی۔
اِنَّمَا سُلۡطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيۡنَ
یقیناً وس دَ گمراہ کولو دَ دۂ په هغه کسانو دے

س ۹۸:- په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته سره دَ ادب نه وجه دَ ربط دا ده چه قرآن کښ تذکیر دَ عهد دَ الله تعالیٰ دے۔ او تعوذ باالله دَ دے دَ پاره دے چه دَ شیطان دَ وسوسو نه بچاؤ حاصل شی ځکه چه شیطان دَ قرآن نه منع کول کوی او انسان ته دَ تخویف او غلط تاویل کولو وسوسے اچوی او دَ الله تعالیٰ دَ عهد نه یٔ غافل کوی۔

الرَّجِيۡمِ، چه په هغه باندے په قرآن کښ لعنتونه وئیلے شویدی او دَ هغه قبیح احوال ذکر دی۔

فَاِذَا قَرَاۡتَ الۡقُرۡاٰنَ، مراد دَ قراءت نه اراده دَ قراءت ده۔

فَاسۡتَعِذۡ۔ امر دے په طلب سره او اعوذ باالله وئیل امتثال دَ حکم دے نو غوره اعوذ باالله وئیل دی۔

س ۹۹:- په دے آیت کښ مراد دَ سُلۡطٰنٌ، نه داسے گناه ته لمسول مراد دی چه هغه نه مخلے کیږی یعنی شرک، یا تر ینه توبه نه او باسی لکه بدعات کول او دا نفی دَ سلطان خاص دے او داسے په سورة حجر س ۴۲ کښ هم دی او که سلطان په معنی دَ زور یا دلیل شی نو دَ هغے نفی عامه ده لکه په سورة ابراهیم س ۲۲ آیت کښ۔

۱۳ ع ۱۱ ۱۹

يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ ع

چه دده سره دوستانه کوی او هغه کسان چه په سبب دَ وسوسو دَده سره مشرکان دی۔

وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ ۙ لا

او کله چه بدل را وړو مونږ یو آیت په ځائے دَ بل بانډے

وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوْٓا

او الله تعالیٰ ښه پوهه دے په هغه څه چه نازلوی ئے دوی وائی

اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

یقیناً ته خو دروغ جوړونکے ئے، بلکه زیات خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ

نه پوهیږی۔ ته اُووایه نازل کړے دے دا قرآن روح

ف۱۰۰:۔ دلته دَ سلطان نه مراد هغه سلطان خاص دے چه په مخکښ آیت کښ نفی شوے ده۔

بِهٖ مُشْرِكُوْنَ، ضمیر دَ بِهٖ الله تعالیٰ ته راجع دے یعنی دَ الله تعالیٰ سره شرک کوی، او یا دا ضمیر شیطان ته راجع دے او معنیٰ دا چه (بسبب اغوائهم) یعنی په سبب دَ وسوسے دَ شیطان په شرک کښ اخته شوی دی۔

ف۱۰۱:۔ په دے کښ زجر دے منکرینو دَ قرآن ته چه په قرآن بانډے اعتراض کوی په باره دَ نسخ کښ چه دا افتراء او دروغ دی، او بحث دَ نسخ په تفسیر دَ سورۃ بقره ف۱۰۶ کښ تیر شوے دے۔

اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ، کښ اشاره ده چه نسخ او تبدیل کښ دَ الله تعالیٰ ډیر حکمتونه وی۔

لَا يَعْلَمُوْنَ، یعنی دوی دَ نسخ په حکمتونو بانډے علم نه لری او معلومه شوه چه دا اعتراض کوونکی جاهلان دی۔

الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ

پاک د طرف د رب ستا نه په حق سره

لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى

د دے د پاره چه کلک کړی مؤمنانو لره په ایمان د دے) او هدایت دے

وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ وَلَقَدْ

او زیرے دے د پاره د مسلمانانو۔ او یقیناً

نَعْلَمُ اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا يُعَلِّمُهٗ

پوهیږو مونږ چه بیشکه دوی وائی یقیناً خودلے دے دا قرآن ده ته

بَشَرٌ لِسَانُ الَّذِيْ يُلْحِدُوْنَ

یو انسان، ژبه د هغه کس چه غلط نسبت کوی

اِلَيْهِ اَعْجَمِيٌّ وَّهٰذَا لِسَانٌ

دوی هغه ته عجمی ده او دا قرآن ژبه

عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۰۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

عربی ده واضح۔ یقیناً هغه کسان

ف ۱۰۲:۔ په دے کښ جواب د تیرشوی اعتراض دے یعنی دا افتراء نه ده بلکه د جبرئیل علیه السلام په واسطه سره الله تعالیٰ نازل کړیدے او درے فائدے ئے ذکر کړی دی،

اوله فائده تثبت او مضبوطوالے په دین باندے د قرآن کریم په سبب سره دے۔

دویمه فائده پوره هدایت د عقیدے او احکامو۔

دریمه فائده خوشحالی او اطمینان۔

ف ۱۰۳:۔ په دے آیت کښ تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته او جواب د دویم اعتراض د منکرینو دے، هغه دا دے

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ لَا يَهْدِيْهِمُ

چه ایمان نه لري په آیاتونو دَ الله تعالیٰ هدایت (توفیق) نه ورکوي دوئ ته

اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾ اِنَّمَا

الله تعالیٰ او دَ دوي دپاره عذاب دردناک دے. یقیناً

يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

جوړوي دروغ هغه کسان چه ایمان نه لري

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

په آیاتونو دَ الله تعالیٰ او دغه کسان دوي دروغژن دي.

مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ

چا چه کفر اوکړو په الله تعالیٰ روستو دَ ایمان راوړلو نه

چه دوي وئیل چه دے نبي ته یو بنده نصراني تعلیم ورکوي او هغه زمونږ دَ دین یعني دَ شرک نه مخالف دے او عجمي دے. حاصل دَ جواب دا دے چه هغه بنده خو عجمي دے او دا قرآن عربي فصیح بلیغ دے عجمي شخص په دے قدرت نه لري. "اَعْجَمِيٌّ" هغه دے چه وضاحت او فصاحت سره خبره نشي کولے که عربي وي او که غیر عربي وي.

۱۰۴:- تخویف دے منکرینو دَ قرآن ته او آیت کښ اشاره ده چه عدم ایمان په قرآن باندے سبب دَ محرومیدلو دے دَ هدایت نه.

او دَ "لَا يُؤْمِنُوْنَ" نه مراد دغه اعتراضات کوونکي دي نو دوي ضدیان او عنادیان دي.

۱۰۵:- دا جواب دَ دوي دَ هغه قول دے چه دوي نبي ته نسبت دَ افتراء کوؤ یعني منکرینو دَ قرآن کریم یو خو په الله تعالیٰ باندے افتراء کوي شریک او دَ ولد نسبت ورته کوي او بل دا چه دوي همیشه دروغ وائي.

إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ

سوا د هغه چا نه چه زور پرے اوکړے شو او زړه د هغه کلک وي

بِالْإِيمَانِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ

په ایمان باندے لیکن چاچه پرانستله سینه خپله

بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ

کفر قبلولو ته نو په دوی باندے غضب

مِّنَ اللَّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۱۰۶﴾

د الله تعالیٰ دے او دوی د پاره عذاب لوئے دے۔

ف ۱۰۶ :- په دے آیت کښ تخویف دے نقض کوونکو د عهد ته په سبب د مرتد کیدلو، او په دے کښ بیان د حال د هغه چا دے چه افتراء کوی په الله تعالیٰ باندے نو په دے وجه د مخکښ سره ربط دے۔
إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ ، دا استثناء ده د کفر نه چه په معنیٰ د تلفظ کولو دے په کلمه د کفر سره او اکره هم په معنیٰ د اکراه کولو په تلفظ د کفر باندے نو استثنا متصل صحیح شوه۔ او شرح بالکفر سره تکرار هم نه لازمیږی۔ مراد د اکراه نه دا دے چه دباؤ کوونکے د قتل یا د قطع د اقدام د دے قدرت لری۔ په اسے وخت کښ به په عزیمت باندے عمل کول غوره دی یعنی که قتل کړے شی نو هغه ته اجر حاصلیږی او شهید دے او په رخصت باندے عمل کول جائز دی او رخصت دا دے په کلمه د کفر سره په ژبه تلفظ اوکړی خو په زړه کښ پوخ مؤمن وی۔
مَنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا ، مراد شرح نه قبلول د کفر دی بغیر د شک شبهے نه۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ

دا دَ دے وجے نه چه دوی خوخ کړیدے ژوند

الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ

دَ دنیا په آخرت باندے اوپه دے وجه چه الله تعالیٰ

لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۷﴾

توفیق نه ورکوی قوم کفر کوونکی ته۔

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ

دا هغه خلق دی چه مهر وهلے دے الله تعالیٰ

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۚ

په زړونو دَ دوی او په غوږونو دَ دوی او په سترګو دَ دوی باندے

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ لَا جَرَمَ

او دغه کسان دوی بے پرواه دی۔ خامخا

اَنَّهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۰۹﴾

دوی به په آخرت کښ تاوان والا وی (په همیشه عذاب سره)

س۱۰۷:۔ په دے آیت کښ دوه سببونه دَ ماقبل ذکر کړے دی اول محبت دَ دنیا دے استحباب محبت دے سره دَ غوره کولو نه او آخرت نه غافل کیدل دی، او بل سبب دا چه هدایت دَ الله تعالیٰ عنادی کافرانو ته نه ملاویږی۔

س۱۰۸:۔ دا نتیجه دَ ماقبل قبائحو ده په دنیا کښ او طبع په ابصارو باندے زیاته ده دَ غشاوة نه دَ پردو نه او په دے کښ دَ منکرینو دوه صفتونه ئے ذکر کړی دی۔

س۱۰۹:۔ دا نتیجه دَ ماقبل ده په آخرت کښ او په دے کښ دَ دوی یو صفت ذکر کړے دے چه خسران کامل دے۔

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا

بیا یقیناً ستا رب هغه کسانو ته چه هجرت ئے کړے دے

مِنْ بَعْدِ مَا فُتِنُوْا ثُمَّ جٰهَدُوْا

روستو د هغې نه چه تکلیفونه ورسولے شو یدی بیا ئے جهاد کړیدے

وَصَبَرُوْۤا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا

او صبر ئے کړیدے یقیناً رب ستا روستو د دے (کارونو) نه

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۰﴾ يَوْمَ تَاْتِيْ كُلُّ

بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ په هغه ورځ چه راشي هر

نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا

نفس کوشش به کوی د عذاب دفع کولو د ځان نه

وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

او پوره به ورکړے شي هر نفس ته بدله د عملونو د هغه

وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ

او دوی باندے به ظلم نشي کیدے۔ او بیان کړیدے الله تعالیٰ

رکوع ۱۴

۱۱۰: ربط د دے آیت د اکراه سره دا دے چه په دے آیت کښ د اکراه د کافرانو نه د بچ کیدلو د پاره طریقه ذکر کړے ده چه هغه هجرت دے او ترغیب دے هجرت ته۔

او فُتِنُوْا، نه مراد اکراه ده او آیت کښ اشاره ده چه پس د هجرت کولو نه بیا هم جهاد کول او صبر کول ضروری دی۔

مِنْۢ بَعْدِهَا، دا ضمیر په تاویل د خصلت سره جهاد او صبر دواړو ته راجع دے۔

۱۱۱: په دے آیت کښ تخویف اخروی دے د پاره د منکرینو او د تارکینو د هجرت۔

مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً

مثال د یو کلی چه امن والا وُه په قلاره (اطمینان سره)

يَّاْتِيْهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ

وُه راتلله په هغوی ته خوراکونه پریوانه د هر

مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ

ځائے نه نو ناشکری ئے اوکړه د نعمتونو د الله تعالیٰ نه

فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ

نو اوڅکوله هغوی ته الله تعالیٰ جامه د لوږے

وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

او د ویرے په سبب د هغه کارونو چه دوی همیشه کول ۔

تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا ، عذرونه پیش کولو د پاره په یو وخت وی او د
وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ، سورة مرسلات ۳۶ د پاره په
بل وخت وی نو تعارض نشته دے ۔
عَنْ نَّفْسِهَا ، کښ اشاره ده چه پلار ، ځوئے ، ورور وغیره
د ده د طرف نه په جدال نه کوی د هغوی نه به ناامیده شی
نو پخپله به مجادله شروع کړی ۔
۱۱۲ :- په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے مشرکینو ته او دیکښ
اشاره ده نزول د عذاب او قحط ته په اهل مکه باندے او دائے
مثال کړځولے دے د پاره د نورو خلقو یا قَرْيَةً ، نه مراد بله
قریه ده په طریقه د مثال سره لکه قریه د سبا والو په سورة
سبا ۱۵ ، ۱۶ کښ ذکر ده او دا رنګ د مثال د پاره په خارج کښ
وجود شرط نه وی بنا په اول قول سره مکه معظمه اګرچه په
جوار د بیت الله کښ ده لیکن هر کله چه مکے والو د الله تعالیٰ د
نعمتونو ناشکری اوکړه نو نعمتونه ترینه بند شول او عذاب د

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ

او یقینًا راغلے دے دوئته رسول د دوی د جنس نه

فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ

نو دوی هغه ته دروغژن اوئیل نو اونیول دوی لره عذاب

وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ فَكُلُوْا مِمَّا

او دوی ظالمان وو- نو خورئ د هغے نه

قحط پرے شروع شو نو نورکلی والا چه داسے ناشکره شی. نو هغوی به ځنګه بچ شی د عذاب د الله تعالیٰ نه-

فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ ، قحط او لوږه مشابه کړے شوه د لباس سره، لکه ځنګه چه لباس احاطه کړے وی په بدن بانډے نو دا رنګ قحط او خوف په دوی باندے احاطه اوکړه- یا دا مطلب دے چه اثار د قحط په دوی باندے داسے ښکاره شول لکه لباس چه په بدن باندے ښکاریږی او سبب د دے قحط دعاء شر د نبی صلی الله علیه وسلم ده په دوی باندے چه اللهم اجعلها علیهم سنین کسنی یوسف او دیته اشاره ده په سورة دخان ۱۰، ۱۱ کښ- او تعبیر ئے په اذاقها سره ځکه اوکړو چه مراد د ذوق نه چوخت کیدل او پیوست کیدل دی لکه په ذوقوا العذاب کښ دے یا ذوق په معنیٰ مشهوره (څکل) سره دے او اشاره ده چه د دنیا عذاب لږ وی په نسبت د آخرت.

فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ ، پدے سورت کښ ډیر نعمتونه ذکر شول د دے وجے نه د دے تخصیص ئے پدے آیت کښ اوکړو او کفر نه مراد شرک کول او د رسول نه انکار کول دی.

يَصْنَعُوْنَ ، هغه عملونه چه همیشه ئے کوی او ښه کار ئے ګنړی.

س۱۱۳:- په دے آیت کښ ذکر د لوے نعمت دے هغه دا چه رسول ئے د دوی د جنس او د قوم نه رااولیږلو یعنی دوی خو د مخکښ زمانے نه شرک کوؤ چه هر کله رسول دوئته رااولیږلے شو

رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ص

چه در کړیدے الله تعالیٰ تاسو ته حلال پاک

وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

او شکر کوئ دَ نعمت دَ الله تعالیٰ که تاسو

اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ

خاص هغه لره بندګی کوئ یقینًا حرام کړیدہ

اوحجت په دوی باندے قائم شو او دوی بیا هم انکار اوکړو نو عذاب دَ قحط وربانده راغے۔

كَذَّبُوْهُ، تفسير دے دَ فکفرت بانعم الله او فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ، تفسیر دے دَ فاذاقها الله الجوع والخوف۔

ظٰلِمُوْنَ، نه مراد شرک کول دی۔

۱۱۴:- خلاصه : دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے اُوم باب دے په دیکښې رد دے په شرک فی التحلیل والتحریم باندے تر ۱۱۷ پورے او ذکر دَ تحریم قهری دے زجرًا په ۱۱۸ کښې۔ بیا بشارت دے په سبب دَ توبه کولو سره په ۱۱۹ کښې۔ بیا دلیل عقلی دے دَ ابراهیم علیه السلام نه دَ پاره دَ رد په مشرکینو او دَ هغه لس اوصاف او احوال یې ذکر کړی دی دَ ۱۲۰ نه تر ۱۲۳ پورے۔ او جواب دَ سوال دے په ۱۲۴ کښې، بیا ترغیب دے دَ دعوت او تبلیغ ته په ذکر کولو دَ پنځه ادابو سره تر آخر دَ سورت پورے۔

تفسیر:- په دے آیت کښې رد دے په تحریم لغیر الله باندے او دَ دے تشریح په سورة بقره او سورة مائده کښې تیره شویده۔ او په دیکښې تفسیر دے دَ کفران کولو دَ مشرکینو چه مخکښې آیت کښې ذکر شو لکه نعمتونه دَ الله تعالیٰ چه په ځان باندے یې حرام کړے وو۔ نو امر اوکړے شو چه دا حلال اوګنړئ۔ او په دے آیت کښې دلیل دے چه دَ الله تعالیٰ حلال حلال منل او شکر کول

عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ

الله تعالیٰ په تاسو باندې مرداره او وينه او غوښه

الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ

دَ خنزير او هر هغه شے چه آواز اوكړے شي دَ نذر دَ غير الله

بِهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ

په هغے باندې نو څوک چه ناچاره شو نه وُو طلبگار دَ مزے

وَلَا عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ

او نه دَ حد نه تيريدونكے وُو نو يقيناً الله تعالیٰ بخنه كوونكے

رَحِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ

رحم كوونكے دے. او مه وايئ هغه څيز ته چه بيانوي يې

أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَٰذَا حَلَالٌ

ژبې ستاسو دروغ چه دا څيز حلال دے

دا هم عبادت دے۔

وَاشْكُرُوْا ، هر كله چه دا سورت دَ نعمتونو سورت دے دَ دے وجے نه پدے سورت كښ دَ واشكروا نعمت الله ذكر يې اوكړو۔

١١٥ :- په دے آيت كښ رد دے په تحليل دَ غير الله او نذر دَ غير الله باندے يعني مشركينو دا مذكور څيزونه حلال گنړل او حال دا دے چه دا حرام په ټولو دينونو كښ دي۔ تفسير دَ آيت په سورة بقره كښ تير شوے دے۔ هر كله چه په مخكښ آيت كښ نسبت دَ رزق وركولو الله تعالیٰ ته صراحتًا كړے دے دَ دے وجے نه دلته دَ تحريم نسبت هم الله تعالیٰ په صيغه دَ معلوم سره اوكړو۔

وَّهٰذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ

او دا څیز حرام دے د دے د پاره چه جوړوئ په الله تعالیٰ باندے

الْكَذِبَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ

دروغ ، یقیناً هغه کسان چه جوړوی

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ ؕ

په الله تعالیٰ باندے دروغ نشی بچ کیدلے (د عذاب نه)۔

مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۪ وَّلَهُمْ عَذَابٌ

(دوی لره) مزه لږه ده او دوی لره عذاب

اَلِيْمٌ ﴿۱۱۷﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا

دردناک دے۔ او په هغه کسانو باندے چه یهودیان دی

۱۱۶:- په دے آیت کښ رد دے د مشرکانو په تحلیل او تحریم باندے روستو د بیان د حکم د هغے نه په تیرشوؤ دوؤ آیتونو کښ یعنی تحلیل او تحریم د بندګانو په اختیار کښ نه دے۔ او په دے آیت کښ تصریح ده چه څوک د ځان نه تحلیل او تحریم کوی نو دے په الله تعالیٰ باندے افتراء کوی او داسے کس د الله تعالیٰ د عذاب نه نشی بچ کیدلے۔

لِمَا تَصِفُ، لام اجلیه دے او هٰذَا حَلَالٌ ، مقوله ده د قول یا لام شانیه دے یعنی په باره د هغے کښ چه ستاسو ژبے بیانوی۔ الْكَذِبَ ، مفعول د لا تقولوا دے او هذا حلال تفسیر د الکذب۔ لیکن اوله توجیه غوره ده ځکه چه دویمه توجیه کښ الکذب مفرد مقوله د قول نشی کیدلے مګر په تاویل سره۔

۱۱۷:- دا جواب د سوال دے چه د مشرکانو لره ډیر نعمتونه ورکړے شویدی نو معلومه شوه چه دوی په حقه دی جواب اوشو چه دا د دنیا لږه مزه ده زر به ختمه شی۔ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ، خبر ئے حذف دے لهم۔ یا مبتدا محذوف ده یعنی متاعهم متاع قلیل۔

حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ

حرام کړي وو هغه څه چه بيان کړي دي موږ په تا باندې د

قَبْلُ ۚ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا

دينه مخکښې او ظلم نه دے کړے موږ په دوی باندې ليکن دوی

أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ

پخپلو ځانونو باندې ظلم کوی۔ بيا يقيناً ستا رب

لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ

هغه کسانو لره چه بد کارونه کوی په ناپوهئ سره

ثُمَّ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ

بيا ئې توبه اوکړه روستو د دے نه

وَأَصْلَحُوْٓا إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا

او عمل ئې کوؤ برابر د سنت سره يقيناً ستا رب روستو د دے نه

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٩﴾ إِنَّ إِبْرٰهِيْمَ ع ١٥ ٢١

بخنه کوؤنکے رحم کوؤنکے دے۔ يقيناً ابراهيم (عليه السلام) وو

ف ١١٨ :- په دے آيت کښې بيان د خاص تحريم دے په يهوديانو باندے او مقصود پرې يکښې تخويف دے يعنی لکه چه د هغوی بغی سبب د تحريم د نعمتونو شو نوکه تاسو بغی اوکړئ نو الله تعالیٰ به په تاسو باندے هم نعمتونه حرام کړی او د دے آيت تشريح په سورة انعام ف ١٤٦ کښې او سورة النساء ف ١٦٠ کښې تيره شوې ده۔

ف ١١٩ :- په دے آيت کښې ترغيب دے توبه کولو ته۔

عَمِلُوا السُّوْٓءَ، هر ګناه ته شامل دے۔

او بِجَهَالَةٍ، اشاره ده چه هر ګناه کوؤنکے په وخت د ګناه کولو

كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا ط وَلَمْ يَكُ

وو پیشوا (ددین بیانوونکے) تابعدار دَ الله تعالیٰ یو خ موحد، او نه وو دے

مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ

دَ مشرکانو دَ ډلے نه . شکر کوونکے وو دَ نعمتونو دَ الله تعالیٰ

اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَىٰ صِرَاطٍ

غوره کړے یوو ده لره او هدایت ئے کړے یوو دَ ده لارے

مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَآتَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا

نیغے ته . او ورکړے یوو مونږ ده ته په دنیا کښ

حَسَنَةً ط وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ

خائسته ژوند ، او یقیناً دے به په آخرت کښ دَ

الصَّالِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

کامیابو نه وی . بیا وحی اوکړه مونږ تا ته

کښ جاهل وی یعنی په دغه وخت کښ دَ گناه دَ عاقبت نه ناخبر وی.

مِنۢ بَعْدِهَا ، ضمیر په تاویل دَ خصلت سره توبے او اصلاح ته راجع دے . په دے کښ اشاره ده چه دَ توبے سره عمل صالح یو ځائے وی نو مغفرت او رحمت دواړه حاصلیږی .

۱۲۰ ، ۱۲۱ ، ۱۲۲ :- په دیکښ دلیل نقلی دَ ابراهیم علیه السّلام ئے په دے وجه سره ذکر کړو چه نیکه وو دَ مشرکین مکه او دَ یهود او نصاریٰ ، او دا رنگ مشرکانو به دعویٰ کوله چه مونږ په ملت دَ ابراهیم علیه السلام باندے یو نو په ذکر دَ ابراهیم علیه السلام سره ئے په هغوی باندے رد اوکړو چه هغه خو مشرک نه وو . بیا په دے آیتونو کښ دَ ابراهیم علیه السلام پنځه اوصاف ذکر کړے شوی دی . ع ۱ امة ، ع ۲ قانت ، ع ۳ حنیف

أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ط

چه تابعداری کوه دَ ملت دَ ابراهیم (علیه السلام) چه پوخ موحد وو

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (۱۲۳)

او نه وو دَ مشرکانو دَ ډلې نه.

إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ

یقیناً مقرر کړے شوے وو تعظیم دَ ورځ دَ خالی په هغه خلقو باندې

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ط وَإِنَّ رَبَّكَ

چه اختلاف ئې کړے وو په هغې کښې (په ورځ دَ تعظیم کښې) او یقیناً ستا رب

ع۴ لم یک من المشرکین ع۵ شاکراً لانعمه.
دَ اُمَّةً، نه مراد دا دے چه یواځې دَ امت په شان مضبوط وو
یا دا چه خود نه کوونکے دَ خیر وو. یا دا چه امام وو. او بیا پنځه
احوال دَ ابراهیم علیه السلام دی. ع۱ اجتباه، ع۲ هداه، مراد
دا دے چه صراط مستقیم ته دَ دعوت کولو طریقه یا دلیلونه
الله تعالی ده ته خودلی وو. ع۳ اتینه فی الدنیا حسنة، مراد
دَ دے دا دے چه انبیاء دَ دینه روستو ټول دَ ده په اولاد
کښې راولیږلے شول، یا دا چه دَ ده نیک ذکر او خائسته ستائنه
په روستو خلقو کښې پاتې شوه. ع۴ او وانه فی الآخرة لمن
الصلحین، او ع۵ حال په روستو آیت کښې دے.

س۱۲۳:۔ تابعداری دَ ملت ابراهیمیه په اعلان دَ براءت کښې دَ
معبودانو باطلو نه او دَ تمام مشرکانو نه او په اکثر احکامو
فروعیه کښې هم ده. دا ځکه په وحی سره په آخری نبی صلی الله
علیه وسلم باندې فرض کړے ده.

لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

خامخا به فیصله اوکړي په مینځ د دوی کښ په ورځ د قیامت په هغه څه

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اُدْعُ

کښ چه دوی په هغې کښ اختلاف کوی۔ بلنه کوه

اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ

لارې د رب ستا په ښکلې طریقې سره

وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ

او په وعظ ښائسته سره او جواب کوه د دوی

بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ

د خبرو په هغه طریقې سره چه ښائسته وی، یقینًا ستا رب

۱۲۴:۔ په دے آیت کښ جواب د یو شبهے دے، هغه داده چه د
ابراهیم علیه السلام په دین کښ د خالی د ورځ تعظیم لازم وو۔
او ته اے نبی د هغې نه مخالفت کوے، حاصل د جواب دا دے
چه تعظیم د خالئ ورځ فرض کړے شوے وو په الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا
فِيْهِ، یا ندا بے او هغه یهودیان وو، دا تعظیم په دین ابراهیم
علیه السلام کښ نه وو۔
او د الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ، مطلب دا دے چه الله تعالیٰ دوی له
اختیار ورکړو چه په هفته کښ یوه ورځ د تعظیم د پاره مقرر
کړئ او ورسره یې اوفرمائیل چه جمعه زما په نیز غوره ده۔
نو لازم داوه چه دوی خپله رضا د الله تعالیٰ د رضا تابع کړیوے
لیکن دوی د سبت (خالی) ورځ غوره کړه او دوی او نصارٰی
په کښ مختلف شول۔ او نصارٰی په زمانه د قسطنطین کښ د
دوی په خلاف کښ د اتوار ورځ غوره کړه۔

هُوَ اَعۡلَمُ بِمَنۡ ضَلَّ عَنۡ سَبِيۡلِهٖ

هغه ښه پوهه دے په هغه چاچه واوړی د لارے د هغه نه

وَهُوَ اَعۡلَمُ بِالۡمُهۡتَدِيۡنَ ﴿۱۲۵﴾ وَاِنۡ

او هغه ښه پوهه دے په هدايت والو ۔ او که

عَاقَبۡتُمۡ فَعَاقِبُوۡا بِمِثۡلِ مَا عُوۡقِبۡتُمۡ

تاسو بدله اخلئ نو بدله واخلئ په مقدار د تکليف درکړے شوی

بِهٖ ؕ وَلَئِنۡ صَبَرۡتُمۡ لَهُوَ

ستاسو، او که تاسو صبر اوکړو نو دا

۱۲۵:- په دے آيت کښ تيزی ورکوی په دعوت کولو باندے او تر آخر د سورت پورے د هغے پنځه اداب ئے ذکر کړی دی۔ په دے آيت او د ديته بعد کښ امر د دعوت دے په اُدۡعُ سره او تخصيص د مقصد د دعوت دے او طريقه د دعوت او نتيجه د دعوت او حکم د مصائبو د دعوت ذکر کړے شوے دی او مقصد د دعوت اِلٰی سَبِيۡلِ رَبِّكَ، دے مراد د ديته توحيد او نور عقائد دی چه پدے سورت کښ ذکر شول، او طريقه د دعوت دا ده اول اثبات د مدعی (د مسئلے) په پاخه او يقينی دليلونو سره او ديته اَلۡحِكۡمَةِ، وائی ځکه چه حکمت په معنیٰ د اِتقان د علم او د عمل دے او د دے حکمت تفصيل په سورة اسراء ۳۹ کښ ذکر شويدے نو مراد د دينه قرآن او حديث صحيح دے۔ نو دا اشاره ده هغه عقلی دليلونو او نقلی ته چه په دے سورت کښ ذکر شوے دی دويم ترغيب مدعی ته په ذکر د بشارتونو او انعاماتو او تخويفاتو او زجرونو سره دے او ديته اَلۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ، وائی او دريم جواب د شبهاتو دے په نرمه طريقه او لهجه سره او په دے جوابونو کښ د مخاطب چپ کول دی ځکه ئے هغه ذکر کړه په وَجَادِلۡهُمۡ بِالَّتِیۡ هِیَ اَحۡسَنُ، سره۔

خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَاصْبِرْ وَمَا

ډير ښه دے د پاره د صبر ناکوخلقو۔ او صبر کوه او نه دے

صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ

صبر ستا مګر په مدد د الله تعالیٰ سره دے او مه غمژن کیږه

عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ

په دوی باندے او مه کیږه په تنګسیا کښ

مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ

د هغے نه چه دوی څه چلونه جوړوی۔ یقیناً الله تعالیٰ خاص

او اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ، سره اشاره ده چه ستاسو په ذمه دعوت کول دی او هدایت د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے او دا اشاره ده نتیجے د دعوت ته۔

۱۲۶:۔ په دے کښ اشاره ده مصائبو د دعوت ته او د هغے علاج په دوه طریقو سره دے اول معاقبه (یعنی بدل اخستل) په مثل سره، او دویم صبر کول او دویمه طریقه غوره ده۔

۱۲۷:۔ په دیکښ بیان د درے ادابو دے دعوت کوونکی د پاره۔ اول ادب وَاصْبِرْ، تیر شوی آیت کښ اختیار وو د معاقبے او د صبر کولو او په دے آیت کښ تعین د صبر دے وجه د دے دا ده چه هغے آیت کښ خطاب وو عام داعیانو ته او دے آیت کښ مخاطب دے امیر د داعیانو چه اول د ټولو نه نبی صلی الله علیه وسلم دے بیا د هغه نائبان دی۔ او د دواړه په حال کښ فرق پکار دے۔

او دویم ادب، وَلَا تَحْزَنْ، مراد د دینه منع ده د اظهار د غم او افسوس نه پس اسے طریقه سره چه د نور کار نه غافل شی۔

او دریم ادب، وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ، مراد د دیه غم او بے صبری کول دی۔

مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ

ملګرے دے (په امداد کولو) د هغه چا چه تقوٰی لری (ځان بچ کوی) او د هغه

هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ع ﴿۱۲۸﴾ رکوع ۱۶ / ۲۲

کسانو چه ښائسته کارونه کوی۔

س ۱۲۸ :- په دے آیت کښ بشارت دے داعی ته په معیت خاصه د الله تعالیٰ سره چه هغه نصرت کول دی لیکن په دوؤ شرطونو سره د پاره د داعی، یو تقوٰی او دویم احسان او احسان په معنیٰ د اخلاص دے۔

تقوی نه مراد عقیده د توحید ده او د شرک نه بچ کیدل او د محسنون نه مراد اعمال صالحه دی یا د تقوٰی نه مراد ترک د منهیاتو دے او د محسنون نه مراد عمل د طاعاتو دے۔

فائده :- هرم بن حبان رضی الله عنه ته په وخت د ځنکدن کښ اُوئیلے شول چه مونږ ته وصیت اوکړه نو هغه اُوئیل زهٔ تاسو ته وصیت کوم په آخری آیتونو د سورة النحل سره۔

تمت بخير سورة النحل

سورۃ بنی اسرائیل مکیۃ | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ | ایاتها ۱۱۱ رکوعاتها ۱۲

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښ چه رحمٰن او رحیم دے

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ

پاکی ده الله تعالیٰ لره (د هر قسم شرک او عیبونو نه) داسے ذات دے چه بوتلے تلو بنده خپل

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورۃ بنی اسرائیل

سورۃ بنی اسرائیل او بل نوم ئے اسراء او بل سورۃ سبحان دے

ربط :- د دے سورت د سورۃ النحل سره دا دے چه سورۃ النحل کښ رد وو په استدلال د مشرکانو باندے سره د تخویف د عذاب نه نو په دے سورت کښ ذکر کوی اسباب د عذاب دا رنګ د سورۃ النحل په آخر کښ په طریقه د دعوت کښ لفظ د حکمت ذکر کړے دے نو په دے سورت کښ د حکمت تفسیر دے. دا رنګ سورۃ النحل کښ ذکر ده شفاء وو په عسل کښ دلته د شفاء د پاره قرآن ذکر کوی.

دعوی :- دعوای د دے سورت دا ده، ذکر د څلور اسبابو د عذاب د پاره د تحذیر، سره د طریقے د دفع کولو د عذاب نه.

سبب اول انکار دے د توحید نه.

او د اثبات د توحید د پاره څلور طریقے دی.

اوله طریقه :- رد په اقسامو د شرک او په مشرکینو باندے دیارلس کرته.

دویمه طریقه :- ذکر کول د دیارلس اسماؤ حسنیٰ د الله تعالیٰ.

دریمه طریقه :- عقلی دلائل او آیت وحییه یعنی معجزات.

څلورمه طریقه :- ذکر د دعوے د توحید سپږ کرته او د سبب اول نمونه ئے بنی اسرائیل ذکر کړے دی.

دویم سبب انکار د معجزاتو او آیات الهیو نه او د هغے مثال په

# لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

په ټکره دَ شپې کښې دَ مسجد حرام نه

ثمود او په واقعه دَ آدم علیه السلام او ابلیس سره۔
سبب دریم ویستل دَ رسولانو دَ وطن نه او دَ هغې مثال په هجرت دَ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره۔
سبب څلورم استهزاء کول په رسولانو پورے او دَ دے مثال په واقعه دَ موسیٰ علیه السلام او دَ فرعون سره۔
خلاصه دَ دے سورت :- دا سورت تقسیم دے څلورو حصو ته او په هره حصه کښې ئے یو یو سبب ذکر کړے دے۔
اوله حصه تر ۵۸ پورے ده او په دے کښې اول ذکر دے دَ دعوے دَ توحید او اثبات دَ هغې په معجزه دَ اسراء سره او په دلیل عقلی سره په ۱ کښې، بیا دلیل نقلی دَ کتاب دَ موسیٰ علیه السلام نه په ۲ کښې، بیا ترغیب توحید ته په ۳ کښې، بیا ذکر دَ نمونے دَ عذاب په حال دَ بنی اسرائیلو سره دَ ۴ آیت نه تر ۸ آیت پورے، بیا معجزه دَ قرآن دَپاره دَ اثبات دَ توحید او تخویف او بشارت ۹، ۱۰ آیتونو کښې، بیا زجر اول په طلب کولو دَ شر سره په ۱۱ آیت کښې بیا دلیل عقلی ۱۲ آیت کښې۔ بیا تخویف اخروی ۱۳، ۱۴ آیتونو کښې، بیا ذکر دَ حکمت دَ ارسال رسل ۱۵ آیت کښې۔ بیا تخویف دنیوی ۱۶ آیت کښې او دَ هغې نمونه ۱۷ آیت کښې، او تخویف اخروی ۱۸ آیت کښې، بیا بشارت ۱۹، ۲۰، ۲۱ آیتونو کښې۔ بیا دَ عذاب دَ دفع کولو دَپاره درے امور ئے ذکر کړی دی۔ اول دَ شرک نه بچ کیدل ۲۲، ۲۳ آیتونو کښې۔
دویم احسان دَ مخلوق سره دَ ۲۳ نه تر ۳۰ پورے۔
دریم عدل کول او دَ ظلمونو نه بچ کیدل او هغه لس امور ئے ذکر کړے دی۔
بیا دویم زجر په شرک بالملائکه سره ۴۰ آیت کښې۔ او

اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِىْ

تر مسجد اقصٰی پورے هغه چه

بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا

برکات اچولے دی موبز چاپیره دَ هغې نه دَپاره دَ دے چه او خایو ده ته دَ نخو دَ توحید [illegible]

اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ①

یقیناً الله تعالٰی هرڅه اوری او هر څه وینی

دریم زجر په نفرت کولو سره دَ قرآن نه، بیا مسئله دَ توحید او دَ رد دَ شرک ۴۳، ۴۴ کښ. بیا څلور زجرونه اول په انکار دَ قرآن سره ۴۵ آیت کښ، او دویم په انکار دَ توحید نه ۴۶ آیت کښ. او دریم په انکار دَ رسول نه ۴۷ آیت کښ او څلورم په انکار دَ بعث نه دَ ۴۹ آیت نه تو ۵۲ آیت پورے. بیا ترغیب توحید نه ۵۳، ۵۴ آیت کښ. بیا دلیل عقلی ۵۵ کښ، بیا رد په مشرکین بالجن باندے سره دَ رد دَ شرک فی التصرف او شرک فی الدعاء نه ۵۶، ۵۷ ۵۸ آیتونو کښ.

تفسیر:- ۱:- په دے آیت کښ دعوٰی دَ توحید ذکر شوے ده په سُبْحٰنَ، سره او دَ هغې دَ اثبات دَپاره معجزه دَ اسراء ذکر شوے ده او دیته دلیل وحی هم وئیلے کیږی، او دلیل عقلی په اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ، سره دے.

تحقیق دَ اسراء او معراج:-

اسراء په اصل لغت کښ دَ شپے بوتللو ته وئیلے کیږی او معراج بره خیژولو ته وائی: بیا دَ مسجد حرام نه مسجد اقصٰی پورے دَ شپے بوتلل دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه دَ معجزے سره، دیته اسراء وئیلے کیږی لکه پدے آیت کښ چه ذکر شوے دے او آسمانونو ته خیژول دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه شپه کښ دیته معراج وئیلے کیږی، او هغه هم معجزه ده. او محدثین کرام دا دواړه لفظونه دَ یو بل په ځائے

استعمالوی یعنی ټولے واقعے ته اسراء هم وائی او معراج هم وائی۔
او په قرآن کښ په دے آیت کښ تر مسجد اقصٰی پورے د اسراء واقعه ده، او په سورة نجم کښ د آسمانونو معراج ذکر کړے شوے دے۔ او دا رنګ روایت کوونکی د حدیث د معراج څلور څلویښت صحابه کرام دی نو دا حدیث متواتر دے دا ئے ابن کثیر او قرطبی ذکر کړیدی۔ نو معلومه شوه چه واقعه د معراج په دلیل قطعی سره ثابت ده، او دا رنګ د مسلمانانو په دے باندے اجماع ده نو معلومه شوه چه انکار کوونکی د دینه زندیق او ملحد دی دا رنګ ابن کثیر هم دا حکم ذکر کړے دے۔
او دا معراج د بیدارئ په حال کښ په بدن او په روح دواړو سره شوے دے او په دے باندے اجماع د امت ده۔ او امام بیهقی ثابت کړیده چه اسراء او معراج دواړه په یوه شپه کښ شویدی اول اسراء ده تر مسجد اقصٰی پورے بیا معراج د آسمانونو دے دویم قول د دے په عکس سره دے لیکن اول قول غوره دے۔
د یو څو شبهاتو جوابات:
اول شبه دا ده چه په حدیث د بخاری جلد ۲ ص ۱۱۲۱ کښ په روایت د انس بن مالک رضی الله عنه سره دا الفاظ راغلی دی چه د (فاستیقظ وهو فی المسجد الحرام) د دینه معلومیږی چه دا معراج په خوب کښ وو؟
جواب:- دا حدیث په روایت د شریک بن عبدالله سره دے او په شریک باندے تهذیب التهذیب جلد ۴ ص ۳۳۸ کښ کلام دے چه دے قوی نه دے۔ دے به ډیر خطا کیدلو او دے د تقدیر نه منکر وو۔ او امام نووی په شرح د مسلم کښ د قاضی عیاض په حواله سره وئیلی دی چه د شریک په روایت کښ اوهام دی او امام بخاری نور روایات په

غیر دَ روایت دَ شریک نه ذکر کړیدی او په هغې کښې دا الفاظ نشته دے۔
دویمه شبه :- امام بیهقي په دلائل النبوة کښې حدیث دَ ابن مسعود رضی الله عنه ذکر کړے دے او دَ هغې نه معلومیږی چه دا دَ خوب واقعه ده؟ جواب دا دے چه په دے سند کښې ابو هارون عبدی راوی دے او ابن کثیر وئیلی دی چه دا راوی بے اعتباره وو۔ او اکذب من فرعون ئے ورته وئیلی دی۔
دریمه شبه دا ده :- حدیث دَ عائشه رضی الله عنها چه ابن جریر راوړے دے په هغې کښې تصریح ده چه دا واقعه روحانی ده؟
جواب دا دے چه دَ دے روایت په سند کښې یو راوی محمد بن حمید دے او میزان الاعتدال جلد ۳ ص ۵۳۰ کښې په هغه باندے جرح کړے شوے ده ردی المذهب او کذاب ورته وئیلے شوی دی۔ او بل راوی محمد بن اسحاق دے او په هغه باندے ډیر اصحاب الجرح والتعدیل کلام کړے دے چه په حدیث کښې کذاب او دجال وو او عنعنه دَ هغه په اتفاق سره قبوله نه ده او دَ دے حدیث ښکاره دلیل دَ ضعف بلکه دَ وضع دا دے چه عائشه صدیقه رضی الله عنها هغه وخت ډیره وړه وه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ئے نکاح شوے نه وه۔
څلورمه شبه :- ابن جریر حدیث دَ معاویه رضی الله عنه نه نقل کړے دے چه هغه به واقعه دَ معراج ته رؤیا صالحه صادقه وئیل؟
جواب دا دے چه په دے سند کښې هم هغه دوه راویان دی چه په هغوی باندے حدیث دَ عائشه رضی الله عنها کښې کلام تیر شو۔
دویم جواب دا دے چه لفظ دَ رؤیا صریح نه دے په خوب لیدلو کښې او دا بحث به انشاء الله په تفسیر دَ لفظ رویا دَ دے سورت ۶۰ کښې راشی۔
پنځمه شبه :- په دغه شپه کښې دَ انبیاؤ علیهم السلام سره

ملاقات شوی دے او هغوی سره خبرے کړے شوی دی او مونځ ئې هم کړے دے او موسیٰ علیه السلام د تخفیف د مونځونو د پاره رسول الله صلی الله علیه وسلم بار بار واپس الله تعالیٰ ته لیږلے وو۔

دا ټول دلالت کوی چه پیغمبران پس د وفات نه هم ژوندِ دنیوی لری او خبرے او عبادات وغیره کولے شی؟

جواب دا دے چه واقعه د معراج معجزه ده او عالم مثال دے په هغے کښ ټول ارواح د انبیاء علیهم السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ممثل کړے شوے وو، سِوا د عیسیٰ علیه السلام نه چه د هغه ژوند حقیقی وو. او د دے دلیل هغه حدیث دے چه (مثلت لی الانبیاء) بیضاوی خازن وغیره ذکر کړے دے۔

او دا رنګ ملا علی قاری په مرقات شرح مشکوٰة کښ ډیر کرته تصریح کړے ده چه ارواح ممثل کړے شوے وو او هغه په جلد ۱۱ او صفحات ۲۲، ۱۴۱، ۱۴۳ او ۱۴۵ کښ ذکر کړی دی او فتح الملهم شرح مسلم جلد ۱ ص ۳۱۵ کښ وئیلی دی چه د هیچا نه نقل نشته چه انبیاء علیهم السلام په دغه شپه کښ د قبرونو نه آسمانونو ته نقل شوی وو،

او دا رنګ په صحیح احادیثو سره ثابت ده چه په دغه شپه اولاد د آدم علیه السلام هغه خپل ښی طرف او کینړ طرفته لیدلے وو او دا رنګ یل حدیث کښ هغه واعظان د دے امت چه بے عمله دی هغه ئې په جهنم کښ لیدلی وو او حال دا چه هغوی تر دغه وخت پورے پیدا شوی هم نه وو نو دا ټول ممثلات وو۔

په دے آیت کښ لفظ د بِعَبْدِهٖ، دلیل دے چه د رسول صلی الله علیه وسلم بدن او روح په دواړو سره معراج کړے شوے دے او بله اشاره ده چه د هغه لوے مقام د

وَاٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ

اوورکړے وو موسیٰ (علیه السلام) ته کتاب او ګرځولے وو مونږ هغه

هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا

هدایت دپاره د بنی اسرائیلو چه مه

تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا ﴿۲﴾

نیسئ سوا زما نه کار ساز۔

ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ

اے اولاد د هغه چا چه مونږ سواره کړی وو د نوح علیه السلام سره

اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا ﴿۳﴾

یقینًا هغه وو بنده شکر ګذار۔

عبدیت وو او لفظ د لَیْلًا، نکره ده، دلالت کوی چه د شپے په لږه حصّه کښ ئے بوتلے وو۔

۲:- په دے آیت کښ دلیل نقلی دے د کتاب د موسیٰ علیه السلام، چه هغه کتاب هم د توحید دپاره نازل کړے شو یوو۔ او د تورات خلاصه په دے آیت کښ ذکر کړے شوے ده هغه دا ده چه د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک ذمه وار او کار ساز مه جوړوئ او دا سے په سورۃ مزمل آیت ۹ کښ هم ذکر دی۔ او دا مقصد دے په معنیٰ د سبحان کښ۔

۳:- په دے آیت کښ ترغیب دے د توحید منلو ته په دوو طریقو سره۔ اول دا چه ما په تاسو انعام کړے چه ستا سو نیکونه د نوح علیه السلام سره په کښتی بچ کړی وو۔ او دویم دا چه ستاسو پلار (نوح علیه السلام) توحید والا وو او توحید بیا نوونکے وو۔ او دا معنیٰ د شکورًا ده نو ولے د خپل نیکونو نه مخالفت کوئ او د ذُرِّيَّةَ، نه مخکښ لفظ د یا او په آخر د آیت کښ لفظ اشکروا پټ دے۔

وَقَضَيْنَآ اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

او فیصله اوروله وه مونږ بنی اسرائیلو ته

فِى الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى الْاَرْضِ

په کتاب کښ خامخا فساد به کوئ په زمکه کښ

مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ④

دوه کرته او لوئ به کوئ ناسو لوئ ډیره۔

ربط :- هرکله چه تیر شوی آیاتونو کښ مسئله دَ توحید ټې په دلیلونو سره ثابته کړه نو اوس حال دَ بنی اسرائیلو ذکر کوی چه هرکله دوی دَ دے مسئلے دَ توحید نه دوه کرته مخالفت اوکړو نو دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په دوی باندے ظالمان بادشاهان مسلط کړے شول او دا دَ الله تعالیٰ عذاب دنیوی دے په سبب دَ انکار دَ توحید سره چه په خلقو باندے راځی۔ اوس هم دا عبرت دے چه نن زمانه کښ هم دَ اسلام په دعوٰی کوؤنکو باندے ظالمان بادشاهان مسلط دی یا دَ دشمن په مقابله کښ کمزوری دی دا دَ دے وجے نه چه په عقیده کښ صحیح توحید نشته بلکه په هر قسم شرکیاتو او نورو ظلمونو کښ اخته شوی دی هاں لږ کسان به وی دَ قیامت تر نزدیکت پورے چه هغوی به په توحید باندے کلک او مضبوط وی په سبب دَ حدیث دَ لا تزال طائفة من امتی سره په قَضَيْنَآ ، کښ اشاره ده چه دا په تورات کښ په طریقه دَ پیشگوئی سره ذکر ده لکه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم دَ ډیرو فتنو او ملاحمو پیشگوئی کړی دی او هغه رشتینیا دی۔

لَتُفْسِدُنَّ ، مراد دَ فساد نه مخالفت کول دی دَ شریعت دَ موسیٰ علیه السلام نه او بیا دَ شریعت دَ عیسیٰ علیه السلام نه په شرک کولو سره یعنی دَ موسیٰ علیه السلام نه روستو دوی دَ الیاس علیه السلام او دَ عزیر علیه السلام زمانه کښ په شرک کښ اخته شول او

فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا

نو هر کله چه راغله نیټه (وعده) د اول فساد د هغې دوارو نه نو را اولېږل مونږ

عَلَیْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ اُولِیْ بَاْسٍ

په تاسو باندې بندګان زمونږ چه ډیر سخت

شَدِیْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّیَارِ ؕ

جنګ والا وو نو ورننوتل په مینځ د کورونو کښې،

وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۝۵ ثُمَّ

او دا وه وعده پوره کړې شوې. بیا

دا رنګ پس د رفع د عیسیٰ علیه السلام نه دوی عیسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ سره شریک کړو او هغه ته یې د الله تعالیٰ ځوئې اُوئیلو او دا رنګ په دوارو زمانو کښې احبار او رهبان یې د الله تعالیٰ سره شریک کړل او قبورو د انبیاؤ او د بزرګانو نه یې مساجد جوړ کړل نو دیته فساد وائي.

وَلَتَعْلُنَّ، په دې کښې اشاره ده تورو ظلمونو او معاصي او بدعاتو ته او تعدي کول په حقوق العباد کښې او دا په دوی کښې په کثرت سره ښکاره شول د دې وجې نه یې عُلُوًّا کَبِیْرًا، اُوئیل.

ف :- په دې آیت کښې عِبَادًا لَّنَآ. نه مراد جالوت او د هغه ملګري دي او د هغوی واقعه په سورة بقره کښې تیره شوې ده.

فَجَاسُوْا، مراد د دینه د کورونو تالاشي کول او د هغې بې عزتي کول او د هغې نه خلق شړل دي او لفظ د لَّنَآ کښې لام د ملکیت د پاره دې یعنې دغه بندګان اګرچه ظالمان وو خو هغوی هم په اختیار او تصرف د الله تعالیٰ کښې وو.

رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ

واپس درکړه مونږ تاسو ته غلبه په هغوی باندے

وَأَمْدَدْنَاكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِينَ

او زیات کړل مونږ ستاسو مالونه او ځامن

وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾

او جوړ کړئ مونږ تاسو ډیرے ډلے والا۔

إِنْ أَحْسَنْتُمْ أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ

(او ئیل مونږ) که تاسو په توحید باندے کلک شوئ نو فائده مود خپل ځان دپاره ده

وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ فَإِذَا

او که تاسو بد کوئ نو دا به خاص وی ستاسو په نفسونو پورے، نو کله

جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا

چه راغله نیټه د روستنی فساد (مقرر کړل مونږ په تاسو ظالمان) چه وران وبیجاړ کړی

وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ

مخونه ستاسو او چه داخل شی مسجد ونو ته

كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ

لکه چه داخل شوے وو اول ځل

ف۶ :- اشاره ده هغه واقعے ته چه سورة بقره کښ تیره شوے ده چه داؤد علیه السلام جالوت لره قتل کړو الله تعالیٰ بنی اسرائیلو لره فتحه ورکړه او د دوی نسل ئے هم زیات کړو په سبب د واپس کیدلو د دوی توحید او اطاعت ته۔

وَّلِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا تَتْبِيْرًا ﴿۷﴾

او چه تس نس کړی هغه څه چه وس ئې برشی پوره تس نس کول۔

عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يَّرْحَمَكُمْ

نزدے ده چه رب ستاسو رحم اوکړی په تاسو باندے

وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا

او که تاسو اوګرځیدل لئ رفساد ته) او به ګرځوو موږ (ستاسو سزا ته) او مقرر کړے مونږ

ف:۔ دَ احسان نه مراد دا دے که تاسو په توحید باندے کلک پاتے شوئ نو دا ستاسو فائده ده۔

فَلَهَا، معنیٰ دا ده چه سزا دَ دے بدئ دے نفس لره خاص ده لام دَپاره دَ تخصیص دے دَپاره دَ نفع نه دے۔

فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ، پدے کښ اشاره ده چه هرکله دوی دَ عیسیٰ علیه السلام دَ دین نه مخالف شول او شرک ئې اوکړو نو قسطنطین بادشاه او بخت نصر بادشاه په دوی باندے مسلط شو۔

لِيَسُوْٓءٗا وُجُوْهَكُمْ، معنیٰ دا ده چه په تاسو باندے نور ظالمان مقرر کړل نو عاقبت دا شو چه هغوی دا سے ظلمونه اوکړل چه ستاسو مخونه ئې وران کړل۔ یا دَ وجوه نه مراد سرداران او مشران دی چه هغوی ئې ذلیل کړل۔

وَلِيَدْخُلُوْا، نه مراد داخلیدل دی مسجد ته دَپاره دَ شرک کولو او دَپاره دَ خرابولو دَ هغے۔

لفظ دَ تَتْبِيْرًا، کښ اشاره ده چه دَ دوی فساد دَ مخکنو په نسبت باندے ډیر وو۔ ځکه چه مفعول مطلق او دَ باب تفعیل نه دے په ډیر تاکید او کثرت باندے دلالت کوی۔

جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ﴿٨﴾

جهنم د کافرانو د پاره جیل خانه .

اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ

یقیناً دا قرآن خودنه کوی د هغه لارے

هِيَ اَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ

چه هغه نیغه ده او زیرے ورکوی مؤمنانو ته

الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ

هغه کسان چه عملونه کوی برابر د سنت سره یقیناً

لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ﴿٩﴾ وَّاَنَّ الَّذِيْنَ

دوی لره ثواب لوے دے . او یقیناً هغه خلق

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا

چه ایمان نه لری په آخرت باندے تیار کړے دے موږ

۸ :- په دے آیت کښ په لفظ د يَرْحَمَكُمْ ، کښ اشاره ده بعثت د نبی صلی الله علیه وسلم ته .

وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ، په دیکښ اشاره ده چه هرکله دوی د آخری رسول نه مخالفت اوکړو نو نبی صلی الله علیه وسلم بنو نضیر اوشړل او بنو قریظه ئے اکثر اووژل ، او بیا د عمر رضی الله عنه زمانه کښ ئے د جزیرة العرب نه هم اوشړل .

حَصِيْرًا ، د حصر نه دے په معنی د راګیرولو سره نو جهنم کښ به دا کافران راګیر شی بل طرف ته نه شی وتلے نشی .

۹ ، ۱۰ :- دا آیت تعلق لری د دعوے د توحید سره چه سبحٰن ده ، چه دا مسئله د دے کتاب ده نو دا دلیل وحی دے یا متعلق دے د يَرْحَمَكُمْ سره څکه چه مراد د رحمت نه بعثت د آخری نبی صلی الله علیه وسلم دے سره د انزال قرآن نه نو

ع ۱۰ لَهُمۡ عَذَابًا اَلِيۡمًا ﴿۱۰﴾ وَيَدۡعُ

دوی لره عذاب دردناک . او غواړي

الۡاِنۡسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالۡخَيۡرِ ؕ

انسان بدئ لره پشان د غوښتلو د خیر ،

وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ عَجُوۡلًا ﴿۱۱﴾ وَجَعَلۡنَا

او دے انسان تلوار کښ لے . او ګرځولے دی مونږ

الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيۡنِ فَمَحَوۡنَاۤ

شپه او ورځ دوه دلیلونه د توحید نو کمه کړیده مونږ

اوس ترغیب ورکوی قرآن ته د پاره د بچ کیدلو د ذلت او د عذاب نه . او ترغیب دے بنی اسرائیلو او عامو انسانانو لره قرآن ته او د قرآن حکمت د نزول ئے ذکر کړے دے چه دا هدایت او بشارت او انذار دے .

وَاَنَّ الَّذِيۡنَ ، نه مخکښ يُنۡذِرُ یا يُخۡبِرُ پټ مراد دے او دا دواړه حکمتونه تفصيلًا د سورة کهف په اول کښ ذکر کړے شوی دی .

لَا يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ ، اشاره ده چه سبب د فسادتو او ظلمونو کولو انکار ذے د آخرت نه .

۱۱ :- په دے آیت کښ زجر دے په استعجال د عذاب سره یعنی د قرآن نه هدایت اخستل پکار دی او د دغه نعمت شکر ضروری دے . لیکن د هغه په مقابله کښ دوی دُعاءِ شر شروع کړله لکه په سورة الانفال ۳۲ آیت کښ .

دُعَآءَهٗ بِالۡخَيۡرِ ، لکه په سورة حٰم سجده ۴۹ کښ او سورة روم ۳۳ کښ .

وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ عَجُوۡلًا ، یعنی فطری طور سره انسان په هر کار کښ تلوار کوی لکه سورة الانبیا ۳۷ کښ یا دا معنی ده چه

ایَةَ الَّیۡلِ وَجَعَلۡنَآ ایَةَ النَّهَارِ

نخښه د شپې او وګرځوله دې مونږ نخښه د ورځې

مُبۡصِرَةً لِّتَبۡتَغُوۡا فَضۡلًا مِّنۡ

رڼرا والا د پاره د دې چې طلب کړئ فضل د

رَّبِّکُمۡ وَلِتَعۡلَمُوۡا عَدَدَ السِّنِیۡنَ

رب د طرف نه او د دې د پاره چې او پیژنئ شمار د کلونو

وَالۡحِسَابَ ؕ وَکُلَّ شَیۡءٍ فَصَّلۡنٰهُ

او حساب لره ، او هر ضروری شے واضح کړې دے مونږ

تَفۡصِیۡلًا ﴿۱۲﴾ وَکُلَّ اِنۡسَانٍ اَلۡزَمۡنٰهُ

په پوره وضاحت سره . او هر انسان سره لازم کړې دے مونږ

انسان دنیا فانی غوره کوی چه عاجله ده په آخرت باندے چه اجله ده.

سلا :- دا دلیل عقلی متعلق دے د دعوے د توحید سره او زجر دے چه انسان عجلت کوی لیکن پکار دی چه په دے آیتونو لیل ونهار کښ فکر اوکړی - دارنګ قرآن چه روحانی نعمت دے د هغے نه روستو دنیوی بدنی نعمتونه ذکر کوی د دے د پاره چه داخلق د دے شکر ادا کړی.

ایَتَیۡنِ ، یعنی شپه او ورځ د الله تعالیٰ د قدرت او د توحید دوه دلیلونه دی.

او ایة اللیل او ایة النهار کښ اضافت بیانیه دے یا مراد د ایتین نه شمس وقمر دی او تقدیر د آیت دا دے روجعلنا للیل وللنهار ایتین، یعنی پیدا کړی مونږ د شپې او د ورځې لپاره دوه علامتونه جدا جدا نو په اوله توجیه باندے د محو نه مراد تیاره د شپې ده او بنا په دویمه توجیه د محو نه

طٰٓئِرَهٗ فِیْ عُنُقِهٖ ؕ وَنُخْرِجُ لَهٗ

عمل دَ هغه په غاړه دَ هغه کښ اوراوبه باسو ده لره

یَوْمَ الْقِیٰمَةِ كِتٰبًا یَّلْقٰىهُ

دَ قیامت په ورځ یو کتاب چه مخامخ به شي ورسره

مَنْشُوْرًا ﴿۱۳﴾ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى

خور اوور۔ او لوله کتاب خپل ، پوره دے

مراد تور داغ دے په سپوږمۍ کښ۔
لِتَبْتَغُوْا ، دا متعلق دے دَ شپې او ورځے دواړو سره ځکه چه دَ ورځ فضل طلب کیږی په تجارت وغیره سره او دَ شپې هم فضل طلب کیږه په عبادت کولو سره ، یا دا متعلق دے صرف دَ اٰیة النهار سره او متعلق دَ شپې پټ دے لکه په سورة قصص ۷۳ کښ په دے آیت کښ دلیل دے چه حساب کول په شمر سره جائز دی۔ لیکن په هلال سره حساب کول فرض کفائی دی۔
وَالْحِسَاب دَ دینه مراد حساب دَ ورځو او دَ هفتو او دَ میاشتو دے، او فَصَّلْنٰهُ تَفْصِیْلًا ، دا سے دی لکه تبیانا لکل شی، مرا تر دینه ضروریات دَ دین دی یا مراد دَ دینه دا دے چه شپه او ورځ او نمر سپوږمۍ مونږ جدا جدا کړی دی۔

۱۳ :۔ په دے کښ تخویف اخروی دے۔ وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ ، او طائر په معنیٰ دَ عمل سره دے که خیروی او که شر وی که دَ شپې کوی یا دَ ورځے نو دَ مخکښ آیت سره ربط راغے۔ یعنی هر انسان مکلف سره هغه عمل دے چه کړے ئے وی نو دَ ده په غاړه دے یعنی ده لره به دَ هغے جزاء سزا ضرور ورکولے کیدے شی ، یا طائر په معنیٰ دَ قسمت دی یعنی سعادت او شقاوت۔ یعنی دَ تقدیر په وجه سره هر انسان سره سعادت یا شقاوت لازم دے۔
او فِیْ عُنُقِهٖ ، په عربئ کښ ذکر کیږی دَ پاره دَ لزوم او دَ ذمه داری.

بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ﴿۱۴﴾

ستا نفس نن ورځ په تا باندې حساب کوونکې۔

مَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي

چا چه هدایت اوموندلو نو یقیناً هدایت ئې اوموندلو

لِنَفْسِهِ ۚ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا

د پاره د ځان خپل او څوک چه بې لارې شو نو یقیناً

يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ

بې لارې کیږي وبال په هغه باندې وي، او نشي پورته کولې هیڅ پیټې والا

وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ

پیټې د بل چا ، او موږ نه یو عذاب ورکوونکي

حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا ﴿۱۵﴾ وَإِذَا أَرَدْنَا

تر دې پورې چه اولیږو رسول ۔ او کله چه اوغواړو موږ

كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنشُورًا، مراد دَ دینه عملنامه ده چه پاڼړې اړول نه غواړي پخپله یه خور اور وی۔

سا ۱۴ :- دا هم تخویف کښې داخل دے او مطلب دا دے که اُمّي وی او که لوستونکی وی لیکن خپل کتاب دَ اعمالو به پخپله اولولی او داسے په سورة القیامه سا ۱۴ آیت کښې هم دی۔

دَ اِقْرَأْ ،نه مخکښې لفظ دَ یُقَال پټ دے۔

سا ۱۵ :- په دے کښې اثار دَ عملونو رد دَ هغه عملونو چه په عملنامه کښې لیکلے شوې دی) او نتیجه دَ حساب ذکر کوی چه هر کس دَ خپل عملنامه نتیجه دَ خیر یا دَ شر به اوموهی، په بل چا باندے بوج نشی راتلے۔

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ، دا رد دے په هغه چا باندے چه عمل کوی او وائی چه ماته فلانی وئیلے دی ازار گناه به هغه

أَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا

چه هلاک کړو یو کلے نو حکم اوکړو عیش پرستو دَ هغے کلی ته (دَ توحید)

فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ

نو نافرمانی اوکړی په هغے کښ نو پوره شی په هغوی باندے فیصله دَ عذاب

باندے وی۔

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ، مراد دَ دیته عذاب دنیوی دے چه هغه موقوف دے په رسول لیږلو باندے یعنی خبر رسولو باندے اګرچه په واسطه دَ نائب دَ رسول وی دا رنګ په سورة هود ۱۱۷ کښ او انعام ۱۳۱ کښ ذکر دی۔ او دلیل دے په دے خبره باندے چه چاته دعوت دَ حق نه وی رسیدلے نو هغه مستحق دَ عذاب نه دے او هرچه عذاب اخروی دے نو بعضے اهل علمو وئیلی دی او دا دَ امام ابوحنیفهؒ نه هم روایت دے چه په باب دَ توحید او دَ ایمان کښ صرف تنبیه ضروری ده۔ او توحید حاصلیږی په عقل سره او په داعی سره، نو هر کله چه عقل پکښ وی او دعوت ورته نه وی رسیدلے نو دَ ایمان او دَ توحید په باره کښ به تری نه تپوس کیدلے شی او اکثر محدثینو وئیلی دی چه دا آیات او دا سے نور آیاتونه عام شته دے چه مراد ئے دا دے چه په غیر دَ رسیدلو دَ دعوت نه عذاب اخروی هم نه ورکوی دا قول غوره دے۔ او پدے باندے دَ بخاری دَ یو حدیث سره اعتراض کیدے شی چه په هغے کښ وئیلے دی چه دَ اور دَ پاره به الله تعالیٰ په آخرت کښ نور خلق پیدا کړی نو هغوی ته خو دعوت نه دے کړے شوے او اور ته به داخلیږی؟

دَ دے جواب تفسیر ابن کثیر ذکر کړے دے چه دا په راوی باندے قلب راغلے دے په اصل کښ دا جمله په باره دَ جنت کښ ده۔ او دَ جهنم په باره کښ خو صحیح روایت کښ راغلی دی چه الله تعالیٰ به په هغے کښ خپل قدم کیږدی نو هغه به

فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿١٦﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا

نو تباه کړو مونږ هغوی لره په لوے تباهۍ سره- او ډیر هلاک کړیدي مونږ

مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ بَعْدِ نُوْحٍ ط

پیړۍ روستو د نوح علیه السلام نه،

وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ

او پوره دے ستا رب په ګناهونو د بندګانو باندے

ډک شی او دا رنګ ابن کثیر د دے آیت د لاندے حکم د اهل فترة او د اطفال المشرکین په تفصیل سره ذکر کړے دے۔

۱۶ :- په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے او دا تفصیل د تیر شوی آیت دے یعنی هر کله چه الله تعالیٰ اراده د هلاک د یو قوم اوکړی نو د رسولانو په واسطه سره د هغے مالدارانو ته امر د توحید او د طاعت اوکړی لیکن هغوی مخالفت اوکړی نو عذاب پرے راشی، نو اشاره شوه چه هر څه د الله تعالیٰ په ارادے سره کیږی لیکن الله تعالیٰ هغے له سبب هم جوړوی نو د أَمَرْنَا معنیٰ دا شوه چه أَمَرْنَاهُمْ بِالتَّوْحِيْدِ وَالطَّاعَةِ۔ یا أَمَرْنَا، معنی ډیرول دی یعنی ډیر کړو مونږ مالدارانو لره یعنی د هغوی مالونه وغیره په طور د استدراج سره ډیر شی ځکه چه په ژبه د عربو کښ کله امر په معنیٰ د کثر سره راځی او دا د ابن عباس او ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے او امام بخاری د امر بنو فلان معنیٰ ډیر کړو مونږ فلانۍ قبیله) ذکر کړے ده۔

فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيْرًا، تدمیر، اکثر په هغے کښ استعمالیږی چه هلاکت په یو قوم باندے په یو ځائے راشی او تنبیر عام دے که لږ لږ عذاب وی او که په یو ځائے وی۔

خَبِيْرًا بَصِيْرًا ⑰ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

خبردار لیدونکے ۔ څوک چه غواړی دنیا ربه بدله د عمل

الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا

خپل ) نو ورکړو مونږ هغه لره په دے دنیا کښې

مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ

څومره چه اوغواړو د چا دپاره چه مونږ اوغواړو بیا

جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ يَصْلٰهَا

مقرر کړے دے مونږ هغه دپاره جهنم داخل به شی ورته

مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ⑱ وَمَنْ

بد وئیلے شوے رټلے شوے او څوک چه

ف۱۷:۔ په دے آیت کښې تخویف دنیوی دے په ذکر د اقوامو مکذبو سره۔

او مِنْ بَعْدِ نُوْحٍ، لفظ ئے د دے وجے نه اوئیلو چه ذکر د قوم نوح ته په آیت ف۳ کښې اشاره تیره شوے ده۔

مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ کښې اشاره ده چه د آدم علیه السلام نه تر نوح علیه السلام پورے خلق په توحید باندے وُو د دے وجے نه په هغوی باندے عذاب نه دے راغلے۔

خَبِيْرًا، هغه ذات چه عالم وی د څیزونو په باطن او رازونو باندے۔

ف۱۸:۔ په دے آیت کښې تخویف اخروی دے هغه چا لره چه دین ذریعه کرځوی۔ دپاره د دنیا او نه قصد کوی په هغے سره رضا د الله تعالیٰ،

او مَا نَشَآءُ، دلیل دے چه د انسان هرے تمنا کانے نه حاصلیږی۔

أَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا

غواړي آخرت او کوشش کوي هغې لره

سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ

کوشش دَ هغې مناسب او دے مؤمن وي نو دغه خلق

كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ⑲ كُلًّا

دَ دوي کوشش قبول کړے شوے دے ۔ او ډهر یو سره

نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ

امداد کوؤ مونږ دَ دے دنیا پرستو سره او دَ دے دینداړو سره دا دَ

او لِمَنْ نُّرِيْدُ ، په دے کښ اشاره ده چه هر طلبګار دَ دُنیا ته هم دنیا نه حاصلیږي هرڅه دَ الله تعالیٰ په مشیت او ارادے باندے موقوف دي او دا رنګ دَ سورة شوریٰ په ۲۰ آیت کښ دي لیکن هغه مطلق مقید دے په سبب دَ دے آیت سره۔

مَذْمُوْمًا ، ذم (بدي) وئیلے شوے او ملامته کړے شوي ته وئیلے شي۔

او مَدْحُوْرًا ، رټلے شوے شړلے شوے ۔ مذموم په نعمت دَ الله تعالیٰ کښ او مدحور په نقمت دَ الله تعالیٰ کښ۔

۱۹ :- پدے آیت کښ بشارت دے ۔ او سَعْيَهَا ، دَ دینه مراد هغه عمل دے چه دَ سنت سره موافق وي دا رنګ ابن کثیر ذکر کړے دے دا آیت دلیل دے په دے خبره چه دَ عمل دَ قبولیت دَ پاره دوه شرطونه دي یو ایمان او دویم عمل موافق وي دَ سنت۔

مَشْكُوْرًا ، قبلول دَ عمل دي پداسے طریقه چه دَ هغې برکات په دنیا کښ بښکاریږي او په آخرت کښ هم۔

عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ

بخشش دَ رب ستا نه دے، او نه دے بخشش

رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴿٢٠﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا

دَ رب ستا بند کړے شوے. اوګوره چه څه رنګ غوره والے ورکړے مونږ

بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ وَلَلْاٰخِرَةُ

بعضو دَ دوی لره په بعضو باندے، او خامخا آخرت

اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾

ډیر لوئیو درجو والا دے او ډیر لوئے فضیلت والا دے.

۲۰: دا آیت دَ مخکښ دوارو آیتونو سره متعلق دے او په دے کښ اشاره ده دے خبرے ته چه الله تعالیٰ دَ مشرکانو حاجتونه هم پوره کوی او دَ مؤمنانو هم پوره کوی.
عَطَآءِ رَبِّكَ، مراد دَ دے نه عطاء ده په دنیا کښ او دا مصداق دَ رحمانیت دے او په یکښ رد دے په مشرکانو باندے چه دَ شرک کولو سره دَ هغوی حاجتونه پوره کیږی او هغوی دا په خپل حجت کښ پیش کوی.
۲۱: په دے آیت کښ ذکر دے دَ دے خبرے چه عطاء دَ الله تعالیٰ په دنیا کښ په طریقه دَ مساوات سره نه ده بلکه په طریقه دَ فرق سره ده.

وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ، په یکښ اشاره ده چه دَ دنیا ترقی طلب کول نه دی پکار بلکه طلب دَ آخرت پکار دے. او اکبر، اسم تفضیل کښ اشاره ده چه په دنیا کښ هم تفاوت شته لیکن تفاوت دَ آخرت ډیر زیات دے.

لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ

مه جوړوه د الله تعالیٰ سره حقدار د بندګۍ بل

فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿۲۲﴾ ع

نو ناست به پاتې شې بد وئیلے شوے شرمیدلے.

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ

او فیصله کړیده ستا رب چه مه کوئ بندګي سوا د الله تعالیٰ نه

اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ط

د بل چا او د مور او پلار سره خیګړه کوئ.

۲۲:۔ د دے آیت نه شروع کیږی ذکر د هغې دریو څیزونو چه په هغې سره عذاب دفع کیږی او دا امور سبب د حصول د درجاتو د آخرت دی چه په لفظ د اکبر درجات کښ ذکر شول. نو اول په هغې کښ د شرک نه بچ کیدل دی او په دیکښ منع ده د شرک فی الالوهیت نه.

مَذْمُوْمًا، هغه چاته وئیلے کیږی چه د هغه بدئ او عیبونه وئیلے کیدے شي.

او مَخْذُوْلًا، هغه چاته وائي چه د ضرورت په وخت کښ د هغه دوست او مددګار نه وی نو مشرک به په ورځ د قیامت په اسے حال کښ شي چه نه یې الله تعالیٰ مدد کوی او نه به یې خپل معبودان، دا رنګ مذموم به وی د طرف د بندګانو نه او مخذول به وی د طرف د الله تعالیٰ نه.

او فَتَقْعُدَ، دلالت کوی چه دا حال به همیشه وی ځکه چه قعود دلالت کوی په مضبوط والی او دا رنګ اشاره ده چه مذموم او مخذول سړی د اودریدلو طاقت نه لري نو مجبورًا به ناست وی.

اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ

که چرې اورسي ستا په ژوند کښې بوډا والی ته

اَحَدُهُمَا اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ

يو د دې دواړو نه يا دواړه نو مه وايه

لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ

دوی ته اُف قدرې او زورنه مه کوه. دوی ته او وايه

لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿۲۳﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا

دوی ته وينا ادب ناکه۔ او کوز کړه دوی ته

۲۳:۔ په دې آيت کښې اولاً رد دې د شرک في العبادات او دا علت دې د تير شوي آيت کښې د نهي د پاره۔

وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا، د دې ځاى نه دويم امر دې د پاره د دفع د عذاب چه هغه احسان کول دي د مخلوق د الله تعالى سره او په دې آيت کښې درې اداب ذکر دي دوه نواهي او يو امر او احسان د والدينو د توحيد د الله تعالى سره متصل ذکر کړې دې دلته او په سورة بقره ۸۳، او سورة النساء ۳۶ کښې د هغې۔

اوله وجه دا ده چه معلومه شي چه د الله تعالى په بندګۍ کښې مور او پلار به هم نه شريکوې بلکه هغوی سره به صرف احسان کوې۔

دويمه وجه دا ده چه حق د مور او پلار دا نه دې چه په شرک او په ګناه کښې د هغوی طاعت اوکړيشي بلکه د هغوی حق احسان کول دي۔ او د احسان درې طريقې دي۔

اول دا چه د هغوی خير به لټوې په دعوت الى الحق سره په شان د ابراهيم عليه السلام۔

او دويمه طريقه دا ده چه د هغوی خدمت به کوې۔

جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ

وزر د عاجزئ د شفقت د وجې نه

وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ

او وايه اې ربه زما رحم اوکړې په دوی باندې لکه چه دوی زما پالنه کړې

صَغِيْرًا ﴿٢٤﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا

په وړوکوالي کښې. رب ستاسو ښهٔ پوهه دې په هغه څه

فِيْ نُفُوْسِكُمْ ۚ اِنْ تَكُوْنُوْا

چه ستاسو په زړونو کښې دی، که تاسو په زړه کښې

او دريمه طريقه مال خرڅ کول دی په هغوی باندې.

وَلَا تَنْهَرْهُمَا، ابن کثير وئيلی دی چه مراد د دينه لاس پورته کول دی په هغوی باندې په غصّې سره او صدور د فعل قبيح او د زورنې کلمات وئيل.

فَلَا تَقُلْ لَّهُمَا اُفٍّ، اف، دا آواز دې چه صادريږی د خلې نه په وخت د بدګڼړلو د يو څيز کښې نو مراد د افٍ نه هر يو ردی کلام دې چه هغه سبب د خفګان د مور او پلار وی.

قَوْلًا كَرِيْمًا، کريم، هغه وينا ده چه په عزت باندې دلالت کوی.

٢٤ :- وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ، په دې آيت کښې دوه آداب دی په صيغه د امر سره او دا کنايه ده د شفقت او د رحمت نه د هغوی سره لکه سورة حجر آيت ٨٨ کښې ذکر شوی دی. او دلته ئې لفظ الذل ذکر کړې دې ځکه دلته معنیٰ د طاعت او خدمت د وجې د رحم د زړه نه به وی نه د ريا او نه د عادت نه.

رَبَّيٰنِيْ، ربياني، په اصل کښې ربانی وو ليکن قاعده ده چه په داسې حال کښې دويمه باء په ياء سره بدليږی.

وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا، په دې کښې اشاره ده دې خبرې ته چه

صٰلِحِيْنَ فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ

اخلاص منديجئ نو يقيناً الله تعالى دے توبه کوونکو ته

غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾ وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ

بخنه کوونکے۔ او ورکوه خپلوانو ته حق د هغوی

وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ

او مسکین ته او مسافر ته او مه خرچ کوه مال

تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا

په بے ځایه خرچ کولو سره (هیڅ قسم)۔ یقیناً بے ځایه خرچ کوونکی دی

اولاد حق د مور او پلار نه شی پوره کولے نو دا دعا د هغے قائم مقام ده۔

۲۵:۔ په دیکښې اشاره ده صحیح کولو د نیت ته په احسان د مور او پلار کښې۔

صٰلِحِيْنَ، نه مراد اخلاص کوونکی د نیت دی په احسان د والدینو کښې۔

فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ غَفُوْرًا، په دے کښې اشاره ده دے خبرے ته چه دا دواړه صفتونه چه صالحین او اوابین دی د دوی یو بل سره ملازمه ده۔ اَوَّابِ، هغه چاته وائی چه د گناه نه توبه او باسی او بیا چه کله گناه یادوی نو استغفار وائی۔

فائده :۔ حدیث صحیح کښې راغلی دی چه صلاة الاوابین په هغه وخت کښې دی چه زمکه په نمر باندے دا سے گرمه شی چه د اوښانو د بچو خپے سوزوی او هغه وخت د ضحیٰ دے۔ او دا خبره چه مشهوره ده په عامو خلقو کښې چه صلوٰة الاوابین د ماښام په وخت کښې نفل کول دی نو دا خبره غلطه ده۔

۲۶:۔ روستو د حق د والدینو نه نور درے حقداران په دے آیت کښې ذکر دی او په دیکښې دوه اداب ذکر کوی یو امر دویم نهی۔

اِخْوَانَ الشَّیٰطِیْنِ ؕ وَ كَانَ الشَّیْطٰنُ

روڼره دَ شیطانانو ، او دے شیطان

لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾ وَ اِمَّا تُعْرِضَنَّ

دَ خپل رب نه ډیر ناشکره . او که ته مخ کرځوے

عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ

دَ دوی نه دَ پاره دَ طلب کولو دَ رحمت دَ رب ستا

تَرْجُوْهَا فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّیْسُوْرًا ﴿۲۸﴾

چه امید ئې لرے نو وایه دوی ته وینا نرمه .

او وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِیْرًا ، تبذیرًا ، دیته وائی چه مال په ناحقه طریقے سره خرچ کړی اګرچه یو روپۍ وی لکه په نذر دَ غیرالله کښ خرچ کول او په بدعاتو او رسمونو او په غیر ضروری څیزونو خرچ کول .

۲۷ :- داعلت دَ ماقبل نهی دے مبذر ځکه ورور دَ شیطان دے چه شیطان باطل ته خلق رابلی نو مبذر دَ مال په ذریعه دَ شیطان امداد کوی . دا رنګ شیطان دَ رب ناشکره دے نو دائے مبذرهم ناشکره دے نو دواړه دَ یو بل سره مشابه شول دَ دینه تعبیر کړیدے په ورورولئ سره .

۲۸ :- په دے آیت کښ دَ یو ادب قولی ذکر دے په وخت دَ عدم قدرت کښ په حق اداکولو باندے . او په دے ادب کښ دیته اشاره ده چه په وخت دَ اعراض کولو کښ دَ هغوی سپکول او بے عزتی کول منع دی .

او رَحْمَةٍ ، نه مراد وسعت دَ حال او دَ مال دے .

قَوْلًا مَّیْسُوْرًا ، مراد دَ دینه نرمه او خوږه خبره ده ، دویمه معنیٰ دا ده چه دوی له دعا او غواړه چه په دوی باندے سختی آسانه شی .

وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ

او مه گرځوه لاس خپل تړلے شوے د

عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ

غاړے سره او مه پرانیزه لاس خپل په پوره پرانستلو سره

فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴿٢٩﴾ إِنَّ

نو ناست به پاتے شے ملامته ستومانه (پښیمانه) یقینًا

رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ

رب ستا فراخوی رزق چالره چه اوغواړی

وَيَقْدِرُ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا ﴿٣٠﴾

او تنګوی ، یقینًا الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے خبردار دے

۲۹ :- په دے آیت کښ بیان د دوه ادابو دے په صیغه د نهی
چه حاصل د هغے یو ادب دے چه هغه میانه روی کول دی په خرچ
کولو او په صدقو کولو کښ او په اوله جمله کښ ئے تشبیه د بخیل
کړیده د هغه چا سره چه لاس ئے د غښت سره تړلے شوے وی
نو د هغه لاس بندوی د تصرف کولو نه په مال کښ نو دغه
حال د بخیل دے چه خپل مال ته ئے لاس نه ورسیږی۔
او دویمه جمله کښ مطلب دا دے چه مال بے ځایه مه خرچ
کوه اګرچه مباح وی۔
فَتَقْعُدَ ، دیکښ اشاره ده چه د ډیرے ملامتیا او پښیمانتیا د
د وجے نه به داسے شے چه د ځائے نه به نه شے پاڅیدے۔
مَلُومًا ، د اولے جملے سره تعلق لری۔
او مَحْسُورًا ، د دویمے جملے سره تعلق لری۔

بَصِيرًا ﴿٣٠﴾ وَلَا تَقْتُلُوٓا أَوْلَادَكُمْ

لیدونکی دے. او مه وژنئ بچی خپل

خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ ۖ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ

د وجه د ویرے د لوګے نه موږ روزی ورکوو دوی لره

وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا

او تاسو لره ، یقیناً د دوی وژل ده ګناه

كَبِيرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُ

لویه . او مه نزدے کیږئ زنا ته یقیناً دا زناکاري

كَانَ فَاحِشَةً ۖ وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾

د بے حیایئ ، او بده لاره ده.

ف۳۰ :- په دے آیت کښ ترغیب دے انفاق ته چه په انفاق کولو سره رزق نه تنګیږی ، نو په دے آیت کښ د تبرشوؤ ادابو علت بیانوی ، هغه دا دے چه الله تعالیٰ بنه پوهه دے په مصالحو د بندګانو خپلو چه چاله فراخی د رزق ورکوی او چاله تنګسیا ورکوی . د دے وجے نه تیرشوی آداب ئے تاسو ته اوخودل چه هغه آداب په مینځ د فراخ رزق والا او د تنګ رزق والا کښ دی .

ف۳۱ :- د دے آیت نه تر ف۳۹ آیت پورے دریم څیز ذکر کوی د پاره د دفع د عذاب چه هغه ظلمونو نه ځان بچ کول دی او دلته د هغے نه اوؤه منهات او درے مامورات ذکر شوی دی په دے آیت کښ اوله نهی ده د قتل د اولاد نه . د دے آیت تشریح په تفسیر د سورۃ انعام کښ آیت ف۱۵۱ کښ تیره شویده .

خِطْـًٔا ، دا دلیل دے چه د خطا اطلاق کله په ګناه کبیره هم کیږی .

ف۳۲ :- په دیکښ دویمه نهی ذکر شویده د ظلم نه چه هغه زنا ده ، او لفظ د وَلَا تَقْرَبُوا ، دلالت کوی په دے باندے چه د زنا اسباب او دواعی (بللے ورکوونکی څیزونه) هم حرام دی .

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ

او مه وژنئ نفس لره هغه چه حرام کړیدے

اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَمَنْ قُتِلَ

الله تعالىٰ وژل دَ هغه مګر په حق شرعی سره او څوک چه او وژلے شو

مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ

په ظلم سره نو یقینًا ورکړیدے مونږ وارث دَ هغه لره

سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِفْ فِّي الْقَتْلِ

اختیار نو زیاتے دے نه کوی په وژلو کښ

إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا ﴿٣٣﴾ وَلَا تَقْرَبُوا

یقینًا دَ دهٔ سره امداد کړے شوے دے. او مه نزدے کیږئ

مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ

مال دَ یتیم ته مګر په داسے طریقه چه وی

وَسَآءَ سَبِيلًا، کښ اشاره ده چه دَ زنا کولو نه په انسان کښ قبیح عادات پیدا کیږی.

۳۳:- په دیکښ دریمه نهی ده دَ ظلم نه چه هغه قتل دے بغیر دَ سبب شرعی نه.

سُلْطَانًا، دَ دینه مراد قدرت دَ قصاص دے په امداد دَ بادشاه سره یا دَ دینه مراد حجت شرعی دے دَ پاره دَ قصاص.

فَلَا يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ، اسراف په قتل کښ په دریو طریقو سره وی یو دا چه دَ قاتل په ځائے بل سړے قتل کړی، دویم دا چه دَ یو په بدل کښ ډیر کسان قتل کړی، او دریم دا چه دَ مقتول نه اندامونه پرے کړی نو دا ټول حرام دی.

إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا، یعنی اسلامی حکومت او نورو مسلمانانو له پکار دی چه په قصاص اخستلو کښ دَ ده امداد اوکړی.

أَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ أَشُدَّهٗ ۖ

خائسته (شرعًا) تر دے پورے چه اورسی دے خوانۍ خپلې ته

وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۚ إِنَّ الْعَهْدَ

او پوره کوئ لوظ لره یقینًا دَ لوظ په بابله کښې به

كَانَ مَسْئُولًا ﴿۳۴﴾ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ

تپوس کیږے شي۔ او پوره کوئ پیمانه

إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ۚ

کله چه پیمانه کوئ او تول کوئ په تله برابر سره،

ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿۳۵﴾

دا غوره کار دے او خائسته انجام والا۔

۳۴:- په یکښې غلورمه نهي ده دَ ظلم نه چه هغه دَ یتیم مال خوړل دی، او دَ دے آیت تشریح په تفسیر دَ سورۃ انعام آیت ۱۵۲ کښې تیره شوې ده په دے آیت کښې یو امر دے او دَ عهد نه مراد هر هغه شے دے چه الله تعالیٰ په هغې امر کړے وی یا ئې دَ هغې نه نهي کړے وی۔ او دا رنګ عقدونه کول په کورنۍ کښې۔

مَسْئُولًا، تپوس کیږے شي دَ هغې دَ بے وفایئ او دَ نقص په باره کښې۔

۳۵:- په دے آیت کښې دوه اوامر دی چه دَ هغې نه خلاف کول ظلم دے

وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ، القسطاس میزان دے په لغت دَ عربو کښې اګر چه عام عرب په دے باندے خبر نه وو او لغت دَ رومیانو دَ دے سره موافق دے۔ لیکن دا سے ویئا کول غلطه ده چه وائي چه دا لفظ دَ لغت دَ روم نه اخستلے شوے دے۔ ځکه چه قرآن خالص عربي کتاب دے په دے کښې عجمي لفظ نشته۔

ذٰلِكَ خَيْرٌ، په یکښې دنیوی فائدو ته اشاره ده۔

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ

او مه زهٔ په هغه څیز پسے چه نه وی تا لره په هغے باندے هیڅ دلیل،

اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ

یقینا غوږونه او سترګے او زړونه

كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ۝٣٦

دَ دے ټولو په باره کښ دَ هر څانه به تپوس کیدیشی۔

وَاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا، اشاره ده راتلونکی فائدو ته۔ تَاْوِيْل، په معنیٰ دَ مرجع او دَ عاقبت دے۔

۳۶:- په یکښ پنځمه نهی ده دَ ظلم نه چه هغه بهتان لګول او بے دلیله تابعداری کول دی۔

وَلَا تَقْفُ، دَ دے معنی یو دا ده چه طعن مه وایه چا باندے دَ هغے خبرے چه تا سره دَ هغے علم نه وی او مراد دَ دے نه بهتان لګول دی او بله معنی ئے دا ده چه تابعداری مه کوه دَ هغه خبرے او دَ حکم چه په هغے باندے دلیل شرعی نه وی او دواړه معانی قرطبی ذکر کړیدی۔

عِلْمٌ، لفظ یقین او غلبے دَ ظن دواړو ته شامل دے او په دے آیت کښ دَ درے اندامونو ذکر دے او دَ دوی په باره کښ تپوس کول دا دے چه دا درے قوتونه ولے په ناحقه استعمال کړے شوے دی۔ او دویم قسم تپوس دا دے چه په غوږ سره ئے څه خبره نه وی اوریدلے او دعوی کوی چه ما آوریدلے ده او دا رنګ په سترګوئے څه شے نه وی لیدلے او دعویٰ کوی چه ما لیدلے دے او په زړه کښ ئے په یو څیز باندے فکر نه وی کړے او دعوی کوی چه زهٔ په هغے عالم یم نو دَ دے دروغ ویلو تپوس به کیدلے شی۔

وَلَا تَمۡشِ فِی الۡاَرۡضِ مَرَحًا ۚ
او مه ګرځه په زمکه کښې په لویئ کولو سره

اِنَّكَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡاَرۡضَ وَلَنۡ
یقینًا ته نه شې شلولې زمکه

تَبۡلُغَ الۡجِبَالَ طُوۡلًا ﴿۳۷﴾ كُلُّ
او چرې نشې رسیدلے غرونو ته په دنګوالی سره۔ دا ټول

ف۳۷ :- په دے کښې شپږم نهی ده دَ ظلم ته چه هغه تکبر او لوئی کول دی۔

وَلَا تَمۡشِ فِی الۡاَرۡضِ مَرَحًا ، مراد دَ مشی مرحًا نه تکبر کول دی چه دَ هغې اثر په ګرځیدلو کښې ښکاره کیږی ، یعنی تکبر اصل په زړه کښې دے لیکن اثر ئې په ظاهر کښې ښکاره کیدل ډیر قبیح دی۔ او دَ مؤمنانو په صفت کښې په سورة فرقان ف۶۳ کښې مشی هونًا راغلے ده او دَ دے نوره تشریح په سورة لقمان ف۱۹ کښې شته دے او په مشی مرحًا کښې رقص او ګډا کول هم داخل دی او تفسیر قرطبی کښې دَ هغې ډیره بدی بیان کړے ده۔ او هغه پیران چه وخت دَ ذکر کښې رقص او ګډا کوی په هغوی باندے سخت رد کړے دے۔

اِنَّكَ لَنۡ تَخۡرِقَ الۡاَرۡضَ وَلَنۡ تَبۡلُغَ الۡجِبَالَ طُوۡلًا ، حاصل دا دے چه لوئی خو دَ درون‌والی او دَ قوت دَ وجې نه وی یا دَ غټ‌والی او دَ دنګوالی دَ وجې نه وی نو چه دَ اول په وجه زمکه نه شې شلولے او دَ دویم په وجه دَ غرونو سر ته نشې رسیدلے یعنی انسان کښې دا دواړه صفته نشته نو تکبر ولے کوی۔ دا رنګ نه عاجزئې دَ هغه کارنه چه نور خلق ترینه هم عاجز دی چه دا دوه ذکر کړے شوے کارونه دی۔ نو تکبر په خلقو باندے ولے کوی۔ (ابن جریر)۔

ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ

په دے کښ خراب کارونه ستا دَ رب په نیز بَاندے

مَكْرُوْهًا ﴿٣٨﴾ ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓى اِلَيْكَ

ناروا دی۔ دا چه ذکر شول دَ هغے نه دی چه وحی کړیده تاته

رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ وَلَا تَجْعَلْ

رب ستا دَ حکمت دَ خبرو نه ، او مه ګرځوه

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِىْ

دَ الله تعالٰی سره حقدار دَ بندګئ بل نو ته به اوغورځولے شے په

جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿٣٩﴾

جهنم کښ ملامته کړے شوے رټلے شوے۔

٣٨:- ذٰلِكَ ، اشاره ده ماقبل ذکر کړے شوے اوامرو او نواهی ته او سیئه نه مراد اوامرو دَ هغے پریخودل دی او دَ نواهی دَ هغے ارتکاب کول دی۔

مَكْرُوْهًا ، او مکروه په شرع کښ عین حرام دی دَ دے وجے نه اطلاق دَ دے په مکروه تنزیهی باندے مُحْدَثْ دے۔

٣٩:- دا تائید دَ ماقبل احکامو دے یعنی دا احکام وحی دَ الله تعالٰی ده او دا حکمت دے او پدے کښ تفسیر دَ حکمت نه اشاره ده کوم چه سورة النحل ١٢٥ کښ تیر شویدے۔ یعنی قرآن ټول حکمت دے او دا ذکر شوی احکام په هغے کښ بعضے حِصّه ده۔

او وَلَا تَجْعَلْ ..... آه ، کښ اوومه نهی دَ ظلم دَ شرک نه دوباره ذکر کړیده ، اشاره ده چه شرک دَ ټولو ظلمونو بیخ او جرړ دے او هر کله چه په انسان کښ دَ شرک سره دغه ظلمونه هم موجود شی نو هغه ډیر ملامته او دَ زجرونو لائق وی دَ دے وجے نه دلته بے ملوم مدحور ذکر کړو۔ او په ٢٢ آیت کښ هر کله چه مخکښ ئے فضیلتونه ذکر کړل او دا رنګ دَ مشرک خیال دا دے چه زما الله به

أَفَأَصْفٰكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ

آیا نو غوره کړی یئ تاسو رب ستاسو په ځامنو سره

وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ

او نیولی دی دَ ملائکو نه لونړه ،

اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِيْمًا ﴿٤٠﴾ ع

یقینا تاسو خامخا وائی وینا لویه (ردله) -

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

او یقینا بیان (رد دَ توحید) په تفصیل سره کړے دے موږ په دې قرآن کښ

لِيَذَّكَّرُوْا ؕ وَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ﴿٤١﴾

دَ دے دَپاره چه نصیحت قبول کړئ او نه زیاتوی دا قرآن دوی لره مګر نفرت -

ما لره مدد او فضیلت راکوی نو دَ هغوی په رد کښ ئے من موم ځنډ ول ذکر کړے وو -

سـ٤٠ :- هر کله چه مخکښ آیت کښ منع کول وو دَ عام شرک فی الالوهیت نه چه مشرکین بالملائکه پکښ داخل وو نو اوس په دے آیت کښ زجر دے خاص مشرکین بالملائکه ته چه هغوی وئیل چه ملائک بنات دَ الله تعالیٰ دی او دا دَ ملوم او مدحور تفسیر دے چه مشرکینو لره زجر ورکوی او دا مدحوریت دے ځکه چه په زجر کښ دا دواړه صفتونه شته دے - او دَ دے تفصیل په سورة نحل سـ٥٧ کښ ، سورة صافات سـ١٤٩ او سورة زخرف سـ١٦ آیت کښ شته دے -

سـ٤١ :- په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته او بیا زجر دے دَ قرآن نه نفرت کوونکو ته او سبب دَ نفرت دا دے چه په دیکښ رد دے دَ دوی په شرک او په ظلمونو لکه چه مخکښ تیر شول -

لِيَذَّكَّرُوْا ، دَ دینه مخکښ لفظ دَ التوحید مراد دے یعنی لقد صرفنا

قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا

ته اووایه که چیرې وې د الله تعالی سره نور حقدار د بندګۍ لکه چه

يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى

دوی وائي نو دغه وخت خامخا طلب کړې به وې دوی خاوند

الْعَرْشِ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ سُبْحٰنَهٗ

د عرش ته یو لار ۔ پاک دے الله تعالی

فی هذا القرآن التوحید یعنی توحید او دلیلونه او وعظونه قسما قسم بیان کړیدی او هرکله چه دلته مراد توحید دے نو مفعول ئې ذکر نه کړو ځکه چه هغه د مخکښې او روستو آیاتونو نه معلوم دے۔ او د دے سورت په ۸۹ آیت کښې دلیلونه او وعظونه مراد دی نو هلته ئې من کل مثل لفظ ذکر کړیدے۔

۴۲:۔ په دے کښې رد دے په شرک فی الالوهیت باندے او اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ سَبِيْلًا، کښې مطلب دا دے چه د دوی د معبودانو که د الله تعالی سره په الوهیت کښې څه حصه وے نو د الله تعالی نه (چه خاوند د عرش دے) مطالبه د خپلے حصے به ئې کولے او په دے سره به ضرور جدال پیدا کیدے لکه په سورة مؤمنون ۹۱ کښې دی، یا دا معنی چه دا مشرکان د خپلو معبودانو په باره کښې عقیده لری چه دا زمونږ شفعاء دی نو لازم داده چه دا شفعاء الله تعالی ته لار د نزدیکت طلب کوی او څوک چه طلب کوونکے د نزدیکت وی نو هغه خو عاجز وی، نو اله نشی کیدے او دلته دویمه توجیه غوره ده په قرینه د ۵۷ سره چه په هغے کښې د صالحینو معبودانو ذکر دی او لفظ د كَمَا يَقُوْلُوْنَ، هم پدے باندے دلیل دے او په سورة المؤمنون ۹۱ آیت کښې اوله توجیه مراد ده۔ او دغه وجه د فرق په مینځ د دواړه آیاتونو کښې ده۔

وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا

او لوے دے د هغه نسبتونو نه چه دوی الله تعالیٰ ته کوی په لویئ

كَبِيرًا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ

ډیرے سره - پاکی وائی الله تعالیٰ لره آسمانونه

السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ ۚ

اووه او زمکه او هغه څوک چه په دے کښ دی،

وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ

او نشته هیڅ شے مګر تسبیح وائی

بِحَمْدِهِ وَلٰكِنْ لَا تَفْقَهُونَ

سره د حمد د هغه نه لیکن تاسو نه پوهیږئ

تَسْبِيحَهُمْ ۗ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤٤﴾

په تسبیح د دوی باندے، یقیناً الله تعالیٰ دے صبرناک بخنه کوونکے -

۴۳:- په دے کښ نتیجه د ماقبل آیت ده او دعوای د توحید ده۔ سبحٰنهٗ، کښ اشاره ده رد د شرک بالملائکه ته او وَتعٰلیٰ، کښ اشاره ده رد د شرک فی الالوهیت د نورو عبادو صالحینو ته چه دا دواړه قسمونه مخکښ آیاتونو کښ ذکر شوی دی۔ عُلُوًّا کَبِیرًا، په دے کښ اشاره ده چه علو د الله تعالیٰ په ښکاره دلیلونو سره ثابت ده۔

۴۴:- په دے کښ علت دے د پاره د سبحانه او دعوای د توحید ده په بله طریقه، او په دے سره تسبیح دلالةً مراد ده، یعنی د هر څیز حال او عجز د الله تعالیٰ په توحید باندے دلالت کوی لیکن اے مخاطبینو (مشرکانو) تاسو په هغے کښ فکر نه کوئ او یا تسبیح حقیقتًا مراد ده او تسبیح د هر څیز د هغه د شان مناسب وی او په دے توجیه سره۔

وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ

او کله چه ته لولے قرآن نو پیدا کړو مونږ په مینځ ستا

وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ

او په مینځ د هغے کسانو کښ چه ایمان نه لری په آخرت باندے

حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ

پرده پټه (مضبوطه) . او پیدا کړی مونږ د دوی په

قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ

زړونو باندے پردے (منع کوونکے) د پوهے د قرآن نه

---

دَمَنْ فِيهِنَّ وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ، کښ په تخصیص کیدے شی سوا د کافرانو او مشرکانو نه ۔ او دویمه توجیه غوره ده ځکه چه په احادیثو سره تسبیح د کانړو، او تسبیح د طعام او تسبیح د اوښانو او تسبیح د اونو او د ستنے د مسجد نبوی ثابت ده ۔

حَلِيمًا، کښ اشاره ده چه د دے تسبیح د وجے نه الله تعالیٰ د مستحقینو د عذاب نه روستو کوی ۔

او غَفُورًا ، کښ اشاره ده چه په دے تسبیح سره د ګنهګارو خلقو ګناهونه معاف کوی ۔

ف ۴۵ ۔ په دے آیت کښ زجر دے په انکار د قرآن سره او مراد د حجاب مستور نه حجاب د ضد او د عناد او د جهل دے او یا مراد د دینه حجاب حقیقی دے په طریقه د خرق عادت سره یعنی د دوی په سترګو داسے پردے راشی چه قرآن والا نه وینی او دا په طریقه د عَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ" سره دے ۔ او مستور نه مراد دا دے چه دا حجاب ستاسو نه پټ دے ۔ یا مستور په معنیٰ د ساتر دے یعنی پټوونکے .

وَفِیْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَاِذَا ذَكَرْتَ

او په غوږونو د دوی کښ درونډوالے، او کله چه یاد کړے

رَبَّكَ فِی الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا

رب خپل په قرآن کښ په یو والی سره نو اوګرځی دوی

عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ﴿۴۶﴾ نَحْنُ

په خپلو شاګانو باندے نفرت کوونکی ۔ موږ

۴۶ :- په دیکښ د زړونو او د غوږونو آفت ئے د دوی د پاره ذکر کړو لکه (خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ) (سورة بقره ۷) او دارنګ انعام ۲۵ کښ.

وَقْرًا ، د دے مراد کوڼوالے دے لکه د صُمٌّ ، اطلاق چه شوے دے یا مراد د دینه شرکی قصے او خرافات دی چه د هغے نه د دوی غوږونه ډک دی نو د توحید او حق آواز پکښ نه ځائیږی او په دے دریے وارو کښ اشاره ده چه د قرآن کریم نه د فائدے اخستلو د پاره مانع په دوی کښ موجود دے ۔ او بیا زجر دے په انکار د توحید سره ، یعنی قرآن نه هسے ناست وی لیکن هر کله چه په قرآن کښ د توحید مسئله راشی چه صرف الله تعالیٰ نه مدد غواړئ او صرف د هغه بندګی کوئ او بل څوک ورسره شریک مه جوړوئ نو دوی د دینه نفرت شروع کړی او دارنګ په سورة صافات ۳۵ او سورة ص ۵ او سورة زمر ۴۵ او سورة مؤمن ۱۲ کښ دی ۔

او د وَحْدَهٗ ، نه لفظ د توحید اخستلے شوے دے نو توحید شرعی لفظ دے ۔

نُفُوْرًا ، مصدر دے او تمیز دے علت دے د وَلَّوْا د پاره او د بعضو په نیز دا جمع ده او حال دے ۔

أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهٖٓ إِذْ

ښهٔ پوهیږو په هغه نیت دَ دوی چه دوی پرے غوږ ږدی کله

يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ

چه دوی غوږ کیږدی تا ته او کله چه دوی

نَجْوٰٓى إِذْ يَقُولُ الظّٰلِمُونَ

پټے جرگے کوی کله چه وائی ظالمان خلق

إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾

تابعداری نه کوئ تاسو مگر دَ یو سړی چه جادو پرے کړے شوے دے

اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ

اوګوره چه څه رنګ بیانوی ستا دَپاره صفتونه (دَ بدئ)

ف ۴۷:- په دے آیت کښ زجر دے په انکار دَ رسول سره او هغه ته ئے مسحور اُوئیل او مسحور په معنیٰ دَ دهوکه کړے شوے یا په معنیٰ دَ محتاج دے خوراک او څښاک ته، یا په معنی دَ جادو کړے شوے دے په داسے طریقے سره چه عقل ئے برباد شی۔ او دا فتوی دَ دوی په مکه کښ وه او په دغه وخت کښ په نبی صلی الله علیه وسلم جادو نه وُو کړے شوے دوی دروغ وئیل، او بیا روسته په مدینه کښ په هغه باندے جادو کړے شوے وُو لکه چه په حدیث صحیح کښ ثابت دی نو دَ دے په مینځ کښ هیڅ تعارض نشته او دَ دے پوره تفصیل په سورۃ فلق کښ به راشی انشاء الله تعالیٰ۔

إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ، یعنی اول دوی قرآن ته غوږ کیږدی لیکن په نیت دَ اعتراض کولو سره بیا کورنی کښ جرګه اوکړی چه په دے نبی باندے څه رنګ فتویٰ اوکړو۔

فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۴۸﴾

نو دوی گمراه شول نو دوی طاقت نه لری دَ سمے لارے۔

وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا

او دوی وائی آیا کله چه شو مونږ هډوکی او ذرے ذرے

ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۴۹﴾

آیا مونږ به ژوندی کړے شو په پیدائش نوی سره۔

قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ﴿۵۰﴾

ته ورته اُوایه تاسو شئ کاڼے یا اوسپنه۔

س۴۸:۔ دا هم دَ مخکښ آیت په حکم کښ داخل دے یعنی زجر دے په انکار دَ رسول سره، او دا دلیل دے چه طعنونه لګول په رسول باندے سبب دَ دا سے گمراهئ دے چه بیا هدایت نه شی مونډلے۔

اَلْاَمْثَالَ، مراد دَ دے ناکاره صفتونه دی لکه شاعر، ساحر، کاهن، مفتری وغیره او دا سے په سورۃ فرقان س۸، س۹ کښ هم دی۔

س۴۹:۔ په دے آیت کښ زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت او دا سے په سورۃ یس س۷۷ او سورۃ صافات س۱۶ کښ هم دی۔

س۵۰، س۵۱:۔ په دے آیتونو کښ جواب دے منکرینو دَ بعث ته حاصل دَ جواب دا دے چه دَ خاورو نه دوباره جوړول خو اسان کار دے بلکه که تاسو کاڼے شئ یا اوسپنه شی یا دَ دینه هم سخت شئ لکه فولاد یا آسمانونه او زمکه، نو هم الله تعالیٰ تاسو دوباره پیدا کولے شی۔

لفظ دَ كُوْنُوْا، په معنیٰ دَ شرط دے یعنی لَوْ كُنْتُمْ حِجَارَةً الخ او دا رنګ دا امکان لری چه انسان کله خاورے شی نو کله دَ دے خاورے نه کاڼے او مالګه جوړیږی او کله دَ اوسپنے په کان کښ دَ

أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ ۚ

او یا بل مخلوق دَ هغې نه چه لوے وی ستا په سینو کښې

فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ الَّذِي

نو خامخا دوی به وائی څوک به موږ دوباره پیدا کړی، ته اَوایه هغه ذات

فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ

چه پیدا کړی یئ تاسو اول ځل نو خوځوی به دوی

إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ

تا ته سرونه خپل او وائی به

مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ

کله به وی دا . ته اَوایه کیدیشی چه ډیر

قَرِيبًا ۝٥١ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ

نزدے وی - په کومه ورځ چه آواز به درکړی تاسو ته نو تاسو به حکم اومنئ

خاورے نه اوسپنه جوړېږی او کله تربنه فولاد وغیره هم جوړېږی، بیا دَ دوی دویم اعتراض ئے ذکر کړو په باره دَ اعاده کوونکو کښې او دَ هغې جواب دے پرے قول سره.

قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ، بیا دَ دوی دریمه شبه په طور دَ استهزاء تپوس کوی په باره دَ وخت دَ بعث کښې.

فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ، او انغاض په عرف دَ عرب کښې دا دے وی چه سر اوچت کړی او بیا ئے خکته کړی او دا عمل بار بار کوی یعنی سر خکته او بره کوی.

او عَسَىٰ، دَ پاره دَ تاکید دَ قربت دے. ځکه چه عسی دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ پاره دَ یقین وی.

بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ

سره د حمد ویلو نه او ګمان به کوئ تاسو چه نه وے حصار شوے تاسو

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٥٢﴾ وَقُلْ لِّعِبَادِيْ

مګر لږه موده . او ته أو وایه زما بندګانو ته

يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ

چه وائی د دوی هغه خبره چه هغه خائسته ده ،

اِنَّ الشَّيْطٰنَ يَنْزَغُ بَيْنَهُمْ ؕ

یقیناً شیطان فساد اچوی په مینځ د دوی کښې ،

اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ

یقیناً شیطان دے د انسان د پاره

۵۲ :- په دے کښې بیان د حال د بعث دے . يَدْعُوْكُمْ ،

نه مراد شپیلۍ وهل دی د پاره د بعث بعد الموت یا مراد

د دینه آواز دے د پاره د حشر لکه په دے سورت ۷۱ آیت

کښې به راځي او دا رنګ په سورة روم ۲۵ آیت کښې

راځي .

فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ ، یو معنی دا ده چه د دغه آواز به

استجابت اوکړئ (تو راپورته به شئ) او د الله تعالیٰ حمد

به وایئ او اقرار به کوئ چه الله تعالیٰ د تسبیح او حمد

لائق دے .

دویمه معنیٰ دا ده چه تاسو به استجابت اوکړئ په سبب د امر

د الله تعالیٰ سره یعنی حمد په معنیٰ د امر سره دے او باء

سببیه ده .

اِلَّا قَلِيْلًا ، لکه په سورة نازعات ۴۶ او سورة طٰه ۱۰۴ ،

او سورة مؤمنون ۱۱۳ کښې دی .

عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿٥٣﴾ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ

دشمن بنکاره ـ رب ستاسو ښه پوهه دے

بِكُمْ ۖ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ

په تاسو (ستاسو په حال)، که اوغواړی نو رحم به اوکړی په تاسو باندے او

إِن يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ ۚ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ

که اوغواړی نو عذاب به درکړی تاسو ته، اونه یٔ لیږلے مونږ ته

عَلَيْهِمْ وَكِيلًا ﴿٥٤﴾ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ

په دوی باندے ذمه وار ـ او رب ستا ښه پوهه دے

۵۳:۔ په دے آیت کښں بیان دَ ادب دے دَپاره دَ دعوت کوؤنکو روستو دَ بیان دَ سرکشئ دَ منکرینو نه او مراد دَ لِعِبَادِی، نه مؤمنان دی یعنی مؤمنانو ته اووایه چه کله مشرکانو ته دعوت دَ توحید ورکوی نو په احسن طریقے سره دے بیان کوی دَ دے دَپاره چه شیطان په مینځ کښں فساد پیدا نکړی ـ دویم تفسیر دا دے چه په دے آیت کښں دعوت دَ توحید دے مشرکانو ته روستو دَ ذکر کولو دَ خبا ثاتو دَ هغوی نه او عبادی نه مراد مشرکان او کافران دی۔
او اَلَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ، نه مراد کلمه دَ توحید ده او نور شرعی عقیدے او اقوال دی او دا عطف دے په قل باندے په ساله کښں۔

۵۴:۔ په دے آیت کښں خطاب دے مشرکینو ته روستو دَ دعوت دَ هغوی نه توحید ته او دلیل عقلی عملی دے په توحید باندے یعنی هدایت دَ الله تعالیٰ په اختیار کښں دے یا به رحم او کړی په تاسو باندے په توفیق دَ ایمان، یا به عذاب درکړی چه مړه کړی تاسو په شرک باندے او رسول دَ دوی ذمه دار نه دے نو په هغے باندے اعتراض نه راځی یا دا خطاب دے مؤمنانو ته پس دَ ذکر دَ طریقے دَ دعوت نه یعنی که دعوت تاسو جاری

بِمَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

په حال دَ هغه چا چه په آسمانونو او زمکه کښې دي،

وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ

او یقینًا غوره والے ورکړیدے مونږ بعضے پیغمبرانو ته

عَلٰى بَعْضٍ وَّاٰتَيْنَا دَاوٗدَ

په بعضو باندے او ورکړے وو مونږ داؤد علیه السلام ته

زَبُوْرًا ﴿۵۵﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ

زبور کتاب۔ ته اُوایه را اوبلئ هغه کسان

او ساتلونو الله تعالیٰ به په تاسو رحم اوکړی او دَ کافرانو نه به مو بچ اوساتی او که تاسو دعوت ترک کړو نو الله تعالیٰ به تاسو له عذاب درکړی او رسول تاسو نشي بچ کولے۔

۵۵:۔ هر کله چه مخکښې بیان کړے شو هدایت او عدم هدایت نو په دے آیت کښې اشاره ده اختلاف دَ مرتبو ته چه الله تعالیٰ ستاسو دَ طاعت او معصیت په مرتبو باندے عالم دے او په مختلفو مرتبو دَ ملائکو او دَ زمکے والو باندے عالم دے او دا هم دلیل عقلی علمی دے دَ پاره دَ توحید بیا کیے او فرمائیل چه اختلاف دَ مرتبو په انبیاؤ علیهم السلام کښې شته اشاره ده چه فضیلت دَ الله تعالیٰ په نیز په وحی او کتاب سره دے په بادشاهئ دَ دنیا سره نه دے ۔ یعنی داؤد علیه السلام بادشاه هم وو لیکن دَ هغه فضیلت دَ کتاب دَ وجے نه دے دَ بادشاهئ دَ وجے نه نه دے۔

فائده:۔ زبور دَ زبر نه دے زجر او وعظ ته وائی دَ کتاب زبور وجه تسمیه دا ده چه په هغے کښې احکام دَ حل او حرمت نه وو بلکه اذکار او تسبیحات او مواعظ وغیره وو۔

زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ

چه گمان پرے کوئ تاسو مددگاران سوا د الله تعالیٰ نه نو هغوی اختیار نه لري

كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ﴿۵۶﴾

د لرے کولو د تکلیف ستاسو نه او نه د اړولو

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ

هغه کسان چه دوی ورته رامدد شه وائی غواړی هغوی

اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ

خپل رب ته نزدیوالے چه کوم یو د دوی نه زیات نزدے وی

۵۶:- د دے آیت تعلق دے د آیت ۵۳ سره یعنی توحید او منځ ځکه چه شرک باطل دے او په دیکښ هم طریقه د دعوت ذکر کوی - بیا په دے آیت کښ رد دے په شرک فی الدعاء باندے. او بیا رد دے په شرک فی التصرف باندے او روستنے علت دے دپاره د مخکښ او په دے آیت کښ رد دے په مشرکین بالجن او بالعباد الصالحین باندے ځکه چه په حدیث د بخاری کښ وارد دی چه دا آیات نازل شویدے په باره د دغه خلقو کښ چه د پیریانو عبادت ئے کولو بیا هغه پیریانو ایمان راوړلو لیکن دغه عابدان هغسے د هغوی په عبادت باندے کلک وو او ابن کثیر او نورو ډیرو مفسرینو د دے آیت د لاندے عابدین د ملائکو او عزیر او عیسیٰ علیهم السلام هم داخل کړیدی نو دا رنګ عابدان د اولیاؤ که د ژوندی وی او که د مړو وی نو هغوی پکښ هم داخل دی - کشف او تحویل کښ دا فرق دے چه کشف لرے کول د ضرر دے د بیخ نه او تحویل بدلول د یو حالت دی بل حالت ته یعنی کمول د تکلیف -

وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ

او امید لری دوی د رحمت د هغه او ویره کوی د عذاب د هغه نه

اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ﴿۵۷﴾

یقیناً د عذاب د رب ستا نه ویره کیدے شي۔

وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا

او نشته هیځ کلے مګر مونږ هلاکوونکی د هغے یو

قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا

مخکښ د ورځ د قیامت نه یا عذاب ورکوؤ هغے (کلی والو) ته

عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ

عذاب سخت ، ده دا فیصله

فِى الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿۵۸﴾ وَمَا مَنَعَنَآ

په لوح محفوظ کښ لیکلے شوے ده۔ او نه دے منع کړے مونږ لره

ف ۵۷:- تیرشوی آیت کښ عجزیئے بیان کړو د معبودانو باطلو په نفی د تصرف سره نو پدے آیت کښ عجز د هغوی بیانوی د عبودیت په درے اجزاؤ سره ، یو محبت دے د الله تعالی سره چه د هغے د وجے نه نزدیکت د الله تعالی طلب کوی اوبل امید ساتل دی د الله تعالی د رحم او دریم خوف دے د عذاب د الله تعالی نه۔

او اَيُّهُمْ اَقْرَبُ ، تفسیر دے د الوسیله یعنی وسیله په معنی د نزدیکت ده دا رنګ په سورة مائده ف ۳۵ کښ تیر شویدی۔

مَحْذُوْرًا ، داسے په سورة معارج ف ۲۸ کښ دے۔

ف ۵۸:- په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے او مطلب ئے دا دے چه په کلو د مشرکانو باندے هلاکت او عذاب راځی لیکن د هغوی معبودان باطله هغوی لره نشی بچ کولے اګر چه هغه

أَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ

دَ لیږلو دَ معجزاتو نه (کوم چه دوی غواړی) مګر دے خبرے چه انکار کړے ؤ

بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ۗ وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ

دَدے معجزاتو نه زړو (مخکنو) خلقو، او ورکړے وه موږ ثمودیانو ته

النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ۗ

اوښه دَ ښکاره کولو دَ حق دَ پاره نو هغوی عناداً انکار (ظلم) اوکړو په هغے سره،

وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾

او نه لیږو موږ معجزاتو لره مګر دَ ویرولو دَ پاره۔

مشرکانو عقیده ساتله چه زموږ دَ کلو حفاظت دا معبودان زموږ کوی۔

قَرْيَةٍ، نه مراد نافرمان او مشرکان دی په قرینه دَ سورة طلاق سره۔

عَذَابًا شَدِيْدًا، نه مراد قتلونه فسادونه او قحطونه وغیره دی۔

الْكِتٰبِ، نه مراد کتاب تقدیر یعنی لوح محفوظ دے او دا دلیل دے په اثبات دَ تقدیر لیکلے شوی باندے۔

۵۹: خلاصه :۔ دَ دے آیت نه دویمه حصه ده تر ۷۵ آیت پورے په دے حصه کښ دویم سبب دَ عذاب ذکر کوی چه هغه انکار کول دی دَ آیاتونو دَ الله تعالیٰ نه یعنی خرق عادت کار اوښی او دَ هغے مثال ئے پیش کړیدے په واقعه دَ ثمودیانو سره په ۵۹ آیت کښ او په واقعه دَ اسراء او په ذکر دَ شجر دَ زقوم په آیت ۶۰ کښ او په واقعه دَ ابلیس چه انکار ئے کړے ؤ دَ آیت دَ الله تعالیٰ نه چه آدم علیه السّلام او تعظیم دَ هغه ؤ دَ آیت ۶۱ نه تر ۶۵ پورے، بیا دلیل عقلی دے په ۶۶ آیت کښ، بیا زجر دے مشرک ته په ۶۷

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ

او کله چه موږ اوئیل تا ته یقیناً ستا رب راګیر کړی دی

بِالنَّاسِ ۚ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَا

خلقو لره، او نه دے ګرځولے موږ هغه لیدل

الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ

چه خودلی دی موږ تا ته مګر امتحان د پاره د خلقو

وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ ۚ

او ونه چه بد ئے وئیلے شوی دی په قرآن کښ،

وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا

او ویره ورکوو دوی لره نو نه زیاتوی دوی لره مګر

کښ بیا تخویف دنیوی دے په ۶۸ او ۶۹ کښ، بیا ترغیب دے په ذکر د نعمتونو سره په ۷۰ آیت کښ، بیا تخویف اخروی دے په ۷۱، ۷۲ کښ، بیا تحذیر دے د مداهنت نه آیت ۷۳، ۷۴ ۷۵ کښ۔

تفسیر:- په دے آیت کښ جواب د شبهے دے، شبه دا ده هر کله چه رد اوشو په مشرکانو نو هغوی طلب اوکړو د پیغمبر نه د معجزاتو نو سوال راغے چه دا معجزات دوی ته ولے نه رالیږلے کیږی د جواب حاصل دا دے چه هغه معجزات چه دوی طلب کړی دی، مانع د هغے نه دا دے چه که هغه رااولیږلے شی او دوی ترے انکار اوکړی نو عذاب به پرے راشی د مخکنو قومونو پشان چه یو مثال د هغے ثمودیان دی چه هغوی طلب د معجزے کړے وو نو ناقه پیدا شوه او دوی د هغے انکار اوکړو نو عذاب پرے راغے، نو په دے آیت کښ اشاره ده چه انکار د معجزاتو سبب د عذاب دے۔

طُغْيَانًا كَبِيرًا ﴿٦٠﴾ وَإِذْ قُلْنَا

ع ٨/٦ ٦

| | | | |
|---|---|---|---|
| سرکشي | لويه - | او كله چه اُوئيل مونږ | |

وَمَا نُرْسِلُ بِالْآيَاتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ، مراد دَ دينه هغه آيات دی چه خلق دَ هغې طلب كوی نو دَ هغې په راليږلو كښ تخويف بالعذاب وی كله چه او نه منلے شی نو په منكرينو باندے ضرور عذاب راځی. دويمه معنیٰ دا ده چه آيت نه مراد ټول معجزات دی چه هغه دَپاره دَ انكار كوونكی تخويف وی او دَپاره دَ مؤمنانو رحمت وی، نو دَالايات نه مراد هغه آيات دی چه دوی طلب كړے دی او دَدے سورت په ۹۰، ۹۱، ۹۲، ۹۳ آيتونو كښ ذكر دی.

فَظَلَمُوا بِهَا، مراد دَ ظلم نه انكار كول عناداً او قتل كول دَ اوښے دی.

۶۰ :- دَ دے آيت په اوله جمله كښ تيزی وركول دی پيغمبر عليه السلام ته په تبليغ باندے چه الله تعالیٰ به ستا حفاظت كوی او ته تبليغ كوه مراد دَ احاطے نه احاطه دَ قدرت او دَ علم دَ الله تعالیٰ ده په ټول مخلوق باندے او حفاظت دَ نبی پكښ داخل دے او په احاط بالناس كښ اشاره ده چه الله تعالیٰ عالم دے چه دے خلقو ته معجزات راوليږی نو دوی انكار كوی نو بيا قادر دے دَ هغوی په عذاب باندے . او بيائے دوه آيا تونه پيش كړی دی يو واقعه دَ معراج او دويم ذكر دَ اونے په جهنم كښ ، دَ دے دواړو په انكار سره وېره دَ عذاب ده .

الرُّؤْيَا ، صحيح قول دا دے چه مراد دَ دينه ليدل دی په سترګو سره په حالت دَ بيدارئ كښ په شپه دَ معراج كښ ځكه چه رؤيا مصدر دے په معنی دَ رويت سره دے او دا قول امام بخاری دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل كړيدے او نه دی مراد دَ دينه ليدل دَ خوب ځكه كه دَ خوب ليدل وی نو په هغې سره امتحان نه كيدو ځكه چه دَ خوب دَ ليدلو نه هيڅ څوك انكار نه كوی .

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا

ملائکو ته چه سجده اوکړئ آدم علیه السلام ته نو سجده اوکړه ټولو

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ قَالَ ءَاَسْجُدُ لِمَنْ

سوا د ابلیس نه ، اوئیل هغه آیا سجده اوکړم زهٔ هغه چاته

خَلَقْتَ طِيْنًا ﴿۶۱﴾ قَالَ اَرَءَيْتَكَ

چه تا پیدا کړیدے د خټے نه . هغه اوئیل چه خبر را کړه

وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ ، یعنی هر کله چه الله تعالیٰ خبر ورکړو په سورة صافات کښ د آیات ۶۲ نه تر ۶۶ پورے چه ونه ده په جهنم کښ نو دا دوی د پاره سبب د امتحان شو او منکرینو اعتراض اوکړو چه اونه په اور کښ څه رنګ را ټوکیدے شی . الملعونة یعنی داسے اونه چه لعنت کړے شویدی د هغے په خوړونکو باندے په قرآن کښ یا دا معنی ده چه بد صفات بیان کړے شوی دی د دغے اونے په قرآن کښ لکه په سورة دخان آیت ۴۳ نه تر ۴۶ پورے دا رنګ سورة صافات کښ او چا چه د دے شجرے تفسیر کړیدے په بنی امیه سره نو دا تحریف دے ځکه چه په قرآن کښ ذکر د بنو امیه او په هغوی باندے لعنت نشته او نسبت کول د دے ابن عباس رضی الله عنهما ته غلط دی.

طُغْيَانًا كَبِيْرًا ، کښ اشاره ده چه دوی د کفر سره استهزاء او مسخرے او اعتراضونه هم کوی.

۶۱ :- دا واقعه د آدم علیه السلام او د ابلیس ده او مقصد په دے واقعه کښ دا دے چه آدم علیه السلام آیت الله وو ځکه چه د الله تعالیٰ د قدرت عظیمه نخښه ده. او ابلیس د هغه د تعظیم نه انکار اوکړو او د هغه توهین ئے اوکړو په دے جمله کښ.

ءَاَسْجُدُ ، او اَرَءَيْتَكَ آه ، دا سبب اوګرځیده د پاره د عذاب د ابلیس او د دے وجے نه دا ئے عطف کړے دے په ماقبل

هٰذَا الَّذِیْ كَرَّمْتَ عَلَیَّ ز

چه دا هغه سړے دے چه تا عزت ورکړیدے دۀ ته په ما باندے

لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ

که چرے تا زۀ روستو کړم (مهلت دِرا کړو) تر ورځے دَ قیامت پورے

لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّیَّتَهٗۤ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۶۲﴾

نو خامخا په خپل قابو کښ به راولم اولاد دَ دۀ سِوا دَ لږو کسانو نه۔

قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

اُوئیل الله تعالیٰ (لاړ شه) نو چا چه ستا تابعداری اوکړه دَ دوی نه

فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿۶۳﴾

نو یقیناً جهنم سزا ستاسو ده سزا پوره۔

باندے۔

طِیْنًا، په معنیٰ دَ من الطین دے او دا کلمه په طریقه دَ توهین سره ابلیس ذکر کړے ده

۶۲:۔ دے آیت کښ اشاره ده چه ابلیس حسد اوکړو دَ وجے دَ عزت دَ آدم علیه السلام نه چه الله تعالیٰ ورکړے وۀ۔

او هٰذَا الَّذِیْ كَرَّمْتَ عَلَیَّ، دَ هغه دَ اهانت په غرض سره اُوئیل۔

لَاَحْتَنِكَنَّ، دا دَ حنك نه دے او حنك په معنیٰ دَ بیخکندے راځی نو معنیٰ دا شوه چه زۀ به دَ دۀ دَ اولاد بیخ اوباسم او بیخ ویستل دا دی چه په شرک او په کفر کښ ئے اخته کړی او دویمه معنیٰ دَ حنك دَ اس په خله کښ واګے اچول دی چه مقصد دَ هغے نه منع کول وی او په خپل قابو کښ راوستل دی نو معنیٰ دا شوه چه منع به کړم زۀ اولاد دَ دۀ دَ توحید نه۔

۶۳:۔ په دے آیت کښ تخویف اخروی دے ابلیس او تابعدارو دَ هغه ته۔

وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ

او اوخوځوه ته هغه څوک چه ستا وس پرے بَرشي دَ دوی نه

بِصَوْتِكَ وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ

په آواز خپل سره او راوله په دوی باندے

بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ

په سورو خپلو او پیاده خپلو سره او برخه اونیسه دَ دوی نه

فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ط

په مالونو کښ او اولاد کښ او وعدے کوه دَ دوی سره،

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۶۴﴾

او وعده نه کوی دَ دوی سره شیطان مگر دَ دهوکے.

اِذْهَبْ، کښ اشاره ده دَ هغه مهلت ورکولو ته لکه په سورة اعراف ۱۵ او سورة حجر ۳۷ او سورة ص ۸۰ کښ دی.

مَوْفُوْرًا، په معنیٰ دَ وافر سره یا په معنیٰ دَ اسم مفعول سره یعني پوره کړے شوی دی څه کمے پکښ نه وی او دا سے سزا دَ کافر او مشرک وی ځکه دَ مؤمن په سزا کښ دَ عفو او مغفرت دَ وجه نه کمے کیدیشي او دا سے په سورة اعراف ۱۸ او سورة ص ۵۸ کښ دی.

۶۴:- په دے آیت کښ دَ گمراه کولو دَ ابلیس خلقو لره څلور طریقے ذکر شوی دی.

اوله طریقه، دهوکه ورکول خلقو ته په آواز دَ ابلیس سره او دَ آوازونو نه مراد هر هغه داعی دے چه دعوت کوی هر معصیت دَ الله تعالیٰ نه او پدیکښ دعوت دَ شرک او کفر او بدعت او غِنا وغیره داخل دی دا ابن جریر غوره کړے دے

او دویمه طریقه وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ، مراد دَ دے دا دے چه دَ دوی دَ گمراه کولو دَ پاره خپل ټول کیدونه

إِنَّ عِبَادِی لَیْسَ لَکَ عَلَیْهِمْ
یقیناً زما بندګان نشته تا لره په دوی باندې
سُلْطٰنٌ ؕ وَکَفٰی بِرَبِّکَ وَکِیْلًا ﴿۶۵﴾
وس د ګمراه کولو، او پوره دے ستا رب ذمه وار۔

استعمال کړه او داخل دے په دیکښ هر هغه څوک چه په سورلئ باندې کرځی یا پیاده کرځی په معصیت د الله تعالیٰ کښ دا د ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد نه نقل دی۔
او دریمه طریقه وَشَارِکْهُمْ فِی الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ، او مراد د شراکت نه په مالونو کښ نذر کول د مال د پاره د غیر الله دا رنګ مال خرچ کول په شرک او بدعت او رواجونو کښ او تحریم د غیرالله او په حرامه طریقه کسب کول هم په دے کښ داخل دے او د شراکت فی الاولاد نه نسبت کول د اولاد دی غیرالله ته چه دا اولاد فلانکی ولی را بخلے دے او نوم کیخودل د هغے نبی بخش عبد الحارث او عبد العزی او عبد الرسول بنده علی او پیر بخش وغیره او دا رنګ اولاد ته طریقے د کفر او شرک خودل او مشابه کول د هغوی کافرانو سره په لباس او په شکل کښ۔
او څلورمه طریقه وَعِدْهُمْ، مراد د دینه وعدے کول دی د ثواب او کامیابئ په شرک او په بدعت کولو کښ۔
۶۵ :- په دے آیت کښ حفاظت د بعضِ بندګانو د ابلیس نه ذکر دے۔
او په عِبَادِیْ، کښ اضافت د تخصیص د پاره دے چه هغوی ته ئے په نورو آیاتونو کښ مخلصین ویلے دی۔
وَکَفٰی بِرَبِّکَ وَکِیْلًا، په دیکښ اشاره ده چه دا بندګان په عصمت کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی،
سُلْطٰنٌ، مراد د دینه غلبه د ګمراه کولو یا دلیل مراد دے۔

رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ

رب ستاسو داسې ذات دے چه چلوی ستاسو دپاره

الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا

کشتۍ په دریاب کښې دپاره د دے چه طلب کړئ

مِنْ فَضْلِهِ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ

فضل د الله تعالیٰ نه ، یقیناً الله تعالیٰ دے په تاسو باندے

رَحِيمًا ﴿٦٦﴾ وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ

رحم کوونکے . او کله چه اورسی تاسو ته تکلیف

فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ

په دریاب کښې نو هیر شی ستاسو نه هغه څوک چه تاسو یئ په حاجتونو کښې بلئ

إِلَّا إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ

سوا د الله تعالیٰ نه ، پس هر کله چه بچ کړی تاسو اوچے ته

عـ٦٦ :۔ په دے کښې دلیل عقلی ذکر دے او تمهیں دے د روستو زجر دپاره او عام انعام ئے ذکر کړے دے روسته د خاص انعام نه او دا ربط دے د ماقبل سره یعنی د شیطان نه بچ کول خاص انعام دے په خاص بندګانو باندے او د دریاب کښې د غرق کیدلو نه بچ کول عام انعام دے مشرکانو ته هم شامل دے۔

یُزْجِیْ ، ازجاء شړل دی په ذریعه د هواګانو سره چه هغے ته نعمة الله وئیلے دے په سورة لقمان عـ٣١ کښې۔

عَرَضۡتُمۡ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ كَفُوۡرًا ﴿٦٧﴾

نو تاسو مخ گرځوئ (د توحید نه) او دے انسان ناشکره ۔

اَفَاَمِنۡتُمۡ اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمۡ

آیا بے غمه (بے پرواه) یئ تاسو چه الله تعالیٰ په ځمکه بوځی تاسو

جَانِبَ الۡبَرِّ اَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ

په طرف د اوچے ځمکے کښ یا به رالولیږی په تاسو باندے

حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوۡا لَكُمۡ

باران د کانړو بیا به او نه مومئ تاسو ځان لره

وَكِيۡلًا ﴿٦٨﴾ اَمۡ اَمِنۡتُمۡ اَنۡ يُّعِيۡدَكُمۡ

ذمه وار. آیا بے غمه (بے پرواه) یئ تاسو چه واپس به بوځی تاسو

فِيۡهِ تَارَةً اُخۡرٰى فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ

په دریاب کښ بل ځل نو رالولیږی په تاسو باندے

قَاصِفًا مِّنَ الرِّيۡحِ فَيُغۡرِقَكُمۡ

ماتوونکے سیلۍ نو غرق به کړی تاسو

٦٧:۔ په دے آیت کښ زجر دے مشرکینو ته په ضعف د طریقه د هغوی چه په سختئ کښ صرف الله تعالیٰ رابلی او روستو د بچ کیدلو نه شریک جوړوی دا سے په سورة یونس ٢٢ او سورة عنکبوت ٦٥ او سورة لقمان ٣٢ کښ هم دی۔

٦٨:۔ په دے آیت کښ تخویف دے هغه مشرک ته چه مخکښ آیت کښ د هغه حال بیان شو، او مراد دا دے چه دریاب نه اګر چه دے بچ شو لیکن د اوچے د عذاب نه نه شی بچ کیدے۔

اَنۡ يَّخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ الۡبَرِّ، پشان د قارون او يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبًا، پشان د قوم لوط دے او دا سے په سورة ملک ١٦، ١٧ کښ هم دی۔

بِمَا كَفَرْتُمْ ۙ ثُمَّ لَا تَجِدُوا
په سبب د انکار ستاسو د (توحید نه) بیا به او نه مومئ تاسو
لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾
ځان لره په موږ باندې د دې کار په باره کښې څوک تپوس کوونکې.
وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ
او یقیناً عزت ورکړیدې موږ اولاد د آدم علیه السلام ته او سواره کړي موږ دوی
فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ
په اوچه او دریاب کښې او روزي مو ورکړیده دوی ته
مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى
د پاک رزقونو نه او غوره والې مو ورکړې دې دوی ته په
كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾ ع
په ډیرو د هغه څانه چه موږ پیدا کړیدي ډیر غوره والې.

٦٩:- دا هم تخویف دے د مخکښې پشان مطلب ئې دا دے چه الله تعالیٰ به دغه کس لره دریاب ته دوباره بوځي او غرق به ئې کړي نو څوک به ئې بیج کړي.

تَبِيعًا، هغه څوک دے چه بدله اخلي د خپل دشمن نه یا مددګار ته وئیلے شي.

٧٠:- په دې آیت کښې ترغیب دے په ذکر د څلور انعاماتو عامو سره د پاره د دې چه دوی شکر اوکړي په توحید منلو سره نو د هغه عذابونو نه به بیج شي چه مخکښې بیان کړے شول.

اول انعام وَلَقَدْ كَرَّمْنَا، سره بیان شوے دے او دا کرامت عام دے په نطق او په تمیز سره او په عقل سره او په نیغ قامت سره او په ښائسته شکل سره او په خوراک کولو په ګوتو سره او تابع کول د نور مخلوق هغوی لره، او دا رنګ اکرام

يَوْمَ نَدْعُوا كُلَّ أُنَاسٍۭ م

په کومه ورځ چه آواز به ورکړو هرچا (ټولو خلقو) ته په نوم

بِإِمَامِهِمْ ۚ ج فَمَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُۥ

د پیشوا د هغوی نو هغه څوک چه ورکړیشي هغه ته کتاب (عملنامه)

بِيَمِينِهِۦ فَأُولَٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ

په ښي لاس کښ پس دغه خلق به لولي

كِتَٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾

عملنامې خپلې او ظلم به نه کیږي په دوی باندې په قدر د تار د هډوکي کجورې

د سړي په بڼیره سره او اکرام د زنانو په کونڅو سره، دا ټول پدیکښ داخل دي. نو دا کرامت ټولو بنی آدمو ته شامل دے اګر چه کافران د بے دینۍ په وجه سره شر الدواب دي.

دویم انعام سورلۍ په اوچه کښ په ګاډو، موټرو او اوښانو، اسونو خچرو او خرو وغیره سره او په دریابونو کښ په کشتو لانچونو او جهازونو وغیره سره.

دریم انعام پدیکښ خوراک څښاک او لباس داخل دے چه په ډیر کښ قسم قسم مزیدار خوش رنګ څیزونه دي څلورم انعام فضیلت ورکول دي په ډیر مخلوق باندے جمادات، نباتات حیوانات او جنس ملائک هم د بعضے اهل علم په نیز پکښ داخل دي، او که مراد د فضیلت نه ظاهري وي نو دا شامل دے کافرانو ته هم او که فضیلت معنی وي نو دا خاص دے په مؤمنانو پورے.

سوال:- په سورة الانفال او سورة البینه کښ کافرانو او منافقانو ته شر الدواب او شر البریه ویلي دي نو دا خو کرامت سره منافي ده؟

جواب ۱:- دلته د کرامت او فضیلت نه ظاهري امور مراد دي

وَمَنْ كَانَ فِىْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى فَهُوَ
او هغه څوک چه وی په دے دنیا کښں ړوند (بے دلیله) نو هغه به
فِى الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى وَاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٧٢﴾
په آخرت کښں هم ړوند وی او زیات بے لارے بهوی.

چه هغه منافقانو او کافرانو ته شامل دی سره د دے چه هغوی په حقیقت کښں بد تر دی.
جواب ع۲:- دلته مراد د بنی آدم نه صرف مؤمنان دی په هر امت او هره زمانه کښں.
۷۱:- د دنیوی فضیلت نه روستو اخروی فضیلت ذکر کوی د مؤمنانو د پاره. بِاِمَامِهِمْ، د دینه هر هغه څوک مراد دے چه هغه اقتداء کړے شوے ده. برابره خبره ده که حق دے او که باطل دے. یا په معنی د کتاب الاعمال دے. اول قول غوره دے ابن کثیر ویلے دی "هذا اکبر شرف لاصحاب الحدیث لان امامهم النبی صلی الله علیه وسلم. يَقْرَءُوْنَ، یعنی په خوشحالئ سره لولی. او په دے جمله کښں بشارت دے.

۷۲:- په دے کښں تخویف اخروی دے او د اَعْمٰى، اول نه د زړه ړوند مراد دے یعنی چه بے دلیله تقلید کوی د باطل. او دویم اَعْمٰى، بخپله معنی سره مراد دے یا د دینه مراد بے دلیله دے لکه فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ، قصص ۶۶ آیت او د دے وضاحت په سورة طٰه ۱۲۴ کښں دے.

فائده:- که شبه اوکړے شی چه نورو آیاتونو کښں تصریح ده چه دوی به په ورځ د حشر سترګے لری لکه سورة قٓ ۲۲ کښں او مریم ۳۸ کښں چه ذکر دی.

جواب دا دے چه په ورځ د قیامت کښں مختلف مقامات دی بعضے مقاماتو کښں هم فرق دے، بعث د قبر نه پورته کیدل دی او حشر په میدان کښں راجمع کیدل دی نو اعمٰی یې په حشر کښں ذکر کړے دے نه په بعث کښں بعث به یې روغ اوشی او په حشر کښں به یې ړوند کړی.

وَاَضَلُّ سَبِيْلًا، یعنی د دوی ګمراهی به په آخرت کښں ښکاره شی یا مراد د سبیل نه لار د جنت ده.

وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ

او یقیناً غوارې دا مشرکان چه واړوي تا لره د بیان د

الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ

هغه خبرې نه چه وحي کړې ده مونږ تا ته دے د پاره چه او تړې

عَلَيْنَا غَيْرَهُ ۖ وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ

په مونږ باندے د دینه بغیر (بل څه) او دغه وخت به اونیسي دوی تا لره

خَلِيلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ

په دوستانه - او که مونږ نه وے کلک کړے تا لره

لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ

یقیناً نزدے وه چه کوږ شوے به وے ته دوی ته

۷۳:- په دے کښې تحذیر دے د مداهنت کولو نه، یعنی مشرکان او نور باطل پرست په اهل حق باندے کوشش کوي چه د حق په بیانولو کښې نرم شي او دا دلیل دے چه د دوی د حق نه اعلی دي لکه چه په مخکښې آیت کښې ذکر شول او دا ئې ربط دے. مثلاً مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اُوئیل چه ته زمونږ الهه شفعاء او منه نو مونږ تا سره ملګري یو.
او په لفظ د لِتَفْتَرِيَ، کښې اشاره ده چه چا وحي (قرآن او سنت) پریخودله نو ضرور به په الله تعالی باندے افتراء کوي.
وَإِنْ كَادُوا، إِنْ مخفف دے د مثقل نه نو په اصل کښې انّه دے.
كَادُوا، په معنیٰ د اراده کولو او د کوشش کولو سره دے.
الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ، مراد د دینه توحید دے.
او غَيْرَهُ، نه مراد شرک دے. خَلِيلًا، هغه دوست دے چه د زړه حاجت ور باندے سرکیږي یا هغه دے چه د هغه د مینے د پاره زړه د نورو محبتونو نه خالي وي مراد ترینه قریبي او مخلص دوست دے.

شَيْـًٔا قَلِيلًا ﴿۷۴﴾ قلے إِذًا لَّأَذَقْنٰكَ

لږ غوندے . دغه وخت خامخا څکولے به وے مونږ تاته

ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ

دوچنده عذاب په ژوند د دنیا او دوچند پس د مرګ نه

ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا ﴿۷۵﴾

بیا به او نه موندے ته ځان دپاره په مونږ باندے امدادی .

وَإِنْ كَادُوا لَيَسْتَفِزُّونَكَ مِنَ

او یقینًا دوی غواړی چه چلونه جوړ کړی تا ته پدے

الْأَرْضِ لِيُخْرِجُوكَ مِنْهَا وَإِذًا

زمکه (د مکه کښ) دپاره د دے چه او باسی تا لره د دینه او پدغه وخت

لَّا يَلْبَثُونَ خِلٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿۷۶﴾

به حصار نشی ستا نه روستو مګر لږ وخت .

س ۷۴ :- دا دلیل دے چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم مشرکانو سره هیڅ مداهنت نه دے کړے بلکه معصوم وؤ او په عصمت او تثبت کښ الله تعالی ته محتاج وؤ او په دے کښ دیر تاکیدات دی . یو لَقَدْ ، دویم تَرْكَنُ ، دریم شَيْـًٔا ، (په اثبات کښ) څلورم قَلِيلًا ، دے . یعنی هیڅ قسم مداهنت ئې د هغوی سره نه دے کړے .

س ۷۵ :- په دے کښ تعریض دے امت ته چه پیغمبر ته مداهنت نه معاف کیږی نو تاسو ته به څنګ معاف کړے شی . او آیت کښ اشاره ده چه څومره د چا درجه اعلی وی نو دومره به په وخت د مخالفت کولو کښ د هغه عذاب لوئے وی .

س ۷۶ :- خلاصه :- د دے آیت نه دریمه حصه ده تر ۱۰۰ پورے په دیکښ دریم سبب د عذاب ذکر کوی چه هغه ویستل د رسولانو دی د ملک د هغوی نه او د دے مثال ورکوی په هجرت د نبی

سُنَّةَ مَنْ قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ

په شان دَ طریقے (زما) دَ هغه چا سره چه لیږلی دی مونږ ستا نه مخکښ

مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا

رسولان زمونږ او او به نه مومے ته زمونږ طریقے لره

صلی الله علیه وسلم زمونږ ۷۶، ۷۷ کښ. بیا څلورا داب او امور مصلحه یے ذکر کړیدی دَ باره دَ تثبیت په وخت دَ ابتلاء کښ دَ ۷۸ نه تر ۸۱ پورے بیا ترغیب الی القرآن دے په ۸۲ کښ بیا پنځه زجرونه دی اول زجر په سبب دَ اعراض کولو ۸۳، ۸۴ کښ. دویم زجر دے په سوال عنادًا ۸۵، ۸۶، ۸۷ کښ او صداقت دَ قرآن په طریقه دَ تحدی سره په ۸۸ کښ. دریم زجر په اعراض عن القرآن ۸۹ کښ. څلورم زجر په طلب دَ آیاتو نو اتو تعنتًا (عنادًا) ۹۰، ۹۱، ۹۲ کښ. پنځم زجر په انکار دَ بشریت دَ رسول ۹۴ او دَ هغے جواب ۹۵ کښ او اثبات دَ رسالت په شهادت دَ الله تعالی سره ۹۶ کښ بیا تخویف اخروی ۹۷ کښ او سبب دَ هغے انکار دَ بعث ۹۸ کښ او اثبات دَ بعث سره دَ توحید نه په ۹۹ کښ او بیا زجر په بخل دَ انسان او مقصد په دے کښ اثبات دَ توحید او دَ رسالت دے.

تفسیر:- په دے آیت ۷۶ کښ دَ مشرکانو کوششونه او مکرونه دَ باره دَ اخراج دَ رسول ته اشاره شویده یعنی هرکله چه حیله دَ مداهنت دَ دوی کامیابه نه شوه نو دوی دَ هغه دَ ویستلو کوشش شروع کړلو.

وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ خِلَافَكَ إِلَّا قَلِيلًا، کښ اشاره ده عذاب دَ اهل مکے ته یعنی هرکله چه دوی تا لره او باسی نو زر به په دوی باندے عذاب راشی نو په بدر کښ په دوی باندے عذاب راغے. استفزاز، په چل ول او مکرونو سره خوځیول او ویستل دی.

تَحۡوِيۡلًا ﴿۷۷﴾ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوۡكِ

مونځونه دَ وخت دَ زوال کوه بدلیدل -

الشَّمۡسِ اِلٰى غَسَقِ الَّيۡلِ

دَ نمر نه تر تیاره دَ شپې پورې

وَقُرۡاٰنَ الۡفَجۡرِ ؕ اِنَّ قُرۡاٰنَ

او مونځ دَ صبا، یقیناً مونځ

الۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُوۡدًا ﴿۷۸﴾ وَمِنَ الَّيۡلِ

دَ صبا ته حاضري کیدیشي (دَ ملائکو) - او دَ شپې په یوه برخه کښ

۷۷ :- په دے آیت کښ تاکید دے دَ تیر شوي تخویف یعني په دوي به عذاب راشي پشان دَ حال دَ تیر شوؤ قومونو چه هغوي رسولان شړلي وؤ نو عذاب پرے راغے نو هر کله چه مشرکان مکه په مختلف طریقو سره نبي صلی الله علیه وسلم لره تنګ کړو او دَ مکے نه ئے ویستلو نو یو نیم کال روستو په بدر کښ مشرکان او وژلے شول او ذلیل شول.

سُنَّةَ، په دے کښ تقدیر دَ عبارت دے نَفۡعَلُ لَكَ مِثۡلَ سُنَّةِ مَنۡ (او به کړو تا لره پشان دَ کار دَ مخکښني رسولانو).

۷۸ :- په دے آیت کښ ذکر دَ اول امر مصلح او ادب دے دَ پاره دَ تثبت، او مراد دَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ، نه پابندي او همیشګيري کول دي په ټولو مونځونو باندے.

او لِدُلُوۡكِ، دَ دلوک یوه معنیٰ زوال دَ نمر، دویمه معنیٰ غروب دَ نمر، په اوله معنیٰ سره څلور مونځونو ته اشاره ده ماسپخین، مازیګر، ماښام او ماسخوتن ته ځکه چه الی غسق اللیل غایه داخل ده په ماقبل کښ او په دویمه معنیٰ سره صرف دَ ماښام مونځ مراد دے ابن جریر او ابن کثیر اول قول دَ ډیرو صحابو او تابعینو نه نقل کړیدے او دَ دُلُوۡكِ په

فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ ق

تهجد کوه دا زیاتی دے ستا د پاره

عَسٰٓى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا

نزدے ده چه اوبه رسوی تا لوه رب ستا ځائے

مَّحْمُوْدًا ﴿٧٩﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِیْ

ستائیلے شوی ته۔ او ته وایه اے ربه داخل کړې ما لره

معنیٰ په زوال سره یو مرفوع حدیث ئے هم راوړیدلے نو دغه قول غوره دے۔

قُرْاٰنَ، دا مصدر دے په معنیٰ دَ قراءت سره دے او مراد دَ قراءت نه تول مونځ دے ځکه چه قرآن لوستل رکن اصلی دے په مونځ کښ۔

مَشْهُوْدًا، وجه دا ده چه ملائک دَ شپے او دَ ورځے په دغه مونځ کښ جمع کیږی۔

سوال:- په دیکښ دویم امر مصلح او ادب ذکر دے چه هغه صلوٰة اللیل دے روستو دَ بیدارئ دَ خوب نه۔

فَتَهَجَّدْ، په معنیٰ دَ ترک هجود (خوب) دے نو معلومه شوه چه تهجد هغه مونځ دے چه روستو دَ خوب دَ شپے نه وی یعنی دَ نیمے شپے نه روستو دَ هغے غوره وخت شروع کیږی۔

نَافِلَةً لَّكَ، یو معنیٰ دا ده چه دا زیاتی عزت او اکرام ستا دے، دویمه معنیٰ دا چه دا عطیه او بخشش ستا دے او لفظ دَ نافله دلیل دے چه دا په نبی صلی الله علیه وسلم باندے هم فرض نه وُو او دا صحیح قول دے لیکن تخصیص دَ هغه په لفظ دَ لَکَ سره دَ وجے دَ شرافت دَ هغے نه دے ځکه چه نفل کولو سره دَ امت گناهونه معاف کیږی او هر چه نبی صلی الله علیه وسلم دے نو دَ هغه درجات پرے زیاتی کیږی ځکه چه گنهگار نه دے۔

مَقَامًا مَّحْمُوْدًا، نه مراد مقام دَ شفاعت کبری دے یا مقام

مُدۡخَلَ صِدۡقٍ وَّ اَخۡرِجۡنِیۡ مُخۡرَجَ

په داخلیدلو دَ رشتیاؤ او اوباسے ما په ویستلو

صِدۡقٍ وَّاجۡعَلۡ لِّیۡ مِنۡ لَّدُنۡكَ

دَ رشتیاؤ او دا کړے ما لره دَ خپل طرف نه

سُلۡطٰنًا نَّصِیۡرًا ﴿۸۰﴾ وَقُلۡ جَآءَ الۡحَقُّ

غلبه چه مدد ورسره وی۔ او ته او وایه راغے حق

دَ زیات قربت دَ الله تعالیٰ دے اول قول غوره دے او محمود ورته په دے وجه سره وائی چه دَ دغه مقام ستائینه کیدیشی ویټلے شی چه دا لوے مقام دے، یا دا چه دَ هغے دَ صاحب ستائینه کیدیشی۔ یا محموداً، په معنیٰ دَ محمود فیه سره دے ځکه چه په حدیث شفاعت کښ راغلے دی چه په هغه مقام کښ به ما ته دا سے حمد ونه اوخودلے شی چه دَ هغے نه مخکښ ماته نه دی خودلے شوی۔ او احتمال شته چه مقام محمود په دنیا کښ لویه مرتبه دَ نبی صلی الله علیه وسلم مراد ده۔ چه رفعنا لك ذکرك کښ اشاره ده۔

نمبر ۸۰:۔ په دے کښ دریم امر مصلح او ادب دے۔ وَقُلۡ رَّبِّ اَدۡخِلۡنِیۡ مُدۡخَلَ صِدۡقٍ وَّ اَخۡرِجۡنِیۡ مُخۡرَجَ صِدۡقٍ، دَ مدخل صدق او مخرج صدق نه مراد دا دے چه دخول او خروج دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَ پاره وی او دَ هغه په امر سره وی دَ دنیا مقصد او په خپل خواهش سره نه وی نو مدخل او مخرج مصدر ونه میمیه دی۔

سُلۡطٰنًا نَّصِیۡرًا، مراد دَ دینه حجت قویه دے یا مراد دینه هغه غلبه ده چه په مدد دَ الله تعالیٰ سره وی یعنی روستو غلبے نه بیا کمزوری نه پیداکیږی او په دے کښ اشاره ده چه روستنه دَ هجرت فی سبیل الله نه سلطان او نصرت حاصلیږی۔

وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ۭ اِنَّ الْبَاطِلَ

او ورک شو باطل ، یقیناً باطل

كَانَ زَهُوْقًا ﴿٨١﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ

دے ورکیدونکے ۔ او نازلوو مونږ دَ قرآن نه

مَا هُوَ شِفَاۗءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ

هغه شے چه هغه شفاء او رحمت دے ایمان والو لره

وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾

او نه زیاتوی ظالمانو لره مگر تاوان ۔

ف٨١ :- په دې کښې خلورم امر مصلح او ادب دے او دا خبر په طریقه دَ پیشنګوئۍ سره دے ، او بشارت او تسلی ده دَ دے وجے نه حدیث دَ صحیحین کښې وارد دی چه کله مکه فتح کړے شوه او رسول الله بتان درے سوه شپیته په خپله نیزه او وهل نو دا ئے او فرمائیل وَقُلْ جَاۗءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ، اَلْحَقُّ نه مراد توحید ، قرآن او رسالت دے ۔

ف٨٢ :- په دے آیت کښې ترغیب دے قرآن ته یعنی مهاجر دَ پاره دَ قرآن لوستل ډیر ضروری دی ، او اشاره ده چه دَ استشفا دے دَ قرآن دَ پاره ایمان ضروری دے او کله چه عناد او ضد وی نو دَ قرآن په سبب سره نقصان زیاتیږی لکه په سورة مائده ف٦٤ ف٦٨ کښې دی ۔

او شِفَاۗءٌ ، نه مراد شفاء دَ امراضو روحانیو او ظاهریو دواړو ده، روحانیه امراض شرک ، شک نفاق وغیره دی او ظاهریه امراضو دَ پاره دَ قرآن دم لوستل په ډیرو صحیحو روایاتو سره ثابت دے او دَ هغے تعویذ لیکل په حدیث صحیح مرفوع سره ثابت نه دی اگرچه موقوف حدیث او عمل دَ سلفو په هغه دَ جواز دَ پاره بوره دے لیکن په دے زمانه کښې دَ هغے نه ډیر مفاسد پیدا

وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ

او کله چه انعام اوکړو مونږ په انسان باندې نو مخ اوګرځوی

وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

او لرې کړی دده خپله او کوم وخت چه اورسی دده ته تکلیف

كَانَ يَئُوْسًا ﴿۸۳﴾ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ

نو وی دے ناامیدی کوونکے۔ اووایه ته هر یو عمل کوی

کیږی نو فتوی دَ عام جواز پکار نه ده۔ زاد المعاد دَ ابن قیم کښې او روح المعانی دَ دے آیت دَلاندې ډیر روایات ذکر کړی دی۔ وَرَحْمَةٌ، مراد دَ دینه زیاتیدل دَ ایمان او تثبیت او ثوابونه دی چه په قرآن کریم سره حاصلیږی۔

مِنَ الْقُرْاٰنِ، مِن بیانیه دے دَ مَا هُوَ دَپاره اګرچه په مخے باندې مخکښې دے یا مِن دَپاره دَ تبعیض دے او مراد په تبعیض کښې دا دے چه هره حصه دَ قرآن شفاء او رحمت دے.

۸۳:۔ دا حال دَ ظالمانو دے چه مخکښې آیت کښې ذکر شویدے او په دیکښې زجر دے په اعراض کولو سره دَ توحید او دَ قرآن نه روستو دَ ترغیب الی القرآن او دا اعراض دے په سبب دَ مالدارئ او دَ وسعت او دَ صحت سره او دا معنی دَ اَنْعَمْنَا، ده او ناامیدی کول په وخت دَ سختئ کښې او وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ، نه مراد لرے تلل دَ موضع بیان دَ حق نه یا تکبر کول دی۔

يَئُوْسًا، یو معنی دا ده چه دَ الله تعالیٰ نه ناامیدی کوی او دَ مخے تائید په سورة یوسف ۸۷ کښې دے۔ دویمه معنی دا ده چه په وخت دَ سختئ او مصیبت کښې دَ خپلو باطلو معبودانو نه ناامیده وی او صرف الله تعالیٰ ته آواز کوی لکه چه دا عادت دَ مشرکین عرب وُو او دا رنګ په سورة هود ۹، ۱۰ کښې دی۔

عَلٰی شَاکِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ

په خپله طریقې سره ، نو رب ستاسو ښهٔ پوهه دے

بِمَنْ هُوَ اَهْدٰی سَبِیْلًا ﴿۸۴﴾

په هغه چاچه هغه روان دے په سمه لار.

وَ یَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ

او دوی ستا نه تپوس کوی په باره دَ روح کښ

قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ وَ مَاۤ

ته اووایه روح (پیدا شویدے) په حکم دَ رب زما او ته ده

اُوْتِیْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۸۵﴾

در کړے شوے تاسو ته دَ پوهے نه مګر لږ غوندے.

سـ۸۴ :۔ په دے آیت کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته او براءت کول دی دَ مشرکانو نه چه مخکښ آیت کښ دَ هغوی ذکر تیر شو۔

شَاکِلَتِهٖ ، په معنی دَ طریقې او نیت او دَ طبیعت سره راغلے دے۔ او داسے په سورۃ هود سـ۱۲۱ کښ شته دے۔

سـ۸۵ :۔ په دے کښ زجر دے په سوال عنادی او تعنتی سره چه مطلب دَ سوال ځان پوهه کول نه وی بلکه مسئول عنه چپ کول ئې صرف مقصد وی ، دا سوال مشرکانو عرب دَ یهودو په لمسه سره کړے وؤ نو دواړه دَ پاره زورنه ده او دَ دے ربط دَ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ، سره یعنی معرضین خلق داسے تپوسونه کوی۔

او مراد دَ الرُّوْحُ ، نه په دے کښ ډیر اقوال دی یو دا چه دَ ژوند روح دے ، دَ هغوی دَ سوال مقصد دا دے چه روح دَ کوم ځائے نه ښکاره شویدے لکه چه معلومه شوه چه بدن دَ

# وَلَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِیْ

اوکه مونږ اوغواړو خامخا بوبه ځو ستا نه هغه شے چه

خاورو نه پیدا شوے دے، نو روح د کوم ځائے اوکوم مادے نه پیدا شو؟

جواب :- روح د عالم الامر نه راکوز شوے دے او د دینه زیات په تفصیل باندے تا سو پوهیدلے نه شئ ځکه چه بعض څیزونه د متشابهاتو نه دی. نو په دے تحقیق سره معلومه شوه چه جواب د هغوی د سوال سره موافق دے. او دویم قول دا دے چه مراد د روح نه قرآن دے چه سورة النحل آیت ۲ کښ په هغے باندے اطلاق د روح کړے شوے دے یعنی قرآن د څان نه تا جوړ کړے دے یا جبرائیل د څان نه راوړے دے؟

جواب :- دا د الله تعالیٰ په امر سره نازل شوے دے. دریم قول دا دے چه مراد د دینه جبرائیل دے ځکه چه قرآن کښ هغه ته روح الامین او روح القدس ویلے شوے دے یعنی دوی سوال کوی چه جبرائیل د څه نه پیدا دے. څلورم قول دا دے چه روح یو خاص قسم دے د ملائکو نه چه د هغوی اوصاف صرف الله تعالیٰ ته معلوم دی او روح او نفس کښ د علماء اختلاف دے چا ویلی دی چه نفس ساه ته ویلے شی چه په هغے سره حیوانات او انسانان ژوندی تیروی او روح یو قسم مخلوق دے د دے وجے نه قرآن د موت په وخت توفی د نفس ذکر کړیده او د روح ذکر ئے نه دے کړے. دویم قول دا دے چه روح او نفس دواړه ساه ته ویلے شی لیکن نفس ورته هغه وخت ویلے شی چه په بدن پورے متصل وی او روح عام دے که بغیر د اتصال نه وی او که په وخت د اتصال کښ وی.

سوال :- په حدیث د بخاری کښ راغلی دی چه دا سوال یهودیانو په مدینه کښ کړیدے او حال دا دے چه دا آیت مکیه دے او په حدیث د احمد کښ راغلی دی چه یهودیانو مشرکینو د مکے ته دا

أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ
وحی کړې ده موږ. تا ته بیا به او نه مومې ته څان له
بِهِۦ عَلَيۡنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾ إِلَّا رَحۡمَةً
بدے سره زموږ په مقابل کښې مددګار - لیکن (نه ئے بوځې) د وجه د رحمت
مِّن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ
د رب ستا نه، یقیناً فضل د الله تعالیٰ دے
عَلَيۡكَ كَبِيرًا ﴿٨٧﴾ قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ
په تا باندے ډیر لوے. ته اُوایه که چرے جمع شی

دا سوال خو دلے وؤ؟

جواب ۲ :- اول نازل شو ټول آیت په مکه کښې بیا په وخت د سوال د یهودیانو کښې چه نبی صلی الله علیه وسلم انتظار اوکړو د وحی نو په وحی سره حواله ئے ورکړله پدغه آیت سره.

وَمَآ أُوتِيتُم، کښې خطاب عام دے او دا دلیل دے چه د مخلوق علم قلیل دے نو د الله تعالیٰ سره په علم محیط او علم کلی او علم غیب کښې شریک نشی کیدے او دا رنګ د قلت علم په وجه سره په متشابه څیزونو باندے هم نه پوهیږی.

۸۶، ۸۷ :- په دے آیتونو کښې صدق د قرآن ذکر دے او تسلی ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته چه د دوی د اعتراضونو په وجه سره په تا باندے رحمت او وحی د الله تعالیٰ نه بندیږی، او دا آیت دلیل دے چه وحی نبی د څان نه نشی جوړولے، او په دے لفظ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ عَلَيۡكَ كَبِيرًا، کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عظمت شان ته اشاره ده.

رَحۡمَةً، ابقاء د وحی د قرآن نعمتِ خاصه دے او لفظ د فضله کښې اشاره ده نورو صفتونو د نبی صلی الله علیه وسلم ته.

الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا

انسانان او پیریان په دے خبرہ چه راوړی

بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ

په شان د دے قرآن نو نه شي راوړے

بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ

د دے په شان اگر چه شی بعضے د دوی

لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا

د بعضو د پاره مددگار - او یقینًا قسما قسم بیان کړیدی مونږ

لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ

خلقو ته په دے قرآن کښ د هر قسم بیان نه

۸۸:- په دے کښ اثبات د صدق د قرآن کریم دے په طریقه د تحدی سره او بیان د اعجاز د قرآن کریم دے او په آیت کښ اشاره ده عجز د ټول مخلوق ته نو دوی الهه نشی کیدلے او په سورة یونس ۳۸ کښ تحدی په یو سورت سره ده او سورة هود ۱۳ کښ په لس سورتونو سره ده او په سورة طور ۳۴ کښ په لفظ د حدیث سره چه یو خبرے ته شامل دے هر کله چه اول مخاطب په قرآن سره انسانان دی د دے وجے نه هغوی ئے د جن نه مخکښ ذکر کړی دی۔ او په مقام د خلق کښ جن ئے مقدم ذکر کړے دے لکه په سورة ذاریات ۵۵ کښ ځکه چه خلق د جناتو مخکښ دے په انسانانو باندے۔

فَأَبَىٰ أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾

نو نه کوی ډیر خلق بل کار سوا د ناشکرئ نه۔

وَقَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ

او دوی وائی چرے مونږ ایمان نه راوړو په تا باندے ترڅو پورے

تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْأَرْضِ يَنبُوعًا ﴿٩٠﴾

چه را اوباسے مونږ لره د زمکے نه چینے۔

أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ

یا وی تا لره باغ د کجورو

وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْأَنْهَارَ خِلَالَهَا

او انګورو پس چه او بیوی نهرونه په مینځ د هغے کښ

تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوْ تُسْقِطَ السَّمَاءَ كَمَا

په ډیرو بیولو سره۔ یا را اوغورځوے ته آسمان لکه څنګ چه

ف۸۹ :۔ دا یو علت دے د پاره د اعجاز د قرآن کریم په دے کښ روستو د ترغیب الی القرآن نه زجر دے په انکار د قرآن سره۔

مِن كُلِّ مَثَلٍ، مثل نه مراد قسما قسم بیانات دی یعنی دلیلونه زجرونه تخویفات او بشارات وغیره۔

فائده :۔ په لفظ د فَأَبَىٰ، کښ معنیٰ د نفی موجوده ده یعنی لا یفعل شیئًا د دے وجے نه استثناء تړینه صحیح شوه او په دے جمله کښ ډیر تاکید دے په انکار کولو سره۔

ف۹۰، ف۹۱، ف۹۲، ف۹۳ :۔ په دے آیاتونو کښ زجر دے په طلب د آیاتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په طریقه د ضد او عناد سره، او په دے کښ د اتو آیاتونو مطالبے ذکر شوے دے، په اول کښ د زمکے د مکے نه چینے راویستل

زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ

ستا گمان دے په مونږ باندے ټکړے یا راولے ته الله تعالیٰ

وَالْمَلٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿۹۲﴾ أَوْ يَكُونَ لَكَ

او ملائکو لره مخامخ . یا وی ستا

بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقٰى

کوټه د سرو زرو او یا خیژے

فِي السَّمَآءِ ۖ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ

آسمان ته ، او چرے نه منو مونږ ختل ستا

حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ۗ

تر دے چه نازل کړے په مونږ باندے کتاب چه مونږ ئے اولولو ،

دی چه فائده ئے عامه شی ، او په دویم کښں باغونه او نهرونه پیدا کیدل اگرچه ستا د پاره خاص وی او دا تصرفات د زمکے دی - او په دریم کښں تصرف کول په آسمان کښں دی - او تصرف کول په آسمان والا کښں ، او په څلورم کښں تبدیلی د فقیرئ نه مالدارئ ته ، یا ترقی کول پدا سے طریقے چه زمکے نه آسمان ته اوخیژی ، او هرکله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته وئیلی وو چه زهٔ په شپه د معراج کښں آسمان ته ختلے یم نو هغوی زر مطالبه بدله کړه چه صرف ختل نه منو بلکه غټ کتاب به د څان سره راوړے .

فائده :- د باطل پرستو عقیده په باره د نیکانو خلقو کښں دا وی چه د دوی سره د زمکے او آسمان تصرفات دی او الله او ملائک هم د دوی تابع دی ، د دے عقیدے په بناء سره دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا مطالبے کولے ؟ د جواب حاصل دا دے چه زهٔ بشر یم او رسول یم او د بشر

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ هَلْ كُنْتُ

ته اُوایه پاکی ده رب زما لره نه یم زهٔ

إِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿۹۳﴾ وَمَا مَنَعَ

مګر بشر رسول یم - او نه دے منع کړے

النَّاسَ أَنْ يُّؤْمِنُوْا إِذْ جَاءَهُمُ

خلقو لره د ایمان راوړلو نه کله چه راغے دوی ته

الْهُدٰى إِلَّا أَنْ قَالُوْا أَبَعَثَ اللّٰهُ

هدایت مګر دے بهانے چه دوی وائی آیا رالیږلو الله تعالیٰ

ع ۱۰

اګرچه رسول وی په قدرت کښ تصرفات د عالم نشته -

كَمَا زَعَمْتَ ، په دے کښ اشاره ده هغه آیا نو نو ته چه په هغے کښ د آسمانونو انشقاق او انفطار ذکر دے او دوی د هغے نه رد کفر د وجے نه) تعبیر اوکړو په زعم سره -

وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ ، رُقِيِّكَ ، مصدر دے د رقی او ارتقاء نه په معنیٰ د ختلو سره دے او په معنی د صحیفے او وړوکی کتاب سره خو په هیڅ لغت کښ نه دی راغلی نو دغه معنی غلطه ده -

سُبْحَانَ رَبِّيْ ، په دیکښ اشاره ده چه دغه ذکر کړے شوی د الوهیت تصرفات دی او د الله تعالیٰ شریک په الوهیت کښ نشته نبی اله نه دے بلکه بشر رسول دے -

سوال :- په حدیث د مسند احمد کښ دی چه الله تعالیٰ نبی صلی الله علیه وسلم ته اوفرمائیل که ته غواړے چه بطحاء (شګه) د مکے ستا د پاره سره زر جوړ کړم لیکن هغه رد کړه ؟

جواب :- د هغه حدیث په سند کښ علی بن یزید راوی دے هغه ضعیف دے - بل جواب دا دے چه په هغے کښ هم ذکر د تصرف او قدرت د الله دے -

بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ
ته اُووایه که چرے وے
بشر لره رسول -

فِي الْأَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ
په زمکه کښې ملائک چه گرځیدے

مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ
او سیده وکے وے نو رالیږلے به وُو مونږ په دوی باندے دَ

السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿٩٥﴾ قُلْ
ته اُووایه
آسمان نه ملک (فرښته) رسول -

۹۴:- دا زجر دے په انکار دَ بشریت دَ رسول نه، او دا سوال دَ تیر شوی آیت نه پیدا شو چه مخکښې اُوئیلے شو چه زهٔ بشر رسول یم نو دوی دَ دے وجې نه انکار اوکړو حاصل دا دے چه بشریت دَ رسول صرف مانع دے دوی لره دَ رسول منلو نه او په سورة کهف ۵۵ کښې مانع دَ توحید دَ منلو نه ذکر کړے شوے دَ دے وجې نه په دواړو حصرونو کښې منافات نشته دے او اوس هم باطل پرست خلق لکه بریلیان دَ رسول دَ بشریت نه منکر دی صرف فرق دا دے چه مخکنو خلقو رسول لره په سترګو لیدلو چه بشر دے نو دَ رسالت نه یې انکار کوؤ او دے موجود وُو خلقو رسول په سترګو نه دے لیدلے تو دوی دَ بشریت نه انکار کوی، او دواړه په دے عقیده کښې کفریه کښې شریک دی چه دَ بشریت او رسالت په مینځ کښې منافات ګنړی.

۹۵:- په دے آیت کښې جواب دَ تیر شوی سوال دے. حاصل دَ جواب یې دا دے چه رسول دَ جنس دَ مرسل الیهم نه ضرور پکار وی نو که په زمکه کښې ملائک وے نو دَ دوی رسول به ضرور ملک وُو دَ هغوی دَ جنس نه، لیکن تاسو بشر یئ نوستاسو رسول به ضرور بشر وی -

كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ بَيْنِيْ وَ

پوره دے الله تعالیٰ گواه (فیصله کوونکے) په مینځ زما او

بَيْنَكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ

په مینځ ستاسو کښې، یقیناً الله تعالیٰ دے په بندګانو خپلو

خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿۹۶﴾ وَ مَنْ يَّهْدِ

خبردار لیدونکے. او هغه څوک چه هدایت اوکړی

اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَ مَنْ

الله تعالیٰ هغه ته نو هغه هدایت موندونکے دے او هغه څوک چه

يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ اَوْلِيَآءَ

بے لارے کړی الله تعالیٰ هغه لره نو چرے او به نه مومے ته هغوی لره مددګار

مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَ نَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

سوا د الله تعالیٰ نه، او راغونډ به کړو مونږ دوی په ورځ د قیامت

يَمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ، کښې اشاره ده چه که ملائک داسے شی چه آسمان ته نشی ختلے په زمکه کښې ژوند تیروی او دا ځکه اوفرمائیل چه په زمکه کښې خو ملائک شته لیکن هغوی آسمانونو ته ځی راځی۔

۹۶:۔ دا هم جواب دے او اثبات د رسالت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے په شهادت د الله تعالیٰ سره، او دا رنګ په سورة رعد ۴۳ کښې دی۔

شَهِيْدًا، شهادت کول د الله تعالیٰ په رسالت د رسول باندے هغه اخبارات او حجتونه دی چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې په ډیرو آیاتونو کښې ذکر کړی دی او په هغے فیصله کیږی د دوه فریقو په مینځ کښې د دے وجے نه بَيْنِيْ وَ بَيْنَكُمْ ئے اوئیلو. یا د شهادت نه علم د الله تعالیٰ په حال د نبی او په حال د

عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا

په مخونو دَ مغوی باندے ړانده او چاړه ګان

وَّصُمًّا ؕ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ

او کانړه ځائے دَ دوی جهنم دے،

كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿٩٧﴾

هر کله چه ليبے کمے شي نو زیاتوؤ به دوی لره ليبے دَ اور۔



منکرینو باندے مراد دے یعنی بالفرض که دا نبی حق نه وے نو الله تعالٰی به دے هلاک کړے وے لکه چه په سورة الحاقه ۴۵، ۴۶ کښ ذکر دی۔

۹۷:۔ په دے آیت کښ ذکر دَ دوؤ ډلو دے روستو دَ اثبات دَ رسالت نه خوک به دا رسول منی او څوک به يے نه منی او بیا نه منونکو ته تخویف اخروی دے او دا رنګ دا جواب دَ سوال دے چه دا رسول که چرته په حقه باندے وی نو لازم دا ده چه ټولو خلقو به هدایت موندلے وے حاصل جواب دا دے چه هدایت او اضلال په اختیار دَ الله تعالٰی کښ دے۔

وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ، او دا رنګ په سورة فرقان ۳۴ کښ دی۔

عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا، په حقیقت حمل دے یعنی په بعضے حالت کښ په ورځ دَ حشر به دَ دوی داسے حال وی، او حدیث صحیح کښ راغلی دی۔ (قَالَ أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) یعنی هغه ذات چه په دنیا کښ يے دوی په خپو باندے ګرځولی دی نو هغه قادر دے چه په قیامت کښ يے په مخ باندے اوګرځوی۔ هر کله چه په عذاب دَ جهنم کښ تخفیف نه راځی لکه نورو نصوصو کښ دا ظاهر راغلی دی۔

نو كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا، معنٰی حقیقی مراد نه ده بلکه

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا

دا سزا دَ دوی ده په وجه دَ دے چه دوی کفر کړیدے

بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا

په آیاتو زمونږ او دوی وائی آیا چه کله شو مونږ

عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ

هډوکی او ذرے ذرے آیا مونږ به ضرور پورته کړے شو

خَلْقًا جَدِيْدًا ﴿۹۸﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا

په پیدائش نوی سره ۔ آیا نه ګوری دوی

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

چه یقیناً الله تعالیٰ داسے ذات دے چه پیدا کړیدی آسمانونه

قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ

قادر دے چه پیدا کړے دَ دوی پشان

وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيْهِ ؕ

او مقرر کړیده دَ دوی دَ پاره نیټه نشته شک په هغے کښې،

فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۹۹﴾

نو نه کوی ظالمان بل کار سوا دَ ناشکرئ کولو نه ۔

ترقی په عذاب کښې مراد ده ۔ یا خبت، په معنی دَ فی زعمهم دے.

ف۹۸ :- په دے کښې اسباب دَ عذاب ئے ذکر کړی دی یو کفر بالآیات یعنی انکار دَ توحید نه، او دویم انکار دَ بعث بعد الموت نه او دا دویم سبب دَ دے سورت په ف۴۹ کښې ذکر وؤ۔

ف۹۹ :- دا دلیل عقلی دے دَ پاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت او دَ پاره دَ توحید۔

قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَآئِنَ
ته اُووایه که تاسو شئ اختیار منډ د خزانو
رَحْمَةِ رَبِّیْۤ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ
د رحمت د رب زما نو دغه وخت به خامخا تاسو بند کړئ
خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ۚ وَكَانَ الْاِنْسَانُ
د وجې د ډیرې د خلاصیدو نه او دے انسان
قَتُوْرًا ﴿۱۰۰﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى
ډیر تنګ زړے . او یقینا ورکړے دی مونږ موسیٰ علیه السلام ته

فَاَبٰۤى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ، په دے کښ ئے ظالمون لفظ د دے وجې نه راوړو چه انکار د قدرت د الله تعالیٰ نه لوے ظلم دے، او په ۸۹ کښ الناس ئے ذکر کړیدے ځکه چه صرفنا للناس پکښ ذکر کړے دے.

عَلٰۤى اَنْ یَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ ، دا رنګ په سورة یٰس ۸۱ کښ او په سورة احقاف ۳۳ کښ دی او د مثلهم نه مراد نفس ذاتونه د دے خلقو دی ځکه چه مثل کله په معنیٰ د ذات راځی او آیت ۳۳ سورة احقاف د دے تفسیر دے ځکه چه په هغے کښ د مثلهم په ځائے کښ الموتیٰ ذکر کړیدے.

۱۰۰ :- تیر شوی آیت کښ قدرت د الله تعالیٰ ذکر کړے شو نو په دے آیت کښ عجز او ضعف د مخلوقاتو ذکر کوی چه دوی سره د خزانو مِلك او اختیار نشته او که بالفرض د خزانو مالکان شی نو خرڅ نشی کولے د دے یرے نه چه دا خزانے خو به خلاصے شی. او دا آیت رد دے په هغه چا باندے چه انبیاء او اولیاء د خزانو اختیار منډ ګڼړی نو په دے آیت کښ هم دلیل د توحید دے.

تِسۡعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسۡـَٔلۡ

نهه معجزات ښکاره نو تپوس ئے اوکړه

بَنِىۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ

د بنی اسرائیلو نه کله چه راغے دوی ته نو اُوئیل

لَهٗ فِرۡعَوۡنُ اِنِّىۡ لَاَظُنُّكَ

هغه ته فرعون یقینًا زه ګمان کوم په تا باندے

يٰمُوۡسٰى مَسۡحُوۡرًا ﴿۱۰۱﴾ قَالَ لَقَدۡ

اے موسیٰ د جادو کړے شوے نه ۔اُوئیل موسیٰ علیه السلام یقینًا

۱۰۱:۔ خلاصه :۔ د دے آیت نه تر آخر د سورت پورے څلورم حصه ده په دے کښ څلورم سبب د عذاب ذکر کوی چه هغه استهزاء بالرسول ده او د دے مثال ئے ذکر کړے دے په واقعه د فرعون او د موسیٰ علیه السلام د ۱۰۱ نه تر ۱۰۴ آیت پورے ۔او بیا ترغیب دے قرآن ته په ۱۰۵، ۱۰۶ آیتونو کښ، بیا دلیل نقلی دے د اهل کتابو سابقینو نه ۱۰۷، ۱۰۸، ۱۰۹ آیتونو کښ ۔ بیا اختتام د سورت دے په ۱۱۰، ۱۱۱ آیتونو کښ په توحید سره ۔

---

تفسیر :۔ په دے کښ وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسٰى تِسۡعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ، مراد د آیات نهه معجزات د موسیٰ علیه السلام دی چه په سورۃ اعراف ۱۳۰، ۱۳۳ کښ ذکر شوی دی او بعضے مفسرینو د دینه نهه احکام اراده کړی دی او هغه په حدیث د صفوان بن عسال کښ ذکر شوی دی لیکن ابن کثیر وئیلی دی چه دا حدیث منکر دے او د عبد الله بن سلمه راوی په حفظ کښ نقصان دے ۔او بیا هغه باندے اشتباه راغلے ده چه تسع ایات د حشر کلمات سره ۔

ربط :۔ او د دے آیت ربط د ماقبل سره دا دے چه فرعون سره اګرچه ډیرے خزانے وے لیکن د هغے په سبب سره د

عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا

ته پوهه يې چه نه دي نازل كړي دا معجزات مګر

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ

رب د آسمانونو اودزمكې دليلونه ښكاره كولو د توحيد

وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ﴿۱۰۲﴾

او يقيناً زهٔ ګمان كوم په تا باندې اے فرعونه تباه كړے شوے.

فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ

پس اوغوښتل فرعون چه اوباسي دوى لره (په زور) د ملك د مصر نه

فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ﴿۱۰۳﴾

نو غرق كړو مونږ دے او د ده ملګرى ټول.

عذاب د الله تعالىٰ نه ځ نه شو نو معلومه شوه چه دے اختيارمند د خزانو نه وؤ او په هغه باندے د وجے د استهزاء نه په رسول پورے عذاب راغے.

مَسْحُوْرًا، پخپله معنىٰ سحر دے يا په معنىٰ د ساحر دے كلمه مفعول په معنىٰ د فاعل سره راځي او د مسحور معانى په ۴۷ آيت كښ تيرے شوي دي. معجزات د موسىٰ عليه السلام نورے هم ډيرے وے لكه چه سورة بقره كښ ذكر دي ليكن د فرعون په ژوند كښ غټ معجزات صرف نهه وو.

۱۰۲:- دا خطاب دے د موسىٰ عليه السلام فرعون ته او دليل دے په دے خبره چه فرعون په زړه كښ حق پيژندلو ليكن په ژبه يې عناداً انكار كوؤ لكه سورة نمل ۱۴ آيت كښ دي.

مَثْبُوْرًا، هلاك شوے او ناقص العقل او لعنتي.

۱۰۳:- په دے آيت كښ يل ظلم د فرعون ذكر شوے دے چه ويستل د بني اسرائيلو دي د مصر نه هغه هم سبب د عذاب شو.

وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهٖ لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ

او ووئیل مونږ روستو د (غرقیدلو د هغه نه) بنی اسرائیلو ته

اسْکُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ

اوسیږئ په زمکه کښ پس هر کله چه راشی وعده

الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِکُمْ لَفِیْفًا ﴿۱۰۴﴾

د آخرت راولو به تاسو لره غونډ (په جمع سره).

وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ

او په حق سره نازول شروع کړیدی مونږ دے قرآن او په حق سره

نَزَلَ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا

نازل شوی دی، او نه یے لیږلے مونږ ته مګر زیرے ورکوونکے

فَاَرَادَ اَنْ یَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ، اَرَادَ، په معنی د کوشش کولو دے او بیا عذاب ذکر شوے دے او په دے کښ تصریح ده چه فرعون د غرق نه بچ شوے نه دے.

سئلہ:- په دے کښ ذکر د انعام دے په بنی اسرائیلو باندے سره د تخویف اخروی نه،

او مراد د الْاَرْضَ، نه زمکه د شام او بیا زمکه د مصر ده په زمانه د داؤد علیه السلام کښ او په دے آیتونو کښ لطیفه اشاره ده چه دا مکے والا به هم د دے رسول تکذیب کوی او بیا به یے د مکے نه اوشړی لکه چه بنی اسرائیلو لره فرعون اوشړل، او بیا به مؤمنان په مدینه او په مکه ریس د غلبے نه) کښ آباد پاتے شی.

وقف لازم

وَّنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾ وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ

او ويره ورکوونکے ، او قرآن مونږ تقسيم کړيدے په حصو کښ

لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ

دے دپاره چه او لولے ته دا په خلقو باندے په دمه دمه

وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيلًا ﴿١٠٦﴾ قُلْ اٰمِنُوْا

او لږ لږ نازل کړيدے مونږ دے په نازلولو سره . ته اُوايه که ايمان راوړئ

س۱۰۵ :- په دے کښ ترغيب دے قرآن ته چه نزول دَ قرآن په حق سره شروع شوے دے او په حق سره زمکے ته رارسيدلے دے يعنې په مينځ کښ هيڅ تبديلی نه ده راغلے او په ديکښ اشاره تخويف دے يعنی فرعون دَ حق انکار او کړو نو عذاب وربانديے راغے نو دا موجوده خلق که دَ قرآن (چه حق دے) انکار او کړی نو په دوی باندے به هم عذاب راشی - او په دے کښ صداقت دَ رسول هم ذکر شويدے.

س۱۰۶ :- دا هم متعلق دے دَ تير شوی آيت سره. فَرَقْنٰهُ، کښ مراد دا دے چه تقسيم کړے دے مونږ دا قرآن په سورتونو او په آياتونو سره چه په خلقو باندے په دمه دمه لوستلے کيږی چه هغوی پرے پوهه شی.

اَوَ نَزَّلْنٰهُ، کښ اشاره ده چه لږ لږ نازل کړے شوے دے. وَقُرْاٰنًا، منصوب دے په شرط دَ تفسير سره په ما بعد کښ نو فعل دَ دے مناسب پټ دے. يعنی وَاَنْزَلْنَا قُرْاٰنًا. فَرَقْنٰهُ، په ديکښ دوه قراءتونه دی يو په تخويف او بل په تشديد سره ليکن غوره دا ده چه دلته مخفف په معنی دَ مشدد سره دے او مراد پدے سره تقسيم دے آياتونو او سورتونو ته او په ديکښ جواب دَ سوال دَ منکرينو دے چه هغوی وئيل چه دا قرآن په يو کرت ولے نه نازليږی.

بِهٖۤ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ
پہ دے قرآن او که نه راوړی ایمان ، یقینًا هغه کسان

اُوْتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهٖۤ اِذَا
چه علم ورکړے شویدے هغوی ته مخکښ د دینه کوم وخت چه

يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ
اولوستلے شي په هغوی باندے پریوځی په زنو باندے

سُجَّدًا ﴿۱۰۷﴾ وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ
سجده کوونکی۔ او دوی وائی پاکی ده د رب زمونږ

اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ﴿۱۰۸﴾
یقینًا وعده د رب زمونږ خامخا پوره کړے شوے ده۔

۱۰۷:- پس د بیان د صداقت د قرآن نه او د جواب د سوال د هغوی نه اولًا زجر دے منکرینو ته او بیا دلیل نقلی دے د مخکنو کتابیانو نیکانو نه۔ او اذقان نه مراد تندے او مخ دے په ذکر د جزء مجاور سره او مراد ترینه کل دے او په دے کښ زیاتی خشوع ته اشاره ده چه په سجده کښ د زیاتے خشوع د وجے نه خپلے زیرے زمکے ته نزدے کوی۔ او هر کله چه عین، زنه او زیره کیخودل په زمکه باندے کیخودل مراد نه دی د دے وجے نه علی الاذقان ئے نه دے وئیلے۔

اُوْتُوا الْعِلْمَ ، هغه علماؤ ته وئیلے شی چه په کتاب الله باندے تمسک کوی عمل کوی نو شهادت هم د هغوی قبلیږی۔

۱۰۸:- دا دلیل دے د تسبیح وئیلو په حال د سجده کښ یعنی د دوی په کتابونو کښ د آخری رسول صلی الله علیه وسلم په باره کښ پیشنګوی کړے شوے وه هغے ته ئے وعده اوئیله۔

وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ

او پریوځي په زنو باندے ژاړي دوی او زیاتي کوي دوی لره

خُشُوْعًا ﴿۱۰۹﴾ السجدة قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ

عاجزي. ته اُووایه بلنه کوئ د الله تعالیٰ یا

ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ط اَيًّا مَّا تَدْعُوْا

بلنه کوئ د رحمان ، هریو چه بلئ تاسو

فَلَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى وَلَا تَجْهَرْ

نو هغه لره نومونه خائسته دي او جهر مه کوه

بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ

په دعاء خپله سره او پټوالے مه کوه په هغے سره او طلب کړه

بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿۱۱۰﴾ وَقُلِ

ددے په مینځ کښ لار . او ته اووایه

السجدة

ن۱۰۹ :- په دے کښ د دوی نور صفات ذکر کړے شوی دی یعني ژړا او زیاته خشوع کول ، او تکرار کولو کښ اشاره ده کثرت د سجود ته او د اولے سجدے سبب اوریدل د قرآن دی او د دویم ځل سجدے کولو سبب بکاء او خشوع ده یا اول آیت کښ د دوی سجده ذکر ده او په دویم کښ ذکر د سجدے نشته بلکه روستو د سجدے نه سر ټیټ کړی د ژړا د پاره او آیت دلیل دے چه په کتاب د الله تعالیٰ سره په انسان کښ خشوع زیاتیږی او دغه خشوع ایمان دے او په ذکر د دے صفت کښ اشاره ده چه علماؤ د قرآن لره همدا اسے کیفیت پکار دے.

ن۱۱۰ :- په دے کښ ترغیب دے دُعا ته په حال د سجده او حال د خشوع کښ او تصریح ده په دے خبره باندے چه د دعا په وخت کښ اسماء حسنیٰ د الله تعالیٰ ذکر کول په

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ لَمۡ یَتَّخِذۡ

ټول صفتونه د الوهیت خاص الله تعالیٰ لره دي داسے ذات دے چه نه دے نیولے

وَلَدًا وَّلَمۡ یَکُنۡ لَّهٗ شَرِیۡكٌ

ولد (زوئے) او نشته هغه لره شریک

طریقه د وسیلے سره ضروري دي لکه سورة اعراف سنه ۱۸۰ آیت
کښې چه دي۔ او په یکښې رد دے په شرک في الدعاء باندے۔
فائده:۔ دا چه خلقو کښې مشهوره ده چه د دعاء په وخت وائي
اے خدایه دا د دے آیت او د آیت د سورت اعراف نه صریح
مخالفت دے د دے لفظ پریخودل ضروري دي بلکه یا الله
یا رحمان دِ وائي یا نور اسماء حسنیٰ ځکه چه لفظ خدا اگر چه
په معنی د مالک دے لیکن تعبد په معانو سره صحیح نه دے
اگرچه د معانے په لحاظ سره اطلاق ئے په طریقه د توصیف
او اخبار په الله تعالیٰ باندے صحیح دے۔
وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا، د دے معنیٰ دا ده چه
دعا په جهر سره مه لوله او په زړه کښې پرے هم اکتفا مه کوه
بلکه په ژبه لوله او دا روایت دے د عائشه رضی الله عنها او اشاره
ده چه جهر په دعاء سره بغیر د شرعي مواضعو نه بدعت دے
داسے په سورة اعراف سنه ۵۵ او سنه ۲۰۵ کښې هم دي۔
دویمه معنی دا ده چه مراد د صلاتك نه قراءت دے او دا
روایت دے د ابن عباس رضی الله عنهما یعنی قراءت په ټولو
مونځونو کښې په جهر مه لوله او په ټولو کښې په خفاء سره مه
لوله بلکه بعضے په جهر او بعضے په اخفاء سره او دا رنګ
خارج د مانځه نه هم قراءت په اوچت اواز سره چه خلق
پریشان کوي جائز نه دي او اکتفاء د زړه په فکر کولو سره
فقط دا هم نه دي جائز۔

فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُ وَلِيٌّ

په بادشاهۍ کښې او نشته هغه لره امداد

مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴿١١١﴾

د وجې د کمزورۍ نه او لوئې وايه د هغه لوئي کول.

ع ۱۲

ف ۱۱۱ :- په دے آیت کښې امر دے په حمد وئیلو د دُعاء سره په اول د دعا کښې او په نعمت د اختتام د دے سورت سره۔ هر کله چه مخکښې آیت کښې د الله تعالیٰ صفات ثبوتیه ته اشاره اوکړه په اسماء حسنیٰ سره نو اوس په دے آیت کښې صفات سلبیه ذکر کوی۔ او په دے آیت کښې رد دے په درے اقسامو د شرک، یو شریک ادنیٰ وی چه هغه ولد دے هغه ئې نفی کړو په دے قول سره لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا، او دویم شرک مساوی وی هغه ئې نفی کړو په دے لفظ سره وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ، او دریم قسم شریک اعلیٰ دے په هغې رد دے په دے قول سره چه وَلَمْ يَكُن لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ، او د دے قسم شرک په صابئینو مجوسو کښې شته چه هغوی وئیل (لَوْلَا أَوْلِيَاءُهُ لَذَلَّ) (العیاذ بالله)۔

او دا رنګ په دے امت کښې شته چه اولیاء الله په الله تعالیٰ شفعاء قهریه یعنی زورآور ګڼړی، او د بریلیانو عقیده ده چه عبد القادر جیلانی نه دستګیر د دے وجے نه وائی چه (نعوذ بالله) یو ځل ئې د الله تعالیٰ مدد کړے وو۔ او په دے آیت کښې اشاره ده چه په مانځه کښې د تکبیر اولیٰ نه وړاندے د شرک نه براءت ضروری دے۔

تمت سورة بنی اسرائیل

سورة الکهف مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتها ١١٠ رکوعها ١٢

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ

ټول صفتونه د الوهیت خاص الله تعالیٰ لره دی هغه ذات دے چه نازل کړیدے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سورة الکهف

سورة الکهف او بل نوم د دے الحائله دے

د دے سورت نه دریمه حصّه د مضامینو د قرآن ده تر سورة سبا پورے او په دے حصّه کښې شپاړس سورتونه دی ، په دے کښې مضمون د رحمانیت د الله تعالیٰ دے په دوؤ طریقو سره اوله طریقه ، دا چه الله تعالیٰ نظام بخپله چلوی چا ته ئے نظام نه دے سپارلے یعنی ولی ئے نشته. دویمه طریقه دا چه برکات اچونکے بواځے الله تعالیٰ دے .

ربط :- د سورة کهف د سورة اسراء سره دا دے ، سورة اسراء کښې بیان شو چه شرک سبب د عذاب دے او د شرک شرک رد او شو تفصیلاً په آخر کښې نو په دے سورت کښې جوابات دی د شبهاتو په توحید باندے دا رنګ په سورة اسراء کښې هجرت د نبی ذکر کړے دے نو په دے سورت کښې د هجرت درے اقسام ذکر کوی.

دعوای د سورت :- دفع د شبهاتو د مشرکینو ده چه دلیل نیسی په امورِ خارقه للعادة باندے . او ماخذ د دے دعوی ( وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ) کښې دے یعنی شبهات او ( وَيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ) په هٰـ آیت کښې یعنی دا سے شخص چه په هغه کښې اثار د الوهیت ښکاریږی یعنی قدرت کامله او علم غیب دا سے د الله تعالیٰ نائب نشته دے .
او اثبات د توحید ئے ذکر کړیدے په رد د اقسامو د شرک

عَلٰی عَبۡدِهِ الۡکِتٰبَ وَلَمۡ یَجۡعَلۡ
په بنده خپل باندے کتاب او نه دے کړے

لَّهٗ عِوَجًا ۜ ﴿۱﴾ قَیِّمًا لِّیُنۡذِرَ بَاۡسًا
ده لره هیڅ کږلیچ - پوخ بیان والا دے د پاره د چه یره ورکړی د عذاب

سره یعنی شرک فی العلم او فی التصرف او فی العبادات او فی الدعاء سره په لسو آیاتونو کښ، او په ذکر کولو د شپږو اسماؤ حسنیٰ سره۔

خلاصه د دے سورت :- دا سورت تقسیم دے یو مقدمے او څلورو حصوته او یو خاتمے ته۔

مقدمه : د سورت تر ۸ آیت پورے ده۔

۱ : خلاصه :- په دے کښ دعوی د توحید ده په الحمد لله سره او اثبات د هغے په رالیږلو د داسے کتاب سره چه شبهات نه لری په ۱ کښ۔ بیا مقصد د کتاب ئے ذکر کړے دے په انذار او په بشارت سره ۲، ۳ کښ بیا زجر دے په عقیده د اتخاذ ولد سره چه قرآن د دے د رد د پاره نازل کړے شوے دے ۴، ۵ آیتونو کښ۔ بیا تسلی د رسول ۶ آیت کښ۔ بیا تزهید فی الدنیا ۷، ۸ آیتونو کښ او دا مضامین په سورت کښ تفصیلاً ذکر کیږی۔

---

تفسیر ۱ :- په دے آیت کښ دعویٰ د توحید په اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ سره ده ځکه چه معنیٰ ئے دا ده، ټول صفتونه د الوهیت (چه قدرت کامله او علم غیب دے) خاص الله تعالیٰ لره دی پدے کښ ورسره هیڅوک شریک نشته، بیا ذکر د انزال د کتاب الله دے چه په هغے کښ شبهات نشته، او شبهات دفع کوی۔
عِوَجًا، معنیٰ ئے شبهات دی اشاره ده که په توحید کښ د چا شبه وی یا ورته پیش کیږی نو دا قرآن دِ اولولی۔

شَدِيْدًا مِّنْ لَّدُنْهُ وَيُبَشِّرَ

دَ سخت نه چه دَ هغه دَ طرف نه دے او زیرے ورکړی

الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ

مؤمنانو لره هغه کسان چه عملونه کوی

الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا ﴿۲﴾

دَ سنت برابر چه یقیناً دوی لره ثواب دے خائسته۔

۲۔ قَيِّمًا، مضبوط مضمون والا دے یعنی توحید په دلیلونو سره کلکوی او مؤحد لره په توحید باندے مضبوطوی، او بیا ئے حکمت دَ انزال قرآن ذکر کړے دے چه انذار او تبشیر دے۔ انذار دَپاره منذِر او منذَر لهم او منذر عنه درے واړه ضروری دی او دا رنګ دَ بشارت دَپاره مبشر او مبشر لهم او مبشر به ضروری دی۔

نو په ضمیر دَ لِيُنْذِرَ، کښ چه کتاب یا عبد ته راجع دے اشاره ده منذِر ته۔

او په بَأْسًا شَدِيْدًا، سره ذکر دَ منذر عنه دے او منذر لهم به روستو ذکر کوی۔ او په ضمیر دَ یبشر کښ اشاره ده مبشر ته چه کتاب دے یا عبد دے۔

الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ، سره مبشر لهم ذکر کړے شوی دے۔

او اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا، سره مبشر به ذکر کړے دے او په الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ، سره لطیفه اشاره ده واقعے دَ اصحاب کهف او موسیٰ علیه السلام او خضر او ذوالقرنین ته۔ او په دے آیت کښ تخویف او بشارت دے۔

مَّاكِثِينَ فِيهِ أَبَدًا ③ وَّيُنذِرَ
او ویره ورکړي . په هغې کښې همیشه اوسیدونکي
الَّذِينَ قَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ
الله تعالیٰ نیولے دے هغه کسانو لره چه وائي
وَلَدًا ④ مَّا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ
هیڅ علم باندے په دے لره دوی نشته ولد (څوے).
وَّلَا لِآبَائِهِمْ ۚ كَبُرَتْ كَلِمَةً
او نه پلارانو د دوی لره ، ډیره لویه خبره ده (په ناکاروالی کښې)
تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ۚ إِن
دوی ، نه د خلو د چه راوځي
يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ⑤ فَلَعَلَّكَ
نو آیا ته . دروغ مگر نه وائي

۳:- دا متعلق دے د بشارت سره او دوام د جنت او د اهل جنت ته اشاره ده۔

۴:- په دے آیت کښې منذر لهم ذکر کوی ۔ او اشاره ده چه قرآن د هغه چا د رد د پاره دے چه عقیده د اتخاذ ولد لري او د ولد نه مراد په نیز د مشرکانو ثابتول د داسے ذات دی چه هغه لره الله تعالیٰ د خپلو صفاتو خاصو نه څه ورکړے وی نو په هغے کښې د الوهیت آثار ښکاریږی او د دے وجه نه هغه لره بندګی کول هم لازم ګڼړی او حاجت پوره کوونکے ئے ګڼړی لکه چه په ولد کښې اثار د ولد ښکاره کیږی او د هغه نائب وی۔

۵:- په دے آیت کښې تقبیح د دغے عقیدے ذکر کړیده چه دا بے دلیله خبره ده او دا د خبرے او عقیدے د پاره دا قباحت پوره دے چه دلیل پرے موجود نه وی صرف د اباؤ

بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ عَلٰۤى اٰثَارِهِمۡ

وژنی ځان خپل په دوی پسې

اِنۡ لَّمۡ يُؤۡمِنُوۡا بِهٰذَا الۡحَدِيۡثِ

که چرې دوی نه راوړی ایمان په دې خبره (د توحید)

اَسَفًا ﴿٦﴾ اِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى

د غم د وجې نه - یقیناً موږ ګرځولی ده هغه څه چه په

الۡاَرۡضِ زِيۡنَةً لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ

زمکه باندې دی ښکلا د زمکې د پاره د دې چه دوی ازمائش اوکړو

تقلید کوی، بیا شبه راغله که په دې خبره څه دلیل نشته دې لیکن خیر دې معمولی خبره ده څه پرواه نشته نو جواب اوشو۔

كَبُرَتۡ كَلِمَةً تَخۡرُجُ مِنۡ اَفۡوَاهِهِمۡ، یعنی دا خبره ډیره غټه قبیحه ده چه د دوی د وړو خلو نه راوځی بې دلیله، بیا د دې قباحت دلیل دا دے چه اِنۡ يَّقُوۡلُوۡنَ اِلَّا كَذِبًا، یعنی په دې خبره کښې سوا د دروغو نه بل هیڅ نشته۔

ربط:- په دې کښې تسلی ده نبی علیه السلام ته چه د دې منکرینو د انکار په سبب دومره خفګان مه کوه چه د غم د وجې نه ځان وژنې۔

فَلَعَلَّكَ، لَعَلَّ، د پاره د استفهام انکاری دے او دا رنګ په سورة شعراء ۳ او سورة فاطر ۸ کښې هم دی۔

بَاخِعٌ، بخع په اصل کښې د مری رګ پریکولو ته وئیلې شی چه هغې سره مرګ لازمیږی۔

اٰثَارِهِمۡ، په دې لفظ کښې د دې مشرکینو د کفر او شرک کارونو او ظلمونو ته اشاره ده۔

أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ⑦ وَإِنَّا

چه کوم یو خائسته عمل والا دے. او یقینًا

لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا

مونږ خامخا گرځوؤ به هغه څه چه په زمکه دی میدان (صفا)

جُرُزًا ⑧ أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحٰبَ

خوړبه . آیا ته گمان کوے چه

أَسَفًا ،تمیز دے دا باخع نفسك سره متعلق دے.

ت ۸ :- په دے دواړو آیاتونو کښ تزهید فی الدنیا دے.
یعنی دَ دوی دَ نه منلو وجه دَ دنیا محبت دے. لیکن دا دنیا
او دَ دے سامانونه دَ لږو ورځو زینت دے او ابتلا ده او
زر فنا کیدونکے دے نو په دے باندے مه دهوکه کیږئ.
زِیْنَةً ، په دے سورت ۲۸ کښ هم ذکر شوے دے او
رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغے تفسیر کړے دے په
خُضْرَةٌ حُلْوَةٌ سره یعنی ستر گے پرے خوشحالیږی او خُله
کښ صرف خوږ خوند پیدا کوی.
لِنَبْلُوَهُمْ ، یعنی زینت دَ دنیا دَ ابتلاء او دَ امتحان دَپاره دے
او امتحان دوه قسمه وی، اول قسم هغه چه دَ هغے فائده
ممتحن ته اورسیږی یعنی هغه ته حقیقت حال معلوم شی.
او دویم قسم هغه دے چه دَ هغے فائده امتحان ورکوونکی ته
اورسیږی یعنی ممتحن دَ ځان دَ حال نه خبر نه وی بلکه خیال
کوی چه زهٔ لائق یم او په کامیابئ کښ یم نو په امتحان سره
هغه ته حقیقت حال معلوم شی - او دَ الله تعالیٰ امتحان په مخلوق
باندے دویم قسم دے دا دَ دے وجے نه چه بیلا بیلو په معنیٰ
دَ حقیقت ښکاره کیدلو دے لکه یونس ۳۰ آیت کښ نو لنبلو،
اصل معنیٰ دا ده چه او ځایو مونږ دوی ته حقیقت حال دَ دوی.
أَحْسَنُ عَمَلًا ، دا رنگ په تفسیر دَ سورة هود کښ تیره شویده.

الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ﴿۹﴾

غار والا او رقیم والا، وو د دلیلونو (د توحید) زمونږ نه ډیره عجیبه۔

او آیت ۸ کښ صَعِيدًا جُرُزًا، اشاره ده فنا د دے سامان د دنیا ته۔ او دا لفظ په طریقه د تشبیه سره دے یعني د دنیا تمام خیزونه چه فنا شي نو زمکه به داسے شی لکه شاړ میدان چه بوټي ترینه پرے کړے شوی وی۔

۹:- خلاصه :- د دے آیت نه اوله حصّه شروع ده تر آیت ۲۶ پورے۔

خلاصه تفصیلی ئے دا ده چه په دے کښ جواب د شبهے د مشرکانو دے چه دلیل نیسی په امورو خارقة للعبادة د اصحاب کهفو چه د دے امورو نه معلومیږی چه اصحاب کهف خاوندان د لوے قدرت وو، ډیر عمر او ده کیدل لوږه تنده نه راتلل د زمکے د بد آثارو نه بچ کیدل د نمر د تپش نه محفوظ کیدل د خلقو د تلو راتللو نه په امن کیدل دا امور خارقة للعادة دی۔

حاصل د جواب دا دے چه دغه احوال دلیلونه د قدرت د الله تعالیٰ دی نه د قدرت د هغوی په آیت ۹ کښ ځکه چه دوی الله تعالیٰ ته محتاج وو او عاجزی کوونکی وو په آیت ۱۰ کښ۔ او محتاج وو او ده کیدلو ته په آیت ۱۱ کښ۔ او محتاج وو الله تعالیٰ ته د خوب نه په پاڅیدلو کښ په آیت ۱۲ کښ۔ او محتاج وو په زیاتوالی د هدایت کښ په آیت ۱۳ کښ۔ او محتاج وو په ربط القلب کښ الله تعالیٰ ته او رد کوونکی وو په شرک باندے په آیت ۱۴ او ۱۵ کښ او ځان ئے جدا کړے وو د مشرکانو نه په امید د رحمت د الله تعالیٰ په آیت ۱۶ کښ۔ بیا ذکر د کرامتونو د دوی دے سره د احتیاج نه الله تعالیٰ ته په آیت ۱۷، ۱۸ کښ۔ او ذکر د عدم علم د دوی دے په غیب باندے په آیت ۱۹ او ۲۰ کښ۔ بیا ذکر د حال د دوی

اوزجر هغه چاته چه تنازع دے دلیل دپاره دبعث بعد الموت
ئے کوله په باره د دوی کښې پس د مرګ نه اوزجر په مسیحیانو چه هغوی به خدای پاک ته ځوئے منسوب کولو۔ په دې وجه چه دغه آیت ۵ نه تر ۸ پورې دی۔ اوزجر په مسیحیانو بیا ترشوه په هغوی باندې په آیت ۲۱ کښې۔
په خوا کښې په آیت ۲۱ کښې۔ اوزجر په اختلاف کولو سره په
عدد د دوی کښې بیا تعلیم ورکول نبی صلی الله علیه وسلم ته د
ادا بوشپږو په آیت ۲۲، ۲۳، ۲۴ کښې۔ اوذکر د بعث د دوی
په غار کښې په آیت ۲۵ کښې۔ بیا تفریعات څلور د دوی په واقعه
باندې او دا آداب هم دی۔
اوله تفریع او ادب په رد د شرک فی العلم او فی الحکم په آیت ۲۶
کښې۔
دویمه تفریع او ادب تبلیغ د کتاب الله په آیت ۲۷ کښې۔
او دریمه تفریع او ادب اختیارول د جماعت د مؤحدینو په آیت
۲۸ کښې۔
څلورمه تفریع اظهار د حق په تخویف اخروی او په بشارت
سره په آیت ۲۹، ۳۰ کښې۔
بیا اصلاح د منکرینو دپاره تزهید فی الدنیا په ذکر د دریو
خبرو، اول داده چه محبت د دنیا سبب د انکار د بعث او د شرک
دے او سبب د عذاب دنیوی دے او دا د آیت ۳۲ نه تر ۴۴
پورې۔ دویمه خبره داده چه دنیا قلیل او فانی ده نو په دے
باندے مه دهوکه کیږئ په آیت ۴۵، ۴۶ کښې۔ او دریمه
خبره داده چه محبت د دنیا سبب د عذاب او د افسوسونو دے
په آخرت کښې په آیت ۴۷، ۴۸، ۴۹ کښې۔
تفسیر:- په دے آیت کښې اول تسلی ده پیغمبر ته او مطلب داد ے
چه داگمان مه کوه چه واقعه د اصحاب کهفو د قدرت د الله تعالی
نه څخه ډیره عجیبه ده څکه چه مشرکینو د دے په باره کښې ستا نه
تپوس کړیدے بلکه د الله تعالی د قدرت نخے د دے نه لوے
هم شته لکه پیدائش د آسمانونو او د زمکو او واقعه د معراج.
او په دے کښې جواب د شبهے د مشرکینو دے چه هغوی استدلال
کوو په عجیبه حالاتو د اصحاب کهفو لکه چه ډیره موده اوده کیدل

# اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ اِلَى الْكَهْفِ

کله چه پناه ئې واخسته ځوانانو غار ته

اوبه نونو ته یې نقصان نه رسیدو دا دلالت کوی په دے خبره چه اصحاب کهف لره د الله تعالی د طرف نه لوے قدرت او اختیار ورکړے شوے دے نو جائز دی مونږ لره چه د دوی نه خپل حاجات اوغواړو او دوی له بندګی کوو ځکه چه دوی پښان د ولی شول د الله تعالی د پاره دا رنګ اوس هم بعضے تعویذ ګر د دوی نومونه په کاغذ کښې لیکی د پاره د تبرک حاصلولو د دوی په نومونو سره؟

نو حاصل د جواب دادے چه دا حالات د اصحاب کهفو خو دلیل د قدرت د الله تعالی دے نه د قدرت هغوی۔

الرَّقِیْمِ، په دے کښې اقوال مختلفه دی: دا د وادی نوم دے یا د هغه غر نوم دے یا د کتاب نوم دے یعنی هغه تختے چه په هغے کښې نومونه د هغوی لیکلے شوی دی۔ لیکن هیڅ یو قول په نقل صحیح مسند سره نه دے ثابت نو معلومه شوه چه دا تاریخی مسئله ده او د تاریخ نه دا ثابت ده چه کلے د اصحاب کهفو په ملک د اردن کښې مشهور دے په رقیم سره او دا سے د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے او هغه د کعب نه نقل کړیدے او په روم کښې هغے ته پیترا وائی او کله چه مسلمانانو روم فتح کړو نو هغه یې مسمی کړو په بتراء سره او په مخکنو کتابونو کښې مسمی وو په راقیم سره او دا رنګ د تاریخ نه معلومیږی چه دا واقعه په ملک د روم کښې وه روسته د زمانے د عیسی علیه السلام نه۔

فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ
نو دوی اُوئیل اے ربه زموږه راکړے موږ ته د خپل طرف نه
رَحْمَةً وَّهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا
او اسانه کړے موږ ته زموږ د دے کار نه کلکوالے
رَشَدًا ﴿۱۰﴾ فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ
کامیابی۔ نو ټپول اوکړه موږ په غوږونو د هغوی
فِى الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا ﴿۱۱﴾
په غار کښ یو څو کلونه د شمار۔

۱۰:۔ په دے آیت کښ عجز د اصحاب کهفو ذکر دے په هجرت کولو سره غار ته او بیا دعاء د هغوی ذکر ده په طلب د رحمت او د رُشد سره۔ او دا په دین د نصرانیت کښ (په یو قول سره) جائز ده چه رهبانیت اختیار کړی او غار کښ ژوند تیروی۔
فائده:۔ دا دلیل دے په دے خبره چه هجرت کول د پاره د حفاظت د دین په وخت د خوف د فتنو کښ دا سنت د اولیاؤ او انبیاؤ دے او دا غار ته تلل د دوی دلیل د هغه پیرانو د پاره نه شی کیدے چه بغیر څه د یرے د فتنے او فساد نه په غارونو کښ چیلے اوباسی او دعوت د دین او جماعت د صلوٰة سره د قدرت او د طاقت نه پریږدی۔
۱۱:۔ په دے کښ احتیاج د اصحاب کهف الله تعالیٰ ته په خوب راوستلو کښ ذکر کړیدے۔ یعنی هر کله چه دوی د دین په دعوت ستړی شوی وو نو الله تعالیٰ دوی له آرام ورکړو په خوب سره۔
او فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ فِى الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا، اٰذَانِ، ئے ذکر کړو ځکه چه کمال د خوب هله راځی چه غوږونه د خبرو اوریدلو نه بند شی او دا رنګ په دے کښ اشاره ده چه دا او ده کول شفقت

ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ اَیُّ الْحِزْبَیْنِ

بیا را بیدار کړل مونږ دوی دَ پاره دَدے چه ښکاره کړو مونږ چه کوم یو دَ دواړو ډلو نه

۱ ع ۲ ۱۳ اَحْصٰی لِمَا لَبِثُوْٓا اَمَدًا ﴿۱۲﴾ ع نَحْنُ

شمار کوی دَ هغه موده چه دوی حصار شوی وُو په غار کښ. مونږ

نَقُصُّ عَلَیْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ط

بیانوُ په تا باندے خبر دَ دوی دَ حق ښکاره کولو دَ پاره،

اِنَّهُمْ فِتْیَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ

یقیناً دوی ځوانان وو ایمان ئے راوړے وو په رب خپل باندے

دَ شفقت دَ الله تعالیٰ وو په دوی باندے لکه ځنګه چه مور دَ وجے نه دَ بچی غوږونه تپوی په وخت دَ اوده کولو کښ.

۱۲ :- په دے کښ ئے ذکر کړے دے احتیاج دَ اصحاب کهف الله تعالیٰ ته په بیدارېدلو کښ دَ خوب نه، او په دے وجے په حدیث کښ دَ خوب دَ بیدارئ په دُعا کښ دا الفاظ نقل کړے شوی دی. (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَحْیَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا) او پدے آیت کښ یو حکمت دَ بیدارولو دَ هغوی ذکر کړېدے.

لِنَعْلَمَ... آه، مراد دَ علم نه علم دَ اظهار دے یعنی لنظهر ځکه نورو نصوصو قطعیو سره ثابته ده چه الله تعالیٰ په هرڅه عالم دے.

اَلْحِزْبَیْنِ، دَ دے نه مراد هغه دوه ډلے وے په اصحاب کهف کښ چه روستو دَ بیدارئ نه یو ډلے وئیلے وُو لَبِثْنَا یَوْمًا، او بلے ډلے وئیلی وُو اَوْ بَعْضَ یَوْمٍ، او دا قول غوره دے نو حاصل دا دے چه ښکاره شوه دا خبره چه دا دواړه ډلے دَ خپلے مودے دَ خوب نه خبر نه وُو نو معلومه شوه چه غیبدان نه وو.

وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ﴿۱۳﴾ قف صلے وَرَبَطْنَا

او زیاتی کړے وُو مونږ هدایت دَدوی۔ او کلک کړیوُ مونږ

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا

زړونه دَ هغوی کله چه اودریدل نو اُوئیل دوی

۱۳:۔ تیر شوی آیا تونو کښ دَ اصحاب کهف عجز او احتیاج او عدم دَ علم غیب یئے ذکر کړو دَپاره دَ جواب دَ شبهے۔ اوس پس لے آیت کښ تفصیل دَ نورو حالاتو دَ هغوی ذکر کوی په باره دَ دیانت او دعوت دَ هغوی کښ۔

بِالْحَقِّ، کښ اشاره ده چه دے واقعه کښ قرآن کریم رشتینی حالات ذکر کړی دی په خلاف دَ یهودیانو چه هغوی پکښ ډیر اسرائیلیات ذکر کړی دی۔ او دا رنګ اشاره ده دَ حق دَ اظهار دَپاره (چه هغه اثبات دَ توحید او رد دَ شرک دے) دَ دوی واقعه ذکر کوی۔

فِتْيَةٌ، دَ دے معنیٰ دا ده چه دَ عمر په لحاظ سره نو عمر ځوانان وُو او اولاد وُو دَ اشرفو دَ قوم خپل او دَ دوی غاړو ته طوقونه دَ سرو زرو او لاسونو ته کړئ دَ سرو زرو پراته وُو او په غوږونو کښ یئے والئ وے بنا په عادت دَ هغه قوم سره۔ او هر کله چه دَ دوی نه پلاران په مسئله دَ توحید ناراض شول نو دَ دوی نه یئے دغه کالی واخستل۔ او تفسیر ابن کثیر کښ ذکر دی چه اکثر اولیاؤ الله نوجوانان خلق وی او زاړه عمر والا اکثر دَ قبول دَ حق نه محروم وی۔

وَزِدْنَاهُمْ هُدًى، دلیل دے په دے خبره باندے چه په هدایت او ایمان کښ زیاتے او کمے راځی۔ او اشاره ده چه دَ دعوت الی الحق دَپاره زیات ایمان او هدایت ضروری دے۔

رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

رب زمونږ رب دَ آسمانونو او دَ زمکې دے

لَنْ نَّدْعُوَا۟ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا

هیچرے به او نه بلو مونږ سِوا دَ الله تعالیٰ نه بل مددګار

لَقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا ﴿١٤﴾

یقینًا وئیلې به وی مونږ په دغه وخت دَ حد نه تیره شوے خبره۔

١٤:۔ په دے آیت کښ ذکر شوے دے احتیاج دَ دوی الله تعالیٰ ته په ربط القلب کښ او ربط القلب حال دَ قوت صبر دے چه معلومیږی په وخت دَ سختو مصیبتونو کښ او دا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه یو کرامت وی دَ صالحینو بندګانو دَ پاره لکه سورة قصص ١٠ کښ۔ او مقابل دَ دے ختم قلب دے چه دَ عنادیانو دَ پاره آخری مقام دے۔

قَامُوْا، بادشاه مشرک وو هغه چه دوی نه خبر شو نو دوی ئے ځان ته حاضر کړل او دَ دوی نه ئے یو څو سوالونه په ترتیب سره اوکړل۔

اول سوال :۔ ستا سو رب څوک دے؟

دوی جواب ورکړو رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ،۔

دویم سوال :۔ دَ دغه نه سِوا بل څوک دَ بللنے او رامداد کولو حقدار شته دے؟

دوی جواب اوکړو لَنْ نَّدْعُوَا۟ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا، په اول کښ توحید دَ ربوبیت دے او په دویم کښ توحید دَ الوهیت دے۔

دریم سوال :۔ که څوک دَ الله تعالیٰ نه سِوا دَ بل چانه حاجت غواړی نو دَ دے څه حکم دے؟

دوی جواب اوکړو لَقَدْ قُلْنَآ اِذًا شَطَطًا، شطط، دَ حد نه تجاوز کول، باطل او دروغ ته هم شطط وائی۔

هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ

دا قوم زمونږ دے نیولی دی دوی سِوا

دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ۭ لَوْلَا يَاْتُوْنَ

دَ الله تعالیٰ نه نور مددګاران ، ولے نه راوړی

عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۢ بَيِّنٍ ۭ فَمَنْ

پرے باندے دلیل ښکاره ، نو څوک

اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

لوے ظالم دے دَ هغه چا نه چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے

كَذِبًا ۭ ⑮ وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ

دروغ . او هر کله چه ډډه اوکړه تاسو دَ دوی نه

وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ فَاْوٗٓا

او دَ هغه چا نه چه دوی یے بندګی کوی سِوا دَ الله تعالیٰ نه نو پناهی واخلئ

اِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ

غار ته ډیر پراخه به درکړی تاسو له رب ستاسو

۱۵ :- دا هم دَ هغوی په بیان کښ داخل دے یعنی څلورم سوال دے چه تاسو دَ خپلو مشرانو نه ولے مخالفت کوئ؟

دوی جواب اوکړو لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ، یعنی مشران دے په الوهیت دَ غیرالله دلیل پیش کړی اشاره ده چه په عقیده کښ تقلید دَ مشرانو باطل دے۔

پینځم سوال، که دَ مشرانو بے دلیله تابعداری اوکړو نو څه جرم دے ؟

جواب دا دے فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا، یعنی دا ډیر لوے ظلم دے دَ دینه لوے ظلم بل څه کیدے شی۔

مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ

د رحمت خپل نه او آسانه به کړي تاسو لره د

اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿۱۶﴾ وَتَرَى الشَّمْسَ

دے کار ستاسو نه فائدے ډیرے. او وینے ته نمر

اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ عَنْ كَهْفِهِمْ

کله چه راخیژي نو آوړي د غار د هغوي نه

ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَاِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ

ښي طرف ته او کله چه ډوبیږي نو پرېږده کوي د دوینه

ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ

گس طرف ته او دوی په ارت ځائے کښ دي

۱۶:- هر کله چه بادشاه دوی ته مهلت ورکړو نو دوی د پلا رانو او د خپلو نه جدا شول او پوهه شول چه بادشاه مونږ د خپل دین نه اړوي. یا مو سنگسار کوي لکه آیت ۲۰ کښ دا ذکر شوے ده نو د خپل دین د بچ کولو د پاره دوی مشوره اوکړه د هجرت کولو غار ته.

وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ ، بے ځکه اوئیل چه جدا کیدل د قوم نه د دنیا په مقصد باندے نه وُو بلکه د توحید په سبب سره وُو. او په دے آیت کښ اشاره ده چه مهاجر د پاره د الله تعالی په رحمت باندے توکل پکار دے، او مراد د رحمت نه بچ ساتل دی د قوم نه لکه چه داسے شوے وُو په غار ثور کښ په وخت د هجرت د نبي صلی الله علیه وسلم.

وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ، کښ اشاره ده چه روستو د تکالیفو نه الله تعالی اسانتیا او آرام راولی.

مِّنْهُ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ مَنْ يَّهْدِ

دَ دے (غار) نه، دا حال دَ دوی دَ دلیلونو دَ قدرت نه دے دَ الله تعالیٰ نه دے، هغه څوک چه هدایت

اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ

ورته اوکړی الله تعالیٰ نو هغه هدایت والا دے او هغه څوک چه الله تعالیٰ بے لارے کړی هغه

فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ﴿۱۷﴾

نو هیچرے به او نه مومے هغه لره دوست لار خودونکے۔

ف ۱۷:۔ په دے آیت کښ دَ غار حال ذکر شوے دے چه الله تعالیٰ دوی لره په غار کښ دَ غرمو نه څنګه محفوظ اوساتل (یعنی غرمه دَ دوی نه بنی طرف او کس ته اوړیدل)۔

ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ، دا دلیل دے چه دا دَ دوی کرامت وو او کرامت دلیل دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے او معلومه شوه چه اصل کرامت حفاظت دَ الله تعالیٰ ولی الله لره وی او معلومه شوه چه کرامت په دعوت دَ حق او په هجرت سره حاصلیږی دا قول دَ دے آیت په تشریح کښ صحیح دے۔ او بعضو مفسرینو ویلی دی چه دَ غار وضع په داسے طریقه سره وه چه په دوی باندے غرمه نه لګیدل یعنی شمال طرف ته دَ هغے دروازه (خله) وه دا صحیح نه ده۔

تَّقْرِضُهُمْ، کښ اشاره ده چه دَ غروب په وخت نمر په دوی باندے لږ شان لګیدو ځکه چه په لږ نمر لګیدلو سره اصلاح دَ بدن راځی او دا دَ دے وجے نه چه تقرضهم دَ قراضة الذهب نه ماخوذ دے یعنی ټکړے۔

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ، اشاره ده چه اصحاب کهف ته هدایت اوکړے شو او نور قوم په شرک کښ پاتے وو دا اختیار دَ الله تعالیٰ دے۔ یا په دے واقعے سره چا ته هدایت ملاویږی او چا ته نه ملاویږی دا هم دَ الله تعالیٰ اختیار دے۔

وَتَحۡسَبُهُمۡ اَيۡقَاظًا وَّهُمۡ رُقُوۡدٌ ۖ ق

او گمان به کوے ته په دوی باندے بیدار او دوی اوده دی

وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ الۡيَمِيۡنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ ق

او مونږ اړوو دوی لره ښي طرف ته او ګس طرف ته

وَكَلۡبُهُمۡ بَاسِطٌ ذِرَاعَيۡهِ بِالۡوَصِيۡدِ ؕ

او سپے د دوی خوروونکے دے دواړه لیچے خپلے په درشل باندے ،

لَوِ اطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ

که چرے ته ناساپه ورښکاره شے دوی ته نو او به ګرځے د دوی نه

فِرَارًا وَّلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبًا ﴿۱۸﴾

تیخته کوونکے او ډک به شې د دوی نه په رعب سره۔

ف۱۸ : په دے آیت کښ د اصحاب کهف بل حال ذکر کوی د غار د اوسیدلو په وخت کښ او په دے کښ هم مقصد حفاظت د بلتونو د هغوی دے د خاورو نه دا رنګ د سپی په ذریعه حفاظت د خلقو د شور و شغب نه چه د خوب نه بیدار نشی۔

وَنُقَلِّبُهُمۡ ، دا علت دے د اَیۡقَاظًا د پاره یعنی دوی زر زر بدلیږی لکه د بیدار شخص په شان ، دا وجه چه مفسرینو لیکلے ده چه سترګے د دوی په وخت د خوب کښ پرانستے وے د دے قول ضرورت هم نیشته او دلیل هم نشته۔

وَكَلۡبُهُمۡ بَاسِطٌ ذِرَاعَيۡهِ بِالۡوَصِيۡدِ ، دا سپے د مؤحدینو خدمتګار وو نو الله تعالیٰ په دے سبب د ده مقام اوچت کړو او قرآن کښ ئے ذکر کړو۔ او په دے کښ اشاره ده چه سپے په داخل د کور کښ ساتل نه دی جائز بلکه د دروازے سره دِ وی۔

لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارًا ، دا هم کرامت دے چه الله تعالیٰ هغوی له داسے رعب ورکړے وو چه څوک نزدے نه شو ورتللے۔

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ؕ

او دغه شان بیدار کړل مونږ دوی د دې د پاره چه تپوس نه اوکړي په کورني ګښې

قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ؕ

او وئیل یو ویونکي د دوي نه څومره حصار شوي یئ تاسو،

قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ

دوی او وئیل حصار شوي یو پوره ورځ یا نیمګړے ورځ،

قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ؕ

دوی او وئیل رب ستاسو ښه پوهه دے په هغه موده چه حصار شوي یئ تاسو،

فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ

نو اولیږئ یو تن ستاسو نه په دے پیسو ستاسو سره

اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى

ښار ته نو اودے ګوري چه کوم یو د دوی نه پاک (حلال)

طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ

خوراک دے نو را دې وړي د هغه نه خوراک والا

وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ﴿۱۹﴾

او نرمي دې کوي او نه دې خبروي په تاسو باندے هیڅ څوک۔

سؤال:۔ په دے آیت کښې د اصحاب کهف بیدارول د خوب نه ذکر دی او د هغې حکمت ئې ذکر کړے د هغې تفصیل دا دے چه د دوی بیدارولو کښې حکمت دا دے چه دوی به د یو بل نه تپوس نه اوکړي چه مونږ څومره وخت تیر کړے دے او فائده په تپوسونو کښې دا ده چه معلومه شي چه دوی د خپل حال نه خبر نه وو نو د دنیا د حال نه څرنګه خبر شي۔ نو دوی د الله تعالیٰ سره شریک نشي

اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ

یقیناً دوی که خبر شی په تاسو باندے

کیدلے. نو دے آیت کښ صریح دلیل دے چه اولیاء په غیب باندے نه پوهیږی او په حال د خوب د ځان نه هم خبر نه وی نو پس د مرګ نه د دنیا د حال نه به څه خبر اولری.

قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ، یعنی دوی د شمار په باره کښ دوه ډلے شوے یوے ډلے اُوئیل چه یوه ورځ تیره شوے ده او دوېمے ډلے اُوئیل چه څه حصه د ورځے تیره شوې ده نو دریمے ډلے اُوئیل یا دوی په جمع سره اوئیل چه د دے علم مونږ سره نشته الله تعالیٰ ته ئے اوسپارله.

بِوَرِقِكُمْ، اشاره ده چه دوی ځان سره د خرچ د پاره د سپینو زرو روپئ اخستے وے.

فَابْعَثُوْا اَحَدَكُمْ، کښ اشاره ده چه په دوی باندے روستو د بیدارئ نه لوږه راغله نو د خوراک د اخستلو د پاره تدبیرئ اوکړو او یو کس ئے د دے د پاره مقرر کړو او هغه ته ئے درے آداب اوخودل.

اول، فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا، یعنی د مؤحد شخص نه دے طعام راوړی ځکه دوی ته معلومه ده چه په دغه کلی کښ بعضِ خلق داسے دی چه د هغوی مذ بوحه او طعام په نوم د غیر الله سره دے او هغه حرام دے.

او دویم ادب، وَلْيَتَلَطَّفْ، چه په اشتراء د طعام او په نورو خبرو کښ د نرمی کوی چه څوک تربنه خبر نه شی.

او دریم ادب، وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا، یعنی ښکاره حال د هم چاته نه بیانوی.

يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ فِيْ

سنگسار به کړی تاسو یا به مو واپس اوګرځوی

مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اِذًا اَبَدًا ﴿۲۰﴾

دین خپل ته او هرګز به کامیاب نشئ دغه وخت چرے

وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْٓا

او دغسے خبر کړل مونږ په دوی باندے خلقو لره د پاره د دوی چه دوی پوهه شی

اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ

چه وعده د الله تعالیٰ حقه ده او یقیناً قیامت

ن۲۰:۔ په دے آیت کښ علت د ماقبل دے او په دے کښ اشاره ده چه دوی هجرت هم د دے خوق د وجے نه کړے وو۔ په دے آیتونو کښ اشاره ده چه دوی په غیب باندے علم نه لرلو د دوی خیال دا وو چه اوس هم هغه خلق موجود دی چه د چا نه مونږ هجرت کړے دے۔

او روایت د مفسرینو کښ راغلی دی چه دوی قاصد اولیږلو نو هغه ته هغه خلق او آبادئ نا اشنا ښکاره شوے لیکن مجبوراً په یو دکان باندے داخل شو او د طعام د اخستلو د پاره ئے خپلے (ورق) روپئ پیش کړے هغه دوکاندار نا اشنا اوګنړلے چه دا خو اوس په بازار کښ نه لرږی۔ ورته ئے اُوئیل چه دا د ډیرے مخکښ زمانے روپئ وے کیں بیشی چه تا به خزانه موندلے وی نو خلق د دوی په شور باندے خبر شول او پوهه شول چه دا هغه خلق دی چه تقریباً درے سوه کاله وړاندے د دے ملک نه ئے هجرت کړے وو ځکه چه په هغه خلقو کښ د دوی قصّه مشهوره وه۔

لَا رَيْبَ فِيهَا ۚ إِذْ يَتَنَازَعُونَ

نشته هیڅ شک په هغې کښې ، کله چه (دَ هغه وخت خلقو) جګړه کوله

بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوا

یو بل سره په باره دَ حال دَ دوی کښې نو دوی اُوئیل جوړه کړئ

عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ

په دوی باندې یو آبادی ، رب دَ دوی ښه پوهه دے

بِهِمْ ۚ قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَىٰ

په دوی باندې ، اُوئیل هغه کسانو چه زورآور وو په

أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾

خپل کارکولو باندې خامخا جوړوو به مونږ په دوی باندې سجده ګاه -

ف۲۱:- په دے آیت کښې دَ دوی دَ حال په ښکاره کولو کښې نور حکمتونه ذکر کوی - اول دا چه الله تعالیٰ وعده دَ نصرت او امداد خپلو صالحینو سره پوره کوی لکه چه دَ اصحاب کهف حفاظت یې اوکړو -

وَكَذَٰلِكَ ، یعنی لکه چه په دوی باندې یې خوب راوستلے وو اوبیا یې په غار کښې دَ دوی حفاظت اوکړو اوبیا یې دَ خوب نه بیدار کړل نو دارنګ خلق یې تر ینه خبر کړل -

دوَیم دا چه دَ دغه وخت خلق په باره دَ دوباره ژوند کښې مختلف وو نو واقعه دَ دوی دلیل شو په اثبات دَ بعث بعد الموت باندې او دیکښې اشاره ده چه الله تعالیٰ همیشه دَ صالحینو مقصد ونه پوره کوی بلکه کله دَ هغې خلاف کار کوی دَ خپل حکمت موافق لکه چه اصحاب کهف غوختله چه زمونږ حال دَ دِپټ شي لیکن الله تعالیٰ ښکاره کړو دَ پاره دَ حکمتونو -

وَكَذَٰلِكَ ، کښې اشاره ده چه مخکښې کارونه الله تعالیٰ کړی وو نو دا خبرول دَ خلقو هم الله تعالیٰ اوکړل -

سَيَقُولُونَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ

ځوک وائي دوی دریے دی څلورم د دوی نه سپے د دوی دے

د وعد الله، نه مراد بعث بعد الموت دے د بدنونو د ارواحو نه۔

إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ، مراد د أَمْرَهُمْ، نه مسئله د حشر ده چه د دغه وخت خلقو په هغے کښ تنازع او اختلاف کوو بعضو د بعث نه انکار کوو او بعضو بعث د ارواحو منلو او د بدنونو ئے نه منلو او بعضو صحیح بعث منلو۔

او دویمه معنیٰ دا ده چه ضمیر د امرهم، اصحاب کهف ته راجع دے او دا روستو د مرګ د اصحاب کهف نه وؤ یعنی د هغه وخت خلقو اختلاف اوکړو په باره د اصحاب کهفو کښ مجوسیانو وئیل چه دا زمونږ د مذهب خلق وؤ او نصاراؤ وئیل چه دوی زمونږ په مذهب وؤ نو مجوسیانو وئیل چه د دوی نه د چاپیره یو دیوال اوو هلے شی او نصاراؤ وئیل چه د دوی په خوا کښ دِ یو عبادتګاه جوړه کړے شی۔

الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَىٰ أَمْرِهِمْ، د دے نه مراد دغه نصاریٰ دی ځکه چه حکومت د دوی وو او دوی پرے مسجد جوړ کړو،

فائده:- مبتدعینو د دینه استدلال کړیدے چه په قبرونو د نیکانو خلقو باندے مسجد جوړول جائز دی لیکن دا استدلال ئے باطل دے۔

اوله وجه دا ده چه دا نصاریٰ وؤ او په دے آیت کښ الله تعالیٰ د هغوی مدحه نه ده کړے بلکه صرف د هغوی غلبه او زور ئے ذکر کړیدے۔

او دویمه وجه دا ده چه احادیث صحیحه صریح دلالت کوی چه په قبرونو د انبیاؤ او د صالحینو چه ځوک مساجد جوړوی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغوی باندے د خپل طرف نه هم لعنت ذکر کړیدے او د الله تعالیٰ د طرف نه ئے هم لعنت او غضب ذکر کړیدے۔ او تفسیر ابن کثیر او تفسیر قرطبی او تفسیر روح المعانی

وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ

او څوک وائی دوی پنځه دی شپږم د دوی نه سپے د دوی دے

رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۚ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ

دا په اټکل بے دلیله خبرے دی او څوک وائی دوی اووه دی

وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّي

او اتم د دوی نه سپے د دوی دے، ته اُووایه رب زما

أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ

ښهٔ پوهه دے په شمار د دوی باندے نه پوهیږی په شمار باندے

إِلَّا قَلِيلٌ ۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ

مګر لږ کسان نو بحث مه کوه د دوی په باره کښ

إِلَّا مِرَاءً ظَاهِرًا ۖ وَلَا تَسْتَفْتِ

مګر بحث کول سرسری او مه کوه تپوس

ع ۳ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾ وَلَا تَقُولَنَّ

د دوی په باره کښ د دے خلقو د هیڅ یو تن نه۔ او مه وایه ډیو کار

په دے مقام کښ تفصیلی رد کړے دے.

۲۲:- په دے آیت کښ اولا زجر دے هغه کسانو ته چه مختلف اقوال کوی په شماره د اصحاب کهفو کښ بغیر د دلیل نه۔

وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ، دا جمله ئے جدا راوړیده د دے وجے نه چه دا عدد صحیح دے، رَجْمًا بِالْغَيْبِ نه دے۔

او بله وجه دا ده چه مَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ، ئے فرمائیلی دی او روایت د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه هغه هم عدد سبعه ذکر کړے وو او وئیلی ئے وو چه زهٔ هم د هغه قلیل نه یم چه د دوی په عدد باندے خبر وو۔

لِشَايۡءٍ اِنِّيۡ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾

په باره کښې چه زۀ به کوونکے یم دا کار صبا۔

وَثَامِنُهُمْ، دے واو ته واو ثمانیه وائی چه په عدد کښې د اوو نه وروسته ذکر کیږی او دا د بعض نحویانو مسلک دے او بله وجه دا ده چه دا واو د دے تنبیه د پاره دے چه دا عدد حق دے او د مخکنو اعدادو نه خلاف دے.

قُلْ رَّبِّيْۤ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِيْلٌ، په دے کښې اشاره ده احسن طریقے ته په داسے مقام کښې هغه دا ده چه الله تعالیٰ ته علم او سپارلے شی هکله د داسے مقام په تفصیل کښې ضرورت نشته کوم چه په صحیح دلیل سره معلوم وی نو د هغے وئیل پکار دی.

فَلَا تُمَارِ فِيْهِمْ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا، په دیکښې بیان د ادب اول دے او مراد د مِرَآءً نه بحث کول دی او مراد د ظاهراً نه هغه بحث دے چه قرآن پاک کښې ذکر شو یا په صحیح حدیث سره ثابت وی.

وَلَا تَسْتَفْتِ فِيْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا، دا ذکر د دویم ادب دے او دا دلیل دے په دے خبره چه مسلمانانو لره نه دی جائز چه د اهل کتابو نه په باره د علم دین کښې استفاده کوی هاں په قصصو د اهل کتابو کښې چه عبرت وی او قرآن او سنت نه خلاف نه وی نو د هغے ذکر په سبب د حدیث رَوَحَدِّثُوْا عَنْ بَنِيْۤ اِسْرَآئِيْلَ وَلَا حَرَجَ) سره جائز دی۔

۲۳، ۲۴۔ په دے آیتونو کښې درے آداب ئے ذکر کړی دی. اول ادب انشاء الله وئیل دی د هر خبر مستقبل سره۔

اِلَّاۤ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ، دا ئے چه آیت کښې ذکر کړو په دیکښې اشاره ده چه بغیر د انشاء الله نه اخبار د مستقبل منع دے او دا دلیل دے په دے خبره چه نبی علیه السلام عالم الغیب نه دے۔

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ، دا بیان د بل ادب دے د دے جملے مفسرینو څلور معنے ذکر کړی دی۔

اوله معنی دا ده، یاد کړه رب لره په انشاء الله تعالیٰ وئیلو سره

إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَٱذْكُر رَّبَّكَ

مگر دا چه ذکر کړې مشیت د الله تعالیٰ او یادوه رب خپل

إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰٓ أَن يَهْدِيَنِ

هر کله چه ته هیر کړې او وایه نزدې ده چه او به ښائی ما ته

رَبِّى لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا ﴿۲۴﴾

رب زما ډیر نزدې د دینه د هدایت په اعتبار سره۔

کله چه ستا نه دا ذکر هیر شوی وی او بیا درته یاد شی۔ د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه په دا سې وخت کښ که یو تن نه انشاء الله هیر شی او بیا کال پس ورته یاد شی نو او دې وائی ابن جریر وائی چه د دې مطلب دا دې چه سنت د انشاء الله به ادا شی اګرچه په دې سره تعلیق او د اول کلام لغو کول نه کیږی۔
دویمه معنی دا ده یاد کړه رب خپل په استغفار او تسبیح کولو سره کله چه ستا نه انشاء الله وئیل هیر شوی وی او بیا درته یاد شی۔
دریمه معنی دا ده ریاد کړه عذاب د رب خپل کله چه پریږدې څه حکم د رب خپل په قصد سره)۔
څلورمه معنی دا ده دعا غواړه د رب خپل نه کله چه هیر شی ستا نه څه شے چه یا الله ما ته یې یاد کړې دا بل ادب دې۔
وَقُلْ عَسَىٰٓ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّى لِأَقْرَبَ مِنْ هَٰذَا رَشَدًا، مفسرینو د دې جملې درې معنې لیکلې دی۔
اوله معنی دا ده چه اُوایه امید دې چه او به ښائی ما ته رب زما زیات ښکاره د خبر د اصحاب نه په هدایت کولو کښ خلقو ته۔
دویمه معنی دا ده امید دې چه او به ښائی ما ته رب زما جواب د سوال ستا سو نزدې د هغې وخت نه چه ما تاسو ته خود نه کړې ده۔
دریمه معنی چه کله ستا نه څه شے هیر شی نو د رب نه دعا او غواړه

وَلَبِثُوْا فِیْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ

او حصار شوی وو په غار خپل کښې دری سوه کاله

سِنِیْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ

او زیاتی وو نهه (د سپوږمۍ په حساب)۔ ته اُوایه الله تعالیٰ

د هغې په باره کښې او هر کله چه یاد نکړې نو اوایه چه امید دے چه او به ښائی ماته رب زیات نزدے او غوره د دے هیر شوی شی نه په خیر او فائده کښې او بعضے علماؤ وئیلی دی چه دا ذکر تعبدی دے په وخت د هیریدلو د انشاء الله کښې۔ په دواړو جملو کښې اولے معانے غوره دی چه د واقعے د انشاء الله وئیلو سره تعلق لری۔

٢٥:۔ د دے په باره کښې دوه قوله دی۔ اول قول دا دے چه دا اخبار دے د الله تعالیٰ د طرف نه د مقدار د هغې مودے چه دوی اوده وو په غار کښې تر بیداریدلو پورے۔

دویم قول دا دے چه دا حکایت د قول د اهل کتابو دے چه هغوی داسے وئیلی دی او بنا په دے قول دا معطوف دے په یقولون چه په ٢٢ کښې ذکر دے نو دا د خلقو قول دے۔ لیکن اول قول غوره دے ځکه چه د اهل کتابو په کتابو نو کښې دا جمله نشته چه وَازْدَادُوْا تِسْعًا، او دا رنګ په دے معطوف معطوف علیه کښې ډیره فاصله په کلام غیر متعلق سره ده او دا قول اول ابن کثیر او ابن جریر غوره کړیدے۔

ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِیْنَ، لفظ د سنین بدل دے یا عطف بیان دے د ثَلٰثَ مِائَةٍ د پاره او تمیز نه دے ځکه چه تمیز د مائة مفرد او مجرور راځی۔ دویم قول دا دے چه ثلث مائة چه او وئیلے شو نو سوال اوشو چه د ثلث مائة نه څه مراد دے نو او وئیلے شو چه سنین یعنی اعنی یکښې پټ دے۔

وَازْدَادُوْا تِسْعًا، دا لفظ ئے جدا د دے وجے نه راوړ چه ثلث مائة په اعتبار د حساب شمسیه دے او تسع زیات دی په حساب

أَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوا ۚ لَهُۥ غَيْبُ

بنهٔ پوهه دے په هغه موده چه دوی پکښې حصار شوی وُو خاص الله تعالیٰ لره علم پټو خبرو

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ أَبْصِرْ بِهٖ

دَ آسمانونو او دَ زمکې دے بنهٔ لیدونکے

وَأَسْمِعْ ۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهٖ

او بنه اوریدونکے دے، نشته دوی لره سوا دَ الله تعالیٰ نه

مِن وَّلِيٍّ وَّلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهٖٓ

څوک مددګار او نه برخه ورکوی الله تعالیٰ په خپل اختیاراتو کښې

أَحَدًا ﴿۲۶﴾ وَاتْلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيْكَ

هیچا لره۔ او لوله هغه چه وحی کړے شوې ده تا ته

قمریه سره څکه دَ حسابِ شمسی حساب په سلو کالو کښې دَ قمر حساب درے کاله زیاتیږی نو درے سوه کاله شمسی حساب کښې نهه کاله قمری زیاتیږی او دواړه حسابونه ئے دَ دے وجې نه ذکر کړه چه اول حساب دَ کتابیانو دے او دویم دامیینِ عرب دے نو دَ دواړو لحاظ اوکړے شو۔

۲۶:- په دے آیت کښې اول تفریع ده په واقعه دَ اصحاب کهف باندے او په دے آیت کښې پنځه جملے دَ توحید دی۔

بِمَا لَبِثُوا، دَ دینه مراد هغه لبث دے چه روستو دَ بیداریدلو دَ اصحاب کهف نه تر مرګ دَ هغوی پورے دے نو دا اعتراض نشی کیدے چه اول خو الله تعالیٰ عدد دَ لبث ذکر کړو نو بیا دا قول (قل الله اعلم) دَ هغے دَ رد دَ پاره په څه وجه سره ذکر کوی۔

أَبْصِرْ بِهٖ وَأَسْمِعْ، اوله معنیٰ دا ده چه بِهٖ ضمیر وحی ته راجع دے یعنی پوهه شه په وحی دَ الله تعالیٰ بیا واوروه نورو خلقو ته۔ دویمه معنیٰ دا ده چه دا صیغے دَ تعجب دی یعنی الله تعالیٰ بنهٔ اوریدونکے او بنه لیدونکے دے۔

مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ ۚ لَا مُبَدِّلَ

دَ کتاب دَ رب ستا نه نشته بدلوونکے

لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ

دَ کلماتو دَ هغه او هرګز به او نه مومے سِوا دَ الله تعالیٰ نه

مُلْتَحَدًا ﴿۲۷﴾ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ

ځاے دَ پناهٔ . او ټینګ کړه ځان خپل

مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ

دَ هغه کسانو سره چه حاجتونه پیش کوی رب خپل ته

وَلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ، حُكْمِهٖ نه مراد حکم تکوینی (انتظام چلول دَ عالم) او حکم تشریعی دواړه دی او په دے جمله کښ رد دے په شرک عطائی باندے یعنی څوک چه دا وائی چه الله تعالیٰ فلان بزرګ له په خپل اختیار او تصرف کښ برخه ورکړیده لکه عام مشرکان داسے وائی نو په دے آیت کښ رد دے په هغوی باندے او داسے په سورۃ زخرف ۸۵ کښ هم ذکر دی.

۲۷:- په دے آیت کښ دویمه تفریع ده او بل ادب دے یعنی تیزی ورکول په تبلیغ دَ قرآن باندے.

لِكَلِمٰتِهٖ ، دَ دینه مراد ټول قرآن دے او دا رنګ اشاره ده هغه کلماتو ته چه تیر شوی آیت کښ ذکر شویدی او داسے په سورۃ انعام ۱۱۵ کښ دی.

وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ، په دیکښ رد دے په شرک فی التصرف باندے او په دیکښ تخویف دے هغه چا ته چه قرآن کریم پریږدی نو هغه دَ عذاب الٰهی نه نشی بچ کیدے.

بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ

صباح او بیگاه غواړی دوی مخ د هغه

وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ ۚ تُرِيْدُ

او وا نه ړوی سترګې ستا د دوی نه چه غواړے ته

زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَا تُطِعْ

ډول د ژوند دنیوی او خبره مه منه

مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا

د هغه چاچه غافل کړے دے مونږ زړه د هغه د ذکر زمونږ نه

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴿۲۸﴾

او روان دے په خواهش خپل پسے او دے کار د هغه د حد نه تیریدل۔

س ۲۸:۔ په دے کښې دریمه تفریع او ادب دے لکه څنګه چه اصحاب کهف د مال او رو دنیا پرستو نه جدا شول نو دارنګ هر مؤحد له ضروری دی چه د مؤحدینو سره ملګرتیا او کړی اګرچه فقراء وی۔

لفظ د وَاصْبِرْ، کښې اشاره ده چه د دوی په ملګرتیا کښې به مصائب راځی لیکن صبر کول لازم دی۔

مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ، ذکر د دعا دے مراد تر ینه ذکر د الله تعالیٰ دے په توحید سره۔ او دعا اصل العبادات دے نو داخل دی په دے کښې ټول عبادات په طریقه د توحید سره۔

بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ، مراد هر وخت دے لیکن د دے وختونو ئے د ډیر فضیلت د وجے نه تخصیص کړے دے۔

وَجْهَهٗ، په اعتبار د معنی سره محکم دے او په اعتبار د کیف سره متشابه دے۔

وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ، په دے کښې منع ده د پریخودلو د ملګرتیا

وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ قف

او اَووایه حق چه ستا دَ رب دَ طرف نه دے

فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ

نو څوک چه غواړي نو ایمان دې راوړي او څوک چه غواړي

فَلْيَكْفُرْ ۚ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ

نو کفر دې کوي یقینًا تیار کړې دے مونږ ظالمانو دَ پاره

نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ط

اور او راګیر به کړي دوی لره دیوالونه دَ هغې،

وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ

او که دوی دَ اوبو فریاد کوي نو فریاد به یې قبول شي په داسې اوبو سره

كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ ط

چه پشان دَ ویلې کړې شوې ګرې تلنې به وي چه روتوي به مخونه دَ دوی،

دَ مؤحدینو نه دَ وجې دَ طلب دَ دنیا نه په دے کښې عیناک فاعل دَ تعدي دے.

تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَٰوةِ الدُّنْيَا، یعنې مخ ګرځول دَ مؤحدینو نه دَ دنیا پرستۍ په وجه سره ناجائز دي او که دَ بل ضرورت شرعي یا عادتي په وجه سره وي نو جائز دے.

وَلَا تُطِعْ، کښې تصریح ده په اعراض کولو سره دَ هغه چانه چه دا درې صفات وي په هغه کښې.

اول صفت أَغْفَلْنَا قَلْبَهُۥ عَن ذِكْرِنَا، مراد تري نه ختم قلب دے په شرک باندې.

دویم صفت وَاتَّبَعَ هَوَىٰهُ، مراد تري نه شرک او بدعت دے.

دریم صفت وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا، یعنې دَ هغه په طریقه دَ افراط سره دے یعنې تعدي کوي دَ حدود شرعیو نه په عقیده او په عمل کښې.

بِئْسَ الشَّرَابُ ؕ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقًا ﴿۲۹﴾

ناکاره څښکل دی، او بد دے ځائے د فائدے اخستلو.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی د سنت برابر

اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ﴿۳۰﴾

یقیناً مونږ نه بربادو ثواب د هغه چاچه خائسته عمل ئے کړے وی.

ف۲۹ :- په دے کښ څلورمه تفریع ده او ادب دے لکه څنګه چه اصحاب کهف حق بیان کړیدے . دا رنګ حق بیانول لازم دی سره د تخویف او بشارت نه.

اَلْحَقُّ ، خبر د مبتدا محذوف دے یعنی دا بیان چه مخکښ ذکر شو حق دے یا الحق مبتداء دے او من ربکم خبر دے او په دے کښ تعریف د حق دے.

فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ ، دا دلیل دے چه انسان د پاره اراده او اختیار من وجه ورکړے شویدے رد دے په جبریه باندے.

اِنَّآ اَعْتَدْنَا ، دلیل دے چه دا مخکښ قول چه (فلیکفر) دے په طریقه د زورنے سره دے.

سُرَادِقُهَا ، حدیث ترمذی کښ وارد دی چه سرادق څلور دیوالونه دی د جهنم غټ والے د هر دیوال په مزل د څلویښتو کالو دے.

كَالْمُهْلِ ، وبخ د تیلو نه وټیلے کیږی یعنی خیرے د تیلو. دویمه معنی ویلے کړے شوے تانبه او اوسپنه. دریمه معنی نوښه زوے د زخمونو د جهنمیانو. نور بد حالات د هغه اور په سورة محمد ف۱۵ او سورة ابراهیم ف۱۶ کښ ذکر دی.

ف۳۰ :- په دے آیت کښ بشارت دے ایمان والو ته. اَحْسَنَ عَمَلًا، په دے آیت کښ د دے تفسیر ته اشاره ده چه ایمان او عمل صالح دے څکه چه د هُمْ ضمیر په ځائے من احسن عملا راوړیدے. او احسن عملا د دے سورت په ف۷ آیت کښ ذکر دے.

أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي

دغه کسان دوی لره جنتونه د همیشه اوسیدلو دي چه بهیږي په

مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا

لاندې د دوی نه ولې اچولې کیږي په دوی ته په هغې کښې

مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ

بنګړي د سرو زرو نه او اغوندي به

ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ

جامې شنې د نرو ریښمو نه

وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى

او ختو ریښمو نه تکیه به ئې وهلې وي په هغې کښې په

الْأَرَائِكِ ۚ نِعْمَ الثَّوَابُ ۚ وَحَسُنَتْ

پالنګونو باندې ، ښه بدله ده ، او خائسته

مُرْتَفَقًا ﴿٣١﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلًا

د فائدو ځائے دے ۔ او بیان کړه دوی ته مثال

۳۱ :- په دې آیت کښې بشارت دے تفصیلي ځکه چه په دې کښې لس انعامات خاصه ذکر دي او په دې بشارت کښې نعمتونه د مالدارۍ ذکر کړه دا په بدله د اختیار کولو د ملګرتیا د فقراؤ کښې.

الْأَرَائِكِ ، جمع د اریکه ده هغه پالنګ چه ناوې په هغې باندې آرام کوي.

مُتَّكِئِينَ ، تکیه ښا او دوه لګولو نه وتیلې شي او دا رنګ تربع (پړلت وهلو) ته هم وتیلې شي.

نِعْمَ الثَّوَابُ ، په مقابله د بئس الشواب کښې دے.

او حَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ، په مقابله د ساءت مرتفقا دے.

رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ

دَ دوؤ سړو چه ورکړے وو مونږ یو تن دَ دوی نه دوه باغونه

مِنْ أَعْنَابٍ وَّحَفَفْنٰهُمَا بِنَخْلٍ

دَ انګورو نه او چاپیره کړے وو دَ هغے دواړو نه مونږه کجورے

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا

او پیدا کړے وو مونږ دَ هغے په مینځ کښ فصل۔ دواړو

الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ

باغونو ورکولے میوے خپلے او نه ئے کمولو

مِنْهُ شَيْئًا وَّفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا

دَ هغے نه څه شے او بهیولے وے مونږ په مینځ دَ هغے دواړو کښ

۳۲۔ دَ دے آیت نه حال دَ مالدار مشرک ذکر شوے دے اشاره ده چه جنت په مالدارئ سره نه حاصلیږی او دا رنګ دا متعلق دے دَ واصبر نفسک آه، سره یعنی دَ مالدارئ لحاظ مه کوئ ځکه چه هغه سبب دَ کفر او دَ عذاب دے۔ او دَ دے ځائے نه تزهید فی الدنیا ذکر دے په دریو طریقو سره۔

اوله طریقه دا ده چه محبت دَ دنیا سبب دَ شرک او دَ انکار دَ بعث بعد الموت دے او سبب دَ عذاب دنیوی دے او دَ دے دَ پاره دا واقعه ذکر کړے شوے ده۔

رَّجُلَيْنِ، غوره قول دا دے چه دا په طریقه دَ مثال سره دے تعیین دَ دے رجلینو دَ مثال دَ پاره ضروری نه دے۔ او بعض مفسرینو وئیلی دی چه دا قصه دَ ملک شام دَ شهر رمل ده او نومونه دَ دے سړو یهوذا او فطروس وو۔

نَهَرًا ﴿٣٣﴾ وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ

نهر - او وې ده لره نورې امدنئ نو اوئیل

لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكْثَرُ

ملګری خپل ته او د هغه سره یې خبرې اړولې چه زۀ ډیر زیات

مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا ﴿٣٤﴾

ستا نه مالدار یم او زورآور یم په ډله کښې -

وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ

او ورننوتلو یو باغ ته او حال دا چه هغه ظلم کوونکے وو

لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ

په خپل ځان باندې نو اُوئیل نه کوم ګمان چه دا به چرته

۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶ :- په دے آیاتونو کښې ذکر د حالاتو د مالدار سړی دے چه مشرک او منکر د بعث وو-

وَ لَمْ تَظْلِمْ، ظلم په لغت کښې نقصان ته وئیلے شی دلته دا معنٰی مراد ده۔

وَكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ، نه مراد نور مالونه دی چه سبب د ډیرے امدنئ دے امام بخاری وئیلی دی چه سره زر او سپین زر یا نور قسما قسم میوے او امدنئ وے۔

اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا، په یکښې تکبر کول ذکر دی په مالدارئ باندے او پخپل جماعت باندے۔ نفرًا نه مراد ملګری د مجلس او خادمان او اولاد دی۔

وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ، دا دلیل دے چه هغه مشرک وو۔ لِنَفْسِهٖ کښې لام د پاره دلزوم دے۔

مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا، په یکښې ذکر د انکار دے د فنا د دنیا نه او دا ډیره بے عقلی ده۔

وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً، کښې اشاره ده چه دے منکر دے د

هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿۳۵﴾ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ

هلاک شی او گمان نه کوم په قیامت باندے

قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّىْ

قائمیدونکے او که (بالفرض) اوگرځولے شم رب ته (په قیامت کښ)

لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿۳۶﴾

نو او به مومم غوره د دینه ځائے د ورتللو۔

قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ

اُوئیل ده ته ملگری د ده او حال دا چه ده ورله جواب ورکوو

اَكَفَرْتَ بِالَّذِىْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ

آیا ته کفر (شرک) کوے د هغه ذات سره چه پیدا کړے یئے ته د خاورو نه

ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ

بیا د نطفے نه بیا یئے برابر کړے ته

رَجُلًا ﴿۳۷﴾ ط لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّىْ

سړے۔ لیکن زهٔ (روایم) چه الله تعالیٰ زما رب دے

بعث بعد الموت نه۔
وَلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّىْ، په یکښ خپل کرامت او عزت ثابتوی چه د دنیا ډیروالے سبب د کرامت دے نو دا رنګ عزت به په قیامت کښ راکوی د دے ذکر سورة مریم ۷۷ آیت او سورة حم سجده ۵۰ آیت کښ هم دے۔

۳۷، ۳۸ :- په دے آیتونو کښ کلام د مؤحد دے او اول زجر دے هغه مشرک ته په شرک د هغه باندے په دلیل عقلی سره چه اول پیدائش د انسان دے او دا دلیل په ډیرو سورتونو کښ ذکر دے۔

وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿٣٨﴾

او نه شریکوم د رب سره هیڅوک -

وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ

او ولې چه کله داخل شوې باغ خپل ته

قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ

او دې نه وئیل (چه هغه کیږی) چه الله تعالیٰ اوغواړی او نشته قوت

اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ

مګر په امداد د الله تعالیٰ سره دے که ته وینې ما لره کم

يُحَاوِرُهٗ، کښ اشاره ده چه مباحثه او مناظره د پاره د اظهار حق ضروری ده - او دا رنګ جواب ورکول باطل پرست ته ضروری دی -

صَاحِبُهٗ، د دې وجه نه ئې ورته صاحبه اُوئیلو چه د هغه سره هم مجلس وُو د پاره د دعوت کولو یا صاحب په معنیٰ د ناصح دے یا د هغه د خاندان او د قوم نه وُو -

او دویم آیت کښ اظهار د عقیدے د توحید دے -

لٰكِنَّا هُوَ اللّٰهُ، تقدیر د کلام دا دے لکن انا لا اقول بمقالتک بل اقول هو الله -

په اوله کلمه کښ توحید دے - او په دویمه کلمه کښ رد د شرک دے -

او لفظ اَحَدًا، مستعملیږی د پاره د روح او عقل والو نه د پاره د بتانو، نو بتان په هغے کښ تبعًا داخل دی -

لٰكِنَّا، په اصل کښ لکن انا دے نو الف د مینځ نه اوغورځولے شو او نون په نون کښ مدغم شو - (بخاری کتاب التفسیر) -

مِنۡكَ مَالًا وَّ وَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسٰى

ستا نه په مال او په اولاد کښې ـ نو امید دے

رَبِّیۡۤ اَنۡ یُّؤۡتِیَنِ خَیۡرًا مِّنۡ جَنَّتِكَ

چه رب زما به راکړی ماته غوره د باغ ستا نه

وَ یُرۡسِلَ عَلَیۡهَا حُسۡبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ

او را اوبه لیږی ستا په باغونو باندے عذاب د بره طرف نه

فَتُصۡبِحَ صَعِیۡدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ اَوۡ یُصۡبِحَ

نو شی به میدان خویه او یا به شی

مَآؤُهَا غَوۡرًا فَلَنۡ تَسۡتَطِیۡعَ

اوبه د هغے اوچے (په زمکه کښې) نو هرګز به طاقت او نه لرے

۳۹، ۴۰، ۴۱ :- په دے کښې اوله تعلیم د مؤمن دے کافر ته د کلماتو د توحید په وخت د داخلیدلو د باغ کښې او د هر نعمت په وخت کښې۔ او رد دے په هغه باندے د هغه کلماتو چه هغه وئیلی وو په وخت د داخلے د باغ کښې۔

مَا شَآءَ اللّٰهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ، د دے معنی دا ده چه هغه څه چه الله تعالی اوغواړی نو هغه کیږی که مالدار وی او که فقیر وی۔ او څه مال وغیره چه راجمع کړے شوے دے نو دا په قدرت او په قوت د الله تعالی سره دے۔ او دا کلمات د هر نعمت په وخت کښې لوستل پکار دی دا قول د بعضے سلفو نه نقل دے او هغه حدیث مرفوع چه په دے باب کښې مسند د ابویعلی نه نقل دے نو د هغے سند کښې ضعیف راوی دے چه هغه عیسٰی بن عون دے.

او د اِنۡ تُرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنۡكَ مَالًا وَّ وَلَدًا، جزاء محذوف ده یعنی (لا یضرنی ذلك) ماته دا هیڅ نقصان نشی راکولے۔

حُسۡبَانًا، هغه کانړے یا عذاب دے چه د آسمان نه نازل شی او واحد د دے حسبانة دے او حسبان حساب ته هم وائی

لَهٗ طَلَبًا ﴿۴۱﴾ وَ اُحِيْطَ بِثَمَرِهٖ

دَ هغې دَ راښکاره کولو - اوراګیر کړے شو مالونه دَ هغه (په عذاب کښې)

فَاَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلٰى مَآ

نو شروع شو چه مخل ئې ورغوی خپل په هغه خرچه پسے

اَنْفَقَ فِيْهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ

چه کړے وه په هغې کښې او هغه (باغونه) راغورځیدلے وُو

عَلٰى عُرُوْشِهَا وَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

په چتونو خپلو باندے او وئیل دهٔ هائے افسوس دے

لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿۴۲﴾

چه شریک م نه وے ګرځولے دَ رب خپل سره هیڅوک -

بیا به په دیکښې مضاف مقدر شی (عذاب الحساب) او ابن کثیر وئیلی دی حسبا طوفان باران ته هم وئیلے شی او دا قول دَ رجل مؤمن دَ وجے دَ اعتماد دَ توکل علی الله نه دَ هغه خلے نه صادر شوے وُو - او الله تعالیٰ دَ هغې موافق اجابت اوکړو. او دا دَ قبیلے دَ کرامت نه دے لکه چه صحیح حدیث کښې ذکر دی (رُبَّ اشعث اغبر لو اقسم علی الله لا بره) ډیر کړتے ببر سرے دوړو والا سړے چه دَ الله تعالیٰ په څه کار باندے قسم اوکړی نو الله تعالیٰ هغه پوره کوی - او یا دا جملے په معنی دَ دعا کښې دی او الله تعالیٰ دَ هغه دعا قبوله کړه -

۴۲:- په دے آیت کښې ذکر دَ عذاب دنیوی او حسرت کول دَ هغه کافر دی او په وخت دَ ډیر افسوس کولو کښې انسان دواړه ورغوی دَ یو بل سره مکی او سبب دَ عذاب ته ئې اشاره اوکړه پدے قول سره.

يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا، دا ښکاره دلیل دے چه دغه شخص مشرک وو او دَ ګڼې پښیمانئ په شرک کولو باندے

وَلَمْ تَكُن لَّهُ فِئَةٌ يَنصُرُونَهُ
او نه وه ده لره هیڅ ډله چه د ده سره ئے امداد کړی وے
مِن دُونِ اللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ﴿۴۳﴾
سوا د الله تعالیٰ نه او نه وو دے بدله اخستونکے.
هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ ط
په داسے وخت کښ واک اختیار د یو الله تعالیٰ دے یقیناً،
هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ
هغه غوره دے بدلے والا او غوره
ع ۱۳/۱۷ ۵ عُقْبًا ﴿۴۴﴾ وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ
نتیجه ورکوونکے دے. او بیان کړه دوی ته مثال

نه ده بلکه په عذاب او هلاکت د مال ده په سبب د شرک سره او د بِثَمَرِهٖ، لفظ د هغه ټولو باغونو او مالونو ته شامل دے.

۴۳:- دا رد د شرک فی التصرف دے چه معبودان باطله او نور قوتونو والا عذاب د الله تعالیٰ او مصیبت نشی دفع کولے.

فِئَةٌ، هغه ډلے او جماعت ته وئیلے شی چه په وخت د مصیبت کښ هغه ته رجوع او پناه حاصلیږی. مراد د دینه د هغه شخص معبودان باطله او ملګری او تابعداران دی.

۴۴:- په دے کښ اثبات د اختیار او د تصرف دے خاص الله تعالیٰ لره.

الْوَلَايَةُ، د واو په زیر او زبر سره د الله تعالیٰ په صفت کښ یو شان وی یعنی په معنی د قدرت او د سلطنت دے.- او د مخلوق په صفت کښ ولایت قدرت ته وائی.- او ولایت دوستانے ته هم وائی.

هُنَالِكَ، نه مراد وخت د عذاب دے که په دنیا کښ وی او که آخرت کښ وی.

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ
دَ ژوند دنیوی پشان دَ هغه او بوچه راووږو مونږ هغه
مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ
دَ بره طرف نه نوګډ راوخيژي په هغې سره
نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا
بوټي دَ زمکې نه نوشي په (اوچ) ذرې ذرې
تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ
وا به لوځوي هغې لره هواګانې ، او دے الله تعالیٰ
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ﴿۴۵﴾
په هر څيز باندے ډير قدرت لرونکے ۔

هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا ، يعني کوم اعمال چه دَ الله تعالیٰ دَپاره دی په اخلاص سره نو دَ هغې ثواب او عاقبت خائسته او غوره وی۔

او لفظ دَ خَيْرٌ ، دلته تفضيلي نه دے بلکه صفتي دے ۔ يعني نسبت يکبس بل چاته مقصد نه دے ۔

او ثَوَابًا او عُقْبًا ، دلته په معنی دَ اثابةً او عاقبةً سره دی يعني ثواب ورکول او ښه عاقبت ورکول ۔

۴۵ :۔ دا تزهيد في الدنيا دے په دويمه طريقه سره هغه دا چه دنيا حقير او فاني ده په دے باندے غرور کول نه دی پکار۔ او دا فنا او حقارت ئے بيان کړيدے په طريقه دَ مثال سره ۔ او دا رنګ مثال په سورة يونس ۲۴ آيت کبس تير شوے دے ۔ حاصل دَ مثال دا دے لکه باران سره چه ګڼړ او مختلف بوټي راوخيژي او بيا خه وخت روستو اوچ شي او ذرے ذرے شي او په هواګانو سره والوځي نو نښ ميدان پاتے شي ۔ نو

اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ

مالونه او ځامن ښول د ژوند

الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ

دنیوی دے او باقی پاتے کیدونکے نیک عملونه

خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا

غوره دی په نیز د رب ستا په بدله کښ

وَّخَيْرٌ اَمَلًا ﴿۴۶﴾ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ

او غوره دے په امید کښ. او په کومه ورځ چه روان به کړو

دا رنګ دا دنیا د ابو پښان ده لکه او به چه په یو ځائے نه تهینګیږی او په یو حالت همیشه نه پاتے کیږی او څوک چه او بو کښ داخل شی نو د لوند یدلو نه بغیر نشی پاتے کیدلے او چه او به برابر وی نو فائده ورکوی او چه د حد نه تیرے شی نو تباهی کوی نو دا ټول حالتونه صفتونه د دنیا هم دی دنیا هم په یو ځائے نه حصاریږی دا رنګ دنیا د انسان سره په یو حال نه وی حالات ئے بدلیږی. دا رنګ څوک چه دنیا کښ ورداخل شی نو د هغے د فتنے نه نه شی بچ کیدلے. دا رنګ دنیا داری چه د حد نه زیاته شی نو سبب د تباهئ او کرځی.

او مختلف بوټی اشاره ده د دنیا مختلف قسم مالونو ته او ځنګه چه هغه بوټی اوچ شی او والوځی نو دا رنګ د دنیا مالونه ختمیږی او فنا کیږی.

مُّقْتَدِرًا، په سبب د زیادت د تاء سره مبالغه ده په قدرت کښ.

۴۶ :- په دے کښ د دنیا دوه اجزائے ذکر کړی دی چه هغه سبب د غرور کرځی.

اَلْمَالُ، مال سبب د جمال او د فائدو دے او تکبر پیدا کوی.

الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً ۙ

غرونه او وینے به ته زمکه ډاګه

وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ

او راجمع به کړو دوی نو پرے به نږدو

مِنْهُمْ اَحَدًا ﴿۴۷﴾ وَعُرِضُوْا عَلٰى

د دوی نه هیڅوک۔ او پیش به کړے شی دا ټول

رَبِّكَ صَفًّا ؕ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا

رب ستا ته صفونه۔ (او به وئیلے شی) یقیناً راغلی یئ تاسو مونږ ته

كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۢ

لکه چه پیدا کړے یئ مونږ تاسو اول کرته

وَالْبَنُوْنَ، اولاد سبب د قوت او د زور دے او سبب د ظلم او کبر دی او د دواړو ته زینت وئیلے شی۔

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ، په دے سره ترغیب الی الاخره ذکر کوی، قتاده وئیلی دی د دینه مراد هر عمل صالح دے که قول وی او که فعل وی چه په هغے کښ اخلاص او اتباع د سنت وی نو آخرت د پاره باقی پاتے کیږی نو په دے کښ پنځه مونځونه او ټول اعمال صالحه داخل دی او په ډیرو روایتونو د مسند احمد کښ راغلی دی چه دغه پنځه کلمات دی سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله، الله اکبر لاحول ولا قوة الا بالله۔

وَخَيْرٌ اَمَلًا، یعنی د صاحب د مال او د ځامنو امیدونه به برباد شی او د صاحب د باقیات صالحات امیدونه به بار آور وی۔

۴۷، ۴۸، ۴۹:۔ په دے آیتونو کښ تخویف اخروی دے۔ او دا د تزهید فی الدنیا دریمه طریقه ده چه د دنیا غرور او محبت سبب د عذاب اخروی او د افسوس او کبر دی او په دے آیاتونو کښ احوال د قیامت یوولس ذکر دی۔ په اول آیت

بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ

بلکه گمان دے ستاسو چه چرے به مقرر نه کړو موږ تاسو لره

مَّوْعِدًا ﴿۴۸﴾ وَوُضِعَ الْكِتٰبُ فَتَرَى

نیټه - او کیخودلے به شی کتاب (عملنامه) نو وینے ته

الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ

مجرمانو لره پریږدی به ډیرې دی هغې نه چه په دغه کښ دی

وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا

او وائی به دوی هائے افسوس زموږ څه وجه ده د دے

الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا

کتاب چه نه دے پریخودلے وړوکے شے او نه

كَبِيْرَةً اِلَّآ اَحْصٰىهَا ۚ وَوَجَدُوْا مَا

لوئے شے مګر رااګیر کړے ئی هغه او او به مومی دوی هغه

عَمِلُوْا حَاضِرًا ۗ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ

عملونه چه دوی کړیدی حاضر، او ظلم نه کوی رب ستا

اَحَدًا ﴿۴۹﴾ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ ع ٥ ٦ ١٨

په هیچا باندے او کله چه اُوئیل موږ ملائیکو ته

کښ د قیامت ځلور احوال ذکر دی او دویم آیت کښ د قیامت دوه احوال ذکر دی۔ یعنی رب ته پیش کیدل په صفونو او دوباره ژوندی په شان د حال د پیدائش اول، یعنی بے ماله، ناسته، بے پیزاره، بے جامو داسے په حدیث کښ راغلی دی۔ او دریم آیت کښ د قیامت پنځه حالات ذکر دی۔

صَفًّا. په معنی د ډیرو صفونو سره دے یا ټول به یو صف وی۔

اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ

سجده اوکړئ آدم ته نو سجده اوکړه ټولو سِوا

اِبْلِيْسَ ؕ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ

دَ ابلیس نه ، دے وو دَ پیریانو نه نو نافرمانی ئې اوکړه

عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ؕ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ

دَ حکم دَ رب خپل نه ، آیا پس نیسئ تاسو دے

وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ

او اولاد دَ دۀ لره دوستان (په طاعت کولو سره) زما نه سِوا

وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ

او دوی ستاسو دشمنان دی ، بد دے .. ظالمانو لره

بَدَلًا ﴿٥٠﴾ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ

په بدله (دَ الله تعالیٰ کښې) - نه دی حاضر کړی ما دوی لره پیدائش

اَلْكِتٰبُ ، اسم جنس دے په معنی دَ ډیرو کتابونو یعنی عملنامے۔
وضع نه مراد تقسیم کیدل دی په لاسونو کښې۔
مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ ، دا قول په طریقه دَ ډیر تعجب سره دے۔
صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً ، موصوف دَ دے خصلت پټ دے هغه هر قول او فعل ته شامل دے۔

ښ٥٠ :- خلاصه :- دَ دے آیت نه دویمه حصه ده تر آیت ۵۹ پورې په دے کښې جواب دَ شبهے دَ مشرکانو دے چه دلیل نیسی په شیطانی خوبونو سره یا نور شیطانی احوالو سره دَ پاره دَ اثبات دَ تصرف دَ غیر الله ، یعنی وائی چه فلانی ولی ماته خوب کښې راغے چه زما نذر مه قضا کوه ، زما دَ قبر نه حاجت غواړه ، زما قبر باندے گنبد جوړ کړه ، کله وائی چه ما نذرانه دَ ولی پریخودله او بیا دَ یو ولسنے مے ورنکړه نو زما غوا ، میخے بیئ بند کړل په دے سره

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ

دَ آسمانونو او دَ زمکے ته او نه پیدائش

تصرف دَ ولی ثابتوی۔

جواب په بیان دَ واقعے دَ آدم علیه السلام او دَ ابلیس سره دے حاصل ئے دا دے چه دا ابلیس ستاسو زوړ دشمن دے نو دے په دا سے خوبونو او احوالو سره په تاسو کښ دَ شرک عقیدے پیدا کوی دا په ۵۰، ۵۱ کښ۔ بیا تخویف اخروی دے مشرکینو ته په ۵۲، ۵۳ کښ۔ بیا څلور زجرونه دی۔ زجر اول په جدال فی القرآن په ۵۴ کښ۔ دویم زجر په انتظار دَ عذاب په ۵۵ کښ۔ دریم زجر په جدال په شبهاتو باطلو سره په ۵۶ کښ۔ او څلورم زجر په اعراض عن القرآن سره په ۵۷ کښ۔ بیا تخویف دنیوی دے په ۵۸، ۵۹ کښ۔

۵۰ تفسیر:- په دے آیت کښ واقعه دَ آدم علیه السلام دَ ابلیس سره ده دَ پاره دَ جواب دَ شبهے دَ مشرکینو او دَ دے وجے نه ئے په دے آیت کښ متصل زجر ذکر کړے دے په دے قول سره چه اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِيْ، یعنی ابلیس او دَ هغه اولاد ستاسو زاړه دشمنان دی او تاسو هغوی له دَ الوهیت مرتبه ورکوئ؟

ربط:- او ربط دَ ماقبل سره دا دے چه مخکښ دَ مجرمانو لوے واړه ګناهونو ته اشاره اوکړه اوس دَ دغه ګناهونو سبب ذکر کوی چه تابعداری دَ ابلیس او دَ هغه دَ اولاد ده۔

كَانَ مِنَ الْجِنِّ، دَ بعضو سلفو نه نقل دے چه ابلیس دَ ملائکو نه وو او دَ مِنَ الْجِنِّ، په تاویل کښ اول وائی چه جن یو قبیله ده دَ ملائکو نه۔ دویم تاویل دا کوی چه (صار من الجن بسبب عمله) په سبب دَ انکار سره دَ جناتو نه اوګرځیدلو۔ لیکن صحیح دا ده (او دا اکثر سلفو نه نقل دے) چه ابلیس دَ جن نه دے او جن غیر دے دَ ملائکو نه او دا په ډیرو دلیلونو سره ثابت ده

أَنْفُسِهِمْ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ

دَ هم جنسو دَ دوی ته او نه یم زهٔ نیوونکے

اول دلیل اختلاف دَ دوی په ماده دَ خلقت کښې چه ملائک دَ نور نه پیدا دی او جن دَ مارج من نار نه پیدا شوے دے او دا په حدیث دَ مسلم (عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُوْرٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ) کښې ذکر دی.

دویم دلیل په ملائکو کښې نسل پیدا کیدل نه دی ثابت شوی او په جن کښې نسل او اولاد شته دے. لکه لفظ دَ ذریة په دے باندے شاهد دے.

دریم دلیل په سورة سبا ۴۱ کښې دے چه (بل کانوا یعبدون الجن)، دا دلالت کوی چه جن دَ ملائکو نه غیر دے. او نسبت دَ اول قول سلف ته په صحیح سند سره نه دے ثابت شوے او ابن کثیر رحمه الله په دے باندے تفصیلی رد کړے دے.

فَفَسَقَ، فسق په اصل لغت کښې وتلو ته وئیلے کیږی یعنی دے ؑ وتلو دَ حکم دَ رب نه په نافرمانئ سره.

أَوْلِيَاءَ، مراد دَ دینه دوستان دی په طاعت کولو سره یا مددګاران او معبودان لکه چه بعضے خلق دی چه هغوی ته عباد الشیطان وئیلے شی بلکه دنیا کښې داسے خلق په انسانانو او جنانو کښې شته دے چه دَ ابلیس عبادت کوی او هغه دَ الله تعالیٰ سره ملګری کنړی.

الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا ﴿٥١﴾ وَيَوْمَ يَقُوْلُ

گمراه کوونکو خلقو لره امدادی۔ او په کومه ورځ چه اوبه وايو

نَادُوْا شُرَكَاءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

اواز اوکړئ شريکانو زما ته هغه کسان چه تاسو دعوی کوله رچه دا شريکان دی

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ

نو دوی به ورته اواز اوکړی نو هغوی به هيڅ جواب ورنکړی دوی ته

۵۱:۔ په دے کښ رد دے په هغه چا باندے چه شياطين د الله تعالیٰ سره شريک جوړوی حاصل د رد دا دے چه دوی د آسمانونو او د زمکے د پيدائش په وخت کښ موجود هم نه وو او نه د خپل جنس والو په وخت د پيدائش کښ موجود وو۔ او نه الله تعالیٰ د چا مدد ته محتاج دے نو هيڅ دليل نشته د دوی د شرکت د پاره۔

وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ عَضُدًا، لفظ د مضلين قيد اتفاقی دے احترازی نه دے ځکه چه الله تعالیٰ د هيچا مدد ته محتاج نه دے او شيطان خو د مضلين نه دے نو دا قيد ئے په دے وجه کيخودو يا قيد احترازی دے په دے سره ضالين او فاسقين اوباسی چه الله تعالیٰ کله کله د دين تائيد په فاجر سړی کوی۔

لکه چه په حديث صحيح کښ راغلی دی۔ رعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَإِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ) ليکن مضلين چه خلقو لره گمراه کوی نو په هغوی سره د دين امداد نشی کيدلے۔

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا ﴿۵۲﴾ وَرَاَ

او اوبه ګرځوو په مينځ د دوی کښې ځائے د تباهۍ - او اوبه وينی

الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ

مجرمان خلق اور لره نو دوی به ګمان اوکړی چه يقيناً

مُّوَاقِعُوْهَا وَلَمْ يَجِدُوْا

پريوتونکی دی په هغے کښې نو او به نه موندی

۵۲ :- په دے آيت کښې تخويف اخروی دے په براءت د الهو د مشرکينو د خپلو عابدينو نه - او په دے کښې ذکر د صالحينو کسانو دے چه مشرکانو ترينه معبودان جوړ کړی دی - په ورځ د قيامت به هغوی د عابدانو نه براءت اوکړی او امداد هم ورسره نشی کولے نو د شرکاء نه مراد هغه نيکان کسان دی چه شيطانانو د هغوی عبادت طرف ته دعوت ورکړے وو يا مراد د دے نه معبودان نيکان او بدان دواړه دی -

فَدَعَوْهُمْ ، مراد د دے نه رابلنه ده د امداد کولو د پاره نو معنوی استجابت اونه کړی يعنی امداد په نشی کولے هسے به نور جوابونه کوی لکه په سورة يونس ۲۸ او سورة نحل ۸۶ کښې -

مَّوْبِقًا ، ځائے د هلاکت ته وائی او هغه ټول جهنم دے۔ او دويم قول دا دے چه دا يو کنده ده په جهنم کښې د وينو زوو نه ډکه - اول قول غوره دے -

او بَيْنَهُمْ ، ضمير راجع دے معبودانو او عابدانو ته يا راجع دے مؤمنانو او کافرانو ته -

عَنۡهَا مَصۡرِفًا ۵۳ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا ع ۷/۱۹

دَ هغې نه ځاے دَ اوړیدلو (ربل خواته) - او بیشکه قسم قسم بیان کړی دے مونږ

فِیۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لِلنَّاسِ مِنۡ

په دے قرآن کښې خلقو ته دَ

كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ اَكۡثَرَ

هر قسم بیان نه، او دے انسان زیات

شَیۡءٍ جَدَلًا ۵۴ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ

دَ هر څیز نه په جګړه کولو کښې - او نه دے منع کړے خلقو لره

اَنۡ یُّؤۡمِنُوۡۤا اِذۡ جَآءَهُمُ الۡهُدٰی

دَ ایمان راوړلو نه هر کله چه راغے دوی ته هدایت

وَیَسۡتَغۡفِرُوۡا رَبَّهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ تَاۡتِیَهُمۡ

او دَ بخښے طلب کولو دَ رب خپل نه مګر (انتظار کولو) دَ دے خبرے چه راشی دوی ته

۵۳ :- په دے کښې تخویف اخروی په بیان دَ حال دَ عابدانو دَ شریکانو دے - او مطلب دا دے چه دَ جهنم دَ دخول نه وړاندے او په اوینو په خوف او حزن کښې به واقع شی.
فَظَنُّوۡا ، مراد دَ ظن نه یقین دے او دا سے په ډیرو آیاتونو کښې شته دے.
۵۴ :- په دے آیت کښې زجر دے په اعراض او په جدال کولو سره.
مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ ، نه مراد دلیلونه او زواجر او تخویفات وغیره دی او لفظ دَ صَرَّفۡنَا ، کښې اشاره ده چه دا مضامین په مختلفو طریقو سره ذکر کړے شوے دی - او جدال او جدال په دے سورت کښې دَ دے وجے نه ډیر ذکر شوے دے چه په دے کښې دَ مجادلینو دَ شبهاتو جوابات دی.

سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ

طریقه دَ پخوانو یا راشي دوی ته عذاب

قُبُلًا ﴿۵۵﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ

مخامخ. او نه لیږو مونږ رسولان

اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ وَيُجَادِلُ

مګر زیری ورکوونکي او یره ورکوونکي او جګړے کوي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا

کافران په باطلو (شبهاتو) دپاره دَ دے چه او نړوي

۵۵ :- په دیکښ زجر او تخویف دے په ایمان نه راوړلو سره په سبب دَ انتظار کولو دَ عذاب سره۔

اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا ، کښ توحید منلو ته اشاره ده۔

او په وَيَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ ، کښ دَ شرک نه توبه ویستلو ته اشاره ده۔

اَنْ تَاْتِيَهُمْ ، دَ دے نه مخکښ لفظ دَ انتظار یا حکمي پټ دے۔

سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ، نه مراد عذاب استیصالی دے چه ټول هلاک شي پشان دَ تیر شوو قومونو مکذبینو۔

اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ، دَ دے نه مراد عذاب دے په بعضے کسانو باندے چه یو بل ته ګوري۔

فائده :- په سورة اسراء ۹۴ کښ مانع دَ ایمان بالرسول نه ذکر کړے شوے وو او هغه شبه دَ بشریت وه او په دے سورت کښ ئے مانع دَ توحید دَ منلو نه ذکر کړے دے چه هغه انتظار دَ عذاب دے۔

بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَمَآ
په هغې سره حق لره او نیولې دي دوی آیاتونه زما او هغه چه
اُنْذِرُوْا هُزُوًا ﴿۵۶﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ
دوی له پرې یره ورکړې شوې ده ټوقې. او څوک لوې ظالم دې
مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ فَاَعْرَضَ
د هغه چا نه چه ورته یاد کړې شي آیاتونه د رب د ده نو مخ وا ړوي د هغې نه

۵۶ :- په دې آیت کښ اول حکمت د ارسال رسل ذکر شوې دې. یعني رسولان راليږلې شوي دي د پاره د دفع کولو د عذاب او په دې سره د ماقبل سره ربط پیدا کیږي. بیا زجر دې په جدال کولو سره په باطلو شبهاتو سره او په نړولو د حق سره او په استهزاء کولو سره.

بِالْبَاطِلِ، نه مراد بې دلیله شبهات او اعتراضونه کول دي لکه په سورة غافر ۵ ، ۳۵ ، ۵۶ کښ چه دي.

لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ، کښ اشاره ده چه د دوی شبهات د طلب حق د پاره نه دي بلکه د حق په ضد او په عناد کښ دي.

وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَمَآ اُنْذِرُوْا هُزُوًا، دا جواب د یو وهم دې یعني که چرې اُوئیلې شي چه د حق د پاره خو آیاتونه او احادیث د رسول الله نو موجود دي نو دوی ولې جدال کوي په شبهاتو سره؟ جواب :- حاصل ئې دا دې چه هغه د دوی په نیز باندې عبث دي او سپک ئې ګنړي یعني نه ئې اوري. دلته ما انذروا ذکر کړې دې ځکه چه مخکښ آیت کښ ذکر د عذابونو د مخکنو خلقو وؤ.

عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ط

دَ هغې نه او هیر کړي هغه عملونه چه مخکښې لیږلي دي لاسونو دَ ده ،

اِنَّا جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً

یقیناً گرځولي دي مونږ په زړونو دَ دوي باندې پردې (منع کوونکې)

اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ط

دَ پوهې دَ قرآن نه او په غوږونو دَ دوي کښې درون والې دې ،

وَاِنْ تَدْعُهُمْ اِلَى الْهُدٰى فَلَنْ

او که ته بلنه کوې دَ دوي سمې (برابر) لارې ته نو

يَّهْتَدُوْٓا اِذًا اَبَدًا ﴿٥٧﴾ وَرَبُّكَ

لار به او نه مومي دغه وخت کښې هیچرې۔ او ستا رب

الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ط لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ

بخنه کوونکې دې رحمت والا دې ، که چرې نیولي یئې دوي لره

بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ط

په سبب دَ عملونو دَ دوي نو ژر به یئې ورکړي وې دوي لره عذاب ،

۵۷ :- په دې کښې زجر دې په اعراض کولو سره دَ تذکیر دَ قرآن نه۔

وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ، په دې کښې مراد ترک دَ توبې دې دَ تیر شوي گناهونو نه۔

اِنَّا جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً ، هر کله چه اعراض دَ دوي ئې ذکر کړو نو اوس فرمائي دَ هغه اعراض په وجه سره دَ دوي په زړونو پردې پیدا شوې نو همیشه دَ پاره دَ تذکیر دَ قرآن نه محرومه شول۔

فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا اِذًا اَبَدًا ، کښې اشاره ده افت دَ ستر کوته چه غشاوه ده۔

بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا

بلکه دوی لره وخت مقرر دے هیچرے به او نه مومی

مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ

مخکښ د هغے نه ځائے د پناه ځئی - او دغه

الْقُرٰٓى اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا

کلی دی چه هلاک کړل مونږ دوی هرکله چه ظلم ئے کړے وو

٨ ع

وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ﴿۵۹﴾

او مقرر کړے وو مونږ د دوی د هلاکت دپاره وخت مقرر -

۵۸ :- په آیت کښ اول ترغیب ذکر دے توبے کولو ته چه د شرک او کفر نه توبه اوباسئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته مغفرت اوکړی او رحمت به اوکړی - بیا تخویف دنیوی دے منکرینو ته او په دے آیت کښ صفت د رحمت او صفت د غضب د الله تعالیٰ دواړه جمع کړی دی لکه په سورة انعام ۱۳۳ کښ دی -

مَّوْعِدٌ ، مراد د ینه نیټه مقرره ده دپاره د عذاب -

۵۹ :- په دے کښ تخویف دنیوی دے په ذکر د تیرو شوو قومونو سره -

وَتِلْكَ الْقُرٰٓى ، کښ اشاره ده هغه کلو ته چه مخکښ هلاک کړے شوی دی او هغه اګرچه موجود او محسوس نه وُ لیکن په تلك سره اشاره د دے وجے نه اوشوه چه هغه د ډیر شهرت د وجے نه په شان د محسوس دی -

لَمَّا ظَلَمُوْا ، په دے کښ سبب د عذاب ته اشاره ده او هغه ظلم په ۵۷ کښ دے -

بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ مَوْئِلًا ، د موجوده خلقو په باره کښ دے -

وَ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ لَاۤ اَبْرَحُ

او کوم وخت چه اُوئیل موسیٰ علیه السلام خادم خپل ته زهٔ به همیشه گرځم

حَتّٰۤى اَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَیْنِ

تر دے چه اورسم ځائے دَ جمع کیدلو دَ دوو دریابونو ته

اَوْ اَمْضِیَ حُقُبًا ﴿۶۰﴾ فَلَمَّا بَلَغَا

او یا به ځم ډیره زمانه . نو هر کله چه اورسیدل دواړه

سبق: خلاصه: دَ دے آیت نه دریمه حصه ده تر آیت ۸۲ پورے په دیکښ جواب دَ شبهے دَ هغه خلقو دے چه استدلال کوی په امور خارقه للعادة دَ خضر علیه السلام سره په قدرت او تصرف او علم غیب دَ هغه باندے - او په خپلو حاجاتو کښ دَ هغه دَ رابللو دَپاره دا دلیل پیش کوی او وائی چه "یا خضر رامدد شه" وئیل جائز دی -
حاصل دَ جواب دا دے چه خضر علیه السلام عبد محتاج وُو په رحمت کښ الله تعالیٰ ته او هغه سره علم دَ بعضے اشیاؤ وو - او کوم امور خارقه چه دی هغے جواب دا دے وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِیْ ، چه په دے کارونو کښ زما هیڅ اختیار نه وُو -
بیا په دے واقعه کښ داسے امور دی دَپاره دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه هغه به په ضمن دَ واقعه کښ ذکر کیدے شی او په دے سره دَ ماقبل سره مربوط دے - او دا هجرت دَ موسیٰ علیه السلام دے دَپاره دَ طلب دَ علم او دا په حکم دَ الله تعالیٰ سره دے چه الله تعالیٰ ورته دَ خضر ځائے اوخودو او دَ هغه نه دَ استفادے امر ئے ورته کړے وُو - او دا په حدیث صحیح کښ تفصیلاً ذکر شوی دی -
تفسیر: په دے آیت کښ اشاره ده چه هیڅ لره دَ علم او زیادت حاصلول په علم کښ دَ دینه بے پرواه کیدل نه دی پکار او په دے قصه کښ دَ طلب علم دَپاره ډیر آداب ذکر دی -
لِفَتٰىهُ ، نوم دَ هغه یوشع بن نون دے او اشاره ده چه په سفر کښ ځوان ملګرے پکار دے -

مَجۡمَعَ بَيۡنِهِمَا نَسِيَا حُوۡتَهُمَا

ځاے د یو ځاے کیدلو د دے دواړو نه هیر کړو دواړو مهے خپل

فَاتَّخَذَ سَبِيۡلَهٗ فِى الۡبَحۡرِ سَرَبًا ﴿۶۱﴾

نو او نیوله لار خپله په دریاب کښں د سورنګ په شکل سره۔

لَآ اَبۡرَحُ حَتّٰۤى اَبۡلُغَ مَجۡمَعَ الۡبَحۡرَيۡنِ اَوۡ اَمۡضِىَ حُقُبًا، په دیکښں اشاره ده چه انسان له په طلب د علم کښں ډیر کوششں صرف کول پکار دی که یو ځاے کښں حاصل نشی نو بل ځاے ته د لاړ شی۔

مَجۡمَعَ الۡبَحۡرَيۡنِ، دیکښں اقوال ډیر دی یو قول دا چه دا مقام طنجه دے او طنجه مقام د اسپانیا او د مغرب په مینځ کښں دے او بحرین نه مراد بحر الابیض المتوسط او بحر محیط اطلسی دے او دغه ځاے ته مضیق هم وائی او د جبل طارق سره دے۔ دویم دا چه دا مجتمع د بحیره روم او بحیره فارس دے اول قول ډیر مناسب دے۔

اَوۡ اَمۡضِىَ حُقُبًا، حقب ډیرے زمانے ته ویلے شی او صحیح دا ده چه د هغے معین مقدار نشته او اشاره ده چه د علم د پاره سفر کول عبادت دے۔

۶۱ :- نَسِيَا حُوۡتَهُمَا، دا مهے تے توشه دان کښں راخستلے وو چه د دوی توښه به وی په وخت د ضرورت کښں۔ اشاره ده چه په سفر کښں د پاره د طلب علم ځان سره خپله مناسب توښه راخستل بهتر دی۔ او موسیٰ علیه السلام ته د الله تعالیٰ د طرف نه په وحی سره خودلے شوے وه چه دا مهے په کوم ځاے کښں ستا سو نه ورک شی هغه ځاے کښں به خضر علیه السلام ملاؤ یږی۔ نو چه موسیٰ علیه السلام اوده شو او یوشع ویخ ناست وو ناګاه مهی د توښه دان نه ټوپ کړو او په دریاب کښں ورته او به اوچے شوے۔ د سرنګ په شان او په هغے کښں ورک شو۔

نَسِيَا، کښں نسبت دواړو ته په دے وجے سره شوے دے چه

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا
نو هر كله چه پورے وتل دواړه اُوئیل ده خدمتگار خپل ته راوړه
غَدَآءَنَا ز لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا
ناشته زمونږ يقيناً اورسيدلو مونږ ته د دے سفر نه
هٰذَا نَصَبًا ﴿۶۲﴾ قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ
سترے والی ته. اُوئیل ده خبر شه هر كله چه ځائے اونيوو مونږ
اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّىْ نَسِيْتُ الْحُوْتَ
کټ ته نو يقيناً ما هير كړو مهے

یوشع نه هیر شول چه موسیٰ علیه السلام ته ئے حال وئیلے وے او موسیٰ علیه السلام نه هیر شو چه د یوشع نه ئے د مهی باره کښ تپوس کړے وے. دا دلیل دے چه نسیان د نبوت سره منافات نه لری او دا دلیل دے په دے کښ د الله تعالیٰ په قدرت سره په بعث بعد الموت باندے او لطیفه اشاره ده چه کوم ځائے مړ مهے ژوندے کیږی نو هلته به علم (چه ژوند دے) حاصلیږی.

۶۲:- دا دلیل دے په نفی د علم غیب د موسیٰ علیه السلام نه او بیان د عجز د هغه دے. که د مهی د حال نه خبر وے نو د هغے ځائے نه به نه تلو او نه به ئے د غداء د پاره مهے طلب کوو. او غداء ته محتاج کیدل او سترے کیدل دلیل د عجز او د عبدیت د موسیٰ علیه السلام دے او عبد الله نشی کیدے.

هٰذَا، کښ اشاره ده هغه سفر ته چه د مجمع البحرین نه ئے روستو کړے وو. په دے کښ لطیفه نکته دا ده چه انسان کوم ځائے ته د زړه په شوق او محبت سره مزل کوی نو د هغے سترے والے نه محسوس کوی او کوم مزل چه د مقصد نه غیر شی نو په هغے انسان سترے والے محسوس کوی.

وَمَآ اَنْسٰنِیْهُ اِلَّا الشَّیْطٰنُ اَنْ

او نه وو هیر کړے زمانه هغه مګر شیطان چه

اَذْکُرَهٗ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِیْلَهٗ فِی

یاداشت ے کړے وے دَ هغے (زما نه) او اونیوله ده لاره خپله په

الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ﴿۶۳﴾ قَالَ ذٰلِكَ

دریاب کښ (تعجب کووم) تعجب کول . او ئیل موسیٰ علیه السلامؑ دا هغه ځائے دے

س۶۳ :- یوشع علیه السلام دَ ادب په طریقه دَ نسیان نسبت صرف
ځان ته اوکړو موسیٰ علیه السلام ئے ځان سره په نسبت کښ
شریک نه کړو . بیا ئے خپل عذر پیش کړو او نسبت دَ نسیان
ئے شیطان ته اوکړو اګرچه نسیان څه ګناه نه ده لیکن دا
قاعده ده چه بعضے افعال اګرچه معصیت نه وی لیکن دَ هغے
په کیدلو شیطان خوشحاله شی دَ دے وجے نه چه په هغے سره مؤحد
ته تکلیف جوړ شی او شیطان خو دَ مؤمن په تکلیف خوشحالیږی لکه
موسیٰ علیه السلام چه دَ قتل دَ قطبی نسبت شیطان ته کړے دے
په سورة القصص س۱۵ کښ هغه هم دَ دے قاعدے دَ لاندے
دے او نسبت دَ حیض او دَ نفاس دَ زنانه رکض دَ شیطان ته
په دے بنا سره دے چه هغه په حدیث صحیح کښ دے .
دویمه وجه دا ده چه کله اسباب دَ نسیان کښ شیطان لره دخل
وی نو دَ نسیان نسبت شیطان ته په اعتبار دَ سبب سره او شی
لکه دَ تثاؤب (ارګی کول) نسبت شیطان ته شوے دے ځکه دَ هغے
سبب چه غفلت دے هغه دَ شیطان په وجے سره دے .
عَجَبًا ، مفعول مطلق دے دَ پټ فعل دَ پاره یعنی عجبتُ عجبًا
یا صفت دے دَ پټ موصوف سبیلًا عجیبًا .

مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ فَارْتَدَّا عَلَىٰ آثَارِهِمَا

چه مونږ طلب کوؤ .. نو واپس اوګرځیدل دواړه په نخو د قدمو خپلو

قَصَصًا ﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ

واپس تلونکي۔ نو اوموندو دواړو یو بنده د

عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِّنْ

بندګانو زمونږ نه ورکړی وه مونږ هغه ته پیغمبري د

عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

خپل طرف نه او خودلے وو مونږ هغه ته د خپل طرف نه خاص علم۔

۶۴ :- موسیٰ علیه السلام دغه عذر قبول کړو او واپس په خپل نقش قدم (ګمنډه) باندے راروان شول د پاره د دے چه هغه ځائے تربنه خطا نه شی۔

قَصَصًا ، مفعول مطلق دے د پټ فعل د پاره یقصان قصصًا۔

۶۵ :- دوی چه واپس مجمع البحرین ته راورسیدل نو یو سړے په جامه کښ پټ وؤ او ده ډیر لګولے وه نو موسیٰ علیه السلام پرے سلام واچولو هغه د جواب نه بعد اُوئیل چه دا نا اشنا کار دے ځکه چه په دے ملک کښ اکثر خلق د دے طریقے د سلام نه غافل دی او دا رنګ اکثر خلق د هغه نه مخالف وؤ نو په هغه باندے ئے سلام نه کوؤ۔ هغه ورته اُوئیل زه موسیٰ یم۔ هغه اُوئیل کوم موسیٰ، هغه اُوئیل موسیٰ د بنی اسرائیلو۔

عَبْدًا ، په دے وصف کښ اشاره ده چه خضر محتاج بنده وؤ حقدار د الوهیت نه دے۔ د خضر نوم بلیا بن ملکان وؤ د سام بن نوح په اولاد کښ وؤ او خضر ئے لقب وؤ ځکه چه په زمکه باندے کوم ځائے به ناست وؤ او بیا به د هغه ځائے نه پاسیدلو نو هغه ځائے به شین زلیدلو خضرة شینوالی ته وائی۔ او دے د بادشاهانو په اولاد کښ وؤ د ده په باره کښ دوه اختلافونه دی۔

اول دا دے چہ خضر مَلَک وؤ یا رسول وؤ یا ولی؟ صحیح دا
دہ چہ نبی وؤ او مفسر قرطبی دلیلونہ ذکر کڑی دی دَ هغه
په نبوت باندے۔
اول دا چہ رَحْمَةً ، په معنی دَ نبوت او دَ وحے دے۔ دویم
دا چہ موسٰی علیہ السلام نبی وؤ او نبی په علم کښ ولی ته نه
محتاج کیږی ځکه چہ نبی افضل دے من کل الوجه دَ ولی نه۔
دریم دا چہ غیر نبی دَ نبی نه اوچت په مرتبه کښ نشی کیدلے۔
او بعضو خلقو وئیلی دی چہ ملک وؤ لیکن دلیل ئے نشته دا
رنګ څوک وائی ولی وؤ دا هم شاذ او بے دلیله قول دے۔
دویم اختلاف دَ دهٔ په بقاء کښ دے یعنی دے تر اوسه پورے
ژوندے دے او که وفات شوے دے۔ دَ محدثینو او علماؤ محققینو
مسلک دا دے چہ هغه وفات شوے دے او دَ صوفیا تو قول دا دے
چہ هغه ژوندے دے او اول قول صحیح دے دَ هغے دلیلونه
تفسیر ابن کثیر کښ او البدایه والنهایه لابن کثیر کښ، او تفسیر
روح المعانی وکتاب الرد علی المنطقیین دَ شیخ الاسلام ابن
تیمیه رحمه الله وغیرهم کښ په تفصیل سره ذکر کړے شوی دی۔
او ابن کثیر وئیلی دی دَ حیاة خضر علیه السلام چہ څوک قائل
دی دَ هغوی سره هیڅ دلیل صحیح نشته سوا دَ یو حدیث دَ
تعزیت نه لیکن هغه ضعیف دے او پدے مسئله کښ امام قرطبی
خطا شوے دے چہ دَ حیات خضر قائل دے او تفسیر ابن کثیر
کښ دا حدیث (لَوْ کَانَ مُوسٰی وَعِیسٰی حَیَّیْنِ) دا ئے په تفسیر
دَ سورة آل عمران کښ راوړے دے بغیر دَ سند نه دا حدیث
غلط دے صحیح حدیث کښ صرف دَ موسٰی علیه السلام ذکر
کړے شوے دے۔
وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ، دَ دینه مراد یو قسم علم دے ځکه
دا نکره په اثبات کښ راغلے ده نو خصوص غواړی او هغه علم دَ
بعضے امورو باطنیه دے په سبب دَ وحی سره دلیل دا دے چہ
دَ قصے په آخر کښ فرمائیلے دی وما فعلته عن امری او دا سے

علم د بعضے امورو مستقبله یا علم د بعضے مغیباتو د تمام انبیاء علیهم السلام د پاره په طور د معجزه سره ثابت دے په دے طریقه د تفاوت سره۔

فائده :- فرقه د زنادقه باطنیه په نیز باندے اولیاء او بزرگانو لره علوم باطنیه حاصل دی په سبب د صفائی د زړونو د دوی په سبب د دغه علم سره اسرار د کائناتو ته دوی خبرېږی او احکام د جزئیاتو هم معلومولے شی او حاجت ئے نصوص شرعیه ته نه وی۔ او قیاس کوی دوی په علومو د خضر علیه السلام باندے۔ او کله دا قول کوی چه حقیقت غیر وی د شریعت نه، کله وائی چه علم د صوفیاؤ شرعیت ته حاجت نه لری او د دے وجے نه دغه متصوفه عبادات پریږدی پدے بهانے سره او د حلال او حرام تمیز هم نه کوی۔

جواب دا دے چه قرآن او سنت او اجماع د سلف او خلف شاهد دے چه معرفت د احکام شرعیه نه بله لار نشته سوا د علم د شریعت نه او څوک چه دا دعوی کوی چه په معرفت د احکامو شرعیه کښ قرآن او سنت ته حاجت نشته نو دا زندیق او کافر دے او قیاس د دوی په خضر علیه السلام صحیح نه دے ځکه چه د هغه علم په ذریعه د وحی د الله تعالی سره وو او صوفیاؤ سره خو وحی نشته۔ او موسیٰ علیه السلام که په خضر علیه السلام اعتراضونه کړی دی دا د دے وجے نه چه د موسیٰ علیه السلام د شریعت نه دغه کارونه مخالف وو او د غیب نه خبر نه وو۔ او پدے کښ دلیل دے چه کوم عمل چه د شرعے نه خلاف وی په هغے باندے ضرور اعتراض پکار دے چپ کیدل نه دی پکار او دا معامله د موسیٰ علیه السلام ده د یو پیغمبر سره او چه معامله راشی پدے طریقه د غیر نبی سره نو فرض دی چه په هغه باندے اعتراض اوکړے شی۔

قَالَ لَهٗ مُوسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ

اُوئیل دہ تہ موسٰی علیہ السلام آیا تابع شم ستا

عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ

پہ دے شرط چہ تعلیم بہ راکوی ما تہ دَ هغه نه چه تا ته خودلے شوے دی

رُشْدًا ﴿۶۶﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ

دَ هدایت خبرے۔ اُوئیل دہ یقیناً تہ وس نہ لرے

مَعِيَ صَبْرًا ﴿۶۷﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى

زما سرہ دَ صبر کولو۔ او څه رنګ به صبر اوکړے ته په

مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿۶۸﴾ قَالَ

هغه څیز باندے چه ته نه لرے په هغے باندے خبر۔ اُوئیل دہ

ف۶۶ :- په دے کښ تعلیم دَ ادب دے دَ استاد او دَ عالم سره چه دَ هغه نه دے ضرور اجازت طلب کوی او دَ هغه دے تابعداری کوی ترحده دَ شرعے پورے۔

مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ، په دے کښ اشاره ده چه استاد له پکار دی چه شاګرد ته صرف دَ هدایت او دَ خیر علم اوښائی بے فائدے دِ دَ هغه وخت نه برباد وی۔

ف۶۷ :- دا تجربه ده او دلیل ئے په روستو ف۶۸ کښ ذکر کړے دے۔ دَ خضر علیه السلام علم غیب نه دے یعنی هغه ته دا معلومه ده چه کوم کارونه زما نه صادریږی په وحی دَ الله تعالٰی لیکن په ظاهر کښ اولا دَ شرعے ته مخالف معلومیږی نو موسٰی علیه السلام به ضرور اعتراض کوی۔ او په دے کښ اشاره ده چه کوم استاد چه دَ هغه اعمال دَ شرعے نه په ظاهر کښ مخالف وی نو دَ هغه نه ضرور تپوس پکار دے صبر کول نه دی پکار۔

ف۶۸ :- په دے آیت کښ دَ تیر شوی آیت علت او دلیل ذکر شوے دے۔ یعنی څوک چه دَ یو څیز علم نه لری نو په هغے باندے صبر هم نشی کولے۔

سَتَجِدُنِیۡۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ صَابِرًا

زر دے او بہ مومے ما لرہ کہ اللہ تعالیٰ او غواړی صبر ناک

وَّ لَاۤ اَعۡصِیۡ لَکَ اَمۡرًا ﴿۶۹﴾ قَالَ

او نافرمانی بہ نہ کوم ستا د هیڅ حکم ۔ اُوئیل خضر علیہ السلام

فَاِنِ اتَّبَعۡتَنِیۡ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِیۡ

نو کہ چرتہ زما تابعداری کوے نو تپوس مہ کوہ زما نہ

عَنۡ شَیۡءٍ حَتّٰۤی اُحۡدِثَ لَکَ مِنۡہُ

د هیڅ څیز بارہ کښں تر دے پورے چہ بیان بہ کرم تا تہ د هغے نہ

ذِکۡرًا ﴿۷۰﴾ فَانۡطَلَقَا حَتّٰۤی اِذَا رَکِبَا

جواب ۔ نو روان شو دوارہ تر دے چہ سوارہ شول

فِی السَّفِیۡنَۃِ خَرَقَہَا ؕ قَالَ اَخَرَقۡتَہَا

پہ کشتئ کښں نو سوری ئے کړہ ، اُوئیل موسیٰ علیہ السلام آیا سوری دے کړلہ

۶۹ :۔ موسیٰ علیہ السلام د ظاهر پہ لحاظ سرہ د صبر وعدہ او کړہ او معلق ئے کړہ پہ انشاء اللہ سرہ ځکہ چہ علم غیب ئے نہ لرلو۔ او اشارہ دہ چہ شاگرد لہ د استاد د حکم نافرمانی کول جائز نہ دی۔

۷۰ :۔ اشارہ دہ چہ استاد پہ شاگرد باندے مناسب شرطونہ لازم کولے شی او دا د متعلمینو دپارہ عام شرط دے چہ د استاد د خبرے پورہ کولو انتظار پکار دے د خبرے پہ مینځ کښں را دا ننګل او دخل کول مناسب نہ دے۔

لِتُغۡرِقَ اَهۡلَهَا ۚ لَقَدۡ جِئۡتَ

داکه دے دپاره چه غرق کړے سواره د دے یقیناً راتلل دے اوکړل

شَيۡـًٔا اِمۡرًا ﴿٧١﴾ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ

کار ډیر عجیبه ته ۔ اُوئیل هغه آیا نه وُو وئیلی ما

سلک :- د دے ځلے نه سفر علمی د دے دواړو شروع شو ۔ او د یوشع علیه السلام ذکر په کښ د دے وجے نه نشته چه هغه تابع وُو او د تابع ذکر ته ضرورت نه وی ۔ اوڅوک وائی چه بغیر د اجازت د خضر نه ئے د آبِ حیات اوبه اوڅکلے اوهغه دریاب ته اوغورځوو اوهغه د هغے په چپو کښ ژوندے دے تر قیامته پورے دا موضوعی او اسرائیلی روایات دی۔

اوظاهر دا ده چه خضر علیه السلام د دعوت د توحید د پاره ګرځیدلو او دا واقعات به په لار کښ راتلل نو خضر علیه السلام او موسیٰ علیه السلام د دریاب غاړے ته راغلل او اراده ئے اوکړه چه د دریاب پورے طرف ته ورځو نو کشتئ کښ سواره شول چونکه کشتئ د موحدینو مساکینو وه هغوی خضر علیه السلام اوپیژندو چه دے خو د دعوت د دین د پاره ګرځی نو هغوی تربنه کرایه وانخستله او دا سے اخلاق پکار دے عام مسلمانانو لره چه د عالم حق پرست او د داعی د دین دا سے رعایت اوکړی هر کله چه دوی کشتئ کښ د دریاب مینځ ته شول نو خضر علیه السلام په (قدوم) تبر سره د هغے نه یو تخته ماته کړه او سوری ئے کړله ۔ نو موسیٰ علیه السلام د شرعی جذبے په بناء باندے په هغه باندے اعتراض اوکړو او وعده د صبر کولو تربنه هیره شوه او وجه د اعتراض کولو مخکښ بیان کړے شوه۔

لِتُغۡرِقَ اَهۡلَهَا، دا په اعتبار د ظاهر سره غایه د تختے ویستلو ده او لام دغایه د پاره دے علت د پاره نه دے او په اعتبار د

اِنَّكَ لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ مَعِىَ صَبۡرًا ﴿۷۲﴾

چه ته بچرے طاقت نه لرے ما سره دَ صبر کولو۔

قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِىۡ بِمَا نَسِيۡتُ

اُوئیل موسیٰ علیه السلام مه نیسه ما لره په هغه کار چه ما په هیره اوکړه

وَلَا تُرۡهِقۡنِىۡ مِنۡ اَمۡرِىۡ عُسۡرًا ﴿۷۳﴾

او مه اچوه په ما باندے دَ کار زما نه تنګسیا۔

فَانۡطَلَقَا حَتّٰۤى اِذَا لَقِيَا غُلٰمًا

نو روان شول دواړه تردے چه کله مخامخ شول یو ځوان سره

فَقَتَلَهٗ ۙ قَالَ اَقَتَلۡتَ نَفۡسًا

نو قتل ئے کړو هغه لره اُوئیل موسیٰ علیه السلام آیا اووژلو تا یو نفس

خرق عادت (معجزه) سره کشتئ غرقه نه شوه۔ او حدیث کښ راغلی دی چه یو چنچړه راغله او دَ کشتئ په غاړه کیناسته او په مخوکے سره ئے او به دَ سمندر نه راواخستلے نو خضر علیه السلام اُوئیل موسیٰ علیه السلام ته چه زما او ستا علمونه چه راجمع شی نو دَ هغے نسبت علم دَ الله تعالیٰ ته داسے دے لکه دَ دے مرغئ په مخوکه پورے چه کومے او به لګیدلے دی او نسبت ئے ټول سمندر ته واخلے۔ په دیکښ اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام په علم کښ دَ الله تعالیٰ سره برابر نه شی کیدلے۔

۷۲، ۷۳۔ په دیکښ یادول دَ خضر علیه السلام دی موسیٰ علیه السلام ته وعده دَ هغه او دَ هغه دَ طرف نه عذر دَ نسیان پیش کړے شو۔ په دے کښ اشاره ده چه په نسیان باندے مواخذه او ګناه نشته۔

وَلَا تُرۡهِقۡنِىۡ مِنۡ اَمۡرِىۡ عُسۡرًا، سره اشاره ده چه څوک مواخذه کوی په نسیان سره نو هغه تنګسیا کوی۔

زَكِيَّةًۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ ۭ لَقَدْ جِئْتَ

پاک بے دَ بدلے دَ نفس نه ، یقیناً راتلل دِ او کړه

شَيْـًٔا نُّكْرًا ﴿۷۴﴾

کار ډیر بد ته ۔

۷۴ :- هر کله چه دوی روغ اوسالم دَ دریاب نه پورے لاړل نو نوجوانان ئے اولیدل چه هغوی لوبے کولے نو خضر علیه السلام دَ دوی طرف ته لاړو او یو نوجوان ئے اونیولو او دَ هغه سر ئے په ځمکه سره مات کړو او بیا په ځمکه باندے ئے واچوو او ذبح ئے کړو او سر ئے ترینه په لاس سره جدا کړو۔ ربیعه توجیه سره دَ مختلفو روایتو نو تطبیق اوشو) موسیٰ علیه السلام ته دا هم خلاف دَ حکم شرعی نه ښکاره شو ځکه چه په دے غلام باندے دَ ارتداد یا دَ قصاص یا بل حق شرعی اثبات په دلیل او ګواهانو سره نه وو کړے شوے دَ دے وجے نه ئے زَكِيَّةً، اوفرمائیل او هر کله چه دَ شرعے نه خلاف ښکاره شوه نو بیا ئے اعتراض اوکړو۔

فائده :- ۱ دا غلام دَ بعضو مفسرینو په نیز نابالغ وړوکے وو او دلیل ئے دا دے چه (زکیه) وئیلے شوی دی او اکثر اهل علم وائی چه دے بالغ وو ځکه چه روستو راځی چه په دے غلام کښ طغیان او کفر وو۔ او دا دَ بالغ صفت وی او دا رنګ قتل کول دَ نبی ده لره دلیل وو چه دے مستحق دَ قتل وو۔ او نابالغ خو مکلف نه وی۔ او په دے مقام کښ امام سرخسی په مبسوط جلد ۱ ص ۳۰ کښ دَ امام طحاوی نه یو محاکمه دَ قولینو ذکر کړے ده هغه دا ده چه دا غلام دَ عمر په لحاظ سره نابالغ وو او دَ عقل په لحاظ سره بالغ وو او په هغه زمانه کښ بلوغ په عقل سره معتبر وو نه په عمر سره ، او دا قول غوره دے۔

فائده ۲ :- په اول کرت کښ ئے اُوئیل اِمْرًا او په دویم ځل کښ نُكْرًا ذکر کړے دے په دے کښ فرق دا دے چه اِمْرًا

قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكَ اِنَّكَ

اُوئیل هغه آیا ما نه وُو وئیلی تاته یقینًا ته

لَنۡ تَسۡتَطِيۡعَ مَعِىَ صَبۡرًا ﴿۷۵﴾

چرے طاقت نه لرے ما سره دَ صبر کولو ۔

قَالَ اِنۡ سَاَلۡتُكَ عَنۡ شَىۡءٍۢ

اُوئیل موسیٰ علیه السلام که ما تپوس اوکړو ستا نه ډیو کار په باره کښې

بَعۡدَهَا فَلَا تُصٰحِبۡنِىۡ‌ ۚ قَدۡ

روستو دَ دینه نو ما لره مه ملګرے کوه دَ ځان سره ، یقینًا

بَلَـغۡتَ مِنۡ لَّدُنِّىۡ عُذۡرًا ﴿۷۶﴾

او به رسے ته دَ طرف زمانه عذر ته ۔

هغه کار ته وائی چه لږ ناکاره او بد وی او نکرًا دے ته وائی چه بدی او ناکاره والے ډیروی نو په اول کرت څه نقصان او نه شو نو امرًا ئے اُوئیل او په دویم ځل کښې نقصان اوشو ځکه چه غلام قتل کړے شو نو لفظ دَ نکرًا مناسب وُو ۔ او دا رنګ امرًا هغه ځاے مستعملیږی چه هیبت ئے ډیروی اګر چه واقع نه وی ۔ نو کشتئ چه سورئ شی نو په ټولو سورلو باندے هیبت راځی ۔ او نکرًا هغه ځاے استعمالیږی چه فساد ئے ښکاره شی ۔

۷۵ :- په دے ځل ئے لَّكَ ، لفظ زیات کړو دَ وجے دَ ترقئ په غصه کښې ۔

۷۶ :- فَلَا تُصَاحِبۡنِىۡ قَدۡ بَلَغۡتَ مِنۡ لَّدُنِّىۡ عُذۡرًا ، کښې اشاره ده چه دوه کرته پورے دَ انسان عذر قبلولے شی لیکن په دریم ځل بیا عذر ختم شی ۔ او حدیث کښې راغلی دی چه رحم دَ الله تعالیٰ دے وی په موسیٰ علیه السلام باندے چه صبر ئے کړیدے

فَانْطَلَقَا حَتّٰى إِذَا أَتَيَا

نو روان شول دواړه تر دې چه کله چه راغلل (را اورسيدل)

أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا

يو کلي والو ته نو خوراک ئې اوغوختلو د اوسيدونکو د هغې نه

فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا

نو هغوی انکار اوکړو چه ميلمستيا ورکړي دې دواړو ته نو اومونډلو دوی

فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ

په هغې کښې ديوال . نزدې وو چه پريوتلې وې

فَأَقَامَهُ ؕ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ

نو نيغ ئې کړو، اُوئيل موسیٰ عليه السلام که تا غوختې وې نو اخستلې به دې وې

عَلَيْهِ أَجْرًا ﴿٧٧﴾ قَالَ هٰذَا فِرَاقُ

په دې باندې مزدوري، اُوئيل هغه دا وخت د جدائئ دې

(چه دا شرط ئې نه وو لګولې) نو مونږ به نور عجائبات اوريدلي وې۔

٧٧:۔ اسْتَطْعَمَا، مراد د دينه طلب د ضيافت دې ليکن اطلاق د طعام ئې پرې کړې دې او روستو ئې پرې اطلاق د ضيافت کړې دې په دې کښې اشاره ده چه يو قسم خوراک مسمی کيږي په طعام سره چه نسبت ئې اوکړې خوراک کوونکو ته او مسمی کيږي په ضيافت سره چه نسبت ئې اوکړې شي کور والا ته۔

فائده :۔ دا رنګ په فقه کښې په باره د طعام الميت کښې (چه بدعت قبيحه دې) د اتخاذ الضيافة لفظ دې او د اطعام الطعام لفظ هم مستعمل دې او مراد ترينه خيرات د مړي د کوره دې که په هر تعبير سره ذکر کړې شي او بالاتفاق

# بَيْنِيْ وَ بَيْنِكَ ج سَاُنَبِّئُكَ

| |
|---|
| په مينځ زما او مينځ ستا کښ زر دے خبر به در کووم تا ته |

هغه بدعت او کار د جاهليت دے په فقه حنفي فتح القدير وغيره کښ هغے ته ئے بدعت سيئه و ئيلے دے۔

په دے آيت کښ دليل دے چه په وخت د لوږے کښ طلب د طعام جائز دے او دا منافي نه دے د حال د نبوت سره۔

فائده :- موسیٰ علیه السلام چه هر کله مدين ته اورسيدو او د شعيب عليه السلام لونړو له ئے څاروی اوبه کړل نو د هغوی نه ئے طعام نه طلب کوو او دلته ئے طلب کړو۔ په ديکښ اشاره ده چه انسان يواځے چه وی نو په عزيمت بانديے دے عمل کوی۔ ليکن چه ملګرو سره وی نو د هغوی د لحاظ په وجه باندے په رخصت طريقه د عمل کوی۔ او دا هم کيديشی چه هلته کښ لوګه ډيره نه وه نو طلب نه وو او دلته لوګه زياته وه نو د دے وجے نه ئے طلب کړو او په دے کښ حکمت دا دے چه هغه سفر د هجرت وو بنا وو صرف په نصرت او مدد د الله تعالیٰ باندے او دلته سفر د تاديب دے نو ډير مشقت ئے پرے راوستلو۔

او دے کلی والو کښ بخل او لوم وو ليکن لوے مانع د دوی شرک او کفر وو چه خضر عليه السلام ئے پيژندلو چه دا داعی د توحيد دے نو د هغه نه ئے نفرت کوو۔

لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ، دلته د اعتراض د موسیٰ عليه السلام مراد دا وو چه دا مشرک او لئيم قوم دے (او خيال ئے دا وو چه دا ديوال د دوی دے) د دوی سره ولے احسان کوے بلکه د ضرورت په بناء باندے د دوی نه به دِ اجرت اخستلے وے۔

دويم مراد دا دے چه هر کله ته د ديوالونو جوړولو طريقه باندے پوهيدے نو په دے جوړولو سره به دِ اجرت

بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ

په حقیقت د هغه چه وس نه لرلو تا په هغې باندې

صَبْرًا ﴿۷۸﴾ أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ

د صبر کولو - هرچه کشتۍ وه نو وه

لِمَسٰكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ

د مسکینانو د پاره چه مزدوري ئې کوله په هغې باندې په دریاب کښې

فَأَرَدْتُّ أَنْ أَعِيبَهَا وَكَانَ

نو اوغوختل ما چه نقصاني کړم هغې لره ځکه چه وۀ

اخستلے وے - او په هغې باندې به موطعام اخستلے وے طلب کولو ته ضرورت نه وۀ -

۷۸ :- دا کلام د خضر علیه السلام دے په موافق د هغه شرط چه موسیٰ علیه السلام وئیلے وۀ - او خضر علیه السلام جوابات د دے وجې ورکوی چه دا گمان او نکړیشی چه خضر علیه السلام واقعي د شرعې خلاف کار وته کړیدی - پدیکښې اشاره ده چه خپله صفائي اوکړی -

لطیفه :- بعض مفسرینو اشاره کړیده چه موسیٰ علیه السلام پخپلو تیر شوو حالاتو باندې غور او نکړو یعنی هیر ئې وۀ ځکه نو دا اعتراضونه به ئې نه کولے - هغه داچه د کشتۍ بچ کیدل سره د سورۍ کیدلو نه پدے نمونه بچ کیدل د موسیٰ علیه السلام هم وۀ د غرق نه کله چه مور په صندوق کښې اچولے وۀ او په دریاب کښې ئې لاهو کړے وو - او معامله د قتل د غلام داسې وه لکه چه موسیٰ علیه السلام قبطي لره قتل کړے وۀ - او معامله د جوړولو د دیوال بلا اجرت داسې وه لکه چه موسیٰ د شعیب علیه السلام لونړو له څاروی اوبه کړې وۀ بغیر د طلب د اجرت نه -

وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّأْخُذُ كُلَّ

دَ دوی مخې ته بادشاه چه نیوله یې هره

سَفِيْنَةٍ غَصْبًا ﴿٧٩﴾ وَاَمَّا الْغُلٰمُ

روغه کشتۍ په زور سره - او هر چه ځوان وو

فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَا

نو وو مور او پلار دَ هغه مؤمنان نو اوویریدلو موږ

اَنْ يُّرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿٨٠﴾

چه او به غورځوی دے دواړو لره په زور سره په سرکشۍ او کفر کښ۔

ف۷۹ :- حاصل دا دے چه په کشتۍ کښ عیب جوړول دَ ډیرو فائدو دَ پاره وُو ځکه که دا جوړه وے نو ظالم بادشاه به په کار بیګار سره نیولے وے او دَ دے مسکینانو دَ روزۍ سبب به برباد شوے وُو او دا مسکینان مؤحدین هم وُو۔ په دے کښ اشاره ده چه دَ مسکینانو دَ مال دَ ظالمانو نه حفاظت پکار دے، او دا سنت دَ انبیاؤ علیهم السلام دے۔ دویم اشاره ده چه دَ ډیرے فائدے دَ پاره لږ نقصان برداشت کول پکار دی۔ دا رنګ دا دلیل دے چه مسکین هغه چاته وئیلے شی چه څه مال ورسره وی خو دَ نصاب نه کم وی دا رنګ دَ آمدن ذریعه وی لیکن صرف ګذاره ورباندے کیږی۔ لکه چه په دے کشتۍ کښ ډیر کسان شریک وُو او صرف دَ روزۍ ګذاره یې ورباندے کیدله نو دوی په هغے سره مالدار نه شمارلے کیدل۔

كُلَّ سَفِيْنَةٍ، مراد دَ دے نه هر روغه کشتۍ ده۔

ف۸۰ :- دَ دے حاصل دا دے چه دا ځوان سرکش کافر وُو او مور او پلار دَ ده مؤمنان وُو نو ویره دا وه چه دے به په زور سره مور او پلار کافران او مشرکان کړی او دَ ده نه خو امید دَ ایمان راوړلو ختم شوے دے په دلیل دَ حدیث سره چه

فَأَرَدْنَا أَنْ يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا
نو اوغوختل مونږ چه بدل به ورکړي دوی لره رب د دوی
خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّأَقْرَبَ
غوره د ده نه په پاکئ (د عقیدے او د عمل کښی) او ډیر نزدے
رُحْمًا ﴿٨١﴾ وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ
په رحم کولو کښی (په مور او پلار باندے) او هر چه دیوال وو نو وو

(الْغُلَامُ الَّذِيْ قَتَلَهٗ صَاحِبُ مُوْسٰى طبع كَافِرًا) مفهوم دا دے چه مهر زده کافر وو۔ بعضے شارحین د دے حدیث په معنیٰ کښی خطا شوی دی هغوی وائی چه دا غلام کافر پیدا شوے وو او دا ځکه خطا معنی ده چه د قرآن آیت فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ، او د حدیث كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُّوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ) سره تعارض راځي۔

او په دے کښی اشاره شوه چه هر موذی په مناسب طریقه سره ختمول پکار دی د پاره د دے چه مخلوق ئے د شر نه بچ شي۔
طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ، دا دواړه صفتونه د هغه غلام وو نو مفعول له دے یا طغیان او کفر د والدینو مراد دے او په معنی د على الطغيان والكفر دے۔

سا ٨١ :- اشاره ده چه الله تعالیٰ کله د شر په ځائے خیر پیدا کوی یعنی د شر د لرے کولو نتیجه خیر وی او مفسرینو ذکر کړے دی چه دغه مور او پلار له د ده په بدل کښی الله تعالیٰ لور ورکړه او د هغے نکاح د یو پیغمبر سره اوشوه او ځوے د هغے نه پیدا شو او هغه هم نبی وو او بعضو وئیلی دی چه د هغے په نسل کښی دولس پیغمبران پیدا شول۔

لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِى الْمَدِيْنَةِ

دَ دوؤ هلكانو يتيمانو په ښار كښې

وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ لَّهُمَا وَكَانَ

او وه لاندې دَ هغې نه خزانه دَ دې دواړو او وؤ

اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ

پلار دَ دوی نيک سړې نو اوغوختل ستا رب

اَنْ يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا

چه اورسی دوی ځوانئ خپلې ته او را اوباسی په

كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ

خزانه خپله دَ وجې دَ رحمت دَ رب ستا نه

وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِىْ ۗ ذٰلِكَ

او نه دې کړې ما دا كار په خپل علم او دَ اختيار سره، دا

تَاْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ

حقيقت دَ هغې وؤ چه وس نه لرلو تا په هغې باندې

صَبْرًا ؏ (٨٢) وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِى الْقَرْنَيْنِ ع ١٢ ١

دَ صبر کولو ۔ او تپوس کوی دوی ستا نه په باره دَ ذوالقرنين كښې،

س٨٢ :۔ حاصل دَ دې دا دې چه دَ دې كلى عام خلق اگر چه
مشركان وؤ ليكن دا ديوال دَ موحدينو وؤ او هغه يتيمان دی
او دَ دې لاندې خزانه وه كه دا ديوال غورځيدلې وې نو
هغه خزانه به ښكاره شوې وې او ظالمانو دَ دې كلى به تالا
کړې وې ۔ نو دَ يتيمانو دَ مال حفاظت دَ ظالمانو نه دا دَ
انبياؤ كار دې ۔ اوس هم ډير ظالمان شته چه دَ مسكينانو
او دَ يتيمانو مالونه په ظلم سره خوری ۔ اهل حق علماؤ باندې

لازم دی چه دا مسکینان او یتیمان د دغه ظالمانو د لاس نه بچ کړی۔

وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا، دا علت دے د حفاظت د خزانے د دغه یتیمانو یعنی جواب د سوال دے سوال دا دے چه دنیا کښ ډیر یتیمان شته او حال دا چه د هغوی د مال حفاظت شرعًا لازم نه دے۔

حاصل د جواب دا دے چه مسئله دا ده چه اولاد نابالغ په حکم د والدینو کښ وی په احکام دنیویه کښ۔ یعنی چه والدین ئے کافر وی نو دا اولاد به هم تبعًا په احکامو دنیویه کښ کافر وی۔ او د هغوی د مال حفاظت لازم نه دے لیکن دا یتیمان چه وو د دوی پلار موحد مؤمن وو نو دوی هم تبعًا مؤمنان وو۔ د دے وجه نه د دوی د مال حفاظت شرعًا لازم دے۔ بعضے مبتدعین د دینه نه استدلال کوی چه د دے آیت نه وسیله ثابت شوه۔

جواب دا دے چه په دے کښ وسیله شرکیه او بدعیه ثابتیږی نه بلکه د مسئلے شرعی په وجه سره د دوی د مال حفاظت اوکړے شو۔ او دینه وسیله وئیل جهالت دے۔ هاں الله تعالی کله د یو صالح په وجه سره د هغه په اولاد باندے او د هغه په تابعدارئ کونکو رحم او برکت کوی۔

وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي، په دے کښ د شبهے اصل جواب دے لکه چه ابتدا د دے حصه کښ بیان شول یعنی که څوک شک یا استدلال کوی چه خضر علیه السلام د کشتئ او د غلام او د خزانے یعنی د راتلونکے حالاتو نه خبر وو۔ نو جواب اوشو چه دا هغه په خپل اختیار او علم سره نه دی کړی۔

فائده ۱: آیت ۷۸ کښ تستطع په تا سره ذکر دے او په دے آیت کښ تسطع دے بغیر د تا نه، د دے حکمت دا دے چه هر کله جوابونه وو شوی نو په موسی علیه السلام

# قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَیْکُمْ مِّنْهُ ذِکْرًا ﴿۸۳﴾

تہ اُوایہ خامخا بیا نوم پہ تاسو باندے دَ هغه نه څه خبرے دَ نصیحت۔

باندے ثقل وو، زیادت دَ حرفونو دلالت کوی پہ ثقل معنوی باندے۔ او هر کله چه جوابونه اوشول نو پہ موسیٰ علیه السلام باندے تخفیف اوشو نو په حروفو کښے تخفیف پیدا باندے دلالت کوی۔

فائده:- ع۲ دَ کشتئ په باره کښے اردت ذکر دے او دَ غلام په بدل کښے خیر ورکولو دَ پاره اردنا ذکر دے او دَ جدار دَ اصلاح په باره کښے اراد ربک ذکر دے؟ دَ دے حکمت دا دے چه په کشتئ کښے صرف دَ عیب پیدا کولو ذکر دے نو خضر علیه السلام دَ هغے نسبت کول الله تعالیٰ ته مناسب او نه ګنړل نو صرف ځان ته ئے نسبت اوکړو او دَ جدار جوړول صرف خیر دے نو دَ هغے نسبت دَ الله تعالیٰ سره مناسب دے۔ او هر چه دَ غلام قتل او دَ هغے بدل کښے دَ خیر اولاد ورکول په دے کښے په یو جهت سره خیر دے او بل جهت سره شر دے نو دَ هغے نسبت ئے په طریقه دَ اشتراک سره اوکړو)۔

س۸۳:- خلاصه:- دَ دے آیت نه تر س۱۰۱ آیت پورے څلورمه حصّه ده په دیکښے جواب دَ شبهے دَ هغه چا دے چه دلیل نیسی په احوالو دَ ذوالقرنین سره په قدرت او تصرفاتو دَ هغه دا سوال هم مشرکانو او یهودیانو پیدا وجے سره کړے وو چه په هغوی کښے دَ ذوالقرنین کرامات مشهور وو او دا دوی دَ هغه په باره قدرت ګنړلو۔

حاصل دَ جواب دا دے چه ذوالقرنین پیدا ټولو امورو کښے الله تعالیٰ ته محتاج وو دَ دے وجے نه قاصر وو دَ بعضے لغاتو نه په هغے نه پوهیدو لکه په س۹۳ کښے راځی او محتاج وو امداد دَ خلقو ته لکه په س۹۵ کښے۔ بیا تخویف اخروی دے دَ س۹۸ نه تر س۱۰۱ پورے۔

تفسیر:- په دے آیت کښے سوال او جواب دے په باره دَ ذوالقرنین

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ

یقینًا طاقت ورکړے وُو مونږ هغه لره په زمکه کښې او ورکړے وُو مونږ هغه ته

مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ﴿۸۴﴾ فَأَتْبَعَ

دَ هر قسم نه سامان دَ ضرورت۔ نو روان شو

کښې۔ ذِکرًا، بیان دَ واقعے دَ ذوالقرنین ئے مسمی کړو په ذکر سره ځکه چه په دے کښې تذکیر او نصیحت دے۔ او ذوالقرنین په نوم کښې دوه قولونه دی مشهور قول دَ مؤرخینو دا دے چه دَ ده نوم اسکندر وُو او فارسی وُو او دَ ابراهیم علیه السلام سره ئے یو ځائے طواف دَ بیت الله کړے وُو او خضر علیه السلام دَ هغه وزیر وُو او په دے وجه سره دَ خضر علیه السلام دَ واقعے نه روستو دَ ده واقعه ذکر کوی او دویم قول دا دے چه دَ ده نوم سائرس اعظم وُو او دَ عیسیٰ علیه السلام نه ۵۵۹ کاله مخکښې تیر شوے دے۔ او دا ئے ابوالکلام آزاد په تفسیر ترجمان القرآن کښې دَ تاریخ په واسطے سره ثابت کړے دے او دا رنګه اطلس القرآن کښې) هاں کوم اسکندر چه ابن فیلیس المقدونی یونانی او رومی دے نو دَ هغه وزیر ارسطو کافر وُو هغه دلته مراد نه دے۔ دا ئے شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په کتاب الرد علی المنطقیین کښې لیکلے دی۔ او دَ ذوی القرنین په لقب کښې نور لس اقوال دی چه قرطبی ذکر کړی دی۔ غوره قول دا دے چه دَ دنیا دوه بادشاهئ لوے دَ ده دَ تسلط لاندے راغلے وے یو روم او بل فارس۔

۸۴ :- په دے کښې اشاره ده چه دَ هغه تمکین او دَ هغه هر قسم اسباب دا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه وُو۔

تمکین فی الارض، نه مراد په زمکه کښې طاقت او بادشاهی ورکول دی چه په دشمنانو باندے غالب وی۔

وَآتَيْنَاهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا، نه مراد اسباب او ذریعے دی دَ ضروریاتو دَ فتح او دَ غلبے او هر طرف ته دَ رسیدلو دَ پاره او په

سَبَبًا ﴿۸۵﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ

په لار (د مغرب طرفته). ترڅو چه اورسیدلو ځائے د پرېوتو د

الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِيْ

د نمر ته او موندلو ئے هغه چه پرېوتلو په دریاب

عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّ وَجَدَ عِنْدَهَا

(دریاب) تور کښې او اوموندلو د هغې په خوا کښې

قَوْمًا ۬ قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّآ

یو قوم لره، اُوئیل مونږ اے ذوالقرنینه یا

اَنْ تُعَذِّبَ وَ اِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ

عذاب ورکړه دوی له او یا دا چه اونیسه

فِيْهِمْ حُسْنًا ﴿۸۶﴾ قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ

د دوی په باره کښې ښه لار. ده اُوئیل هر څوک چه په ظلم (شرک) کښې پاتے شو

حرف د من سره اشاره اوکړه چه بعضے اسباب وو.

۸۵: د دے یو معنیٰ دا ده چه روان شو په یو لار باندے یعنی مغربي طرف ته او دا کرځیدل د ده هجرت دے د پاره د غالب کولو د دین حق. نو روان وو مغرب طرف ته او هر کلي کښې دعوت د حق ئے ورکوو. او چاچه به مخالفت کوو نو د هغه سره به ئے جنګ کوو. دویمه معنی دا ده چه استعمال ئے شروع کړو د بعضے اسبابو او ذرائعو طرف د مغرب ته.

۸۶: مراد د مغرب الشمس نه اخری مقام د غروب الشمس نه دے او نه دا امکان لري او دلیل پرے دا دے.

تَغْرُبُ فِيْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ، یعنی نمر خو د زمکے نه په څو چنده سره غټ دے وئیلے شوے دي چه نمر د زمکے نه یو سل پنځوس چنده زیات دے نو په یو سمندر کښې هغه څنګه غائب

فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ

نو زر به عذاب ور کړو هغه لره (په دنيا کښ) بيا به پيش کړيشي

اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾

خپل رب ته (پس د مرګه) نو عذاب به ورکړی هغه ته عذاب ډير سخت۔

کيدے شی۔ بلکه مراد دا دے چه د بحر اسود کنارے ته اورسيدو هلته چه انسان نمر ته ګوری نو ظاهر کښ معلوميږی چه دا نمر په سمندر کښ غائبيږی۔

عَيْنٍ حَمِئَةٍ ، د دے نه مراد بحر اسود دے او دا قوم او ملک د يونان مراد دے او ديته ليبيا (ترکی) وئيلے کيدلو د فارس نه تر دغه ملک پورے تقريبًا څوارلس سوه ميله فاصله وه او دا د يونان مرکز وؤ د هغے بادشاه په هغه وخت کښ کردسيس وؤ۔
د ذوالقرنين په نبوت کښ اختلاف دے څوک چه وائی چه نبی وؤ۔

نو قُلْنَا ، په طريقه د وحی سره دے او څوک چه وائی ولی وؤ نو قلنا په طريقه د الهام سره دے۔

اِمَّآ اَنْ تُعَذِّبَ وَاِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ، مراد دا دے چه هغه له ئے پوره تمکين او اختيار ورکړو په باره د هغه قوم کښ ، او عذاب نه مراد قتل کول او قيد کول دی او د حسنا نه مراد احسانی پريخودل يا په فديه سره معاف کول دی لکه پدے قول کښ۔ (اِمَّا مَنًّا وَّاِمَّا فِدَآءً)

ف ٨٧ :- يعنی ذوالقرنين د عدل نه کار واخست او وئيل ئے چه څوک پس د دعوت د توحيد نه په کفر او شرک پاندے باقی وی نو هغوی له به د قتل او قيد کولو سزا په دنيا کښ ورکووم او آخرت کښ به الله تعالیٰ سخته سزا ورکوی۔

وَ اَمَّا مَنْ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا

او هر چا چه ایمان راوړو او عمل ئې اوکړو د سنت برابر

فَلَهٗ جَزَآءَ اِۨلْحُسْنٰى ۚ وَ سَنَقُوْلُ

نو هغه لره جنت دے د جزا په لحاظ ، او ضرور وایو به

لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾ ثُمَّ

ده ته د کار د دین زمونږ نه آسان . بیا

اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ

روان شو په بله لار باندے . تر هغے چه کله اورسیدو

مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ

ځاے د ختلو د نمر ته نو اوئې لیدلو چه راختلو

عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ

په داسے قوم باندے چه نه وو ورکړے مونږ هغوی ته

س ۸۸ :- او چا چه توحید او منو او په عمل کښې اخلاص او اتباع د سنت اوکړه نو هغه لره جزاء د حسنی ده -
او الحسنٰی ، نه مراد جنت دے په آخرت کښې -
جزاء ، تمیز دے یا حال دے او الحسنی مبتدا مؤخر ده او فله خبر مقدم دے -
یسرًا ، یعنی دنیا کښې په ده باندے تکلیف بالایطاق نشی کیخودلے ځکه چه لا یکلف الله نفسا الا وسعها ، او الدین یسر
س ۸۹ :- بیا روان شو په بله لار - یعنی د مشرق طرف باندے او هر کلی کښې دعوت د دین ئې کولو -

مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿٩٠﴾ كَذٰلِكَ ط

د نمر نه ته هیڅ پرده۔ دغسے (کار یې اوکړو د دوی سره په شان د مکنی قوم)،

وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿٩١﴾

او یقیناً راګیر کړی وؤ موږ هغه سامانونه، چه د ده سره وؤ په علم خپل کښې۔

ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتّٰٓى اِذَا

بیا روان شو په بله لار باندے۔ تر دے چه

ف٩٠ :- دلته هم مراد د مطلع شمس نه عین مشرق نه دے ځکه چه هغے ته رسیدل امکان نه لري بلکه دا سے ځائے ته اورسیدو چه آبادی ختمه وه او مطلع شمس ته نزدے علاقه وه او دا خلق وحشی قبائل وو او مکران او د باختریا اوسیدونکی وؤ۔

لَمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا، یعنی آبادی نه وه او نه ونے وے چه دوی پرے پټ شوے وے اکثر به دوی په غارونو کښې اوسیدل۔ بعضو وئیلی دی چه دوی به جامے هم نه اغوستلے د وحشی ځناورو پشان وؤ۔

ف٩١ :- كَذٰلِكَ، مراد دا دے چه دلته یې دا سے حکم اوکړو لکه ځنګه چه په مغرب الشمس کښې کړے وؤ۔

وَقَدْ اَحَطْنَا، اشاره ده چه د ده اسباب او مواد دومره ډیر وؤ چه یو الله تعالٰی د هغې په حال علم لرلو۔

بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا، د دے نه مراد لښکرے او سامان جنګ وغیره وؤ۔

ف٩٣ :- السَّدَّيْنِ، دا تثنیه د سد ده په اصل کښې دیوال ته وئیلے دلته د دے نه مراد دوه غرونه دی او په دے نوم سره د دے وجې نه مسمی شوی دی چه هغه هم د یاجوج ماجوج د بندش د پاره قدرتی دیوالونه دی صرف مینځ یې خالی وؤ۔ دا قوم د ذوالقرنین په ژبه نه پوهیدل، دا دلیل دے چه ذوالقرنین په هر څه

بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ

اورسیدو مینځ دَ دوه غرونو ته اوئې موندلو

مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ

دَهغې نزدے یو داسے قوم چه نه وُو نزدے

يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿۹۳﴾ قَالُوْا

چه پوهه شوے وے په خبرو بانله - دوی اُوئیل رِدَ ترجمان په واسطه

يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ

اے ذوالقرنین یقینًا یاجوج

وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ

او ماجوج ورانے کوؤنکے دی په دے ملک کښ

فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى

نو آیا دَ اجمع کړو تا لره خرچه چه

علم نه لرلو نو څه رنګه دَ الله تعالیٰ سره شریک جوړیدلے شي -

قَوْمًا، دا قوم دوه قسمونه وُو یو په مشرق دَ بحر خزر بانلے چه هغوی ته کاسیین وئیلے کیدل او بل قسم ته کولشي وئیلے کیدل چه دَ کاکیشا سره نزدے وو - نو معلومه شوه چه ټوله بادشاهي دَ ذوالقرنین دَعرب نه تر بحر اسود پورے او دَ ایشیا کوچک نه تر بلخ پورے وه دَ ایشیا اکثره علاقه دَ هغه دَ بادشاهئ دَلاندے داخل وه او دارالخلافت دَ ده همدان وُو په هغه وخت کښ هغې ته هګ متانه وئیلے کیدلو - اوس ورته اکبتانه وئیلے شي -

اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿۹۴﴾

جوړ کړې ته په مینځ زمونږ او د دوی کښې دیوال۔

قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ

هغه اُوئیل هغه چه طاقت را کړیدے مالره د هغے رب زما غوره دے

فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ

نو مدد او کړئ زما سره په قوت (د سرو سره) جوړ به کړم ستاسو

وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿۹۵﴾ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ

او د دوی تر مینځ دیوال۔ راوړئ ماته ټکړے

۹۴:۔ یَاجُوْجَ وَمَاجُوْجَ، دوه قومونه د اولاد د یافث بن نوح علیه السلام نه دی او د یافث په اولاد کښې ترک، صقلاب، چین وغیره هم داخل دی، او دا ټول مبادی د فساد دی لیکن د یاجوج ماجوج فساد د دوی نه زیات دے او د یورپ په اصطلاح کښې دوی ته ګاګ میګاګ وئیلے کیږی۔ او د دوی په باره کښې احادیث صحیحه راغلی دی۔ او د دوی راتلل د قیامت د قریبی علاماتو نه دی او کله چه دوی د دیوال نه را اوځی نو کیدے شی چه چین، روس وغیره ټول مفسدان به د دوی په ملګرتیا کښې وی ځکه دا ټول په نسبت کښې شریک دی او په ټول عالم کښې به سوا د حجاز مقدس نه فساد خور کړی۔

فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا، په دے کښې اشاره ده چه رعیت له پکار دی چه د اجتماعی فائدے د پاره د بادشاه نه مدد او غواړی۔

۹۵:۔ پدے آیت کښې اشاره ده چه صالح بادشاه د رعیت نه بلا ضرورت مالونه نه اخلی۔ ځکه چه په دے کښې د رعیت تخریب دے هاں د هغوی نه بدنی مقونت طلب کول جائز دی د ضرورت مطابق۔

الْحَدِيْدِ حَتّٰٓى إِذَا سَاوٰى بَيْنَ

رجوړې شوې ځي او سپنې، ترڅو چه برابرې کړلې په مینځ د

الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا حَتّٰٓى

سرونو د غرونو کښې ده اُوئیل بنئ او پوکئ، ترڅو پورې

إِذَا جَعَلَهٗ نَارًا قَالَ اٰتُوْنِيْٓ

چه هغه دیوال ئې د اُور پشان کړو ده اُوئیل راوړئ ما ته

أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا اسْطَاعُوْٓا

چه واړوم په دې باندې تانبه رویلې کړې شوې)، نو دوی وس نه لرې

فَأَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ، مراد د قوت نه دنیوی دی رمز دوران) او دا طلب د امداد د لاندې د اسبابو نه دلیل دے په عجز د ذوالقرنین باندې.

سَدًّا، مطلق دیوال ته وئیلے کیږی او رَدْمًا، ردم هغه دیوال ته وائی چه اجزائې د یو بل سره متصل کړې شی چه ښه مضبوط شی او په دې دیوال جوړولو کښې اشاره ده چه په بادشاه لازم دی چه د خپل رعیت حفاظت اوکړی او د ملک نه د مفسدانو سد باب اوکړی او په خپل ملک کښې امن راولی.

٩٦:- د او سپنې بلاکونه ئې جوړ کړل هغه ئې د یو بل د پاسه په اسې طریقه سره سواره کړل چه د غرونو د سرونو سره دیوال برابر شو- نو تانبه ئې ویلې کړې وه او دا او سپنې ئې په اور سره ښه سرې کړې نو ویلې کړې تانبه ئې په درزونو د هغې کښې واچوله نو هر کله چه دیوال سوړ شو نو توله تانبه ئې هغې په مینځ کښې منجمده شوه او کلک دیوال جوړ شو- تاریخ والو لیکلی دی چه د کاکیشیا نزدې په دره داریال کښې یو زوړ دیوال دے او هغې ته سد حدیدی وئیلے کیږی ابن جریر د بعضو بادشاهانو واقعات ذکر کړی دی چه هغوی د دې په تفتیش کښې کسان لیږلی وُو

أَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ

چه را اوخیژی په هغې (دیوال) او نه طاقت لری دَ هغې

نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ

دَ سورې کولو. اُوئیل هغه دا خاص رحمت دے دَ طرف

رَّبِّيْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ

دَ رب زما نه پس هر کله چه راشی وعده دَ رب زما

جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّيْ

اوکرځوی به دا هواره دَ زمکے سره او دا وعده دَ رب زما

حَقًّا ﴿٩٨﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ

یقینی ده. او پرے به ږدو بعضے دَ دوی

او مغوی لیدلے دے. الصَّدَفَيْنِ، صدف سر دَ غرته وئیلے شی.

انفخوا، یعنی اور ورته بل کړئ او ورته دَ پوکو کولو اسباب ئے جوړ کړے وو چه هغے ته بَنځ وئیلے شی.

نارًا، مراد ترینه گالګار دے پشان دَ اور.

٩٧: یا جوج ماجوج په هغے باندے نشو ختلے دَ ډیر اوچتوالی دَ وجے نه او سوراخ هم پکښ نشی کولے چه بهر ترینه راووځی دَ ډیر مضبوطوالی دَ وجے نه.

٩٨: دا دَ صالح انسان قول وی چه هغه دَ دنیا په څیزونو باندے تکبر نه بلکه دَ الله تعالی احسان ئے ګڼړی او دَ هغے دَ فنا کیدلو عقیده لری او په قیامت باندے ایمان لری. په خلاف دَ هغه کافر چه په دے سورت کښ دَ رجلینو قصه کښ ذکر وو چه دَ ذوالقرنین په نسبت سره لږ مالدار وو لیکن په خپلے مالدارئ ئے تکبر کوو او دَ فنا او دَ قیامت نه ئے انکار کوو.

## يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ

پہ ﻏﻪ ورځ چه چپې به وهي (ور ننوځي به) په بعضو کښې

## وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ

او پوکے به او کړیشي په شپیلئ کښې نو را جمع به کړو دوی

## جَمْعًا ﴿۹۹﴾ وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ

په جمع کولو سره۔ او ښکاره به کړو جهنم

## يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ عَرْضًا ﴿۱۰۰﴾

په ﻏﻪ ورځ کافرانو ته ښه ښکاره۔

سوال :۔ دَ حدیث صحیح مضمون دا دے چه دَ یاجوج ماجوج په هغه دیوال کښې دَ دوو کوتو دَ مینځ په مقدار سورے کړے شوے دے۔ او په قرآن کریم کښې ذکر دی چه (وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا)؟ نو جواب دا دے چه په هغه حدیث دَ بخاری کښې لفظ دَ فتح (په مجهول صیغه سره دے) نو هغه الله تعالیٰ کولاؤ کړے دے یاجوج ماجوج نه دے سورے کړے۔ او کله چه قیامت نزدے شی نو الله تعالیٰ به دیوال پاتے دوی له قدرت ورکړی او هغه به دَ زمکے سره هموار کړی او دوی به دا فساد دَ عالم دَ پاره بهر را اوځی لکه چه ورپسے آیت کښې دینه اشاره ده۔

۹۹ :۔ بَعْضَهُمْ، نه مراد یاجوج ماجوج دی هر کله چه دوی دَ دیوال نه آزاد کړے شی او دا رنګ په سورة انبیاء ۹۶ کښې هم دی۔ او دویم قول دا دے چه مراد ترینه عام انسانان دی چه حیران او پریشان به وی او شر او فساد به کوی بیا به قیامت قائم شی۔

۱۰۰ :۔ دَ دخول دَ جهنم نه وړاندے ښکاره کول سبب دَ سخت والی دَ عذاب دے۔

الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ

دا هغه کسان دی چه وے سترګے دَ دوی په پرده کښ

عَنْ ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ

دَ ذکر زمانه او وؤ دوی چه وس ئے نه لرلو

١١ ع ١٩ ٢ سَمْعًا ﴿١٠١﴾ أَفَحَسِبَ الَّذِينَ كَفَرُوا

دَ اوریدلو دَ حق - آیا ګمان کوی کافران

أَنْ يَتَّخِذُوا عِبَادِي مِنْ دُونِي

چه اونیسی بندګان زما سِوا زمانه

أَوْلِيَاءَ ۚ إِنَّا أَعْتَدْنَا جَهَنَّمَ

مددګاران ، یقینًا تیار کړیدے مونږ جهنم

لِلْكَافِرِينَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ

کافرانو لره تیاره میلمستیا - اُو ایه آیا خبر درکړم تاسو ته

سا ١٠١ :- په دے آیت کښ سبب دَ عذاب ذکر دے چه هغه دا دے چه دَ ضد او دَ تعصب دَ وجے نه دَ دوی سترګے دَ حق دَ دلیلونو نه ړندے وے او غوږونه دَ دوی دَ حق دَ اوریدلو نه کاڼړه وؤ - لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا ، ئے ځکه او فرمائیلو چه په دوی باندے حق خبره اوریدل داسے بوج وؤ چه دَ هغے دَ پورته کولو طاقت ئے نه لرلو.

سا ١٠٢ :- خلاصه :- دَ دے ځائے نه تر آخر دَ سورت پورے خاتمه ده - په یکښ زجر او تخویف شدید دے مشرکین بالعباد لره چه په سبب دَ تیر شوے شبها تو دوی دَ الله تعالیٰ سره شریکان جوړ وی هغه عباد فقیران (اصحاب کهف) دی او پیغمبران (موسیٰ او خضر علیهما السلام) دی او بادشاهان دی (لکه ذوالقرنین) دَ سا ١٠٢ نه تر سا ١٠٦ پورے - او بشارت دے توحید

بارُ ۱ اَخۡسَرِیۡنَ اَعۡمَالًا ﴿۱۰۳﴾ اَلَّذِیۡنَ

په باره د تاوانی عمل والا - دا هغه کسان دی

ضَلَّ سَعۡیُہُمۡ فِی الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا

چه برباد دے عمل د دوی په ژوند د دنیا کښ

وَ ہُمۡ یَحۡسَبُوۡنَ اَنَّہُمۡ یُحۡسِنُوۡنَ

او دوی گمان کوی چه یقیناً دوی خائسته

والو ته په ۱۰۸ او ۱۰۸ کښ. بیا رد دے په شرک فی العلم بانده په ۱۰۹ کښ بیا اختتام د سورت دے په ذکر د ارسال الرسول او د توحید سره ۱۱۰ کښ ربط. هرکله چه شبهات د مشرکینو تفصیلاً دفع کړے شول چه بندگان او جنات قدرت او تصرف د الوهیت نه لری او علم د غیب نه لری نو اوس پدے آیتونو کښ تفریع ده په رد د شرک فی التصرف اولاً او بیا رد د شرک فی العلم سره.

تفسیر :- او په دے آیت کښ لفظ د عبادی صریح دے چه ډیر مشرکانو د الله تعالیٰ سره بندگان شریک جوړ کړی دی او پدے آیت کښ پداسے خلقو د کفر حکم دوه کرته کړے شوے دے.

اَوۡلِیَآءَ، نه مراد واکدار او اختیار مند د نفع او ضرر دی یا مراد د دینه معبودان دی.

نُزُلًا، دا ئے په طریقه د تهکم سره وئیلی دی.

۱۰۳، ۱۰۴ :- په دے آیتونو کښ رد دے په هغه خلقو چه اعمال د شرک او د بدعاتو کوی او دعوی دا کوی چه دا نیک اعمال دی او په هغے کښ ډیر محنت کوی لیکن دغه اعمال د دوی د الله تعالیٰ په نیز برباد دی نو دوی ته تاوان والا وئیلے شوی دی. او پدے آیتونو کښ ټول اهل شرک او ټول مبتدعین داخل دی چه عملونه د شرک او د بدعت سبب د

صُنْعًا ﴿۱۰۴﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

عمل کوی۔ دا هغه خلق دی چه کفر ئے کړے دے

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتْ

په آیاتونو د رب خپل او په ملاقات د هغه نو برباد دی

اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ

عملونه د دوی نو او به نه درووُ د دوی د پاره

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ﴿۱۰۵﴾ ذٰلِكَ

د قیامت په ورځ هیڅ تول۔ دا (چه ذکر شوه)

ثواب او د اجر کمېږی۔

ضَلَّ، مراد د دے ضلال نه بربادی دی ده او سبب د بربادئ په مخکښ آیت کښ ذکر شوے دے چه بزرګان ئے معبودان ګڼړلی دی۔

يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا، دوی وائی داخو د اولیاؤ احترام او عزت دے او دا وسیلے او شفعاء دی او دا محبت دے وغیره نورے بهانے کوی۔

۱۰۵: په دے کښ په دریم کرت سره حکم دے په کفر د دغه کسانو، او اشاره ده چه دا کفر سبب د حبط د عملونو د دوی دے۔

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ، مراد ترینه آیاتونه د توحید دی یعنی د توحید او د قیامت نه انکار کوی۔ دا چه د دوی به څه قدر او عزت نه وی او اجر و ثواب ئے نشته او حدیث صحیح د بخاری کښ دا مضمون ذکر شوے دے چه د قیامت په ورځ به غټ سورب سړے راوستلے شی او د الله تعالیٰ په نیز به د ماشی د وزرو سره هم برابر نه وی۔ دویم قول دا دے چه د دے کافرانو حسنات به نه وزن کیږی د دے وجے نه چه حسنات ئے برباد دی او پیدا دے کښ اشاره شوه چه د بعضے کسانو د پاره میزان به نه وی او بغیر

جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا

سزا دَ دوی ده جهنم په وجه دَ دے چه دوی کفر کړیدے

وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

او نیسی دوی آیاتونه او رسولان زما توقے۔

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

یقیناً هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی دَ سنت برابر

كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ

شته دوی لره جنتونه دَ فردوس

نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ

میلمستیاتیاره۔ همیشه به وی دوی په هغے کښ نه به غواړی دوی

دَ وزن دَ اعمالو نه جهنم ته به داخلیږی۔ لکه دَ مومنانو بعضے کسان به بغیر دَ حساب نه جنت ته داخلیږی۔

۱۰۶ :- په دے کښ ئے دوه اسباب دَ ماقبل دَ پاره ذکر کړل اول کفر او شرک دَ دوی او دویم دَ الله تعالی آیاتونه او دَ رسولانو سنت بے فائدے او عبث ګڼړل۔ او همیشه دَ شرک او دَ بدعاتو سبب هم دا دوه دی چه قرآن او سنت نه استدلال نه کوی۔

۱۰۷، ۱۰۸ :- په دے آیتونو کښ بشارت دے ایمان والو لره۔

لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا، کښ اشاره ده چه په جنت کښ هیڅ تکلیف نشته او نه پکښ هیڅ کمے شته۔ نو دَ دے وجے نه بل ځائے ته تلل نه غواړی او فردوس اعلی او افضل جنت دے او بعضے روایاتو کښ دی چه په دے کښ به دعوت کونکی دَ حق وی لکه اصحاب کهف او موسی علیه السلام

عَنْهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ

دَ هغې نه بدلېدل بل طرف ته. اُو اُوایه که چېرې شي

الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّي

دریابونه سیاهي دَ پاره دَ لیکلو دَ کلمو دَ رب زما

لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ

نو خامخا ختم به شي دریابونه مخکښ دَ ختمېدلو

كَلِمٰتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ

دَ کلماتو دَ رب زما اګرچه راوړو مونږ دَ هغې پشان

مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ

نوره زیاتي سیاهي. اُو اُوایه یقیناً زهٔ بنده یم

وخضر علیه السلام او ذوالقرنین دے ټولو په جدا جدا طریقې سره دعوت کړیدے.

۱۰۹:- په دے کښ رد دے په شرک فی العلم باندے او جواب دَ شبهې دَ مشرکینو دے چه دوئ وائي چه دَ رسول سره علم دَ تورات او دَ انجیل او قرآن وی او په هغې کښ علم دَ الله تعالی دے نو معلومه شوه چه رسول سره کلی علم دے (او دا دے دعوی یهودیانو دَ ځان دَ پاره کړیوه) نو جواب اوشو حاصل دَ جواب دا دے چه دَ الله تعالی دَ علم هیڅ انتها نشته او دَ بندګانو علم منتهی وی؟

کَلِمَاتُ رَبِّيْ، نه مراد جزئیات دَ علم دَ الله تعالی دی او دَ هغه تفصیلي صفتونه دَ الوهیت او حکمتونه دَ کلام دَ هغه دی او دَ هغې هیڅ حد نشته او دا رنګ په سورة لقمان ۲۷ کښ هم دی. او ربط ئې دَ مخکښ سره دا دے لکه چه دَ جنت دَ نعمتونو انتها نشته دا رنګ دَ کلمات الٰهیه انتها هم نشته دے. او هر کله په سورة لقمان کښ دَ لقمان علم او حکمت ذکر وؤ نو وهم داؤ چه دَ هغه علم دَ الله تعالی دَ علم سره برابر کیدیشی نو په

مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ

ستاسو پشان (محتاج) او وحی کیږی ما ته چه یقیناً حقدار د بندګئ ستاسو

إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ

الله یو دے نو څوک چه امید لری

لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا

د پیش کیدلو رب خپل ته نو عمل دے کوی عمل

صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ

د سنت برابر او شریک دے نه جوړوی په بندګئ

رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ﴿١١٠﴾ ع ۱۲ ۲

د رب خپل کښې هیچا لره .

هغه سورت کښې ئے د نفی د تاکید د پاره اووه دریابونه ذکر کړی دی .

۱۱۰ :- په دے آیت کښې اولًا نفی د علم غیب ده د نبی صلی الله علیه وسلم نه چه هغه بشر دے په علم غیب باندے علم نه لری . او اثبات د صدق رسول دے او اختتام دے په مسئله د توحید او رد د شرک فی العبادة سره او دا تفریع ده په کل سورت باندے .

أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ ، معلومه شوه چه خلاصه د وحی صرف توحید دے .

وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا ، هر کله چه په شرک کښې مراتب مختلفه وی یعنی شرک دون شرک و کفر دون کفر ، د دے وجه نه دا آیت د مفسرینو په نیز باندے شرک حقیقی او شرک خفی یعنی (ریا او سمعه) ته شامل دے بلکه عدم اخلاص او طلب د اجرت په عبادت باندے تولو ته شامل

دے ، لکه مفسر آلوسي تصریح کړے ده چه څوک ختم د قرآن د دنیا مقصد د پاره کوی او اجرت پرے اخلی نو ورکوونکے او اخستونکے دواړه ګنهګار دی او دا رنګ ډیرو فقهاؤ پسے باندے تصریح کړے ده۔

او هرکله چه په دے سورة کښ مقصد ردکول په شرک بالعبادة باندے دے د دے وجے نه لفظ د احد ئے ذکر کړے دے چه د روح او عقل والو د پاره استعمالیږی۔

(تمت تفسیر سورة الکهف)

سورۃ مریم مکیۃ | بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | ایاتها ۹۸ ورکوعها ۶

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

کٓھٰیٰعٓصٓ ﴿۱﴾ ذِکۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّکَ

الله تعالیٰ د دے په مراد باندے ښه پوهیږي۔ دا یاداشت د رحمت د رب ستا دے

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## سورۃ مریم

سورۃ مریم او بل نوم ئے سورۃ کٓھٰیٰعٓصٓ دے

ربط :- د دے سورت ربط د سورۃ کهف سره دا دے چه سورۃ کهف کښې جوابونه وو د شبهاتو د مشرکانو په اثبات د عجز د صالحینو نو په دے سورت کښې جوابونه د شبهاتو باقیو دی په اثبات د عبدیت د صالحینو د الله تعالیٰ د پاره، دا رنګ کهف کښې اثبات د توحید د پاره یو قسم نقلی دلیلونه وو نو په دے سورت کښې بل قسم نقلی دلیلونه دی۔

دعوٰی د دے سورت :- د انبیاؤ او ملائکو په باره کښې د شبهاتو جوابونه دی په اثبات د عبدیت د هغوی۔ او ماخذ د دعوی په ۵۸ او ۹۳ آیتونو کښې دے۔ او اثبات د توحید دے په پنځو طریقو سره۔

اوله طریقه اثبات د عبدیت د انبیاؤ او د ملائکو۔ دویمه طریقه رد د اقسامو د شرک یعنی شرک فی العبادت او شرک فی الدعاء او شرک فی التصرف۔ دریمه طریقه رد په شفاعت قهریه باندے۔ څلورمه طریقه رد په اتخاذ الولد د باندے۔ پنځمه طریقه ذکر د اسماء حسنیٰ چه درے دی په حذف د تکرار سره۔

خلاصه د سورت :- په دے سورت کښې درے بابونه دی اول باب تر ۶۳ پورے دے، په دیکښې ذکر د عبدیت د انبیاء علیهم السلام دے، شپږ انبیاء ئے تفصیلاً ذکر

عَبۡدَهٗ زَكَرِيَّا ۝٢ إِذۡ نَادٰى رَبَّهٗ

په بنده خپل باندے چه نوم ئے زکریا علیه السلام وُو ـ کله چه اواز ئے اوکړو رب خپل ته

کړے دی۔ زکریا علیه السلام عیسٰی علیه السلام او مریم علیها السلام او ابراهیم علیه السلام، بیا ذکر دَ عبدیت دَ ټولو انبیاؤ اجمالًا دے په ۵۸ کښ او تخویف اخروی روستو دَ واقعے دَ عیسٰی علیه السلام نه دَ ۳۷ نه تر ۴۰ پورے او په ۵۹ کښ۔ بیا بشارت اخرویه دَ ۶۰ نه تر ۶۳ پورے۔

تفسیر ۱ :- دا حروف مقطعات دی او دَ دے په مقصد باندے الله تعالٰی بنه پوهیږی او لوے حکمت پد یکښ اثبات دَ اعجاز دَ قرآن دے۔ او دَ ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه کاف اشاره ده چه الله تعالٰی کافی دے او هاء اشاره ده چه الله تعالٰی هادی دے او یا اشاره ده چه ید دَ الله تعالٰی غالب دے په ټولو او عین اشاره ده چه الله تعالٰی عالم دے په هر څه او صاد اشاره ده چه الله تعالٰی صادق دے په وعدو خپلو کښ۔

۲ :- دا جواب دے دَ شبهے په باره دَ زکریا علیه السلام کښ شبه دا ده چه دَ هغه په ذمه باندے دَ مریم علیها السلام کفالت کیخودلے وُو او مریم خواله ده نو معلومه شوه چه په زکریا علیه السلام کښ به هم آثار دَ الوهیت وُو۔ او دارنګه پیښ اشن دَعوی چه څوُے دلالت کوی دَ هغه په قدرت او تصرف باندے نو معلومه شوه چه هغه دَ بندګئ حق لری۔ حاصل دَ جواب دا دے چه دے عبد وُو او دلیلونه دَ عبدیت دهغه دا دی چه رحمت دَ رب ته محتاج وُو۔ نداء او دعاء ئے کړیده او هډوکو او سر باندے دَ بوډا والی ښکاره اثر وُو او دَ تر بوراتو نه ئے خوف کوو وارث ته محتاج وُو بیا نخے ته محتاج وُو۔ بوډاوالے بوډا والے پرے راغلے وُو مخلوق وُو ژبه ئے بنده شوے وه نو دے اله نشی کیدے او پدے آیت کښ اشاره ده چه واقعه دَ زکریا

نِدَآءً خَفِيًّا ③ قَالَ رَبِّ إِنِّي

(په عاجزئ) اواز پټ ۔ اُوئیل اے ربه زما یقینًا

وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّي وَاشْتَعَلَ

کمزورے شوی دی هډوکی زما او تک سپین دے

الرَّأْسُ شَيْبًا وَلَمْ أَكُنْ

سر زما دَ بوډاوالی په وجه او نه یم زهٔ

بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا ④ وَإِنِّي

په وجه دَ دعا ستا نه اے رب زما محرومه (بدبخته) او یقینًا زهٔ

خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَآءِي

یرېږم دَ تربورانو روستو زما نه (په دین بانډے)

وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي

او ده ښځه زما شنډه نو راوبخښه ما لره

علیه السلام ذکر او نصیحت دے دَ پاره دَ اثبات دَ توحید او په دې کښې تصریح ده دَ هغه په عبدیت بانډے او دلته لفظ رحمت کښې اشاره ده استجابت دَ دعا ته چه دا دَ الله تعالی رحمت دے الله تعالی مجبور نه دے۔

۳:- په دے آیت کښې عجز او دعاء دَ زکریا علیه السلام ذکر شوے ده او خَفِيًّا، اشاره ده چه ادب په دعا کښې دا دے چه په جهر سره به ئې نه کوے لکه په سورة اعراف آیت ۵۵ کښې تیر شوی دی۔

۴:- په دے آیت کښې دلیل دے په دے خبره چه په دعا کښې توسل کول په ذکر دَ خپل عجز او احتیاج دا رنګ په ذکر دَ نعمتونو الله تعالی سره سنت دَ انبیاؤ دے۔

اَلْعَظْمُ، ئې ځکه ذکر کړو چه دَ هډوکو په کمزور کیدلو

مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ﴿٥﴾ يَّرِثُنِيْ

دَ خپل طرف نه وارث دَ دین۔ چه وارث شي دَ دین زما

وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ

او وارث دَ دین دَ اولاد دَ یعقوب علیه السلام ، او او کرځوې دے

رَبِّ رَضِيًّا ﴿٦﴾ يٰزَكَرِيَّآ اِنَّا

اے ربه غوره شوے۔ اے زکریا یقیناً مونږ

سره تول بدان کمزورے شي۔
وَلَمْ اَكُنْ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ، مراد ئے دا دے چه تا زهٔ عادت کړے یم په اجابت باندے ځکه چه ما کله دعاء غوختے ده نو تا زهٔ نا امیده نه یم واپس کړے او دا هم بهتره وسیله ده۔
شَقِيًّا ، دَ شقاوت نه دے په معنی دَ بد بخته او محروم۔
وَاشْتَعَلَ ، کښ اشاره ده چه تول ویخته دَ سر ئے سپین شوے وو۔
ف :۔ په دے کښ هم توسل دے په ذکر دَ احتیاج خپل او په اوله جمله کښ ذکر دَ سبب دے دَ پاره دَ طلب دَ ځوے یعنی خپلوان او تربوران دَ دے قابل نه وو چه پس دَ مرګ دَ دهٔ نه دین سنبال کړی نو ځکه ولد پکار دے۔
وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا ، په دے کښ اشاره ده چه اسباب ظاهر دَ ولد نشته۔ او من لدنك هم په دے باندے دلالت کوی چه ظاهری سبب نشته۔
ف :۔ دلته مراد دَ میراث نه وراثت دَ دین دے او آل یعقوب کښ هم دیته اشاره ده چه دا دین میراث دے دَ ټولو انبیاؤ دَ بنی اسرائیلو او مراد دَ میراث نه میراث مالی نه دے ځکه چه انبیاء علیهم السلام نه مال میراث کښ نه پاتے کیږی بلکه دَ هغوی نه علم دَ دین پاتے کیږی لکه چه په حدیث صحیح کښ دی۔

نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ اسْمُهٗ يَحْيٰى

زیرے درکوؤ تا ته په هلک سره چه نوم د هغه يحيىٰ دے

لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ

نه دے گرځولے مونږ دهٔ لره د دے نه مخکښې

سَمِيًّا ﴿٧﴾ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ

همنامے . ده اُوئیل اے ربه په څه طريقه سره به

لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا

زما هلک وي او دهٔ ښځه زما شنډه شوے

وَّقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ﴿٨﴾

او يقينًا رسيدلے يم زهٔ د بوډاوالي نه آخري حد ته .

رَضِيًّا، غوره کړے شوے د دين د پاره چه دعوت او تبليغ د دين به کوي .

٧ :- يعني دُعاء د زکريا عليه السلام قبوله شوه او په بشارت کښې درے امور ذکر دي اول بشارت د ولد دويم تسميه د الله تعالىٰ د طرف نه په يحيىٰ عليه السلام سره او دريم پدے قول کښې چه لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا، د دے دوه معنے دي. اوله معنىٰ دا ده چه نوم د يحيىٰ عليه السلام د ده نه مخکښې د بل چا نه وؤ او دويمه معنى دا ده چه د الله تعالىٰ د طرف نه دا سے نوم بل چا له نه وؤ کيخودے شوے.

سَمِيًّا، هغه څوک چه په نوم يا صفت کښې د بل سره شريک وي دلته اوله معنىٰ مراد ده .

٨ :- پس يکښې مقصد د زکريا عليه السلام انکار کول نه دي بلکه طلب کول دي د طريقے د ولادت لکه چه تير

قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ

اُوئیل دغه شان وئیلی دی ستا رب چه دا کار

عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ

په ما باندے آسان دے او یقینًا ما پیدا کړے وے ته

قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْـًٔا ﴿٩﴾ قَالَ

پخوا او نه وے ته هیڅ څیز اُوئیل ده

رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ۭ قَالَ

اے ربه زما اوګرځوه ما لره نخښه ، اُوئیل الله تعالیٰ

اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ

نخښه ستا دا ده چه خبرے به نه شے کولے خلقو سره درے

لَيَالٍ سَوِيًّا ﴿١٠﴾ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ

شپے او حال دا چه روغ یه یئے۔ نو راُوتلو (ښکاره شو) قوم ته

شوی دے په تفسیر د سورة آل عمران کښی پدے سورت کښی پوره تفصیل مقصد دے د دے وجے نه اول مانع د ولادت ئے ذکر کړو چه شنړوالے د ښځے دے او په سورة آل عمران کښی برعکس ذکر کړے دے یعنی اول ئے د خپل ځان ذکر کړے دے۔

۹:۔ كَذٰلِكَ ، کښی اشاره ده چه ته او ستا بی بی په حالت د بوډا والی کښی به ئے لیکن الله تعالیٰ به اولاد درته پیدا کړی۔

وَقَدْ خَلَقْتُكَ ، پدے کښی اشاره ده چه پیدا کول د یحیٰی علیه السلام قیاس دے۔ په پیدا کولو د زکریا علیه السلام روستو د نیشتوالی نه ۔ شَيْـًٔا ، یعنی داسے څیز چه یاد شی په خاص نوم سره۔ او داسے د ټولو انسانانو باره کښی په سورة دهر ۱ کښی دی۔

۱۰:۔ پدے کښی طلب کول د زکریا علیه السلام دے خاص نخښے لره

مِنَ الۡمِحۡرَابِ فَاَوۡحٰۤی اِلَیۡهِمۡ

دَ عبادت خانې نه نو په اشارے سره ئې اُوئیل دوی ته

اَنۡ سَبِّحُوۡا بُکۡرَةً وَّعَشِیًّا ⑪

چه تسبیح وائئ صباني او بیګاني

یٰیَحۡیٰی خُذِ الۡکِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ

(او وئیل مونږ) اے یحیٰی اونیسه کتاب په کلکه سره ،

دَ پاره دَ ولادت دَ اولاد ، او دا دَ دے دَ پاره چه دَ ولادت نه مخکښ شکر ډیر ادا کړی۔
اَلَّا تُکَلِّمَ النَّاسَ ، په دے کښ دوه توجیه دی اول دا چه ستا ژبه به بنده شي نو په اشاره به خبرے کوے دویم دا چه ته به منع کړے شے دَ خبرو نه او دا هم روژه وه په دین دَ هغوی کښ که دَ شپے وی یا دَ ورځے ۔ په سورة آل عمران ۱۱ آیت کښ ایام لفظ ذکر وو ۔ اشاره وه چه شپه او ورځ دواړه دی او سورة مریم مخکښ نازل شوے دے دَ سورة آلعمران نه نو دلته ئې اول وخت ذکر کړو چه شپه ده ځکه شپه په ورځ باندے مخکښ ده او دَ ورځے اشاره بنکاره کیږی او دَ شپے نه بنکاری دَ دے وجے ئې هلته دَ ورځو سره (الا رمزا)، ذکر کړے دے۔
۱۱ :- مراد دا دے چه زکریا علیه السلام دَ کلام کولو نه ژبه بنده کړه نو بیا دعوت دَ دین ئې په اشارو سره کولو۔
اَلۡمِحۡرَابِ ، مراد دَ دینه هغه اوچت مکان دے چه مختص وو په امام پورے په دین دَ بنی اسرائیلو کښ او دیته محراب ځکه وائی چه پد یکښ محاربه کیږی دَ شیطان او دَ شهواتو سره ۔ دا محراب زمونږ دَ زمانے مراد نه دے۔
بُکۡرَةً وَّعَشِیًّا ، کښ هر وخت مراد دے لیکن دا دوه وختونه ډیر افضل دی دَ دے وجے نه تخصیص ئې اوکړو۔

وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿۱۲﴾

او ورکړے وه مونږ دهٔ ته پوهه د دین په وړوکوالی کښ.

وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً ؕ

او ترس کول (په خلقو باندے) زمونږ د طرف نه او پاکوالے.

وَكَانَ تَقِيًّا ﴿۱۳﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَيْهِ

او دے وو تقوی دار. او احسان کوونکی د مور او پلار

وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿۱۴﴾

او دے نه وو زیاتے کوونکے (په خلقو) او نافرمان (د الله تعالیٰ).

وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ

او سلامتیا ده د الله تعالیٰ د طرفنه په ده باندے په کومه ورځ چه پیدا شو او په کومه ورځ

۱۲:۔ په کلام کښ حذف دے د پاره د اختصار یعنی یحییٰ علیه السلام پیدا شو او لوے شو نو دا خطاب ورته اوشو.

الْكِتٰبَ، نه مراد تورات دے او مراد د دے دا دے چه کوشش اوکړه د تورات په رسولو کښ او بیا د یحییٰ علیه السلام لس صفات ذکر کړے شوی دی.

اول دا وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا، الحکم نه مراد د دین پوهه ده او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چا چه قرآن اولوسته مخکښ د بلوغ نه نو هغه په دے صفت کښ داخل شو او یو روایت کښ راغلی دی چه یحییٰ علیه السلام ته یو ځلے هلکانو اُوئیل راځه چه لوبے کوو نو هغه جواب ورکړو چه مونږ د لوبو د پاره نه یو پیدا کړے شوی.

۱۳، ۱۴، ۱۵:۔ په دے آیتونو کښ باقی نهه صفات ذکر کړے شوی دی.

وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ، مراد د سلام نه سلام دے د الله تعالیٰ او سلامتیا ورکول دی او د دے دریو حالاتو ذکر ځکه اوکړو

يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾

چه مر کیږي او په کومه ورځ چه دوباره به ژوندی کیږي ۔

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ

او بیان کړه (د نصیحت په طور) په کتاب الله کښې واقعات د مریم کله چه

انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا

په ډډه شوه د کورنۍ خپلې نه یو مکان

شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾ فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ

د نمر خاته طرف ته ۔ نو جوړه یې کړه د دوی نه د بچ کیدلو د پاره

چه انسان په دے دریو حالاتو کښې ډیر ضعیف او محتاج وی الله تعالیٰ ته او دا صفتونه ټول دلالت کوی په عبدیت د یحییٰ علیه السلام باندے ۔

١٦ :- دا واقعه د مریم او د عیسیٰ علیهما السلام ده د پاره د جواب د شبهے د مشرکینو او نصاراؤ شبه دا ده چه د مریم او د عیسیٰ علیهم السلام نه ډیره عجیبه او نا آشنا امور ښکاره شوی دی معلومیږی چه دوی متصرف او حاجت روا دی او د دے وجے نه نصاراؤ مریم او عیسیٰ علیهما السلام ته اله وئیلے دی او مشرکین مکه هم په خپلو بعضو معبودانو کښې د مریم شکل جوړ کړے وو ۔

حاصل د جواب دا دے چه مریم کښې عجز او عبدیت وو، پناه هم په رحمان سره طلب کوی، جبرائیل نه پیژنی، مخاض پرے راغلے دے، تمنا د موت یې کړے ده، نذر یې د رحمان د پاره کړے دے دا ټول دلیلونه دی د عجز د هغے، او عیسیٰ علیه السلام وئیلی دی انی عبد الله، او نبی یم، مبارک یم، او عبادا تو سره مامور یم او سلامتیا کښې الله تعالیٰ ته محتاج یم او وئیلے دی ۔

حِجَابًا ۚ فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا

پرده نو اولیږلو مونږ هغې ته روح د خپل طرف نه (جبرائیل)

فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ﴿۱۷﴾

جوړ یې کړو هغې ته شکل د بنده برابر۔

قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ

هغې اُوئیل یقیناً زهٔ پناه مې غواړم په رحمٰن سره ستا نه

وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ، دا ټول دلیلونه دي د عبدیت او د عجز د عیسیٰ علیه السلام نو هغوی متصرف او حاجت روا نشي کیدے ،

وَاذْكُرْ ، نه مراد بیان د واقعے د مریم علیها السلام دے د پاره د تذکیر د توحید ، او انتباذ مکانِ شرقي ته د پاره د عبادت کولو وو۔ او د مکان شرقي تخصیص د وجه د افضلیت نه نهٔ وو دا اتفاقي وو لیکن نصاریٰ په بدعت کښ اخته شول او دا مکان شرقي یې چه مولد د عیسیٰ علیه السلام دے د دینه یې قبله جوړه کړه۔

۱۷:۔ زنانه باندے حجاب فرض دے ، د دے وجه نه هغې حجاب ځان ته جوړ کړو۔

رُوحَنَا ، د دینه مراد جبرائیل علیه السلام دے۔

فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ، دلیل دے چه ملائکو ته الله تعالیٰ دا قوت ورکړیدے چه د انسان په شکل سره متشکل کیږي او جبرائیل د بشر په شکل کښ ځکه راغلو چه بغیر د تمثیل نه د انسان په نظر کښ راتللے نه شي۔ دلته چه چا د روح نه مراد روح د عیسیٰ علیه السلام اخستے او هغه د بشر په شکل پیدا کیدل یې مراد کړي دي نو دا قول صحیح نه دے ابن کثیر هغې ته غریب او منکر او اسرائیلي روایت وئیلے دے۔

إِنۡ كُنۡتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا

که نه یې تقوی دار (نو په ډډه شه) - اوویل هغه یقیناً زه

رَسُوۡلُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلٰمًا

رالیږلے شوے یم ستا د رب د طرف نه (هغه وائي) چه او بخښم تا ته څوے

زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتۡ أَنّٰى يَكُوۡنُ لِي

پاک - هغې اوویل څنګه به وی زما د پاره

غُلٰمٌ وَّلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٌ

څوے او نه دے لګولے لاس زما سره هیڅ بنده

وَّلَمۡ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذٰلِكِ

او نه یم زه بدکاره - اوویل هغه دغسې (رلګه چه دے اوویل)

ف١٨ :- معلومه شوه چه مریم په غیب نه پوهیدله نو جبرائیل یې او نه پیژندلو، او دا رنګ په تعوذ کښې الله تعالی ته محتاج وه -

إِنۡ كُنۡتَ تَقِيًّا، د دې جزاء حذف ده معنی دا ده که ته د الله تعالی نه یریږے نو زما نه په ډډه شه یا تقیا په معنی د عقلمند دے -

الرَّحۡمٰن، صفت د دوی په نیز مشهور وو -

ف١٩ :- لفظ د رسول دلیل دے چه لِأَهَبَ، کلام د الله تعالی دے ځکه چه رسول کلام د مرسل ذکر کوی د دې وجې نه چه هبه کوونکے د اولاد الله تعالی دے، جبرائیل نه دے او په یکښې لِيَهَبَ قراءت په صیغه د غائب سره هم ثابت دے -

ف٢٠ :- دا قول د دې په طور د تعجب سره دے او وجه د تعجب یې روستو ذکر کړیده یا طلب د کیفیت دے - او دا تعجب په اعتبار د عادت سره دے -

قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ ۚ

وئیلی دی ستا رب دا کار په ما باندې آسان دے

وَلِنَجْعَلَهُۥٓ ءَايَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً

او چو روڅ مونږ دے هلک لره نخه دَ قدرت دَپاره دَ خلقو او رحمت

مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾

زمونږ دَ طرف نه او دے دا کار فیصله کړے شوے.

فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا

نو په خیټه کښې واخست دا بچے نو په ده شوه په سبب دَ دغه حمل دا سے ځاے ته

قَصِيًّا ﴿٢٢﴾ فَأَجَآءَهَا ٱلْمَخَاضُ

چه لرے وو دَ خلقو نه. نو مجبوره کړه هغې لره درد دَ پیدائش

إِلَىٰ جِذْعِ ٱلنَّخْلَةِ قَالَتْ

ډډه وهلو تنے دَ کجورے ته او وئیل هغې

۲۱ :- كَذَٰلِكِ، کښې اشاره ده څنګه چه اوس ئے پیدا اسے حال کښې به ستا نه ولادت کیږی. یعنی بغیر دَ دینه چه تا ته څوک نبز دے شی.

وَلِنَجْعَلَهُۥٓ، دَ دے نه مخکښې نخلقه، لفظ مقدر دے.

رَحْمَةً، مراد دَ دینه نبوت والا دَپاره دَ بیان دَ توحید دے.

وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا، کلام دَ جبرائیل دے مریم ته په اخبار دَ الله تعالی دے نبی صلی الله علیه وسلم ته.

۲۲ :- فَحَمَلَتْهُ، نفخ د روح جبرائیل علیه السلام اوکړو لکه سورة انبیاء ۹۱ او سورة تحریم ۱۲ کښې ذکر شوے دی. او بیا پیدا ئے وجه چه قوم به ملامتیا راکوی لرے ځاے ته لاړه.

يٰلَيْتَنِىْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ

هائے ارمان دے چه مړه وے زه وړاندے د دینه او وے زه

نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿۲۳﴾ فَنَادٰىهَا مِنْ

هیره تیره . نو آواز ورکړو دیته (مغه رسول) د

تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِىْ قَدْ جَعَلَ

کوز ځائے نه چه مه خفه کیږه یقینًا پیدا کړے دے

رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿۲۴﴾ وَهُزِّىْٓ

ستا رب کوز ځائے کښې ستا نه رواني چینه . او خوځوه

۲۳:- دا دلیل دے چه په نفخ پسے زر حمل ښکاره شو او په حمل پسے سمدستی ولادت شوے دے . اول قول دا دے چه حمل نهه میاشتے په کیږه باندے وو پشان د عام عادت د زنانو .

جِذْعِ النَّخْلَةِ ، او دا په بیت اللحم مقام کښې ده د بیت المقدس نه اته میله لرې او دا مشهور قول دے .

يٰلَيْتَنِىْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا ، شبهه دا ده چه تمنا د موت منع ده نو مریم علیها السلام ولے دا تمنا کړے ده .

اول جواب دا دے چه دا اویریده چه زما په دین باندے طعن لږی او دا فتنه ده او د خوف د دینی فتنے په وجه تمنا د موت جائز ده .

دویم جواب دا دے چه دا اویریده چه زما په وجه سره به قوم په بهتان او په گناه کښې اخته شی نو پدے لحاظ سره تمنا د موت جائز ده .

۲۴:- فَنَادٰىهَا ، اول قول دا دے چه فاعل جبرائیل علیه السلام دے چه د مریم علیه السلام نه ښکته بل مکان ته منتقل شوی وو او دویم قول دا دے چه عیسیٰ علیه السلام پیدا شو نو

إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ

ته ځان ته تنه دکجورے را غورځوي به

عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾ فَكُلِي

په تا باندے کجورے تازه (رانهولے شوے) ۔ نو خوره

وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ۚ فَإِمَّا

او څکه او یخے لره سترگے نو که

تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا ۙ

اوویني لو تا د بنده گانو نه څوک

فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ

نو اُوایه چه یقینا ما منخته کړیده د رحمان دپاره

صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿۲۶﴾

روژه (چپوالے) نو خبرے نه کوؤم نن د هیڅ انسان سره ۔

هغه دا آواز مورته ورکړو اول قول غوره دے ۔ اودا آواز او د دینه مخکښ مخاطبه د جبرائیل علیه السلام د مریم علیها السلام سره دا کرامات د مریم علیها السلام دی خو د هغے په اختیار کښ نه وو ۔ سَرِيًّا، سری په معنیٰ د نهر د اوبو دے یعنی روانے اوبه روستو وَاشْرَبِي، پیسے دلیل دے یا مراد د دینه سردار دے یعنی عیسیٰ علیه السلام. اول قول غوره دے.

سـ ۲۵ :۔ دا هم کرامات د مریم علیها السلام دی چه د اوچے تنے د کجورے نه تازه میوے را پریوځی ۔ وَهُزِّي، کښ اشاره ده چه د رزق دپاره ضرور څه حرکت او کسب پکار دے او ورکوی ئے الله تعالیٰ او عمرو بن میمون نه نقل دی چه تازه کجورے د زنانه دپاره په وخت د پیدائش د. بچی کښ ډیر بهتر څیز دے ۔

سـ ۲۶ :۔ اشاره ده چه د نفاس په حال کښ رطب او اوبه استعمالول مفید دی د زنانو دپاره او د قوم د طعن نه د بچ کیدلو

فَأَتَتْ بِهِۦ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُۥ ۖ قَالُوا

نو راوړو هغې بچی قوم خپل ته په غیږ کښې را اوچت کړی وو، هغوی اوئیل

يَٰمَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا

اے مریم یقینًا تا را اتلل او کړل را او دِ کړلو په کار

فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ

ډیر نا اشنا سره. اے خور دَ هارون نه وو

أَبُوكِ ٱمْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ

ستا پلار سړے ناکاره او نه وه

دَ پاره ئې ورته طریقه اوخودله۔
فَقُولِیٓ، نه مراد په اشاره سره وئیل دی۔ صَوْمًا، نه مراد صمت (چپولے) دے او صمت په شریعت دَ هغوی کښې عبادت وو دَ دے وجے نه په نذر سره لازمیږی۔ او زمونږ ملت کښې دا منسوخ دے لکه په حدیث دَ ابو اسرائیل کښې ثابت دی۔ هاں زمونږ ملت کښې په روژه کښې دَ کلام قبیح ترک لازم دے او په دے آیت کښې دلیل دے چه نذر په الله تعالیٰ پورے خاص دے او دا دَ صالحینو عمل دے۔
۲۷:۔ هر کله چه دَ دے تسلی اوشوه نو عیسیٰ علیه السلام ئې په غیږ کښې را اوچت کړو او قوم ته راغله نو هغوی پرے اول انکار اوکړو۔
فَرِيًّا، فری په اصل کښې دَ هغه ځان نه جوړولو ته وئیلے شی دلته مراد داسے کار دے چه نا اشنا دے مثال ئې نشته او ډیر ناکاره دے۔

أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۖ

ستا مور بدکاره. نو هغې اشاره اوکړه ېچې طرف ته،

قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ

نو مغوی اوئیل څنګه خبرې اوکړو مونږ هغه چا سره چه دے

فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ إِنِّي

په غیږ کښ وړوکے بچے. اوئیل ېچې یقینًا زه

عَبْدُ اللَّهِ ۖ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي

دَ الله تعالیٰ بنده یم، راکوی به ماته کتاب او جوړوی به ما

ف۲۸:- په دے کښ په هغې باندے دَ طعن کولو تاکید ئے اوکړو چه تا په دے عمل صرف ځان نه بلکه مور او پلار هم اوشرمول.

يَا أُخْتَ هَارُونَ، دَ حدیث دَ مسلم نه په روایت دَ مغیره بن شعبه رضی الله عنه سره معلومیږی چه دا هارون په دغه زمانه کښ یو نیک سړے وو نو دوی دَ مریم علیها السلام تشبیه په صلاحیت کښ دَ هغه سره ورکړه. او بل قول دا دے چه مریم علیها السلام دَ هارون علیه السلام په اولاد کښ وه او دَ اخ او اخت اطلاق په نسل باندے هم کیږی او څوک چه داسے وائی چه مریم دَ هارون علیه السلام خور وه نو په هغې باندے ابن کثیر سخت رد کړے دے.

ف۲۹:- معلومه شوه چه مریم علیها السلام نذر کړے وو نو خبرے ئے نه کولے او په اشاره سره ئے هغوی پوهه کړل.

كَانَ، په معنی دَ یکون سره دے یا صرف دَ وجود او دَ حدوث دَ پاره دے.

نَبِيًّا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ

پیغمبر ۔ او جوړوي یه ما فائده مند هر چاے

مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ

چه یم زه او حکم یه کوي ما ته د مانځه

وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾

او د زکوٰت ترڅو پورے زه یم ژوندے ۔

ف۳۰:۔ دوی اګرچه عیسیٰ علیه السلام سره خبرے نه کولے لیکن الله تعالیٰ هغه لره ګویا کړو او خپل لس حالات یې ذکر کړي دي چه هغه ټول د هغه په عجز او په عبدیت باندے دلالت کوي او په دے ټولو صفتونو کښ رد دے په یهودیانو او په نصارا ؤ دواړو باندے چه چا د هغه په باره کښ تفریط کړیدے او چا افراط کړے دے او د فعل ماضي صیغے په معنیٰ د مستقبل سره دي لیکن ماضي یې د تیقن د پاره ذکر کړیده ۔

ف۳۱:۔ په دے کښ د هغه نور حالات د عبدیت ذکر کړے شوي دي ۔

مُبَارَكًا ، برکت په انسان کښ دا دے چه د الله تعالیٰ د طرفنه خیر ته دعوت ورکوي نو مراد د دینه معلم د خیر دے ۔

مَا دُمْتُ حَيًّا ، دا دلیل دے چه په موت سره تکالیف د عباداتو قطع شي او مرده عبادات نشي کولے ۔

زَكٰوة ، نه مراد د عقیدے او د اعمالو او اخلاقو دے چه هغے ته تزکیه د نفس ویلے شي یا زکوٰة مالي مراد دے او هغه مشروط دے په شرط د مال سره ضرورت ۔

وَّبَرًّا بِوَالِدَتِیْ وَلَمْ یَجْعَلْنِیْ جَبَّارًا

اونیکی کوونکے د مور سره ۔ او نه دے گرځولے ما الله زیاتے کوونکے په خلقو بانداے

شَقِیًّا ﴿۳۲﴾ وَالسَّلٰمُ عَلَیَّ یَوْمَ وُلِدْتُّ وَیَوْمَ

او بدبخت ۔ او سلامتیا ده د طرف د الله تعالیٰ نه په ما باندے په هغه ورځ چه پیدا کړے شوم او په

اَمُوْتُ وَیَوْمَ اُبْعَثُ حَیًّا ﴿۳۳﴾ ذٰلِكَ عِیْسَی

چه مړ کیږم او په هغه ورځ چه دوباره ژوندے کیږم ۔ دا عیسیٰ

ابْنُ مَرْیَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِیْ

بن مریم دے وایم زهٔ وینا حقه هغه

۳۲ :- په دے آیت کښ د هغه نور دوه صفات د عبدیت ذکر کړی دی۔
جَبَّارًا ، هغه څوک دے چه د تکبر د وجے نه په ځان باندے د بل چا حق نه مني۔
شَقِیًّا ، هغه دے چه د خباثت د نفس د وجے نه د الله تعالیٰ حکم پریږدی ، د یحییٰ علیه السلام په باره کښ عصیًا ذکر شوے وو۔ ځکه چه د هغه باره کښ بدنامی نه وه نو صرف عصمت د هغه ذکر شو او د عیسیٰ علیه السلام په باره کښ لیے شقیًا ذکر کړو په دے کښ رد دے په هغه طعنونو چه یهودیانو په هغه باندے کول۔
۳۳ :- د اسلام اگرچه د ده په خلے سره وئیلے شوے دے لیکن د الله تعالیٰ د طرف نه دے په حقیقت کښ۔ او په دے کښ د عیسیٰ علیه السلام درے حالات د عجز ذکر شول چه الله تعالیٰ ته محتاج دے په سلامتیا کښ۔
او وَالسَّلٰمُ ، کښ الف لام ئے عهدی د دے وجے نه راوړو چه اشاره اوشی په دے سره سلام د یحییٰ علیه السلام ته یعنی هغه سلام په ما باندے هم دے۔ یا دا دلیل دے په

فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ

پکښې شک کوي - نه ده مناسب الله تعالی لره

اَنْ يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ سُبْحٰنَهٗ ط

چه اونیسي هیڅ بچے پاک دے الله تعالی د دینه

اِذَا قَضٰى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ

هر کله چه اوغواړي څه کار نو یقینًا اووائي هغې ته

كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٣٥﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ

اوشه نو هغه اوشي - او (اووئیل عیسی) یقینًا الله تعالی رب زما

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ط هٰذَا صِرَاطٌ

او رب ستاسو دے نو بندګي کوئ خاص هغه لره دا لار ده

مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٣٦﴾ فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ

نیغه - بیا اختلاف اوکړو ډلو (ضد یانو)

فضیلت د عیسی علیه السلام په یحیی علیه السلام باندے څکه چه معرفه افضل ده د نکرے نه۔

٣٤، ٣٥: دا آیتونه په طریقه د جملے معترضے سره دي۔ تفریع او نتیجه ده د کلام د عیسی علیه السلام او رد دے په نصاراؤ مشرکانو باندے او په یهودیانو باندے۔

او قَوْلَ الْحَقِّ، نه مخکښې اقول لفظ محذوف دے او په ٣٥ کښې صریح رد دے په نصارٰی باندے چه عقیده د اتخاذ الولد لرې رد په دوه طریقو سره دے۔ یو سُبْحٰنَهٗ، او دویم اِذَا قَضٰى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ، په اول کښې تنزیه ذاتي ده او په دویم کښې عدام احتیاج د هغه دے۔

٣٦: دا هم قول د عیسی علیه السلام دے - او قال په یکښې مقدر دے لیکن دا ئے د مخکښو اقوالو نه جدا ذکر کړو

مِنْ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په کوړنی کښ (په باره دَ عیسیٰ کښ) نو تباهي ده کافرانو لره

مِنْ مَّشْهَدِ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۳۷﴾ اَسْمِعْ

دَ حاضرے دَ ورځے لوئے ته . ښه آوری به

بِهِمْ وَاَبْصِرْ ۙ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا

دوی او وینی به هغه ورځ چه پیش به شی مونږ ته

لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ

لیکن ظالمان نن په گمراهئ

اشاره ده چه دا قول دَ هغه په حال دَ وهوکوالے کښ نه وؤ او دا سے په سورة العمران ۵۱ او سورة زخرف ۶۴ کښ هم دی او په یکښ رد دَ شرک فی الربوبیه او شرک فی العبودیت او رد دے په نصاراؤ باندے .

۳۷ :- مختلف اقوال په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ دا وؤ چه یهودیانو وئیل چه دا ولد الزنا دے او دَ نصاراؤ نه یعقوبیو وئیل چه دا الله دے او په صورت دَ عیسیٰ علیه السلام کښ دے او نسطوریه وئیل چه دے ابن الله دے او ملکانیه وئیل چه دے ثالث ثلاثه دے ، او مسلمانانو وئیل چه دے عبد الله وؤ او رسول دے . او په دے آیت کښ تخویف اخروی دے دَ منکرینو دلو ته .

مِنْ مَّشْهَدِ ، اشاره ده چه دَ دوی هلاکت به په هغه ورځ یقینی وی چه ورځ دَ قیامت حاضره شی . مشهد دَ مصدر میمی دے په معنی دَ حضور دے یا اسم ظرف دے او اضافت ئے یوم ته اضافت بیانیه دے او قیامت ته مشهد وئیلے شی دَ دے وجے نه چه وخت دَ شهادتونو دے .

مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ

ښکاره کښې دي. او ويره ورکړه دوی لره د ورځ د افسوس نه

اِذْ قُضِيَ الْاَمْرُ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ

کله چه فيصله به اوشي د کارونو او دوی (اوس) په غفلت کښې دي

وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّا نَحْنُ

او دوی ايمان نه لري. يقيناً مونږ

نَرِثُ الْاَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا

آخري مالکان يو د دے زمکے او د هغه چا چه په دے باندے دي

وقف لازم

۳۸ :- په دے آيت کښې اول تخويف دے او بيا زجر دے او مراد د آيت دادے چه په ورځ د قيامت به دوی ښه اوري او ښه به ويني هغه څه چه دوی تر ننه انکار کوی نو د قيامت په ورځ اوريدل او ليدل څه فائده نه ورکوی لکه سورة سجده ۱۲ آيت کښې چه ذکر راځي.

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ، يعنی په دنيا کښې نه اوری او نه وينی حق لره او دا سبب د ګمراهئ دے.

اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ، صيغے د فعل دی دلالت کوی په مبالغه باندے.

۳۹ :- ديکښې هم تخويف اخروی دے او بيا زجر دے. يَوْمَ الْحَسْرَةِ، دا نوم ورته څکه وائی چه دا منکرين به پکښې افسوسونه او حسرت کوی په توحيد منلو پسے لکه په سورة حجر ۲ آيت کښې او په اتباع رسول پسے لکه سورة فرقان ۲۷ آيت کښې او په ايمان بالآخرت پسے لکه سورة انعام ۳۱ کښې او په قرآن پسے لکه سورة انعام ۲۷ کښې.

اِذْ قُضِيَ الْاَمْرُ، تقدير د عبارت دادے يتحسرون اذ قضی الامر.

٢ ع ٥

وَإِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَاذْكُرْ فِي

او خاص مونږ ته به دوی را او ګرځولے شی - او بیان کړه دَ نصیحت په طور

الْكِتٰبِ إِبْرٰهِيْمَ ۚ إِنَّهٗ كَانَ

په کتاب دَ الله تعالیٰ کښ حال دَ ابراهیم ، یقینًا دے وؤ

صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيْهِ

ډیر رشتینے پیغمبر - کله چه اُوئیل ده پلار خپل ته

يٰٓأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ

اے پلاره زما په څه دلیل بندګی کوے ته دَ هغه څیز چه نه اوری

س۴۰ :- په دے کښ اثبات دَ تصرف دَ الله تعالیٰ دے او اشاره ده چه ټول عالم به فنا شی او یو الله تعالیٰ به باقی وی او دا علت دے دَ دے قول چه اذ قضی الامر ، یعنی الله تعالیٰ فیصله دَ انصاف کولے شی ځکه چه هغه مالک دے -

س۴۱ :- دا دریمه واقعه ده دَ ابراهیم علیه السلام او جواب دَ شبهے دے - شبهه دَ مشرکینو دا وه چه ابراهیم علیه السلام الله تعالیٰ ته ډاسے مقرب او نزدے وؤ چه الله تعالیٰ ورته تصرفات سپارلے وؤ - دَ دے وجے نه مشرکین مکه صورت دَ ابراهیم علیه السلام په کعبه کښ کیخودلے وؤ او په لاس کښ ورله ازلام ورکړے وؤ - اشاره ده چه دے دَ انسانانو په قسمت کښ تصرف لری - حاصل دَ جواب دا دے چه ابراهیم علیه السلام خو دَ توحید دَ وجے دَ پلار نه براءت کړے وؤ نو هغه څه رنګه دَ الله تعالیٰ سره شریک کیدیشی او الله تعالیٰ ته عاجزی کوؤنکے وؤ او الله تعالیٰ ته محتاج وؤ -

فِي الْكِتٰبِ ، کښ اشاره ده چه دَ ابراهیم دَ خپل پلار لحاظ هم نه دے کړے او دا دلیل دے چه ده دروغ نه دی وئیلے او ثلث کذبات چه کوم دی هغه توریئے دی دروغ نه دی -

وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا ﴿٤٢﴾

اونه وینی څه څیز او نه لرے کولے شی ستا نه هیڅ تکلیف۔

يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ

اے پلاره زما یقینًا راغلے دے ما ته د علم (وحی) نه

مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ

هغه چه تاله نه دے راغلے نو تابعداری اوکړه زما او به خایم تاته

صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾ يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ

لار برابر - اے پلاره زما بندگی مه کوه

۴۲:- په دے آیت کښ د پلار دعوت ئے توحید ته کړیدے په نرمه طریقه سره او طلب د دلیل ئے ترینه په عبادت د غیرالله باندے کړیدے په آیت کښ اشاره ده صفاتو د معبود بالحق ته او نفی د دے صفاتو د غیر الله نه، هغه درے صفات دی اوریدل د هر څه، لیدل د هر څه، او مصیبتونه دفع کول او دا درے صفات په هیڅ مخلوق کښ نشته که انبیاء وی او که اولیاء وی او که مړی وی او که بتان وی او د دے ترتیب دا دے چه اول اوریدل دی نو په هغے سره توجه پیدا شی نو نظر اوکړی نو پس د هغے نه حاجت روائی کوی۔

۴۳:- په دے آیت کښ دعوت دے اتباع د رسول ته روستو د بیان د توحید نه، چونکه شبه کیدے شوه چه ابراهیم علیه السلام پلار ته وائی فَاتَّبِعْنِي، دا خو بے ادبی ده نو اول ئے علت د اتباع ذکر کړو۔

قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ، یعنی ما ته وحی راغلے ده، او اشاره ده چه په اتباع د نبی کښ هدایت د صراط مستقیم منحصر دے۔

الشَّيْطٰنَ ۭ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ

دَ شيطان ، يقيناً شيطان دَ رحمان نه

عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ يٰٓاَبَتِ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يَّمَسَّكَ

نافرمان دے. اے پلاره زما يقيناً يره كوۄم چه او به رسي تا ته

عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ

عذاب دَ طرف دَ رحمن نه نو شے به ته

لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ اَرَاغِبٌ

دَ شيطان ملګرے ـ اوئيل پلار آيا مخ ګرځوے

٤٤ :- په دے كښ نهى ده دَ اتباع دَ شيطان نه، كه انسي وى او كه جنى وى ځكه چه هغه منع كول كوى دَ توحيد او دَ اتباع رسول نه چه دواړه مخكښ بيان شول، او دے آيت كښ عبادت په معنى دَ طاعت دے لكه په سورة يٰسٓ ٦٠ كښ دے . اشاره ده چه اطاعت دَ غير الله په تحليل او تحريم كښ بے دليله داعبادت دَ هغه دے.

عَصِيًّا ، اشاره ده چه دَ هيڅ عاصى اطاعت په هيڅ عصيان كښ جائز نه دے.

اَنْ يَّمَسَّكَ ، دَ مس نه مراد جوخت كيدل دى او هغه به هميشه وى.

وَلِيًّا ، او شيطان خو امداد دَ خپل دوستانو سره نشى كولے نو دا ولايت دَ هغه بے فائدے دے.

٤٥ :- په دے آيت كښ تخويف دے او علت دے دَ پاره دَ نهى دَ اطاعت الشيطن نه چه مخكښ آيت كښ ذكر شوه.

فائده :- په دے څلورو آياتونو كښ دَ دعوت طريقه او ترتيب ذكر شوے دے.

أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ ۖ

ته زما د معبودانو نه اے ابراهیم

لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ۖ

كه چرے منع نه شوے ته نو په كانړو به دے اولم

وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا ﴿٤٦﴾ قَالَ سَلَامٌ

او لرے شه زما نه ډیره موده - أووئیل ابراهیم علیه السلام سلام دے دے جدائی دے

عَلَيْكَ ۖ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي ۖ

تا ته زر دے بخنه به غواړم تا لره د رب خپل نه ،

إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ﴿٤٧﴾

یقیناً هغه په ما باندے ډیر مهربان دے -

ف٤٦ :- په دے آیت کښں ذکر د تشدد د پلار دے په ابراهیم علیه السلام باندے اول زورته دویم دباؤ کول په رجم سره دریم شړل د هغه -

آلِهَتِي ، کښں اشاره ده چه پلار د ابراهیم علیه السلام د ډیرو الهو عبادت کوؤ او دارنګ الهه ئے د نورو خلقو د پاره جوړول او هغوی ته به ئے دعوت د شرک ورکوؤ یعنی ضال هم وؤ او مضل هم وؤ -

لَأَرْجُمَنَّكَ ، د دے دوه معنے دی اوله معنیٰ په کاڼو سره ویشتل او دویمه معنی کنځل کول -

مَلِيًّا ، ډیره موده همیشه یا سالماً بچ چه تا ته تکلیف او نه رسیږی زما د طرف نه -

ف٤٧ :- په دے کښں اشاره ده چه ابراهیم علیه السلام د تشدد په مقابله کښں نرمی کړے ده - او دلته د سَلَامٌ ، نه مراد تحیه نه ده بلکه متارکت (پریخودل) دی په ښه طریقه سره ځکه چه کافر باندے ابتدا د سلام اتفاقاً منع ده نو معنی دا ده چه

وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ

او په ډډه کيږم ستاسو نه او د هغه چا نه چه تاسو ورته رامد شه وائې

مِنْ دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُوا رَبِّي ز صلے

سوا د الله تعالى نه ، او دُعاء غواړم د رب خپل نه

عَسَىٰ أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي

اميد دے چه نه يم زۀ په وجه د دعا غوختلو د رب زما نه

شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا

بد بخته (محرومه) - نو هر کله چه ډډه ئې اوکړه د دوی نه او د هغه چا نه

(زما ستا نه په خير او سلامتيا سره جدا کيدل دی) او دا طريقه د نيکانو ده لکه سورة فرقان ٦٣ آيت او قصص ٥٥ آيت کښ دی - او د سلام اقسام په تفسير د سورة انعام ٥٤ آيت کښ تير شوی دی -

او سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي ، د دے تشريح په تفسير د سورة توبه ١١٤ کښ تيره شوی ده -

٤٨ :- په دے آيت کښ ذکر دے د براءت د ابراهيم عليه السلام د مشرکانو نه او د هغوی شرکی طريقو نه هم - پدے کښ اشاره ده چه موحد بانده پس د دعوت د توحيد نه لازم دی چه د مشرکانو او د هغوی د طريقو نه براءت کوی -

وَأَدْعُوا رَبِّي ، د دينه مراد دعا د استغفار ده د پاره د پلار - يا مراد د دينه طلب کول دی د اولاد د پاره د ملګرتيا د دعوت د توحيد لکه سورة صافات ١٠٠ کښ راځی يا مراد د دينه نه عامه دعا ده چه مختص ده په رب تعالی پورے په دے آيتونو کښ اشاره ده چه براءت د پلار نه په دے طريقے سره سبب د عقوق نه دے -

يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبْنَا

چه دوی ئې بندګي کوله سوا د الله تعالیٰ نه او بخلو مونږ

لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ وَكُلًّا

ده ته اسحاق او یعقوب ، او هر یو

جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿۴۹﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ

مونږ مقرر کړے وو پیغمبر ۔ او بخلے وو مونږ دوی ته

مِّنْ رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ

ډیر د رحمتونو خپلو نه او کړے وو مونږ دوی لره

لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾ ۧ وَاذْكُرْ

ذکر نیک اوچت ۔ او یاد کړه دوی ته د نصیحت په طور

فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰۤى ؗ اِنَّهٗ كَانَ

په دے کتاب کښ حال د موسیٰ یقینًا هغه

۴۹، ۵۰ :- د براءت کولو په وجه الله تعالیٰ پدے باندے څلور انعامات ذکر کوی ۔

ع۱ :- اسحاق ځوئے او یعقوب نوسے هبه کول او د اسماعیل علیه السلام ذکر ئې ورسره او نکړو ځکه هغه د پلار نه جدا شو په وړوکوالی کښ او دا رنګ د هغه ذکر روستو مستقل کوی ۔

ع۲ :- هغوی لره نبوت ورکول مدح او ثنا او نیک ذکر په روستو خلقو کښ جاری ساتل ۔

او عَلِيًّا ، کښ اشاره ده عموم د دغه ذکر حسن ته په ټولو ملتونو کښ ۔ نو اشاره ده د شرک او د مشرکانو نه په براءت کولو سره ډیر انعامات حاصلیږی ۔

مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾
پاک ساتلے شویوؤ او وؤ رسول نبی ۔

وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ
او آواز ورکړو موږ هغه ته د ښي طرف د طور

الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾
غړ نه او نزدے کړے وؤ موږ دے راز دار ۔

وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ
او بخلے وؤ موږ ده ته د وجے د رحمت زموږ نه ورور ده

هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ
هارون نبی ۔ او یاد کړه د نصیحت په طور یے کتاب کښ

۵۱، ۵۲، ۵۳ :۔ دا د غلورلے شبهے جواب دے، شبه په باره د موسیٰ علیه السلام کښ ده چه د موسیٰ علیه السلام د ډیرو معجزاتو نه دلیل نیسی د هغه په قدرت او تصرفاتو باندے او الله تعالیٰ سره یے شریکوی حاصل د جواب دا دے چه موسیٰ علیه السلام په ټولو کمالاتو کښ الله تعالیٰ ته محتاج وؤ په دے آیاتونو کښ کلمه د (نا) دلالت کوی په دے باندے ۔ او پس دے آیاتونو کښ د موسیٰ علیه السلام شپږ صفات او کمالات یے ذکر کړیدی ۔

مُخْلَصًا، نه مراد غوره کړے شوے او د ګناهونو نه پاک ساتلے شوے ۔ په دے کښ اشاره ده عصمت د هغه ته ۔

رَسُوْلًا نَّبِيًّا، مراد دا چه دواړو صفتونو کښ نسبتی فرق دے یعنی رسول من جانب الله او نبی الی الخلق ۔

مِنْ رَّحْمَتِنَآ، کښ مطلب دا چه د ده دعا په باره د ورور کښ قبلول دا د الله تعالیٰ رحمت دے دا څه زور د هغه په الله تعالیٰ باندے نه وؤ ۔

اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ

اسماعیل یقیناً دے وؤ رشتینے

الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾

لوظ والا او وؤ دے رسول نبی۔

وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ

او دۀ به حکم کوؤ تابعدارو خپلو ته دَ مونځ کولو

وَالزَّكٰوةِ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ

او دَ زکوٰۃ ورکولو او وؤ دے په نیز دَ رب خپل

مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ

غوره کړے شوے۔ اویادکړه دَ نصیحت په طور په دے کتاب کښ

الاَبْيَمَنِ، دا صفت دَ جانب دے۔ نَجِيًّا، مفرد صیغه دُخاوند دَ نجوی کولو (رازدار)۔

وَنَادَيْنٰهُ، دَ دے تفصیل وړپسے سورۃ طه کښ ذکر کړے دے۔

۵۴، ۵۵:۔ په دیکښ جواب دَ پنځمے شبهے دے، ځکه چه مشرکین مکه صورت دَ اسماعیل علیه السلام ئے په کعبه کښ کیخودلے وؤ او په لاس کښ ئے ورله ازلام دَ قسمت ورکړے وؤ عقیده ئے دا وه چه دے هم متصرف او واکدار دَ قسمتونو دے۔ حاصل دَ جواب په اثبات دَ عبدیت او دَ عجز دَ هغه دے په ذکر کولو دَ پنځه صفاتو سره۔

صَادِقَ الْوَعْدِ، صدق دَ وعدے دَ ټولو انبیاؤ صفت دے لیکن خصوصیت دَ اسماعیل علیه السلام په وجه دَ خاص واقعاتو سره دے لکه وعده دَ پلار سره دَ صبر علی الذبح دا رنګه وعده کول دَ یو کس سره او په هغے ځائے کښ درے ورځے انتظار کول دا روایت دَ ابوداؤد کښ دی۔

رَسُوْلًا نَّبِيًّا، دا دلیل دے چه دَ رسول سره دَ نوی کتاب

إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا

ادریس یقینًا دے وو رشتینے

نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾ وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾

نبی - او پورته کړے وو موږ ده لره مرتبے اوچتے ته -

موجودیدل ضروری نه دی خو چه د وحی په تبلیغ باندے دے مکلف وی تو رسول دے، او دا شرافت د اسماعیل علیه السلام په اسحق علیه السلام باندے ځکه چه د هغه په صفت کښ رسول نه دے ویلے شوے -

وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ ، مراد د دینه د هغه ټول اُمّتیان دی او هغه بنو جرهم قبیله وه ، اشاره ده چه دعوت الی عبادة الله سره ئے ډیر محبت وو هر وخت کښ به پد یکښ مشغول وو -

مَرْضِيًّا ، په دیکښ اشاره ده د هغه اخلاق حسنه ته -

۵۶ ، ۵۷ :- پد یکښ جواب د شپږمے شبهے دے چه د ادریس علیه السلام په باره کښ یهودیانو دروغ قصے مشهورے کړے دی بعضے صوفیانو ویلے دی چه ادریس علیه السلام الیاس علیه السلام دے او د خضر علیه السلام پشان ژوندے دے او د خلقو د حاجاتو پوره کولو د پاره په اوچه زمکه کښ ګرځی - د دے قصو نه معلومیږی چه دے هم قدرت او تصرف د الوهیت لری - حاصل د جواب دا دے چه په ده کښ د عبدیت صفات وو (صدیقیت او نبوت) او الله تعالی ته محتاج وو په رفعت د مرتبه کښ -

وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا ، د دینه مراد اوچت والے د مرتبے د هغه دے په نیز د الله تعالی او د هغے په مقدار باندے الله تعالی عالم دے - یا مراد د دینه لیدل د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ده لره په شپه د معراج په څلورم آسمان کښ او د دینه علاوه نورے قصے د ده یعنی د مَلَک سره جنت ته

أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ

دا هغه خلق دي چه انعام کړیدی الله تعالیٰ

عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ مِن

په هغوی باندې د انبیاؤ نه د

ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا

اولاد د آدم علیه السلام نه دي او د (اولاد) د هغه چانه چه سواره کړي وو موږ

مَعَ نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ

د نوح سره او د اولاد د ابراهیم

وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا

او یعقوب نه وو او د هغه خلقو نه چه موږ ورته هدایت کړي وو

وَاجْتَبَيْنَا ۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ

او غوره کړي وو موږ، هر کله چه لوستلې کیدل به په هغوی باندې

آيَاتُ الرَّحْمَـٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا

آیاتونه د رحمان نو غورځیدل سجده کوونکي

وَبُكِيًّا ۩ (۵۸) فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ

السجدة ۸

ژړا کوونکي - نو راغلل د دوی نه روستو

تلل او جنت کښ پاتې کیدل وغیره اسرائیلیات دي۔

فائده :- قرآن کریم د ظاهر نه معلومیږي چه ادریس علیه السلام د ابراهیم علیه السلام نه روستو نبي وو او داچه مشهوره ده چه د ده نوم اخنوخ وو او د نوح علیه السلام په دریم پشت کښ نیکه وو داخبره هم صحیح ثابت نه ده۔

۵۸ :- په دې آیت کښ دعوی د سورت ده یعني عبدیت او عجز د انبیاؤ علیهم السلام او احتیاج د هغوی الله تعالیٰ ته

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ۝٥٩

خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا
ناکاره نائبان چه برباد یې کړو مونځ لره او روان شو
الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾
په خواهش رد نفس) پس نو زر دے چه مخامخ به شي سزا د سرکشۍ ته۔

یعنی دوی په انعام (حمل په کشتۍ کښ) او هدایت او اجتباء کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔ او عجز دا دے چه اولادې وو پلاران او نیکونه یې وو۔ او عبدیت دا دے چه الله تعالیٰ ته یې سجده او ژړا کوله او په دے آیت کښ یې د څلورو انبیاؤ نومونه په دے وجه سره ذکر کړي دي چه دوی آباء وو یعنی آدم علیه السلام اب اول وو، او نوح علیه السلام اب ثاني وو د ټولو انسانانو او ابراهیم او اسرائیل علیهما السلام آباء د پیغمبرانو وو۔
أَنْعَمَ، کښ اشاره ده نبوت ته۔ هَدَيْنَا، کښ اشاره ده توحید ته۔ وَاجْتَبَيْنَا، کښ اشاره ده تور لویو صفاتو ته۔

۵۹:۔ دا جواب د شبهے دے۔ شبه دا ده چه د انبیاؤ د واقعاتو نه معلومه شوه چه توحید صحیح دین دے نو د هغے نه دا مخالف ادیان څنګه پیدا شول۔ نو جواب او شو چه د انبیاؤ علیهم السلام نه روستو ناکاره خلق په امت کښ پیدا شول او هغوی د انبیاؤ دین برباد کړے دے۔ او بربادول په دوؤ طریقو سره دی اوله طریقه، أَضَاعُوا الصَّلٰوةَ، مراد تری نه ټول دین دے ځکه اضاعت د صلوٰة سره لازمیږي اضاعت د ټول دین ۔ او مطلب دا دے چه طریقه د انبیاؤ یې پریخودله۔ او دویمه طریقه وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ، مراد دا دے چه د خپل خواهشاتو موافق دین یې ایجاد کړو حاصل دا چه توحید او سنت یې پریخودل او شرک او بدعت او فسق و فجور پسے روان شول۔
خَلْفٌ، په سکون د لام سره ناکاره جانشین ته وائي۔
غَيًّا، دا نوم د یو وادۍ (کندے) دے په جهنم کښ چه باقي جهنم د هغے د ګرمۍ نه پناه غواړي او یا په معنٰی د سرکشۍ

إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَ

لیکن هغه څوک چه توبه یې ویستلې ده د شرک نه او ایمان یې راوړیدې او

عَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ

عمل یې کړیدې په طریقه د سنت نو دغه کسان به داخلیږي

الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾

جنت ته او ظلم به نه کیږي په دوی باندې هیڅ (ظلم).

جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ

جنتونه د همیشه اوسیدو هغه چه وعده یې کړیده رحمان

عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ

د بندګانو خپلو سره په غیب باندې، (چه نه دی لیدلی دا جنتونه) یقینًا

وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُونَ

وعده د الله تعالی پوره کیدونکې ده. نه به آوري

او د ګمراهۍ نه مراد ترینه جزاء الغی ده یا په معنی د خسران دې.

فائده:- سورة اعراف ۱۶۹ آیت کښې د هغه خلقو ذکر دې چه نیمګړي ملایان د بنی اسرائیلو وو او سبب د ګمراهۍ د هغوی حرص د دنیا دې. او په دې آیت کښې ذکر د عامو خلقو دې چه دین یې برباد کړې دې او سبب یې جهل او اتباع د شهواتو دې.

اضاعوا الصلوة، بربادي د مونځ عامه ده پریخودل او د وختونو نه روستو کول او تعدیل د ارکانو نقصانی کولو ته شامل دې او د حسن بصري نه روایت دې چه جماعات د مونځونو پریږدي او په زمکو پسې شوي دي دا ټول اضاعوا الصلوة کښې شامل دي.

۶۰، ۶۱، ۶۲، ۶۳:- په دې کښې اشاره ده چه روستو

فِيهَا لَغْوًا اِلَّا سَلٰمًا ؕ وَلَهُمْ

په هغې کښې بې فائدې خبرې لیکن اوري به سلامونه ، او دوی لره

رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿۶۲﴾

رزق دَدوی دے په هغې کښې صبائي او بیګائي -

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ

دا هغه جنت دے چه وارکوو (بے عوضه) هغه چا ته چه وي

مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿۶۳﴾

دَ بندګانو زمونږ نه هغه څوک چه وي تقوی (توحید) والا -

وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ

او روائي ملائک) مونږ نه شو راکوزیدے مګر په حکم دَ رب ستا

لَهٗ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَا خَلْفَنَا

دَ هغه اختیار کښې دي هغه څه چه زمونږ نه مخکښې دي او هغه چه روستو دي

دَ انبیاؤ نه بعضے خلق صالحین هم شته او دَ هغوی صفات ئے بیان کړل او هغوی دَپاره بشارت دے په اوګو احوالو دَ جنت سره -

اِلَّا سَلٰمًا ، استثناء منقطع ده یعنی لکن یسمعون سلامًا او مراد ترینه سلام دَ ملائکو او سلام دَ الله تعالیٰ دے او مطلب ئے دا دے چه نه به اوري په هغې کښې مګر داسے خبرے چه محبوبے وي -

بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ، په معنی دَ دوام او دَ همیشوالي دے په دلیل دَ سورة واقعه ۳۳ سره او ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مقدار دَ ورځے او دَ شپے مراد دے ځکه چه جنت کښې بکرة او عشی او شپه نشته دے او آخري آیت کښې سبب دَ استحقاق دَ جنت ئے ذکر کړیدے چه هغه تقوی ده -

وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ

او هغه چه په مینځ دَ دے کښې او نه دے ستا رب

نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

هیرووُنکے۔ رب دَ آسمانونو او دَ زمکے دے

وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ

او دَ هغه څه چه دَ دے په مینځ کښې دی نو بندګی خاص کړه هغه لره او ځان کلک لره

لِعِبَادَتِهٖ ۭ هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ

بندګئ دَ هغه ته، آیا پیژنے ته هغه لره

سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ۴ ع۵ ۷

همنامے (رحم صفتے) او وائی انسان (کافر)

۶۴، ۶۵ :- خلاصه : په دے دوه آیاتونو کښې دَ سورت دویم باب دے په دے کښې بیان دَ عجز دَ ملائکو دے او احتیاج دَ هغوی په ټولو حالاتو کښې ذکر کوی حتی چه زمکے ته راکوزیدلو کښې الله تعالی ته محتاج دی او رد دَ شرک فی العبادة ئے کړیدے او اشاره ده رد دَ مشرکین بالملائکه ته۔

تفسیر :- دا آیت حکایت دے دَ قول دَ جبرئیل علیه السلام چه نبی صلی الله علیه وسلم ورته وئیلی وُو (مایمنعك ان تزورنا اکثر مما تزورنا) نو دا آیت نازل شو۔ او ربط دَ آیت دا دے چه دا تیر شوے کلام صادق دے ځکه دا جبرئیل علیه السلام راوړیدے په امر دَ الله تعالی سره۔

لَهٗ، یعنی الله تعالی لره تصرف او علم دَ دے ټولو حالاتو دے۔ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا، نه مراد حالات دَ دنیا دی۔ وَمَا خَلْفَنَا، نه مراد حالات دَ آخرت دی۔

وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ، مینځ دَ دواړو شپیلو مراد دے۔ سَمِيًّا، ابن کثیر په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما سره لیکلی دي

ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ

آیا هر کله چه زهٔ مړ شم نو خامخا زر به را و ویستلې کیږم زهٔ

حَيًّا ﴿٦٦﴾ اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ

ژوندے ۔ آیا نه دی یاد دے انسان ته

چه دَ الله تعالیٰ نه سِوا هیڅوک په رحمان سره نښې مسمی کیدے ۔ او بیا تفریع ده دَ توحید فی العبادت په اثبات دَ توحید دَ ربوبیت باندے ۔

فَاعْبُدْهُ ، توحید دَ فی العبادة باندے امر دے او وَاصْطَبِرْ ، کښې نفی دَ عبادت دَ غیر الله نه او دوام دَ عبادت دَ الله تعالیٰ مراد دے ۔

سـ٦٦ ،۔ خلاصه :۔ دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے دریم باب دے په دیکښې شپږ زجرونه دی ، زجر اول په انکار دَ بعث بعد الموت په سـ٦٦ ، سـ٦٧ کښې بیا تخویف اخروی دے دَ سـ٦٨ نه تر سـ٧١ پورے ، بیا بشارت دے په سـ٧٢ کښې ۔ او دویم زجر په استکبار بالدنیا سره دے په مقابله دَ قرآن کښې په سـ٧٣ کښې بیا تخویف دنیوی دے سـ٧٤ ، سـ٧٥ کښې ، بیا بشارت په سـ٧٦ کښې او دریم زجر دعوٰی دَ عزت په سبب دَ شرک سره په سـ٧٧ ، سـ٧٨ کښې ۔ او بیا تخویف اخروی سـ٧٩ ، سـ٨٠ کښې او څلورم زجر په اتخاذ دَ الهه باطله دَ پاره دَ نصرت او دَ عزت په سـ٨١ کښې او تخویف په سـ٨٢ او پنځم زجر په اتباع دَ شیطان په سـ٨٣ ، سـ٨٤ کښې ، بیا بشارت په سـ٨٥ کښې او تخویف په سـ٨٦ کښې او رد دَ شفاعت قهریه په سـ٨٧ کښې او شپږم زجر په اتخاذ الولد دَ سـ٨٨ نه سـ٩٢ پورے ۔ بیا دعوٰی دَ سورت په سـ٩٣ ، سـ٩٤ ، سـ٩٥ کښې ۔ بیا بشارت دے په سـ٩٦ کښې او بیا ترغیب الی القرآن دے په سـ٩٧ او تخویف دنیوی په سـ٩٨ کښې ۔

تفسیر :۔ سـ٦٦ پدے آیت کښې زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت او استفهام انکاری دے ۔

اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ

چه یقینًا پیدا کړے وو مونږ دے وړاندے د دینه او نه وو

یَكُ شَیْـًٔا ﴿۶۷﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ

دے هیڅ شے . نو قسم دے ستا په رب بانده ضرور به یوځاے کوو دوی لره

وَالشَّیٰطِیْنَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ

او شیطانانو لره بیا به ضرور حاضر وو دوی لره

حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِیًّا ﴿۶۸﴾ ثُمَّ

چاپیره د جهنم نه په زنګونانو بانده پراته . بیا به

ربط :- دا دے چه د ابتدا د سورت نه رد وو په شرک د مشرکانو بانده په ذکر د حالاتو د انبیاؤ او ملائکو سره نو اوس رد کوی د مشرکانو په بله عقیده بانده چه انکار دے د بعث بعد الموت نه۔

۶۷ :- په دے کښ رد دے په منکرینو د بعث بانده او اثبات د بعث دے په دلیل. د اول ژوند سره او دا سے دلیل په سورة اعراف ۲۹ او سورة یٰس ۷۹ کښ هم موجود دے.

۶۸ :- پدیکښ قسم دے په اثبات د حشر بانده او بیا تخویف اخروی دے ، او قسم کول د الله تعالیٰ په خپل ذات بانده د پاره د اثبات د قیامت په قرآن کریم کښ څلور کرته ذکر دے یو کرت په سورة یونس ۵۳ کښ. دویم کرت په سورة سبا ۳ آیت کښ. دریم کرت سورة التغابن ۷ آیت کښ - او څلورم کرت دلته.

وَالشَّیٰطِیْنَ ، انسی او جنی دواړه و ته شامل دے۔

جِثِیًّا ، په زنګنانو بانده ناست وی د ډیر هیبت د وجے نه یا د دے وجے نه چه دوی په دنیا کښ خپلو معبودانو ته په دغسے پراته وو یا جثیًّا په معنیٰ د جماعتونو سره دے۔

لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ
را او کا ږو مونږ د هرے ډلے نه

أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ۞ ۶۹
کوم یو د دوی چه ډیر سخت وو په رحمان باندے په نافرمانئ کښ۔

ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ
بیا مونږ ښه خبر یو په هغه کسانو چه هغوی

أَوْلٰى بِهَا صِلِيًّا ۞ ۷۰ وَإِنْ مِّنْكُمْ
ښهٔ حقدار وی جهنم ته د داخلیدلو۔ او نشته ستاسو نه څوک

إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ
مګر ورځے به جهنم ته ده ستا په رب باندے

حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۞ ۷۱ ثُمَّ نُنَجِّي
ضروری فیصله کړیشوے۔ بیا به بچ کړو مونږ

س۶۹ :- دا هم داخل دے په تخویف اخروی کښ - او أَيُّهُمْ أَشَدُّ، کښ هغه سرکش مراد دے چه دوی د هغه تقلید کړے وو هغه ضال او مُضِل دواړه دی -

سن۷۰ :- دا هم په تخویف اخروی کښ داخل دے او مراد د دینه اهل شرک دی که کشران وی او که مشران وی یعنی الله تعالیٰ حقدار د جهنم ښهٔ پیژنی -

س۷۱ :- دا هم تخویف اخروی دے - وَارِدُهَا، په یکښ ساک ، توجیهات دی،

او که توجیه دا ده چه ورود په معنی د دخول دے یعنی هر مؤمن او مشرک به جهنم ته داخل کړے شی مؤمن به صرف د سیل د پاره او مشرک د عذاب د پاره نو آیت س۷۲ کښ بیا د هغے تفصیل دے نجات د مؤمنانو، او خلود د ظالمانو

ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ

هغه کسان چه دَ شرک نه يې ځان ساتلے وو او پرېږدو مونږ ظالمانو لره

فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ

په هغې کښې په زنګونونو بانديے پراته - او کله چه اولوستلے شي

عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ

په دوی باندے آياتونه زمونږ صفا صفا وائی

ٱلَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا

هغه کسان چه کافران دی هغه کسانو ته چه ايمان والا دی

أَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا

چه کم يو زمونږ او ستاسو نه ښه ځائے والا دے

وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا

او خائسته مجلس والا دے - او ډير هلاک کړيدی مونږ

او پدے توجيه کښې خطاب دَ منکم عام دے مؤمنانو او کافرانو ته - دويمه توجيه دا ده چه ورود په معنی دَ ورتيريدلو دے يعنی تاسو ټول به دَ جهنم دَ پاسه ورتيريږی پس يکښې هم خطاب عام دے - دريمه توجيه دا ده چه منکم خطاب صرف کافرانو ته دے او ورود په معنی دَ دخول سره دے او ثُمَّ، دَ پاره دَ تعقيب ذکری دے - څلورمه توجيه ورود په معنی دَ اطلاع او دَ قرب دے يعنی تاسو ټول به دَ جهنم نه خبر شئ -

ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا، مخکښې هم تير شول په ٦٣ آيت کښې چه جنت په تقوی سره ورکوی -

٧٣ :- دے آيت کښې دويم زجر دے په استکبار بالدنيا په مقابله دَ قرآن کښې يعنی چه قرآن لوستلے کيږی نو دوی

قَبْلَهُم مِّنْ قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ

وړاندې د دوی نه قومونه د یو زمانې چه هغوی خائسته

أَثَاثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾ قُلْ مَنْ كَانَ

سامان والا وو او شکل والا وو. ته اُوایه څوک چه وی

فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ

په ګمراهۍ کښ نو مهلت به ورکړی هغه لره رحمان

مَدًّا ۚ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ

مهلت تر دې پورې چه کله اُوینی دوی هغه چه دوی سره وعده کیږی شی

إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ

یا عذاب او یا قیامت ،

فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا

نو زر ده چه پوهه به شی چه څوک دے بد حال والا

د دنیا په څیزونو او د دنیا په لویو مکانونو او خائسته مجلس باندې تکبر کوی او ترقی د دنیا د ځان د حقانیت د پاره دلیل جوړوی.

ربط :- په دے کښ تخویف دنیوی دے چه په دنیا باندې تکبر والے کوئ ځکه چه ډیر دنیا دار مشرکان هلاک کړے شوی دی او مال د دنیا سبب د هلاکت دے.

اَثَاثًا ، سامانونه د کور او د مجلس او ډیر مالونو ته هم وئیلے شی.

وَرِءْيًا ، صورت او شکل او سامان د ریا ته هم وئیلے شی.

وَّ اَضْعَفُ جُنْدًا ۝۷۵ وَ يَزِيْدُ اللّٰهُ

او ډیر کمزوری لښکر والا - او زیاتوي الله تعالیٰ

الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ط وَالْبٰقِيٰتُ

هغه کسانو لره چه هدایت موندونکي دي نور هدایت، او همیشه والې والا

الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا

نیک عملونه ډیر غوره دي په نیز د رب ستا په بدله کښې

وَّ خَيْرٌ مَّرَدًّا ۝ اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ

او غوره دي په ځائے د ورګرځیدلو - آیا ته خبریږے د هغه چا په حال باندے

ف۷۵ :- په دے آیت کښې علت د دے ذکر کړے شوے دے چه دے کافرانو له د دنیا مالونه او زینت د دے وجے نه ورکړے شویدے چه الله تعالیٰ داسے ګمراهانو له مهلت ورکوي لکه سورة العمران ف۱۷۸ او سورة مؤمنون ف۵۵ کښې دي -

فَلْيَمْدُدْ ، امر په معنی د خبر دے یعنی مهلت ورکوي دا خبریه ده یا په معنیٰ د دعا دے او ابن جریر وئیلي دي چه دا مباهله ده د مشرکانو سرکشانو سره -

اَوْ شَرٌّ مَّكَانًا وَاَضْعَفُ جُنْدًا ، په مقابله د دے قول کښې دے خیر مقامًا واحسن نديا -

ف۷۶ :- او په دے آیت کښې بشارت دے هغه مؤمنانو ته چه قرآن (ایات بینات) بیانوي کوم چه په ف۷۳ آیت کښې ذکر دي او دا مقابل د فلیمدد دے یعنی د هغوی سرکشي زیاتیږي او د مؤمنانو ایمان زیاتیږي او دا دلیل په اثبات د زیادت د ایمان دے -

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ ، داسے په سورة کهف ف۴۶ کښې تیر شویدي هلته ئے املا ذکر کړو په رد د هغه چا کښې چه مالونه او ځامنو ته امید ونه د نفع لري نو ځکه ئے املا وئیلي وو او دلته دا مقابل دے د شر مکانا سره او مردًا هم مکان دے یعنی جنت دے -

كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ

چه کفر ئې کړیدے په آیاتونو زمونږ او وائي چه ضرور رابه کړېشي ماته

مَالًا وَّوَلَدًا ﴿٧٧﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ

مال او اولاد - آیا خبر دے دَغیب په خبرو باندے

اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾

یا اخستے دے دَه په نیز دَ رحمٰن لوظ (دَ نجات) -

كَلَّا ۭ سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَنَمُدُّ

هیچرے داسے نه ده ضرور لیکو مونږ هغه خبرے چه دے وائي زیاته وډ

لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَّنَرِثُهٗ

ده لره دَ عذاب نه زیاتول - او آخر وابخلو مونږ دَ دَه

ف٧٧:- دا دریم زجر دے په تعزز او ترقئ حاصلولو سره په سبب دَ شرک دَ آیت مطلب دا دے چه داکافر وائي (لکه عاص بن وائل) کله چه زهٔ کلک یم په شرک باندے نو دَ دے معبودانو په برکت سره به ماله په دنیا او آخرت کښ ترقي حاصله شي - یعني شرک سبب دَ عزت په دنیا او آخرت کښ ګنړي۔

ف٧٨:- دا جواب دَ قول دَ دغه مشرک دے - یعني آیا دے په غیب باندے عالم دے غیب نه مراد دا قول دَ ده دے - لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا -

اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا، دَ دے یو مطلب دا دے چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ده سره وعده دَ نجات شویده - دویم مقصد دا دے آیا دَ ده عقیده دَ توحید شته دے چه په هغے سره عهد جنت دے -

ف٧٩:- په دے آیت کښ زجر او تخویف دے - لفظ دَ كَلَّا، په قرآن کریم کښ دری دیرش کرته راغلے دے او دا ټول

مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا (٨٠)

(هغه چه وائي او راځي به مونږ ته يواځے (بے اولاده بے ماله).

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً

او نيولے دي دوي سوا د الله تعالىٰ نه حقدار د بندګئ دے

لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا (٨١) كَلَّا ط

د پاره چه شي دوي د پاره مددګاران. چرے نشي کيدے

سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ

زر دے چه انکار به اوکړي د بندګئ د دوي نه او شي به

عَلَيْهِمْ ضِدًّا (٨٢) ع اَلَمْ تَرَ اَنَّآ ع ١٧ ۵ ٨

د دوي په خلاف کښ کوونکي. آيا ته نه پوهيږے چه يقينًا

د قرآن په آخري نصف کښ راغلے دے او دا اول ځائے دے او د دے دوه معنے دي کله په معنى د حقًا سره وي او کله په معنى د ردع سره وي او دلته په معنى د ردع دے.

سَنَكْتُبُ، په يکښ سين د پاره د تاکيد دے او مراد د دينه ليکل د ملائکو دي د مَا يَقُوْلُ، نه مراد هغه قول دے چه په ۷۷ آيت کښ ذکر دے.

۸۰ :- په يکښ هم تخويف اخروي دے. مَا يَقُوْلُ، د دينه مراد هغه مال او اولاد دے چه دے دعوي کوي د هغے د بقاء.

۸۱ :- په يکښ څلورم زجر دے په الهه نيولو سره د دے د پاره چه دوي سره امداد اوکړي.

عِزًّا، سبب د عزت او د نصرت په دنيا او آخرت کښ.

۸۲ :- كَلَّا، د پاره د ردع دے نو معنىٰ دا شوه چه هيڅ چرے د دوي امداد نشي کولے.

سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ، ديکښ دوه توجيه دي. اوله توجيه دا ده چه انکار به اوکړي الهه د بندګئ د مشرکانو نه او شي به

أَرْسَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ

موږ وړي پرېږدي شيطانان په کافرانو باندې

تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ

چې خوځوي دوی لره په خوځولو سره. نو تلوار مه کوه

عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾

په دوی باندې يقيناً شمارو موږ دوی لره شمارل.

دوی باندې په ورځ دَ قيامت مخالف بيان کوونکي لکه سورة يونس آيت ٢٨ اوسورة قصص آيت ٢٣ اوسورة غافر آيت ٧٦. دويمه توجيه دا ده چې ضمير دَ يستکفرون مشرکانو ته راجع دی يعنی مشرکان به دَ الهو دَ عبادت نه انکار اوکړي اوږ هغوی مخالف به شي مګر په سورة انعام ٣٣ سورة نمل ٣٥ کښ دی. اوله توجيه غوره ده. او دا آيتونه په باره دَ هغه چا کښې دی چې ملائک او انبياء او اولياء يې دَ الله تعالیٰ سره شريک کړي دي.

سَيَكْفُرُوْنَ ، کفر په معنی لغوی سره دے يعنی انکار کول.

٨٣ :- په دې کښې پنځم زجر دے په اتباع دَ شيطان مطلب دَ آيت دا دے چې الله تعالیٰ مسلط کړي دي په کافرانو مشرکانو باندې شيطانان انسي او جني چې هغوی تيزه وي دوی لره په شرک او ګناهونو باندې او غصه کوي دوی لره په مقابله دَ موحدينو کښې.

تَؤُزُّهُمْ ، تيزوي دوی لره په شرک کولو سره ، ګمراه کوي خوځوي په شان دَ خوټکيدلو دَ کټوئ ګناه طرف ته يې راکاږي دا ټولے معنے دي.

اَزًّا ، دا دَ ازيز المرجل نه اخستل شويدے خوټکيدل دَ کټوئ.

٨٤ :- په دے کښې او ګ تسلی ده په مهلت ورکولو سره او بيا تخويف دے چې الله تعالیٰ شماری ساه اخستل دَ دے خلقو او دا رنګ عملونه دَ دوی.

فَلَا تَعْجَلْ ، يعنی عذاب دَ دوی دَ پاره په تادئ سره مه غواړه.

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ إِلَى الرَّحْمٰنِ

په کومه ورځ چه راجمع به کړو متقيان رحمان ته

وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ

په حيث د ميلمنو . او او به شړو مجرمان

إِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَا يَمْلِكُوْنَ

جهنم ته تږی . وس به نه لری

الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ

د سفارش کولو مگر هغه څوک چه اخستے دے په نيز

الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ

د رحمٰن ذات لوظ . او دوی وائی نيولے دے

وقف لازم

وقف لازم

ف۸۵ :. په دے آيت کښ بشارت دے او وَفْدًا ، نه مراد دا دے چه ميلمانه د الله تعالیٰ به وی او سواره به وی په خائسته سورلو باندے .

ف۸۶ :. په دے آيت کښ تخويف اخروی دے او د وِرْدًا ، نه مراد تږی او پياده بغير د پيزار نه ډلے ډلے .

ف۸۷ :. په دے آيت کښ رد دے په شفاعت قهری شرکی باندے او په دے آيت کښ ډير توجيهات دی .

اوله توجيه دا ده چه اختيار نه لری دا مجرمان د شفاعت کولو هيڅ لره ليکن هغه څوک چه حاصل کړيدے عهد د توحيد نو هغوی شفاعت کولے شی . پدے توجيه کښ ضمير د لا يملکون مجرمانو ته راجع دے او استثناء منقطع ده او استثناء د شفيع ده .

دويمه توجيه دا ده چه اختيار نه لری هيڅوک د شفاعت کولو بل چا لره مگر هغه څوک چه مؤحد وی ، پدے توجيه کښ ضمير د لَا يَمْلِكُوْنَ ، عام دے الهو باطل او مجرمينو او

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿۸۸﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ

رحمان ذات ځان لره ځوی ـ یقینًا راغلئ تاسو

شَيْئًا اِدًّا ﴿۸۹﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ

خبرے درنے ته ـ نزدے ده چه آسمانونه

يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ

اوچوی د دے وجے نه او وشلیږی زمکه

وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿۹۰﴾ اَنْ دَعَوْا

او راپریوځی غرونه دړے وړے ـ د دے وجے نه چه رابللی دوی

متقینو ټولو ته راجع دے ـ ځکه چه مخکښ دواړه ذکر دی او استثناء متصل ده او استثناء د شفیع ده ـ او دریمه توجیه دا ده چه اختیار نه لری دا متقیان د شفاعت کولو هیڅ لره مګر هغه چا لره چه موحد وی، په دے توجیه کښ ضمیر د لایملکون متقیانو ته راجع دے ـ او په مَنْ، کښ حرف لام پټ دے او دا استثناء د مشفوع له ده ـ او عَهْدًا، نه مراد په اوله توجیه باندے اذن دے او روستو توجیهاتو باندے مراد توحید دے ـ

۸۸، ۸۹، ۹۰، ۹۱ :- په یکښ شپږم زجر دے په نسبت کولو د ولد الله تعالیٰ ته او د دے عقیدے ډیر قباحت ئے ذکر کړے دے. اول دا (اِدًّا) په معنی د ډیر ناکاره، یا ډیر درون دے ـ دویم د دے قول ناکاره اثر په اسمانونو او زمکو غرونو باندے دے. مراد د دینه فنا د دے ځیزونو او قیامت قائمیدل دی لیکن فنا شوی نه دی ځکه چه سبب د بقا هغه کلمه د توحید ده چه هغه په عالم کښ شته ـ حدیث کښ راغلی دی چه قیامت به نه قائمیږی څو پورے چه په زمکه کښ کلمه د توحید وئیلے کیږی ـ او په آیت کښ اشاره ده چه شرک سبب د فساد او د تباهئ دے ـ

اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا، د دے دوه معنے دی یو دا چه دعوا په

لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿۹۱﴾ وَمَا يَنۢبَغِىْ
رحمان لره ولد (دځوي) او نه ده مناسب
لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴿۹۲﴾
رحمان لره چه اونیسي ولد.
اِنْ كُلُّ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
نه دي هر هغه څوک چه دي په آسمانونو او زمکه کښې
اِلَّآ اٰتِى الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿۹۳﴾ لَقَدْ
مګر راځي رحمان ذات ته په بندګئ سره۔ یقیناً
اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾
راګیر کړي دي الله تعالیٰ دوی (په قدرت او په علم کښې) او شمار کړیدي په شمار سره۔
وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿۹۵﴾
او دا ټول به راځي الله تعالیٰ ته په ورځ د قیامت تش تور (یواځې)

معنیٰ د نسبت کولو دے یعني چه دوی نسبت کوي رحمٰن ته د ولد۔ دویمه معنی دا ده چه رامد کوي ولد چه نسبت ئے کوي الله تعالیٰ ته او حدیث صحیح کښې راغلي دي چه نسبت د ولد دالله تعالیٰ ته داکنځل کول دي هغه ته۔

۹۲ :۔ لفظ د مَا يَنۢبَغِىْ، په ښکاره ناجائز کښې استعمالیږي۔ او لفظ د لِلرَّحْمٰنِ، دلالت کوي چه ولد ته حاجت نه لري۔

۹۳ :۔ په دے آیت کښې علت د ما ینبغي ذکر کیږي۔ او دے آیت کښې دعوی د سورت هم ده چه ټول انبیاء او اولیاء دالله تعالیٰ عبدیت کوونکي دي او عبد خو ولد نشي کیدلے۔ اٰتِى، نه مراد په دنیا کښې دي، یا په قیامت کښې لیکن اوله توجیه غوره ده۔

۹۴ :۔ دا اشاره ده چه دا ټول دالله تعالیٰ په قدرت او علم کښې راګیر دي او د دوی په جزئیاتو باندے هم علم لري۔

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

بیقینًا هغه کسان چه ایمان ئې راوړیدے او عمل ئې کړیدے

الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ

نیک عمل زر ده چه پیدا به کړی دوی لره رحمان

وُدًّا ﴿۹۶﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ

مینه (په زړونو د نیکانو کښې) نو یقینًا آسان کړیدے مونږ دا قرآن په ژبه ستا

لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنْذِرَ

دے د پاره چه زیرے ورکړے په دے سره متقیانو ته او ویره ورکړې

بِهِ قَوْمًا لُدًّا ﴿۹۷﴾

په دے سره قوم جګړه مار ته۔

ف۹۵:۔ دا هم بیان د عجز د دوی دے په ورځ د قیامت کښې۔
فَرْدًا، یعنی مال به ورسره نه وی او مددګار به ئې هم نه وی تش تور او یواځې به وی۔
ف۹۶:۔ په دے آیت کښې بشارت دنیوی دے کله چه مراد د وُدًّا، نه محبت په زړونو د صالحینو کښې واخستے شی لکه دا حدیث کښې ذکر شوے دے چه الله تعالیٰ د چا سره محبت کوی نو جبرائیل علیه السلام ته او وائی د دهٔ سره محبت کوه بیا ئې ټول آسمان والو ته د هغه د محبت اعلان اوکړے شی بیا د زمکے والو (صالحینو) په زړونو کښې د هغه سره محبت پیدا کړے شی او دا حدیث امام بخاری او مسلم او احمد د روایت کړے دے۔ یا دا بشارت اخرویه دے چه مراد د وُدًّا، نه مقام د محبت شی یعنی جنت۔
ف۹۷:۔ په دے کښې ترغیب دے قرآن ته د پاره د حاصلولو د ود،

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ

او ډیر هلاک کړیدي مونږ دَ دوی نه وړاندې قومونه (پیړۍ)

هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ

آیا وینې ته دَ دوی نه څوک

اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿۹۸﴾ ع

یا اورې ته دوی لره کشار۔

النصف ع

او آیت متعلق دے دَ ابتداء دَ سورت سره۔

بِلِسَانِكَ، مراد لغت عربیه دے یا نفس ژبه مراد ده چه نبي صلی الله علیه وسلم په تلاوت دَ قرآن کښ نه خطا کیدلو۔

لُدًّا، جمع دَ اَلَدّ ده سخت جګړمار، کوږ دَ حق لارے نه، ډیر دروغژن دا ټولے معنے مراد کیدے شي۔ او دَ دے اول مصداق دَ سورت کهف ۴ آیت کښ ذکر شوے دے۔

۹۸: په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے په ذکر دَ اقوامو مکذبو سره اجمالاً او سبب دَ هغے اعراض دے دَ قرآن۔

رِكْزًا، دَ رفتار په وخت دَ خپے کشار ته ویلے شي۔

تم بحمد الله وتوفیقه تفسیر سورة مریم بیوم السبت ۹ رجب ۱۴۱۳ هـ ق (۲ جنوری ۱۹۹۳ء) فی بیت الاخ فی الله ابو عبد الله - ریاض - مملكة العربية السعودية

# د مضامینو فهرست جلد ۵


| نمبر شمار | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | سورة یونس | ۱ |
| ۱ | ربط، دعویٰ او خلاصه د سورة یونس | |
| ۲ | رد په حدیث د لولاک باندے | ۵ |
| ۳ | ذکر د عمر د نبي صلی الله علیه وسلم | ۱۴ |
| ۴ | تفصیل د عقیدے د شفاعت | ۱۶ |
| ۵ | مسئله د رؤیت د الله تعالیٰ | ۲۶ |
| ۶ | بزرگان د حالاتو د ژوند نه خبر نه دي. | ۲۹ |
| ۷ | خلاصه د دریم باب | ۳۱ |
| ۸ | قطبان، غوثان، ابدال نیشته | ۳۱ |
| ۹ | دلیل ظني سره عقیده نه ثابتیږي | ۳۴ |
| ۱۰ | قسمونه د الله تعالیٰ په خپل ذات باندے په باره د د بعث بعد الموت کښے | ۴۶ |
| ۱۱ | تعریف د اولیاء الله | ۵۳ |
| ۱۲ | دعاء د موسیٰ او هارون علیهم السلام نه ترک د قراءة نه ثابتیږي | ۷۱ |
| ۱۳ | ذکر د نجات د بدن د فرعون | ۷۳ |
| ۱۴ | تفسیر په باره د شک د نبي صلی الله علیه وسلم | ۷۵ |
| ۱۵ | واقعه د یونس علیه السلام | ۷۷ |
| ۱۶ | فائده د شک متعلق | ۸۱ |
| ۱۷ | رد د شرک فی الدعاء | ۸۲ |
| | سورة هود | |
| ۱۸ | ربط دعویٰ او خلاصه د سورة هود | ۸۵ |
| ۱۹ | معنی حقیقي د عرش علی الماء | ۹۰ |
| ۲۰ | تفسیر د احسن عملا او معنی د بلاء | ۹۱ |
| ۲۱ | سوال او جواب په باره د سورت کښے او لس سورتونه د تحدي | ۹۵ |
| ۲۲ | اَعْيُنِنَا د متشابهاتو نه دے | ۱۱۱ |
| ۲۳ | رد په عبارت د کشاف او د تفهیم القرآن باندے | ۱۱۸ |
| ۲۴ | غوره صفات مخکښے نبوت نه | ۱۲۹ |
| ۲۵ | مړي د دنیا د خیزونو نه خوند او فائده نشي اخستلے | ۱۳۱ |
| ۲۶ | سوالونه او جوابونه په واقعه د ابراهیم علیه السلام کښ | ۱۳۴ |
| ۲۷ | پینځه اداب د دعوت | ۱۴۶ |

| نمبر شمار | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۸ | فرق د زفیر او شهیق | ۱۵۶ |
| ۲۹ | تفسیر د استقامت | ۱۶۰ |
| ۳۰ | پنځه اوقات د مونځونو | ۱۶۱ |
| ۳۱ | څلور فائدې د واقعاتو د رسولانو | ۱۶۵ |
| | سورة یوسف | |
| ۳۲ | ربط دعوی او خلاصه د سورت یوسف | ۱۶۸ |
| ۳۳ | په سورت کښ ۶۰ حکمتونه | ۱۷۰ |
| ۳۴ | مقصد د ایات للسائلین | ۱۷۵ |
| ۳۵ | تفصیل د واقعې د یوسف علیه السلام | ۱۷۶ |
| ۳۶ | اقسام د ژړا | ۱۸۱ |
| ۳۷ | تفسیر د هم او د برهان | ۱۹۱ |
| ۳۸ | مقصد د شاهد | ۱۹۳ |
| ۳۹ | رد په یو شبه د شیعه ګانو باندې | ۲۰۴ |
| ۴۰ | د نفس درې اقسام | ۲۱۵ |
| ۴۱ | رد په هغه چا نه دې چه د اقتدار حاصلولو د پاره د آیت دلیل نیسی | ۲۱۶ |
| ۴۲ | نظر لګیدل حق دی او د هغه د علاج په شرعی طریقه کول جائز دې | ۲۲۶ |
| ۴۳ | حیله اسقاط جواز د دی نه نه ثابتیږی | ۲۳۲ |
| ۴۴ | تفصیل د مشرکانو چه د ایمان دعوی کوی | ۲۵۴ |
| ۴۵ | زنانه نبیه نه شی کیدے | ۲۵۶ |
| ۴۶ | احتمالات په آیت نزلا کښې | ۲۵۷ |
| ۴۷ | صدق د قرآن په پنځه وجوهو سره | ۲۵۹ |
| | سورة رعد | |
| ۴۸ | ربط دعوی او خلاصه د سورة رعد | ۲۶۱ |
| ۴۹ | رد په ماده پرستو باندې | ۲۶۵ |
| ۵۰ | موده د وضع د حمل | ۲۶۹ |
| ۵۱ | تفصیل د مثال اول | ۲۷۴ |
| ۵۲ | تفصیل د دویم مثال | ۲۷۸ |
| ۵۳ | تفسیر د محوا او د ثبات | ۲۹۷ |
| | سورة ابراهیم | |
| ۵۴ | ربط، دعوی او خلاصه د سورة ابراهیم | ۳۰۱ |
| ۵۵ | میلاد النبی او عرس کونکو مبتدعینو د پاره دلیل | ۳۰۵ |
| ۵۶ | تفصیل د مثال د شجرة طیبة | ۳۲۱ |
| ۵۷ | تفصیل د مثال د شجرة خبیثة | ۳۲۲ |
| ۵۸ | اثبات د عذاب قبر | ۳۲۳ |
| ۵۹ | فائده په قصه د ابراهیم علیه السلام کښ | ۳۳۰ |
| ۶۰ | تفصیل په تبدیل د زمکے او آسمانونو کښ | ۳۳۷ |

| نمبرشمار | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| | سورة الحجر | |
| ۶۱ | ربط دعوىٰ او خلاصه دَ سورت حجر | ۳۴۰ |
| ۶۲ | دليل دَ حفاظت دَ قرآن | ۳۴۳ |
| ۶۳ | دليل دَ عصمت دَ انبياء عليهم السلام | ۳۵۶ |
| ۶۴ | تابعدارو دَ ابليس اُوه ډلې | ۳۵۸ |
| ۶۵ | فائده دَ علم نحو مطابق | ۳۶۶ |
| ۶۶ | تفسير دَ سبع المثاني | ۳۷۳ |
| ۶۷ | رد په ملحدينو باندې په بارهٔ دَ اليقين كښ | ۳۷۸ |
| | سورة نحل | |
| ۶۸ | ربط دعوىٰ او خلاصه دَ سورة نحل | ۳۸۰ |
| ۶۹ | استدلال دَ مشركانو په جواز دَ شرك په مشيت دَ الله تعالىٰ سره ـ | ۴۰۲ |
| ۷۰ | سوال جواب په بارهٔ دَ استدلال دَ تقليد كښ | ۴۰۷ |
| ۷۱ | معنى دَ سكر | ۴۲۳ |
| ۷۲ | تفصيل دَ مثال په رد دَ شرك عطائى باندې | ۴۲۶ |
| ۷۳ | رد په مشركانو دَ اثبات دَ وسيلې دَ پاره | ۴۲۹ |
| ۷۴ | رد په هغه چا چه الله تعالىٰ دَ مخلوق سره برابروى | ۴۳۰ |

| نمبرشمار | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۷۵ | دَ مشركينو دَ رد دَ پاره مثال | ۴۳۱ |
| ۷۶ | تفسير او فضيلت دَ آيت ۹۰ | ۴۴۲ |
| ۷۷ | حكم دَ اكراه | ۴۵۴ |
| ۷۸ | قحط په مكې والوو باندې | ۴۵۷ |
| ۷۹ | تفسير دَ آياتونو دَ دعوت | ۴۶۶ |
| | سورة بني اسرائيل | |
| ۸۰ | ربط او دعوى او خلاصه دَ سورت | ۴۶۹ |
| ۸۱ | تفصيل دَ واقعې دَ معراج او دَ پينځو شبهاتو جوابونه | ۴۷۱ |
| ۸۲ | ذكر دَ صلوٰة اوابين | ۴۹۳ |
| ۸۳ | رد په شرك في الالوهيت | ۵۰۳ |
| ۸۴ | معنى دَ مسحور | ۵۰۷ |
| ۸۵ | رد په مشركين بالجن | ۵۱۳ |
| ۸۶ | دَ شيطان دَ گمراه كولو ځلور طريقې | ۵۲۰ |
| ۸۷ | حكم دَ تعويذونو ليكلو | ۵۳۳ |
| ۸۸ | سوال جواب په بارهٔ دَ روح كښ | ۵۳۵ |
| ۸۹ | مسئله دَ بشريت دَ رسول صلى الله عليه وسلم | ۵۴۲ |
| ۹۰ | لفظ دَ "خدائى" په دعا كښ | ۵۵۳ |
| | سورة الكهف | |
| ۹۱ | ربط ، دعوى او خلاصه | ۵۵۵ |

| نمبر شمار | مضمون | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۹۲ | تفسیر د "الرقیم" | ۵۶۳ |
| ۹۳ | اولیاء الله په غیبو علم نه لري | ۵۷۲ |
| ۹۴ | په قبرونو باندې مساجد جوړول | ۵۷۶ |
| ۹۵ | مسئله د ماشاء الله په نسیان کښې | ۵۷۸ |
| ۹۶ | تفسیر د مثال د باران | ۵۹۶ |
| ۹۷ | رد په هغه چا باندې چه وائي ابلیس د ملائکو د جنس نه ؤ | ۵۹۸ |
| ۹۸ | تفسیر د مجمع البحرین | ۶۰۹ |
| ۹۹ | بحث په باره د خضر علیه السلام د نبوت او عدم نبوت د ژوند او د مرګ د هغه کښې | ۶۱۳ |
| ۱۰۰ | دوه فائدې په واقعه د خضر علیه السلام کښې او رد په طعام د اهل میت باندې | ۶۲۱ |
| ۱۰۱ | لطیفه په واقعه د موسی علیه السلام کښې | ۶۲۳ |
| ۱۰۲ | تفصیل په باره د ذوالقرنین کښې | ۶۲۸ |
| ۱۰۳ | ذکر د یأجوج ماجوج | ۶۳۵ |
| ۱۰۴ | ریاء سُمعت او نیت د اُجرت په مشرک کښې من وجه داخل دي | ۶۴۴ |
| | سورة مریم | |
| ۱۰۵ | ربط، دعوی او خلاصه | ۶۴۶ |
| ۱۰۶ | تنر د روژې د چپوالي | ۶۵۹ |
| ۱۰۷ | مراد د "هارون" نه | ۶۶۱ |
| ۱۰۸ | مختلف اقوال په باره د عیسی علیه السلام کښې | ۶۶۵ |
| ۱۰۹ | اثبات د قیامت د پاره قسم | ۶۶۷ |
| ۱۱۰ | وَارِدُهَا کښې توجیهات | ۶۸۳ |
| ۱۱۱ | رد په اتباع د شیطان | ۶۸۹ |
| ۱۱۲ | نسبت د ولد الله تعالی ته | ۶۹۱ |